بسم الله الرحمن الرحيم

# عصمة السالك

پښتو شرح

# الفية ابن مالك

تاليف


للشيخ العلامة الحبر مولانا عصمت الله صاحب البوستاني


زیر اهتمام


مکتبة الاشاعت
0345-9459209

# Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

## اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ و دعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

حقوق الطبع محفوظة

اسم الكتاب: عصمت السالك

لحل

الفية بن مالك

مؤلف: الشيخ العلامة

أبو عبيد عصمت الله النورستاني

جلد الثاني

مطبعه: نقيب الله حنيف پشاور

تعداد: ١١٠٠

الناشر: مكتبة الإشاعة پشاور

٠٣٠٠٥٨٧٥٤٢٥

# فهرس


حروف الجر ........................................ ٥

الاضـافـــة ........................................ ٢٤

المضاف الى ياء المتكلم ........................................ ٤٨

اعمال المصدر ........................................ ٥٠

اعمال اسم الفاعل ........................................ ٥٣

اعمال اسم المفعول ........................................ ٥٨

ابنية المصادر ........................................ ٦٠

ابنية اسماء الفاعلين والصفات المشبهة بها ........................................ ٧٠

الصفة المشبهة باسم الفاعل ........................................ ٧٤

التعجب ........................................ ٨١

وبئس وماجرى مجراهما ........................................ ٨٨

افعل التفضيل ........................................ ٩٦

النعت ........................................ ١٠٦

التوكيد ........................................ ١١٩

عطف البيان ........................................ ١٢٦

عطف النسق ........................................ ١٢٩

البدلُ ........................................ ١٤٧

النداء ........................................ ١٥٣

فصل ........................................ ١٦٢

المنادى المضاف الى ياء المتكلم ........................................ ١٦٨

اسماءُ لازمة النداء ........................................ ١٧٠

الاستغاثة ........................................ ١٧١

النُدبة ........................................ ١٧٤

الترخيمُ ........................................ ١٧٨

الاختصاصُ ........................................ ١٨٦

التحذيرُ و الاغراء ١٨٨
اسماءُ الافعال و الاصوات ١٩٢
نونا التوكيد ١٩٧
ما لا ينصرف ٢٠٧
اعرابُ الفعل ٢٢١
عواملُ الجزم ٢٣٤
فصل لو ٢٤٢
اما و لولا و لوما ٢٤٤
الاخبارُ بالذي والالفُ و اللام ٢٤٦
العدد ٢٥٠
كم و كائن و كذا ٢٥٩
الحكاية ٢٦٤
التانيث ٢٦٨
المقصورُ و الممدودُ ٢٧٣
جمع التكسير ٢٨٢
النسبُ ٣٠٧
الوقف ٣١٩
الاماله ٣٢٨
التصريف ٣٣٥
فصل زيادةُ همز الوصل ٣٤٦
الابدال ٣٤٩
فصل ٣٦٣
فصل ٣٦٦
فصل ٣٧٨
الادغام ٣٨٢

## حروف الجر

په دې عنوان کې نولس خبرې پیژندل پکار دي. ۱ : ربط. ۲ : غرض. ۳ : وجه د تقدیم د منصوبات. ٤ : ترکیب. ۵ : ترجمه. ٦ : معرفت د ذات د نوع. ۷ : معرفت د اسم. ۸ : تعریف. ۹ : وجه تسمیه. ۱۰ : تعداد. ۱۱ : مصداق. ۱۲ : مدخول. ۱۳ : وجه د دخول. ١٤ : عمل. ۱۵ : وجه د عمل. ١٦ : معرفت د اقوی د حروف الجر. ۱۷ : تقسیمات سبعه په حروف جر کې. ۱۸ : معرفت د معانی د حروف جر. ۱۹ : الاحکام.

**ربط** : د ما سبق سره دا دی هرکله چې فارغ شو مصنف د بیان د منصوباتو نه پس شروع ئې وکړه په بیان د مجروراتو کې غرض د مصنف د دې عنوان نه بیان د مجروراتو دی او کله چې منصوبات زیادت وو د مجروراتو نه پس مقدم یې وګرځول په مجروراتو باندې ځکه العزة للتکاثر. او په دې عنوان کې هم هغه درې ترکیبونه دي کوم چې مخکې عنوان کې بیان شو.

**ترجمه د دې عنوان** : دا ماسیاتی تر یو حد پورې بحث او بیان د هغه حروف دی چې هغه جر ورکوی مدخول خپل لره. او دغه نوع په اعتبار د ذات سره حروف دي او نوم د دې حروف الجر او حروف الاضافت او حروف المعانی دي.

او په اصطلاح د نحویانو کې ما وضع للافضاء بفعل اومعناه الی مایلیه ته وائي. حروف جر ته حروف جر ځکه وائي چې دا داخل شی په اسم نو عمل د جر کوی نو شو تسمیه د موثر په اسم د اثر سره او حروف الاضافة ورته ځکه وائي چې په واسطه د حرف جر سره اضافت د فعل کیږي اسم ته نحو مررت بزید او حروف المعانی ورته ځکه وائي چې دا حروف واضع وضع کړی دي معنی لپاره. حروف جاره دوه قسمه دی. ۱ : مشهور. ۲ : غیر مشهور. مشهور ۱۷ : دی لکه راغلی دي په دې قول د شاعر کې:

**با وتا وکاف لام واو منذ مذ خلا رب حاشا من عدی فی عن علی حتی الی**

او حروف جاره غیر مشهور اوه دی کیمه، لات، لولاهم، لعل، ومتی، واو بمعنی رب، او بمعنی الا. پس شو مجموعه حروف جر ۲۵ دا حروف جر داخلیږي په اسم باندې اسم عام دی حقیقة وی او که تأویلا عمل د جر کوی جر عام دی لفظا وی او که تقدیرا وی او که محلا وی او عمل د جر سماعی دی او حرف جر واضع وضع کړی دي لپاره د افضاء د معنی د فعل او شبه فعل ما یلی ته مایلي د دې نوی مګر اسم ځکه که حرف وی افضاء د مستقل راځی غیر مستقل ته دا صحیح ندی او که فعل وی افضاء د شئ الی نفسه راځی پس متعین شو ما یلی اسم. اقوی

د حروف جر نه من دی خکه دا جر ورکولی شی عند لدی قبل لره نه نور حروف جاره.

**اول**: حروف جاره په اعتبار د استعمال سره دوه قسمه دی ۱: مشهور ۲: غیر مشهور کما مر.

**دویم**: حروف جاره په اعتبار د ذات سره څلور قسمه دی. ۱: هغه دي چې مشترک دي په مابین د اسم او حرف کې دا څلور دي منذ، مذ، من، متی.

۲: هغه دي چې مشترک دي په ما بین د فعل او حرف کې او دا ففط عدا دی.

۳: هغه دي چې مشترک دي په ما بین د اسم او فعل او حرف کې دا اوه دی فی، علی، حاشا، خلا، لات، کاف، الی.

٤: هغه دي چې هغه خاص دي په حرف پورې يعنې حرفی راځی او اسمی او فعلی نه راځی لکه باقی حروف جر شو

**دریم**: حروف جر په اعتبار د دخول سره درې قسمه دی. ۱: هغه دي چې داخليږي په اسم ظاهر باندې نه ضمير باندې دا مشهور اوه دي لکه راغلی دی په دې قول د ناظم کې

بالظاهر اخصص منذ و مذ و حتی والكاف والواو ورب والتا

باقی حروف جاره غیر مشهوره سیوا د لولا نه. ۲. قسم هغه دی چې داخليږي په ضمير باندې فقط لولا دی. ۳: او باقی حروف جر داخليږي په اسم ظاهر او ضمير دواړو باندې.

**څلورم**: او حروف جر په اعتبار د اصالت او زیادت سره درې قسمه دی.

۱: اصلی. ۲: زائد. ۳: شبیه بالزائد

**وجه حصر**: دا حرف جر به خالی نوی یا به مستغنی عنه وی یا به نوی که مستغنی عنه وو زائد او که نوو بیا به خالی نوی یا به محتاج وی متعلق ته یا به نوی که محتاج وو متعلق ته اصلی او که نوو شبیه بالزائد.

**پنځم**: او حروف جر په اعتبار د متعلق سره دوه قسمه دی ۱: هغه دي چې متعلق نه غواړی.

۲: هغه دي چې متعلق غواړی. متعلق چې غواړی هغه لس دی من، الباء، اللام، والكاف، رب، خلا، حاشا، عدا، لعل، لولا، او باقی حروف جر متعلق غواړی.

**شپږم**: حروف جر په اعتبار د زيادت د ما سره دوه قسمه دی. ۱: هغه دي چې د هغې نه وروسته ما راځی دا پنځه حروف دی من، عن، والباء، ورب، والكاف. ۲: هغه دي چې د هغې نه وروسته ما زائده راځی لکه باقی حروف جر شو.

**اوم**: حروف جر په اعتبار د تصرف او عدم تصرف سره دوه قسمه دي. ۱: متصرف. ۲: غیر متصرف المتصرف الذی لايلزم طريقا واحدا وغير المتصرف يلزم طريقا واحدا حروف جر

غير متصرف نهه دي مذ، منذ، رب، حتى، حروف قسم حاشا، خلا، عدا، كاف، او باقی حروف جر متصرف دی مثلا الی چې داخل شی ضمیر باندې الف یا سره بدلیږي الیه بخلاف حتی، او معانی د حروف جار وو مصنف په خپله بیا نوی. او احکام د حروف جاره وو دا دی.

۱: حذف الجار وحده نحو تساءلون به والارحام ای وبالارحام شعر:

| | |
|---|---|
| اذا قيل ای الناس شر قبيلة | اشارت كليب بالاكف الاصابع |

ای الی کلیب.

۲: حذف الجار مع المجرور نحو قوله تعالى: يشربون مما تشربون ای منه. ۳: لايجوز تقديم المجرور على الجار. ٤: لايجوز تعلق حرفی جر متحدی اللفظ والمعنى بعامل واحد. ٥: لايجوز الفصل بين الجار ومجروره او باقی احکام مصنف په دې کتاب کې بیا نوی.

هرکله چې فارغ شو ناظم صاحب د بیان د منصوباتو نه پس شروع ئې وکړه په بیان د مجروراتو کې نو وې ویل حروف الجر ای هذا بحث حروف الجر دا بحث د حروف جاره وو دی ۱. هغه حروف چې هغه مدخول خپل کې جر فائده کوي. ۲: یا هغه حروف چې هغه راکاږي معنی ده فعل مدخول خپل اسم ته نو ددینه وجه تسمیه د دی حروف معلومه شوه چې حروف جر ته حروف جر ولی وایي؟ **جواب**: ۱: ځکه جر نوم د یو نوع د اعراب دی او دغه حروف هم دغه نوع د اعراب پیدا کوي په مدخول خپل کې چې جر ورکوي مدخول خپل لره د دې وجې دې حروف ته حروف الخفض هم وایي د دوی په اصطلاح کې ۲: یا دیته حروف جر ځکه وایې چې جر په لغت کې راښکلو ته وایي او دا حروف هم راکاږي معنی د فعل مدخول خپل ته د دی وجې نه دی حروف ته حروف الاضافة هم وایي د دوی په اصطلاح کې ځکه دوی معنی د فعل مضاف کوي ما بعد ته چې هغه مدخول خپل دي نو په دې اول معنی کې اضافت د مؤثردی اثر ته او په دې دویمه معنی کې اضافة د دال دی مدلول ته اوس دا حروف کم دی او څو دي ؟

**جواب**: دا حروف په نزد د شیخ عبدالقاهر ۱٦ دي او په نزد د صاحب کافیه ۱۷ دي ځکه هغې واو د رب زیات کړی دی لکن دې هغه ۱٦ باندې هم صبر ندی کړی او په هغه ۱۷ د ابن حاجب باندې هم صبر ندی کړی درې یې نور زیات کړي دي کي ، لعل، و متی او هغه واو د رب ده ندی شمیر کړی ځکه دغه صرف د مخترعاتو د صاحب د کافیه نه دی.

| | |
|---|---|
| ٣٦٤- هاك حروف الجر، وهي من، إلى، | حتى، خلا، حاشا، عدا، في، عن، على |
| ٣٦٥- مذ، منذ، رب، اللام، كي، واو، وتا | والكاف، والبا، ولعل، ومتى |

**ترکیب**: هاک ها اسم فعل بمعنی خذ ضمیر مستتر انت هغه فاعل او ک: حرف خطاب دی.

**حروف**: مفعول به وهي مبتداء من مراد اللفظ خبر. **الى**: دا الى تر متى پورې عطف دى په من باندې بعض په حذف د حرف عاطف سره د وجې د ضرورت شعري نه او بعض په اثبات د حرف عاطف سره.

**ترجمه**: ونيسه ته اى مخاطب چې تا ته خطاب کوم حروف جاره ۋ لره او دا حروف جر شل دي من نه واخله تر متى پورې.

**تشريح**: دا کی ، لعل ، متى د حروف جاره ۋ غير مشهورو نه دى باقي نور اوولس حروف جاره مشهورو نه دي او حروف جاره غير مشهور مجموعه پنځه دي: کی، لعل، ومتى، لات، لولا. او ده د هغه پنځو نه درې ذکر کړي دي او باقي هغه دوه يې ترک کړي دي، نو مجموعه حروف جاره د دې په نزد باندې شل شول. او ناظم د دې حروفو تفصيل کړى دى. ورسته ماسوا د شپږو حروفو نه چې هغه حاشا ، خلا ، او عدا ، او کی، او لعل، او متى دى ځکه د دې درې اولنو تفصيل په بحث د استثناء کې تير شوى دى او دا درې وروستني د حروف جاره ۋ غير مشهورو نه دى دوى جر ورکوي اسم لره په طريقې د قلت سره په دې شان سره. دا **کی** د دوى نه په درې ځايونو کې حرف جر مستعمليږي په معنى د لام تعليلي سره. (۱) دا کی جر ورکوي ما استفهامي لره نحو کيم قلت اى لاى غرض قلت کما تقول ليتم قلت، کيم فعلته اى لم فعلته په څه وجه دى ستادا فعل کله چې دا کی بمعنى اللام داخل شي په ما استفهامي باندې. (۱) هغه الف د ما استفهاميه حذف کيږي لکه چې دا حذف کيږي په دخول د نور حروف جاره ۋ سره نحو علامه الى مه (۲) او کله چې وقف کوي بيا هغه ها د سکته وريورې متصل کيږي کيمه وائي او په حالت د وصل کې حذف کوي دې ها لره نحو کيم فعلت د وجه د عدم ضرورت نه دى ها ته (۲) دا **کی** جر ورکوي هغه مصدر مؤول لره په ما مصدري سره کما في قول الشاعر:

اذا انت لم تنفع فضر فانما　　　يراد الفتى کيما يضر و ينفع

اى للضر والنفع.

(۳) دا کی جر ورکوي هغه مصدر مؤول لره په ان مصدريه مقدره سره نحو اسلمت کی ادخل الجنة دا ادخل مضارع منصوب ده په ان مقدره سره او دا بيا په تاويل د مصدر سره مجرور ده کی لپاره. او دا **لعل** د دوى نه حرف جر دى په لغة د عقيل باندې لکه راغلي دي په دې قول د شاعر کې:

فقلت ادع اخرى وارفع الصوت جهرة　　　لعل ابي المغوار منك قريب

دا د هغه حروف جاره ۋ نه دى چې متعلق نه غواړي لهذا دا مدخول د دې مرفوع محلاً دى بنا

بر ابتدائية او دا مابعد ورله خبر دی په شان د بحسبك د رهم او د عقيل نه علاوه د نورو په نزد باندې د حروف مشبهه بالفعل نه دی اسم منصوب خبر مرفوع غواړي څکه صاحب د کافيې ويلي دي و شذ الجر بها. او دا متى حرف جر دی په لغة د هذيل کې او نور قبيلې د عربو د دې حرف جر کيدو نه انکار کوي او کله چې دا حرف جرشي دا په معنی د من ابتدائية سره دی لکه راغلي دي په دې قول د شاعر کې:

شربن بماء البحر ثم ترفعت    متى تجج خضر لهن نئيج ای من لجج خضر

دا بيان د بماء البحر دی.

**ترجمه:** يعنی اوبو وڅکله دې وريځو هغه لوی اوبو شين نه په حال د کون د دې کې چې دا اواز کوونکی وو په اوچت اواز سره، بيا وختل هغه مينځ د اسمان ته. اوس دلته دی متی جر ورکړی دی لجج له په لغة د هذيل باندې.

زده کړه دا خبره چې دا حروف جاره په اعتبار د ذات سره درې قسمه دی (١) مشترك بين الحرفية والاسمية دا پنځه حروف دي: مذ، و منذ، والکاف، وعن، وعلی. دوه مشترك دي په مابين د حرفية او فعلية کې هغه درې قسمه دي: خلا، وعدا، وحاشا. دريم قسم مختص دی په حرفية پورې په دې شان سره اسم او فعل نه راخي هغه دا باقي حروف جاره دي.

اوس دا مجرور به کله اسم ظاهر راځي او کله به ضمير راځي. اوس دا ټول حروف جر په اسم ظاهر او ضمير دواړو باندې داخليږي او که نه دی وائي:

| | |
|---|---|
| ٣٦٦- بالظاهر أخصص: منذ، مذ، وحتى | والكاف، والواو، ورب، والتا |

**بالظاهر** جار مجرور متعلق دی اخصص پورې **منذ** مراد اللفظ مفعول به **ومتى** دا عطف دی په منذ باندې په اسقاط د حرف عاطف سره او باقي نور په اثبات د حرف عاطف سره.

**ترجمه:** خاص کوه ته په اسم ظاهر پورې د حروف جاره ؤ نه دخول د منذ او مذ او متی او د کاف او د واو او د تا.

**تشريح:** يعنې دا حروف جر په اعتبار د دخول سره دوه قسمه دی (١) څينې د دوی نه هغه دی چې نه داخليږي په ضمير باندې قياساً بلکه دخول د دوی مختص دی په اسم ظاهر پورې قاعدة هغه دا اووه حروف دي. هر چې دی **فتی حتاك** دا محمول دی په ضرورت شعري باندې او په اشعارو کې ډير شيونه روا کيږي چې هغه په نورو کې ناروا وي.

دويم قسم هغه حروف جاره دي چې دخول د هغوی مختص نه دی په اسم ظاهر پورې بلکه هغه په ضمير باندې هم داخليږي هغه ما سوا د دې اووه حروفو نه دي.

| | |
|---|---|
| ٣٦٧- واخصص بمذ ومنذ وقتًا، وبرب | منكرًا، والتاء لله، ورب |

**ترکیب: بمذ** دا متعلق دی اخصص پورې **وقتا** مفعول به اخصص لپاره **وبرب** دا عطف دی په بمذ **منكراً** دا عطف دی په وقتا باندې **لله** جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوف سره خبر د مبتداء چې التاء دی دا عطف دی په الله باندې.

**ترجمه:** او خاص کوه ته وخت لره غير د مستقبل نه، مذ او منذ سره او خاص کوه اسم نکره په رب پورې، دا يو لغة دی په رُبَّ کې او دخول د تا مختص دی په لفظ الله او لفظ د رُبَّ پورې په دې شان سره د دوی دوه لفظينو نه علاوه په نورو الفاظو باندې نه داخليږي.

| | |
|---|---|
| ٣٦٨- وما رووا من نحو "ربه فتى" | نزر، كذا "كها"، ونحوه أتى |

**ترکیب: ما** موصوله **رووا** جمله صله د ما او عائد حذف شويدی **من نحو** دا متعلق دی روو پورې.
**فتى** تميز د ضمير د رب نه دا جار مجرور مفعول به لپاره د قول محذوف چې هغه مضاف اليه دی د نحو لپاره **نزر** خبر د مبتداء **كذا** خبر مقدم **كها** مراد اللفظ مبتداء مؤخر، **ونحوه** مبتداء **اتى** جمله خبر.

**ترجمه:** او هغه چې روايت کړي دي نحويانو د عربو نه مثل د ربه فتى. يعنې دخول د رب په ضمير باندې قليل دی لکه څرنګه چې قليل دی كها يعنې دخول د كاف په ضمير باندې او په مثل د كها باندې نور هم په کلام د عربو کې راغلی دی لکه که شو.

**تشريح:** دا اووه حروف چې مخکې ذکر شو دا ټول مساوي دي په اختصاص کې اسم ظاهر پورې لکن د دې په کور کې بيا فرق دی په اعتبار د خواصو او معانيو سره.

پس دا مذ او منذ د دوی نه داخليږي په هغه اسم ظاهر باندې چې هغه دلالت کوي په زمانه حالي يا په زمانه ماضي باندې که دا مذ او منذ داخل شوی وي په هغه اسم ظاهر باندې چې هغه دلالت کوي په زمانه حال باندې دا به په معنی د في سره به وي نحو ما رأيته مذ يا منذ يومنا او في يومنا او که داخل شوی وي په هغه اسم ظاهر باندې چې هغه دلالت کوي په زمانه ماضي باندې دا به په معنی د من سره به وي نحو ما رأيته مذ يا منذ يوم الجمعة اى من يوم الجمعة. او حتى د دوی نه داخليږي په اسم ظاهر باندې خاصةً د جمهورو په نزد باندې په ضمير باندې نه داخليږي خلافاً للمبرد چې هغه دا حتى مختص په اسم ظاهر پورې نه وائي بلکه په اسم ظاهر او ضمير د دواړو باندې داخليږي په شان د هغه نورو حروف جر دليل مبرد لپاره دا قول د شاعر دی:

فلا والله لا يبقى اناس — فتىً حتاك يا ابن ابي زياد

**ترجمه:** قسم کوم زه ای ابن ابي زياد نه به مومي خلک يو ځوان لره متصف په اوصاف حميده ؤ

سره تر دي چې تا به ووينې کله چې تا ووينې په دغه وخت به دوی ووينې يو ځوان متصف په دې صفاتو حميده ؤ سره.

اوس دلته دا حتى داخل شوی دی په کاف ضمير مخاطب باندې هغې لره جر ورکړی دی دينه معلومه شوه چې دا حتى په ضمير باندې هم داخليږي جمهور ددينه جواب کوي چې دا شاذ دی فلايقاس عليه غيره ځکه دا حتى جر نه ورکوي مګر هغه شي لره ورکوي چې هغه آخر وي حقيقة نحو اکلت السمکة حتى راسها يا آخر وي حکما يعنى جر مجاور د آخر وي نحو قوله تعالى: ﴿سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطْلَعِ الْفَجْرِ﴾ دا طلوع د فجر متصل دی آخر دليل سره. او رب د دوی نه داخليږي په اسم ظاهر باندې لکن په هغه اسم ظاهر باندې داخليږي چې هغه نکره وي او په معرفي باندې نه داخليږي نحو رب رجل کريم لقيته ځکه دا رب راځي لپاره تقليل او تکثير او تقليل او تکثير په نکره کې راځي نه په معرفه کې بيا دا رب په هغه نکره باندې داخليږي چې هغه موصوف وي په يو صفت سره لپاره د تصريح د معنى د رب او تا او واو د دوی نه راځي لپاره د قسم يعنى ګرځوي مدخول خپل مقسم به. ۱: او فعل قسم د دوی محذوف وي وجوبا فلا يقال اقسم والله، اقسم تالله کما يقال اقسم بالله. ۲: او جواب قسم به د دوی خبر وي نه انشاء فلا يقال والله او تالله اخبرني کما يقال بالله اخبرني. ۲: دخول د دې دواړو مختص دی په اسم ظاهر پورې او په ضمير باندې نه داخليږي فلا يقال وك، تك کما يقال بك لافعلن کذا دا درې فرقونه شو په مابين د با قسميه او د دې دواړو په مينځ کې لکن فرق په مابين د دې دواړو کې دا دی چې واو عام دی او دا تا خاص دی په لفظ د الله پورې نحو قوله تعالى: ﴿تَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ﴾ او کله کله داخليږي په رب باندې هسې رب چې. ۱: مضاف وي کعبې ته نحو وترب الکعبة. ۲: يا مضاف وي متکلم ته نحو تربي اما تالرحمن شاذ دی او دا رب غالبا داخليږي په اسم ظاهر نکره موصوفه باندې لکن کله کله داخليږي په ضمير مبهم باندې چې مميز وي په نکره منصوبه سره نحو ربه رجلا بيا پدې ضمير د رب کې نحويانو خلاف دی چې دا معرفه ده او که نکره ده. ۱: جمهور ذهاب کړی دی خبرې ته چې دا معرفه دی بناپه اصل خپل باندې. ۲: ابن عصفور او جار الله ذی مخشري ذهاب کړی دی خبرې ته چې دا نکره ده ځکه د دې مصداق نه دی معلوم او مرجع د دې دغه تميز دی او هغه واجب التنکير دی لکن دخول د دې په ضمير باندې قليل دی لکه څرنګه چې دخول د کاف جاره په ضمير باندې قليل دی لکه دخول د کاف راغلی دی په ضمير باندې پدې قول د شاعر کې:

ولاترى بعلا ولاحلائلا زوجات　　　که ولا کهن الا حاظلا. اى زوجا مانعا

اوس دلته دا كاف حرف جر داخل شو پدې ضمير باندې چې هغه ه او هن دی كه ای كالحمار الوحشي ولاكهن ای كاالاتن الوحشية عند هروبها منه.

| | |
|---|---|
| ٣٦٩- بعض وبين وابتدئ في الأمكنة | بمن، وقد تأتي لبدء الأزمنة |

**تركيب: في الامكنة:** دا متعلق دی ابتداء پورې. **بمن** ديكې تنازع راغلې ده دريوارو افعالو.

**لبدء:** دا متعلق دی تاتي پورې.

**ترجمه:** بيان د بعض كوه پدې من سره او بيان د امر مبهم كوه ته پدې من سره پدې شان سره چې د دې من نه مخكې امر مبهم وي او د دې من مدخول ما قبل لپاره بيان واقع شوي وي اوپدې سره ابتداء د معلوم كوه په مكانونو كې او كله كله راځي لپاره د ابتداء په زمانو كې.

**تشريح:** يعنى دا من د حروف جارونه راځي لپاره. ١ : د تبعيض چې اراده كولى شي پدې سره بعضې دَ مدخول خپل نه يعنى دا من دلالت كوي چې دا حكم ثابت دی بعض مدخول د من لره نه ټولو لره او علامه د من تبعيضي دا ده. ١ : مدخول د ده به جمع يې حقيقة يا حكما. ٢ : او صحيح به وي وضع د لفظ د بعض په ځای د من باندې نحو اخذت من الدراهم ای بعض الدراهم وقوله تعالى: ﴿ مِنْهُمْ مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ ﴾.٢:او كله من راځي لپاره د بيان د جنس چې گرځوي مدخول خپل مبين لپاره د امر مبهم او علامه د دې دا ده چې ما قبل د دينه به امر مبهم وي او صحيح به وي وضع د موصول په ځای د ده باندې او دا مدخول د من به خبر د مبتداء محذوف وګرځوي صله د موصول به شي مثال لكه دا قول د الله تعالى شو ﴿ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ ﴾ ای الذی هو الاوثان او غالبا دا من بياني راځي پس د ما او مهما نه نحو قوله تعالى: ﴿ مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ﴾ ﴿ مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ ﴾ ﴿ مَهْمَا تَأْتِنَا بِهٖ مِنْ اٰيَةٍ ﴾.٢: كله من راځي لپاره دابتداء د فعل په. ١ : مكان كې كثيرا او په. ٢ : زمان كې قليلا يعنى ګرځوي مدخول خپل مبتداء منه لپاره د فعل مثال د مكان نحو سرت من البصرة الى الكوفة وقوله تعالى: ﴿ سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ ﴾ او مثال د ابتداء د فعل په زمانه كې نحوصمت من يوم الجمعة الى يوم كذا و قوله تعالى: ﴿ لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ ﴾.

٣: او كله دا من راځي ابتداء د فعل لپاره په احداث كې نحو عجبت من اقدامك على هذا العمل.

٤ : او كله دا من راځي لپاره د ابتداء د فعل په اشخاص كې نحو رايت من زهير ما احب.

| | |
|---|---|
| ٣٧٠- وزيد في نفي وشبهه فجر | نكرة، كـ"ما لباغ من مفر" |

**تركيب: وزيد** ضمير مستتر هو راجع من ته. هغه نائب فاعل **في نفي** دا متعلق دی په زيد پورې.

**وشبهه** عطف على نفي. **فجر** ضمير مستتر هو راجع دی من ته فاعل. **نكره** مفعول به. **كما** جار مجرور خبر د مبتداء محذوف. **لباغ** خبر مقدم. **مفر** مبتداء مؤخر دا من پکې زائد دی.

**ترجمه:** او زياتی کولی شي دا من په کلام منفي کې او شبه د نفي چې هغه نهي او استفهام دی يعنی دا من زائد راځي په کلام غير موجب کې لپاره استغراق د نفي مذکور ديبه جر ورکوي نکرې لره مثال لکه من شو په ما لباغ من مفر کې.

**تشريح:** يعنی کله دا من راځي زائد په کلام د عربو کې چې په سقوط د دې سره اصل معنی ته نقصان نه رسيږي وجود او عدم د دې برابر دی بيا د. ١: جمهور په نزد باندې د دې زيادت لپاره دوه شرطونه دی. ١: د خول د دې دی په نکره باندې. ٢: بل وقوع د دی دی په کلام غير موجب کې خکه من راځي لپاره د استغراق د نفي نو لابدي شوه د دې دوه شرطونونه مثال لکه ما لباغ من مفر، ما جاءني من احد شو. ٢: او کوفيان صرف دخول په نکره باندې شرط وايې بيا په کلام موجب کې وي او که غير موجب کې وي دا من زائد راځي.

٢: او اخفش وايې جائز دی زيادت د دی په کلام موجب کې او جائز دی دخول د دې په معرفه باندې دليل دې لپاره دا قول د الله تعالى دی. يغفرلكم من ذنوبكم دلته دا من زائد دی سره د دې خبرې نه چې دا داخل شوي دی په معرفه باندې او کلام موجب کې دی اوجواب د طرف د جمهور نه دا دی چې دا من زائد نه دی بلکه دا من تبعيضي دی.

**سوال:** پدې جمهورو باندې اعتراض دی چې د دې آية تناقض راغی ﴿إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا﴾ سره **جمهور جواب کوي:** چې د دې اية مخاطب امة محمد ﷺ دی او د هغې مخاطب امة نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ دی.

| | |
|---|---|
| ٣٧١- للانتها: حتى، ولام، والى، | ومن وباء يفهمان البدلا |

**ترکيب:** **للانتهاء** جار مجرور په اعتبار د متعلق خبر مقدم. **حتى** سره د معطوفين نه. مبتداء مؤخر. **و:** واو استنافيه. **من** معطوف عليه سره د معطوف نه مبتداء. **يفهمان** فعل فاعل. **البدلا** مفعول به جمله خبر لپاره د مبتداءء.

**ترجمه:** او انتهاء لپاره راځي حتى او لام او الى د حروف جارونه او من او با دلالت کوي په بدليت د مدخول باندې.

**تشريح:** حاصل د دې بيت دا دی چې حتى او لام او الى د حروف جارونه دا درې حروف راځي لپاره د انتهاء د فعل پدې شان سره چې گرخوي مدخول خپل منتهى اليه لپاره دغير بيا دومره فرق دی. ١: چې الى انتهاء لپاره اکثر دی او دويم نمبر حتى دی بيا دا لام دی. ٢: فرق دا دی

چې مدخول د حتیٰ جز آخر د ماقبل وي نحو أكلت السمكة حتیٰ رأسها يا جزء مجاور وي او ملاصق د ماقبل وي كقوله تعاليٰ سلام هی حتّی مطلع الفجر او مدخول دَ إلى عام دی نو نمت البارحة الى نصف الليل ويلی شي او حتی نصف الليل نه شي ويلی. ۳ : فرق دا دی چې د حتی د خول مختص دی په اسم ظاهر پورې په ضمير باندې نه داخليږي او الى عام دی په ضمير او اسم ظاهر دواړو باندې داخليږی فلايقال حتاه يقال اليه. ٤ : فرق دا دی چې حتی راځي په معنی د مع سره كثيرا او الى راځي په معنی د مع سره قليلا او مثال د لام للانتهاء كما في قوله تعالی: ﴿ كُلٌّ يَجْرِىْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ﴾ ﴿ سُقْنٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ ﴾. او من او با د حروف جارونه دا راځي لپاره د بدل مثال د من للبدل كما في قوله تعالی: ﴿ اَرَضِيْتُمْ بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مِنَ الْاٰخِرَةِ ﴾ ای بدل الاخرة او مثال د بالبدل كما في الحديث مايسرني بهاحمر النعم ای بدلها وقوله تعالی: ﴿ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴾.

| | |
|---|---|
| ۳۷۲- واللام للملك وشبهه، وفي | تعدية -أيضًا- وتعليل قفي |

**تركيب: واللام:** مبتداء للملك په اعتبار د متعلق سره خبر د مبتداء. **وشبهه:** دا عطف دی په للملك باندې **وفي:** دا متعلق دی په قفي پورې. **ايضا:** مفعول مطلق لفعل محذوف. **تعليل:** عطف على تعدية. **قفي:** ضمير مستتر هو راجع لام ته هغه نائب فاعل.

**ترجمه:** او لام د حروف جارونه راځي لپاره. ۱ : د ملك يدې شان سره چې دا لام ګرځوي مدخول خپل مالك لپاره د ماقبل او دا ماقبل ګرځوي مملوك د مدخول خپل نحو الدار لسعيد ددې علامه دادی چې دا لام داخل شوي دی په ما بين د ذاتين کې او مدخول د دې مالك وي.

وقوله تعالی: ﴿ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ﴾.

۲ : او كله لام راځي لپاره شبه د ملك چې دا لام ګرځوي مدخول خپل مستحق لپاره د ما قبل د دې علامه دا ده چې دا لام داخل شوی دي په مابين د ذاتين کې او مدخول د دې مالك د ماقبل نه دی او ديته لام الاستحقاق هم وايي نحو الجل للفرس المنبر للخطيب. ۳ : او كله راځي لپاره د تعدية چې دا لام ګرځوي فعل لره متعدی مدخول خپل ته نحو وهبت لزيد مالا وقوله تعالی: ﴿ فَهَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ﴾ ٤ : او كله راځي لپاره د تعليل يعنی لپاره د بيان د علت ذهنی او علت ذهنی غائي نحو جئتك لاكرامك. يا لپاره د بيان دعلت خارجي نحو خرجت لمخافتك.

| | |
|---|---|
| ۳۷۳- وزيد، والظرفية استبن ببا | و"في" وقد يبينان السببا |

**تركيب: وزيد** ضمير مستتر هو راجع دی لام ته هغه نائب فاعل. **الظرفية** مفعول به مقدم د **استبن** لپاره.
**ببا** دا جار مجرور متعلق دی په استبن پورې. **وفي** عطف على با. **يبينان** فعل فاعل. **السببا** مفعول به.

**ترجمه:** او زياتي کولی شي دا لام هم او ظرفية د مدخول ښکاره کوه په با سره او دغسې په في سره او کله کله بيانوي دا دواړه سببيت د شي لره.

**تشريح:** يعنی لکه څنګه چې دا من زائد راځي په کلام د عربو کې دارنګه دا لام هم زايد راځي په استعمال د کلام د عربو کې پدې شان سره چې په سقوط د دې سره نقصان نه راځي په اصل معنی د کلام کې وجود او عدم د دې برابر دی او محتاج نه دی متعلق ته نحو قوله تعالی: ﴿رَدِفَ لَكُمْ بَعْضُ الَّذِي تَسْتَعْجِلُونَ﴾ لکم کې دا لام زائد دی ځکه ردف متعدی دی بالذات او با او في د حروف جاره ؤ نه دا دواړه راځي ظرفية لپاره پدې شان سره دا دواړه ګرځوي مدخول خپل ظرف لپاره د ما قبل په ظرفية حقيقي سره يا په ظرفية مجازي سره ظرفية حقيقي او د مجازي علامه دا دی. ۱: که مدخول د دوی ظرف زمان يا مکان وو دا ظرفيت حقيقي دی او که داسې نه وو ظرفية مجازي دی. ۲: که حلول د شئ په شئ کې راغلی وو دا ظرفية حقيقي او که داسې نه وو مجازي مثال د با ظرفية لپاره قوله تعالی: ﴿وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللهُ بِبَدْرٍ﴾ ﴿نَجَّيْنٰهُمْ بِسَحَرٍ﴾ ﴿وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ﴾ ﴿وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّوْنَ عَلَيْهِمْ مُّصْبِحِيْنَ۝وَبِالَّيْلِ﴾. مثال د في الظرفية لپاره: ﴿غُلِبَتِ الرُّوْمُ۝ فِيْ أَدْنَى الْأَرْضِ﴾ ﴿لَقَدْ كَانَ فِيْ يُوْسُفَ وَإِخْوَتِهٖ اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ﴾ ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ ﴿وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ﴾ بيا دومره فرق دی چې دا في ظرفية لپاره راځي حقيقة يعنی دا ظرفية معنی حقيقي د في ده ځکه دا في وضع شوی دی ظرفية لپاره او دا با ظرفية لپاره راځي مجازا اوس کوم ځای کې چې دا با راشي ظرفية لپاره هلته ويلی کيږي دا با په معنی د في سره ده ځکه دا ظرفية معنی موضوع له د في ده او کله دا دواړه راځي لپاره دسببية پدې شان سره چې ګرځوي مدخول خپل علت او سبب لپاره د ما قبل مثال د با سببيه لپاره نحو قوله تعالی: ﴿إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ﴾ ﴿فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا﴾ او مثال د في لپاره د سببية کما في الحديث: ان امراءة دخلت النار في هرة.

| | |
|---|---|
| ۳۷٤- بالبا استعن، وعد، عوض، ألصق | ومثل "مع" و"من" و"عن" بها انطق |

**ترکيب:** **بالباء** کې دا جار مجرور متعلق دی استعن پورې. **وعد عوض الصق** د دې درې واړو متعلق محذوف دی ای بالباء دا درې واړه عطف دی په استعن باندې په حذف د عاطف سره. **ومثل** دا حال دی د ها د بها نه و من و عن دا دواړه عطف دی په معنا باندې او **بها** متعلق دی انطق پورې.

**ترجمه:** امداد او غواړه ته په دې با سره مدخول د دې با نه او متعدي کوه فعل لازم لره په دې با سره او وګرځوه مدخول د دې باء لپاره عوض ديو شئ او دارنګه الصاق کوه پدې با سره د يو

شئ مدخول د با سره بيا دا الصاق عام دى حقيقة وي كه مجازا وي او تلفظ كوه پدې با سره په حال كون د دې با كې چې دا په مثل، معنى د مع او من او عن باندې ده.

**تشريح:** دوه معنې گانې د با مخكې بيت كې ذكر شوې او باقي معاني د با پدې بيت كې بيانوي. ١ : دا با راځي لپاره د استعانة چې گرځوي مدخول خپل معاون د فاعل په صدور د فعل كې نحو كتبت بالقلم. ٢ : او كله با راځي لپاره د تعدية چې دا پيدا كوي په مفهوم د فعل لازم كې معنى د جعل او تصيير نحو ﴿ذَهَبَ اللهُ بِنُوْرِهِمْ﴾ اى صير الله نورهم ذا ذهاب دلته د تعديت نه دغه معنى مراد ده چې ديته تعديت خاصه وايې او هغه تعديت عامه نه دى مراد چې نفس فعل لازم نه فعل متعدي جوړول دي ځكه دا معنى د ټول حروف جارو ده نه يوائې د با.

٣ : او كله دا بار راځي لپاره د تعويض چې گرځوي مدخول خپل عوض او مقابله د ما قبل نحو اشتريت العبد بالفرس و قوله تعالى: ﴿أُولَٰئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى﴾

**سوال:** ته وايې دا با راځي لپاره د بدل او كله راځي عوض لپاره د دې با بدلي او با عوضي په مينځ كې څه فرق دى ؟

**جواب:** فرق دا دى چې دا با عوضي دلالت كوي په تعويض د شئ باندې په مقابله د شئ آخر كې او دا با بدلي دلالت كوي په اختيار د احد الشيئين په شئ آخر باندې بنا په دى فرق باندې دا با په ايت مذكوره كې بدلي ده نه عوضي فافهم. ٤ : او كله راځي دا با هم اتصال د شئ راولي په مدخول خپل پورې بيا دا الصاق په دوه قسم دى: ١ : الصاق حقيقي دى. ٢ : الصاق مجازي دى ځكه دا الصاق به خالي نوي يا به دا الصاق راغلى يې په طريقې د مخالطت سره يا به راغلى يې په طريقې د مجاورة سره كه دا الصاق په طريقې د مخالطت سره وو دې ته وائي مجاورت حقيقي نحو به داء او كه په طريقې د مجاورت سره وه ديته وايې: الصاق مجازي نحو مررت بزيد اى التصق مروري بمكان يقرب منه زيد. ٥: كله دا بار راځي مصاحبة لپاره يعنى په معنا د مع سره چې گرځوي مدخول خپل مصاحب د ما قبل سره په صدور د فعل كې كه دا ما قبل فاعل وو نحو قوله تعالى: لقد جاءكم الرسول بالحق اى مع الحق يا په وقوع د فعل كې كه دا ما قبل مفعول بهٔ وو نحو اشتريت الفرس بسرجه. ٦ : او كله راځي په معنى د من سره نحو شربن بماء البحر اى من ماء البحر و قوله تعالى: ﴿يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللهِ﴾ اى منها. ٧: او كله با راځي په معنى د عن سره نحو قوله تعالى: ﴿سَاَلَ سَآئِلٌ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ﴾ اى عن عذاب واقع ﴿مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ﴾ اى عن ربك الكريم.

| | |
|---|---|
| ٣٧٥- على للاستعلا، ومعنى "في" و"عن" | بعن تجاوزًا عنى من قد فطن |

**ترکیب: على:** مراد اللفظ مبتداء. **للاستعلا:** خبر، **معنى:** عطف على الاستعلا. **في:** مضاف اليه. **وعن:** عطف على في. **بعن:** دا متعلق دي عني پورې. **تجاوزا عني:** مفعول به مقدم عني لپاره. **من:** فاعل د عني. **فطن:** جمله صله د موصول چې من دی.

**ترجمه:** او کلمه د على د حروف جارونه راځي استعلاء لپاره پدې شان سره چې دا على ګرځوي یو شئ عالی په مدخول خپل باندې چې هغه مستعلى عليه او معلى عليه دي. دا رنګې راځي په معنی د في او عن باندې او په عن سره تجاوز قصد کړي دی هغه چا چې په تحقيق سره هغه پوهه دی په قواعدو د نحو باندې.

**تشریح:** یعنی على د حروف جاره ؤ نه راځي.. ۱: استعلاء لپاره چې دا ګرځوي ماقبل عالی په مدخول خپل باندې حسا یا معنی مثال د استعلاء حسي کما في قوله تعالى: ﴿وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ﴾ دیته استعلاء حقيقي وايې او مثال د استعلاء معنوی نحو عليه دين و قوله تعالى: ﴿فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾ دیته وايې استعلاء مجازي. ۲: کله دا على راځي په معنی د في سره یعنی ظرفية لپاره چې ګرځوي مدخول خپل ظرف لپاره د ماقبل نحو قوله تعالى: ﴿وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُوا الشَّيَاطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَانَ﴾ ای في ملك سليمان، ﴿وَدَخَلَ الْمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفْلَةٍ﴾ ای في حين غفلة. ۳: کله دا على راځي په معنی د عن سره کما في قول الشاعر:

| | |
|---|---|
| اذا رضيت على بنو قشير | لعمر الله اعجبني رضاها |

ای اذا رضيت عني.

**سوال:** ته وايې دا على راځي په معنی د عن سره اوس د دې عن څه معنی ده ؟

**جواب:** دوی وايې بعن تجاوزا عني یعنی او عن راځي لپاره د تجاوز او تبعيد د شئ د شئ نه برابره خبره ده چې سره د زوال نه وي د شئ اول نه او که بې د زوال نه وي نو دا عن راځي د دې حروف جارونه لپاره د مجاوزة غالبا چې ګرځوي ما قبل لره مبعد او متجاوز د مدخول خپل نه نحو رميت السهم عن القوس.

| | |
|---|---|
| ۳۷۶- وقد تجي موضع "بعد" و"على" | كما "على" موضع "عن" قد جعلا |

**ترکیب: وقدتجيئ:** ضمير مستتر راجع دی عن ته فاعل. **موضع** مفعول فيه. **وعلى** عطف على بعد. **كما:** ما مصدري. **على** مراد اللفظ مبتداء. **موضع** مفعول فيه جعل لپاره. **جعلا** ضمير مستتر هو راجع دی على ته هغه نائب فاعل جمله بیا خبر واقع شوی ده لپاره د مبتداء چې هغه على دی.

**ترجمه:** او کله راځي دا عن په ځای د بعد او على کې لکه څرنګه چې على په ځای د عن باندې

په تحقيق سره گرځولی شوي دی.

**تشريح:** حاصل د دې بيت دا دی چې معنی حقيقي د عن تجاوز دی ليکن کله کله دا عن راځي په معنی د بعد او علی سره مجازا لکه څرنگه چې علی راځي په معنی د عن سره يعنی تجاوز لپاره مجازا څکه معنی حقيقي د علی استعلاء ده مثال د علی بمعنی عن مجازا مخکښې ذکر شوي دی او مثال د عن په معنی د بعد سره کما في قوله تعالی: ﴿عَمَّا قَلِيلٍ لَّيُصۡبِحُنَّ نَٰدِمِينَ﴾ ﴿لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٖ﴾ ای بعد طبق و قولك عن قريب ازورك ای بعد قريب او مثال د عن په معنی د علی سره نحو قوله تعالی: ﴿مَن يَبۡخَلۡ فَإِنَّمَا يَبۡخَلُ عَن نَّفۡسِهِۦ﴾ ای علی نفسه

| | |
|---|---|
| ۳۷۷- شبه بكاف، وبها التعليل قد | يعني، وزائدًا لتوكيد ورد |

**تركيب:** **شبه** فعل امر. **بكاف** دا متعلق دی شبه پورې. **وبها** دا متعلق دي يعنی پورې. **التعليل** مبتداء. **يعنی** مضارع مجهول ضمير مستتر راجع تعليل ته هغه نائب فاعل. **زائدا** حال من فاعل. **لتوكيد** دا متعلق دی زائدا پورې. **ورد** ضمير مستتر هو راجع دی كاف ته هغه فاعل.

**ترجمه:** تشبيه ورکوه ته يو شئ بل شئ سره په کاف سره او کله کله قصد کولی شي پدې کاف سره علت د مدخول خپل لپاره د غير او واريدېږي کاف په حال کون د دې کاف کې چې دا زائد وي لپاره د تاکيد.

**تشريح:** يعنی کاف د حروف جاره ؤ نه راځي لپاره دَ تشبيه د شئ د شئ آخر سره غالبا پدې شان سره چې مدخول خپل گرځوي مشبه به لپاره د غير نحو زيد كالاسد. او کله دا کاف راځي لپاره د تعليل يعنی گرځوي مدخول خپل علت لپاره د ماقبل کما في قوله تعالی: ﴿وَٱذۡكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمۡ﴾ ای لهدايته اياكم ﴿وَيۡكَأَنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ ای اعجب لعدم فلاحهم. او کله راځي دا کاف زائد لپاره د تاکيد کما في قوله تعالی: ﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞ﴾ ای ليس مثله شئ دا کاف زائد دی پدې ايت کې او که زائد نه شي لازميږي ثبوت د مثل د الله تعالی او دا معنی باطل دی څکه مقصود پدې ايت کې نفي د مثل د الله ده او که دی کاف ته زائد او نه وايو بيا لازميږي قلب د مقصود.

| | |
|---|---|
| ۳۷۸- واستعمل اسمًا، وكذا "عن" و"على" | من أجل ذا عليهما "من" دخلا |

**تركيب:** **واستعمل** يا واستعمل فعل امر ضمير مستتر انت هغه ئي فاعل راجع دی کاف ته هغه نائب فاعل. **اسما** حال. **كذا** خبر مقدم **عن** سره د معطوف نه مبتداء مؤخر. **من** دا متعلق دی دخل پورې. **ذاعليهما** دا هم متعلق دی دخل پورې **من** مراد اللفظ مبتداء. **دخلا** ضمير مستتر هو راجع دی من ته هغه فاعل جمله خبر.

**ترجمه**. ۱ : مستعمل کړی شوي دی دا کاف په حال کون دده کې چې دا اسم دی. ۲ . مستعمل کوه ته کاف جاره لره اسم او عن او علی لره هم مستعمل کوه اسم په شان د کاف باندې او د وجې د کیدلو د دې دواړو نه اسمین داخلیږي من جاره پدې دواړو باندې ځکه حرف جر په حرف جر باندې نه داخلیږي.

**تشریح**: یعنی کاف جاره کله راځي اسمي او کله راځي حرفي د کاف حرفي بحث مخکې ذکر شو اوس بیانوي هغه کاف جاره چې هغه کله اسمي راځي. ۱ : کاف کله راځي اسمي په معنی دمثل سره او علامه ددې دا ده چې داخل شوي به وي پده حرف جر دا د خول د حرف جر علامه د اسمیت ده ځکه حرف جر نه داخلیږي په حرف جر آخر باندې پس معلومه شوه چې دا کاف حرفي نه دی بلکه کاف اسمي دی په معنی د مثل سره لکه پدې قول د شاعر کې:

هن نساء بیض ثلاثة کنعاج جم　　　　یضحکن عن اسنان کالبرد المنهم

ای عن اسنان مثل البرد و منه قول المتنبي:

وما قتل الاحرار کالعفو عنهم　　　　ومن لك بالحر الذي يحفظ اليدا.

ای مثل العفو. دا کاف مرفوع محلا دی ځکه دا فاعل د قتل دی. ۲ : عن. ۳ : او علی هم په شان د کاف کله راځي اسمي او کله راځي حرفي عن او علی حرفي مخکې ذکر شو اوس پدې بیت کې بیانوي عن اسمي او علی اسمي عن اسمي چې راشي په معنی د جانب سره یې او علی اسمي راځي په معنی د فوق سره او علامه د اسمیت د دوی دا ده چې داخل شوی وي په دوی باندې من جاره ځکه حرف جر نه دا خلیږي په حرف جر آخر باندې بلکه حروف جر داخلیږي په اسم باندې پس معلومه شوه چې دا مدخول د من عن او علی اسمي دی مثال د عن اسمي نحو جلست من عن یمینك ای من جانب یمنك و قول الشاعر:

لقد اراني من رماح دربة　　　　من عن یمني تارة و امامي

ای من جانب یمیني او مثال د علی اسمي نحو زید سقط من علی الجدار ای من فوق الجدار.

| | |
|---|---|
| ۳۷۹- و"مذ ومنذ" اسمان حیث رفعا | أو أوليا الفعل کـ: "جئت مذ دعا" |

**ترکیب**: **ومذ** مراد اللفظ مبتداء **ومنذ** عطف علی مذ **اسمان** خبر **حیث**. ۱ : په اعتبار د متعلق سره صفت د مذ او منذ. ۲ : یا دا متعلق دی په اسمان پورې ځکه دا محکوم باسمیتها دی. او **لیا** الف ضمیر نائب فاعل مفعول ثاني **الفعل** مفعول اول **کجئت** خبر د مبتداء محذوف. **مذ** دا متعلق دی جئت پورې. **دعا** مضاف الیه.

**ترجمه**: مذ او منذ د حروف جاره ؤ نه اسمین دي په کوم ځای کې چې د یو رفع ورکړه مابعد لره

يا واقع كړى شوي وي پس د دوى نه فعل مثال لكه جئت مذ دعا شو.

| | |
|---|---|
| ۳۸۰- وإن يجرا في مضي فكمن | هما، وفي الحضور معنى "في" استبن |

**تركيب: يجرا**: فعل فاعل. **في معنى** دا متعلق دى په يجرا پورې. **فكمن** جار مجرور په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم. **هما** مبتداء مؤخر. **الحضور** دا متعلق دى استبن پورې. **معنى** مفعول به مقدم. **في** مراد اللفظ مضاف اليه معنى لپاره.

**ترجمه**: او كه چيرې عمل د جر كولو دې دواړو په اسم زمان ماضي كې پس دا دواړه په شان د من ابتدائيه دى يعنى په معنى د من ابتدائيه سره دى او ښكاره كوه ته پدې مذ او منذ سره معنى د في په زمانه حالي كې.

**تشريح**: حاصل د بيتين دا دى چې مذ او منذ هم په شان د كاف او على مشترك دى په مابين د اسميت او حرفيت كې. ۱: كه چيرې وروستو د دوى نه اسم مرفوع واقع شو. ۲: يا واقع شي فعل پس د دوينه پدې دوه ځايونو كې دوى اسمين وي مثال د اول چې وروستو ترينه اسم مرفوع واقع شوى وي لكه مارايته منذ يوم الجمعة، منذ شهرنا. ۱: پس منذ پدې تركيبين كې مبتداء او ما بعد يې خبر. ۲: او بعض وايې چې منذ خبر مقدم او ما بعد يې مبتداء مؤخر او مثال د منذ چې وروستو ترينه فعل واقع شوى وى لكه جئت مذ د عا شو پس دا مذ اسم منصوب محلا بنا بر ظرفية او عامل ناصبه پكې جئت دى ځكه چې پس د دوينه فعل واقع شي نو دوى بيا اسماء ظروف وي او كه پس د دوى نه اسم مجرور واقع شو نو بيا به دوى حروف جاره وي پس كه چيرې مجرور د دوى داسې اسم زمان وو چې دلالت كول په زماني ماضي باندې نو دوى به په معنى دَ من ابتدائيه سره وي نحو لو رأيته منذ يوم الجمعة اى من يوم الجمعة او كه پس د دوى نه داسې اسمْ زمان وو چې دلالت كول په زمانې حالي باندې بيا دوى په معنى د في سره وي نحو ما رايته منذ يومنا اى في يومنا.

| | |
|---|---|
| ۳۸۱- وبعد "من وعن وباء" زيد "ما" | فلم يعق عن عمل قد علما |

**تركيب: وبعد**: دا متعلق دى په زيد پورې. **ما**: مراد اللفظ نائب فاعل. **يعق**: ضمير مستتر هو راجع ما ته هغه فاعل. **عن**: دا متعلق دى يعق پورې. **علما**: جمله صفت د عمل في لغة الفصيحة.

**ترجمه**: وروسته د من او عن او با نه زياتې كولى شئ لفظ د ما پس نه منع كوي دا ما زائده دوى لره د عمل كولونه په مابعد كې يعني دا ما كافه نه دى او كه ته وايې تا سره څه دليل دى چې دا نه منع كوي د عمل كولو نه دا وايي قد علم په تحقيق سره معلوم كړى شوي دي دا عمل.

**تشريح**: زده كړه دا خبره دا ما زائده راځي وروسته د حروفو جارو نه چې هغه پنځه دي، درې ئې

دې بيت کې بيان کړي دي او دوه وروسته بيت کې بيانوو:
١: ما زائد راځي پس د من نه نحو قوله تعالى: مما خطيئاتهم اغرقوا. ٢: ما زائد راځي پس د عن نه نحو قوله تعالى: عما قليل ليصبحن نادمين. ٣: ما زائد راځي پس د با نه نحو قوله تعالى: فبما رحمة من الله لنت لهم. د دې درې حروف جارونه وروسته چې ما زائده راشي هغه نه منع کوي دې حروف لره د عمل کولونه.

| | |
|---|---|
| ٣٨٢- وزيد بعد "رب"، والكاف" فكف | وقد يليهما وجر لم يكف |

**تركيب:** **زيد** ضمير مستتر راجع ما ته نائب فاعل، **بعد رب** دا متعلق دی زيد پورې. **والكاف** عطف على رب. **فكف** ضمير مستتر هو راجع ما ته هغه فاعل. **يليهما** ضمير مستتر هو راجع ما ته هغه فاعل او د ا هما ضمير منصوب متصل مفعول به وجر مبتداء. **لم يكف** جمله خبر مبتداء سره د خبر نه جمله حال.

**ترجمه:** اى و زيد ما بعد رب و الكاف فكف جرهما و قد تليهما و الحال ان الجر لايكف يعنى زياتي کولی شي دا لفظ د ما وروستو د رب او د کاف نه پس منع کوي دا ما دی رب او کاف لره د عمل کولونه. او کله کله واقع کيږي پس د دوينه دا ما او حال دا دی چې هغه جر د رب او دکاف نه دی منع کړی شوي.

**تشريح:** دارنګه دا ما زائد راځي. ٤: پس د رب. ٥: او دکاف نه کله چې دا ما زائده راشي پس د رب او کاف نه دا ما منع کوي دوی لره د عمل کولو نه په مدخول خپل کې او پدې وخت کې دوی داخليږي په جملې باندې مثال د ما زائده پس د رب نه ﴿رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ﴾ او مثال د ما زائده پس د کاف نه لکه پدې قول د شاعر کې:

| | |
|---|---|
| فان الحمر من شر المطايا | كما الحبطات شر بني تميم |

**ترجمه:** په تحقيق سره خرونه بد تر د سورلونه دی لکه چې اولاد د حرث بن مالك بدترين د بني تميم نه دی اوس دلته کما کې دا ما زائده راغلی دی پس د کاف نه او دا کاف ئې منع کړی دی د عمل کولونه داخل شوی دی په جمله اسميه باندې او کله کله دا ما زائده نه منع کوي دوی لره د عمل کولونه مثال درب چې عمل ئې کړی وي پس د زيادت د ما نه لکه د ا قول د شاعر شو: ربما ضربة بسيف صيقل شو او مثال د کاف چې عمل يې کړی وي پس د زيادت د ما نه لکه دا قول د شاعر شو:

| | |
|---|---|
| و ننصر مولانا و نعلم انه | كما الناس مجروم عليه و جارم |

**تركيب:** **كما:** خبر اول. **مجروم:** خبر ثان. **عليه:** نائب فاعل. **وجارم:** کې واو بمعنى او.

**ترجمه:** مونږ امداد او مرسته کوو زمونږ د خليفه د هغه په دشمن باندې سره د دينه چې مونږ عالمان يو پدې خبره باندې چې دا خليفه زمونږ کائن دی په شان د خلکو مظلوم عليه دی يا ظالم دی اوس کما الناس کې د کاف نه وروسته ما زائده راغلی دی او دا کاف ئې د عمل نه نه دی منع کړی او دا قليل دی.

| ۳۸۳- وحذفت "رب" فجرت بعد بل | والفا، وبعد الواو شاع ذا العمل |
|---|---|

**ترکيب:** **رب** مراد اللفظ نائب فاعل. **فجرت فا** عاطفه. ضمير مستتر هي راجع رب ته هغه فاعل. **بعد**: مفعول فيه. **والفا** عطف على بل. **بعد** دا متعلق دی وروسته شاع پورې. **ذا**: مبدل منه. **العمل** بدل يا موصوف صفت يا عطف بيان او مبين فاعل.

**ترجمه:** او حذف کولی شي رب د حروف جارونه پس دی جر ورکوي سره د حذف نه مدخول خپل لره. په کم ځای کې جر ورکوي. **بعد بل**۱ : وروستو د بل. ۲ : او د فانه. ۳ : او وروستو د واو نه کثيرا او شائع دی دغه عمل چې جر ورکول دی دَ رب محذوفه پس د واو نه.

**تشريح:** يعنی کله دا رب د حروف جارونه حذف کيږي سره د بقا د عمل د ده نه په دريو ځايونو کې. ۱: وروستو د بل نه کما في قول الشاعر:

بل بلد ملء الفجاج قتمة لا يشترى کتانه و جهرمة

ترکيب: ملء الفجاج خبر مقدم قتمة مبتداء مؤخره

**ترجمه:** او زه تير شوی يم په جهرم کلي باندې په هغې نه يم داخل شوی ځکه د هغې لارې کوڅې د دوړو نه ډکې دي د دې د وجې نه کتان او جهرميه د هغې تړنه څوك نه اخلي ځکه هغه د دوړونه ډك شوي دی. اوس دلته رب وروستو د بل نه حذف شوي دی او عمل د رب باقي پاتې شوی دی. ۲ : او وروستو د فا نه لکه پدې قول د شاعر کې:

فمثلك حبلى قد طرقت و مرضع فالهيتها عن ذی تمائم محول

۳ : او وروستو د واو نه لکه پدې قول د شاعر کې:

وبلدة ليس لها انيس الا العيس و الا اليعافير

وقول امراء القيس: وليل کموج البحر ارخی سدوله. ليکن تقدير د رب بعد الواو سره د بقاء د عمل نه کثير دی په نسبت سره تقدير د رب بعد بل و الفاء نه.

پس زده کړه دا خبره چې پدې واو کې دوه مذهبه دی. ۱ : مذهب د سبويه دی چې هغه وايي دا واو عاطفه دی او ما بعد مجرور دی په رب مقدره سره. ۲ : مذهب د کوفيان دی چې هغوی وايي دا واو عاطفه نه دی بلکه دا واو جاره دی دی جر ئې ورکړي دی مدخول خپل لره د دينه

وروسته رب نه دی مقدر او مختار په نزد د صاحب د کافیه مذهب ده کوفیان دی او مختاره په نزد د دده باندې مذهب د سبویه دی ځکه دی وویل و بعد الواو شاع ذا العمل او کله کله په طریقه د شذوذ سره رب محذوفه عمل د جر کوې بې د وقوع د دینه پس د یو د امور ثلاثونه کما في قول الشاعر:

رسم دار وقفت في طلله كدت اقضي الحياة من جلله

**ترجمه:** ډیر اثر چې هغه لاصق دی زمکې سره د اثارو د درد د محبوبې نه زه ودریدم د هغې په اثر کې چې هغه مرتفع د ی د ځمکې نه قریب وم زه چې ما نه ساه ختلې وې د هغې اثر د وجې نه. اوس دلته دا رسم مجرور دی په تقدیر د رب سره باوجود ددینه چې دا نه دی واقع شوی پس د بل، او واو او د فاء نه دا شاذ دی فلا یقاس علیه غیره.

| | |
|---|---|
| ٣٨٤-وقد يجر بسوى رب، لدى | حذف، وبعضه يرى مطردًا |

**ترکیب:** **بسوی** جار مجرور نائب فاعل. **لدی** بمعنی عند متعلق دی یجر پورې. و **بعضه** مبتداء. **یری** ضمیر مستتر نائب فاعل هغه مفعول اول. **مطردا** دا مفعول ثاني جمله خبر د مبتداء.

**ترجمه:** او کله کله جر ورکولی شي په ما سوا د رب سره په وخت د حذف د حرف جر کې او د بعض د دې جر نه لیدی شي قیاسي.

**تشریح:** حاصل د بیت دا دی چې حذف د حرف جر سره د بقا د جر نه په غیر د رب کې هم کولی شي او دا په دوه قسمه دی. ١: قیاسي دی. ٢: سماعي دی مثال د سماعي لکه پدې قول د عربو کې لکه تا نه یو سړی تپوس وکړي کیف اصبحت ته په جواب کې ووایې: خیر الحمد لله ای علی خیر دا علی حذف شوی دی سماعا او دا خیر مجرور پاتې شوې دی و کما في قول الشاعر:

اذا قيل اى الناس شر قبيلة اشارت كليب بالاكف الاصابع

ای الی کلیب دا إلیٰ حرف جر حذف شوې دی او دا کلیب مجرور پاتې شوې دی سما عا مثال د قیاسي لکه په دې قول د عربو کې. ١: بکم درهم اشتریت هذا الکتاب او بکم من درهم دا من حذف شوې دی په حذف قیاسي سره او تمیز مجرور پاتې شوې دی ځکه کم استفهامي تیمز کې عمل د نصب کوې او کله کله په هغه تمیز باندې من داخل شي او هغه حذف شي دا تمیز مجرور پاتې کیږي قیاسا. ٢: په لفظ د الله کې کله چې دا قسم کې مستعمل شي نحو الله لاخذ منّ الامة خدمة صادقة ای و الله. ٣: جواب د استفهام نه وروسته لکه ته ووایې: خالد ای من خالد په جواب د هغه چا کې چې هغه ووایې ممن اخذت الکتاب. ٤: د همزې د استفهام نه وروسته لکه یو سړی ووایې: مررت بخالد ته هغې ته ووایې: اخالد بن سعید ای أبخالد بن

سعید. ۵ : د ان شرطیه نه وروسته نحو اذهب بمن شئت ان ان خلیل و ان حسن ای ان بخلیل و ان بحسن. ٦ : د هلا نه وروسته لکه یو سړی ووایې تصدقت بدرهم ته هغه ته ووایې هلا د ینار ای هلا تصدقت بدینار

## الاضـافـة

په دې عنوان کې پنځلس خبرې پیژندل پکار دي. ۱ : ربط د ما قبل سره. ۲ : غرض المصنف. ۳ : ترکیب. ٤ : ترجمه. ۵ : معرفت د صیغه او اصل باب. ٦ : وزن. ۷ : مفهوم لغوی. ۸ : اصطلاحی. ۹ : وجه تسمیه. ۱۰ : اقسام. ۱۱ : تعریف د اقسام. ۱۲ : فوائد د اضافت معنویه. ۱۳ : فوائد د اضافت لفظیه. ۱٤ : اسماء لازمة الاضافة. ۱۵ : احکام د اضافت.

**ربط ماسبقه سره دادی** هرکله چې فارغ شو مصنف د بیان د مجرور بحرف الجر نه پس شروع ئې وکړه په بیان د مجرور بالاضافت کې په معرفت د ربط او مناسبت سره معرفت د غرض د مصنف هم راغی او ترکیب د دې عنوان په شان د ترکیب د عنواناتو ما سبقه سره دی.

**ترجمه:** دا ماسیاتی تر یو حد پورې بحث او بیان د اضافت دی اضافت د مصدر صیغه ده من باب الافعال اصل کې اضیاف وو حرکت د یا نقل شو ماقبل ته ورکړې شو یا الف سره بدل شوه التقاء د ساکنینو راغله بین الالفین بنا په مذهب د سیبویه باندې الف علامه مصدر حذف شوه ځکه دا زائد دی والزائد احق بالحذف په عوض کې تا په اخر کې راوړه اضافة شو اوبنا په مذهب د اخفش باندې الف اصلی حذف شوی دی نه الف زائده لانها علامة والعلامة لاتحذف په عوض کې تا په اخر کې راوړه اضافة شو او ثمره د خلاف ظاهریږی په وزن کې په دې شان سره اضافة بروزن افالة دی بنا په مذهب د اخفش باندې او بروزن افعلة دی بنا په مذهب د سیبویه باندې اضافت په لغت کې نسبت د شئ ته وائي او په اصطلاح د نحویانو کې نسبت د یو شئ دی اسم ته په واسطی د حرف جر سره لفظا یا تقدیرا. او اضافت اصطلاحی ته اضافت ځکه وائي چې په دېکې نسبت د یو شئ شوی دی بل شئ ته. او اضافت اصطلاحی دوه قسمه دی. ۱ : اضافت معنویه. ۲ : اضافت لفظیه. اضافت معنویه دیته وائي چې اضافت د غیر صفت راغلی وی خپل معمول ته او اضافت معنویه بیا په درې قسمه دی. ۱ : بمعنی اللام. ۲ : بمعنی من. ۳ : بمعنی فی.

**وجه حصر:** دا مضاف الیه به خالی نوی یا به ظرف زمان او مکان وی یا به نه وی که مضاف الیه ظرف زمان او مکان وو اضافت معنویه بمعنی فی نحو مکرالليل. او که ظرف زمان او مکان

نو بیا به خالی نوی یا به بیان واقع شوی وی مضاف لپاره یا به بیان واقع شوی نوی که بیان واقع شوی وو اضافت بمعنی من نحو خاتم فضة والا اضافت بمعنی اللام نحو غلام زید.

فوائد د اضافت معنویه. ١ : تعریف نحو غلام زید. ٢ : تخصیص نحو غلام رجل. ٣ : تذکیر نحو ان رحمت الله قریب. ٤ : تانیث نحو تلتقطه بعض السیارة علی قراءة. ٥ : جمعیت نحو وسورة ایام حزن الی العظم. ٦ : ظرفیت نحو توتی اکلها کل حین. ٧ : مصدریت نحو ولاتمیلوا کل المیل.

فوائد داضافت لفظیه. ١ : التخفیف فی اللفظ. ١ : په جانب د مضاف کې په حذف د تنوین او قائم مقام د تنوین سره نحو حسن وجهه الضاربا زید الضاربو زید. ٢ : په جانب د مضاف الیه کې په حذف د ضمیر سره د مضاف الیه نه مع استتار الضمیر نحو حسن الوجه. ٣ : په جانب د مضاف او مضاف الیه دواړو کې نحو حسنُ الوجه. ٢: ازالة القبح والتجوز نحو مررت بالرجلِ الحسنِ الوجه. که الوجه مرفوع وویلی شی کلام قبیح کیږي لخلو الصفة عن ضمیر الموصوف او که الوجه منصوب ووائي مجاز جوړیږي لاجراء الوصف اللازم مجری المتعدی کله چې په اضافت لفظی سره الوجه مجرور شو نو دا ترکیب حسن وګرځیده لاشتمال الصفة علی غیر الموصوف.

**اسماء لازمة الاضافت**

١ : جهات سته. ٢ : وحده. ٣ : عند. ٤ : لدی. ٥ : لدن. ٦ : بین. ٧ : وسط. ٨ : سواء. ٩ : غیر. ١٠ : مع. ١١ : دون. ١٢ : اذ. ١٣ : اذا. ١٤ : حیث. ١٥ : بید. ١٦ : قاب. ١٧ : ای. ١٨ : بعض. ١٩ : کل. ٢٠ : کلا. ٢١ : کلتا. ٢٢ : ذو. ٢٣ : الو. ٢٤ : قط. ٢٥ : حسب. اسماء لازمة الاضافت دوه قسمه دی.

١ : ځنی مضاف کیږي جملې ته لکه اذ واذا وحیث او اضافت د حیث مفرد ته شاذ دی.

٢ : او ځنی اسماء لازمة الاضافت الی المفرد دي. دا بیا دوه قسمه دی. ١ : ځنی اسماء لازمة الاضافت الی المفرد لفظا ومعنی دي نحو عند لدی بین. ٢ : ځنی اسماء لازمة الاضافة الی المفرد معنی دي فقط اما په لفظ کې مضاف وی او که نوی لکه کل وبعض.

او احکام د اضافت دا دی. ١ : نون د تثنیه او جمع حذف کولی شی وجوبا اضافت د وجې نه.

٢ : مضاف الیه همیشه مجرور راځی. ٣ : اضافت د مماثل مماثل ته جائز ندی. ٤ : اضافت د مباین مباین ته جائز ندی. ٥ : لایجوز اضافة الصفة الی الموصوف والموصوف الی الصفة چې په خپل معنی باندې باقی پاتی شی او باقی احکام به په دې کتاب کې بیا نوی.

هرکله چې فارغ شو مصنف رحمه الله د بیان د حروف جاره ؤ نه پس شروع ئې وکړه په بیان د

اضافت د اسم کې او اضافت په لغت کې مطلق مائل کولو ته وايي: او په اصطلاح کې نسبت يو اسم دی بل اسم ته په تقدير د حرف جر سره دا طرفين غواړی. ۱: مضاف. ۲: مضاف اليه دی اول اسم ته مضاف وائی او دی دويم اسم ته مضاف اليه وائی. تعريف د مضاف دا دی کل اسم نسب الی اسم آخر بتقدير حرف الجر او تعريف د مضاف اليه: دا دی کل اسم نسب اليه اسم بتقدير حرف الجر.

| | |
|---|---|
| ٣٨٥- نونًا تلي الإعراب أو تنوينا | مما تضيف أحذف كطور سينا |

**ترکيب:** **نونا** مفعول به مقدم احذف لپاره. **تلي** ضمير مستتر هي راجع نون ته هغه فاعل دتلي الاعراب مفعول به د تلي بيا جمله صفت واقع شوی ده نون لپاره. **تنوينا** دا عطف دی په نونا باندې. **مما** دا متعلق دی احذف پورې. **تضيف** صله د ما. **كطور** خبر د مبتداء محذوف ای و ذالك **كطور** مضاف. **سينا** مضاف اليه.

**ترجمه:** حذف کوه ته نون لره هسې نون چې واقع وي پس د حرف اعراب نه يعنې علامې د تثينه او د جمع نه او حذف کوه تنوين لره د هغه اسم نه چې ته ئې مضاف کوې غير ته دا تنوين عام دی لفظا وي او که تقديرا وي مثال د تنوين لفظي چې حذف شوي وي اضافة د وجې نه لکه طور سيناء شو او مثال د تنوين تقديري چې حذف شوي وی اضافة د وجې نه لکه حواج بيت الله شو.

**تشريح:** غرض د ناظم پدې بيت کې بيان د حکم د اضافة د يو اسم دي بل اسم ته په تقدير د حرف جر سره دا اول اسم به خالی نه وي يا به د دې په آخر کې تنوين راغلی يې يا به نون راغلی يې پس د اعراب بالحرف نه نو پس د اضافة نه دا تنوين او نون لره وجوبا ته حذف کوه ځکه. ۱: دا تنوين او قائم مقام د تنوين علامه د تمام د کلمه دی او اضافة علامه د عدم تمام ده په ما بين کې ئې منافات دی. ۲: دا اضافة علامه د اتصال ده ځکه په ما بين د مضاف او د مضاف اليه کې شدت اتصال دی او دا تنوين او نون علامه د انفصال ده ځکه دا راځي انفصال لپاره او په ما بين د انفصال او اتصال کې منافات دی ځکه د دوی حذف واجب دی چې اجتماع د متنافيين رانه شي.

| | |
|---|---|
| ٣٨٦- والثاني أجرر، وانو "من" أو "في"؛ إذا | لم يصلح إلا ذاك، واللام خذا |

**ترکيب:** **والثاني** مفعول به مقدم. من مراد اللفظ مفعول به. **ذاک** فاعل ديصلح. **واللام** مفعول به مقدم.

**ترجمه:** او اسم ثاني لره مجرور کوه او مقدر کوه من يا في په مابين د مضاف او مضاف اليه کې پدې شرط سره چې صالح نه وو لپاره د تقدير مگر دا دواړه اونيسه لام جاره لره په تقدير سره.

| | |
|---|---|
| ٣٨٧- لما سوى ذينك، واخصص أولا | أو أعطه التعريف بالذي تلا |

**ترکیب:** **لما** دا متعلق دی خذ پورې. **سوی** په اعتبار د متعلق محذوف سره صله د ما. **ذینک** مضاف اليه سوی. **اولا:** مفعول به د اخصص. **اعطه** ضمير مفعول اول. **التعريف** مفعول ثاني. **بالذی** دا متعلق دی تعريف پورې. **تلا** جمله صله د الذي.

**ترجمه:** لپاره د هغه اسم چې هغه سوا دی د تقدير د من او د في نه او تخصيص ورکوه اول اسم لره چې مضاف دی که مضاف اليه نکره وه يا ورکوه دي لره تعريف په هغه اسم سره چې واقع شوی دی پس د مضاف نه چې هغه مضاف اليه دی که دا مضاف اليه معرفه وه.

**تشریح:** د دې بيتين دا دی زده کړه دا خبره چې دا اضافة درې قسمه دی. ۱: اضافة بياني. ۲: اضافة ظرفي. ۳: اضافة لامي

**وجه د حصر:** په مابين د اقسامو ثلاثه ؤ کې دا ده چې دا مضاف اليه به خالي نه وي يا به ظرف وي لپاره د مضاف يا به جنس وي چې دا مضاف جوړ شوي دی د مضاف اليه نه يا به دواړه نه وي فالاول بمعنی في ديته اضافة ظرفي وايي. نحو صلاة الليل. و قوله تعالى: ﴿يَٰصَٰحِبَيِ السِّجۡنِ﴾ و الثاني بمعنى من ديته اضافة بياني وايې د دوی په اصطلاح کې د دې علامه دا ده چې ۱: مضاف بعض د مضاف اليه وي. ۲: او مضاف ماخوذ او متخذ وي د مضاف اليه نه او مضاف اليه ماخوذ منه وی او. ۳: مضاف او مضاف اليه په مينځ کې نسبة عموم خصوص من وجه وي نحو خاتم فضة. خاتم حديد و الثالث بمعنى اللام هغې ته اضافة لامي وايې د دوی په اصطلاح کې دا اضافة بيا په دوه قسمه دی. ۱: اضافة معنوی دی. ۲: اضافة لفظي دی. اضافة لفظي ديته وايې چې مضاف صفت وي مضاف شوي وي معمول خپل ته چې هغه فاعل او مفعول به دی، د صفت نه مراد دی اسم فاعل او اسم مفعول، او صفة مشبه او معمول نه مراد دی فاعل، او مفعول به نه باقي معمولات نحو زيد ضارب عمرو- زيد حسن الوجه اول کې اضافة د صفت شوي دی مفعول به ته او پدې دويم مثال کې اضافة شوي دی فاعل تهٔ. او اضافة معنوي ديته وائي چې دا مضاف سره صفت نه وي نحو غلام زيد يا صفة وي لکن مضاف شوي نه وي فاعل او مفعول به ته بلکه نورو معمولاتو ته مضاف شوي وي نحو مالك يوم الدين مصارع مصر. کريم بلد دا درې واړه اضافة معنوي دی ځکه اضافة د صفة شوي دی مفعول فيه ته اوس دا اضافة معنوي. ۱: تعريف فايده کوي په مضاف کې که چيرې اضافة يې شوی وو معرفي ته ما سواد لفظ د مثل، او غير او نحو او شبه او نظير نه دغه الفاظ د وجې د کمال توغل نه په ابهام کې نه معرفه کيږي په اضافة سره معرفي ته د دې وجه نه دا واقع کيږي صفت د نکرې نحو جاء رجل غيرك دارنګې نه معرفه کيږي هغه اسم چې مضاف شوي وي

ضمير ته چې هغه راجع دى نكرې ته نحو جاءني رجل و اخوه دا دوه صورتونه مستثنى دى د هغه قاعدى كلي نه چې قاعده كليه اسم نكره مضاف شي معرفي ته په اضافة معنوي سره هغه معرفه كيږي ما سواد د دې دوه صورتونو نه. ۲: تخصيص فائده كوي په مضاف كې كه چيرې اضافة شوي ؤ نكرې ته نحو جاءني غلام رجل، هذا كتاب رجل دا مسمى كړى شوي دي په اضافة معنوي سره ځكه فائده د دې اضافة راجع ده معنى ته د دوى په اصطلاح كې اضافة حقيقي او اضافة محضه هم وايې ځكه دى خالي دى د تقدير د انفصال د نسبت د مضاف او مضاف اليه نه امّا اضافة لفظي هغه فقط تخفيف فائده كوي په مضاف كې د دې دوجې نه دا واقع كيږي حال او دارنگه صفت د نكره نه د معرفه نحو مررت برجل حسن الوجه فلايقال مررت بزيد حسن الوجه او دا مسمى كړى شو په اضافة لفظي سره ځكه فائده د دې اضافة راجع ده لفظ ته فقط چې هغه تخفيف لفظي دى ا دې ته د دوى په اصطلاح كې اضافة مجازي او اضافة غير محضه هم وايې ځكه دا په تقدير د انفصال كې دى او دا اضافة غير دى د غرض اصلي د اضافة نه.

| | |
|---|---|
| ۳۸۸- وإن يشابه المضاف "يفعل" | وصفًا، فعن تنكيره لايعزل |

**تركيب:** **المضاف** فاعل. **يفعل** مراد اللفظ مفعول به. **وصفا** حال د المضاف نه. **فعن تنكيره** دا متعلق دى لايعزل پورې. **يعزل** ضمير مستتر نائب فاعل جمله خبر لپاره د مبتداء محذوف بيا جمله جزا لپاره د شرط.

**ترجمه:** او كه مشابه وو مضاف صيغې د مضارع سره په اشتمال كې په معنى دحال او استقبال باندې په حال كون د مضاف كې چې دا صيغه د صفة ده پس د غه مضاف د تنكير خپل نه نه شي بر طرف كولى او كه ته وايې ما ته داسې مثال وښايه چې تعريف يې نه يې قصد كړې فقط تخفيف لفظي قصد كړى وي ناظم صاحب وايې:

| | |
|---|---|
| ۳۸۹- كرب راجينا عظيم الأمل | مروع القلب قليل الحيل |

**تركيب:** **كرب** خبر لپاره د مبتداء محذوف و ذالك كائن كقولك **راجينا** اضافة الى المفعول **الامل** صفة اول. **مروع** صفة ثاني. **قليل** صفة ثالث د راجينا لپاره.

**ترجمه:** ډير كرته اميد كونكى زمونږ نه هسې راجي چې لوى اميد والاوي او مرعوب القلب وي يعنى يرولى شوى زړه والاوي او لږ حيلې والاوي.

**تشريح:** مخكې مونږ ويلى ؤ چې دا اضافة دوه قسمه دى. ۱: اضافة معنوي. ۲: اضافة لفظي. دا اضافة معنوي خو بيان مخكې بيت كې وشو اوس پدې بيت كې دى بيانوي اضافة لفظي

چې اسم فاعل او اسم مفعول په معنی د حال یا استقبال سره او صفة مشبه مطلقا ځکه صفة مشبه کې حال او استقبال شرط نه دی. دا مضاف شي معمول ته چې هغه فاعل او مفعول به دی داسې قسم اضافة نه شي طرف ته کیدي د تنکیر نه بلکه تنکیر ورسره لازم دی تخصیص نه فائده کوي او تعریف نه فائده کوي اګر که دا مضاف وي معرفي ته د دې وجې نه چې تنکیر د دې سره لازم دی. ۱: دا صفة د نکرې واقع کیږي نه د معرفي. ۲: او دا حال واقع کیږي او حال نه وي مګر نکره یې. ۳: او رب پدې باندې داخل کیږي چې مدخول د هغې خاص دی په نکره پورې مثال د اضافة لفظي لکه رب راجیا شو چې اضافة د اسم فاعل شوي دی مفعول به ته.
۲: لکه عظیم القلب او قلیل الحیل شو چې اضافة د صفة مشبه شوی دی فاعل ته. ۳: لکه مروع القلب شو چې اضافة د اسم مفعول شوي دی نائب فاعل ته او که چیرې.. ۱: دا مضاف صفت نه وو. ۲: یا صفت غیر عامل وو په دې شان سره چې اسم فاعل او اسم مفعول په معنی د ماضی سره دي نحو هذا ضارب زید أمس. ۲: یا صفة عامل دی لکن اضافة معمول ته نه د ی شوې لکه مصارع مصر شو بیا دا اضافة معنوی دی.

| وتلك محضة ومعنوية | ۳۹۰- وذي الإضافة اسمها لفظية |
|---|---|

**ترکیب: وذی** مبتداء اول. **الاضافة** بدل یا عطف بیان. **اسمها** مبتداء ثاني. **لفظية** خبر د مبتداء ثاني بیا جمله خبر د مبتداء اول. **وتلك** مبتداء. **محضة** خبر. **ومعنوية** عطف على محضة.

**ترجمه:** او دغه اضافة چې اضافة د صفة دی معمول خپل ته نوم د دې اضافة لفظي دی ځکه پدې باندې فائد او اثر مرتب دی فقط په لفظ کې چې هغه سقوط د تنوین او قائم مقام د تنوین دی د جانب د مضاف نه او سقوط د ضمیر دی د جانب د مضاف الیه نه او استتار دی په جانب د مضاف کې دارنګې دې ته اضافة غیر محضه اوغیر حقیقي هم وایې. **وتلك** او هغه اضافة چې فائده کوي تخصیص د مضاف یا تعریف د مضاف نوم د هغه. ۱: اضافة محضه. ۲: اضافة معنوي دارنګې. ۳: اضافة حقیقي دی.. ۱: محضه ورته ځکه وایې چې دی خالی دی د شبه د انفصال نه او د عدم اضافة نه پدې شان سره چې په لفظ کې هم مضاف دی او په معنی کې هم مثال لکه غلام زید کې مخکې د اضافة نه اتصال لفظي وو او نه اتصال معنوي وو او پس د اضافة نه دا دواړه یوبل سره متصل وګرځیده لفظا او معنی ځکه ورته اضافت محضه وائي او اضافة لفظي کې فقط اتصال لفظي راغلی دی نه معنوي معنوي ورته ځکه وایې چې فائده د اضافة راجع ده معنی ته په خلاف د اضافة لفظي نه چې په هغې کې فائده راجع دی لفظ ته نه معنی ته حقیقي ورته ځکه وایې چې غرض حقیقي د اضافة نه هم دغه دی.

| | |
|---|---|
| ۳۹۱- ووصل "أل" بذا المضاف مغتفر | إن وصلت بالثان: كـ"الجعد الشعر" |
| ۳۹۲- أو بالذي له أضيف الثاني | كـ"زيد الضارب رأس الجاني |

**ترکیب:** **ووصل** مبتداء **بذا** متعلق دی وصل پورې مضاف اليـه. **مغتفر** خبر د مبتداء. **وصلت** ضمير مستتر هي راجع ال تـه هغـه نائب فاعـل. **بالثان** دا متعلق دی وصلت بانـدې. **كـا** خبر د مبتداء محذوف دی. **الجعد** مضاف. **الشعر** مضاف اليه من اضافة الصفة المشبهة الى معمولها.

**ترجمه:** او پيوست كول د الف لامو پدې مضاف پورې چې دا مضـاف د اضـافة لفظي دی معـاف كړي شوي دی پدې شرط سره چې پيوست كړی شوي ۇ دا الف لام دَ دويم اسم سره چې هغـه مضاف اليه دی مثال د دې لكه الجعد الشعر شو. گل گوتي ويښتـه او كونډې كونډې ويښته دا په شان د الحسن الوجه دی چې اضافة د صفة مشبه شوي دی فاعل ته.

**تشريح:** زده كړه دا خبره چې جائز نه دی دخول د الف لام په مضاف د اضـافة معنـوي كې بلكـه پـه حين د اضافة كې كه دا مضاف معرفه باللام وه واجب دی تجريد د مضاف د الف لام نه لپاره د دې خبرې چې لازم نـه شي تحصيل دَ حاصـل سره د مضـاف إليـه معرفـه نـه او يـا لازم نـه شي تحصيل د ادنى چې تخصيص دی سره د وجود د اعلى نه چې تعريف دی سره د مضـاف اليـه نكره نه او جائز دی دخول د الف لام پـه مضاف د اضـافة لفظي كې په شرط د دخول د الف لام سره په مضاف اليه باندې او **بالذي له اضيف الثاني**. يا پيوست شوي وی دا الـف لام دَ هغـه اسم سره چې اضافة كړی شوی وي هغه ته دَ ثاني چې مضاف اليه دی يعنې دا الف لام داخل شوی وي په مضاف اليه د مضاف اليه باندې مثال د ده لكه **زيد الضارب رأس الجاني**. شو. ترجمـه : زيـد وهـونكی دی سر د گنهگار لره. اوس كه الف لام نه په مضاف اليه داخل شوي وو او نه په هغـه اسم بانـدې داخل شوي وو چې هغې تـه مضاف شوي دي دا مضاف اليـه د صفة بيـا دا اضـافة ممتنـع دی يعنې ممتنع دی دخول د الف لام پدې صفة باندې چې مضاف شوي دی مجرد عن اللام تـه فـلا يقال الضارب زيد، الضارب رجل، الضارب راس الجاني ځكه لازميږي اضافة د معرفـه نكرې ته او دا جائز نه دی په اضافة معنوي كې او نه په اضافة لفظي كې دد ې وجـه نـه الحسن وجـه دا تركيب ممتنع دی په هغه اتلس صورتونو د صفة مشبه كې هر چې دی الضـارب زيـد ممتنـع دی د وجې د عدم حصول د فائدې نه نه په جانب د مضاف كې او نـه پـه جانب د مضـاف اليـه كـې د دې دوجې نه ممتنع دی الحسن وجهه په هغه اتلس صورتونو د صـفت مشبـه كې ځكـه تخفيف نه دی حاصل شوی نه په جانب د مضاف كې او نه په جانب د مضاف اليه كې.

| مثنى أو جمعًا سبيله اتبع | ٣٩٣- وكونها في الوصف كاف، إن وقع |
|---|---|

**تركيب: وكونها** مبتداء اضافة د مصدر ناقص شوي دی اسم خپل ته. **الوصف** خبر د كون. **كاف** خبر د مبتداء. **وقع** ضمير مستتر راجع دي مضاف ته فاعل. **مثنى** حال د فاعل دَ وقع نه. **سبيله** مفعول به مقدم. **اتبع** ضمير مستتر هو راجع جمعا ته هغه فاعل جمله صفة د جمعا واقع شوی دی.

**ترجمه:** او كيدل د الف لام په وصف کې فقط پوره دی لپاره د صحت د اضافة كه واقع شوې وو دا مضاف تثنيه يا جمع هسې جمع چې تابع شوی وه دَ طريقې او دَ لارې د تثنيه په اعراب کې چې هغه اعراب بالحرف دی مراد د جمع نه جمع مذكر سالم ده.

**تشريح:** يعنى دی مخكې دوه بيتونو کې هغه مضاف د اضافة لفظي مراد د دې چې هغه غير دی د تثنيه او د جمع مذكر سالم نه برابره خبره ده چې مفرد وي او كه جمع مؤنث سالم وي كه جمع تكسير وي مطلقا. اوس پدې بيت کې حكم د هغه مضاف د اضافة لفظي ذكر كوي چې هغه تثنيه يا جمع مذكر سالم وي حكم د دې دادی چې نفس دخول د الف لام پدې تثنيه او جمع مذكر سالم کې كافي دی لپاره د صحت د اضافة د وجې د حصول دَ تخفيف نه په جانب د مضاف کې په حذف د نون د تثنيه او جمع سره په اضافة سره نو حاجت يې نشته دخول دِ الف لام ته په مضاف اليه کې نحو الزيدان الضاربا عمرو، الزيدون الضاربو عمرو.

| تأنيثًا إن كان لحذف موهلا | ٣٩٤- وربما أكسب ثان أولا |
|---|---|

**تركيب: ثان** فاعل. **اولا**: مفعول به اول. **تانيثا** مفعول ثاني. **كان** ضمير مستتر اسم د كان **لحذف** دا متعلق دی موهلا پورې دا خبر د كان او جواب د شرط محذوف دی لما مر.

**ترجمه:** اى ان كان المضاف اهلا للحذف يعنى كله كله په طريقې د قلت سره كسب كوی دا ثاني چې مضاف اليه دی اول لره چې مضاف دی تانيث پدې شرط سره كه وو دا اول چې مضاف دی صالح او لائق لپاره د حذف.

**تشريح:** د دې نظم مطلب دا دی چې كله كله دا مضاف د مضاف اليه نه تانيث كسب كوي نو معامله كولی شي د ده سره معامله د مؤنث دا مطلقا نه بلكه پدې شرط سره چې دا مضاف صالح وي لپاره د حذف او استغناء د ده نه راځی په اقامة د مضاف اليه سره په مقام دده کې نحو قطعت بعض اصابعه كسب كړي دی دې بعض تانيث لره د اصابع نه ځكه دا اصابع مؤنث دی او صحيح دی حذف د بعض او قامة د اصابعه په مقام د بعض باندې د وجې د ادا كولو د اصابع نه معنى د بعض لره پس ويلی شي ته قطعت اصابعه د دې د وجې نه مؤنث وكړی شو دا فعل په قطعت بعض اصابعه کې و منه قوله تعالى: تلتقطه بعض السيارة على قراءة. في

يلتقطه بعض السيارة. او کله کله کسب کوي دا مضاف د مضاف اليه نه تذکير په شرط مذکور سره کما في قوله تعالى: ﴿إِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ﴾. پس دا رحمة لفظ مؤنث دی او دلته ئې کسب کړي دی تذکير د الله نه په سبب د اضافة سره. وقول الشاعر:

| | |
|---|---|
| امر على الديار ديار ليلى | اقبل ذا الجدار وذا الجدارا |
| وما حب الديار شغفن قلبي | ولكن حب من سكن الديارا |

اوس دلته ضمير د شغفن راجع دی حب ته ځکه دی تانيث کسب کړی دی د مضاف اليه نه دارنګه کسب کړی ئې ده معنى د جمع بل مثال د دی لکه دا قول د عربو شو: شمس العقل مکسوف بطوع الهوى. او که صحيح نه وو حذف د مضاف او اقامة د مضاف اليه په مقام د مضاف باندې جائز نه دی کسب تانيث او تذکير د مضاف د مضاف اليه نه پس نه شي ويلی ته په قام غلام هند کې قامت غلام هند او قامت امراة زيد کې قام امراءة زيد د وجې د عدم صحة د حذف د مضاف او اقامت د مضاف اليه نه په مقام د مضاف باندې.

| | |
|---|---|
| ۳۹۵- ولا يضاف اسم لما به اتحد | معنى وأول موهمًا إذا ورد |

**ترکيب:** اسم نائب فاعل. **لما** دا متعلق دی يضاف پورې يا دا متعلق دی اتحد پورې. **اتحد** جمله صله د ما موصوله. **معنى** منصوب بنزع الحافض يا از جهة تميز. **موهما** مفعول به اول لپاره. **اذا ورد** جزا د دې محذوف ده لدليل ما مر.

**ترجمه:** او نه شي مضاف کولی يو اسم هغه اسم ته چې متحد وي د ا اسم دی اسم اول سره په معنى او مصداق کې او تاويل کوه ته هغه ترکيب لره چې هغه وهم پيدا کونکی دی د دغسې قسم اضافة لره په کم وخت کې چې واقع شي دا موهم په تراکيب کې.

**تشريح:** يعنى دوه اسمونه چې متحد وي يو د بل سره په مصداق او په معنى کې نو د هغوی اضافة يو بل ته جائز نه دی د دې صورتونه دوه دی. ۱: مرادفين لکه ليث اسد او قعود او جلوس شو. ۲: مساويين لکه انسان او ناطق شو پس نه شي ويلی ته ليث اسد او قعود جلوس او انسان ناطق لعدم الفائدة چې مقصود د اضافة معنوي نه تعرف او تخصيص دی هغه نه حاصليږي پدې اضافة سره ځکه کون د شئ معرف او مخصص بنفسه دا ممتنع دی او که چيرته بالفرض واقع شو په کلام د عربو کې اضافة د يو مراد ف مرادف آخر ته بيا ته تاويل کوه په جعل د احدهما سره عبارت د مدلول نه او په جعل د آخر سره عبارت د لفظ نه په قرينې د مقام سره نحو جاءني سعيد کرز اوس دلته دا سعيد او کرز دواړه مرادفين دی ځکه دا دواړه د يو سړي نومونه دی سعيد اسم محضه دی او کرز يې لقب دی او اضافة د اسم محضه شوي دی

لقب ته او دا ترکيب مؤول دی په مدلول هذا اللفظ سره يعنی سعيد نه تاويل کوو په مسمی او مدلول سره او کرز نه تاويل کوو په هذا اللفظ سره نو اضافة د عام راغي خاص ته.

| ٣٩٦- وبعض الأسماء يضاف أبدًا | وبعض ذا قد يأت لفظًا مفردًا |
| --- | --- |

**ترکيب:** **وبعض الأسماء** مضاف مضاف اليه مبتداء. **يضاف** جمله خبر **ابدا** مفعول فيه **وبعض** مبتداء مضاف. **ذا** مضاف اليه. **يات** جمله خبر. **لفظا** منصوب علی التميز يا په نزع د خافض سره. **مفردا** حال د ضمير مستتر د ياتي نه.

**ترجمه:** او بعض د اسماء نه مضاف کولی شي مفرد ته دائما لفظا او معنی. او بعض د دغه اسماء لازمه الاضافة نه کله کله راځي په لفظ کې خالي د اضافة نه يعنی لفظا غير مضاف وي او معنی مضاف وي.

**تشريح:** حاصل د دې بيت دا دی چې دا اضافة خاصه د اسم ده په فعل او په حرف کې نه راځي بيا دا اسماء په اعتبار د اضافة او عدم اضافة درې قسمه دی. ١ : ځنې هغه دي چې ممتنع الاضافة دی لکه ضمائر، اسماء اشاره،، او اسماء موصوله، او اسماء شرط او اسماء استفهام شو ما سوا د ای نه. ٢ : ځنې صالح د اضافة او عدم اضافة دواړو دی لکه کتاب، غلام وغيره شو. ٣ : قسم اسماء لازمه الاضافة دی پدې شان سره چې نه شي مستعمل کولی بې د اضافة نه بيا دا اسماء لازم الاضافة دوه قسمه دی. ١ : لازم الاضافة دی مفرد ته دی. ٢ : لازم الاضافة دی جملې ته دا به وروسته ده بيانوي بيادا لازم الاضافة الی المفرد دوه قسمه دی. ١ : هغه دی چې جائز نه دی قطع د هغه د اضافة نه پدې شان سره چې لازم دی اضافة د هغوی لفظا او معنی دی قسم ته ناظم اشاره کړی ده پدې نيم بيتي اول کې لکه عند، لدی، لدن، بين شو. ٢ : قسم هغه دی چې جائز دی قطع د اضافة نه لفظا نه معنی يعنې دا اضافة لازم دی د هغوی سره معنی فقط نه لفظا او دی قسم ته ناظم اشاره کړي دی پدې نيم بيتي ثاني کې مثال د ده لکه ای، لکه، او بعض، او اول، او فوق، او تحت شوه.

| ٣٩٧- وبعض ما يضاف حتمًا امتنع | إيلاؤه اسمًا ظاهرًا حيث وقع |
| --- | --- |

**ترکيب:** **وبعض** مبتداء مضاف. **ما** موصوله مضاف اليه **يضاف** جمله صله **حتما** مفعول مطلق لفعل محذوف **ايلاوه** فاعل جمله خبر اضافة المصدر الی المفعول الاول **اسماظاهرا** موصوف صفة مفعول ثاني **حيث** دا متعلق دی امتنع پورې **وقع** ضمير مستتر هو راجع بعض ته هغه فاعل جمله مضاف اليه.

**ترجمه:** او بعض د هغه اسماء نه چې مضاف کولی شي لفظا وجوبا ممتنع دی واقع کول

وروستو د ده نه اسم ظاهر متصل بلا فصله کم خای کې چې واقع شي په کلام د عربو کې
**تشريح:** پس زده کړه دا خبره چې اسماء لازم الاضافة لفظا او معنی درې قسمه دی. ۱: هغه دی چې اضافة د هغې کیږي اسم ظاهر او ضمیر ته لکه کلا او کلتا شو. ۲: هغه دی چې اضافة د هغې کیږي فقط اسم ظاهر ته لکه اولو، اولات، ذو دارنګه فروع د دې شو. ۳: قسم هغه دی چې اضافة د هغې کیږي فقط ضمیر ته دا بیا په دوه قسمه دی. ۱: قسم هغه دی چې مضاف کیږي هر قسم ضمیر ته لکه وحد لفظ شو یقال فیه وحدك، وحده، وحدي. ۲: قسم هغه دی چې اضافة د هغې کیږي فقط ضمیر د مخاطب ته لکه لبیك و سعدیك شو دا دراړه قسم ناظم صاحب پدې نظم کې بیان کړي دی.

| | |
|---|---|
| ۳۹۸- کوحد، لبي، ودوالي، سعدي | وشذ إيلاء "يدي" للبي |

**ترکیب:** **کوحد** په اعتبار د متعلق سره خبر د مبتداء محذوف دی. **لبی** عطف علی وحد بحذف العاطف. **سعدی** داهم عطف دی په لبی باندې په حذف د حرف عاطف. **ایلاء** فاعل د شذ مضاف. **یدی** مضاف الیه. **للبی** دا متعلق دی ایلاء پورې مفعول ثاني دی او مفعول اول مضاف الیه واقع شوي دی.
**ترجمه:** هغه اسماء چې لازم الاضافة دی ضمیر ته لکه وحد، لبی، دوالی، سعدی شو چی د دې څلور وارو اضافة اسم ظاهر ته ممتنع دی دا مضاف کیږي ضمیر ته دائما بیا د دوی ترمینځ دومره فرق دی چې اضافة د وحد هر قسم ضمیر ته کولی شي چې هغه ضمیر غائب وي او که مخاطب وي او که متکلم وي او باقي د دی دریو اضافة مختص دی په ضمیر مخاطب پورې **وشذ** او شاذ دی واقع کول دوی اسم ظاهر وروسته د لبی نه لکه راغلی دی پدې قول د شاعر کې:

دعوت لما نابني مسورا
فلبی فلبی یدی مسور

**ترجمه:** ما اواز وکړه مسور ته هغه کار لپاره چې رسیدلی وو ما ته د دیة نه نو هغې ماله جواب راکړه په لبیك سره او ما هغې ته اواز وکړه دې لپاره چې قبول کړي په قبلولو سره هغه دوه لاسونه د مسور اوس دلته لبی مضاف شوي دی دې اسم ظاهر ته خلاف القیاس ځکه دا د هغه اسماء نه دی چې لازم د دی سره اضافة لفظا او معنی ضمیر د مخاطب ته خلافا للسبیویه.

| | |
|---|---|
| ۳۹۹- وألزموا إضافة إلى الجمل | "حيث" و"إذ" وإن ينون يحتمل |

**ترکیب:** **والزموا** فعل فاعل. **اضافة** مفعول ثاني مقدم. **الجمل** متعلق دی اضافة پورې. **حیث** مراد اللفظ مفعول اول د الزموا لپاره. **ینون** ضمیر مستتر هو راجع اذ ته هغه نائب فاعل. **یحتمل** جمله جزا.
**ترجمه:** او لازم کړی دی عربو حیث او اذ لره اضافة جملې ته هغه جمله عام ده فعلیة وی او که اسمیه وي او که منون کړی شو دا اذ بیا جائز دی.

| | |
|---|---|
| ٤٠٠- إفراد إذ، وما كإذ معنى كإذ | أضف جوازًا نحو "حين جا نبذ" |

**ترکیب**: **افراد اذ** مضاف مضاف الیه نائب فاعل یحتمل لپاره. **وما** موصوله. **کاذ** جار مجرور په اعتبار د متعلق سره صله **معنی** منصوب بنزع الخافض **کاذ** په اعتبار د متعلق سره خبر د مبتداء. **جوازا** مفعول مطلق په حذف د موصوف سره خبر د مبتداء محذوف. **حین** اسم زمان مبهم مضاف جمله فعلیه ته چې جاء دی دا متعلق د ی نبذ پورې.

**ترجمه**: عدم اضافة د اذ او هغه اسم چې په شان د اذ بآندې وي په اعتبار د معنی سره یعنی اذ ظرف زمان دی او هغه هم ظرف زمان دی په شان د اذ باندې دی نو مضاف کوه ته جوازا مثال لکه حین جاء نبذ شو څه وخت چې راغی هغه سړی غرځولې شوی دی.

**تشریح**: مخکې مونږ ویلی وو چې دا اسماء لازم الاضافة دوه قسمه دی. ۱: یو هغه دی چې هغه لازم الاضافة الی المفرد دی دا مخکې ذکر شو. ۲: دویم قسم لازم الاضافة الی الجملة دی لکه حیث اذ او اذا شو د ابیانوي پدې بیت کې چې د دوی اضافة جملې ته لازم دی او اضافة مفرد ته نه کیږي مگر شاذا پس دا اذ او حیث مضاف کیږي جملې ته مطلقا برابره خبره ده چې جمله فعلیه وی او که اسمیه وي نحو قوله تعالی: ﴿وَ اذْكُرُوٓا اِذْ كُنْتُمْ قَلِيْلًا﴾ ﴿وَ اذْكُرُوٓا اِذْ اَنْتُمْ قَلِيْلٌ﴾ ﴿فَاْتُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللّٰهُ﴾. و قولك اجلس حیث العلم موجود او کله چې مضاف الیه د اذ جمله حذف شي جوازا بیا د هغې په عوض کې تنوین راوړی شي په آخر د اذ کې دی اذ لره کسره ورکولی شي د وجې د التقاء د ساکنین نه د تنوین سره کما في قوله تعالی: و أنتم حینئذ تنظرون په دغه وخت کې عدم اضافة د اذ لفظا جائز دی د وجې د مجیئة د تنوین نه عوض د جملې مضاف الیه نه د دې د وجې نه دیته تنوین عوضي وایې چې دا عوض د هغه جمله مضاف نه راغلی دی هر چې دی اذا دا مضاف کیږي جمله فعلیه ته جمله اسمیه ته نه مضاف کیږي نحو اتیك اذا قام زید او آتیك اذا زید قائم جائز نه دی خلافا للبعض وروسته به راشي و ما کاذ الخ. او هغه اسماء چې په شان د اذ باندې وي. ۱: په کون د دې کې ظرف زمان. ۲: ماضي. ۳: مبهم لکه یوم، وقت، حین شو پس جائز دی اضافة د هغوی جمله اسمیه او جمله فعلیه دواړو ته په شان د اذ مثال د حین چې مضاف شوي وي جمله فعلیه ته لکه حین جاء نبذ شو او مثال د جمله اسمیه لکه جئتك حین زید قائم شو.

| | |
|---|---|
| ٤٠١- وابن أو أعرب ما كإذ قد أجريا | واختر بنا متلو فعل بنيا |

**ترکیب**: **ما** موصوله تنازع فیه الفعلان. **کاذ** دا متعلق دی اجری پورې. **اجریا** جمله صله. **بنا** ای بناء مقصور للضرورة مفعول به مضاف. **متلو** مضاف الیه بیا مضاف. **فعل** مضاف الیه. **بُنیا** جمله

صفة د فعل.

**ترجمه:** او مبني کوه ته د وجې د اکتساب د مضاف د مضاف اليه نه بنا يا معرب کوه ځکه اصل په اسماء کې اعراب دی ما: هغه ظرف لره چې په شان د اذ باندې جاري کړی شوي دی پدې شان سره لکه. ۱: اذ ظرف زمان ماضي دې هغه هم ظرف زمان ماضي دی. ۲: لکه اذ چې مبهم دی هغه هم مبهم دی او مختاره کوه ته بنا د هغه ظرف چې هغه متبوع کړی شوي دی د فعل مبني يعنی دا ظرف واقع شي متبوع د هغه فعل چې هغه مبني کړی شوي دی.

**تشريح:** هغه ظرف چې په شان د اذ باندې دی په اضافة کې جملې ته لکه مخکې بيت کې ذکر شو په هغې کې بنا على الفتحه او اعراب دواړه جائز دی هر چې دی نفس بنا. ۱: د وجې د حمل نه په اذ باندې يا. ۲: دوجې د اکتساب د مضاف د مضاف اليه نه بنا لره او هر چې دی بنا خاص په فتحې سره د وجې د خفة د فتحې نه او هر چې دی اعراب د وجې د بقا نه په اصل باندې ځکه اصل په اسماء کې اعراب دی او حمل په غير باندې ضروري نه دی دارنګه اکتساب د مضاف د مضاف اليه نه بنا لره ضروري نه دی نو دا اعراب او بنا دواړه جائز دی برابره خبره ده چې مضاف وي جمله فعليه ته او که مضاف وي جمله اسميه ته بيا دا فعليه مصدره په فعل معرب سره وي او که فعل مبني سره وي لکن که مضاف شوي وو جمله فعليه ته هغه فعليه چې مصدره دی په فعل مبني سره بيا اعراب پکې جائز غير مختاره ده او بنا په کې جائز مختار دی لکه پدې قول د شاعر کې:

| | |
|---|---|
| على حين عاتبت المشيب على الصبا | فقلت الما اصبح و الشيب وازع |

**ترجمه:** ما پريخوده معاصي په وخت د معاتبه زما کې مشيب لره د وجې ده معنی د وړوکې زما نه ما وويل په خپل ځان کې چې زه به څنګه بيدار نه شم د دغه ارتکاب د معاصيو نه او حال دا دی چې دا بوړه والی مانع او زاجر دی د ارتکاب د دغه څيزونونه اوس دلته دا حين مشابه د اذ مضاف شوی دی جمله فعليه ته او فعل پکې ماضي دی دا واقع شوی دی وروستو د اذ نه پدې کې دا بناء على الفتح غوره ده د اعراب نه اوس مبني على الفتحه چې ووايې على حين عاتبت به وايې او که معرب ئې ووايې على حين عاتبت به وايې دواړه جائز دی ليکن دابناء مختار دی د اعراب نه د وجې د مناسبت نه.

| | |
|---|---|
| ۴۰۲- وقبل فعل معرب أو مبتدا | أعرب، ومن بنى فلن يفندا |

**ترکيب:** **وقبل** دا متعلق دی اعرب راتلونکي پورې. **مبتداء** عطف على فعل. **ومن** موصول مبتداء. **بنى** جمله صله د موصول. **يفندا**، دا جمله خبر دی لپاره د هغه مبتداء چې هغه متضمن ده معنی

د شرط لره.

**ترجمه:** او معرب کوه ته مخکې د فعل معرب او مخکې د مبتداء نه هغه ظروف مشبه باذ لره او هغه چا چې دا مبني کړه بیا نسبت د غلطیا او د ناپوهی او د بې وقوفی ورته نه شي کولی.

**تشریح:** هغه ظروف مشبه باذ چې مضاف شي جملې ته بیا مخکې د جمله اسمیه نه واقع شوی وي یا مخکې د جمله فعلیه نه واقع شوي وی لکن فعلیه مصدره ده په فعل مضارع سره اعراب او بنا دواړه جائز دی لکن اعراب پکې جائز مختار دی او بنا جائز غیر مختار ده نحو قوله تعالی: ﴿هَٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ الصَّٰدِقِينَ صِدْقُهُمْ﴾. پس رفع د یوم جائز مختار ده علی الاعراب د وجه د مناسبة نه او فتحه پکې جائز ده علی البناء لکن غیر مختار ده علی الاعراب د وجې د مناسبت نه دا مسئله ده بیان کړی ده په مذهب د کوفیانو باندې او بصریان وایې که د دغه ظروف اضافت شو یو جمله فعلیه ته او فعل پکې ماضي وو بیا پکې اعراب او بنا دواړه جائز دی او که د دوی اضافة شوی وو جمله اسمیه ته یا جمله فعلیه ته چې فعل پکې مضارع وو بیا دا معرب دي بنا پکې جائز نه ده د هغوی په نزد باندې. او دا حکم د هغه ظروف وو چې هغه مضاف کیږي جملې ته جوازا او هر چې دی هغه ظروف چې هغه مضاف کیږي جملې ته وجوبالکه حیث او اذ او اذا شو بیا دا بنا واجب ده د وجې د مشابهت د دوی نه د حروف سره په احتیاج کې په دې شان سره لکه څنګه چې حروف محتاج دی په دلالت د معنی خپل کې انضمام د کلمه اخری ته دارنګې دا ظروف محتاج دی د جملې ته.

| | |
|---|---|
| ٤٠٣- وألزموا "إذا" إضافة إلى | جمل الأفعال، كـ"هن إذا اعتلى" |

**ترکیب:** **اذا** مراد اللفظ مفعول اول. **اضافة** مفعول ثاني. **الی جمل** متعلق دی اضافة پورې. **کهن** خبر د مبتداء محذوف. **اعتلی** جمله مضاف الیه اذا لپاره.

**ترجمه:** او لازم کړی دی عربو اذا لره اضافة جملو د افعالو ته یعنی اضافة د اذا لازم دی جمله فعلیه ته مثال د دې لکه هن اذا اعتلی شو.

**ترجمه:** عاجزي کوه کله چې اوچت شي یعنی غټې مرتبې ته ورسیدې یا نرم شه ته په هغه وخت کې چې اوچت شي په تا باندې هغه ستا ملګری.

**تشریح:** زده کړه دا خبره چې اذا د اسماء لازم الاضافة الی الجملې نه دي چه جمله فعلیه وي نه اسمیه پشان د اذ او حیث لکن دومره فرق دی چې اذا وحیث مضاف کیږي مطلق جملې ته چې هغه اسمیه وي او که فعلیه وي او د اذا اضافة کیږي فقط جمله فعلیه ته او جمله اسمیه ته نه مضاف کیږي په نزد د جمهور او سیبویه باندې په خلاف د اخفش او کوفیانو. نه پدې شان سره

چې دوی اضافة د اذا جمله اسمیه ته جائز وایي لکن غوره مذهب د جمهور دی څکه اضافة د اذا جمله اسمیه ته ندي موندلی شوی په کلام د عربو کې.

**سوال:** اذا السماء انفطرت کې خو اضا فة د اذا جمله اسمیه ته شوی دی ؟

**جواب:** دا السماء مبتداء نه ده بلکه دا فاعل دی لپاره د فعل محذوف چې دغه انفطرت دی او حذف شوی دی په حذف وجوبي سره د وجه د تفسیر د ده نه په ما بعد کې.

| ٤٠٤- لمفهم اثنين معرف- بلا | تفرق- أضيف "كلتا"، و"كلا" |
|---|---|

**ترکیب:** **لمفهم** دا جار مجرور متعلق دی اضیف پوری. **اثنین** مضاف الیه. **معرف** صفة د لمفهم. **بلا** دا جار مجرور په اعتبار د متعلق دسره صفت ثاني د مفهم. **کلتا** نائب فاعل د اضیف. **وکلا** عطف دی په کلتا باندې.

**ترجمه:** ای اضیف کلا و کلتا لإسم مفهم لاثنین معرف کائن بلا تفرق یعنی اضافت کولی شي کلا او کلتا اسم ته داسې اسم چې هغه دلالت کوي په تثنیه باندې لفظا او معنی دواړه یا فقط معنی او هغه اسم به معرفه وي بې د فاصلې نه په مابین د دوې کې په حرف عاطف سره.

**تشریح:** کلا او کلتا دا د اسماء لازم الاضافة نه دی لفظا او معنی جمیعا لکن واجب دی اضافة د دوی معرفي ته چې هغه تثنیه وي لفظا یا معنی تثنیه لفظي دیته وایي: چې علامات د تثنیه پکې موجود وي چې هغه الف او نون دی په حالت رفعي کې او یا او نون دی په حالت نصبي جري کې او تثنیه معنوي دیته وایي چې دلالت کوي په دوه باندې او علامات د تثنیه پکې موجود نه وي مثال د کلا او کلتا چې مضاف وی تثنیه لفظي ته نحو جاءني کلا الرجلین و کلتا المراتین او مثال د کلا او کلتا چې هغه مضاف شوي وي تثنیه معنوي ته لکه جاءني کلاهما و کلتاهما. بلا تفرق سره احتراز ئي وکړه د هغه معرفي نه چې هغه دلالت کوي په تثنیه باندې سره د فاصلې نه په حرف عاطف سره دارنګې معرفي ته اضافة د کلا او کلتا نه کیږي فلا یقال جاءني کلا زید و عمرو اضافة د کلا او کلتا لپاره ٢ شرطونه شو. ١ : مضاف الیه به معرفه وي. ٢ : دلالت به کوي په اثنین باندې. ٣ : او لفظ واحد به یي.

| ٤٠٥- ولا تضف لمفرد معرف | "أيا"، وإن كررتها فأضف |
|---|---|

**ترکیب:** **لمفرد** دا متعلق دی لاتضف پوري. **معرف** نعت لمفرد. **ایا** مفعول به لتضف. **ان** شرط. **فاضف** جزاء

**ترجمه:** او اضافة مه کوه ته ایّ استفهامی مفرد معرفي ته او که مکرر کړه تا ایّ لره بیا مضاف کوه او که چیرې اضافة کوي مفرد ته نو ته نیت وکړه اجزاء په دغه مفرد کې.

**تشریح:** ای هم د اسماء لازم الاضافة نه دی لکن لازم دی اضافة د ده معنی فقط او لفظا کله غیر

مضاف هم واقع كيږي او اضافة د دې ممتنع دى مفرد معرفه ته فلا يقال اي زيد ځكه اى دلالت كوي په تعدد باندې او مفرد معرفه كې تعدد نشته بلكه اضافة د دې كيږي١: تثنيه ٢: او جمع ته مطلقا چې هغه معرفه وي او كه نكره وي ٣ مفرد نكرې ته. يا مفرد معرفې ته په واسطې د عطف سره يا قصد كړى وي اجزاء د مفرد پدې دوه صورتونو كې اضافة د اى معرفې ته جائز دى نحو اى زيد و اى عمرو عندك. اى زيد احسن اى اى جزء من اجزاء زيد احسن تعدد په اجزاء كې راغى.

| ٤٠٦- أو تنو الأجزا، وأخصصن بالمعرفة | موصولة أيا، وبالعكس الصفة |
|---|---|

**تركيب: اوتنو** معطوف على كررتها. **الاجزا** مفعول به. **واخصصن** ضمير مستتر انت هغه فاعل **بالمعرفه** دا متعلق دى و اخصصن پورې. **موصوله** حال مقدم. **ايا** مفعول به د اخصصن لپاره ; **بالعكس** خبر مقدم. **الصفة** مبتداء مؤخر.

**ترجمه:** او خامخا خاص كوه ته په دخول كې معرفې پورې اى لره په حال كون د دې اى كې چې دې موصولې وي او عكس د اى موصولې دى اى صنعتي پدې شان سره د خول د اى موصولې خاص وو په معرفه پورې او د دې دخول خاص دى په نكره پورې.

| ٤٠٧- وإن تكن شرطًا أو استفهامًا | فمطلقًا كمل بها الكلاما |
|---|---|

**تركيب: وان** ضمير مستتر هي راجع اى **ته** اسم د تكن. **شرطا** خبر د تكن. **استفهاما** عطف على شرط. **فمطلقا** مفعول مطلق كمل لپاره په حذف د موصوف سره اى فتكميلا مطلقا. **بها** متعلق دى كمل باندې. **الكلاما** مفعول به جمله جزا لپاره د شرط.

**ترجمه:** او كه وي دا اى شرطي يا استفهامي بيا زه تخصيص د دې نه كوم چې ته په معرفه كې داخل كوه يا نكره كې داخل كوه بلكه مكمل كړه ته پدې اى سره كلام لره مطلقا برابره خبره دې چې اضافة معرفې ته كوي او كه نكرې ته كوي دواړه جائز دى

**تشريح:** پس زده كړه دا خبره چې اى په څلور قسمه دى. ١ : موصولي. ٢ : صفتي. ٣ : شرطي. ٤: استفهامي. پس اضافة د اى موصولي خاص دى په معرفه پورې اضافة نه كيږي نكرې ته نحو قوله تعالى: ﴿ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا﴾ او اى صفتي بالعكس راځي پدې شان سره چې دا مضاف كيږي نكرې ته نه معرفه ته نحو مررت برجل اى رجل اى كامل في الرجولية مررت بفارس اى فارس اى كامل في الفرسان. او اى شرطي او استفهامي عام دى چې اضافة د دې دواو كيږي معرفه او نكره دواړو ته مطلقا برابره خبره دى چې دا نكره او معرفه مفرد وي او كه تثنيه وي او كه جمع وي مګر كه دا مضاف اليه مفرد معرفه وه اضافة د

ای شرطي نه کيږي مطلقا او دا ای استفهامي مضاف کيږي مفرد معرفي ته پدې شرط سره.
۱ : چې دا ای استفهامي مکرر شوي وي په واسطې د عطف سره. ۲ : يا ته اراده وکړي اجزاء د دې مفرد معرفه مثالونه د دې دواړو مخکې ذکر شوي دي.

| | |
|---|---|
| ٤٠٨- وألزموا إضافة "لدن" فجر | ونصب "غدوة" بها عنهم ندر |

**ترکيب**: **اضافة**: مفعول ثاني مقدم. **لدن**: مراد اللفظ مفعول اول. **فجر**: **فا**: عاطفه ضمير مستتر هو راجع لدن ته هغه فاعل. **و نصب**: مبتداء مضاف. **غدوة** مضاف اليه. **بها**: دا متعلق دی نصب پورې. **عنهم**: دا متعلق دی ندر پورې ضمير مستتر هو راجع نصب ته هغه فاعل جمله خبر واقع شوي ده.

**ترجمه**: او لازم کړی دی عربو لدن لره اضافة پس جر ورکوي لدن ما بعد لره او نصب د غدوة چې دا يو خاص لفظ دی پدې لدن سره واقع شوي دی د عربو نه قليلا.

**تشريح**: دا لدن هم د هغه اسماء لازم الاضافة نه دی دا راځي په معنی د عند سره لکن دومره فرق دی چې عند مستعمليږي په امور حاضرو او ما في الخزائن دواړو کې او لدی مستعمليږي فقط په امور حاضرو کې او دا مبني على السکون دی له وجه د حمل د ده نه په لد يا لد باندې او هغه مبني دی د وجې د مشابهة نه د حرف سره په وضع ثنائي کې او دا د ظروف غير متصرفه ؤ نه دی ځکه دا نه خارجيږي د ظرفية نه په جر سره او جر د ده راځي په من سره نحو قوله تعالى: ﴿وَعَلَّمۡنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلۡمٗا﴾ ﴿لِّيُنذِرَ بَأۡسٗا شَدِيدٗا مِّن لَّدُنۡهُ﴾ نو دا لدن غالبا منصوب راځي بنا بر ظرفية او کله کله مجرور راځي په من سره او دا لازم الاضافة دی کله مضاف کيږي مفرد ته نحو جلست لدنك او کله مضاف کيږي جملې ته نحو انتظرتك من لدن طلعت الشمس الى ان غربت نو ما بعد دده نه هميشه مجرور واقع کيږي ما سوا د لفظ د غدوة نه چې دا ددې لدن نه وروسته منصوب راغلى دی په کلام د عرب، کې کما في قول الشاعر:

وما زال مهري مزجر الكلب منهم لدى غدوة حتى دنت لغروب

**ترجمه**: هميشه دی هغه بچی د اس زما بعيد د دوی نه لکه په شان د بعد د کلب د زاجر نه د سهار وخت نه تر نمر ډوبيدو پورې. اوس دلته غدوة منصوب راغلې دې پس د لدن نه او دا قليل دی اوس دا غدوة منصوب ولی دی پس د لدن نه. ۱ : ځوك وايې دا خبر د کان محذوفه دی سره د اسم نه ای لدن کانت الساعة يا الوقت غدوة. ۲ : ځوك وايې دا منصوب دی بنا بر تميز چې دا تميز واقع شوي دی لدن لپاره ځکه دا لدن نوم دی اول زمان مبهم لپاره د هغې بيان ووشو په غدوة سره. ۳ : ځوك وايې دا منصوب دی بنا بر تشبيه بالمفعول ځکه دا لدن مشابه دی اسم فاعل سره په ثبوت د نون او حذف د نون کې دارنګه لدن نه وروسته دا غدوة لفظ د

مرفوع هم راځي د کوفيانو په نزد باندې بنا پدې. ۱: چې دا فاعل دی لپاره د کان تامه محذوفه ای لدن کانت غدوة. ۲: يا خبر دی لپاره د مبتداء محذوف ای لدن وقت هو غدوة. نو دا غدوة لفظ چې واقع شي پس د لدن نه ۱: مرفوع. ۲: او منصوب. ۳: او مجرور لوستل درې واړه جائز دی لکن دا کون د غدوة مجرور پس د لدن نه د وجې د اضافة د لدن نه کثير او قياسي دی او دا نور دوه قليل دی او خلاف القياس دی د دې د وجه نه پدې غدوة منصوب باندې پس د لدن نه يو اسم ته عطف وکړې جائز دی نصب د معطوف عطفا على اللفظ دارنګه جائز دی جر د معطوف مراعاة للاصل.

| | |
|---|---|
| ٤٠٩- ومَعَ مَعْ فيها قليل، ونقل | فتح وكسر لسكون يتصل |

**ترکيب: ومع:** عطف على لدن. **مع:** مراد اللفظ مبتداء **فيها:** دا متعلق دی قليل پورې. **قليل:** خبر. **فتح:** نائب فاعل. **وكسر:** عطف على فتح. **لسكون:** پدې کې تنازع راغلی ده د فتح او د کسر. **يتصل:** ضمير مستتر هو راجع دی سکون ته هغه فاعل جمله صفة د سکون واقع شوي ده.

**ترجمه:** او دارنګی لازم کړی دی عربو مع لره اضافة او مَعْ په سکون دعين سره قليل دی په دی مع کې او نقل کړی شوي ده بنا په فتحه او کسره سره دوجه د سکون نه هسی سکون چې متصل شي سکون روستنی سره نحو مع ابنك.

**تشريح:** پس دا کلمه د مع د اسماء لازم الاضافة نه ده ما بعد ددينه مجرور وی دوجه د اضافة د مع نه هغې ته او دا اسم ظرف دی کله دلالت کوی په مکان د اجتماع باندې نحو انا معك او کله دلالة کوی په زمان د اجتماع باندې نحو جئت مع العصر او دا مع لفظ معرب دی او منصوب دی او په لغة دربيعه کې دا مبنی على السکون دی او منصوب محلا راځی اوس کله چې وروستو ددينه بل حرف ساکن واقع شی بيا لپاره دَ دفع د التقاء دساکنينو دغه لغة و الاخلق کله فتحه ورکوی ځکه فتحه اخف الحرکات دی او کله کسره ورکوی ځکه لأن الساکن اذاحرك حرك بالكسر نحو جئت مع القوم غالبا دا مع مضاف مستعمليږی او کله کله مضاف نه وي حال واقع کيږی جئنا معا ای جميعا يا مجتمين.

| | |
|---|---|
| ٤١٠- واضمم -بناء- "غيرًا" إن عدمت ما | له أضيف، ناويًا ما عدما |

**ترکيب: بناء:** مفعول مطلق په حذف د مضاف سره ای ضم بناء. **غيرا:** مفعول به اضمم لپاره. **ما:** موصوله مفعول به. **له:** دا متعلق دی اضيف پوری. **اضيف:** ضمير مستتر هو راجع غير ته نائب فاعل **ماعدما** حال د ضمير د اضمم نه ضمير مستتر انت ورلره فاعل او **ما** موصوله مفعول به ناويا لپاره او **عدما** جمله صله د موصول.

**ترجمه:** او مضهوم کوه ته دې غير لره په حال کون ستا کې چې مبني کونکې يې دی غير لره پدې شرط سره که ته حذف وکړې هغه شي لره چې اضافت کړی شوی دی دا غير هغې ته په حال کون ستا کې چې ته اراده کونکې ئې هغه مضاف اليه شي لره چې هغه حذف کړی شوي وي.

| ودون، والجهات أيضًا، وعل | ٤١١- قبل كغير، بعد، حشب، أول، |
|---|---|

**ترکيب:** **قبل** مبتداء. **كغير** په اعتبار د متعلق سره خبر د مبتداء. **بعد** او **حسب** دا ټول عطف دی په قبل باندې په اثبات د حرف عاطف سره ما سواد ددې درې وروستنو نه چې دا عطف دی په حذف د حرف عاطف سره.

**ترجمه:** قبل سره د معطوفاتو نه په شان د غير دی. ۱: په حذف د مضاف اليه کې لفظا سره د بقا د مضاف اليه نه په نيت کې. ۲: او په بناء على الضمة کې يعنې دا بعد اوقبل الخ دا ټول مبني على الضمه دی په شان د غير کله چې ته د دوی مضاف اليه حذف کړې لفظا او مراد وی په نيت کې اوس د دې بنا على الضمه نه علاوه نور حالت شته دی او که نه دی وايې.

| "قبلًا" وما من بعده قد ذكرا | ٤١٢- وأعربوا نصبًا إذا ما نكرا |
|---|---|

**ترکيب:** **نصبا** حال از فاعل اعربوا ای ناصبين. **ما** زائده. **نكرا** ضمير مستتر هو راجع دی مذکور ته هغه نائب فاعل. **قبلا** مفعول به لاعربوا. **وما** موصوله معطوف على قبلا. **بعده** دا جار مجرور متعلق دی ذکر پورې. **ذكرا** ضمير مستتر هو راجع موصول ته هغه نائب فاعل جمله صله د موصول.

**ترجمه:** او معرب کړی دی دوی قبل لره او هغه اسماء لره چې هغه وروستو د قبل نه په تحقيق سره ذکر کړې شوی دی په مخکنې بيت کې په هغه وخت کې چې دا ټول ټال نکره کړی شي په حذف د مضاف اليه سره نسيا منسيا په حال کون د دوی کې چې دوی ئې نصب ورکوونکي دی دی قبل و ما بعدها لره په حالت نصبي کې کله چې دا خالي وو د عامل جاره نه او که عامل جار ورباندې داخل شي بيا مجرور يې نحو من قبلٍ و من بعدٍ.

**تشريح:** حاصل دابيات ثلاثه ؤ دا دی چې غير، قبل، بعد، حسب، اولُ، دون، عل بمعنی فوق او جهات سته ؤ لره څلور احوال دی په يو حالت کې مبني على الضمه دی. ۲: او دوه حالتونو کې معرب دی رفعا و نصبا و جرا.. ۱: او حالت د دوی دا دی چې دوی مضاف وي او مضاف اليه د دوی محذوف منوي وي په دغه حالت کې مبني على الضمه وي هر چې دی نفس بنا څکه چې دوی پدې حالت کې مشابه دی د حرف سره په احتياج کې مضاف اليه ته بيا هغه مضاف اليه ته محتاج دی چې هغه محذوف دی لکه چې حرف محتاج دی په دلالت د معنی خپل کې

انضمام د کلمې اخرئ ته او هر چې دی بنا په ضمې باندې ځکه چې ضمه حرکت قوي دی دا ګرځي جبیرې لپاره د ما فات چې هغه حذف د مضاف الیه دی لکه قبل او بعد شو پدې قول د الله تعالی کې: ﴿لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَ مِنْ بَعْدُ﴾ ای من قبل کل شئ و من بعد کل شئ. ۲: حالت دادی چې مضاف الیه د دوی حذف شوي دی نسیا منسیا کما فی قوله عَلَيْهِ السَّلَامُ: رب قبل خیر من بعد. ۳: حالت د دوی دا دی چې مضاف الیه د دوی مذکور وي نحو جئتك قبل العصر. ٤: حالت دا دی چې مضاف الیه د دې حذف شوي دی لکن لفظ د دی مراد دې چې په عوض د هغې کې تنوین راغلی دی. فافهم. پدې د دریو حالتونو کې دوی معرب دی د وجې د عدم مشابهة نه د حرف سره په احتیاج کې دا دوه حالتونه ذکر ونکړه د وجې د ظهورنه.

| | |
|---|---|
| ٤١٣- وما يلي المضاف يأتي خلفا | عنه في الإعراب إذا ما حذفا |

**ترکیب: وما**: موصوله مبتداء. **يلي**: ضمیر مستتر راجع ما ته هغه فاعل **المضاف** مفعول به جمله صله لپاره د موصول. **خلفا**: حال د ضمیر د یاتي نه چې هغه راجع دی ما ته. **عنه**: دا متعلق دی خلفا پورې. **الاعراب**: دا متعلق دی یاتي پورې. **ما**: شرط او جزا ددې حذف شوی دی لدلیل ما مرّ.

**ترجمه**: ای والمضاف الیه الذي یلي المضاف یاتي خلفا عنه في الاعراب اذا حذف المضاف یعني هغه اسم چې واقع کیږي وروسته د دې مضاف نه متصل بلا فصله چې هغه مضاف الیه دی دا راځي نائب د مضاف نه په اعراب کې کله چې حذف کړی شي مضاف.

**تشریح**: یعني کله کله دا مضاف حذف کیږي د وجې د وجود قریني نه او مضاف الیه قائم کیږي په مقام د مضا ف کې او اعراب د هغه مضاف اخلي ځکه دا قاعده ده اذا وقع الشيء في محل الغیر فله حکم الغیر مثالونه ددې لکه دا قول د الله تعالی: ﴿وَ سْئَلِ الْقَرْيَةَ﴾ ای اهل القریة دا اهل مضاف منصوب حذف شوي دی او دا القریة مضاف الیه قائم شوي دی په مقام د هغه کې اعراب د هغې اغستی دی چې منصوب شوی دی او مخکې د حذف د مضاف او د اقامة د ده نه دا مجرور وو بل مثال دده لکه دا قول د الله تعالی شو: ﴿وَ اُشْرِبُوْا فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْعِجْلَ﴾ ای حب العجل، ﴿وَجَآءَ رَبُّكَ﴾ ای امر ربك.

| | |
|---|---|
| ٤١٤- وربما جروا الذي أبقوا كما | قد كان قبل حذف ما تقدما |

**ترکیب: جروا**: فعل فاعل. **الذي**: مفعول به. **ابقوکما**: جمله صله او عائد حذف شوي دي اي أبقوه یعنی ترکوه علی الحالة التی کان علیها قبل حذف المضاف و هی الجر دا جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوف سره صفة لپاره د موصوف محذوف **کما** موصوله. **کان**: ضمیر

مستتر هو اسم د کان. **قبل**: خبر د کان. **ما**: موصوله. **تقدم**: جمله صله د ما چې هغه مضاف دی.
**ترجمه**: او کله کله جر ورکوي عرب هغه مضاف اليه لره چې دوئی پریښودی هغې لره پس د حذف د مضاف نه لکه څرنګه چې وو دا مضاف اليه مجرور مخکې د حذف د مضاف نه.

| ٤١٥- لكن بشرط أن يكون ما حذف | مماثلًا لما عليه قد عطف |
|---|---|

**ترکیب**: **بشرط**: دا متعلق دی متلبس پورې حال واقع شوي دی الذي ابقوا نه. ۲: یا خبر دی مبتداء محذوف لپاره ای و ذلك الجر كائن بشرط. **ما**: موصوله اسم د یکون **حذف** جمله صله **مماثلا**: خبر د یکون. **لماعليه**: دا متعلق دی مماثلا پورې دا متعلق دی عطف پورې.
**عطف**: ضمير مستتر هو راجع ما ته هغه نائب فاعل جمله صله لپاره د موصول.
**ترجمه**: لیکن پدې شرط سره چې وي محذوف مرادف او مماثل لفظا او معنی د هغه مضاف سره چې عطف کړی شوی دی دا مضاف محذوف په دغه مضاف مذکور باندې.
**تشریح**: حاصل د دې بیتینو دا دی چې کله کله مضاف حذف کیږي او مضاف اليه مجرور پاتې کیږي په خپل حال باندې لیکن پدې شرط سره چې دا مضاف محذوف معطوف مماثل او مرادف وو د هغه مضاف مذکور معطوف عليه سره لفظا او معنی لکه پدې قول د شاعر کې شو:

اكل امرا تحسبين امرا ونار توقد بالليل نار

**ترجمه**: ته په هر سړي باندې دا ګما ن مه کوه چې دا کامل سړی دی دارنګې په هر اور باندې ګمان د اور مه کوه چې دا اور فائده مند دی. اوس دلته مضاف د نار کل حذف شوي دی او دا نار مضاف اليه مجرور پاتې شوی دي پس دحذف د مضاف نه په حالت اصلی خپل باندې د وجه د وجود د شرط نه چې هغه مماثلة دَ مضاف محذوف دی مضاف دمعطوف عليه مذکور سره او په نزد د فرا باندې دا نار مضاف اليه لپاره د مضاف محذوف ندی بلکه دا نار څکه مجرور دی چې عطف دی په امرأ باندې او دا نارا په نصب سره عطف دی په امرا باندې عطف د اسمین راغلی دی په معمولین د عاملین مختلفین باندې او دا جائز دی دفراء په نزد باندې او دلیل نیسی پدی قول د شاعر سره چې مخکې ذکر شوه او د دې قبیلې نه دې دا قول د الله تعالیٰ تریدون عرض الدنيا والله يريد الأخرة په يو قرأت باندې عرض الأخرة دي.

| ٤١٦- ويحذف الثاني فيبقى الأول | كحاله، إذا به يتصل |
|---|---|

**ترکیب**: **الثاني**: نائب فاعل. **الاول**: فاعل. **كحاله**: په اعتبارد دمتعلق سره حال دی د اول نه. **به**: دا متعلق دی یتصل پورې ضمیر مستتر هو فاعل بیا جمله مضاف اليه واقع شوي ده اذا لپاره.
**ترجمه**: او حذف کولی شی ثانی اسم چې مضاف اليه دی پس پاتی کولی شی اول اسم چې

مضاف دی په شان د زوړ حال خپل باندې کله چې متصل وو پدی اول پوری دا ثانی.

| | |
|---|---|
| ٤١٧- بشرط عطف وإضافة إلى | مثل الذي له أضفت الأولا |

**ترکيب: بشرط**: دا متعلق دی يحذف پورې. **واضافة**: عطف على عطف. **الى**: دا متعلق دی اضافة پورې. **له**: دا متعلق دی اضفت پورې. و: مفعول به. **للأول**: جمله صله لپاره د موصول موصول سره د صلې نه مجرور لپاره د جار الخ.

**ترجمه**: په دې شرط سره. ١: چې عطف شوی وی پدی مضاف باندې چې مضاف اليه حذف شوی دی. ٢: يو اسم چې هغه مضاف دی مثل د هغه اسم مضاف اليه ته چې هغې ته تا مضاف کړی دی اول چې هغه معطوف عليه مضاف دی ته، ددی دويم مضاف اليه او د اول مضاف اليه يو وی يعنی په شرط د عطف د دې دويم سره او په شرط د اضافت د دې دويم کې اول.

**تشريح**: حاصل د دې بيتينو دا دی چې يو اسم مضاف شوي وو غير ته اضافة دوجه نه تنوين يا قائم مقام د تنوين حذف شوی دی کله چې د هغی مضاف اليه حذف کولی شی او دا مضاف باقی پريښودی شي په زوړ حال خپل باندې پدی شان سره هغه تنوين يا قائم مقام د تنوين محذوفه نه شی معاد کولی اګر که دعقل تقاضا دا ده چې هغه محذوف دې معاد شی ځکه هغه علت د حذف زائله شوی دی چې اضافة د اسم اول وو دی ثانی ته د وجه د ذکر د مضاف اليه نه حکما په دی شرط سره چې عطف شوی وي پدی مضاف باندې يو اسم داسی اسم چې هغه مضاف شوی دی مثل د مضاف اليه د مضاف اول ته يعنی د معطوف مضاف اليه په شان د مضاف اليه دمعطوف عليه وی مثال لکه پدی قول دعربو کښ قطع الله يد ورجل من قالها ای قطع الله يد من قالها ورجل من قالها پس حذف کړی شو مضاف اليه ديد چې من قالها دی او ددی هغه تنوين هغه شان حذف دی دوجه د وجود د شرط نه چې هغه عطف د رجل دی په يد باندې سره د اضافة د رجل نه هغه مضاف اليه ته چې هغه مضاف اليه د مضاف اول دی او دا مضاف اليه د معطوف دلالت کوي په مضاف اليه د معطوف عليه باندې ګويا کې هغه مضاف اليه محذوف د معطوف عليه حکما مذکور دی ځکه ئې دا مضاف باقي پاتې کړه په خپل حالت باندې.

| | |
|---|---|
| ٤١٨- فصل مضاف شبه فعل ما نصب | مفعولًا أو ظرفًا أجز، ولم يعب |

**ترکيب: فصل** مفعول به مقدم د اجز لپاره. **فصل** مضاف. **مضاف** مضاف اليه من اضافة المصدر الى مفعوله. **شبه** صفة د مضاف. **ما** موصوله فاعل د مصدر. **نصب** جمله صله د موصول. **مفعولا** حال د ما نه. **اوظرفا** عطف على مفعولا. **ولم يعب** د دې تعلق وروستنی نظم سره دی.

**ترجمه**: او جائز کوه ته فصل د مضاف د مضاف اليه نه هسې مضاف چې مشابه وي د فعل سره

يعنى مصدر او اسم فاعل وي په هغه شئ سره چې عمل د نصب ئې كړي وي مضاف بنا بر مفعولية يا بنا بر ظرفية.

**تشريح:** زده کړه دا خبره چې د وجې د شدت اتصال نه په مابين د مضاف او مضاف اليه کې فاصل نه واقع کيږي غالبا لکن په طريقې د قلت سره کله کله واقع کيږي فصل په مابين د مضاف او مضاف اليه کې هم نثر کې او هم په نظم کې او پدې بيت کې ناظم اشاره وکړه وقوع د فصل ته په مابين د مضاف او مضاف اليه کې په نثر کې دا جائز دی پدې شرط سره چې مضاف شبه فعل وي او مراد د شبه فعل نه مصدر، او اسم فاعل دی او فصل مفعول به وي لپاره د مضاف مثال د فصل په مابين د مضاف او مضاف اليه کې په مفعول به د مصدر مضاف سره لکه پدې قول د الله تعالى کې په قراءة د ابن عامر سره: ﴿وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ لِكَثِيْرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ﴾ په نصب د اولادَهم او جر د شركائِهم سره. او مثال د فصل په مابين د مضاف او مضاف اليه کې مفعول به د اسم فاعل مضاف سره لکه پدې قول د الله تعالى کې په قراءة د بعض باندې: ﴿فَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ مُخْلِفَ وَعْدِهٖ رُسُلَهٗ﴾ او مثال د فصل په مابين د مضاف او مضاف اليه کې مفعول فيه د مصدر سره نحو ترك يوما نفسك و هواها، سعى لها في ردها او مثال د ظرف بشبه الظرف كما في قوله عَلَيْهِ السَّلَام: هل انتم تاركولي صاحبي.

| | |
|---|---|
| ٤١٩- فصل يمين، واضطرارًا وجدا | بأجنبي، أو بنعت، أو ندا |

**تركيب:** **فصل** نائب فاعل لم يعب لپاره **اضطرارا** مفعول له وجد لپاره **وجدا** ضمير مستتر هو راجع فصل ته نائب فاعل **باجنبي** دا متعلق دی وجد پورې **بنعت** معطوف على باجنبي. او **نداء** معطوف على نعت.

**ترجمه:** او نه دی عيب ګڼلی شوې فصل په مابين د مضاف او مضاف اليه کې په قسم سره نحو هذا غلام والله زيد. او د وجې د ضرورت شعري نه فصل په مابين د مضاف او مضاف اليه کې موندلی شوی دی په اجنبي سره يا نعت د مضاف سره يا نداء سره.

**تشريح:** يعنى ضرورت شعري د وجې نه فصل په مابين د مضاف او مضاف اليه کې جائز دی. ١: په اجنبي سره يعنى داسې اسم سره چې د هغې تعلق نه وي د مضاف او د مضاف اليه سره كما في قول الشاعر:

| | |
|---|---|
| كما خطّ الكتاب بكف يوما | يهودی يقارب او يزيل |

يقارب: جمله صفت د مفعول به او د يزيل مفعول به حذف شوي دي اى يقارب بعض خطه من بعض او يباعد بعض خطه عن بعض اوس دلته فصل راغلی دی په مابين د مضاف او مضاف

اليه کې چې دا کف او يهودي دی په اجنبي سره چې دا يوما دی ځکه دا معمول د مضاف نه دی بکله معمول د خط دی. ۲ : کله فصل راځي په مابين د مضاف او مضاف اليه کې په نعت د مضاف سره د وجې د ضرورت شعري نه لکه پدې شعر د معاويه رضي الله عنه کې:

نجوت و قد بل المرادی سيغه من ابن ابي شيخ الاباطح طالب

ترجمه: زه خلاص شوم د قتل نه په داسې حال کې چې لمده کړی وو مرادي چې هغه عبدالرحمن بن ملجم دی توره خپل په وينه د ابن د ابو طالب سره چې دې مشر د کاړجنې ځمکې دی چې هغه مکه معظمه ده. دا شعر حضرت معاويه رضي الله عنه پس د شهادت د حضرت علی کرم الله وجهه نه ويلی دی ځکه خوراج نه درې کسانو اتفاق کړی ؤ لپاره د قتل د علی رضي الله عنه، او معاويه رضي الله عنه او عمرو بن العاص رضي الله عنه نو علی رضي الله عنه شهيد کړه پدې دوه نورو باندې لاس بر نه شو او دلته فصل راغلی دی په ما بين د مضاف او مضاف اليه کې چې هغه ابي او طالب دی په صفت د مضاف سره چې هغه شيخ الاباطح دی د وجه د ضرورت شعري نه ځکه دا اصل کې من ابن ابي طالب شيخ الاباطح وو.

سوال: دا شيخ الاباطح نعت يواځې د مضاف خوندي بلکه دا نعت دی مجموعه د مضاف او مضاف اليه ځکه دا علم مرکب دی ددې دواړو نه نو ته څنګه وايې چې فصل راغلی دی په مابين د مضاف او مضاف اليه کې په صفت د مضاف سره ؟

جواب: ديته ئې نعت د مضاف ځکه ويلي دی چې دی تابع د مضاف وي په اعراب کې ځکه عامل عمل کوي په مضاف کې. ۳ : او کله فصل واقع کيږي په مابين د مضاف او مضاف اليه کې د وجې د ضرورت شعري نه په نداء سره لکه پدې قول د شاعر کې:

کان بر ذون اباعصام زيد حمار دق باللجام

برذون: خپل ترکي

ترجمه: ای ابو عصام ګويا کې برذون يعنی کچر د زيد په شان د حمار دی چې هغه ګرخيدلی دی دقيق په سبب د لجام سره اوس دلته فصل راغلی دی په مابين د مضاف او مضاف اليه کې چې برذون او زيد دی په نداء سره چې اباعصام دی د وجه د ضرورت شعري نه.

## المضاف الى ياء المتكلم

دا بحث د هغه اسم دی چې هغه مضاف کیږي یا د متکلم ته څکه اسم چې مضاف شي یا د متکلم ته د هغې لپاره څه خاص احکام دی هغه دې بیانوي پدې باب کې:

| | |
|---|---|
| ٤٢٠- آخر ما أضيف لليا اكسر، إذا | لم يك معتلًا: كرامٍ، وقذى |

**ترکیب:** **آخر**: مفعول به مقدم اکسر لپاره. **ما**: موصوله مضاف الیه. **اضیف**: جمله صله. **للیا**: دا متعلق دی اضیف پورې. **لم یک**: ضمیر مستتر اسم د لم یك. **معتلا**: خبر د لم یك. **کرام**: دا خبر د مبتداء محذوف دی. **وقذا**: عطف علی رام.

**ترجمه:** مکسور کوه ته آخر د هغه اسم لره چې هغه صحیح وي یا ملحق د صحیح وي چې اضافة کړی شوی وی یا د متکلم ته پدې شرط سره چې نه وو اسم مضاف معتل اللام نه معتل یا یې او نه معتل الفي مثال د دې لکه رام او قذا شو چې دا دواړه معتل اللام دی یو معتل یا یې دی او بل معتل الفي دی.

| | |
|---|---|
| ٤٢١- أو يك كابنين وزيدين: فذي | جميعها اليا بعد فتحها احتذي |

**ترکیب:** **اویک**: دا یك عطف دی په مخکې یك باندې. **کابنین وزیدین** دا په اعتبار د متعلق سره خبر د یك. **فذی**: مبتداء اول. **جمیعها**: تاکید د مبتداء اول مبني علی الضمة حال **الیا** مبتداء ثاني. **فتحها**: مبتداء ثالث. **احتذی**: ضمیر مستتر هو راجع فتح ته هغه نائب فاعل جمله خبر د مبتداء ثالث او بیا مجموعه خبر د مبتداء ثاني او بیا مجموعه جمله خبر د مبتداء اول.

**ترجمه:** او دارنگه نه وي دا اسم مضاف په شان د ابنین یعنی تثنیه نه وی د هر چا چې وي او نه وي په شان د زیدین باندې یعنی جمع مذکر سالم پس د دې ټولو حکم دا دی چې یا وروستو د دې دریواړو نه فتحه د دې یا تابعداري کړی شوي ده یعنې پدې صورتونو کې بنا دیاء د متکلم علی الفتحه واجب ده.

**تشریح:** حاصل ددې بیتین دا دی هر هغه اسم چې اضافة یې وکړی شي یا د متکلم ته نو آخر د دې مضاف به مکسور کولی شي وجوباً لپاره دَ مناسبه د یا لکن پدې شرط سره چې اسم مضاف نه وي. ۱: معتل واوي او معتل یایي او معتل الفي او دارنگه نه وي. ۲: تثنیه او جمع مذکر سالم دوی چې مضاف شي یا د متکلم ته د هغې حکم وروستو ابیات کې راځي پس ما سوا د دې اقسامو ثلاثه ؤ نه چې. ۱: معتل اللام. ۲: او تثنیه او. ۲: جمع مذکر سالم دی کله چې مضاف شي یا د متکلم ته حرف آخر د دې مضاف به مکسور کیږي وجوبا مطلقا برابره

خبرده دی چې هغه اسم ما سوا د دې اقسامو ثلاثونه مفرد صحیح وي او که جار مجری د صحیح وی، جمع تکسیر مذکر یا مؤنث وي، او که جمع مؤنث سالم وي نحو غلامي، ودلوی، وغلماني، ومسلماتي پدې ځای کې تا لره په یا د متکلم کې: ۳: احواله جائز دی. ۱: فتحه. ۲: سکون. ۳: او حذف د یا دا په منادی کې د وجې د اکتفاء نه په کسري باندې په ماقبل کې او که دا معتل اللام یا تثنیه یا جمع مذکر سالم چې مضاف شي یا د متکلم ته نو یا د متکلم به مفتوح وي وجوبا او که دا معتل اللام وؤ سکون پکې جائز نه دی لپاره د دې چې لازم نه شي التقاء ساکنین مثال لکه، رامي، بني، مسلمي شو.

| ٤٢٢- وتدعم اليا فيه والواو، وإن | ما قبل واو ضم فاكسره يهن |
|---|---|

**ترکیب: اليا**: نائب فاعل. **فيه**: متعلق دی تدغم پورې. **الواو**: عطف علی الیاء. **ما**: موصوله نائب فاعل لفعل محذوف يفسره ما بعده: **قبل**: په اعتبار د متعلق سره صله د موصول.
**فاكسره**: مفعول به. **يهن**: دا جواب د امر يعني دا جزا ده لپاره د شرط مقدر وروسته د امر نه
**ترجمه**: او مدغم کولی شي یا د آخر دمضاف په دغه یا د متکلم کې دارنګې مدغم کولی شي واو د آخر د مضاف په یا د متکلم پس د قلب د واو نه يې سره که چیرې مخکې د واو نه مضموم وؤ نو هغه لره کسره ورکوه لپاره مناسبه د یا که چیرې تا داکار وکړه تخفیف به حاصل شي.
**تشریح**: یعنی هر هغه اسم چې مضاف شي یا د متکلم ته او د هغه په آخر کې یا وي برابره خبره ده چې هغه لام کلمه وي یا علامه د تثنیه او جمع مذکر سالم وي په حالت نصبي جري کې پس مدغم کولی به شي دغه یا په یا د متکلم کې وجوبا د وجې دمجانسة نه نحو رامي ورايت رامي، ورايت مسلمي. او که په آخر د اسم مضاف کې واو وو او مخکې ترینه ضمه وه ته مضاف کړه یا ضمیر د متکلم ته نو واو به بدلیږي یا سره په قاعده د مرمي باندې او ضمه دماقبل بدلیږي په کسري سره لپاره د محافظة او مناسبة د یا نحو هؤلاء مسلمیّ او که مخکې د واو نه ضمه نه وه بلکه فتحه وه هغه په خپل حال باندې پریخودی شي نحو هولاء مصطفيّ.

| ٤٢٣- وألفًا سلم، وفي المقصور –عن | هذيل- انقلابها ياء حسن |
|---|---|

**ترکیب: والفا**: مفعول به مقدم سلم لپاره. **في المقصورالخ**: دا دواړه جار مجرور متعلق دی وروسته په حسن پورې. **انقلابها**: مبتداء. یا مفعول به د مصدر لپاره. **حسن**: خبر د مبتداء.
**ترجمه**: او روغ پریږده الف په اسم مقصور کې په وخت د اضافة د اسم مقصور کې یا د متکلم ته او د بني هذيل په نزد باندې اړول د الف د دغه اسم مقصور یا ته حسن دی.

**تشریح:** یعنی په آخر د هغه اسم کې چې اراده کړی شوي دی اضافة د ده یا د متکلم ته الف مقصوره وه نو روغ به پریخودی شي په حین د اضافة د هغه کې یا د متکلم ته د وجې د عدم موجب د قلب نه په یا سره لپاره د حصول د مجانسة په مابین د حرفین کې بیا ادغام د یا کوي یا کې د وجې د اجتماع د متجانسین نه نو وایې په عصیَ کې عصیٰ او په رحیٰ کې رحیَ لیکن پدې شرط سره چې دا الف به غیر وي د هغه الف د تثنیه حالت رفعي نه ځکه الف د تثنیه دحالت رفعي بالاتفاق نه شي بدلولی یا سره لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د تثنیه د حالت رفعي د حالت نصبي جري سره.

## اعمال المصدر

د اما سیاتي تر یوحده پورې بحث د عمل کولو د مصدر دی چې دا مصدر د اسماء عاملونه دی اوس دا ځنګه عمل کوي هغه دا ناظم صاحب پدې باب کې بیانوي:

| | |
|---|---|
| ٤٢٤- بفعله المصدر ألحق في العمل | مضافًا، أو مجردًا، أو مع أل |

**ترکیب:** **بفعله:** دا متعلق دی الحق پورې. **المصدر:** مفعول به مقدم. **في العمل:** دا متعلق دی الحق پورې. **مضافا:** حال از مصدر. **مجردا:** دا دواړه معطوف دی مضافا پورې.

**ترجمه:** پیوسته کړه ته مصدر لره په عمل کولو کې د فعل خپل سره په حال دکون د دې مصدر کې چې مضاف وي معمول ته یا مجرد وي د اضافة او د الف لامونه یا سره د الف لام نه وي.

**تشریح:** زده کړه دا خبره چې مصدر عمل کوي په شان د عمل د فعل خپل باندې که فعل مشتق د ده نه متعدي وو نو دا به عمل د فعل متعدي کوي چې هغه عمل د رفع دی په فاعل کې او عمل د نصب دی په مفعول به کې نحو اعجبني ضرب زید عمرا او که فعل مشتق د ده نه لازم وو نو دا به عمل د فعل لازم کوي چې هغه عمل د رفع دې په فاعل کې او عمل د نصب نه شي کولی په مفعول به کې نحو اعجبني قیام زید او دا مصدر عمل کوي په شان د عمل د فعل خپل په درې حالتونو کې. ۱: په حالت د اضافة کې نحو قوله تعالی: ﴿وَ لَوْ لَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ﴾ چې دلته دا دفع مصدر مضاف دی فاعل ته او عمل د نصب کړی دی په مفعول به کې بیا دا اضافة د مصدر ۲ قسمه دی. ۱: اضافة د مصدر دي فاعل ته. ۲: اضافة د مصدر دی مفعول به ته نحو قوله تعالی: ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا﴾ او اضافة د مصدر الی الفاعل اولی دی د اضافة د مصدر الی المفعول نه ځکه اضافة د مصدر په شان د اسناد د فعل دی او اسناد د فعل فاعل ته کیږي نو د دې اسناد هم فاعل ته اولی دی. ۲: دی

عمل کوي په حالت د تجريد کې د الف لام او د اضافة نه يعنى مصدر منون وي نحو قوله تعالى: ﴿أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ ۝ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ۝ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ﴾

٢: مصدر عمل کوي چې دا متلبس باللام وي نحو عجبت عن الضرب زيدا ليکن عمل د مصدر مضاف اکثر دی د عمل د مصدر منون نه اوعمل د مصدر منون اکثر دی د عمل د مصدر محلی باللام نه د دې د وجې نه ناظم مضاف مقدم کړی دی په مجرد او مجرد يې مقدم کړي دی په محلی باللام باندې.

| محله، ولا سم مصدر عمل | ٤٢٥- إن كان فعل مع "أن" أو "ما" يحل |
|---|---|

**ترکیب:** **فعل** اسم د کان، **مع** په اعتبار د متعلق سره صفة د فعل. **ان** مراد اللفظ مضاف اليه او **ما**: عطف دی په ان باندې. **محله** مفعول فيه جمله خبر د کان. **ولاسم** جا رمجرور خبر مقدم. **عمل** مبتداء مؤخر.

**ترجمه:** پدې شرط سره که چيرې فعل سره د ان مصدريه نه يا ما مصدريه نه واقع کيده په محل د دې مصدر باندې او ثابت دې لپاره د اسم مصدر عمل په کلام د عربو کې.

**تشریح:** يعنی دا مصدر عمل کوي په شان د عمل د فعل خپل پدې شرط سره که چيرې صحيح ؤ تاويل د ده نه په فعل سره، سره د ان او ما مصدري نه يعنی دا مصدر په معنى د ان مع الفعل يا ما مع الفعل سره وو د دې وجې نه دوی وايې مصدر په حين د عمل کې ان مع الفعل سره وي نحو عجبت ضرب زيد عمرا ای ان ضرب زيد عمرا... عجبت من قيامك ای مما تقوم. او که د دې مصدر نه تاويل په ان مع الفعل يا ما مع الفعل سره صحيح نه وو بيا دا عمل نه شي کولی نحو له صوت حمار دامعمول د فعل محذوف دی نه د صوت ځکه دا په معنى د ان مع الفعل سره نه دی بيا دا مصدر چې ځنګه عمل کوي د غسې اسم مصدر هم عمل کوي پدې شرط سره چې علم نه وي لپاره د مصدر بل مثال د عمل د اسم مصدر لکه پدې حديث کې من قبلة الرجل امرأته الوضوء قبلة اسم مصدر دی په معنى د تقبيل سره دی عمل کړی دی د نصب په امراته کې بنا بر مفعول به بل مثال لکه پدې قول د شاعر کې:

اکفرًا بعد رد الموت عني ✿ وبعد عطائك المائة الرتاعا

**ترجمه:** نه دي مناسب ما لره چې انکار وکړم ستاد احساناتو نه پس د منع کولو ستا لره مرګ زما نه او پس د راکولو ستا ما لره سل اوښان. اوس دا عطا اسم مصدر دی بمعنی الاعطاء عمل ئې کړی دی دَ نصب په المائة کې بنا بر مفعول به او که اسم مصدر علم وو د بل مصدر لپاره بيا عمل نه شي کولی نحو فجار بمعنى الفجرة او سبحان بمعنى التسبيح اسم مصدر ديته

وايي چې دلالت کوي په معنی مصدري باندې مشتق منه نه واقع کیږي.

| | |
|---|---|
| ٤٢٦- وبعد جره الذي أضيف له | كمل بنصب أو برفع عمله |

**ترکیب: وبعد** دا متعلق دی وروسته کمل پورې. **الذي** مفعول به جر لپاره. **اضيف** جمله صله. **له** دا متعلق دی اضيف پورې. **بنصب** دا متعلق دی کمل پورې. **برفع** دا عطف دی بنصب باندې. **عمله** مفعول به د کمل لپاره.

**ترجمه:** او ورسته د جر ورکولو د دې مصدر نه معمول خپل لره هغه معمول لره چې اضافة په کی شوي وي د مصدر هغې ته پوره کوه ته عمل د مصدر لره په نصب سره که د ده اضافة شوي وو فاعل ته یا په رفع سره که د ده اضافة شوي وو مفعول ته.

**تشریح:** حاصل د دې بیت دا دی چې مصدر کله مضاف کیږي فاعل ته نو عمل د جر کوي په فاعل کې بنا بر اضافة او پس د فاعل نه عمل د نصب کوي په مفعول کې که چیرې متعدي وو نحو عجبت من شرب زيد العسل او که لازم وؤ نو فقط عمل د جر به کوي په فاعل کې بنا بر اضافة او په مفعول کې عمل د نصب نه شي کولی ځکه دا مفعول به نه غواړي نحو عجبت من قيام زيد. او کله مصدر متعدي مضاف کیږي مفعول ته او پس د مفعول نه عمل د رفع کوي په فاعل نحو عجبت من شرب العسل زيد او کله مضاف وي مفعول ته او فاعل یې محذوف ي لکه پدې قول د الله تعالى کې: ﴿لَا يَسْـَٔمُ الْإِنْسَانُ مِنْ دُعَآءِ الْخَيْرِ﴾ اى من دعائه الخير پس فاعل چې دا ضمير دې حذف شوي دی او اضافة د مصدر شوی دی مفعول به ته چې هغه الخير دی او حذف د فاعل د مصدر جائز دی په خلاف د فاعل د فعل او مشتقاتونه چې د هغې حذف جائز نه دی ځکه دا نسبة الي الفاعل نه دی معتبر په مفعول د مصدر کې ځکه مفهوم د مصدر حدث خالص دی نو نه لازمیږي په حذف د فاعل د مصدر سره وجود د نسبة بي د طرفينو نه او په مفهوم د فعل او مشتقاتو کې دا نسبة الى الفاعل معتبر دی جزء نو په حذف د فاعل سره لازمیږي وجود د نسبة بي د طرفين نه دا باطل دی.

| | |
|---|---|
| ٤٢٧- وجر ما يتبع ما جر، ومن | راعى في الاتباع المحل فحسن |

**ترکیب: وجر:** ضمير مستتر انت فاعل. **ما:** موصوله مفعول به. **يتبع:** جمله صله. **ما:** موصوله مفعول به يتبع لپاره. **جر:** ضمير مستتر هو هغه نائب فاعل جمله صله د موصول. **من:** مبتداء **في:** دا متعلق دی راعى پورې. **المحل:** مفعول به راعى لپاره. **فحسن:** خبر د مبتداء محذوف اى فهو حسن جمله جزا لپاره د شرط بیا شرط سره د جزا نه مجموعه خبر لپاره د مبتداء.

**ترجمه:** او مجرور کولی شي هغه اسم. ۲ : جر ورکړه ته هغه اسم لره چې هغه تابع ګرځولی شي د

هغه اسم چې هغه مجرور کړی شوي دی په اضافة د مصدر سره او هغه چا چې لحاظ داری وکړه په تابعداری د اسم کې د محل د مضاف اليه د مصدر. ۱: نو ښه يې وکړل. ۲- هغه ډيره ښايسته خبره ده.

**تشريح:** حاصل د بيت دا دی که مضاف اليه د مصدر فاعل وو نو فاعل د مصدر به مجرور وي لفظا او مرفوع به وي محلا پس که تا يو اسم تابع وګرځوو د مضاف اليه د مصدر او مضاف اليه د مصدر فاعل وو نو تا لره په تابع کې. ۱: جر جائز دی د وجې د حمل نه په لفظ د مضاف اليه باندې. ۲ : دارنګه جائز دی تا لره رفع په تابع کې د وجې دحمل نه په محل د مضاف اليه باندې نحو عجبت من ضرب زيد ن الظريفُ عمرا او که مضاف اليه د مصدر مفعول وو نو په تابع د ده کې تا لره جائز دی. ۱: جر د وجې دحمل نه په لفظ د مضاف اليه باندې. ۲: او دارنګه جائز دی نصب د وجې د حمل نه په محل باندې نحو عجبت من شرب الماء البارد زيد.

## اعمال اسم الفاعل

دا بحث د عمل کولو د اسم فاعل دی دا هم عمل کوي په شان د عمل د فعل.

| | |
|---|---|
| ۴۲۸- كفعله اسم فاعل في العمل | إن كان عن مضيه بمعزل |

**ترکيب:** **كفعله** جار مجرور خبر مقدم. **اسم فاعل** : مبتداء مؤخر فلا يلزم اضمار قبل الذكر لفظا ورتبتا. **في العمل**: دا متعلق دی هغه شي پورې چې په هغې پورې كفعله متعلق وو. **كان** ضمير مستتر اسم د کان. **عن** دا متعلق دی په معزل پورې. **بمعزل** دا په اعتبار د متعلق سره خبر د کان.

**ترجمه:** اسم فاعل په عمل کې دا ثابت دی په شان د فعل خپل او فعل دَ اسم فاعل هغه دی چې دی ترينه مشتق شوی دی په دی شرط سره که چيری وو دا اسم فاعل ډېره کوونکی او اړخ کوونکی د ماضی والی خپل نه.

| | |
|---|---|
| ۴۲۹- وولي استفهامًا، أو حرف ندا | أو نفيًا، أو جا صفة، أو مسندا |

**ترکيب:** **ولي**: عطف على كان ضمير مستتر هو راجع اسم فاعل ته هغه فاعل. **استفهاما**: مفعول به. **اوحرف**: عطف على استفهاما. **نداء**: مقصور للضرورة. **او نفيا**: دا هم عطف دی استفهاما باندې.
**جاء**: مقصور للضرورة عطف على ولی. **او**: حال من فاعل جاء. **مسندا** عطف على صفة.

**ترجمه:** دارنګه دا واقع شوی وي وروستو د حرف استفهام يا د حرف نداء يا دحرف نفی نه يا به راغلی وی صفت لپاره دغير او يا به مسند وی غير ته.

**تشريح:** حاصل ددی بيتين دا دی چې اسم فاعل عمل کوی په شان د عمل د فعل خپل لکن دا

اسم فاعل به خالي نوي يا به متلبس باللام وي يا به مجر د عن اللام وی که دا متلبس باللام وو نو دی عمل کوی بلا قید و شرط او که مجرد عن اللام وو بیا عمل دده مشروط دی په شرطینو سره. ۱ : شرط دا دی چې دا به په معنی د حال او استقبال سره وی. ۲ : شرط دا دی چې دا به متعمد وی په یو د اشیاء ستّهٔ و باندې هر چې دی اشتمال په معنی د حال یا استقبال باندې ځکه چې دی عمل کوی دوجه د مشابهة لفظی د فعل مضارع نه نو لابدی شوه پکښې د اشتمال د ده نه په معنی د حال یا داستقبال باندې لپاره داتمام د مشابهة دده د فعل مضارع سره لفظا او معنی جمیعا او که په معنی ده ماضی سره وو بیا دا اسم فاعل عمل نه کوی د جمهورو په نزد باندې بلکه بیا واجب دی اضافة ده اسم فاعل ما بعد ته په اضافة معنوی سره او حال عام دی حقیقة وی او که حکایة وی. پس اعتراض وارد نه شو ﴿ وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ ﴾ سره او هر چې دی اعتماد په یو د اشیاء ستهٔ و باندې ځکه چې اسم فاعل ضعیف العمل دی عمل نه شي کولی بغیر د اعتماد نه، هغه اشیاء سته دا دي.. ۱: حرف نفی. ۲ :حرف استفهام. ۳ : حرف نداء. ٤ :موصوف. ٥: ذو الحال دی دوو ته اشاره کړې ده او جاء صفة سره ځکه حال معنی صفت دی. ٦ :مسند الیه برابر ه خبره ده چې مسند الیه مبتداء وی نحو زید ضارب عمرا او که مفعول اول د افعال قلوب وی نحو علمت زیدا ضاربا عمرا او که دا اسم فاعل متلبس باللام وو بلا قید و شرط عمل ځکه کوی چې دا حقیقة کې فعل دی لکن عدول کړې دی د صیغې د فعل نه صیغه د اسم فاعل ته دوجه د کراهة د دخول د الف لام نه په ده باندې.

| فیستحق العمل الذي وصف | ٤٣٠- وقد یکون نعت محذوف عرف |
|---|---|

**ترکیب وقد**: ضمیر مستتر هو راجع دی اسم فاعل ته هغه اسم د یکون. **نعت**: خبر د یکون **عرف**: جمله صفة د محذوف. **فیستحق**: فا عاطفه دا عطف دی په یکون باندې. **العمل**: مفعول به. **الذی**: جمله صله موصول سره دصلی نه مجموعه صفة د العمل.

**ترجمه**: او کله کله کیږي دا اسم فاعل صفة د موصوف محذوف هسې موصوف محذوف چې پیژندلی شوي وی پس مستحق دی دا اسم فاعل د هغه عمل چې هغه بیان شوی دی په وخت د ذکر د موصوف کې.

**تشریح**: یعنی کله اسم فاعل د هغه اعتماد کوی په موصوف محذوف باندې بیا عمل کوی په شان د عمل د فعل خپل لکه څرنګه چې عمل کول په شان د عمل د فعل خپل په وخت د اعتماد د دې کې په موصوف مذکور باندې کما فی قوله تعالی: ﴿وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَابِّ وَالْأَنْعَامِ

﴿مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ﴾ای صنف مختلف الوانه.

| ٤٣١- وإن يكن صلة أل ففي المضي | وغيره إعماله قد ارتضي |
|---|---|

**تركيب: وان**: ضمير مستتر هو راجع اسم فاعل ته اسم ديكن **صلة ال** خبر ديكن. **المضى**: دا متعلق دى وروستو ارتضى پورى. **اعماله**: مبتداء. **قد ارتضى**: ضمير مستتر هو راجع اعمال ته هغه نائب فاعل جمله خبر لپاره د مبتداء.

**ترجمه**: اوكه چيرى وو اسم فاعل صله دالف لام موصولى پس په تحقيق سره غوره كړى شوى دى عمل كول د اسم فاعل په ماضى والى كې او غير ماضى والى كې چې هغه حال او استقبال دى.

**تشريح**: هر كله چې فارغ شو مصنف ناظم د عمل د اسم فاعل مجرد ونه نو شروع او كړه په عمل د اسم فاعل معرف باللام كې په دې شان سره چې اسم فاعل واقع شى صله ده الف لام موصولى بيا دا عمل كوى مطلقا برابره خبره دى چې په معنى د ماضى سره وى او كه حال سره وى او كه استقبال سره وى ځكه دا په حقيقة كې فعل دى لكن تعبير كړى دى اسم فاعل سره مختصراً لپاره رعاية د الف لام چې دا الف لام په فعل باندې داخل نه شى.

| ٤٣٢- فعال أو مفعال أو فعول | -في كثرة- عن فاعل بديل |
|---|---|

**تركيب: فعال**: مبتداء ځكه دا علم دى وزن خاص لپاره. **بديل**: فى كثرة او عن فاعل متعلق دى بدليل پورې او بدليل خبر دى.

**ترجمه**: فعال او مفعال او فعول هر واحد ددوينه بدل واقع كيږى او متضمن دى معنى د كثرت له يعنى دا مستعمليږى په مبالغه كې او د وزن فاعل نه د ابدل دى.

| ٤٣٣- فيستحق ما له من عمل | وفي فعيل قل ذا وفعل |
|---|---|

**تركيب: فيستحق**: **الفاء** للتفريع ضمير مستتر هو راجع د ى مذكور ته **ما** اسم موصول مفعول به له په اعتبار دمتعلق سره صله **من عمل** بيا ن دما. **فى**: دا متعلق دى وروسته قل پورې. **ذا**: فاعل د قل معطوف على فعيل.

**ترجمه**: پس مستحق كيږى هر واحد د صيغى د مبالغى نه دهغه شى چې هغه ثابت وو لپاره د اسم فاعل د عمل نه او په وزن د فعيل او فعل باندې قليل دى عمل د اسم فاعل.

**تشريح**: كله جوړولى شى اسم فاعل د مبالغى لپاره په وزن د فعال او مفعال او فعول اوفعيل او فعل مثال لكه علام او مجزام او ضروب اوعليم او حذر شو دا عمل كوى په شان د عمل د اسم فاعل لغير المبالغه په شروط مذكورو باندې مشابهة لفظى د فعل مضارع سره اگر كه فوت شوى دى لكن د ا مبالغه او زيادةَ معنى مصدرى قائم شوى دى په مقام د مافات باندې چې

هغه قوت د مشابهة لفظی دی او زياتی په معنی مصدری کې. ۲: قسم دی. ۱: زياتی په معنی مصدری کې په نسبة سره ذات خپل ته دی او بالذات دی دا مانع د عمل ندی. ۲: او په اسم تفيضل کې زيادة د معنی مصدری په نسبة سره غير ته دی او اضافی دی او دا مانع د عمل دی ځکه دا عمل نه شی کولی په شان د عمل د فعل خپل لکن دومره فرق دی چې عمل د صيغه د مبالغه علی وزن فعال و مفعال وفعول کثير دی دعمل د صيغه د مبالغه علی وزن فعيل وفعل نه.

| | |
|---|---|
| ٤٣٤- وما سوى المفرد مثله جعل | في الحكم والشروط حيثما عمل |

**ترکيبه وما:** موصوله مبتداء، **سوی** ظرف په اعتبار د متعلق محذوف سره صله د موصول. **مثله** مفعول ثاني مقدم د جعل او ضمير مستتر مفعول اول نائب فاعل **فی الحکم** متعلق دی جعل پورې جمله خبر. **الشروط:** عطف علی الحکم. **حيثما:** دا متعلق دی جعل پورې مضاف اليه دحيث.

**ترجمه:** او هغه صيغه د اسم فاعل چې هغه غير دی او سوا دی دصيغی د اسم فاعل مفرد نه لکه تثنيه او جمع شوه گرځولی شوي دي په مثل د مفرد باندې په حکم او په شرطونو دعمل کې په کم ځای کې چې عمل ورکړی شی يا په کوم ځای کې چې دا عمل کوي.

**تشريح:** يعنی تثنيه او جمع د اسم فاعل په شان د صيغه د اسم فاعل مفرد دی په عمل کولو کې سره دشرائط مذکورو نه مفرد چې څنګه عمل کوی دغسې عمل کوی تثنيه او جمع د اسم فاعل نحو هذان قائمان هذان ضاربان زيدا هؤلاء ضاربون زيدا.

| | |
|---|---|
| ٤٣٥- وانصب بذي الإعمال تلوا، واخفض | وهو لنصب ما سواه مقتضي |

**ترکيب: بذی:** دا متعلق دی انصب پورې. **تلوا:** مفعول به انصب لپاره. **وهو:** مبتداء. **لنصب:** دا متعلق دی مقتضی پورې. **ماسواه:** ما موصوله مضاف اليه **سواه** مضاف مضاف اليه په اعتبار د متعلق سره صله د موصول. **مقتضی:** دا خبر دی لپاره مبتداء محذوف.

**ترجمه:** او نصب ورکړه په هغه اسم فاعل سره چې هغه خاوند د عمل کولو دی هغه معمول لره چې هغه وروسته دی يا جر ورکړه په دی سره هغه ما بعد لره بنا بر اضافة وهو او دا اسم فاعل مضاف مفعول ته تقاضا کونکی دی لپاره نصب د هغه مفاعيل چې هغه سوا دی د مفعول اول نه.

**تشريح:** زده کړه دا خبره چې جائز دی اسم فاعل ذی العمل لره عمل د نصب په مفعول به کې که دی نوو مضاف شوی مفعول به ته دارنګی جائز دی جر په مفعول به کې بنا بر اضافة چې دا اسم فاعل مضاف شو ي وو مفعول به ته ځکه مضاف اليه نوی مګر مجرور وی نحو زيد ضارب عمرا او زيد ضارب عمرو اوس که چيری دا اسم فاعل متعدی وو دوه مفعولينو ته يا

دریو ته دا مضاف شي يو مفعول ته نو باقی مفاعیل به منصوب وی وجوبا نحو زید معطی عمرو درهما زید معلم عمرو بکرا فاضلا او په ذی عمل سره ئي احتراز وکړه د هغه اسم فاعل نه چې هغه ذی عمل ندی پدی شان سره چې دا اسم فاعل په معنی د حال او استقبال سره ندی بلکه په معنی د ماضی سره دی ځکه په هغی سره جائز ندی نصب د ما بعد بلکه په هغی کې متعین د ی جر د مابعد دوجه د اضافة معنوي نه نحو زید ضارب عمرو امس او تلو سره احتراز وکړه د هغه مفعول به نه چې یلی نه وي اسم فاعل سره بلکه فاعل وی په مابین د اسم فاعل او مفعول دده کې ځکه چې په هغی کې متعین دی نصب کما فی قوله تعالی: ﴿إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً﴾ او کله کله سره د فاعل نه هم مجرور کیګی کما فی قوله تعالی: ﴿فَلَا تَحْسَبَنَّ اللهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِ رُسُلَهُ﴾ علی قراءة البعض لیکن دا قلیل دی دې لره اعتبار نشته دی.

| | |
|---|---|
| ٤٣٦- واجرر أو انصب تابع الذي انخفض | ك"مبتغي جاه ومالًا من نهض" |

**ترکیب: واجرر:** تابع الذي کې تنازع راغلی ده د دې فعلینو. **انخفض:** جمله صله د موصول. **کمبتغی:** دا خبر د مبتداء محذوف دی مضاف مضاف الیه خبر مقدم. **وما:** معطوف علی جاه. **من:** موصول جمله صله موصول سره د صلی نه مبتداءمؤخر. **نهض:** حرکت کوی.

**ترجمه:** جر ورکوه ته یا نصب ورکوه تابع د مفعول د هغې لره چې مجرور شوی دی د وجه د اضافة د اسم فاعل نه ده ته مثال لکه مبتغي جاه ومال من نهض شو.

**ترجمه:** یعنی طلب کوونکی د مرتبې اود مال هغه سړی دی چې هغه پورته کیږی او راپورته کیږی کله وائی منډيي ته غوا بیا یم او کله یو څه وائی او کله بل څه وائی.

**تشریح:** یعنی د اسم فاعل اضافة وشی مفعول به ته بیا جائز دی تا لره په تابع د مضاف الیه د اسم فاعل کې. ۱ : جر لپاره رعاية د لفظ د مضاف الیه. ۲ : دارنګی جائز دی نصب لپاره رعاية د محل دمضاف الیه ځکه دغه مضاف الیه داسم فاعل لفظا مجرور او منصوب محلا دی اوس ته دا تابع محموله ئی په لفظ د مضاف الیه باندې مجرو ر اوایه او که دا محموله ئی په محل دمضاف الیه باندې منصوب ووایه مثال لکه مبتغی جاه وما لا من نهض شو دا مال عطف دی په جاه مضاف الیه د مبتغی اسم فاعل لپاره اوس په دې مال کې تا لره جواز د وجهینو دی. ۱: مال مجرور هم جائز دی بنا پدی چې دا عطف دی په لفظ د جاه باندې. ۲: مالا منصوب هم جائز دی بنا په دې چې دا عطف دی په محل د جاه باندې بل مثال لکه هذا مدرس النحو او البیانِ او البیانَ انت معین العاجز المسکینِ او المسکینَ لکن دا جواز د وجهینو په هغه ځای کې دی چې اسم فاعل صالح لپاره عمل دَ نصب وی یعنی په معنی د حال یا استقبال

سره وی او که دا اسم فاعل صالح لپاره عمل د نصب نه وي بیا نصب د تابع به متعین وی په فعل مقدر سره لکه زید ضارب عمرو وبکراً دارنګې جائز دی تقدیم د مفعول به په اسم فاعل باندې په دې شرط سره. ۱: چې دا اسم فاعل مقترن نه وو په الف لام سره. ۲: او مجرور نه وو په اضافة سره یا په حرف جر اصلی سره مثال د جامع المکرم سعیدا یا مجرور وو په اضافة سره نحو هذا ولد مکرم زیدا یا په حر ف جر اصلی سره نحو احسنت الی مکرم زیدا بیا تقدیم د مفعو ل ممتنع دی په اسم فاعل باندې او که دا اسم فاعل مجرور وو په حر ف جر زائده سره بیا تقدیم د مفعول به په اسم فاعل باندې جائز دی نحو یس سعید بسابق خالدا اوس په دې کې جائز دی لیس سعید خالدا بسابق ځکه حر ف جر زائده په حکم د ساقط کې دی.

## اعمال اسم المفعول

دا بحث د عمل کولو د اسم مفعول دی.

| | |
|---|---|
| ۴۳۷- وکل ما قرر لاسم فاعل | یُعطى اسم مفعول بلا تفاضل |

**ترکیب:** **وکل:** مبتداء مضاف. **ما:** موصوله. **قرر:** ضمیر مستتر نائب فاعل جمله صله. **لاسم:** دا متعلق دی قرر پورې. **یعطی:** ضمیر مستتر نائب فاعل هغه مفعول اول. **اسم:** مفعول ثانی. **بلا** دا جار مجرور متعلق دی په یعطی پورې جمله خبر واقع شوی دی لپاره د مبتداء چې هغه وکل الخ دی. **تفاضل:** بی د زیادة نه.

**ترجمه:** هر هغه حکم او عمل چې هغه ثابت کړی شوی دی لپاره د اسم فاعل هغه به ورکولی شي اسم مفعول ته بې د زیاتي او کمی نه لکن هغه عمل د رفع کوی په فاعل کې بنا بر فاعلیة او دی عمل د رفع کوی په مفعول به بنا بر نائب فاعلیة.

**تشریح:** حاصل د بیت دا دی کم احکام چې ذکر شو لپاره د اسم فاعل نو هغه بعینه احکام د اسم مفعول دی په دې شان سره چې اسم فاعل مجرد وو دالف لام نه هغه عمل کوی په شان د عمل د فعل په دې شر ط سره چې. ۱: دا په معنی د حال یا استقبال سره وي. ۲: او معتمد وي په یو د اشیاء سته ۆ باندې دارنګی اسم مفعول هم عمل کوي په شان د عمل د فعل خپل په دې شرط سره چې دا په معنی د حال یا استقبال سره وي او معتمد وي په یو د اشیاء سته ۆ باندې او اسم فاعل متلبس باللام عمل کول بلا قید و شرط، دارنګی اسم مفعول متلبس باللام هم عمل کوی بلا قید و شرط.

| ٤٣٨- فهو كفعل صيغ للمفعول في | معناه كـ"المعطى كفافًا يكتفي" |
| --- | --- |

**ترکیب: فهو** مبتداء **کفعل** په اعتبار د متعلق سره خبر **صیغ** جمله صفة د فعل. **للمفعول** دا متعلق دی صیغ پورې **في** دا جار مجرور په اعتبار د متعلق سره خبر دی. **کـا** خبر د مبتداء محذوف. **المعطی** ضمیر مستتر راجع الغلام موصولي ته نائب فاعل مفعول اول. **کفافا** مفعول ثاني مجموعه صله لپاره د موصول موصول سره د صلې نه مبتد ا **یکتفي** جمله خبر لپاره مبتداء.

**ترجمه:** پس دا اسم مفعول په شان د فعل دی هسې فعل چې هغه جوړ کړی شوي دی لپاره د اسناد مفعول ته په معنی د هغه کې او که ته وایې چې ما ته مثال وښایه چې اسم مفعول وي او هغه مسند شوي وي مفعول ته دې وایې مثال د هغه المعطي کفافا شو.

**ترجمه:** زید هغه سړی دی چې ورکولی شي هغه ته پوره والی نو هغه اکتفاء کوي.

**تشریح:** یعنی حکم د اسم مفعول په شان د فعل مبني للمعفول خپل دی په عمل او په معنی کې مثلا مضروب شو دا په شان د یضرب دی په معنی کې پدې شان سره د یضرب فاعل حذف شوي دی او مفعول قائم شوي دی په ځای د فاعل باندې دارنګه د مضروب فاعل هم حذف شوي دی دا مفعول قائم شوي دی په ځای د فاعل باندې.

| ٤٣٩- وقد يضاف ذا إلى اسم مرتفع | معنى، كـ"محمودُ المقاصدِ الورع" |
| --- | --- |

**ترکیب: ذا:** اسم اشاره نائب فاعل. **الی:** دا جار مجرور متعلق دی یضاف پورې. **مرتفع:** صفة د اسم. **معنی:** منصوب بنزع الخافض یا تمیز دا خبر د مبتداء محذوف ای و ذلك مثل الخ.

**کمحمود المقاصد:** خبر مقدم **الورع:** مبتداء مؤخره.

**ترجمه:** او کله کله مضاف کولی شي دا اسم مفعول هغه اسم ته چې هغه رفع موندونکې دی د دې اسم مفعول نه په اعتبار د معنی سره او په لفظ کې مجرور وي بنا بر اضافة مثال لکه محمود المقاصد الورع شو.

**تشریح:** حاصل د بیت دا دی چې اضافة د اسم مفعول نائب فاعل ته جائز دی لکه الورع محمود المقاصد شو چې محمود صیغه د اسم مفعول دی مضاف شوي دی نائب فاعل ته چې المقاصد دی ځکه دا اصل کې الورع محمود مقاصده وو کله چې دا محمود مضاف شو دی مقاصده نائب فاعل ته هغه ضمیر د مقاصده نه ساقط شو او مستتر شوی دی په محمود کې په خلاف د اسم فاعل نه چې دا اسم فاعل به خالي نه وي. ۱: یا به لازم وي. ۲: یا به متعدي وي یو مفعول ته. ۳: یا به متعدي وي دوو ته که دا اسم فاعل لازم وو بیا اضافة د دې فاعل ته جائز دی بالاتفاق نحو قائم الاب او که دا متعدي وو مفعولینو ته بیا اضافة د دې فاعل ته ممتنع

دی بالاتفاق او که دا متعدي وو مفعول واحد ته په دې کې درې مذاهب دي. ۱: جمهور وايي ممتنع دی اضافة الی الفاعل. ۲: بعض وايي جائز دی اضافة الی الفاعل په دې شرط سره چې التباس نه راتلو د فاعل او مفعول سره. ۳: ابن عصفور وايي اضافة الی الفاعل جائز دی پدې شرط سره چې مفعول د دې حذف شوي وي.

## ابنية المصادر

دا بحث د اوزان د مصادر دی اګر که هغه مصادر ثلاثي مجرد وي او که د مزيد وي لکن دا اوزان د مصادر ثلاثي مجرد سماعي دی په تتبع د سيبويه سره ۳۲ ته رسيدلي دی هغه دی ذکر کوي لکن دې چې قياس وايي دا په اعتبار د غلبې سره.

| | |
|---|---|
| ٤٤٠- فعل قياس مصدر المعدى | من ذي ثلاثة، ك"رَد رُدا" |

**ترکيب: فعل**: مبتداء لان هذا الوزن من قبيل الاعلام. **قياس**: خبر يا بالعکس دی چې فعل خبر مقدم او دا مبتداء مؤخر دی يا دا صفت دی لپاره د موصوف محذوف ای الفعل المعدى. **من ذی ثلاثة**: دا په اعتبار د متعلق سره حال دی د المعدى نه. **کرد**: خبر لپاره د مبتداء محذوف. **رد**: ضمير مستتر هو هغه فاعل. **اوردا**: مفعول مطلق.

**ترجمه**: فعل وزن په فتحې د فا او په سکون د عين سره غالب او کثير مصدر د فعل متعدي دی په حال کون د فعل متعدي کې چې دا کائن دی د هغه باب نه چې هغه د درې حروفو والا دی يعنی فعل متعدي د ثلاثي مجردو نه مثال لکه ردا شو چې دا مصدر د رد دی.

**تشريح**: يعنی فعل، ثلاثي مجرد وي او متعدي وي مصدر د هغې غالبا راځي فعل وزن باندې برابره خبره دی چې صحيح وي لکه نصر نصرا شو او که معتل وي لکه قال قولا شو او که مضاعف وي لکه رد ردا شو او مراد په قياس سره پدې ځای کې کثرت او غلبه دی نه په معنی حقيقي سره ځکه مصادر د ثلاثي مجرد سماعي دی نه قياسي ځکه علم فعل متعدي ثلاثي مجرد دی او مصدر يې علم راځي بروزن فعل نه په وزن د فعل باندې او که دا قياسي وي فِعل وزن باندې به نه وو راغلی.

| | |
|---|---|
| ٤٤١- وفعل اللازم بابه فعل | کفرح، وکجوًى، وکشلل |

**ترکيب: وفعل**: موصوف ځکه دا معرفه بالعلم دی. **با**: صفة مبتداء اول. **به**: مبتداء ثاني.
**فعل**: خبر د مبتداء محذوف ای مثاله. **وکجوى**: معطوفان علی کفرح.

**ترجمه**: ماضي چې مکسور العين وي او لازم وی نو مصدر به غالبا فعل په وزن باندې راځي

مثال د دي لکه فرح او جوی شلل شو.

**تشريح:** هلته قياس په معنی د غالب سره وو او دلته بابه په معنی د غالب سره دي نو ماضي د ثلاثي مجردونه مکسور العين لازم وی او لون لپاره نه وي لان الغالب في اللون فعلة کشهلة و سمرة بيا عام دی چې صحيح وي او که معتل وي او که مضاعف وي په غالب استعمال د کلام د عربو کې مصدر د دې راځي فعل په وزن باندې مثال د اول لکه فرح شو چې مصدر د فرح يفرح دی او دا صحيح دی او لازم دی او مثال د ثاني لکه جوی شو چې اصل کې جوی وو بروزن فعل واو بدل شو په دې الف سره او الف حذف شوی دی د وجه د التقاء ساکنينو نه دا مصدر صيغه دی د جوي يجوی نه په معنی د سوزش د وجې د عشق يا د وجې د غم نه او دا معتل اللام و العين دی او لازم دی او مثال د ثالث لکه شلل شو دا مصدر دی د شل يشل نه او دا مضاعف ثلاثي مجرد دی او لازم دی مصدر د دې راځي شلا اصل کې شلل وو بر وزن فعل ادغام په ديکې واجب دی لکه دلته ادغام نه دی شوي د وجې د ضرورت شعري نه.

| ٤٤٢- وفَعَلَ اللازم مثل قعدا | له فُعُول باطراد، کغدا |
|---|---|

**ترکيب:** وفعل: موصوف صفة مبتداء. مثل ۱: حال من ضمير اللازم. ۲: يا مفعول به دی فعل محذوف لپاره ای اعني. **له:** خبر مقدم. **فعول:** مبتداء مؤخر جمله خبر د مبتداء. **باطراد** ۱: حال من فعول بناء على اتيان الحال من المبتداء. ۲: او حال من ضمير المستکن في الخبر. **کغدا:** خبر د مبتداء محذوف ای و ذلك کائن کغدا.

**ترجمه:** فعل هسې چې لازم دی مثال په طور لکه قعد شو دی لپاره به راځي مصدر په وزن د فعول باندې په طريقې د غلبې سره لکه مصدر د غدا غدوا راځي.

**تشريح:** يعنی ماضي د ثلاثي مجردونه مفتوح العين لازم وي مصدر د هغې راځي فعول په وزن باندې غالباً په استعمال د کلام د عرب، کې عام دی چې هغه صحيح وي او که معتل وي دلته اطراد په معنی د غلبه سره دی لکه مخکې قياس او باب په معنی د غلبه سره وو مثال لکه قعد قعودا، او جلس، جلوسا او خرج خروجا، او دخل دخولا، او بکر بکورا، او نما نموا او سما سموا او غدا غدوا شو چې اصل کې نموو، او سموو، او غدوو وو بروزن فعول.

| ٤٤٣- ما لم يکن مستوجبا: فِعالا | أو فَعَلانا -فادر- أو فُعَالا |
|---|---|

**ترکيب: ما:** ظرفيه مصدريه يعني ما بمعنی ما دام. **يکن:** ضمير مستتر راجع الی فعل اللازم اسم د يکن. **مستوجبا:** خبر د يکن. **فعالا:** ضمير مستتر فاعل مفعول به د مستوجبا. **فعلانا:** معطوف فعالا باندې. **فادر:** جمله معترضه بين المعطوف و المعطوف عليه. **اوفعالا:** معطوف على فعلانا.

**ترجمه**: په وخت د عدم کون د دې فعل لازم کې چې دې نه يې واجب کونکی ځان سره مصدر په وزن د فعال او فعلان او فعال باندې ته ځان پوهه که په دې مسئله باندې اوس د دې منفي بيان کوي په دې وروستني شعر کې چې هغه کم يو فعل لازم دی د ثلاثي مجرودونه چې لازمورنکی دی مصدر فعال يا فعلان يا فعال په وزن باندې.

| | |
|---|---|
| ٤٤٤- فأول لذي امتناع كأبي، | والثان للذي اقتضى تقلبا |

**ترکيب**: **فاول**: صفة د مبتداء محذوف ای ففعال اول يا ففعل اول. **لذی**: ای لفعل صاحب امتناع خبر. **کابی**: خبر د مبتداء محذوف. **والثانی**: مبتداء بحذف الياء اکتفاء بالکسرة للضرورة. **للذی**: خبر. **تقلبا**: مفعول به دا قتضی جمله صله لپاره د موصول.

**ترجمه**: پس فعل اول د ثلاثي مجردونه مفتوح العين لازم چې هغه لازم کونکې دی په خپل ځان کې مصدر په وزن فال ثابت دی لپاره د هغه فعل چې هغه خاوند امتناع دی يعنې دا په هغه ماده کې راځي چې ترجمه د هغې منع دی مثال لکه ابی شو په معنی د انکار سره مصدر د دې اباء راځي بروزن فِعال دارنګې مثال د دې لکه نفر نفا راشو په معنا دی کوچ کولوسره او شرد شرادا شو په معنی در ميدن سره او ابق اِباقا شو په معنی د تختيدلو سره د خپل مولی نه او جمح جماحا شو او ثاني چې فعل لازم دی د ثلاثي مجردون او مفتوح العين دی او ځان سره لازم کوونکی دی مصدر بروزن فعلان **للذی**: دا راځي لپاره د هغه ماده چې هغه تقضی کوي او غواړي په ترجمه کې اوړيدل او ارلوټ سر لوټ کيدل مثال لکه طاف طوفانا او جال جولانا او غلی غلَيانا او لمع لمعانا شو.

| | |
|---|---|
| ٤٤٥- للدا فُعَال أو لصوت، وشمل | سيرا وصوتًا الفَعِيل كصهل |

**ترکيب**: **للدا**: خبر مقدم مقصور للضرورة. **فعال**: مبتداء مؤخر. **لصوت**: عطف علی الداء. **سيرا**: مفعول به مقدم. **الفعيل**: فاعل د شمل. **کصهل**: خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**: مصدر بروزن فعال ثابت دی او راځي په هغه ماده کې چې ترجمه يې بيماری او مرض يې او يا ترجمه يې صوت او آواز وي او ورغلی دی سير او صوت لره مصدر بروزن فعيل مثال لکه صهل شو مصدر د دې صهيل راغلی وي.

**تشريح**: فعل لازم مفتوح العين د دثلاثي مجردونه چې ځان سره لازم کونکی دی مصدر بروزن فعال دا راځي د هغه ما دی د ثلاثي مجردونه چې هغه دلالت کوي په مرض باندې مثال لکه زکم زکاما او سعل او سعالااو زحر زحارا شو په معنی د تنفس بشدة سره بل مثال لکه دار رأسه دوارا شو. مصدر بر وزن فعال راځي د هغه مادی د ثلاثي مجردونه چې هغه د لالت کوي په صوت

باندې مثال كله بغمت الظبية بغاما اى صاحت الى ولدها وضبحت الخيل ضباحا في العيد ضج او ضباح صوت د ساه ته وايې په وخت د منډه کولو کې دارنګې ددې مادې نه مصدر راځي فعيل په وزن باندې مثال لکه صهيل صهيلا شو آواز د اس ته وايې و صخد الصرد صخيدا آواز د مرغه ته وايې صرد هغه مارغه ته وايې چې ابيض البطن او اخظر الظهر ضخم الراس و المنقار و له مخلب يصطاد به العصافير او ويلي کيږي چې په پرنده ګانو کې دا اول مارغه دی چې د خدای لپاره دی روژه نيولی ده اوجمع صردان راځي كذا في القاموس او مصدر بروزن فعيل د هغه مادی نه هم راځي چې هغه دلالت کوي په سير باندې مثال لکه رحل رحيلا وزمل البعير زميلا شو اوښ رو رو ذر در تلل ته زميل وايې او مستثنی دی دې قاعده مذکورې نه هغه ماده چې هغه دلالت کوي په حرفة او په ولاية باندې ځکه غالبا مصدر د هغې فعالة په وزن باندې راځي مثال لکه تجر تجارة، زرع زراعة، خاط خياطة، حاك حياكة، او امر امارة شو.

| | |
|---|---|
| ٤٤٦- فُعُولة فَعَالة لفَعُلا | كسهل الأمر، وزيد جزلا |

**تركيب: فعول**: مبتداء. **فعالة**: معطوف بحذف العاطف. **لفعلا**: خبر. **كسهل**: خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**: مصدر په وزن د فعولة او فعالة باندې دا راځي لپاره د هغه فعل ماضي ثلاثي مجرد چې هغه مضموم العين وي او كه ته وايې ما ته مثال وښايه چې ماضي مضموم العين وي او مصدر راغلی وي په وزن د فعولة او فعالة باندې ماتن وايې مثال لکه سهل الامر شو معنی دا دی آسان شو کار د ا ماضي مضموم العين دی مصدر د دې سهولة راځي بروزن فعولة و زيد جزل يعنى لوی شو زيد جزل ماضي مضموم العين دی مصدر د دې جزالة راځئ بروزن فعالة د دينه علاوه مثالونه لکه صعب صعوبة، و عذب عذوبة، ملح ملوحة، فصح فصاحة، ضخم ضخامة، و ظرف ظرافة شو.

**تشريح**: اوزان د ماضي معلوم د ثلاثي مجرد درې دی. ١ : فعَل. ٢ : فعِل. ٣ : فعُل او دې ناظم فعل ماضي مفتوح او فعِل ماضي مكسور العين سره لازم قيد ولګولو او فعُل ماضي مضموم العين سره لازم قيد ونه لګولو بلکه مطلق ئي ذکر کړه ځکه فعل ماضي مفتوح العين كله متعدي راځي مثال لکه نصر او ضرب شو او كله راځي لازم مثال لکه قعد او جلس شو دارنګې فعِل ماضي مکسور العين كله متعدي راځي مثال لکه علم او فهم شو او كله لازم راځي مثال لکه سلم شو او فعل ماضي مضموم العين متعدي نه راځي مالم يضمن معنى فعل متعد بلکه دا دائما لازم راځي ځکه لازم قيد ئي کې نه خودو ما لم يضمن قيد چې کيخوده پس اعتراض وارد نه شو دحبتك الدار سره.

| | |
|---|---|
| ٤٤٧- وما أتى مخالفًا لما مضى | فبابه النقل، كسخط ورضى |

**ترکیب: وما اتی**: موصوله متضمن معنی د حرف شرط لره مبتداء. **مخالفا**: حال از ضمیر اتی. **لما**: متعلق مخالفا پورې. **فبابه**: مبتداء ثاني. **النقل**: خبر جمله خبر دمبتداء اول. **کسخط**: خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**: او هغه مصادر د ثلاثي مجردونه چې راغلی دی مخالف د هغه مصادر نه چې هغه تیر شو او ما او تا ته دښودل قیاس او قاعده دهغې نقل دی د عربونه او که ته وایې ما ته وښایه چې مصدر دثلاثی مجردو به وي او راغلې وي مخالف دماضي نه منقول وي دعربو نه ماتن وائي مثال د دي لکه سَخَطُ راځي ځکه دا فعل متعدي دي او مصدر دفعل متعدي ثلاثي اصل کې رَضْو وو، واو الف سره بدل شوی دی ځکه دا فعل لازم مکسور العین دي او مصدر د فعل ماضي مکسور العین لازم غالباً راځي د فَعَلُ په وزن باندې اوداسُخْط مصدر دسَخِطَ او رضاً مصدر درَضِيَ دعربونه منقول دي اوثابت شوی دی او مونږ په هغوی باندې رد نه شوکولي ځکه هغوی زمونږ استاذان دي او د دې نه علاوه نور مثالونه چې راغلي دي خلاف د ما مضی نه مثال لکه جحد جحودا او ذهب ذهاباً اوحزن حزنا او رکب رکوباً اوعظم عظمة شو.

| | |
|---|---|
| ٤٤٨- وغير ذي ثلاثة مقيس | مصدره كقدس التقديس |

**ترکیب: غیر**: مبتداء **مقیس** خبر **مصدره** ۱. نائب فاعل. ۲. یا مصدره مبتداء مؤخر او **مقیس** خبر مقدم. جمله خبر واقع شوې ده مبتداء اول لپاره. **التقدیس**: خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**: او مصادر دهغه افعال نه چې هغه غیر دي د ثلاثي مجردو نه بیا عام دي چې ثلاثي مزید وي او که رباعی مجرد او رباعی مزید وي قیاس کړې شوی دي مصدر د دې غیر یعنی مصدر د دې غیر قیاسي دی راځي په استعمال دکلام د عربو کې علی سنن واحد او موقوف الی السماع ندي مثال لکه قدس التقدیس شو قدس ماضی مجهول دي دباب تفعیل نه او مصدر دباب تفعیل صحیح اللام اوغیر مهموز اللام راځي تفعیلاً په وزن باندې قیاسیاً مثال لکه تقدیس شو واماجَرّب تجربة وذکر تذکرة شاذ.

**سوال**: قُدس ماضي مجهول اوالتقدیس نائب فاعل په قدس کې هم تقدیس دي او دا نائب فاعل هم تقدیس دي نو لازم شواسناد د شئ نفس خپل ته او دا باطل دی؟

**جواب**: اسناد د شئ الی نفسه نه لازمیږي ځکه الف لام په التقدیس کې عوض دمضاف الیه نه راغلی دی چې ضمیر دی اي قدس تقدیسه نو دا تقدیس مقید شو او هغه تقدیس مطلق دي په مابین کې مغایرة دی او قاعده دا ده چې مصدرنه قائمیږي په مقام د فاعل باندې څو پورې په دې کې تخصیص شوي نه وي ځکه په دې اقامة کې څه فائده نشته دی د وجه د دلالت دفعل

نه په دغه مصدر باندې.

| | |
|---|---|
| ٤٤٩- وزكه تزكية، وأجملا | إجمال من تجملا تجملا |

**وزكه:** امر ضمير مستتر انت هغه فاعل او ضمير منصوب متصل مفعول به. **تزكية:** مفعول مطلق. **واجملا:** الالف بدل من نون تاكيد الخفيفة. **اجمال:** مفعول مطلق نوعي. **من:** موصول مضاف اليه. **تجملا:** مفعول مطلق مقدم. **تجملا:** ماضي ضمير مستتر هو فاعل راجع الى الموصول جملة صلة اى اجملن اجمال الذي تجمل تجملاً.

**ترجمه:** كه باب تفعيل وو د ناقصه ۇ نه مصدر د دې راځي قياسي تفعلة په وزن باندې مثال لكه تزكية شو په زكه تزكية كې اوتزكيـة وائي اخراج زكوة المال والتطهير نو معنى د دې دا شوه پاكوه دې لره په پاكولو سره يا زكوة وركوه دې لره په زكوة وركولوسره ددې نه علاوه نور مثالونه لكه توصيةً اوتسميةً اوتعديةً شو يا دتفعيل حذف شويدې دهغې په عوض كې تا په اخر كې راوړيدى اوباب تفعيل وومهموزاللام وومصدردهغې غالباً راځي تفعله په وزن باندې اوكله كله راځي تفعيل په وزن باندې مثال لكه تجزية اوتخطئة اوتهنئة شو. اومصدر دباب افعال صحيح العين راځي قياساً اوطرداً افعال په وزن باندې او مصدر د باب تفعل كې اجملا الخ اصل كې اجملن وو نون تاكيد خفيفه په الف بدل شوى دى د وجې د وقف نه معنى د دې دا ده خامخا ځان ښايسته كوه ته په شان د ځان ښايسته كولو د هغه چا چې هغې ځان ښايسته كړى دى په ښايسته كولوسره اجمال مصدر صيغه ده افعال په وزن باندې د اجمل او دا صيغه ماضي معلوم ده دباب افعال نه اما عطاءً ونباتاً وثناءً اسم مصدر هو ما ساوي المصدر في الدلالة علي الحدث ولم يساوه فى اشتماله على جميع احرف فعله لفظاً وتقديراً من غير عوض او عِدةٌ مصدردې ځكه تا په عوض كې راوړى دى اوقتالُ مصدردې ځكه الف دقاتل موجود دى په دې كې تقديراً ځكه بعضې مواضعو كې مصدر قيالاً راځي. **اوتجملا:** مصدر صيغه ده دتفعل په وزن باندې دتجمل او دا صيغه ماضي معلوم ده دباب تفعل نه.

| | |
|---|---|
| ٤٥٠- واستعذ استعاذة، ثم أقم | إقامة، وغالبًا ذا التا لزم |

**تركيب: واستعذ:** فعل فاعل، **استعاذة:** مفعول مطلق، **ثم:** عطف على ما سبق، **غالبا:** حال مقدم يا مفعول فيه، **ذا:** اسم اشاره مبتداء، **التا:** ١. بدل، ٢. يا عطف بيان. ٣: يا نعت. (قاعده): اسم اشاره نه وروسته اسم معرف باللام راشي دا درې تركيبونه جائز دي، بلكه څلور تركيبونه، څلورم تركيب: مبتداء خبر كما في قوله تعالى: ذلك الكتاب. **لزم** جمله خبر د مبتداء.

**ترجمه:** او باب استفعال اوباب افعال كې داجوف نه مصدر قياسي راځي استعاذة او اقامة

مثال لکه استعذ الخ معنی پناه وغواړه ته پناه غوښتلو سره بیا ودریږه ته په وردیدوسره اودغه تا په عوض کې راوړل دحرف محذوف نه لازم دي د جمهورو په نزد باندې غالب او قانون کې چې هغه عدم داضافة دي خلافاً للسيبويه چې هغه وائي دا تا عوض راوړل لازم ندي.

**تشریح**: اقامة اصل کې اقواما وو او استعاذة اصل کې استعواذا وو بالاتفاق بیا واو متحرك مخکې حرف صحیح ساکن وو حرکت د واو نقل کړو ماقبل له ورکړو واو بدل کړی شوالف سره از برای موافقة ماضي مع وجود دمانع الاعلال وهو وقوع الواو بین الساکنین لزوما تحقیقا بیا التقاء د ساکنینو راغله بین الالفین دادومره مسئله اتفاقي ده بیا په دې کې خلاف دي.

۱ :اخفش. او فرا وائي التقاء د ساکنین دوجې نه دا اول الف حذف شوي دي نه ثاني لانها علامة والعلامة لاتحذف او د هغې په عوض کې تا په آخر کې راوړې ده ځکه دا قاعده ده کوم حرف چې د مصدر نه حذف شي ماسوا د لام کلمي نه وي د التقاء د ساکنین نه دهغي په عوض کې تاپه آخر کې راوړلی شي. او مذهب د خلیل او د سیبویه غوره دی د مذهب د اخفش او د فرا نه ۱.لزیادتها والزائد اولي بالحذف. ۲ :وقربها من الطرف والطرف محل التغیر ثمره دخلاف د دوی ظاهرېږي د وزن نه په دې شان سره استعاذة استغالة او اقامة افالة په وزن باندې دي د اخفش او د فراء په نزد باندې او استفعلة او افعلة په وزن باندې دي دخلیل او د سبیویه په نزد باندې. ۲ :خلاف په دې کې دی چې دا تا په آخر کې عوض راوړل امر لازمي دي او که نه په دې کې دوه مذهبه دي ۱ جمهور وائي دا امر لازمي دي په صورة دعدم اضافة کې. ۲ : سیبویه وائي دا امر لازمي نه دي دلیل دسیبویه دا قول د شاعر دي واخلفوك عدالامر الذي وعدوا وقوله تعالى ﴿لَّا تُلۡهِيهِمۡ تِجَٰرَةٞ وَلَا بَيۡعٌ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ﴾ اونور قیاس کوي په دې باندې.

جواب: د طرفه د جمهورو نه دا دی چې دلته دا مضاف الیه قائم شوی دی د هغه په ځای باندې او داسې مثال وبنایه چې تا حذف شوی وي لاعوض.

| | |
|---|---|
| ٤٥١- وما يلي الآخر مد وافتحا | مع كسر تلو الثان مما افتتحا |

**ترکیب: وما:** موصول مفعول به مقدم علی عامله وهو مد. مکودی ویلي دي دا باب د تنازع نه دی دا خبره صحیح نه ده، ځکه تنازع په اسم ظاهر کې هله راځي چې دا واقع شي د عاملینو نه وروسته کما قال في الکافیة: واذا تنازع الفعلان ظاهراً بعد مما. او دا ما موصوله مفعول به دلته مخکې ذکر شوی دی نه بعدهما. دویم دا چې لازمیږي فساد د معنا که دا مونږ مفعول به وګرځو د افتح لپاره ځکه دا ما يلي الآخر ساکن دی او فتحه به ورکوي ما يلي الآخر نه مخکې حرف لره فافهم. **يلي الآخر:** جمله صله او مفعول به عائد محذوف دی ای یلیه فاعل. **و:** معطوف

على مد، **افتحا:** والالف منقلبة عن النون التاكيد الخفيفة. **مع:** متعلق بمد. **كسر:** مضاف اليه مضاف. **الثان:** مضاف اليه. **معا:** موصوله جار مجرور متعلق بمد يا په اعتبار د متعلق محذوف سره حال واقع شوى دى د تلو نه. ضمير مستتر نائب فاعل جمله صله.

**ترجمه:** او هغه حرف چې واقع كيږي وروسته ددي حرف نه متصل بلا فصله روستني حرف مده كوه يعنې الف كوه ته او د هغې نه مخكې فتحه وركوه بي فصله چې هغه دريم حرف دي او دامصدربه دهغه بابونو نه به وي چې د هغه بابونو ماضي ابتدا او شروع شوي وي همزه وصليه سره مثال لكه اصطفىٰ شو.

**تشريح:** حاصل د دې بيت دا دي دثلاثي مجردو نه علاوه د كوم باب ماضي په اول سر كې همزه وصليه راغلي وي بيا عام دى چې ثلاثي مزيد وي او كه رباعي مزيد وي د هغې مصدر اخر حرف نه مخكې الف وي او د الف نه مخكې مفتوح وي اودريم حرف به مكسور وي مثال لكه اصطفي اصطفاء.. او انطلق انطلاقا، او استخرج استخراجا او احرنجم احرنجاما او اقشعر اقشعراراً شو. اوكه دا مصدر معتل اللام وو دا واو او يا همزې سره بدلولي شي دوجه دوقوع د واو، او د يا نه بعد الف الزائدة په طرف كې مثال لكه اصطفاء كې همزه بدل راغلي دي د واو نه.

| | |
|---|---|
| ٤٥٢- بهمز وصل كاصطفى، وضم ما | يربع في أمثال قد تلملما |

**تركيب: بهمز:** متعلق اقتنى پورې. **كاصطفى:** خبر د مبتداء محذوف. **وضم ١** امر ضمير مستتر انت فاعل. ٢. ماضي مجهول. **ما:** موصوله مفعول به على تقدير الاول نائب فاعل على تقدير الثاني. **يربع في:** صله. **امثال:** متعلق بضم. **قد:** مضاف. **تلملما:** مراد اللفظ مضاف اليه.

**ترجمه:** اي ضم الحرف الذي من يصير من الثلاثة اربعة من ربعت القوم واربعتهم اذا صيرتهم اربعة يعنى مجرد او مزيد دواړه په يوه معنا دي.

**تشريح. ١** :ضمه وركوه ته هغه حرف لره چې هغه ګرځوي دري حروف لره څلور. يا مضموم كولى شي هغه حرف لره چې هغه ګرځوي دريو لره څلور په هغه بابونو كې چې هغه امثال د تلملم په دي ذيادة دتاكي اوس مثال دتلملم څنګه دي چې د دې په اول كې تا زائد راغلي دي او د هغه نور په اول سر كې هم تا زائد راغلي دي مثال لكه تدحرج اوتزلزل شو يعنى هر هغه باب چې ماضي دهغه په وزن دتفعلل وي مصدر دهغي راځي تفعُلُل په وزن باندې په ضمي دحرف رابع سره مثا ل لكه تلملم شو چې دا ماضي وي تفعلّلَ په وزن باندې په معنى داجتمع سره او مصدر د دې راځي تلملم تفعلُل په وزن باندې په ضمي دحرف رابع سره.

| | |
|---|---|
| ٤٥٣- فعلال أو فعللة لفعللا، | واجعل مقيسًا ثانيًا لا أولا |

**تركيب: فعلال:** مبتداء، **اوفعللة:** معطوف على فعلال. **لفعللا:** خبر. **مقيساً:** مفعول ثاني. **ثانياً:** مفعول اول **اولا:** عطف على ثانياً.

**ترجمه:** مصدر په وزن دفعلال اوفعللة ثابت وي لپاره دهغه ماضي چې هغه په وزن دفَعلَلَ دي وګرځوه ثاني لره چې فعللة دي قياسي نه اول لره چې فِعلال دي يعنى مصدر درباعي مجرد چې باب فعللة دي فعللة په وزن باندې راځي قياسا اوفعلال په وزن باندې مصدرغير قياسي دي لكه دِحْراجا شو دارنګي مصدر صيغه د فعلال په وزن باندې برهن يبرهن نه اوكه دا ماخوذ شي د بره يبره نه په معنى دقطع سره بيا دامصدر صيغه دي بروزن فعلان په شان دغفران بيا مثال د رباعي مجرد لپاره نه جوړيږي خكه داثلاثي مجرد دي. ٤ : مصدر غير قياسي راځي فعللي په وزن باندې مثال لكه قهقري شو په شاه تلوته واتي مصدرغير قياسي راځي فُعْلُلاء په وزن باندي مثال لكه قرفصاء شو.

| | |
|---|---|
| ٤٥٤- لفَاعَلَ: الفِعال، والمُفَاعلة، | وغير ما مر السماع عادله |

**تركيب: لفاعل:** خبر مقدم. **الفعال:** مبتداء مؤخر. **والمفاعله:** عطف على الفعال. **وغير:** مبتداء اول، **ما:** موصوله. **مر:** جمله صله **السماع:** مبتداء ثاني. **عاد:** فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله خبر واقع شوې ده مبتداء ثاني لره، بيا جمله خبر د مبتداء اول واقع شوې ده.

**ترجمه:** او ثابت دي باب مفاعلة لپاره مصدر فِعال اومفاعلة په وزن باندې مثال لكه قاتل قتالا ومقاتلة اوخاصم خِصاماومحاصمةاونادي نداء ومناداة، اولاقي لقاء وملاقاة شواوغير دهغه مصادر نه چې مخكې تير شو. سمع د عربو به مقابله كړي وي دې سره يعنى كچيري مصادر غير ثلاثي مجرود نه مخالف راشي د اوزان مقدره مذكوره ؤ نه سماع مقابله كوي قياس سره په دې شان سره د دې قياس نه شي كولى په هغه مصدر قياسي باندې بلكه دامصدر په كوم وزن باندې منقول وي د عربو نه خلاف القياس مثال لكه كذّابا او تملاقا او تذكرة چې مصدر قياسي تكذيبا اوتملّقا او تذكيراً راځي او بل مثال د دې لكه تنزياً شو په دې قول د شاعر كې:

باتت تنزّى دلوعها تنزّيا　　كما تنزّى شهلة صبيًا

چې دې خوزوله بوقه خپله لپاره د اخراج الماء په خوزولوضعيفو سره په شان د خوزولو د بوډۍ ماشوم لره په لوبولو كې، د قياس تقاضا دا وه چې تنزيهً ئې ويلى وى خكه مصدر قياسي د ناقص دباب تفعيل نه تفعله په وزن باندې راځي كما مر.

| | |
|---|---|
| ٤٥٥- وفَعْلَة لمرة كجَلْسَه | وفِعْلَة لهيئة كجِلْسَه |

**ترکیب: وفعلة:** مبتداء. **لمرة:** خبر. **كجلسة:** خبر د مبتداء محذوف. **وفعلة لهيئة كجلسة:** وتركيبه مثل شطر الال في الحالة التي يكون عليها الفاعل عند مباشرته الفعل.

**ترجمه:** مصدر دثلاثي مجرد نه فَعلة په وزن باندې ثابت دي مرة لپاره يعنى دادلالت كوي په وارونو دفعل مقدم باندې مثال لکه جلست جَلسة شو اومصدر دثلاثي مجردو نه فعلة په وزن باندې ثابت دي هئية لپاره يعنى دادلالت كوي په صفةاونوعية دفعل مذكورباندې مثال لكه جلست جِلسة شو.

**تشريح:** مصدربروزن فَعلة مرة لپاره اومصدربروزن فِعلة هيئة لپاره داهله راځي چې بنادمصدر دفعل ثلاثي مجردنه عام په دي وزن باندې نه راتله لکه مثال مذكورشو چې دجلس مصدرعموما جلوسا راځي نه جلسة اوكه دفعل ثلاثي مجرد نه عام مصدربه دي وزن باندې راتله مثال لكه رحمة اونشدة شو بيا هغه دلالت په مرة اوپه هئية باندې كوي په اعتباردوصف سره نه بالذات مثال لكه رحمت رحمة واحدة او نشدت الضالة نشدة عظيمة شو.

| | |
|---|---|
| ٤٥٦- في غير ذي الثلاث بالتا المره | وشذ فيه هيئة كالخمره |

**ترکیب: في:** خبر مقدم يا حال مقدم. **بالتا:** خبر مقدم. **المره:** مبتداء مؤخره. **هيئة:** فاعل. **كالخمره:** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه:** اي المرة كائنة بالتا ءحال كونها كائنة في غيرالفعل صاحب ثلاث احرف يعنى دا مصدر لپاره دلالت په وارونو ته تاسره راځي په غير د فعل د درې حروفو والاكې دثلاثي مجرد نه علاوه مصدردلالت كوي په مرة باندې په تاسره مثال لكه انطلقت انطلاقة اكرمت اكرامة تدحرجت تدحرجة په دې شرط سره مصدر عامة بالتاء نه وو مثال لكه دحرجت دحرجة شو دا دلالت كوي په مرة باندې په اعتبار د صفة سره نه بالذاة دحرجت دحرجة واحدة، قاتلته مقاتلة واحدة. استقمت استقامة واحدة به وائي لپاره د تفريق په مابين د مصدر د تاكيد او مصدر د مرة كې. **وشذ فيه** او شاذ دی مصدرلپاره د هئية په غير د ثلاثي مجرد كې په تا سره مثال لكه اختمرت خمرة شو معنى څادر يې په سركړى دى په يو قسم څادر په سرلوسره.

## ابنية اسماء الفاعلين والصفات المشبهة بها

په گردان او په عمل کې په نظر سره بعض افرادته نوعطف دخاص په عام باندې راغي.

| | |
|---|---|
| ٤٥٧- كفاعل صغ اسم فاعل: إذا | من ذي ثلاثة يكون، كغذا |

**ترکیب كفاعل:** حال مقدم، **اسم:** مفعول به. **فاعل:** ذو الحال. **اذا:** متعلق بصغ. **من:** متعلق بيكون **يكون:** تامه **كغذا:** خبر د مبتداء محذوف، يا **يكون** ناقصه **كغذا** خبر دی.

**ترجمه:** جوړوه ته اسم فاعل په شان د وزن دفاعل باندې په هغه وخت کې چې وي دا اسم فاعل د هغه افعالو نه چې هغه درې حروفو والاوي او وي په شان د غذا.

**تشریح:** یعنی فعل ثلاثي مجرد وي اوماضي مفتوح العين وي بيا عام دي چې متعدي وي اوکه لازم وي اسم فاعل د هغې نه فاعل په وزن باندې راځي قياسا مثال لکه غذا شو اودافعل ثلاثي مجرد ماضي مفتوح العين دي متعدي هم راځي اولازم هم راځي که په معنی د تربیة سره شي متعدي دي لکه عرب وائي غدوت الصبي باللبن اي ربيته باللبن اوکه په معنی دسيلان سره وو لازم دي لکه وائي غذاء الماء اي سال الماء اسم فاعل د دې نه راځي غاذ اوبل مثال ددې لکه قعد قاعد او ضرب ضارب شو.

| | |
|---|---|
| ٤٥٨- وهو قليل في فَعُلْتُ وفَعِل | غير معدي، بل قياسه فَعِل |

**ترکیب: فعلت** متعلق قليل پورې **غير** حال من فعل.

**ترجمه:** اودا اسم فاعل په وزن د فاعل باندې کم راغلی دی په فعلت ماضي مضموم العين ثلاثي مجرد کې اوفعِل ماضي مكسور العين ثلاثي مجرد کې په حال کون دفعل کې چې دي نوي متعدي بلکه لازم وي خکه که متعدي وو بيا اسم فاعل دهغي نه راځي فاعل په وزن باندې قياسا مثال لکه شارب اوعالم شو دشرب اودعلم نه.

| | |
|---|---|
| ٤٥٩- وأَفْعَل، فَعْلان، نحو أشر، | ونحو صديان، ونحو الأجهر |

**ترکیب: قياسه** مبتداء **فعل** خبر **فعلان** معطوف بحذف العاطف. **اشر** خبر د مبتداء محذوف وذلك نحو الخ.

**ترجمه:** بلکه قاعده راتلل داسم فاعل دفعل ثلاثي مجرد مكسور العين لازم نه په وزن دفعِل يا په وزن دافعل ياپه وزن دفعلان باندې دي اوس اسم فاعل فعل په وزن باندې دماضي مكسور العين لازم لکه اشرمثل بطر وزنا ومعنيً من باب آشر ياشَرُ أُشرا هغه سړي ته وائي چې هغه كفران نعمة کوي او مثال داسم فاعل فعلان ته وزن باندې د ماضي مكسور العين لازم نه لکه صديان شو من باب صدي يصدي اوصديان هغه سړي ته وائي چې تږی وي اومثال داسم فاعل

افعل په وزن باندې د ماضي مکسور العين لازم نه لکه اجهر شو من باب جهر يجهر او اجهر وائي هغه سړي ته لا يبصر في الشمس مثالونه ذکر شو په طريقې د لف نشر مرتب سره او دا اوزان ثلاثه حقيقت کې صفة مشبه دي لکن اطلاق د اسم فاعل پرې شوی دی مجازاً بيا په دې مقام کې دا قاعده زده کړئ چې اسم فاعل فعل په وزن باندې راځي د هغه ماضي مکسور العين لازم نه چې هغه دلالت کوي په امراض با طينو يا په اضداد د دې باندې مثال دامراض لکه وجع، دردمند. دوی يدوی دويا په معنی دمريض سره مرح متکبر عم چې زړه ئې روڼ وي مثال د اضداد لکه جذل فرح طرب شو. د درې وارو معنی يوه ده او اسم فاعل فعلان په وزن باندې راځي د هغه ماضي مکسور العين لازم نه چې هغه دلالت کوي په لوګه باندې راځي د هغه ماضي مکسور العين لازم نه چې هغه دلالت کوي په لون باندې يا په عيب ظاهري باندې يا په زينت ظاهري باندې مثال لکه احمر اعور اکحل انجل شو واسع العين.

| | |
|---|---|
| ٤٦٠- وفَعْل أولى، وفَعِيل بفَعُل | كالضخم والجميل والفِعْل جَمُل |

**ترکيب وفعل**: مبتداء. **اولی**: خبر. **وفعيل**: عطف على المبتداء. **بفعل**: متعلق باولی. **کالضخيم**: خبر د مبتداء محذوف. **والفعل**: مبتداء. **جمل**: خبر. جمله حال.

**ترجمه**: صفة مشبه فَعْل په وزن باندې دارنګې فعيل په وزن باندې اولي دي فعل ماضي مضموم العين سره مثال د صفة مشبه بر وزن فعل دماضي مضموم العين نه لکه ضخم شو دا صفة مشبه دی دضخُم نه غټ اوسخت. ته وائي او مثال د صفة مشبه بر وزن فعيل دماضي مضموم العين نه لکه جميل شو دا صفة مشبهه دی په داسې حال کې چې فعل د ده جُمل دی په ضمې د ميم سره او که فعل د دې جمَل وي په فتحې د ميم سره د هغې نه اسم فاعل فعل او فعيل په وزن باندې نه راځي لهذا والفعل جمُل سره يې احتراز وکړو دجمَل ماضي مفتوح العين نه دا قيد يې ښکه کيښودلو.

بيا دې ناظم صاحب اولی وويل د دې نه معلومه شوه چې اسم فاعل د فعُل مضموم العين نه کله کله راځي بغير د وزنين مذکورين نه او هغه غير او خلاف اولی بيان کړی دی د دې ناظم وريسې نظم کې.

| | |
|---|---|
| ٤٦١- وأفعَل فيه قليل وفَعَل، | وبسوى الفاعل قد يغنى فَعَل |

**ترکيب وافعل**: مبتداء. **فيه**: متعلق بقليل. **قليل**: خبر **وفعل**: عطف على المبتداء. **بسوی**: متعلق بيغني. **يغني**: از باب سمع بمعنی قد يستغني. **فعل**: فاعل.

**ترجمه**: صفة مشبه افعل په وزن باندې دارنګې فعل په وزن باندې قليل دي په دې فعُل مضموم

العين کې مثال لکه اخرس شو من باب خَرُس اوحسن اوبطل شو من باب حَسُن وبَطُل او کله کله مستغني کیږي او بې پرواکیږي فعل ماضي مفتوح العين په يو صفة مشبه سره داسې صفة مشبه چې هغه غير وي دوزن دفاعل نه يعنى فعل ماضي مفتوح العين نه اسم فاعل غالبا اوقياسا فاعل په وزن باندې راځي کما مر. ليکن کله کله غير دفاعل وزن نه هم راځي لکه په شاب کې اشيب اوپه طاب کې طيب اوپه شاخ کې شيخ شو.

| من غير ذي الثلاث كالمواصل | ٤٦٢- وزنة المضارع اسم فاعل |
|---|---|

**ترکيب وزنة** خبر مقدم **اسم فاعل** مبتداء مؤخر **من** متعلق بزنة. **كالمواصل** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه:** اسم فاعل راځي په وزن د مضارع باندې غير د ثلاثي مجردو نه مثال لکه مواصل شو د يو اصل مضارع نه.

**سوال:** بيا خو التباس راځي د اسم فاعل مضارع خپلې سره په غير د ثلاثي مجردو کې؟

**جواب:** دى وايي:

| وضم ميم زائد قد سبقا | ٤٦٣- مع كسر متلو الأخير مطلقًا |
|---|---|

**ترکيب مع:** حال من المضارع. **مطلقاً:** حال من كسر. **وضم:** عطف على كسر. **ميم:** موصوف. **زائد** صفة اول. **قد سبقا:** صفة ثاني.

**ترجمه:** په حال کون د دغه مضارع کې چې دي متلبس وي سره د کسري دمتبوع او تابع کړي شوي دحرف اخيرنه برابره خبره دي چې مضارع مفتوح العين وي اوکه مکسور العين وي اسم فاعل کې ماقبل آخر حرف مکسور وي او سره د ماضي د ميم نه هسې ميم چې زائد دى او هسې ميم چې په تحقيق سره مخکې شوى دي دا ميم په ټول حروفو د مضارع باندې يعنى اسم فاعل غيرثلاثي مجردو نه بيا ثلاثي مزيد وي اوکه رباعي مجرد وي او که رباعي مزيد فيه وي په وزن دمضارع باندې راځي لکن دومره فرق دى چې د اسم فاعل ماقبل اخر به مکسور وي لپاره د دې چې التباس رانه شي اسم فاعل داسم مفعول سره امامحصن ومغلج ډيرې اوړدې. خبرې کوونکى وسيل مُفْعَم اسم فاعل صيغه ده دا شاذ دى. دي سره قاعده نه ورانيږي او په اول سرکې به ميم مضموم راغلي وي په ځاى د حرف مضارع باندې د دې لپاره چې التباس رانه شي مضارع مکسور العين سره.

| صار اسم مفعول كمثل المنتظر | ٤٦٤- وإن فتحت منه ما كان انكسر |
|---|---|

**ترکيب: منه** متعلق بفتحت والضمير راجع الى الفاعل **ما** موصوله مفعول به **اسم** خبر د صار **مثل** خبر د مبتداء محذوفى اى وذلك مثل.

**ترجمه:** که چیري ته فتحه ورکړې د دې اسم فاعل نه هغه حرف لره چې هغه مکسور وو په اسم فاعل کې پس نقليږي او ګرځي دغه اسم مفعول مثال د دي لکه منتظِر شو چې اسم فاعل منتظِر دی اوس دغه ظ له فتحه ورکړې منتظَر اسم مفعول جوړيږي يعني اسم فاعل او اسم مفعول غير دثلاثي مجردونه دواړه پوشانتي راځي فرق صرف په حرکت دماقبل اخر کې دی که ماقبل اخر مکسور وو اسم فاعل صيغه ده لکه منتظِر شو او که ماقبل اخر مفتوح وو هغه اسم مفعول دي مثال لکه منتظَر شو.

| ٤٦٥- وفي اسم مفعول الثلاثي أطرد | زنة مفعول كآت من قصد |
|---|---|

**ترکيب:** **وفي:** متعلق باطرد. **زنة** فاعل. **كآت:** خبر د مبتداء محذوف. **قصد:** متعلق بآت.

**ترجمه:** قياسي دي اومطرد د دې مفعول وزن په اسم مفعول دثلاثي مجرد وکې اوکه ته وائي ماته مثال وښايه چې اسم مفعول دثلاثي مجردونه مفعول وزن باندې راغلي وي اوقياسي وي
**جواب:** دی وائي مثال د دې لکه راتلونکی دي اسم مفعول دقصد فعل ثلاثي مجرد نه چې هغه مفتوح دی.

| ٤٦٦- وناب نقلًا عنه ذو فعيل | نحو فتاة أو فتى كحيل |
|---|---|

**ترکيب:** **نقلًا** حال من ذو عنه متعلق بناب. **ذو** فاعل. **نحو** خبر د مبتداء محذوف **فتى** موصوف. **كحيل** صفة.

**ترجمه:** او نائب شوی دي د دغه وزن د اسم مفعول د ثلاثي مجرد نه صاحب ددي وزن چې هغه فعيل وزن دي په داسې حال کې چې دامنقول دي د عربو نه يعنی داسماعي دی نه قياسي مثال لکه فتاة كحيل يافتي كحيل شو كحيل وزن فعيل دي بمعنی مکحول او دي ناظم کحيل لپاره دوه موصوفه ذکر کړل يو مذکر اوبل مؤنث. په کامي د او سره يې اشاره وکړه دې خبرې ته چې وزن فعيل په معنی دمفعول سره وي يعنی اسم مفعول راشي فعيل په وزن باندې په هغې کې مذکر او مؤنث دواړه برابر دي مثال له رجل جريح امراة جريح رجل قتيل امراة قتيل دارنګي جائز دي تا لپاره فتاة كحيل فتي كحيل خکه کحيل اسم مفعول صيغه ده فعيل په وزن باندې په شان دجريح اوقتيل.

**سوال:** دغه وزن باندې اسم کله راځي په معنی دفاعل سره نحو شريف کريم جميل کما مَرَاوُس دا وزن فعيل په معنی دفاعل سره دي اوکه په معنی دمفعول سره دي دا به د څه نه معلوموي؟
يا اعتراض داسې کوو لکه څنګه چې اسم مفعول فعيل وزن باندې راځي دارنګي اسم فاعل هم فعيل په وزن باندې راځي اوس دا به مونږ د څه نه معلوموو چې دا اسم فاعل صيغه ده اوکه

اسم مفعول صيغه ده؟ **جواب:** د دې فرق لپاره دا کلمه زده کړئ: د دې وزن فعيل ماضي ته وګوره که هغه متعدي وو وزن فعيل په معنى د مفعول سره دى او که هغه لازم وو وزن فعيل په معنى د فاعل سره دى. که وزن فعيل بمعنى الفاعل وو هلته فرق شته دى بين المذکر و المؤنث بالتاء نحو رجل کريم و امرأة کريمة.

**سوال:** هذا منقوض بقوله تعالى: ان رحمت الله قريب؟ **جواب ۱:** هذا محمول على وزن فعيل بمعنى المفعول. ۲. الرحمة بمعنى الاحسان. ۳: مضاف د مضاف اليه نه تذکير کسب کړى دى فافهم.

دارنګه کله کله اسم مفعول د ثلاثي مجرد نه راځى فعل په وزن باندې مثال لکه قبض اوسلب او جلب او عدد شو په معنى د مقبوض او مسلوب او مجبوب او معدود سره. او کله کله اسم مفعول دثلاثي مجردنه راځي فعلة په وزن باندې مثال لکه اکلة او ضحکة او طعمة شو په معنى د ماکول او مضحوك او مطعوم سره. اوکله کله اسم مفعول راځي اسم مفعول دثلاثي مجرد نه فاعل په وزن باندې هغه صرف څو الفاظ دي. ۱: ماء دافق. ۲: تراب صاف بمعنى موصوف ۲. عيشة راضية بمعنى مرضية ٤: کاتم بمعنى مکتوم ليل نائم کذا قال علامه سيوطي في مزهري.

## الصفة المشبه باسم الفاعل

اي هذا بحث اعمال الصفة الخ دا ماسياتي تر يو حد پورې بحث دعمل دصفة دي هسې صفة چې مشابه دى د اسم فاعل سره په ګردان او عمل کې.

**سوال:** په ګردان دصيغوکې لکه څنګه چې مشابه دي اسم فاعل سره دارنګي مشابه دي اسم مفعول سره نودې لپاره مشبه به فقط اسم فاعل ولې ګرځوي اسم مفعول ولې نه ګرځوي؟

**جواب:** د اسم فاعل سره زيات مشابه دى داسم مفعول نه. اسم فاعل دلالت کوي په قيام دمعنى مصدري باندې صفة مشبه هم دلالت کوي په قيام دمعنى مصدري باندې په خلاف داسم مفعول نه چې هغه دلالت کوي په وقوع د معنى مصدري باندې اسم فاعل عمل کوي دوجه د مشابهة نه فعل مضارع سره او صفة مشبه عمل کوي د وجه د مشابهة نه اسم فاعل سره. بيا د اسم فاعل او د صفة مشبه په مينځ کې دومره فرق دى چې ۱: اسم فاعل دلالت کوي په صفة متجدده باندې اوصفة مشبه دلالة کو ي په صفة ثابته باندې يعنى اسم فاعل دلالت کوي په معنى مصدري باندې په طريقي د دوام او استمرار سره مثا ل لکه حسن شو هغه چاته وائي چې حسن په هغې کي هميشه وي. ۲: اسم فاعل جوړيږي دفعل لازم اومتعدي د دواړونه او صفة مشبه فقط دفعل لازم نه جوړيږي. ۳: اسم فاعل مشابه دي دفعل مضارع خپل سره په تعداد د

حروفو او حركاتو او سكناتو كې په خلاف د صفة مشبه نه دا په دې كې ضرورنه دی. ٤ : اضافة دصفة مشبه فاعل خپل ته مستحسن دي په خلاف د اسم فاعل نه چې اضافة د دې فاعل خپل ته جائز نه دی مادام يراد به الحدوث وان اريد به الثبوت جاز الاضافة ځكه بيا داصفة مشبه دي اطلاق داسم فاعل په دې باندې مجازاً دی مثال لكه طاهر القلب شو. اسم فاعل عمل كوي هله چې په معنى د حال يا استقبال سره وي او صفة مشبه كې دا شرط نه دي. اسم فاعل عمل كوي د وجه د اعتماد نه په الف لام موصولي باندې په خلاف دصفة مشبه نه ځكه الف لام موصولي په صفة مشبه باندې نه داخليږي. ۷: تقديم د معمول د صفة مشبه په صفة باندې جائز نه دی بخلاف اسم الفاعل اوس صفة مشبه څه ته وائي دي تعريف دصفة مشبه بالعلامه كوي.

| | |
|---|---|
| ٤٦٧- "صفة استحسن جر فاعل | معنى بها المشبهة اسم فاعل" |

**تركيب: صفة:** خبر مقدم موصوف. **استحسن:** جمله صفة. **جر فاعل:** نائب فاعل. **معنىً:** تميز يا منصوب بنزع الخافض. **بها:** متعلق بجر. **المشبهة:** مبتداء مؤخره. **اسم فاعل:** مفعول به. ۲: يا بالعكس دی صفة الخ مبتداء المشبهة خبر دی.

**ترجمه:** بنا په تركيب اول باندې معنى د عبارة دارنگې ده: الصفة المشبه اسم صفة استحسن او بنا په دويم تركيب باندې معنى دا ده صفة داسې صفت چې حسن گڼلی شي جر د فاعل معنوي لره چې فاعل وي په اعتبار د معنى سره په دي صفة مشبه سره هغه صفة مشابه دي اسم فاعل سره مثال لكه زيد حسن الوجه شو اصل كې زيد حسن وجهه كلمه چې دا حسن مضاف شو فاعل خپل ته هغه ضمير مضاف اليه حذف شو د دې فاعل نه مستتر شو په دې حسن كې مخكې صفة مشبه نسبة فاعل ته وو اوس نسبت دي ضمير ته دې نو علامه د صفة مشبه دا دي چې فاعل د دې مجرور راځي غالباً د وجې د اضافة د صفة مشبه نه يو فرق د اسم فاعل سره بيان شو چې د اسم فاعل اضافة فاعل خپل ته ناروا دي او اضافة د صفة مشبه فاعل خپل ته مستحسن دی فرق بيانوي په دې وروسي نظم كې.

| | |
|---|---|
| ٤٦٨- وصوغها من لازم لحاضر | كطاهر القلب جميل الظاهر |

**تركيب: وصوغها:** مبتداء. **من خبر.** ۲: متعلقان بصوغها. والخبر محذوف اى واجب ولا يجوز ان يكون المجروران ولا احدهما خبراً عن صوغها لعدم الفائدة او عطف په جر فاعل باندې هم جائز نه دی ځكه هغه مستحسن دی او جوړول د صفة مشبه د فعل لازم نه واجب دي. **كطاهر القلب:** خبر د مبتداء محذوف. **جميل الظاهر:** معطوف على طاهر بحذف العاطف.

**ترجمه:** جوړول دصفة د فعل لازم نه لپاره د حاضر واجب دي. ۲ : جوړول دصفة مشبه دا ثابت

دي د فعل لازم نه لپاره د دې چې دلالت وکړي په اقتران د مصدر په زمانه حالي باندې مثال د
دې لکه طاهر القلب او جميل الظاهر شو چې زيد پاك زړه والادي اوظاهر يې هم نيك دي.
**تشريح:** دويم فرق د اسم فاعل سره دا دی چې اسم فاعل جوړيږي دفعل لازم اودفعل متعدي دواړو نه او صفة مشبه جوړيږي فقط دفعل لازم نه او د فعل متعدي نه نه جوړيږي ځکه دا د هغه صفاتو نه جوړيږي چې هغه لازم وي دفاعل سره اوپه هغه صفاتو کې فعل متعدي نه راځي.
**سوال:** صفة مشبه د فعل متعدي نه نه جوړيږي دا قاعده ستامنقوضه شوه رحيم سره چې دا صفة مشبه دی جوړشوی دی د يرحم نه او دا فعل متعدي دی؟
**جواب: ١:** لازم عام دی وضعاً وي او که په حين د اشتقاق کې وي دايرحم اگرکه متعدي دي وضعاً لکن لازم گرځيدلی دی په حين د اشتقاق کې چې رحم يرحم نه نقل کړی شو رحُم يرحُم ته بيا رحيم ترينه جوړ شوی دی.
**جواب: ٢:** يا جواب دا دی چې اسم فاعل جوړيږي د فعل لازم او متعدي دواړو نه قياساً او اطرادا او صفة مشبه جوړيږي د فعل لازم نه قياساً او د فعل متعدي نه سماعاً لاقياسا مثال لکه عليم او رحيم شو.
**جواب ٣:** دريم فرق دا دی چې صفة مشبه فقط حاضر لپاره جوړيږي اواسم فاعل د ماضي او استقبال لپاره هم راځي.
**سوال:** بيا په دې باندې اعتراض واريږي چې مثال ذکر کولي شي لپاره د توضيح د ممثل لپاره يو مثال کافي وو دې دوه مثالونه ولې ذکر کړي دي صفة مشبه لپاره؟
**جواب:** دوه مثالونه يې ځکه ذکر کړي دي چې صفة مشبه دوه قسمه دی. ١: هغه دی چې مشابه دی فعل مضارع سره په تعداد د حروفو او حرکاتو او سکناتو کې.
٢: هغه دی چې مشابه نه دي. اول مثال د هغه صفة مشبه دي چې هغه جاري دي په فعل مضارع باندې او دا دويم مثال دهغه صفة مشبه دي چې هغه جاري نه دي په فعل مضارع باندې ځکه د دې عمل لپاره جريان علي المضارع شرط نه دي په خلاف داسم فاعل نه دهغې عمل لپاره جريان علي المضارع شرط دي.

| | |
|---|---|
| ٤٦٩- وعمل اسم فاعل المعدى | لها، على الحد الذي قد حدا |

**ترکيب وعمل اسم الفاعل:** مبتداء. **المعدى:** مضاف اليه بحذف الموصوف اى الفعل المعدى. **لها:** په اعتبار د متعلق محذوفه سره خبر. **على الحد** موصوف. **قد حد** جمله صله. موصول سره د صلې نه صفة. موصوف سره د صفة نه مجرور. ٢: جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوفه سره حال د

ضمير مستتره نه په لها کې. ۳: يا متعلق دی په عمل پورې.

**ترجمه:** عمل داسم فاعل دفعل متعدي ثابت دي لپاره دصفة مشبه په اندازه د هغه باندې چې هغه اندازه په تحقيق سره بيان شوې ده په بحث داسم فاعل کې.

**تشريح:** حاصل دا دی چې صفة مشبه عمل کوي په شان د عمل داسم فاعل متعدي لکه څنګه چې اسم فاعل متعدي عمل چې رفع او نصب دواړه کوي دارنګه صفة مشبه عمل د رفع او نصب دواړه کوي ليکن دومره فرق دي. ۱ : چې اسم فاعل متعدي عمل د رفع کوي په يو اسم کې چې هغه فاعل دی او عمل د نصب کوي په بل اسم کې چې هغه مفعول به دی مثال لکه زيد ضاربٌ عمراً په خلاف د صفة مشبه نه چې دا عمل د رفع او نصب په يو اسم کوي مثال لکه زيد حسن وجهه شو په دې وجه کې رفع او نصب دواړه جائز دي علي سبيل البدلية.

۲: اسم فاعل متعدي عمل د نصب کوي بنا بر مفعول به او صفة مشبه عمل دنصب کوي بنا بر تميز که معمول نکره وو يا بنا بر تشبيه بالمفعول که معمول معرفه وو څکه معرفه تميز نه واقع کيږي او عين مفعول به نه دی د وجې دعدم وقوع د معنی مصدري نه په دې باندې.

۳: اسم فاعل عمل کوي په دې شرط سره چې په معنی د حال يا استقبال سره وي په خلاف د صفة مشبه نه دي لپاره دا شرط نه دی څکه دا عمل کوي د وجه د مشابه نه د اسم فاعل سره نه د وجې د مشابهة نه مضارع سره.٤: فرق دا دی چې اعتماد د اسم فاعل په الف لام موصولي باندې راځي او د دې صفة مشبه اعتماد په الف لام موصولي باندې نه راځي څکه کوم الف لام چې په دې باندې داخليږي هغه حرفي دی نه موصولي.

| | |
|---|---|
| ٤٧٠- وسبق ما تعمل فيه مجتنب | وکونه ذا سببية وجب |

**ترکيب:** **وسبق** مبتداء مضاف الی فاعله، **ما:** موصول عائد الی الموصول و الضمير. **تعمل:** صله **فيه:** متعلق بتعمل. **مجتنب** خبر. **وکونه:** مبتداء مضاف الی اسمه. **ذاسببية:** خبر د کون. **وجب** جمله خبر د مبتداء چې کونه ذا سببية دی.

**ترجمه:** او وړاندې والی د هغه مفعول چې عمل کوي صفة مشبه په هغې کې اجتناب کړې شوي دي د دغه سبقية نه په خلاف د غير معمول نه د هغې تقديم جائز دی مثال لکه جار مجرور شو.

**تشريح:** دا بل فرق شو د صفة مشبه د اسم فاعل نه چې تقديم د معمول اسم فاعل په اسم فاعل باندې جائز دي په خلاف د فاعل نه او تقديم د معمول د صفة مشبه باندې جائز نه دي څکه دا ضعيف العمل دی عمل نه شي کولي په معمول مقدم باندې په خلاف داسم فاعل نه هغه قوي العمل دي عمل کولی شي په معمول مقدم کې څکه صفة مشبه عمل کوي د وجې د مشابهة نه

د اسم فاعل سره او اسم عمل كوي د وجې دمشابه نه مضارع سره **وكونه الخ** اوكيدل د معمول د صفة مشبه خاوند د سببية لازم دي دا بل فرق شو صفة مشبه د اسم فاعل نه چې عمل دصفة مشبه په سببي باندې بلكه دا عمل كوي په سببي او اجنبي دواړه باندې مثال د سببي لكه زيد ضارب اباه شو او مثال د معمول اجنبي لكه زيد زيد ضارب عمرا اوس معمول سببي څه ته وائي چې دا معمول داسې معمول وي چې د دې ربط راغلي وي دَ موصوف دصفة مشبه سره په واسطه د ضمير سره اوداضمير عام دي لفظا وي اوكه تقديرا وي مثال دلفظا لكه زيد حسن وجهه شو اومثال دتقديرا لكه الحسن الوجه شو اي الوجه منه.

| | |
|---|---|
| ٤٧١- فارفع بها، وانصب، وجر -مع أل | ودون أل- مصحوب أل، وما اتصل |

**تركيب: بها:** متعلق بفارفع. **وانصب** عطف على ارفع او متعلق د دې دواړو حذف شوى دى. **بها:** د وجې د استغنا نه په ذكر كولو د دې سره اولاً او دا باب د تنازع نه ندى. ځكه تنازع په متوسط كې نه راځي خلافاً للفارسي. **مع ال:** حال الضمير بها. **ودون:** معطوف على مع. **مصحوب:** مفعول به على سبيل التنازع كل من افعال الثلاثة. **وما:** موصول. **اتصل:** جمله صله. موصول سره د صلې نه معطوف على مصحوب ال.

**ترجمه:** او رفع وركړه ته په دې صفة مشبه سره على الفاعليه اونصب وركوه على التشبيه بالمفعول او جر وركړه په دې صفة مشبه سره على الاضافة په حال كون دصفة مشبه كې چې مقرون وي الف لام سره اوكه بې دالف لام نه وي هغه معمول لره چې هغه ملګري كړي شوي دي الف لام سره اوهغه معمول لره چې هغه متصل دي صفة مشبه سره فارق الف لام نوي راغلي د دې معمول اوصفة مشبه په مينځ كې.

| | |
|---|---|
| ٤٧٢- بها: مضافًا، أو مجردًا، ولا | تجرر بها -مع أل- سما من أل خلا |
| ٤٧٣- ومن إضافة لتاليها، وما | لم يخل فهو بالجواز وسمًا |

**بها مضاف او مجرور**

**تركيب: بها:** متعلق باتصل **مضاف** حال از ضمير اتصل. **مجرداً** عطف على اضافا او على ما اتصل.

**ترجمه:** په حال كون د دې معمول كې چې دا معمول مضاف وي ضمير ته نحو زيد حسن وجهه يا به مضاف وي معرفه باللام ته نحو زيد حسن وجه الاب يا به مضاف وي مجرد عنهما ته نحو زيد حسن وجه اب او يا به مجرد ئي د اضافة او الف لام نه نحو زيد حسن وجه كه دا مجردا عطف شي په مضافاً باندې خپل معنى سره دى او داما اتصل دوه قسمه شو. ١: مضاف. ٢:

مجرد عن الاضافة واللام. او که دا عطف شي ما اتصل باندې بيا دا او په معنی د واو سره دی.
معنی به دا شي: ته رفع ورکړه او نصب ورکړه او جر ورکړه مصحوب ال لره او ما اتصل بها مضاف لره او مجرداً عنهما لره.

**تشریح:** حاصل د دې نظم دا دی چې صفة مشبه کې مشهور اتلس صورتونه دي جوړيږي ځکه ذات د صفة مشبه کې دوه احوال راځي متلبس باللام نحو الحسن مجرد عن اللام نحو حسن او د ده په معمول کې درې احوال راځي متلبس باللام مثال لکه الحسن الوجه مضاف نحو الحسن وجهه مجرد عنهما نحو الحسن وجه دوه چې په دريو کې ضرب ورکړي شپږ صورتونه جوړيږي. دري صورتونه جوړيږي صفة مشبهه متلبس باللام کې او درې صورتونه جوړيږي صفة مشبه مجرده عن اللام کې او د هر يو معمول په اعتبار د اعراب سره درې قسمه دی:
۱: مرفوع. ۲: منصوب. ۳: مجرور نو شپږ و له چې په دريو کې ضرب ورکړې ۱۸ صورتونه جوړيږي. نهه صورتونه صفة مشبهه مجرد عن اللام کې جوړيږي. مثال لکه زيدٌ حسن الوجهِ. زيدٌ حسن وجهُه. زيدٌ حسن وجهٌ او نهه صورتونه په صفة مشبهه متلبس باللام کې جوړيږي. مثال لکه زيداً الحسن الوجهِ. زيدٌ الحسن وجهِهٖ زيد الحسن وجهٌ. او کتاب السيوطی ۳۶ صورتونه جوړ کړي دي مکودی د الفيه شرح ۷۲ صورتونه جوړ کړي دي په دې اعتبار سره چې دا معمول مضاف د صفة مشبهه به خالی نوی يا به مضاف وی ضمير د موصوف ته نحو زيد حسن وجهه يا به مضاف وي معرف باللام ته نحو زيد حسن وجه الابِ يا به مضاف وي مجرد عنهما ته نحو زيد حسن وجه اب هلم جر بيا په دې کې بعضې صورتونه ممتنع دی ناظم هغه ذکر کوي.

**ولا تجرر بها مع ال سما من ال ✿ خلا و من اضافة لتاليها**

**ترکيب: بها** متعلق بلا تجرر. **مع** حال از ضمير بها. **سما:** مفعول به د لاتجرر وهو لغة في الاسم.
۱: منصوب دی په فتحې سره تقديرا په الف کې ځکه دا اصل کې سُمَیٌ وو ي الف سره بدل شوې ده بيا حذف شوې ده د وجې د التقاء د ساکنينو نه ۲: يا منصوب دی په فتحی سره لفظا بنا په دې چې دا په شان ديَدٌ دی لام کلمه حذف شوي ده نسيا منسيا په اسم کې. په اسم کې پنځه لغته دي: ۱: اسمٌ. ۲: أسمٌ. ۳: سِمٌ. ٤: سُمٌ. ٥: سُمَيٌ. کما في قول الشاعر:

والله اسماك سمياً (ای اسما) مباركاً — اثرك الله به ايثاركاً

**ترجمه:** او جر مه ورکوه ته په دې صفة مشبه سره علی الاضافة په حال کون د دې صفة مشبه کې چې دا معنی وی الف لام سره هغه اسم لره چې خالی وي او مجرد وي دا الف لام نه او دا ضافة

نه تالی د الف لام ته یعنی دا معمول مضاف نه وي بل معرف باللام ته.

صورتونه د دې جوړېږي څلور. ۱: الحسنُ وجهِه ۲: الحسن وجهِ ابیه. ۳: الحسنُ وجهِ. ٤: الحسن وجهِ ابِ. اوس دا ترکیبونه ولې ممتنع دي؟

ج: هر چې دې صورتین اُولیین د وجې د عدم ترتب د فائده نه په اضافة لفظی باندې هم په جانب د مضاف کې او هم په جانب د مضاف الیه کې ځکه تنوین غورځیدلی دی دخول د الف لام د وجې نه، نه د وجې د اضافة نه او استتار د ضمیر د مضاف الیه نه دی راغلی په مضاف کې بعد الحذف او اثر مرتبه په اضافة لفظی باندې تخفیف دی په لفظ کې او د تخفیف صورتونه دغه دوه دي په دغه ترکیبونو کې او په کوم اضافة لفظی باندې تخفیف په لفظ کې نه وي مرتب هغه په شریعة د بلاغة کې لغو دی. هر چې دی صورتین اُخریین دي لپاره د دې چې لازم نه شی مخالفة من کل الوجوه په ما بین د اصل او دَ فرع کی چې هغه اضافة معنوی او اضافة لفظی دی اضافة معنوی اصل دی او اضافة لفظی د هغه فرع دی او په اضافة معنوی کې څلور صورتونه دی: دوه جائز، ۱: اضافة د نکره معرفه ته نحو غلام زید ۲: لحصول التعریف. اضافة د نکرې نکرې ته نحو غلام رجل لحصول التخصیص. او دوه صورتونه ممتنع دی ۱: اضافة د معرفه معرفه ته نحو الغلاُم زید لاجل اللغویة. ۲: داضافة نکره ته نحو الغلام رجل لعدم الفائدة. دارنګه په اضافة لفظی کې هم څلور صورتونه دی: درې صورتونه جائز دی. ۱: اضافة د نکره معرفه ته نحو ضاربُ زید ۲: اضافة دنکره نکرې ته نحو ضاربُ رجل. ۳: اضافة د معرفه معرفې ته نحو الضاربُ الرجلِ او یو صورة ممتنع دی اضافة د معرفه نکرې ته نحو الحسن وجه یا الحسنُ وجه ابِ ځکه اضافة دمعرفه معرفه ته په اضافة معنوي کې ممتنع وو دلته، جائز وګرځیدو حملا علی ضاربك او اضافة د معرفه نکرې ته په اضافة معنوی کې ممتنع دی اوس که دا هم دلته جائز وګرځوو بیا لازمیږی مخالفة من کل الوجوه په مابین د اصل او فرع کې او دا باطل دی.

**وما لم یخل فهو بالجواز وسما**

**ترکیب وما:** موصول مبتداء متضمن د حرف شرط لره. **لم یخل:** جمله صله او متعلق د دې محذوف دی د وجې د فهم د ما سبق نه. **فهو:** مبتداء. **بالجواز:** متعلق بوسم. **وسما:** جمله خبر د مبتداء ثاني. او مبتداء ثاني سره د خبر خپل نه جمله خبر لپاره د مبتداء اول چې ما دی.

**ترجمه:** او هغه معمول چې خالي نوي دالف لام یا داضافة نه بل معرف باللام نه دغه ترکیب په جواز سره په نښه کړی شوی دی یعنې جر په کې جائز دی علی الاضافه لکه څنګه چې جائز دی

رفع على الفاعليه او نصب على التشبه بالمفعول. ۱: بيا په هغوی کې ځينې جائز احسن دي چې مشتمل وي په يو ضمير باندې مثال لکه الحسن وجهه. او ځينې جائز حسن دي چې مشتمل وي په دوه ضميرونو باندې مثال لکه الحسن وجهَهُ. او ځينې جائز سره د قبح نه چې هغه خالي وي د ضمير نه مثال لکه الحسن وجهً الحسن الوجهُ شو.

## التعجب

اي هذا بحث التعجب

مبتداء حذف شوي ده سره د جز د خبر نه يعني دا ما سياتي تر يو حده پورې بحث او بيان د افعال تعجب دی بيا يوتعجب دي او يو فعل دی تعجب يوکفية دي عارض کيږي او وړاندې کيږي زړه د انسان ته په وخت دليدو د يو امر کې. داسې امر چې هغه خفي السبب وی او خارج وي د حدودو د نظائر او د امثالونه مثال لکه يو پنځه کلن ماشوم دی اوته ترينه تپوس وکړي د سنقولاتو هغه درته جواب درکړي. او سړی به وائی دا ښی او ګځ نه پيژنی اوته چې دکم شی تپوس کوی دا جواب درکوي. ديته وائی تعجبي خبره او فعل تعجب هغه فعل ته وائی چې هغه دلالة کوی په هغه کيفية باندې چې ستا زړه ته عارض شوی دی د وجه د ادراك د يو امر خفی السبب نه. او صيغې د فعل تعجب فقط دوه دي ۱: راځی په وزن دماضی معلوم دباب افعال نه په شرط د وقوع سره وروسته د ما نه نحو ما احسن العلم. ۲: هغه دی چې راځی په وزن د امر د باب افعال په شرط د وقوع سره وروسته د هغې نه اسم مجرور په باسره نحو اقبح بالجمل دی.

دوه صيغو ته اشاره کوي ناظم په دې نظم کې:

| | |
|---|---|
| ٤٧٤- "بأفعَل انطق بعد "ما" تعجبا | أو جيء بـ"أفعِل" قبل مجرور ببا" |

**ترکيب بافعل:** متعلق بالنطق على حذف مضاف ای بوزن افعل. **بعد:** حال من افعل. ۲: يا متعلق بالنطق. **ما:** مضاف اليه. **تعجبا:** حال بمعنى متعجباً الضمير نطق. يا حال از ما بحذف المضاف ای ذا تعجب. يا مفعول مطلق دی ای اذ تعجبت تعجباً. يا مفعول له ای لاجل انشاء التعجب. **اوجیء** معطوف على النطق. **بافعل:** ای بوزن افعل. **مجرور:** دواړه جار مجرور متعلق دي جیء پورې. **ببا:** متعلق بمجرور.

**ترجمه:** تلفظ کوه په وزن د أفعَلَ سره چې دا وزن د صيغه د ماضی معلوم د باب افعال دی په حال کون د دې افعل کې چې دا واقع وي وروستو د کلمې د ما نه. ۱: په حال کون ستا کې چې ته تعجب کوونکي يې. ۲: يا په حال کون د ما کې چې دا خاوند د تعجب دی. ۳: کله چې ته

تعجب وکړي په تعجب کولوسره. ٤: يا د وجې د تعجب نه مثال لکه ما احسن زيدا شو يا راتلل کوه ته په وزن د أفعل سره چې دا وزن د امرحاضر معلوم د باب افعال دي مخکې د مجرور بالباء نه مثال لکه أحسن بزيد شو.

| | |
|---|---|
| ٤٧٥- وتلو أفعَل انصبنه: كـ"ما | أوفى خليلينا، وأصدق بهما" |

**ترکيب وتلو:** ما اضمر عامله على شريطة التفسير اى تاليـاً لافعل. **كما:** خبر د مبتداء محذوف اى مثاله كقولك ما اوفى الخ. **اوفى:** فاعل ضمير مستتر راجع الى ما. **خليلينا:** مفعول به.

**ترجمه:** خامخا نصب ورکړه ته بنا بر مفعول به هغه اسم لره چې هغه واقع کيږي وروسته د وزن د افعل نه. او که ته وايې ما ته مثال وښايه چې يو اسم دى وروسته د وزن افعل نه واقع دي او دې وزن د افعل نصب ورکړى دى، دي وايي خود به ښايم مثال لکه ما اوفى خليلينا شو.

**معنى:** څه ښه وفادار دي هغه دوه دوستان زمونږ اوصدق بهما

**معنى:** څه ښه ريشتني دي دا دوه کسان دلته کې مقصود بالمثال د اولني مثال دي او دا دويم مثال د افعل دي ذکر کړى شوى دى لپاره د شعر پوره کولو. اوس خليلينا اسم واقع شوى دى وروسته دفعل تعجب نه چې ما اوفي دي او دا په وزن د افعل دي او دا اسم منصوب بالياء دى لاکن په ما اوفي خليلينا کې درې ترکيبونه دي. ۱ : سيبويه وائي ما نکره تامه ده په معنى د شي سره مبتداء واقع شوې ده تامه دا معنى چې توصيف ته نه دى محتاج مابعد جمله سره او ما بعد جمله خبر ده اوباب افعال تصير لپاره دى معنى د دې دا ده شي صير هما وافيين.

**سوال:** بيا د دې په ترکيب باندې اعتراض وارديږي چې ته وائې ما په معنى د شئ سره دى او شي نکره محضه دي اونکره مبتداء واقع کيږي. ته څنګه وائي چې ما په معنى دشي سره مبتداء ده؟

**جواب:** دا نکره محضه نده، تخصيص راغلى دى په صفة مقدره سره اي شي عظيم اوفي ۲:يا نکره مبتداء واقع شوي ده ځکه دا متضمن ده معنى دتعجب لره کمامرفي بحث المبتداء والخبر. اخفش وائي دا ما موصوله دى او دا ما بعد جمله فعليه صله ده، موصول سره د صلي نه مبتداء او خبر د دې محذوف دى اى الذي او في خليلينا شيء عظيم. ۳ : يا دا ماموصوفه ده دا مابعد جمله صفة دې موصوف سره دصفة نه مبتداء خبر ددي حذف شوي دي اي شيٌ اوفى خليلين عظيم. نواخفش لپاره په دې ترکيب کې دوه قوله دي ترکيب دعام نحاتو او د فرادي دا ما استفهاميه ده په معنى د اي شي سره مبتداء او ما بعد جمله خبر دي او جواب د استفهام محذوف دى اي هو شي عظيم او په اصدق بهما کې دوه ترکيبونه دي. ۱ : سيبويه اوبصريان

وايي اصدق ظاهر كې صيغه د امر ده او معنى كې ماضي ده بمعنى اصدَقَ دا مجرور د با فاعل دى او با زائده ده په شان د با د كفي الله دومره فرق دى زيادت د با دلته لازم دي او كفي بالله كې لازم نه دي. اوهمزه د باب افعال صيرورة لپاره ده په شان د همزه دأغَدّ البعير اي صار البعير ذا غدة چې دا د غوښې يوه ټكړه ده پيدا كيږي بين اللحم والجلد د وجې د مرض نه نو معنى داصدق بهما دا ده صارا صادقين يعنې ګرځيدلي دي دا دواړه ريشتيني بيا كله چې اراده وكړه دوى د دې خبرو نه معنى د تعجب نو دا ماضى ئې رانقل كړه صورت د امر ته نو دا آصدَق ئي جوړ كړو دې لپاره چې شي دا په صورت د انشاء كې د دې نظير لكه كله چې متكلم امرنه اراده وكړي دعاء دا صيغه دامر نقل كولى شى صورة دخبرته مثال لكه رحم الله ابا الحسن كان و الله كذلك يرحمك الله او دلته خبر نقل شوى دى صورة د انشاء ته بيا كله چې دوى اراده وكړه اسناد د دې ضمير ته بيا دوى ته قبيح ښكاره شو اسناد د دې صورة د اسم ظاهر ته ځكه امر اسم ظاهر ته نه مسند كيږي دوى با زائده كړه دې فاعل كې ته زيادة ملتزمه سره دى لپاره چې شى دا فاعل په صورة د فضله كې. ٢: اخفش او فرا او ابن كيسان او جار الله ذى محشرى وائى اصدق امر دى صورتاً او معنىً ضمير مستتر دى انت هغه يې فاعل دى او مدخول د با مفعول به دى كه په بهما شي اصدق كې دا همزه تعدية لپاره نوى دا با تعدية لپاره ده او كه همزه تعدية لپاره شى دا با زائد ده په شان د ولاتلقوا بأيديكم إلى التهلكة او ثمره د خلاف د دوى ظاهر كيږي په صورة د حذف د " ب " كې د وجې د ضرورة شعري نه ځكه زيادة د دې با لازم دى دا نه شى حذف كولى بې د ضرورة شعري نه الاان تكون قبل ان وان بيا حذف د دى جائز دى قياسا اطرادا اوس ضرورة شعرى د وجې نه دا با حذف كړى شى دا ما بعد اسم به مرفوع وائى ځوك چې د سيبويه مقلد وي ځكه دا فاعل دى د هغه په نزد باندې او منصوب به وائى ځوك چې د اخفش مقلد وي ځكه دا مفعول به دى د هغه په نزد باندې.

| | |
|---|---|
| ٤٧٦- وحذف ما منه تعجبت استبح | إن كان عند الحذف معناه يضح |

**تركيب:** **و**: مضاف. **حذف**: مفعول به مقدم دا ستبح. **ما**: موصول مضاف اليه. **منه**: متعلق بتعجب جمله صله. **عند**: متعلق بيضح. معناه: اسم د كان. **يضح** جمله خبر كان.

**ترجمه:** جائز كوه په حذف د هغه معمول چې تعجب كړى دى تا د هغه نه په دى شرط سره كه چيرى معنى د دى متعجب منه يا معنى د فعل تعجب واضح كيدله په نزد د حذف د متعجب منه باندې مثال د دى لكه د اقول د الله تعالى شو ﴿أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ﴾ اى أبصربهم دا بهم حذف شوى دى د وجې د بهم سابقه نه چې هغه دلالت كوي په حذف د بهم باندې په و أبصر كې بل

مثال د دې لکه دا قول د شاعر شو:

| | |
|---|---|
| ارى ام عمرو ودمعها تحدرا | بكاء على عمرو و ما كان اصبرا |

اي ماكان اصبرها

**تركيب:** ام مفعول به. **ودمعها:** جمله حال متعلق محذوف. **تحدرا:** على خدّيها. **بكاء:** مفعول له وما كان اصبرا اى ما كان اصبرها. متعجب منه ضمير منصوب حذف شوى دى د وجې د دلالت كولو د كلام سابقه نه په دى باندې چې هغه ضمير مضاف اليه دى په دمعها كې بل مثال لكه دا قول د شاعر شو دا منسوب دى على بن ابى طالب ته:

| | |
|---|---|
| جزى الله عنى و الجزاء بفضله | ربيعة خيرا ما أعفّ و اكرما. |

**تركيب: والجزا:** مبتداء جمله معترضه واقع شوې ده بين العامل والمعمول. **بفضله:** خبر. **ربيعة:** مفعول اول. **خيرا:** مفعول ثانى. **ما اعف واكرما** اى ما اعفهم و اكرمهم متعجب منه. هم ضمير منصوب حذف شوى دى د وجې د دلالت د كلام سابق چې ربيعة دي بيا دا قاعده زده كړئ چې دا متعجب منه حذف كيږى غالباً په هغه ځاى كې چې دا فعل تعجب معطوف على مثله وى لكه دغه مثالونه شو د دې نه علاوه په نورو ځايونو كې حذف قليل دى.

| | |
|---|---|
| ٤٧٧- وفي كلا الفعلين قدمًا لزما | منع تصرف بحكم حتما |

**تركيب: فى:** متعلق بلزم. **قدما:** ظرف متعلق بلزم. **منع:** فاعل لزم اضافة الى المفعول. **بحكم** متعلق بلزم. **حتما:** جمله صفة لپاره د حكم.

**ترجمه:** او لازم شوى دى منع د تصرف په حكم وجوبى سره په دغه دواړه فعلين كې چې ما أفعَلَ او أفعِلْ به دى د زمانې پخوا نه د ادم بابا پيدائش نه واخله تراوسه پورې ټول نحويانو اتفاق كړى دى چې تصرف په فعل تعجب كې ممتنع دى ددى نه فعل مضارع او اسم فاعل او اسم مفعول او تثنيه او جمع نه جوړيږى دا د افعال غير متصرفه ؤ نه دى په شان د عسىٰ لكن دا فعل تعجب جوړ وي د چا نه ناظم وايي:

| | |
|---|---|
| ٤٧٨- "وصغهما من ذي ثلاث، صرفا | قابل فضل، تم، غير ذي انتفا" |

**تركيب: من:** متعلق بصُغ. **ذى:** نعت اول لفعل محذوف **صرفا:** نعت ثاني. **قابل:** نعت ثالث. **تم:** جمله نعت رابع **غير:** نعت خامس. **انتفا:** مضاف اليه مقصور للضرورة.

**ترجمه:** جوړوه ته دغه فعلينو لره چې ما أفعَلَ او أفعِل به دى د هغه فعل نه چې هغه خاوند د دريو حروف اصليه ؤ دى داسې فعل ذو ثلاثة چې هغه متصرف وي او د هغې تصرف شوي دي او داسې فعل چې هغه قابل د زيادة او كمى وي لكه حسن شو چې قابل د زيادة او كمى دى بل

مثال لكه سخاء او نضرة شو چې قابل د زيادة او كمي شد **تم**: او داسې فعل چې تام وي چې يواځې فاعل باندې تماميږي او داسې فعل چې نه وي خاوند د نفي يعنى منفي نه وي اولاً شل عشره لپاره صاحب د شرح جامي ويلي دی چې دا شاذ دی او شاذ سره قاعده نه ورانيږي.

| | |
|---|---|
| وغير سالك سبيل فعلا" | ۴۷۹- "وغير ذي وصف يضاهي أشهلا، |

**تركيب: وغير**: عطف په غير سابق باندې دی. **وصف**: موصوف. **يضاهي**: جمله صفت **اشهلا**: مفعول به. **وغير**: عطف په دی مخکنې غير باندې. **سالك**: ضمير مستتر فاعل. **سبيل**: مفعول به د سالك لپاره. **فعلا**: مضاف اليه.

**ترجمه**: او بل جوړه وه ته فعل تعجب لره د هغه فعل ثلاثي مجردونه چې غير وي د هغه فعل نه چې هغه خاوند د وصف دی هسې وصف چې مشابه كيږي اشهل سره په دلالت كولو كې په رنگ او په عيب باندې يعنى فعل تعجب به جوړوي د مادی د لون اوعيب نه چې صفت مشبه د هغې راځي افعل په وزن باندې او غير وي د هغه فعل نه چې هغه تلل كوي په لاره د صيغې د مجهول يعنى فعل تعجب نه جوړيږي د فعل مبني للمفعول نه. او د كم شئ لپاره فعل نه وي د هغې نه نه جوړيږي مثال لكه حمار او شجر شو.

**تشريح**: حاصل د دې بيتينو دا دی چې بنا د فعل مشروط دی په شروط ثمانيهٔ سره. ۱: اول شرط دا دی چې دې مادې لپاره به فعل وي. ۲: ثلاثي مجرد به وي او ثلاثي مزيد او رباعي نه نه جوړيږي دې لپاره چې التباس رانه شي د فعل د تعجب د مجرد سره. ۳: متصرف به وي او غير متصرف نه فعل تعجب نه جوړيږي. ۴: قابل د تفضيل به وي، تام به وي. مثبت به وي او منفي نه فعل تعجب نه جوړيږي دې لپاره چې التباس رانه شي مثبت سره. ۷: ماده لون او عيب به نه وي چې صفت مشبه د هغه راځي افعل په وزن باندې. ۸: معلوم به وي د مجهول نه فعل تعجب نه جوړيږي ځكه بيا لازميږي التباس په ما بين د معلوم او مجهول كې لكه ما انصر زيدا كې دا پته نه لګيږي چې تا تعجب د ده د نصر نه وكړو او كه د ده د منصورية نه، او كه د دې اته شرطونو نه يو شرط منتفي شي فعل تعجب نه جوړيږي او كه بالفرض جوړ شوي وی په استعمال د كلام د عربو كې هغه به شاذ وي مثال لكه ما اعطاه للدراهم شو.

| | |
|---|---|
| يخلف ما بعض الشروط عدما" | ۴۸۰- "وأشدد أو أشد أو شبههما |

**تركيب: واشدد** مراد اللفظ مبتداء **يخلف** جمله خبر ضمير مستتر راجع الى احد المذكورات فاعل **ما** موصوله مفعول به موصوف د دی محذوف دی **بعض** مفعول به مقدم **عدما** جمله صله د موصول.

**ترجمه**: اى واشدد او اشد او شبهما ما يخلف بما التعجب الذي عدم بعض الشروط يعنى لفظ

د اشدد یا اشد یا شبه د دی دواړو چې هغه په ادا د معنی تعجبي کې چې هغه اکثرا وا زید دی داخليفه کيږي د هغه فعل نه چې ورکړي وي دي فعل تعجب بعض شرطونه خپل او بعض شروط د فعل تعجب په هغې کې معدوم وي.

| وبعد أفعل جره بالبا يجب | ٤٨١- ومصدر العادم -بعد- ينتصب |
|---|---|

**ترکیب: ومصدر:** مبتداء مضاف. **العادم:** مضاف اليه موصوف محذوف ای الفعل العادم. **بعد:** مبني علي الضمه ځکه مضاف اليه محذوف منوي دی، **بعد افعل** متعلق بینتصب جمله خبريه **جره** مبتداء **با:** متعلق بجر. **یجب:** جمله خبر.

**ترجمه:** او مصدر د هغه فعل چې هغه ورك کوونکې دی شرطونه د فعل تعجب لره منصوب کيږي دپس د اشد نه او پس د اشدد نه واجب دی جر د دی په با سره.

**تشریح:** حاصل د دی بيت دا دی چې د دی شروط مذکورونه یو شرط منتفي وي د هغې نه خو فعل تعجب نه جوړيږي او تا اراده کړي ده معنی د فعل د فعل تعجب د دی ما دی ممتنعه نه دا معنی تعجبي د ما دی ممتنعه نه ادا کولو لپاره طريقه به ځنګه وي په دی بيتين کې ناظم صاحب معنی تعجبي د مادی ممتنعه نه ادا کولو لپاره طريقه بيان کړي دی هغه طريقه دا ده يو ماده د ثلاثي مجرد نه وګوره چې هغه دلالت کوي په شدة باندې يا په قوة باندې يا په زيادت باندې يا په کثرت د هغې نه وزن افعل يا افعل جوړ کړه دا جامع د شروط مذکورو دی او د هغه ماده ممتنعه نه چې هغه عادم دشروط مذکوره ؤ وي مصدر راواخله هغه منصوب ذکر کړه وروسته د اشد نه او مجرور بالبا ذکر کوه وروسته داشددْ نه مضاف کوه فاعل دفعل ته معنی دفعل تعجب په ادا شي مثال لکه ته تعجب وکړي بياض د زيد نه او تا اراده وکړه اظهار د تعجب نو اظهار د تعجب به ځنګه کوي د دې نه فعل تعجب خو نه جوړيږي ځکه دا ماده د لون دي ددي نه صفة مشبهه راځي افعل په وزن باندې لکه ابيض شو نو اظهار د تعجب چې کوي د دې نه مخکې لفظ د اشد يا اشددْ راوړه او د دې بيا ض مصدر ذکر کړه منصوب وروسته د اشد اومجرور بالباء ذکر کوه وروسته داشْددْ نه مضاف فاعل دفعل ته نوما اشد بياض زيد اشد دبياض زيد وايه.

| ولا تقس على الذي منه أثر" | ٤٨٢- "وبالندور أحكم لغير ما ذكر |
|---|---|

**ترکیب: وبالندور** متعلق باحکم **لغیر** متعلق باحکم **ما** موصوله **ذکر** جمله صله **منه** متعلق باثر **اثر** جمله صله.

**ترجمه:** حکم کوه ته په ندرة سره اونادر والي سره لپاره دهغه فعل تعجب چې دي جوړ شوي وي

غير دهغه مادې نه چې ذکر شوي دي مخکې اوقياس مه کوه ته په هغه فعل تعجب باندې چې هغه نقل کړی شوی دی دعربو نه غير د ما ذکرنه يا د ماده ممتنعه نه په هغې باندې سمع شوي دی نور قياس په هغې باندې نه شي کولې لکه مااعطاهم للدار هم، ما اولهم للمعروف ما اخصره من اختصر شو.

| | |
|---|---|
| ٤٨٣- وفعل هذا الباب لن يقدما | معموله، ووصله بما الزما |

**ترکيب: وفعل:** مبتداء، **لن:** خبر. **يقدما:** متعلق د دې محذوف دی ای عليه. **معموله:** نائب فاعل. **ووصله:** مفعول به مقدم. **به:** متعلق بوصله. **الزما:** امر من لزم يلزم. والف بدل من نون التاکيد الخفيفة.

**ترجمه:** فعل د دې باب تعجب چې دی هيڅ کله نه شي مقدم کولی معمول ددې فعل تعجب په فعل تعجب باندې او لازموه ته پيوستوالی د معمول ددې فعل تعجب په دې فعل تعجب سره يا پيوستوالی ددې فعل تعجب معمول خپل سره يعنی تقديم دمعمول دفعل تعجب په فعل تعجب باندې جائز نه دی. ١: ځکه دا ضعيف العمل دی د وجې دعدم تصرف نه عمل کوي په معمول متاخر باندې او معمول مقدم باندې عمل نه شي کولې. ٢: يا دا فعل تعجب پس دنقل د خبر نه تعجب ته ګرځيدلی دی په شان د ضرب مثل لهذا په دې کې تغير جائز نه دی د هغې په شان او بل دا چې دَ معمول د فعل تعجب فصل د فعل تعجب نه جائز نه دی ځکه دا ضعيف العمل دي عمل کوي سره د وصل نه اومع الفصل عمل نه شي کولې.

| | |
|---|---|
| ٤٨٤- وفصله بظرف، أو بحرف جر | مستعمل، والخلف في ذاك استقر |

**ترکيب: وفصله** مبتداء **بظرف او بحرف** متعلقان بالفعل **مستعمل** خبر **والخلف** مبتداء **في ذاک** متعلق بالخلف **استقر** جمله خبر.

**ترجمه:** او فصل د معمول د دې فعل تعجب نه په ظرف سره يا حرف جر سره ثابت دي او مستعمل دی په استعمال دکلام د عربو کې په دې شرط سره چې دامتعلق وي فعل تعجب پورې والافلا. فلايقال ما احسن بمعروف امرا، ما احسن عندك ثباتا، ما احسن في المسجد اعتکافا، احسن عند زيد بجلوسك، او اختلاف د نحو يانو په دې کې ثابت دی يعنی فصل په مابين دفعل تعجب او معمول دده کې ظرف اوحرف جرنه علاوه بل شي سره جائز نه دي قياسا بالاتفاق اوس فصل په ظرف او جار مجرور سره جائز دي اوکه نه په دې کې خلاف دي.

١: فراء او مازنی وايي دا جائز دي ځکه دا مسموع دي د عربونه مثال لکه په دې قول دشاعر کې:

وقال نبي للصحابة تقدموا واحبب الينا ان يکون المقدما

**ترکيب: واحبب** فعل تعجب. **ان يکون** معمول بحذف البا ای بان يکون.

ای احبب بکونك المقدم الینا دلته فصل راغلی دی دفعل تعجب او د معمول په مینځ کې جار مجرور سره چې الینا دي بل مثال داقول د معدیکرب شو:

| | |
|---|---|
| لله درُّ بني سليم | ما احسن في الهيجاء لقاءها |
| واكرم في اللزبات عطاء ها | واثبت في المكرمات بقاءها |

في اللزبات: ای شدائد، جمع لذبة.

۲ : اخفش او مبرد وائي جائز نه دی وجه هغه ده چې مخکې مونږ ذکر کړه چې دا په شان د امثال دي په دې کې تغیر او تصرف جائز نه دي اوکوم مثالونه چې منقول دي دعربونه په فصل سره هغه سماعي دي د موقوف دي په سمع پورې فلايقاس عليه غيره دارنګې فصل جائز دي کان زائده سره نحو ماکان اضح علم من تقدما دامخکې تیر شوي دي په بحث د افعال ناقصه ؤ کې بل مثال لکه دا قول دشاعر شو:

| | |
|---|---|
| اری ام عمرو ودمعها تحدرا | بكاء على عمرو وماكان اصبرا |

ما کان اصبر کې اصبر فعل تعجب دي اوکان زائده دي او معمول د اصبر حذف شوی دی کما مر

## نعم وبئس وماجرى مجراهما

دا ما سیاتي تر یو حده پورې بحث د نعم بئس او د هغه افعالو دی چې هغه جاري کیږي په ځای د جاري کیدو د نعم او د بئس باندې په انشاء د مدح او د ذم کې لکه ساء دایوفعل دي جاري کیږي په مجری د بئس باندې دارنګي حبذا یوفعل دي دلالت کوي په انشاء دمدح باندې په شان دنعم. ناظم په دې کتاب کې د دې تولونه بحث کوي.

| | |
|---|---|
| ٤٨٥- فعلان غير متصرفين | نعم وبئس، رافعان اسمين |

**ترکیب: فعلان:** موصوف خبر مقدم. **غیر:** صفة اول **نعم:** مراد اللفظ مبتداء مؤخره. ۱: صفة ثاني.

۲: خبر د مبتداء محذوف. ای هما رافعان. **اسمین:** مفعول به لپاره د رافعان. ولايجوز ان يكون غير متصرفين و رافعان اخباراً لنعم و بئس لانهما قيد فعلان.

**ترجمه:** نعم او بئس دادواړه فعلونه دي داسې فعلین چې نه دي متصرفین او داسې فعلین چې دوی عمل د رفع کوي په دوه اسمونو کې.

**تشریح:** نعم او بئس افعال دي اسماء نه دي عند الجمهور دلیل په فعلیة ددوی باندې اتصال د تای تانیث دي ای نعمت وبئست بیا دا افعال غیر متصرفه دي ګردان په دې کې نه کیږي یعنی اسم فاعل اواسم معفول مضارع د دې نه راځي او هر یو د دې دواړو نه رفع ورکوي اسم لره بنا بر فاعلیة.

**سوال:** فعل خو په دې وزن باندې چيرته نه دی راغلي په استعمال د كلام دعربو كې ځكه فعل د ثلاثي مجردنه فَعَلَ په وزن باندې راځي لكه ضرب شو يافعِل په وزن باندې راځي لكه علِم شو يا فعُل په وزن باندې راځي لكه كرُم شو او دا يو د هغوی نه ندي؟

**جواب:** په دې نعم او بئس كې څلور لغتونه جائز دي. ١ : نعْم. ٢: نَعِم. ٣ : نَعْم. ٤ : نِعِم.

٢ : جمهور كوفيان وائي دا اسماء دي نه افعال يعنى اصل وضع كې فعل ووبيا دهغې نه نقل شوي دي اسم جوړ شوی دی اوس دا اسماء دي دليل هغوی لپاره په اسميه ددي دواړو باندې دخول د حرف جر دی په نعم او بئس باندې په استعمال دكلام د عربو كې مثال د دخول د حرف جر په لبئس باندې لكه دا قول د عربو شو په باره د هغه سړي كې وقد سار الى محبوبته علي حمار بطئ السير نعم السير علي بئس البعيرُ او اتصال دتاء تانيث دا په اعتبار د اصل وضع سره دي.

**جواب:** د طرف د بصريانو نه دا دي په دې مثالونو كې دا نعم او بئس معمول لپاره قول محذوف دي او هغه قول صفة لپاره د موصوف محذوف دي كيږي تقدير د عبارة دارنګي ماهي بولد مقول في حقه نعم الولد نعم السير علي بعير مقول في حقه بئس العير صفة اوموصوف دواړه حذف شوي دي دا معمول د صفة قائم شوي دي په مقام د دې دواړو باندې سره دبقاء دفعليه د نعم او بئس نه نوكوفيانو په نزد باندې نعم الرجل زيد، او بئس الرجل زيد جمله اسميه دي تركيب داسې كوي زيد مبتداء مؤخر نعم مبدل منهٔ يا مبين الرجل بدل يا عطف بيان ځكه نعم اسم دي د دې نه اراده كولي شي ممدوح فتكون العبارةُ هكذا الممدوح الرجل زيد المذموم الرجل زيد مبدل منه سره د بدل نه يا مبين سره د عطف بيان نه خبر مقدم مبتداء مؤخر سره د خبر مقدم نه جمله اسميه انشائيه.

بصريانو په نزد باندې بئس الرجل اونعم الرجل جمله فعليه دي تركيب داسې كوي زيد مبتداء مؤخر نعم الرجل فعل فاعل جمله فعليه خبر مقدم او يواځې نعم الرجل دكوفيانو په نزد باندې مفرد دی او د بصريانو په نزد باندې جمله فعليه دي لكن فاعل دنعم اود بئس كله راځي اسم ظاهر او كله راځي ضمير مبهم اسم ظاهر چې راځي كله هغه معرف باللام وي اوكله مضاف وي معرف باللام ته بالذات يا بالواسطه او فاعل ضمير مبهم چې راشي د هغې تميز راځي غالبا نكره منصوبه اوكله راځي كلمه د ماپه معنى د شئ سره، د دې فاعل بيان كوي ناظم په د دوه بيتينو كې:

| | |
|---|---|
| ٤٨٦- مقارني "أل" أو مضافين لما | قارنها: كـ"نعم عقبى الكرما" |

**تركيب: مقارني:** صفة اسمين و كلمة او للتخيير **مضاف ال:** مضاف اليه. **لما:** متعلق بمضافين. **ما:**

موصوله نعت لاسم محذوف. **قارنها:** جمله صله. **كنعم:** خبر د مبتداء محذوف. **عقبى:** مضاف فاعل د نعم. **الكرما:** مضاف اليه مقصور للضرورة.

**ترجمه:** داسې دوه اسمونه چې هغه به خپله مقارن به وي په الف لام عهد ذهنيو سره مثال لكه **نعم المولي ونعم النصير** بئس الشراب الخمر بئس الرفد المرفود شو يا به مضاف ئي هغه اسم جنس ته چې هغه مقارن دى الف لام عهد ذهنيو سره دا اضافة عام دي بالذات وي مثال لكه: نعم عقبي الكرماء ولنعم دارالمتّقين و بئس مثوى المتكبّرين شو يا به مضاف وي بالواسطه مثال لكه نعم حكيم شعرء الجاهلية زهير، زهير بن ابي سلمي دايو شاعر تير شوي دي په سبعه معلقه كې. دريمه قصيده د دې ده فاعل چې اسم ظاهر راشي داپه حقيقه كې درې قسم شو معرف باللام مضاف معرف باللام ته بالذات مضاف مضاف دمعرف باللام ته.

| | |
|---|---|
| ٤٨٧- ويرفعان مضمرًا يفسره | مميز: كـ"نعم قومًا معشره" |

**تركيب: ويرفعان:** عطف على الافعال او عطف د جمله په مفرد باندې جائز دى چې دا مفرد مشتقي وي نحو صافات و يقبضن. **مضمرا:** مفعول به بحذف الموصوف اى اسماً مضمراً موصوف. **يفسره:** جمله صفة. **كنعم:** خبر د مبتداء محذوف. **قوماً:** تميز لغير مستتر في نعم. **نعم قوماً** جمله خبر مقدم **معشره** مبتداء مؤخره.

**ترجمه:** اورفع وركوي دا نعم او بئس ضمير مستتر مبهم لره هسې مضمر چې د هغې بيان كوي مفسِر چې هغه اسم نكره منصوبه دي مثال لكه نعم قوماً نيك دي هغه يو هغه يو څوك دي چې هغه جهة دقوم دي معشره ډله د دې چې د نيك قوم نيك دي اوكله دا اسم نكره منصوبه راځي كله كله د ما په معنى د شيئا سره راځي بناء په يو مذهب باندې كقوله تعالى ﴿فَنِعِمَّا هِيَ﴾ اى نعم شيئا ابداؤها فاعل د نعم او د بئس ضمير مبهم راشي په هغې كې درې خبرې لازم دي. ١: افراد. ٢: استتار. ٣: مميز بنكره منصوبه.

| | |
|---|---|
| ٤٨٨- وجمع تميز وفاعل ظهر | فيه خلاف عنهم قد اشتهر |

**تركيب: وجمع:** مبتداء اول. **ظهر:** جمله صفة د فاعل. **فيه:** خبر مقدم. **خلاف** مبتداء مؤخر جمله خبر مبتداء اول. **عنهم:** متعلق باشتهر جمله صفة د خلاف.

**ترجمه:** جمع كيدل د تميز سره د فاعل اسم ظاهر نه لپاره ايضاح اختلاف په دې كې په تحقيق سره مشهور دى د نحويانو نه يعني فاعل د نعم او د بئس ضمير مبهم راشي تميز فاعل سره راځي بالاتفاق لپاره رفع دابهام دفاعل ضمير مبهم نه اوس فاعل دنعم اود بئس اسم ظاهر معرف باللام راشي بيا فاعل سره تميز راځي اوكه نه په دې كې خلاف دي. ١: مبرد اوابن

سراج وائي مطلقا چې دا تميز مفيد دفائده وي لكه نعم الرجل فارسا. ساء الرجل فارسا اوكه مفيد دفائده نه وي لكه نعم الرجل رجلا زيد دليل هغوى لپاره داقول دشاعر دي:

والتغلبيون بئس الفحل فحلهموا فحلا وامهمو زلأء مِنطيق

اي بئس الاب ابهم ابا. وامهم قليلة لحم الاليتين تعظم عجيزتها بازارها. التغلبيون بفتح اللام غالباً جمع تغلبي منسوب بسوى تغلب الانصاري. عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دوى نه جزيه طلب كړې وه هغوى انكار وكړو د دې جزيې وركولو نه په نوم د جزيې سره. عمر رضي الله سره دوى مصالحت وكړو مونږ به دا جزيه تاله دوچنده دركوو په اسم د صدقې سره.

مثال د نعم لكه دا قول دشاعرشو:

تزود مثل زاد أبيك فينا فنعم الزاد زاد أبيك زادا

٢: سيبويه او سيرافي وائي داجائز نه دي مطلقا ځكه تميز رفع دابهام لپاره راځي اوفاعل د دې اسم ظاهر راشي په هغې كې ابهام نشته دي او جواب دَ دليل د مبرد او د ابن سراج نه دا دي. ١ :يجوز في الشعر ما لايجوز في غيره يعني په دي اشعارو كې جمع په مابين دتميز او فاعل كې راغلي ده د وجې د ضرورة شعري نه او خبره زمونږ په سعةُ دكلام كې دي. ٢ : په دې اول شعر كې د فحلا حال مؤكده واقع شوي دي د مخصوص بالذم نه چې الفحل دي او فحلهم بدل واقع شوى دى د الفحل نه اوپه دې دويم شعر كې دا زادا مفعول به واقع شوي دي تزود لپاره مثل زادا بيك حال واقع شوي دي ددي زادا انه اي تزود زادا مثل زاد بيك اوحال واقع شي د ذوالحال نكره نه تقديم د حال واجب دي په ذوالحال نكره باندې لپاره د دې چې التباس رانه شي حال دصفة سره هركله چې دا مقدم شو معلومه شوه چې داحال دى نه نعت ځكه تقديم دصفة په موصوف باندې جائز نه دى اوحال په ذوالحال باندې مقدم كيږي. ٣ : بعض نحويان وائي كه دي تميز دلالت كوو زياتي فائده باندې جائز دي نحو نعم الرجل فارسا زيد والافلا نحو نعم الرجل زيد.

| | |
|---|---|
| ٤٨٩- و"ما" مميز، وقيل: فاعل، | في نحو: "نعم ما يقول الفاضل" |

**تركيب: وما:** مراد اللفظ، مبتداء. **مميز:** خبر. **فاعل:** خبر د مبتداء محذوف اى هو فاعل جمله نائب فاعل. **نحو:** حال از ضمير فاعل. ٢: ما بعمنى الشيء فاعل او مابعد جمله صفة واقع شوى ده لپاره مخصوص بالمدح محذوف اى نعم الشيء شيء يقوله الفاضل.

**ترجمه:** كلمه دما اولفظ دماميز دي اوچا ويلي دي دالفظ دما فاعل دي په مثل ددي قول دعربو كې چې نعم مايقول الفاضل دي مراد په دي سره هر هغه تركيب دي چې كلمه دمامتصل

شوي دي په نعم يا بئس پورې اودهغې نه وروسته متصل فعل راغلي وي لکه دغه مثال مذکور شو بل لکه داقول دالله تعالي شو ﴿نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ﴾ ﴿بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهِ أَنفُسَهُمْ﴾
١: ماموصوله ما بعد جمله صله مخصوص بالمدح محذوف. ٢: مابمعنى شيئا تميز لضمير مستتر مبهم ما بعد جمله صفة او مخصوص بالمدح محذوف دي اي نعم الذي يعظكن به وعظه، نعم شيئا يعظكم به هو يا د هغې نه وروسته متصل اسم راغلى وي مثال لکه قوله تعالي: ﴿إِن تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ﴾ شو په دې کې دوه ترکيبونه دي. ١: په دې نعم کې ضمير مستتر دی مبهم مميز ما بمعنى شيئا تميز موصوف يقول الفاضل جمله صفة واقع شوی دی او عائد ضمير منصوب مفعول به حذف شوی دی اومخصوص بالمدح هم حذف شوي دي نو شو تقدير دارنګې نعم شيئا يقوله الفاضل قول الفاضل.
**معنى:** نيک شئ دی هسې شئ چې وائي هغه لره قائل بهتر چې هغه قول دفاضل دي. دويم ترکيب دا دی چې ما نکره موصوفه فاعل دي او صفة د دې حذف شوی دی او ما بعد جمله قائم شوې ده په مقام د مخصوص بالمدح کې نو شو تقدير د عبارة دارنګې نعم شئ حسن يقوله الفاضل اي قوله ومقوله.
**معنى:** ښه دی شئ هسې شئ چې حسن دی چې هغه قول د فاضل دي يا ما موصوله فاعل دی ما بعد جمله صله اومخصوص بالمدح حذف شوي دي ای نعم الذي يقوله الفاضل قول الفاضل.

| | |
|---|---|
| ٤٩٠- ويذكر المخصوص بعد مبتدا | أو خبر اسم ليس يبدو أبدا |

**ترکيب: ويذکر:** نائب فاعل. **بعد:** متعلق بيذکر مبني على الفه خکه مضاف اليه محذوف شوی دی ای بعد نعم و بئس وفا عليهما. **مبتداء:** حال از مخصوص. **خبر:** عطف على مبتداء. **ليس:** ضمير مستتر راجع بسوی اسم د ليس. **ابدا:** منصوب على الظرفية. جمله خبر د ليس بيا جمله نعت ثاني واقع شوې ده اسم لپاره او نعت اول مقدر دی.
**ترجمه:** اوذکر کولي شي مخصوص بالمدح اوذم وروستو د فاعل د نعم او د بئس نه يا وروستو د افعال مدح او د ذم نه په حال کون د دې مخصوص کې چې دی به مبتداء وي او يا خبر وي لپاره د هغه اسم چې هغه محذوف دي او هغه نه ظاهرېږي تول عمر مثال لکه نعم الرجل زيد شو په دې کې مشهور درې ترکيبه دي. ١: زيد مبتداء دي اونعم الرجل جمله خبرمقدم ي. ٢: زيد مبتداء دي خبر ددې محذوف دي ای الممدوح اونعم الرجل ځان له جمله دي. ٣: زيد خبر دي لپاره مبتداء محذوف ای هو زيد اودامبتداء حذف شوې ده په حذف وجوبي سره لانه وقع جواب سوال فقال السائل من هو حين قلت نعم الرجل فقلت مجيبا زيدای هو زيد او نعم الرجل

خان له جمله ده دوه ترکيبونه لري نور دي هغه غير مشهور دي ۱: الرجل مبدل منه زيد بدل مبدل منه سره دبدل نه فاعل. ۲ : الرجل مبين زيد عطف بيان مبين سره دبيان نه فاعل اوفاعل سره دفعل نه جمله فعليه انشائيه.

| | |
|---|---|
| ٤٩١- وإن يقدم مشعر به كفى | ك"العلم نعم المقتنى والمقتفى" |

**ترکيب: وان يقدم** شرط **مشعر** أصفة د موصوف محذوف اى لفظ مشعر. **به**: متعلق بمشعر ضمير راجع دى مخصوص ته **كفى** جزا متعلقه محذوف اى من ذكره بعد المخصوص **كالعلم** خبر د مبتداء محذوف **المقتنى** بمعنى مكتسب **والمقتفى** بعمنى متبع جمله خبر د مبتداء چې العلم دى.

**ترجمه**: كه چيرې مقدم راغى داسې لفظ چې هغه خبر وركوونكي وو په مخصوص باندې داپوره دى اوكافي دى د ذكر كولو دمخصوص نه يعنى مخصوص به وروسته نه ذكر كوي اوكه ته وائې ماته مثال وښايه چې مخكې اسم مشعر على المخصوص باندې ذكر شوي وي او مخصوص وروسته ذكرشوى نه وي. **جواب**: دي وائي مثال لكه العلم الخ شو.

**معنى**: علم ښه مكتسب او ښه مقتدى دي يعنې نيك مال په مالونوكې جمع كولو لپاره علم دى اونيك مقتدي او امام چې تابعداري د هغې كولى شي علم دى اوس دلته په دې مثال كې العلم مبتداء دي اونعم الخ جمله خبردي اومخصوص بالمدح حذف شوي دي چې العلم دي خكه دا مخكې العلم دلالت كوي بيا ذكر كولو ته ضرورة نشته اوكه داباب دتقديم دمخصوص بالمدح نه شي په فعل مدح باندې بيا مثال نه جوړيږي بيا مثال ددي لكه داقول دالله تعالي شو ﴿نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ﴾ دلته مخصوص بالمدح حذف شوي دي اي وعظه او دال په دې باندې يعظكم به دي ﴿إِنَّا وَجَدْنَٰهُ صَابِرًا ۚ نِّعْمَ الْعَبْدُ ۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ﴾ دلته مخصوص بالمدح حذف شوي دي هو ضمير چې راجع دي ايّوب ته خكه د ده ذكر مخكې شوى دى ﴿وَاذْكُرْ عَبْدَنَآ أَيُّوبَ﴾ هغه دلالة كوي چې دلته عبد نه مراد ايوب عَلَيْهِ السَّلَام دي. ﴿وَالْأَرْضَ فَرَشْنَٰهَا فَنِعْمَ الْمَٰهِدُونَ﴾ دلته مخصوص بالمدح حذف شوي دي دامعلوميږي د سياق د آية نه.

| | |
|---|---|
| ٤٩٢- واجعل كبئس "ساء" واجعل فعلا | من ذي ثلاثة كنعم مسجلا |

**ترکيب: واجعل** في الحكم والمعنى **كبئس** مفعول ثاني **ساء** مراد اللفظ مفعول اول **فعلا** مفعول اول **من** حال از فعل. **ثلاثة** في الحكم فقط لافي المعنى لان فعُل و قد يجيء بمعنى نعم و قد يجيء بمعنى بئس **مسجلا** من الاسجال بمعنى الارسال حال د فعُل نه يا د نعم نه **كنعم** مفعول ثاني.

**ترجمه**: اي واجعل فعل من ذي ثلاثة كنعم مطلقا في جميع احكامها يعنى وګرځوه په لفظ

دساء لره په شان د بئس په حكم اوپه معنى كې وګرځوه فعل ماضي مضموم العين دفعل ثلاثي مجرد نه په دنعم په حكم او په استعما ل كې په حال كون د دې نعم كې چې دا مطلق وي. يا په حال كون د افعُل كې چې دا مطلق دي يعنى دافعل انشاء دمدح لپاره وي اوكه انشاء د ذم لپاره وي اود هغه ثلاثي مجرد ماضي مضموم العين وي دهغي نه هم جوړيږي اوكه مضموم العين نه وي د هغې نه هم جوړيږي مثال د فعل چې ماضي مضموم العين د ثلاثي مجرد نه راغلى دى په شان دنعم په استعمال كې لكه دا قول دالله تعالي شو ﴿كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ﴾ اى بئست كلمة غتيه كلمه ده د جهة د ناكاره والي نه چې هغه كلمه ووځي د دې خولې نه چې هغه ﴿اتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا﴾ دي اومثال دفعل چې راغلي دي دماضي مكسورالعين د ثلاثي مجرد نه په شان دنعم په استعما ل كې لكه علُم الرجل زيد شو اومثال دفعل چې راغلي دي په شان د نعم په استعمال كې دماضي مفتوح العين دثلاثي مجردنه لكه عقُل الرجل زيد شو او بعض نحويان د ماضي مفتوح العين اومكسورالعين دثلاثي مجردنه مضموم العين نه جوړوي بلكه دغه شان مفتوح العين اومكسور العين دال ګر خوي په انشاء دمدح اوذم باندې.

| | |
|---|---|
| ٤٩٣- ومثل نعم "حبذا"، الفاعل "ذا"، | وإن ترد ذمًا فقل: "لا حبذا" |

**تركيب ومثل:** خبر مقدم يا بالعكس. **حبذا:** مبتداء مؤخر. **الفاعل:** مبتداء. **ذا:** خبر. **وان:** شرط. **ترد:** مفعول به. **فقل:** جزا. **لاحبذا:** مقوله د قول مفعول به د قل لپاره.

**ترجمه:** او حبذا په مثل دنعم دي په معنى كې نه په حكم كې ځكه بعض احكام كې دادهغي نه مخالف دي وروسته به راشي او فاعل دحَبّ دغه ذا اسم اشاره دي په حبذا كې. اوكه ته اراده كوي دم په دې حبّذا سره ووايه لاحبذا زيد نه دي غوره زيد يعنې بد دى يا خداى دې غوره نه كړي زيد. مثال د حبذا بمعنى نعم حبذا زيد بمعنى نعم الرجل زيد مثال د لاحبذا بمعنى د بئس لكه په دې قول د شاعر كې الأحبذا اهل الملا غير انه اذا ذكرت هى فلا حبذا هيا اى هي مخصوص بالذم.

| | |
|---|---|
| ٤٩٤- وأول "ذا" المخصوص، أيا كان، لا | تعدل بذا: فهو يضاهي المثلا |

**تركيب واول:** فعل امر متعدي الى مفعولين. **ذا:** مفعول اول. **ايا:** مفعول ثاني، اسم شرط خبر د كان مقدم تنوين عوض د مضاف اليه نه اى اي شيء ضمير مستتر راجع الى المخصوص اسم د كان. **بذا:** متعلق بتعدل او مفعول به د دې حذف شوى دى المخصوص. **فهو:** فا تعليلي. **المثلا:** جمله خبر د مبتداء چې هو دى.

**ترجمه:** واقع كوه ته متصل بلا فصل وروستو د ذا اسم اشاره نه هغه اسم چې هغه مسمى كولي

شي په مخصوص بالمدح سره هرڅنګه چې وي اوس د دې اياً کان څه معنی؟ ته مه موافق کوه هغه مخصوص لره ذا سره په افراد او تثنية او جمعية او تذکير اوتانيث کې يعنی هغه تثنيه وي هم وروسته د ذا نه واقع کړه نحو حبذا الزيدان. او که هغه جمع وي هم وروسته د ذا نه ذکر کړه نحو حبذا الزيدون. او که هغه مؤنث وي هم وروسته د ذا نه ذکر کړه نحو حبذا هندا او که مذکر وي هم وروسته د ذا نه ذکر کړه نحو حبذا زيد او دا ذا به هميشه مفرد مذکر وي اوس دا اذا به هميشه مفرد مذکر ولې وي؟ ځکه دا مشابه دی ضرب مثل سره او په امثال کې تغير نه شي کولی نو دې کې هم تغير نه شي کولې. ددې نظم نه مونږ ته درې خبرې معلومې شوې:

۱: لکه څنګه چې نعم مخصوص بالمدح غواړي دارنګې حبذا هم مخصوص بالمدح غواړي

۲: لکن دومره فرق دی چې هلته مطابقة د فاعل د نعم مخصوص بالمدح سره ضروری دی او دلته دا فاعل هميشه مفرد مذکر راځي مخصوص بالمدح هر څنګه چې وي.

۳: تقديم د مخصوص بالمدح په حبذا باندې ممتنع دي دا معلومیږي د اول نه په خلاف د نعم نه هلته تقديم د مخصوص بالمدح په نعم باندې جائز دی.

| | |
|---|---|
| ۴۹۵- وما سوی "ذا" أرفع بحب، أو فجر | بالبا، ودون "ذا" انضمام الحا كثر |

**ترکيب وما:** موصوله مفعول به د ارفع موصوف د دې محذوف دی. **سوی:** مضاف، صله د موصول. **بحب:** متعلق بارفع. **فجر:** فا زائده عطف علی ارفع مفعول به د دې محذوف دی. **بالباء:** متعلق بجر. يا په اعتبار متعلق محذوف سره حال واقع شوی دی د ذوالحال محذوف نه. **ودون:** مضاف. **ذا:** مضاف اليه. **انضمام:** مبتداء. **الحاکثر:** جمله خبر.

**ترجمه:** ای ارفع الفاعل الذي استقر سوي ذابحب اوجره بالباء وانضمام الحاء من حب کثير حال کونه دون لفظ ذا يعنی رفع ورکوه ته په حب سره هغه فاعل لره چې سوا د ذا نه راشي يا جر ورکوه په باسره په شان د کفی بالله او ضمّه د حا په حب کې کثير دي د فتحې نه په حال کون د دې حب کې چې دا بغير د ذا نه راشي. ۱: فاعل د حب غالباً ذا راځي په استعمال دکلام د عربو کې بيا فتحه د حا واجب ده او ذا مرفوع محلا دی دائماً مجرور بالباء نه راځي اوکله کله فاعل د حب غير د ذا نه راځي په هغې کې دوه وجه جائز دي رفع نحو حب زيد مجرور بالباء نحو حب بزيد دارنګه په دې حا د حب کې دوه لغته جائز دي ضمه که نقل د حرکت کوي دحبُب نه ځکه حب اصل کې حبُب وو فتحه که حذف دحرکت کوي دادوه لغتونه بناء دي په حذف د حرکت او په نقل دحرکت باندې لکن ضمه اکثر ده د فتحې نه.

## افعل التفضيل

دا بحث د افعل التفضيل دي په اضافة د افعل الي التفضيل سره يې احتراز وكړو د افعل صفتي نه لكه احمر شو اوس افعل التفضيل څه ته وائي؟ افعل تفضيل يعنى اسم تفضيل په اصطلاح د نحو يانو كې هغه اسم ته وائي چې راځي په وزن د افعل باندې لپاره د دلالت كولو چې فاعل د دې اسم شريك دى د غير سره په اصل معنى مصدري كې او زائد دى په غير باندې مثال لكه زيد افضل من عمرو شو كله دلالت كوي په تفضيل بين الشيئين په صفتين متضادين كې يعنى فاعل د دې اسم تفضيل زيات دى په خپل صفة كې په شان د زيادة د اسم اخر په خپل صفة كې مثال لكه الصيف احرٰي من الشتاء شو اى هو اشد في حرّه من الشّتاء فى برده او بل مثال لكه العسل احلىٰ من النّحل شو اى هو أشدّ فى حلاوته من النّحل فى حموضته او كله كله اسم تفضيل مستعمليږي عاري دمعنى دصفة تفضيلي نه كله په معنى اسم فاعل سره ئي نحو قوله تعالى: ﴿رَبُّكُمْ اَعْلَمُ﴾ اي أى عالم بكم او كله په معنى د صفت مشبه شره وي مثال لكه اكرمت القوم اصغرهم و أكبرهم اى صغيرهم و كبيرهم، وقوله تعالى: ﴿وَهُوَ الَّذِىْ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِ﴾ اى هيّن عليه وقوله تعالى: ﴿اِعْدِلُوْا ۗ هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى﴾ اى هو قريب والالزم فساد المعنى چې اقرب په معنى داسم تفضيل سره شي د دې معنى به دا شي چې عدل ډېر نژدې دى تقوى ته د ظلم نه او ظلم لږ نژدې دى تقوى ته او دا معنى باطله ده ځكه ظلم منافي دي تقوي سره نژدې څنګه دي تقوي ته د دې وجې نه د أقرب نه دى مستعمل په يو د طرق ثلاثه ؤ سره وقول الشاعر:

ان الذي سمك السماء بني لنا بيتا دعا ئمه اعز واطول

سمك: دا متعدي هم راځي او لازم هم راځي متعدي په معنى د دفع سره مصدر د هغې سمك راځي او لازم په معنى د ارتفع سره. مصدر د هغې سموك راځي. فافهم.

عزيزة وطويلة اوكله په معنى د اصل فعل سره راځي لكه په مسئله دكحل كې شو ما رايت رجلا احسن في عينه الكحل منه في عين زيد، احسن اسم تفضيل عمل كړى دى په الكحل كې، رفع بناء بر فاعلية ځكه أحسن په معنى د حسُن سره دي او اسم تفضيل عارى دمعنى تفضيلي نه هله راځي چې دي مجرد وو دالف لام اودمن اواضافة الى نكرة او كه مستعمل وو په الف لام يا په من يا په اضافة الي نكرة سره بيا جائز نه دي تعرية د اسم تفضيل د معنى تفضيلى نه، مستعمل نه ماسوا د مسئله د كحل نه هلته مستعمل په من سر ه دى تعريه راغلي دي د وجه د حرف نفي نه او دا تعريه د اسم تفضيل د معنى تفضيلي نه سماعي دى فلا يقاس عليه على الاصح. اوس دا اسم تفضيل به د كومې مادې نه جوړيږي اودچانه جوړيږي ناظم د هغې بيان كوي:

| ٤٩٦- صغ من مصوغ منه للتعجب | "أفعل" للتفضيل، وأب اللذ أبي |
|---|---|

**تركيب من** متعلق بصغ موصوف محذوف. **مصوغ** نائب فاعـل **للتعجب** متعلق بمصوغ **افعل** مفعول به لصغ. **للتفضيل** متعلق بصغ. **وأبه** عطف على صغ. **اللذ** موصول لغة في الذي **ابى** ضمير مستتر هو راجع الى الموصول نائب فاعل جمله صله د موصول. موصول سره د صنې نه مفعول به.

**ترجمه:** جوړوه ته اسم په وزن د افعل باندې لپاره د دې چې دلالت وکړي په تفضيل او زيادة د موصوف د دې په غير باندې په وصف کې د هغه فعل نه چې جوړيږي د هغې نه افعل لپاره د تعجب، او منع کوه ته هغه چې منع کړی شوي وو په تعجب کې يعنی منع کوه ته جوړول د اسم تفضيل د هغه فعل نه او د هغه مادې نه چې منع کړی شوی دی جوړول د أفعَلُ لپاره د تعجب د هغه مادې نه ځکه لکه څنګه چې بناء د فعل تعجب مشروط وو په شروط ثمانيه ؤ سره دارنګې بنا د اسم تفضيل هم مشروط ده په شروط ثمانيه ؤ سره او هغه مخکې ذکرشوي دي په فعل تعجب کې اول شرط دا دی چې دې مادی لپاره به فعل وي اودا فعل ثلاثي مجردبه وي معلوم به وي مثبت به وي منفي به نه وي. او کومې مادې لپاره فعل نه وي د هغې نه اسم تفصيل نه جوړيږي لکه غير شو اوفعل ثلاثي مزيد او رباعي مجرد او رباعي مزيد فيه اوفعل غير متصرف او غير قابل للتفضيل لکه موت شو ځکه اسباب د مرګ ډير دي او موت يو دی كما قال الشاعر:

ومن لم يمت بالسيف مات بغيره وانما تنوع اسباب والموت واحد

او فعل مجهول اومنفي نه اسم تفضيل نه جوړيږي اوکه او مادې دلون او عيب ظاهري نه او هغه به شاذ وي لکه اولاهم، واعطاهم، فلان احمق من بالفرض د دې نه اسم تفضيل راغلي وو هبنقه شو او اسم تفضيل لپاره يو وزن دی چې هغه افعل دي يعنی اسم تفضيل راځي دَ افعل په وزن باندې او دا همزه حذف کولي شي په درې کلمو کې چې هغه خير، او شر، اوحبُّ دی اصل کې مثال د خير لکه خيرالناس من ينفع الناس شو وقوله تعالى: ﴿هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ﴾ اخير الناس وو حرکة يې نقل کړو ماقبل له ورکړه خلاف القياس او همزه حذف کړی شوه د وجې دکثرت استعمال نه په کلام دعربو کې خير پاتې شو او مثال د شرّ لکه شرّ النّاس المفسد و قوله تعالىٰ: ﴿أَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا﴾ اصل کې وو أشرّ النّاس او مثال د حب لکه دا قول د شاعر شو:

مُنِعت شيئا فاكثرت الولوع به وحب شئ الي الانسان مامُنِعا

اى احب شيء.

بل مثال لکه حب ابن حب شو اعني اسامة بن زيد پلار او زوی دواړه نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته ډير

محبوب وو څکه دوی لپاره حب ابن حب وائي. لاکن حذف د همزې دخير او د شر کثير دي نو خير او شرّ کثير دی او اشرّ قليل دی په نجار کې يوځای کې اخير راغلی دی او حذف د همزې د احب قليل دی احب کثير دي حب قليل مستعمل دی.

| لمانع، به إلى التفضيل صل | ٤٩٧- وما به إلى تعجب وصل |
|---|---|

**ترکيب وما:** موصوله مبتداء. **به:** نائب فاعل وصل لپاره. **الى:** دا دواړه متعلق دي وصل پورې جمله صله. **لمانع به:** دا درې واړه جار مجرور متعلق دی صل پورې. **به:** په تقدير د مضاف سره دی ای اصل لمانع بمثله الى افعل التفضيل. جمله خبر.

**ترجمه:** او هغه طريقه چې په دغه طريقې سره ادا د معنى تعجبي ته رسولی شو د وجې د مانع د اشتقاق د فعل تعجب د هغې نه بعينه په هغه طريقې سره ځان رسوه ته ادا د معنى تفضيلي ته.

**تشريح:** يعنى متکلم اراده کړې چې زه دا معنى تفضيلي ادا کوم د مادې ممتنعه نه دا به څنګه اداء کړي نو ناظم صاحب د هغې ادا کولو لپاره طريقي وښودلې چې دثلاثي مجرد نه داسې يو ماده راوخله چې هغه دلالت کوي په شِدة باندې يا په قوة باندې يا په کثرة باندې يا په زيادة باندې د هغې نه جوړ کړه اسم افعل په وزن باندې اودکم مادي نه چې اسم تفضيل نه جوړيږي د هغې مصدر به راواخلې د دې افعل وزن نه به وروسته ذکر کړې منصوب بنا بر تميز دی سره هغه معنى تفضيلي ادا کيږي مثال لکه زيد اشد استخراجا زيد اشد بيا ضا شو دا استخراجا منصوب دي څکه تميز واقع شوي دي د نسبت د اشد نه او تميز د نسبة نه غالبا محول عن الفاعل وي نومعنى د دې دا شوه زيد اشد استخراجه هغه معنى تفضيلي ادا شوه.

| -تقدير، أو لفظًا- بمن إن جردا" | ٤٩٨- "وأفعل التفضيل صله أبدا |
|---|---|

**ترکيب وافعل** منصوب على شريطة التفسير **صله** جمله مفسره. **ابدا** ظرف لاستغراق المستقبل متعلق بصله. **تقديرًا** دا دواړه حال. **بمن** متعلق بصله. **ان جردا** جمله شرطيه جزا د دې حذف شوې ده يدل عليه الکلام السابق.

**ترجمه:** پيوست کړه افعل تفضيل لره تول عمر په من سره لفظاً يا تقديراً په دې شرط سره که دا افعل تفضيل خالي شوی وو د الف لام او د اضافة نه.

**تشريح:** يعنى اسم تفضيل مستعمليږي په استعمال د کلام دعربو کې په يو د طرق ثلاثه ؤ سره کله مستعمليږي په من سره اوکله مستعمليږي په اضافة سره اوکله مستعمليږي په الف لام سره په طريقې دانفصال حقيقي سره په دې شان سره چې جمع د دوی هم نه ده جائز اوخلوة د دوی هم نه ده جائز اوس خلو د دوی ولې نه ده جائز لپاره تعين دمفضل عليه راځی په يو د

امور ثلاثه ؤ سره او بل هسې لغوه کيږی ځکه د ناظم وويل چې اسم تفضيل مستعمل کړه. او جمع ولې نه ده جائزلپاره د دې چې لغوية داحدهما رانه شي ځکه اسم تفضيل استعماليدو په يو د طرق ثلاثه ؤ سره لپاره تعين دمفضل عليه اوتعين دمفضل کوه په من سره لفظا يا تقديرا که چيري دا اسم تفضيل خالي دي د الف لام او د اضافة نه مثال د اسم تفضيل چې مستعمل وي په من سره لفظا او خالي دي د الف لام او د اضافت نه لکه قوله تعالى: ﴿وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى﴾ او مثال د اسم تفضيل چې مستعمل دي په من سره تقديرا قوله تعالى: ﴿وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّ اَبْقٰى﴾ اى خير من الحيوة الدنيا وابقى منها. کقولك الله اكبر اى اكبر من كل كبير. مثال دمجموعه قوله تعالى: ﴿اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَّاَعَزُّ نَفَرًا﴾ اى اعزمنك وقوله تعالى: ﴿وَلَآ اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ﴾ اى ولااكثرمن ذالك.

**سوال:** ته وائې ان جر د صله بمن دا قاعده ستا منقوضه شو په دې قول دشاعر سره:

لست بالاكثر منهم حَصًى وانما العزة للكاثر

حصىً عددا وجودا العزة القوة والغلبة الكاثربمعنى ال

**جواب:** يجوز في الشعر ما لايجوز في غيره دا شاذ دى او شاذ سره قاعده نه ورانيږي الف لام زائد دي متعلق د دې محذوف دي دل عليه المذكور اي لست بالاكثر اكثرمنهم بيا اسم تفضيل په اعتبار دمطابقةاو عدم مطابقة سره درې قسمه دي. ۱: عدم مطابقة وجوبا. ۲: عدم مطابقة. ۳: جواز د وجهينو.

| | |
|---|---|
| ٤٩٩- وإن لمنكور يضف، أو جردا | ألزم تذكيرًا، وأن يوحدا |

**ترکيب:** **وان** حرف شرط لمنكور متعلق بيضف. **يضف** ضمير مستتر راجع الى افعل تفضيل نائب فاعل. **اوجردا** عطف على يضف. **الزم** جزا، ضمير مستتر راجع الى افعل تفضيل نائب فاعل. **تذکيراً**: مفعول ثاني. **وان**: معطوف على تذكيراً اى و توحيداً تعبير كولى شي عدم مطابقت سره.

**ترجمه:** که دا اسم تفضيل مضاف کړې شوی وو نکرې ته يامجرد ووداضافة اودالف لام نه مستعمل وو په من سره لفظا ياتقديرا، لازم کړی شوی دی مذکروالی وائي او داسي ورسره لازم کړې شوي دي مفرد والي.

**تشريح:** يعنى دي به تيول عمر مفرد مذکر وي اوموصوف ددي هر څنګه چې وي مذکر وي اوکه مؤنث وي تثنيه وي اوکه جمع وي ځکه مطابقة راځي په اتصال اوالحاق ددعلاماتوسره اوس اوس دا علامات چې ته راوړي دابه خالي نه وائي يابه دَ مِن نه مخکې راوړي يا به وروسته

راوړي که من نه مخکې راوړي بیا لازم کیږي اجراء دعلامات په وسط دکلمه داباطل دي ځکه دامن فارقة دي په مابین دافعل تفضیلي اوافعل صفة کې ددي دوجه نه داګرځیدلي دي په منزل دکالجزء اوکه دمن نه وروسته راوړي نو بیا لازم کیږئ اجراء دعلامات په کلمه اخرئ کې او دا باطل دی هرکله چې مطابقة دَ موصوف سره ممکن نه شو عدم مطابقة واجب شو مثال د اول لکه هذان افضل رجلين، المجاهدون افضل رجال، فاطمة افضل امراة، هاتان افضل امراتين، المتعلمات افضل نساء اومثال د ثاني لکه خالد افضل من سعيد ، هذان افضل من هذا ، المجاهدون افضل من القاعدين، الصلوة خير من النوم هاتان افضل من هاتين العالمات افضل من الجاهلات.

| | |
|---|---|
| ٥٠٠- وتلو "أل" طبق، وما لمعرفة | أضيف ذو وجهين عن ذي معرفة |

**ترکیب: وتلو:** مصدر بمعنی تال مضاف الی مفعول مبتداء. **ال:** مضاف اليه. **طبق:** بمعنی مطابق خبر. او متعلق د دي محذوف دی ای الموصوف. **ما:** موصوله بحذف الموصوف مبتداء. **المعرفة:** متعلق باضيف. **اضيف:** جمله صله. **ذووجهين:** خبر. **وجهين:** مضاف اليه موصوف. **عن ذي معرفه:** په اعتبار د متعلق محذوف سره صفة.

**ترجمه:** د افعل التفضيل الذي اضيف لمعرفة ذو وجهين منقولين عن ذي معرفة.

ترجمه : او هغه اسم چې واقع وو بي فصله وروستو دالف لام نه مطابق به ئي دموصوف خپل سره په افراد اوتثنية اوجمعية اوتذکير اوتانيث کې نحو زيدن الافضل، الزيدان الافضلان، الزيدون الافضلون هند الفضلي، الهندان الفضليان الهندات الفضليات ځکه په مابين دموصوف اوصفة کې مطابقة واجب دي په وخت دعدم وجود د مانع کې او دلته مانع نشته دی وما او هغه اسم تفضيل چې مضاف شوي وي معرفي ته او اراده کړي شوي دي معنی تفضيلي دې کې دوه وجې دي. ۱ : مطابقة هم روادی. ۲ : عدم مطابقة هم روادی او دا خبره نقل کړی شوی ده د هغه خلکو نه چې هغه خاوند دپيژندګلو دی په احکام داسم تفضيل باندې ځکه اسم تفضيل چې مستعمل شی په اضافة سره معرفی ته دا ذو وجهين دی من وجه مشابه دی اسم تفضيل مستعمل په الف لام سره په تعريف کې او من وجه مشابه دی اسم تفضيل مستعمل په من سره په ذکر دمفضل عليه کې اسم تفضيل سره اوس که ته ديته ګوری چې دی مشابه دی اسم تفضيل مستعمل بمن سره په ذکر او تعين د مفضل عليه کې دا مه مطابق کوه دموصوف سره ځکه په هغه کې عدم مطابقة واجب دی او که ته ديته ګورې چې دا مشابه دی اسم تفضيل مستعمل باللام سره دا مطابق کوه موصوف سره ځکه په هغه کې

مطابقت واجب دی مثال د مطابقة قوله تعالى : ﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَابِرَ مُجْرِمِيهَا﴾ او مثال دعدم مطابقة ﴿وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَىٰ حَيَاةٍ﴾ احرصى الناس او نه ويل فى موضع المفعول الثانى مثال دمجموعه قوله عَلَيْهِ السَّلَامُ الا اخبركم باحبكم الىّ واقربكم منى منازل يوم القيمة احاسنكم اخلاقا الموطئون كنافا الذين يالفون ويؤلفون بيا دي ناظم عن ذي معرفة وويل په دي کې رد وکړو په ابن سراج باندې چې هغه قائل دي بوجوب المطابقة او دا جواز د وجهين چې مطابقة اوعدم مطابقة دي دامنقول دي دخاوند دپوهه نه چې هغه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دي مثال لکه په دغه حديث مذکور کې شو.

| لم تنو فهو طبق ما به قرن | ٥٠١- هذا إذا نويت معنى "من". وإن |
|---|---|

**تركيب: هذا:** ١. مبتداء محذوف الخبر اى هذا ثابت ٢: بالعكس اى الحكم هذا. **اذا**: شرطيه. **معنى**: مفعول به مضاف **من**: مضاف اليه. جزا د دې محذوف دى دل عليه الكلام السابق. **تنو**: مفعول به د دې محذوف دى و ان لم تنو معنى من **فهو**: مبتداء. **طبق**: خبر مضاف. **ما**: موصوله مضاف اليه. **به**: متعلق قرن پورې ضمير مستتر راجع الى اسم تفضيل نائب فاعل جمله صله.

**ترجمه:** دا جواز د وجهينو په اسم تفضيل مضاف الي المعرفة کې په هغه وخت کې دي چې ته اراده وکړې په دغه اسم تفضيل مضاف الي المعرفة کې معنى دمن لره اوکه تا اراده نه وه کړې په اسم تفضيل مضاف الى المعرفة کې معنى دمن لره دا اسم تفضيل به مطابق وي دهغه موصوف سره چې پيوست کړې شوى دى دا اسم تفضيل هغه اسم سره.

**تشريح:** حاصل دا دى اسم تفضيل چې مضاف شي معرفې ته دا په درې قسمه دي. ١ : هغه دى چې مضاف دى معرفي ته اوقصد دزيادة دموصوف کړې دي په مضاف اليه باندې په اصل معنى مصدري کې په هغه کې جواز دوجهين دي. ٢ : هغه دي چې مضاف دي معرفي ته اوقصد دزيادة دموصوف نه دي کړې په مضاف اليه مذكور باندې بلکه قصد د زيادة د موصوف کړی دى مطلقا مثال لکه محمد افضل القريش، اويوسف احسن اخوته شو. ٣ : هغه دي چې مضاف دي معرفي ته اوقصد زيادة د موصوف بالکل نه دى کړې ځکه اسم تفضيل عاري دي د معنى تفضيلي نه په معنى د اسم فاعل يا په معنى دصفة مشبهه سره دي مثال لکه زيد وعمر ز اعلما اهل القرية اي عالما اهل القرية دامثال په هغ وخت کې صحيح کيږي چې په دې کلي کې د دي دوو نه علاوه نورعالمان نوي اوکه د دې دوو نه علاوه نور عالمان په هغه کلي کې موجود وي بيادا اسم تفضيل عارى ندي د معنى تفضيلي نه په هغې کې جواز د وجهينو دي. بل مثال لکه دا قول د دوى شوالناقص والاشج اعدلابني مروان اى عادلابني

مروان، ناقص دا لقب دي ديزيدابن الوليد بن عبدالملك بن مروان لپاره دي ته ناقص ځکه وايي کله چې دي خليفه شو د لښکر لپاره يې عطيه کمه کړې وه. او اشج لقب دي د عمر بن عبدالعزيز بن مروان. ده ته اشج ځکه وائي چې دی داس نه غورځيدلي وو زخمي شوي وو. اوس د دې قول مطلب دا دي چې په ملوك دبني مروان کې د دې دوو نه علاوه نور عادلان نه دي تيرشوي صرف دا دوه عادلان تيرشوي دي دلته اسم تفضيل مضاف دي دمعرفي ته او په معنى داسم فاعل سره دي په دي دووصورتونوکې مطابقة داسم تفضيل واجب دي موصوف خپل سره په وخت دعدم وجود دمانع کې اودلته مانع نشته دي اوکه اسم تفضيل مجرد وو د الف لام اواضافة اودمن نه اوعاري وودمعنى تفضيلي نه غالبا دامطابق وي د موصوف خپل سره اوکله کله مطابقة نه وي مثال د مطابقة له دا قول د عروضين شوه: فاصله صغرى فاصله كبرىٰ او مثال د عدم مطابقة لکه داقول دشاعرشو:

ان الذي سمك السماء بني لنا     بيتا دعائمه اعزواطول

کما مر نومجموعه صورتونه اووه شو په اسم تفضيل کې. ۱: اسم تفضيل مضاف الي نکرة. ۲: اسم تفضيل مستعمل باللام. ۳: اسم تفضيل مستعمل بمن. ٤: اسم تفضيل مضاف الي معرفة قصد زيادة الي من اضيف اليه. ٥: اسم تفضيل مضاف الي معرفة قصد زيادة ته مطلقا ٦: اسم تفضيل مضاف الى معرفة من غير قصد الزيادة لانه عارعن معنى التفضيل. ۷: اسم تفضيل مجرد عن اللام والاضافة ومن اوعارى دمعنى تفضيلي نه په دي اول او دريم صورت کې عدم مطابقة واجب دي اوپه دي دويم اوپنځم اوشپږم صورة کې مطابقة واجب دي اوڅلورم اواووم صورة کې جواز دوجهين دي ـ نومجموعه اووه صورتونه شو په اسم تفضيل کې دوه صورتونو کې عدم مطابقة واجب دي اودري صورتونوکې مطابقة واجب دي اوپه دوه صورتونو کې جواز د وجهين دی.

| ۵۰۲- وإن تكن بتلو "من" مستفهمًا | فلهما كن أبدًا مقدما |
|---|---|

**ترکيب:** **وان:** شرط. **تلو:** مضاف. **من:** مضاف اليه جار مجرور متعلق بمستفهماً. **مستفهما:** خبر د تکن. **فلهما:** متعلق بمقدماً. **ابدا:** منصوب بمقدماً. **مقدما:** خبر د کن جمله جزا لپاره د شرط.

**ترجمه:** که چيرې وې ته استفهام کوونکي هغه اسم سره چې واقع کيده وروستو د من تفضيلي نه، پس شه ته مقدم کوونکي ددې دواړه لپاره د عامل خپل نه چې هغه اسم تفضيل دي ابدًا په ټوله زمانه کې لپاره د دې خبرې چې لازم نه شي فوت دصدارت د ما له صدر الكلام.

| | |
|---|---|
| ٥٠٣- كمثل "ممن أنت خير؟" ولدى | إخبار التقديم نزرًا وجدا |

**ترکیب: کمثل:** خبر د مبتداء محذوف ای هذا مثل قولك ممن انت خیر. **ولدي:** بمعنی عند متعلق بوجد. **التقدیم:** مبتداء. **نزراً:** حال از ضمیر وجد. **وجدا:** جمله خبر.

**ترجمه:** لکه مثال د دې قول د عربو شو ممن انت خیر د کومو ذي عقلونه ته بهتر يې. اوپه نزد د اخبار باندې تقدیم د من سره د مجرور نه لږ لږ موندلی شوی دي.

**تشریح:** اسم تفضیل چې مستعمل شي په من سره دغه مدخول دمن لپاره مفضل علیه وائي اوس دا مفضل علیه به خالي نه وي یابه اسم استفهام وي یابه مضاف وي اسم استفهام ته بیا تقدیم د جارمجرور واجب دي په اسم تفضیل باندې لپاره دد ي چې لازم نه شي فوت دصدارة د هغه شئ چې هغه غواړي صدارة وجوبا مثال لکه انت ممن خیر. انت من ایهم افضل شو په دې مثال کې به انت مقدم کړې په دې جارمجرور باندې لپاره ددې چې لازم نه شي فصل په مابین داسم تفضیل اومعمول داسم تفضیل کې په اجنبي سره دا جائز نه دی او فصل په معمول سره جائز دی کمافي قوله تعالی: ﴿اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ﴾ هرچې دي داقول دشاعر

ولفوك اطیب لو بذلت لنا      من ماء موهبةعلي خمر

دا شاذ دی او شاذ سره قاعده نه ورانیږي او که دا مفضل علیه متضمن نه وو معنی داستفهام لره بیا تقدیم د جار مجرور جائز نه دی په اسم تفضیل باندې قیاساً ځکه دامن سره دمجرور نه په منزله دمضاف الیه دی او تقدیم د مضاف الیه په مضاف باندې جائز ندی نو تقدیم دجار مجرور په اسم تفضیل باندې هم جائز ندی لکن کله کله داجارمجرور مقدم کیږی په اسم تفضیل باندې خلاف القیاس مثال لکه په دی قول دشاعر کې شو اذا سایرت اسماء یوما ظعینة. ظعینه اصل کې کیجاوې ته وائی چې په هغه کې ښځه ناسته وي. ۲ : یا هغه ښځې ته وائی چې هغه په دې کې ناسته وی. ۳ : یا مطلق ښځې ته وائی وزن فعیل بمعنی المفعول لان زوجها یرتحل لها. فاسماء من تلك لظعینة املح اصل کې فاسماء املح من تلك الظعینة وو دا جار مجرور مقدم شوی دی په املح باندې خلاف القیاس.

| | |
|---|---|
| ٥٠٤- ورفعه الظاهر نزر، ومتى | عاقب فعلًا فکثیرًا ثبتا |

**ترکیب: ورفعه:** مبتداء مضاف الی فاعله. **الظاهر نزر:** خبر. **ومتی:** اسم شرط متعلق بعاقب. **عاقب:** ضمیر مستتر راجع الی افعل تفضیل هغه فاعل. **فکثیراً:** حال از ضمیر ثبت. **ثبتا:** ضمیر مستتر هو راجع الی رفعه هغه فاعل جمله جزا لپاره د شرط.

**ترجمه:** رفع ورکول د افعل تفضیل اسم ظاهر لره بنابر فاعلیة دا کم دی، او په کوم وخت د اوقاتو

کې ځان نه وروسته خليفه او نائب پريږدي دا افعل تفضيل فعل لره يعنی دا افعل لري کړي د دې په ځای فعل ذکر کړي په معنی کې نقصان نه راځي بلکه معنی صحيح راځي. ډېر موجود شوي دي رفع ورکول د افعل تفضيل اسم ظاهر لره بنابر فاعلية په استعمال د کلام د عربو کې.

**تشريح:** يعنې دا اسم تفضيل به خالي نه وي يابه وقوع دفعل په مقام د ده باندې صحيح وي يابه نه وي که وقوع دفعل په مقام د دې باندې صحيح نه وو بيا اسم تفضيل عمل د رفع بنابر فاعلية په اسم ظاهر باندې نه شي کولي په لغة اصح کې بلکه عمل کوي په ضمير کې ځکه دا اسم تفضيل ضعيف العمل دي عمل قويه نه شي کولي چې هغه عمل دي په اسم ظاهر کې رفع بنا بر فاعلية ددي دوجه نه مررت برجل افضل منه أبوه کې لغت أصح والا ترکيب داسې کوي رجل موصوف أفضل صيغه واحد مذکر اسم تفضيل ضمير په دي کې مستتر دي راجع دي ابوه ته هغه فاعل منه جار مجرور متعلق دي افضل پورې شبه جمله خبر مقدم. ابوه: مبتداء مؤخره بيا جمله صفة واقع شوې ده رجل لپاره اوپه لغة ضعيف باندې دا ابوه فاعل واقع شوي دي افضل لپاره دي ته ناظم اشاره کړي دي ورفعه الظاهر نزرسره اوکه وقوع دفعل په مقام د دې باندې صحيح وو بيا دی عمل کوي رفع بنابر فاعليت په اسم ظاهر باندې قياسا او اطرادا ځکه دا اسم تفضيل په معنی د فعل سره دی او فعل خو عمل کوي رفع بنا بر فاعلية په اسم ظاهر کې نو اسم تفضيل هم عمل کوي رفع بنابر فاعلية په اسم ظاهر کې او دا صحت د وقوع د فعل په مقام د اسم تفضيل باندې دا مشروط دي په شروط ثلاثه ؤ سره. ۱: اسم تفضيل واقع شوي وي وروسته دنفي نه. ۲: فاعل اجنبي وو يعني دا اسم تفضيل په لفظ کې ثابت وو ما قبل لپاره او په معنی کې ثابت وو مابعد لپاره. ۳: په مابين د مفضل او مفضل عليه کې اتحاد ذاتي او فرق اعتباري وو اوس دا درې شرطونه ولې دي. ۱: هر چې دي اول لپاره د دې چې دا حرف نفي ولګي دا زيادة د وصف لري کړي اسم تفضيل په معنی داصل فعل سره پاتې کړي ځکه دا قاعده ده حرف نفي داخل شي په يو کلام باندې هغه مقيدوی په يو قيد سره دا حرف نفي، نفي د قيد کوي هر چې دی ثاني لپاره ددي چې اعتماد داسم تفضيل راشي عمل وکړي په اسم ظاهر کې رفع بنا بر فاعلية او هر چې دي ثالث لپاره د دې چې معنی تفضيلی د اسم تفضيل کمزوری شي مثال داسم تفضيل چې هغې عمل کړي دي رفع بنابر فاعلية په اسم ظاهر کې او جامع د شروط ثلاثه ؤ دی.

| | |
|---|---|
| ٥٠٥- کلن تری في الناس من رفيق | أولى به الفضل من الصديق |

**ترکيب: کلن:** خبر د مبتداء محذوف ای مثال مثل الخ. **في:** متعلق بتری. **من** زائده. **رفيق** مفعول

به موصوف. اولى: صفة. الفضل: فاعل. من: متعلق باولى على تقدير مضافين واسقاط الباء من الصديق كان في الاصل من ولاية الفضل بالصديق.
**ترجمه:** هيڅ كله نه به مومي ته په ټولو خلكو كې يو ملګري، داسې ملګرى چې اولى به وي د هغه سره بهتري اوغوره والى د ابوبكر صديق رضي الله عنه نه اوس دلته دا اولى صيغه داسم تفضيل دي او دې عمل كړى دى رفع بنا بر فاعليه په اسم ظاهر كې قياسا او اطرادا چې الفضل دي ځكه دا اسم تفضيل واقع شوى دى پس دحرف نفي نه اوپه لفظ كې جاري دي ماقبل باندې اوپه معنى كې ثابت دي مابعد لپاره اوپه مابين دمفضل اومفضل عليه كې اتحاد ذاتي اوفرق اعتباري دي چې دغه فضل مفضل دي په نسبت سره صديق ته واخلې او مفضل عليه دي په نسبت سره نور خلكو ته واخلې بل مثال ددي لكه دا قول د نبى عليه السلام شو ما من ايام احب الى الله فيها الصوم منه فيها الصوم منه في عشر ذي الحجه اوبل مثال د دې په كافيه كې ذكر شوى دى مارايت رجلا احسن في عينه الكحل منه في عين زيد.
پس زده كړه دا خبره چې عمل د اسم تفضيل دوه قسمه دي ۱ عمل د رفع دي. ۲: عمل د نصب دى او دا عمل د رفع بيادوه قسمه دي. ۱ :عمل درفع دي په ضمير كې. ۲ :عمل درفع دي په اسم ظاهر كې اواسم تفضيل عمل د رفع بيا دوه قسمه دى. ۱ :عمل درفع دي په ضمير كې كوي بلا قيد و شرط نو الظاهر سره دي ناظم احتراز وكړو دضمير نه ځكه رفع وركول داسم تفضيل ضمير لره بنا بر فاعلية د اندرٌ نه دي بلكه دا كثير شائع دي نحو زيدا فضل من عمرو ځكه دا عمل دي په مقدر كې او عمل په مقدركې اسهل دي دا نه دي محتاج قوة دعامل ته او عمل د رفع بنا بر فاعليه په اسم ظاهر كې دامشروط دي په شروط ثلاثه و سره كه دا درې واړه شرطونه موجود وو دى عمل كوي قياسا او اطراداً دې ته اشاره كړې ده ناظم متي عاقبت الخ سره او كه دا شرطونه نه وو موجود بيا قياساً او اطراداً عمل نه شي كولى بلكه عمل كوي خلاف القياس دي ته اشاره كړي ده ناظم ورفعه الظاهر ندر سره او عمل د نصب هم دوه قسمه دى عمل د نصب دى بنا بر مفعول به او بنا بر مفعول مطلق عمل دنصب دي على الظرفية او على التميز او على الحالية عمل داسم تفضيل نصب بنابر مفعول به او بنابر مفعول مطلق دا نه دى واقع په استعمال دكلام دعربو كې هر چې دى په دي قول دالله تعالى كې: ﴿هُوَ أَعْلَمُ مَنْ يَضِلُّ عَنْ سَبِيلِهِ﴾ ﴿اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ﴾ دا من او حيث مفعول به دي لپاره دَ فعل محذوف په هغې باندې دلالت كوي دا اعلم اى هو اعلم من كل واحد ويعلم من يضل عن سبيله. الله اعلم من كل واحد ويعلم حيث يجعل رسالته اوحيث په دي مقام كې مفعول فيه نه دى بلكه مفعول به دي

لپاره د دې چې لازم نه شي مظروفية دا علمية د الله تعالى او الله د دې نه منزه دی.

## النعت

دا ما سيأتي تر يوه حده پورې بحث د توابع خمسه ؤ دې چې هغه. ۱: نعت.۲ : توكيد. ۳ : معطوف بالحرف.٤: بدل. ٥:او عطف بيان دی اوس تابع څه ته وائي اسم متاخر معرب باعراب سابقه ته وائي او دا دواړه اعرابونه به پيدا شوي وي په يو جهة سره.

| | |
|---|---|
| ٥٠٦- "يتبع في الإعراب الأسماء الأُوَل | نعت وتوكيد وعطف وبدل" |

**تركيب: الاسماء:** موصوف. **الاول:** صفة، موصوف سره د صفة نه مفعول به د يتبع لپاره.

**وتوكيد:** دا نعت معطوف عليه سره د معطوفاتو نه فاعل د يتبع دی.

**ترجمه:** تابع كيږي په اعراب كې د اسماء اول يو نعت او يو توكيد او عطف او بدل دا عطف په دوه قسمه دی. ۱: عطف بالحرف ، او دېته عطف نسق وائي. ۲ :عطف بيان ، دېته توابع خمسه وائي.

**وجه د حصر:** دا تابع به خالي نوي يابه مقصود بالنسبة وي يابه نوي كه وو بيا به خالي نوي يا به مقصود وي مع المتبوع يا به نوي كوو هغې ته معطوف بالحرف وائي اوكه نوو هغې ته بدل وائي كه مقصود بالنسبة نوو بيابه خالي نوي يابه دال علي معنى في متبوعه به وي يابه نه وي كه وو هغې ته نعت وائي او كه نه وو بيا به خالي نه وي يابه مقرر وي امر دمتبوع لره په نسبة يا په شمول كې يا به نوي كه وو هغې ته تاكيد وائي اوكه نه وو هغې ته عطف بيان وائي بيا دې ناظم الاسماء الاول وويل په دې كې اشاره وكړه دې خبري ته چې مخكې به اسماء وي او وروسته به دا نعت اوتوكيد اوعطف اوبدل تابع واقع كيږي تابع هميشه متاخر وي دمتبوع نه تقديم دتابع په متبوع باندې جائز نه دي اونعت مقدم كړو په نور توابع باندې ځكه دا اكثر دي استعمالاً او اكثر دی فائدة او اكثر دی تابعة والعزة للتكاثراوس نعت څه ته وائي؟

| | |
|---|---|
| ٥٠٧- فالنعت تابع متم ما سبق | بوسمه أو وسم ما به اعتلق |

**تركيب: فالنعت**مبتداء.**تابع:** خبر موصوف.**متم**:صفة.**ما**:موصوله مفعول به دمتم. **بوسمه:** متعلق بمتم. **اووسم:** مضاف مامضاف اليه موصوله.**به:** متعلق باعتلق. جمله صله دموصول.

**ترجمه:** پس نعت په اصطلاح د نحويانوكې يو تابع دی هسې تابع چې دی تمام كوونكې دی ماسبق خپل لره په بيان د صفة د ماسبق سره نحو جاءنى رجل عالم دې ته نعت بحاله وائي يا به بيان دصفة دهغه اسم سره چې هغه تعلق لري ددې ماسبق سره نحوجاءرجل عالمٌ:ابوه دې ته نعت بحال متعلقه وائي دا كلمه د"أو" تنوع اوتقسيم لپاره دي نه لپاره دشك په دې سره دفع د اعتراض وشوه.

**سوال:** په تعریف کې وضاحت دمعرف دي اوتا په دي تعریف کې کلمه د "أو" ذکرکړي ده او "أو" راځي لپاره دشك او تردد نوستا په خپله شك دی په تعریف کې مونږ ته د څه شي وضاحت کوي؟

**جواب:** داقاعده ده کلمه د "أو" چې ذکر شي په مقام دتعریف کې هغه تقسیم اوتنویع لپاره وي نه لپاره د شك او تردد دلته دا او تقسیم لپاره دی، دې سره اشاره وکړه ناظم چې دا نعت په دوه قسمه دي: ۱: صفة بحاله دي. ۲: صفة بحال متعلقه دي صفة بحاله دي ته وائي چې دا ما سبق اسم متصف شوي وي په خپل صفة سره نحو جاءني رجل عالم او صفت بحال متعلقه دي ته وائي چې دي متصف شوي نه وي په خپل صفت سره بلکې دامتصف شوي وي صفة د متعلق خپل سره نحو جاءني رجل عالم ابوه اودي صفة بحاله لپاره په اصطلاح د علماؤ د علم بلاغة کې وصف فعلي وائي او صفة بحال متعلقه لپاره وصف سببي وايي دا د سکاکي اصطلاح ده بیانعت. ۱: کله راځي تخصیص لپاره په نکره کې نحو جاءنی رجل عالم او دي ته نعت مخصصه وائي قوله تعالى: ﴿فَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖ﴾ ﴿وَلَعَبۡدٞ مُّؤۡمِنٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكٖ﴾.

۲: کله راځي توضيح لپاره په معرفه کې نحو جاءنی زید ن الظریف دي ته نعت موضحه وائي

۳: کله راځي مدح لپاره **نحو:** ﴿بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ﴾ ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ الحمدلله علیٰ الذات عظیم الصفات سنیٰ السمات کبیر الشان داټول صفات مادحه دي دې ته نعت مادحه وائي.

٤: کله راځي ذم لپاره نحو ﴿أَعُوذُ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ﴾ دې ته صفة ذامه وائی.

۵: کله راځي تاکید لپاره نحو: ﴿نَفۡخَةٞ وَٰحِدَةٞ﴾ وقوله تعالى: ﴿لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَٰهَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ﴾ الهین موصوف اثنین صفة تاکید لپاره. ترکیب یې دا دي چې دا بدل کل دي بل مثال د دي لکه امس الدابر لایعود شو. ٦: کله راځي ترحم لپاره نحو انا عبدك المسکین دې ته نعت ترحمیه وائي. ۷: کله راځي تعمیم لپاره نحو یرزق الله عباده الطائعین والعاصین. ۸: کله راځي تفصیل لپاره نحو مررت برجلین عربی وعجمی.

په هر تعریف کې لابدي وي د جنس او د فصل نه تابع جنس دي په دي کې داخل دي پردي او خپل. متم سره یې احتراز وکړو بدل اوعطف نسق نه څکه دامتم نه دي متبوع لپاره اونعت ماسبق کې چې څه کمې وي هغه کمې پوره کوي بوسمه الخ سره ئې احتراز وکړه د تاکید اوعطف بیان نه.

| | |
|---|---|
| ۵۰۸- فليعط في التعريف والتنكير ما | لما تلا، كـ"امرر بقوم كرما" |

**ترکیب: فلیعط:** ضمیر مستترهوراجع الی النعت نائب فاعل. **في:** ۱: دا فی په معنی دمن سره دي. ۲

: یاپه خپله معنی سره دی علی تقدیر مضاف ای فی حال التعریف. **ما**: موصوله مفعول به یعط لپاره. **لما**: موصوله جمله صله عائد محذوف دي. **کامرر**: خبر د مبتداء محذوف دي. **بقوم**: موصوف **کرما** صفة مقصور للضرورة كان فی الاصل کرماء.

**ترجمه**: پس وردې کړی شي دي نعت له برابره خبره ده چې نعت بحاله وي اوکه بحال متعلقه وي په حالة دتعريف کې اوپه حالت دتنکیر کې هغه حکم چې هغه حکم ثابت ووهغه اسم لره چې واقع کیده دا وصف وروسته د هغه اسم نه دلته څلور مثالونه په کاردي دوه مثالونه دصفة بحاله او دوه مثالونه د صفة بحال متعلقه. ۱ :مثال: د صفة بحاله نکره لکه امرر بقوم کرماء شو أي امرر بمكان يقرب منه قوم كرماء يعني ورتېرشه ته د قوم په څنګ کې داسې قوم چې شريفان اوعزتمند دي اوس دلته داقوم موصوف نکره دي ددي لپاره کرماء صفة نکره واقع شوي دي کرماء جمع دکريم دي اصل کې کرماء ووبروزن شرفاء داهمزه حذف شوي ده د وجې د ضرورة شعرنه کرما پاتې شو. په دي دا مجرور بالفتحه دي ځکه غير منصرف دي. ۲ :مثال د صفة بحاله معرفه لکه امرر بالقوم الكرماء شو دا القوم چې معرفه ذکر کړې ورپسې دغه نعت بحاله شو او مثال د صفة بحال متعلقه نکره نحو مررت برجل احسن منه ابوه. ۳ : مثال د صفة بحال متعلقه معرفه نحوقوله تعالى: ﴿رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا﴾.

| | |
|---|---|
| ۵۰۹- وهو -لدى التوحيد، والتذكير أو | سواهما- كالفعل، فاقف ما قفوا |

**ترکیب**: **وهو**: مبتداء. **لدی**: بمعنی فی دا متعلق دی په متعلق د خبر پوري. **کا**: خبر. **ما**: موصوله مفعول به. **قفو**: جمله صله عائد ضمير منصوب مفعول به حذف شوي دی ای قفوه.

**ترجمه**: او دا نعت مطلقاً چې نعت بحاله وي او که نعت بحال متعلقه وي په نزد د افراد او تذکير د موصوف باندې يا په نزد د ماسوا د دې دوه امرونو باندې چې هغه تثنية اوجمعية او تانيث د موصوف دی. ماسوا د تذکير تانيث دي او ماسوا د توحيد تثنيه اوجمع نه، دا په شان د فعل دی تابعدارشه ته په دي نعت کې دهغه خبروچې تابعداري کړي دي عربو دهغه خبرو.

**تشریح**: يعني داصفة به خالي نه وي يابه رافع وي ضمير دموصوف لره يابه رافع ئي اسم ظاهر لره هسې اسم ظاهر چې متلبس دي ضمير دموصوف لره که دي رافع وو ضمير دموصوف لره بيا په افراد او تثنية اوجمعية اوتذکير اوتانيث کې تابع دماقبل دي نحو جاءني رجل عالم، جاءني رجلان عالمان، جاءني رجال عالمون جاءتني امراة عالمة جاءتني امراتان عالمتان جاءتنی نساء عالمات ځکه داپه شان دفعل دي اوفعل کې دا قاعده ده. ۱ :چې اسناد دفعل وشي ضمير ته وحّد للواحد وثنّيى للمثنى وجمع للجمع. ۲ : اوفعل چې اسناد وشي ضمير

دمؤنث ته تانیث دفعل واجب دي داحکم هله دي چې داصفة به. ١ : دهغه اوزانونه نوي چې په هغې کې مذکر اومؤنث دواړه برابردي نحو رجل صبور امرأة صوررجل جريح امراةجريح رجل مسكين ٢: دا صيغه به د مصدر نوي رجل عدل امراة عدل رجلان عدل امراتان عدل رجال عدل نساءعدل. ٣ :دا صفة به د صفة د مذکرلایعقل نه وي ځکه په هغې کې جوازد وجهين دي نحو عندي خيول سابقات وخيول سابقة. ٤ :داصفة به صفة داسم جمع به نوي ځکه په دي کې هم جواز د وجهين دي نحوه ان بني فلان قوم صالح باعتبار اللفظ المنعوت، وقوم صالحون باعتبار معناه، او که دا نعت رافع وواسم ظاهر لره بيا دا په افراد او تثنية اوجمعية اوتذکير او تانيث کې تابع د مابعد دی مثال لکه جاءنی رجل کريم ابوه، جاءنی رجلان کريم ابوهما، جاءنی رجال کريم ابوهم، جاءنی رجل کريمة امه، جاءنی رجلان کريمة امهما، جاءنی رجال کريمة امهم ځکه دا نعت په شان دفعل دي او فعل کې دا قاعده ده. ١: چي اسناد دفعل وشي اسم ظاهر ته وحّدالفعل ابداً دي. ٢ : او فعل چې اسناد وشي اسم ظاهر مؤنث حقيقي ته متصل بلا فصل تانیث فعل واجب دي دّدي دوجه نه نحويان وائي نعت بحاله په لس امور کې تابع د ماقبل دي په خارج کې موجودیږي څلور يو داعراب نه اويو دافراد اوتثنية اوجمعية نه اويو دتعريف اودتنکير نه اويودتذکير اودتانيث نه ځکه ددي اسناد کيږي ضميرته اوصفة بحال متعلقه پنځه امور کې تابع دماقبل دي په اعراب اوتعريف اوتنکير کې اوباقي پنځه امور کې تابع د مابعد دي ځکه د دي اسناد کيږي اسم ظاهر ته نو د دي حکم په شان دحکم دفعل دي.

| | |
|---|---|
| ٥١٠- وانعت بمشتق كصعب وذرب ... | وشبهه، كذا، وذي، والمنتسب |

**ترکيب: بمشتق** موصوف محذوف ای بوصف مشتق متعلق بانعت. **كصعب**:خبر دمبتداء محذوف. **وذرب**: معطوف على صعب. **كذا**: خبر د مبتداء محذوف. **وذي**: معطوف على ذا.

**ترجمه**: مشتق نعت واقع کوه يا موصوف کوه ته يواسم لره په مشتق سره اوس هغه مشتقی څه شئ دي لکه صعب اودرب شومثلا حجر صعب وائي رجل درب:ماهر او خبير په اشياء باندې وائي او داسي نعت واقع کړه اسم جامد يعنی موصوف کوه يو اسم لره په هغه اسم جامد سره چې هغه مشابه وي مشتقی سره په دي شان سره چې ددي نه تاويل په مشتقی سره کيږي مثال دشبه دمشتقی لکه ذا اسم اشاره او ذو موصوله يا بمعنی صاحب اواسم منسوب شو اوکه اسم جامد مختصه ووپه دي شان سره دهغي نه تاويل په مشتقی سره نه کیږي بيا نعت مه واقع کوه.

**تشريح**:يعني شرط په نعت کې دادي چې دابه مشتقی وي حقيقة ياتاويلا مشتقی حقيقي ما دل على حدث وصاحبه ته وائي يعنی هغه اسم ته وائي چې دلالة کوي په ذات مع الوصف باندې

مثال لکه اسم فاعل او اسم مفعول او اسم تفضیل او صفة مشبهه شو او مشتقي تاويلي هغه اسم جامد ته وائي چې دهغي نه تاويل کولی شي په مشتقي سره د دي اته صورتونه دي او ده دري صورتونه ذکر کړي دي بطور مثال او نور ئې ترك كړي دي مقايسة. ۱ : اسم اشاره ده مثال لکه اکرم عليًا هذا اي المشار اليه. ۲ : اسم منسوب دي مثال لکه رأيت نورستانيًا اي منسوب الى النورستان، ۳ : ذوا بمعنى الّذي، ذوا بمعنى صاحب دي مثال لکه جاءنى رجل ذو علم اى صاحب علم. مررت بزيد ذوقام اى اذي قام ددي نه تاويل كيدلې شي په القائم سره دارنگې حکم دي دنور موصولاتو نحو جاءنى الرجل الذي اجتهد اى جاءنى الرجل المجتهد. ٤ : مصدر دي نحو هورجل ثقه اى موثوق په انت رجل عدل اى عادل. ٥ : عدد دي نحو جاءنى رجال أربعة اي معدودون بهذ العدد. ٦ : هغه اسم جامد چې دلالت کوي په تشبيه باندې نحو رايت رجلا اسدا ا ى شجاعا. زيد رجل ثعلب اى محتال ځکه گيدړ په چلول سره ډير مشهوردي. ۷ : ما صفتي دي چې دهغي نه ابهام اراده کولي شي نحو اکرم رجلاما اى رجلا مطلقا غير مقيد بصفة ما دا رجلا موصوف دي اودا "ما" صفة واقع شوي دي ددي نه تاويل كيدي شي په مشتقې سره چې هغه مطلقا دي. ۸ : کل او أيّ دي دا دواړه دلالت کو ي په استعمال دموصوف باندې په صفة کې نحو انت رجل كلُ رجل اواىّ رجل اي كامل في الرجولية داكلُ رجل او اىّ رجل اسم جامد صفة واقع شوي دي رجل لپاره ځکه د دې نه تاويل کولې شي په مشتقې سره چې هغه کامل دي او که اسم جامد داسې اسم جامد وو چې دهغي نه تاويل په مشتقې سره نه شي کولي اصلا بيا هغه صفة نه واقع کیږي په استعمال دکلام دعربو کې ځکه په صفة کې اشتقاق شرط دي حقيقة ياتاويلا چې دلالت وکړي على معنى في متبوعه باندې اسم جامد محضه دلالة معنى في متبوعه نه کوي.

| ٥١١- ونعتوا بجملة منكرا | فأعطيت ما أعطيته خبرا |
|---|---|

**تركيب: نعتوا**: فعل فاعل والضمير راجع الي العرب. **بجملة**: متعلق بنعتوا. **منكرا**: مفعول به. **فـ**: عاطفه. **أعطيت**: ضمير مستتر راجع الى الجمله نائب فاعل **ما** موصوله مفعول الثاني. **اعطيته**: ضمير مستتر راجع الى الجملة نائب فاعل مفعول اول او هٔ ضمير منصوب راجع الى الموصول مفعول ثاني اوخبرا حال له نائب فاعل.

**ترجمه**: اونعت واقع کړي دي عربو جمله خبريه لره نکرې لپاره پس ورکولي شي دي جمله لره چې واقع شوي دي نعت دنکره هغه حکم چې ورکړي شوي دي دي جمله له په حال کون ددي جمله کې چې خبر واقع شوي دي.

**تشريح:** لکه څنګه چې مفرد نعت واقع کيږي په استعمال د کلام دعربوکې دارنګي جمله هم نعت واقع کيږي ځکه مقصود په نعت کې دلالت علي معنی في متبوعه دي لکه څنګه چې مفرد دلالة على معنى في متبوعه کوي دارنګي جمله هم دلالت کوي علي معنی في متبوعه لکن جمله نعت واقع نکره لپاره دوجه دمناسبة نه ځکه نکره دلالة کوي په ذات مبهمه باندې اوجمله هم دلالة کوي په مضمون مبهم باندې اوجمله معرفه لپاره صفة نه واقع کيږي دوجه دعدم مناسبة نه ځکه معرفه دلالت کوي په ذات معين باندې اوجمله دلالة کوي په مضمون مبهم باندې مابين کې منافات دي ددي دوجه نه قول کړي ده نحويانو په زيادة دالف لام باندې په دي قول دشاعر کې

ولقد امرعلى اللئيم يسبنى فمضيت ثم قلت لايعنيني

يسبني جمله صفة واقع شوي دي د لئيم لپاره او الف لام په اللئيم کې زائد دي دا نکره ده ځکه جمله صفت د نکره لپاره واقع کيږی نه معرفه لپاره او که الف لام زائد نه شي نو بيا جمله حال واقع شوې ده نه صفت ځکه جمله صفت معرفه لپاره نه واقع کيږي فمضيت عطف امرماضي بمعنى المضارع اى امضى ثم اقول وثم عاطفة والتاء لتانيث اللفظ لان فى عطف الجملة على الجلة يكتب الهاء معها.

**سوال:** ته وائي جمله صفة نه واقع کيږی معرفه لپاره رضى الله تعالیٰ کې اسعدك الله تعالیٰ کې جمله صفت لپاره د لفظ الله چې معرفه دي واقع شوي ده ؟

**جواب:** دا صفت نه دي واقع شوي بلکه حال واقع شوي دي په تقدير د قد سره ځکه ماضي مثبت چې حال واقع شي فلا بد من قد ظاهرة او مقدرة، ۲ : يا دا جمله مستانفه ده يا دا جمله صفت واقع شوي دي ځکه داترکيب خاص په اعتبار د ماده سره مفيد دتعريف دي ځکه مراد دعلونه په دي مقام کې علو حقيقي دي چې فوق لافوق فوقه ته وائي اودامختص دي واجب تعالی پورې لکه څنګه چې جمله خبر واقع شي لابدی دضمير رابط نه دارنګي جمله صفة واقع شي لابدي دي دارابط ضمير نه په سبب دهغه ضمير سره داجمله صفة مربوط وګرځي دموصوف خپل سره اوس داضمير عام دي. ۱ :لفظا وي مثال لکه جاءنی رجل اکرمته.
۲ : اوکه مستتر وي مثال لکه جاءنی رجل يحمل عصا. ۳: اوکه تقديرا وي نحوقوله تعالی : ﴿وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِىْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْئًا﴾ اى لاتجزيا فيه وقول الشاعر:

وما ادري اغيّرهم تناء وطول الدهر ام مال اصابوا

تناء اصله تنائى بمعنى التباعد.

كتبت الهموكتبامرارا　　　فلم يرجع الىّ لها جواب

اصابوا جمله صفة واقع شوي دي مال لپاره او رابط ضمير منصوب مفعول به حذف شوي دي اصل کې اصابوه وو لکن خذف د رابط دجملي نه چې صفة واقع شي قليل دي او حذف درابط دجملي نه چې صله واقع شي کثير شائع دي.

| | |
|---|---|
| ٥١٢- وامنع هنا إيقاع ذات الطلب | وإن أتت فالقول أضمر تصب |

**ترکيب: هنا**: ظرف متعلق بـ امنع. **ايقاع**: مفعول به. **ذات**: مضاف اليه من اضافة المصدر الى المفعول به. **وان اتت**: فعل شرط. **فالقول**: **فا** جزائيه القول مفعول به مقدم د اضمر. **اضمر**: جزاء. **تصب**: مجزوم لانه جواب الامر اى ان تضمر تصبْ كسر باء تصب ، لاجل حرف الروي.

**ترجمه**: اومنع کوه ته په دي ځاي دصفة کې واقع کول دهغه جمله چې هغه خاوند دطلب وي اوکه چيرې راغلې وو، په استعمال دکلام دعربو کې جمله انشائيه صفة لپاره دنکره پس قول په دغه ځاي کې مقدر کوه ته اوکه داقول مقدر کړي ته به ورسى حق ته

**تشريح**: مخکې د ناظم ونعتوبجملة منكرا وويل جمله ئې مطلقا ذکر کړيده دهغي نه داتوهم پيداشوچي جمله انشائيه هم جمله ده نودا به هم صفة واقع کيږي. نکري لپاره دي راغي دفع دتوهم وکړه وامنع هنا ايقاع ذات الطلب سره يعنى هلته مراددجملي نه جمله خبريه ده اوجمله انشائيه صفة نه واقع کيږي ځکه. ١ : صفة دلالت کوي على معنى في متبوعه چې هغه معنى موجود ددي په متبوع کې مخکې دتکلم دمتکلم نه اوجمله انشائه راځي لپاره دايجاد مالم يوجد قبل التکلم مابين کې منافات دي. ٢ : صفة مربوط وي موصوف سره اوجمله انشائيه چاسره ربط نه ساتي اوکه چيرته جمله انشائيه صفة واقع شوي و نکري لپاره په استعمال دکلام دعربو کې دهغي نه تاويل کوه په مقول سره نحو جاءنى رجل اضربه اى رجل مقول في حقه اضربه وقول الشاعر:

حتى اذاجن الظلام واختلط　　　جاؤا بمذق هل رايت الذئب قط

هل رايت جمله انشائيه د صفة واقع شوي ده مذق نکره لپاره په تاويل دمقول سره اى مقول فيه عند رؤيته فى اول الليل هل رأيت الذئب قط اوجمله انشائيه خبر دمبتداء واقع کيږي بلا تاويل نحو زيد اضربه اوتصب فعل مضارع دي اومجزوم دي ځکه په جواب دامر کې واقع شوي دي او فعل مضارع چې په جواب دامر کې واقع شي هلته حرف شرط سره دفعل شرط نه حذف شوى وي هرکله چې حرف شرط سره دفعل شرط نه حذف شوه داجزادهغه واقع شوه اوفعل مضارع چې جزاواقع شي واجب دي جزم په هغه کښې.

| ٥١٣- ونعتوا بمصدر كثيرا | فالتزموا الإفراد والتذكيرا |
|---|---|

**تركيب: بمصدر** متعلق بنعتوا **كثيرا** مفعول مطلق نعتوا لپاره په اعتبار د موصوف محذوف سره اى نعتا كثيرا.

**ترجمه:** نعت واقع كړي دي عربو په صيغي دمصدر سره اوداخبر ډير ډير دي ناشنا نه دي +بيا دوى هغه سره لازم كړيدي افراد اوتذكير، موصوف هرځنګه چې وي تثنيه وي اوكه جمع وي اوكه مؤنث وي نحو عندي رجل عدل، عندي رجلان عدل، عندي رجال عدل ـ عندي امراة عدل ځكه مطابقة دصفة دموصوف سره په تذكير اوتانيث اوتثنثه اوجمعية كې هله راځي چې صفة حامل وي ضمير دموصوف لره لپاره ددي چې مطابقة راشي په مابين دراجع اومرجع كې اومصدر كې ضمير نه مستتر كيږي.

**سوال:** اوكه ته وائي مصدرنعت واقع شي حمل نه صحيح كيږي ځكه مصدر صرف وصف دي اوموصوف ذات وي حمل دصرف وصف راځئ په ذات باندې اوحمل دصرف وصف په ذات باندې جائز نه دي؟ **جواب ۱:** دا مصدر مبنى للفاعل دي نحو أنت رجل عدل اى عادل ذكر لازم دي مراد ترې نه ملزوم دي مجاز مرسل دي.

**جواب: ۲:** څوك وائي داصفة واقع شوي دي په اعتبار دمضاف محذوف سره اى انت رجل ذوعدل اوذو مجاز سل دي. ۲ : څوك وائي داصفة واقع شوي دي په اعتبار دمضاف محذوف سره اى انت رجل ذوعدل اوذو مؤول بالمشتق دي مجاز بالحذف شو. ۲ :څوك وائي داپه خپل معنى سره دي محمول دي مبالغة مجاز دي كې نشته دي.

| ٥١٤- "ونعت غير واحد: إذا اختلف | فعاطفًا فرقه، لا إذا ائتلف" |
|---|---|

**تركيب: نعت** مضاف. **غير** مضاف اليه بحذف الموصوف. **واحد** مضاف اليه. **اذا** جمله شرطيه خبر. دجزائيه. **فعاطفاً** حال ازفاعل فرق. **لا** عاطفه عطف على اذا اختلف. **ائتلف** جمله شرطيه جزا محذوف دي اى لاتفرقه يعنى مه جداكوه دغه لره كله چې متحد شي د يو بل سره په لفظ او معنى كې.

**ترجمه:** نعت الخ مبتداء إذا الخ خبردي يا دامبتداء ده فرقه خبردي. ۲ : يا داما اضمر عامله علي شريطة التفسير دي.

**سوال:** ما اضمر عامله كې امكان دتسليط شرط دي اودلته فعل ممكن التسليط نه دي ځكه مابعد دفاجزائية عمل نه شي كولي په ماقبل كې ؟

**جواب:** اذا ظرف دي فرقه لپاره متضمن ندي معنى دحرف شرط لره. ۲ :اوكه دا اذا متضمن شي

معنى دحرف شرط لره بيا ونعت الخ کې رفع متعين دي بنابر ابتدائية مابعد جمله شرطيه خبر دي اوکه دامتضمن نه شي معنى دحرف شرط لره بيانصب مختاره اورفع جائز دي څکه ما اضمر عامله على شريطة التفسير چې واقع شي مخکې دامرنه نو نصب بنابر مفعول به مختاره او رفع بنابر ابتدائية جائز قدر دي.

**ترجمه:** صفة د داسي موصوف چې هغه موصوف نه وو واحد بلکه هغه موصوف تثنية وه يا صيغه دجمع وه داددي غير واحد مصداقونه دي. اومختلف وو ديوبل نه په لفظ اومعنى کې پس جدا کړه ته دغه صفتونو لره په حال کون ستاکې چې ته عطف کوونکي ئې بعض لره په بعض باندې اوکه مختلف نه وو په لفظ اومعنى کې بلکه متفق وولاسه بيا به تفريق نه کوي په مابين د دوى کې په عطف سره.

**تشريح:** يعنى صفة دتثينة يا دجمع راشي په استعمال دکلام دعربو کې داصفة به خالي نه وي يا به متحد وي لفظا اومعنى يابه مختلف وي که مختلف وو لفظا اومعنى بينا داصفات به ذکر کوي په حرف عاطف سره جدا جدا مثال لکه جاءنى رجلان کريم ونجيل۔ جاءنى رجال کريم ونجيل وعالم اوکه دامتحد وولفظا اومعنى بيا جداجدابه نه ذکر کوي حرف عاطف سره بلکه ذکر به کوي په دي شان سره په تثنيه کې به تثنيه سر ذکر کوي مثال لکه جاءنى رجلان نجيلان شو اوپه جمع کې به جمع ذکر کوي مثال لکه جاءنى رجال کرماء شو.

| | |
|---|---|
| ٥١٥- ونعت معمولي وحيدي معنى | وعمل، أتبع بغير استثنا |

**ترکيب:** **نعت**: مفعول به مقدم اتبع لپاره. **نعت**: مضاف. **معمولى**: مضاف اليه مضاف. و: مضاف اليه مضاف بحذف الموصوف اى معمولى عاملين دا **وحيدى** ۱: صفة دي. ۲: يا حال واقع شوي دي معنى مضاف اليه وعمل عطف على معنى **بغير** متعلق باتبع.

**ترجمه:** تابع کړه ته نعت د دوه معمولين ددوه عاملين په اعراب تولو کې په حال کون ددغه دوه عاملين کې چې يو معنى والادي اويوعمل والادي يا هسي عاملين چې متحددي په معنى اوپه عمل کې بغير داستثناء سره داسې نه چې مرفوع وي تابع کوي به اوکه منصوب او مجرور وي نه به يې تابع کوې يا بغير د استثناء ديو نحوى دنحويانو نه يعنى تول نحويانو په دي کې اتفاق دى په دي کې اشارة دي ردته په ابن سراج باندې چې هغې ويلي دي اتباع ممتنع دي.

**تشريح:** دوه عاملين دي اومتحد دي په معنى اوبه عمل کې اوپه لفظ کې متحد وي اوکه نه و ي اتحاد في اللفظ شرط نه دي اودهغوى دوه معمولين وي اودهغوى لپاره صفة راشي نودغه صفة تابع دمنعوت ګرځولي شي په اعراب کې يعنى لکه څنګه چې قطع جائزدي دارنګي اتباع

جائز دي ددي اتبع دامعنى نه د ي چې اتباع واجب دي اوقطع جائز نه د ي ځکه کله چې عامل په دي معمولين کې يو وي په هغې کې قطع جائز دي مثال لکه ذهب زيد وعمرو العاقلان اوکله چې عاملين دوه وي په هغې کې په طريقه اولى سره قطع جائز دي مثال دعاملين چې متحدد ي په معنى اوپه عمل کې نه په لفظ کې لکه ذهب زيد وانطلق عمروالعاقلان، کلمت زيد اوحدثت بكرا العاقلين، مررت بزيد وجزت بعمروالعاقلين شو نوپه دغسې صورة کې داصفة تابع دمنعوت گرځول جائز دي په اعراب کې ځکه داعامل ثاني په منزله دتاکيد دي په عامل اول لپاره گويا کې داپه حقيقة کې عامل واحد دي اوکله چې، عامل دمعمولين يووي په هغې کې اتباع جائز دي نحوذهب زيد وعمرو العاقلان نو په دي کې هم جائز د ي اوکه عاملين مختلف ووبيا به خالى نه وي يابه مختلف وي لفظ اومعنى کې فقط نحوذهب زيدوقام عمرو العاقلان يا مختلف وي په معنى اوعمل کې فقط نحو وجدت زيدا ووجدعمروالعاقلان اول وجدپه معنى داصابة سره دي اودويم وجدپه معنى دحزن سره دي يابه مختلف وي فقط په معنى کې مثال لکه وجد زيدووجد عمرو العاقلان شو اول وجدپه معنى دحزن سره اودويم وجدپه معنى دعشق سره دي نوداعاملين متحد دي په لفظ اوپه عمل کې اومختلف دي په معنى کې يا به مختلف ئي په لفظ اومعنى اوعمل دريواړوکې مثال لکه ضربت زيدا وقام عمر والعاقلان شونوپه دي څلورواړه صورتونو کې دانعت به دنعتيه نه قطع کوو وجوبا مرفوع به وائي بناپه دي چې داخبر دمبتداء محذوف دي ايْ هما العاقلان يامنصوب به وائي بناپه دي چې دامفعول به لپاره دفعل محذوف دي اى اعني العاقلين اواتباع په کې ممتنع دي ځکه داعاملين مختلف دي په معنى کې يا په عمل کې داپه منزله دعامل واحدنه شو اوس که مونږ دا تابع دمنعوت وگرځووپه اعراب کې بيا لازم کيږي توارددعاملين مختلفين په معمول واحد کې داباطل دي اوکه عامل يوولکن معمول مختلف وو مثال‌لکه ضرب زيدعمرا العاقلان شو په دي کې خلاف دي. ١ : بصريان وائي قطع واجب د ي اتباع ممتنع دي. ٢ : اوفراء وائي اتباع جائزده تغليبا يعنى رفع لره به غلبه ورکړي په نصب باندي العاقلان به وائي داصفة دي زيداوعمراودواړه لپاره. ٣ : ابن سعد ان وائي اتباع دهريوجائزده تغليبا نوضرب زيد عمرا العاقلان وائي او که العاقلين وائي دواړه جائزدي نودري صورتونه شو په دي مقام کې.

١ : که عاملين متحدوو معنى اوعملا اتباع دمنعوت په اعراب کې جائز دي بالاتفاق ٢: که عاملين مختلف وو په معنى کې يا په عمل کې بيا په عمل بيا اتباع دماقبل جائزنه ده بالاتفاق. ٣ : اوکه عامل يووو اوعمل مختلف ووپه هغې کې خلاف دي بصريان وائي اتباع

ممتنع دي قطع واجب دي او فراء وائي اتباع جائز دي.

| | |
|---|---|
| ٥١٦- وإن نعوت كثرت وقد تَلَتْ | مفتقرًا لذكرهن أُتبِعَتْ |

**تركيب:وان:** شرط. فاعل دفعل محذوف په حذف وجوبي سره دوجه دتفسير نه په مابعد کې دا ترکيب و ان احد من المشركين استجارك د قبيلي نه دي **وقد:** جمله حال از ضمير كثرت **مفتقرا** مفعول به دتلت. **لذكرهن** متعلق مفتقرا پوري او **اتبعت** جزاء.

**ترجمه:** که چيرې ډير وو نعتونه د يو منعوت لپاره اوپه تحقيق سره واقع شوي ؤ دا نعتونه وروسته د منعوت نه چې هغه منعوت محتاج ووذکر ددي صفتونو ته په وضاحت يا په تخصيص کې نو دغه صفتونه به تابع کولی شي قطع په دي کې جائز نه دي مثال لکه الجسم الطويل العريض العميق شو.

| | |
|---|---|
| ٥١٧- واقطع أو اتبع إن يكن معينا | بدونها، أو بعضها اقطع معلنا |

**تركيب: واقطع** فعل فاعل مفعول به ددي حذف شوي دي اي الجميع. **يكن** ضمير مستتر راجع الى المنعوت اسم ديَکن **معنينا** خبر. **بدونها** متعلق بمعينا. **بعضها** مفعول به مقدم. ٢: يادامجرور دي عطف دي په دون باندې اواقطع لپاره بعضها مفعول به محذوف دي فهم من كلام سابق حال ازضمير مستتر فی اقطع جزادشرط محذوف دل عليه الكلام السابق.

**ترجمه:** اوقطع کوه ياتابع کوه ګڼ نعتونه ديومنعوت که چيري وودامنعوت معلوم بغير ددغه نعتونونه يابعض لره قطع کوه اوبعض لره مه قطع کوه په حال کون ستا کې چې ته خبر داري ورکوونکي ئي په دي قطع باندې په دې شان سره کوم چې قطع کړيدي هغه به وروسته ذکرکوي اوکم چې نه ئي قطع کړي هغه به مخکې ذکر کوي.

**تشريح:** حاصل د دي بيتين دادي چې موصوف واحد لپاره نعوت کثيره راشي داځلور قسم دي ځکه دمنعوت به خالی نه وي. ١: يابه مفتقر وي ټول نعوت ته په تعين کې. ٢: يابه مستغني وي دټولونه په تعين کې. ٣: يا به مفتقر وي بعض معين ته. ٤: يابه مفتقر وي بعض غير معين ته که چيري مفتقر ووټول نعوتو ته بيا داټول نعوت به ذکر کوي په طريقي دتبعيت سره وجوبا اوقطع ممتنع دي مثال لکه الجسم الطويل العريض العميق، مررت بخالد الكاتب الشاعر الخطيب شو. چې دي خالد سره په دي نوم کې څلور کسان شريك دي اوپه هغوی کې يوتن شاعر هم دي او کاتب هم دي اوبل کاتب هم دي اوخطيب هم دي اودريم خطيب هم دي اوشاعر هم دي او دا يو په کې کاتب هم دي اوشاعر هم دی ياخطيب همدي نوددي وضاحت نه راځي ترڅوپوري دادري واړه صفات دي سره ذکرکړي نه ئي دارنګي الجسم الطويل الخ کې داجسم محتاج دي ذکر ددي صفاتوته په وضاحت دمعنی کې ترڅو پورې دادرې واړه صفات ذکرکړي

نه ئي ددي معنى پته نه لګي څکه جسم ماله الابعاد الثلاثة ته وائي چې هغه طول اوعمق اوعرض دي اوکه دا منعوت مستغني وو د ټولو نه په هغې کې دري طريقي جائز دي. ۱ : دا ټول نعتونه قطع کړي د نعتية نه. ۲ : دا چې داټول تابع کړي. ۳ : دا چې بعض قطع کړي اوبعض تابع کړي مثال لکه جاءنى زيد العاقل الكريم اللبيب اوکه مستغني وودبعض معيّن نه په هغه بعض معيّن کې قطع اواتباع دواړه جائز دي مثال لکه جاءنى زيدن الكاتب الشاعر الخطيب شو دي زيدسره په دي نوم کې دوه کسان شريك دي په هغوى کې يو تن کاتب دي اوبل شاعر دي اودي کاتب هم دي اوشاعر هم دي اوخطيب هم دي په دي خطيب صفة کې زيدنوم سړي دي سره شريك نه دي نو دي په وضاحت کې محتاج دي ذكر د کاتب او د شاعر ته تر څو پورې چې دا ذكر کړې نه وي نو د دې اوخطيب ته نه دي محتاج په وضاحت کې نويه دي الكاتب اوالشاعر کې اتباع واجب دي اوالخطيب کشي اتباع اوقطع دواړه جائز دي او که مستغني وو د بعض غير معين نه بيا به په هغه بعضو نعوتو کې اتباع او قطع دواړه جائز دي، اوبعض کې اتباع واجب دي مثال لکه جاءنى زيدن الكاتب الشاعر شو دي زيد سره په دي نوم کې دوه کسان شريك دي لكن په هغوى کې کاتب اوشاعر نشته دي اوداشاعر هم دي اوكاتب هم دي نودازيد په وضاحت کې محتاج دي ذكر دكاتب ته ياذكر دشاعر ته لاعلى التعين ترڅوپوري چې يوددي صفتين نه ذكر کړي نه ئي دي زيدوضاحت نه راځي اوس دا دواړه صفتين ته ذكر کړي زيد سره يو به ذكر کړي په طريقي دتابعيت سره اوبل کې اتباع اوقطع دواړه جائز دي لكن كم چې قطع کړي هغه به وروسته ذكركوي اوكم چې نه وي قطع کړي هغه به مخکې ذكر كوي دي خبر ي ته اشاره کړې ده ناظم په معلنا سره. ۲ : يا د اعلان طريقه داده چې قطع د دي نعت وکړي دنعتيت نه په داسي اعراب سره چې هغه مخالف وي داعراب دمتبوع نه مثال لکه جاءني زيد ن الكاتب الشاعر کې ته جاءنى زيد ن الكاتب الشاعر ووائي چې الكاتب صفة دزيد دي اوالشاعر کې عدول شوي دي نعتيت نه په نصب سره دامفعول به لپاره دفعل محذوف دي چې هغه اعنى دي.

| مبتدأ، أو ناصبًا، لن يظهرا | ٥١٨- وارفع أو انصب إن قطعت مضمرًا |
|---|---|

**تركيب: انصب**: مفعول به محذوف اي النعت. **قطعت**: شرط جزامحذوف. **مضمرا**: حال ازتاء قطعت. **مبتداء**. مفعول به لمضمرا. **ناصبا**: معطوف على مضمرامبتدا ءبحذف الموصوف اى فعلا.
**يظهرا**: فعل فاعل جمله فعلية صفة واقع شوي دي معطوف اومعطوف عليه لپاره.
**ترجمه**: مرفوع کوه ته يا منصوب کوه ته نعت لره که چيري ته قطع کوي دغه نعت لره دنعتية نه

په حال کون ستا کې چې تـه مقدر کـوونکي ئي مبتـداء لـره يـا فعـل ناصب لـره داسې مبتداء اوفعل ناصب چې هيڅ کله ظاهر کيږي نه بلکه دادواړه حذف کولي شي په حذف وجوبي سره.

**تشريح:** نعت چې تـه قطع کـوي دنعتيـة نـه دهغـي طريقـي دري دي. ۱ : نعت مجرور نـه عـدول اوکړي په رفع سره بناپه دي چې داخبر دمبتداء محذوف دي مثال لکه الحمد لله رب العالمين اى هو رب العالمين. ۲ : نعت مجرور نـه عـدول وکړي پـه نصب سره بناپـه دي چې دامفعول به لپاره د فعل محذوف دي مثال لکه الحمد لله رب العـالمين اى امدح رب العـالمين يا اعني رب العالمين. ۳ : نعت مرفوع نه عدول وکړي پـه نصب سره بناپـه دي چې دامفعول به لپاره دفعل محذوف دي نحو قوله تعالى : ﴿وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ﴾ اى اذم حمالـة الحطب داحمالة الحطب اصل کې صفة واقع شوي وو وامرا ته لپاره بيا دهغي نه عدول شو ي دي په نصب سره اوس مفعول به دي لپاره دفعل محذوف چې هغه اذم دي اودامبتداء اوفعل ناصب حذف کولي شي په حذف وجوبي قياسي سره اومبتداء محذوف به راوباسي هر ځاى کې هو ضمير مرفوع منفصل او فعل ناصب به راوباسي امدح کـه چيرې ستامدح مقصود وو نحـو: ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ او فعـل ناصب بـه راوباسي ذم کـه چيري ستـا ذم مقصود وو نحـو : ﴿أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ﴾ ﴿وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ﴾ اوفعل ناصب بـه راوباسي ارحم کـه چيري ستاترحم مقصودوى نحومررت بزيدن المسکين، اناعبدك المسکين وفعل ناصب به راوباسي اعني که چيري ستامدح ياذم ياترحم مقصود نوونحو نفخة واحدة اى اعني واحدة.

| ۵۱۹- وما من المنعوت والنعت عقل | يجوز حذفه، وفي النعت يقل |
|---|---|

**ترکيب: ما:** موصوله مبتـداء. **من:** متعلق بعقـل. **النعت:** جملـة صلـة. **يجوز:** جملـه خبر. **وفي:** متعلق بيعقل. **يقل:** ضمير مستتر هو فاعل راجع الى الحذف.

**ترجمه:** اوهغه شئ چې دموصوف نه وي اودنعت نه وي هغـه معلوم کولي شي پـه قريني دمقام سره +جائز دي خذف ددغه شي اوپه نعت کې کم دي دغه حذف.

**تشريح:** يعني يو لفظ دي مرکب توصيفي دهغي نـه موصوف حذف کـول هم جائز دي اونعت حذف کول هم جائز په وجود دقريني دالى کې پـه تعين دمحذوف باندې لکن دومره فرق دي چې حذف دموصوف کثير شائع دي اوحذف دصفة قليـل دي مثال دموصوف محذوف قوله تعالى: ﴿أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ﴾ اى دروعا سابغات وقولـه تعـالى : ﴿وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ عِينٌ﴾ اى نساء قاصرات الطرف وقول الشاعر:

انا ابن جلا وطلاع الثنايا متى اضع العمامة تعرفوني

انا ابن جلا اي كشف الامور باعماله. اى انا ابن رجل جلا وقول العرب نحو فريقان منّا ظعن ومنا اقام اى منا فريق ظعن وفريق اقام ومنه قوله تعالى: ﴿وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ﴾ من الذين خبر مقدم يودّ جملة صفة لپاره موصوف محذوف چې هغه ناس دي دامبتداء دا يوتركيب دي په دې كې نور تركيبونه هم شته ده دي مثال دصفة محذوف قوله تعالى: ﴿يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا﴾ اى ياخذ كل سفينة صالحة اوسالمة غصباً. و منه قوله تعالىٰ: و ما نريهم من آية إلّا هى أكبر من أختها أى السابقة، و منه تدمّر كلّ شىء أي شيء سلطت عليه و منه يأهل الكتاب لستم عليٰ شىء أى نافع و منه إن نظنّ إلّاظنًا أى ضعيفا.

## التوكيد

دا ماسيأتي تريوحدپوري بحث دتوكيد دي اوتاكيد څه ته وائي په اصطلاح كې دنحويانو كې تابع يقررامر المتبوع في النسبة اوالشمول چې دااثبات اوتقرير كوي په ذهن سامع كې صفة دمتبوع په نسبة اوپه شمول كې لپاره د دي چې دسامع شك پاتې نه شي په جاءنى زيد كې دمجاز بالحذف يادمجاز عقلي چې دلته جاءنى خبر زيد ياجاءنى رسول زيد مراد دي نه دازيد جاءنى زيد زيد ،جاءنى زيد نفسه سره داتوهم ختم شو اودا په دوه قسم د ي.١: لفظي. ٢: معنوي تاكيد لفظي په تكرار دلفظ اول يا دهغي مرادسره راځئ نحوجاء اتىٰ زيد اوتاكيد معنوي په تكرار دلفظ اول سره نه راځي بلكه په الفا ظ محصورو سره راځي چې هغه (٩) الفاظ دي نفس، عين،كل،كلا، كلتا ،اجمع،اكتع، ابتع، ابصع.

| | |
|---|---|
| ٥٢٠- بالنفس أو بالعين الاسم أكدا | مع ضمير طابق المؤكدا |

**تركيب: با**: متعلق باكد. **الاسم**:١: مفعول به مقدم. ٢: مبتداء. امرا صله اكدن نون تاكيد خفيفة بدل شوى دى الف سره د وقف د وجې نه موصوف. **طابق**: جمله صفة واقع شوي دي. **المؤكد**: مفعول به مع ضمير په اعتبار د متعلق محذوف سره حال واقع شوي دي دنفس اوعين نه.

**ترجمه**: داسم توكيد كولي شي په نفس اوعين سره. ٢: تاكيد وكړه ته په نفس اوعين سره داسم په حال كون ددي نفس اوعين كې چې دادواړه به مقارن شوي وي په ضمير سره داسې ضمير چې هغه ضمير به مطابق وي دمؤكدسره يعنى لفظ دنفس اوعين سره تاكيد دمذكرهم كولي شي اوتاكيد دمؤنث هم كولي شي لكن دي سره چې تا كيد دمذكر كوي مضاف كوي به ضمير دمذكر ته نحو جاءنى زيد نفسه اوعينه اوكه تاكيد اومؤنث كوي مضاف كوي به ضمير دمؤنث ته نحو جاءتنى هند نفسها اوعينها.

| ٥٢١- وأجمعهما بأفعل إن تبعا | ما ليس واحدًا تكن متبعا |
|---|---|

**ترکیب: ان** جزا محذوف ده دل علیه کلام السابق: **ما** موصوله مفعول به تبعا لپاره ضمیر مستتر لیس کې هو راجع الی **ما** اسم دلیس **واحد** خبر دلیس ضمیر مستتر انت اسم دتکن **متبعا** خبر دتکن
**ترجمه**: اوجمع کوه ته دي دواړه لره په جمع سره په وزن دافعل باندې که دادواړه واقع شوي وو تابع دهغه متبوع چې هغه واحد نه دي بیا برابره خبره ده چې هغه تثنیه وي اوکه جمع وي تکن دا صیغه واحد مذکر مخاطب فعل مضارع معلوم صیغه دي جواب دامر واقع شو دي ځکه دامجزوم دي ای ان تجمعها بافعل تکن متبعا یعنی که چیري تاجمع کړه دي دواړو لره په افعل وزن باندې شي به ته تابعداري کوونکي استعمال دکلام دعربو یعنی لفظ دعین اونفس سره تاکید تثنیه اوجمع چې کوي دابه اول جمع کوي افعل په وزن باندې بیا به تاکید واقع کوي لکن فرق به په اعتبار دضمیر مضاف الیه سره به ئې په دي شان سره که ته دي سره تاکید دجمع کوي داجمع بروزن افعل به مضاف کوي ضمیر دجمع ته نحو جاءنی الزید ون انفسهم اوکه ته دي سره تاکید دتثنیة کوي دا جمع بروزن افعل به مضاف کړې ضمیر د تثنیه ته نحو جاءنی الزیدان انفسهما د وجې د استکراه د اجتماع تثنیه ګانو نه چې هغه متصل دي لفظا او معنی هر چې دي اتصال لفظي ځکه احدهما مضاف دي اخر باندې اوهر چې دي اتصال معنوي چې تثنیة اولی جزء دي د تثنیه ثاني نه د دي کراهة دوجي نه په قران پاک کې﴿ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ﴾ ﴿فَاقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا﴾ راغلي دي قلباکما او یداهما او بعض خلك صیغه دتثنیة مضاف الی الضمیر تاکید واقع نحو جاءنی الزیدان نفساهما اوعیناهما وایي داضعیف دي.

| ٥٢٢- وكلًّا اذكر في الشمول، وكلا | كلتا، جميعًا بالضمير موصلا |
|---|---|

**ترکیب: کلام** مفعول به مقدم لاذکر. **کلتا** دادواړه عطف دي په کلا باندې بحذف العاطف.
**الضمیر**: اللام للعبدای ضمیر المؤکد متعلق بموصولا او **موصولا** حال دکلا اود هغې معطوفاتونه.
**ترجمه**: ذکرکوه ته لفظ دکل اوکلا او کلتا او جمیع لره.۱: په وخت دارده ستا کی شمول د حکم ټول افراد دمؤکد لره.۲: یا په وخت دشمول د دی متبوع کې ټول افراد خپل لره په حال کون د هر واحد د دی ټولو کې چې دا به متصل شوی وي ضمیر سره
**تشریح**: بل الفاظ د تاکید نه لفظ د کل او کلا او کلتا او جمیع دي په دې سره تاکید کولی شی په وخت دا راده دمتکلم کې شمول د حا کم ټول افراد د مؤکد لره دا مضا ف وی ضمیرد مؤکد ته اضافه د وی ضمیر دمؤکد ته شرط دی تاکید دپاره که چیری دا مضا ف ضمیر ته شوی نوی بیا تاکید نه واقع کیږی ددی دوجه نه جمیعا تاکید ندی واقع شوی په دی قول دالله تعالی

کې ﴿خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيْعًا﴾ چې تاكيد ضمير غوخته او ضمير نشته دی بيا ددی څلور الفاظ مينځ کې فرق استعمال دادی چې کلا سره تاكيد كولی شی د تثنيه نحو جاءت الهندا ن کلتا هما او د کل سره تاكيد كولی شی دذوالأجزاء چې دهغی تجزی صحيح دی حسا يا حكما مثال داول لکه جاءنی القوم کلهم ا و مثال دثانی لکه اشتر يت العبد كله اوس داذوالأجزاء عام دی مفرد وی او که جمع وی نحو جاءالجيش كله جاءت القبيلة كلها جاء الرجال كلهم جاءت النساء كلهن او جميع لفظ په شان د کل دی معنی او استعمالا.

| من عم في التوكيد مثل النافلة | ٥٢٣- واستعملوا أيضًا ككل فاعله |
|---|---|

**ترکیب:** جار مجرور په اعتبار دمتعلق محذوف سره حال اول ازفاعله. **فاعله**:مفعول به لا ستعملوا. **من عمّ**:حال الثانی يا نعت واقع شوی دی. **فی التوكيد**:متعلق با ستعملوا. **مثل النافلة**:حال ثالث از فاعله يا نعت.

**ترجمه:** او مستعمل کړيد ی په تاكيدی کې عربو په شان دلفظ د کل په شمول کې اسم فاعل مؤنث په وزن د فاعلة باندې چې مشتق و ی دما دی دعم نه په حال کون ددی فاعلة کې چې دا په شان دنافلة دی په زيادة او په لزوم د تا کې يعنی لکه کل چې لپاره شمول راتله د الفاظ د تاكيد معنويونه داسی عامة لفظ هم ر اځی لپاره شمول د افراد نحو جاءنی القوم عامتهم او دی عامة ته مثل النافله اويل. ۱: ځکه تاء عامة په شان د تاء نافلة دی مساوی دی بين المذکر والمؤنث يعنی عامة لفظ مذکر او مؤنث دواړو کې مستعمل کيږی په شان د نافلة .۲: يا مثل النافله ويلی دی په دی اعتبار سره چې عامة لفظ الفاظ د تاكيد معنوی نه عام نحو يانو ندی ذکر کړی دا صرف سيبويه ذکر کړی دی ګويا کې دا يو زياتی څيزدی په الفاظ د تاكيد معنوی کې اوس اکثر نحويان دا په الفاظ د تاكيد معنوی کې ندی ذکر کړی ځکه اخفش ويلی دی دا په معنی د اکثر سره دی لهذا دا په شان د کل تاكيد نه واقع کيږی بلکه دا په ترکيب کې بدل بعض واقع کيږی.

| جمعاء، أجمعين، ثم جُمَعًا | ٥٢٤- وبعد كل أكدوا بأجمعا |
|---|---|

**ترکیب:** دا دواړه عطف دی په اجمع باندې بحذف العاطف.

**ترجمه:** او تاكيد کړی دی عربو پس د کل نه په لفظ د اجمع او جمعاء او او اجمعين او جُمع سره. يعنی غوره خبره دادی کله چې ته تاكيد کوی په لفظ داجمع او جمعاء او اجمعين او جمع سره اول به تاكيد کوی په کله سره بيا به تاكيد کوی په اجمع سره او اول به تاكيد کوي په کلهن سره بيا به تاكيد کوي په کلهم په جمع سره لپاره تقوية د تاكيد د ليل په دی باندې دا قول د الله

تعالی دی: ﴿فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ﴾.

| | |
|---|---|
| ٥٢٥- ودون كل قد يجيء أجمع | جمعاء أجمعون ثم جمع |

**ترکیب:** **ودون:** متعلق بیجیء **اجمع:** فاعل. **جمعاء:** معطوفان بحذف العاطف.

**ترجمه:** او لږ لږ راځي لفظ داجمع اوجمعاء اواجمعون او جمع تاکید لپاره بی دلفظ دکل نه یعنی دوی کله کله تاکید کړی دی په لفظ دا جمع اوجمعاء اواجمعون اوجمع سره بی دلفظ دکل نه کما فی قوله تعالی لأغوینهم اجمعین

**سوال:** دی ناظم دا جمع جمع اجمعون اودجمعاء جمع جمع ذکر وکړه لکن دا جمع او دجمعاء تثنیه ذکر ونه کړو ولې؟ **جواب:** د دې اجمع او د جمعاء تثنیه جائز ندی دوجه داستغناء نه ددی دواړو تثنیه نه په لفظ د کلا او کلتا سره ددی نظیر لکه چې استغناء راغلی ده په تثنیه دسی سره چې سیان دی د تثنیه دسواء نه زید وعمرو سیان فی الفضیلة ویلی کیږی زید وعمرو سواءان نه ویلی کیږی دارنګې دلته کې جاءنی الزیدان کلاهما ویلی کیږی جاءنی الزیدان اجمعان نه ویلی کیږی او جاءت الهنداءن کلتا هما ویلی کیږی او جمعاوان نه ویلی کیږی.

| | |
|---|---|
| ٥٢٦- وإن يفد توكيد منكور قبل | وعن نحاة البصرة المنع شمل |

**ترکیب:** **وان یفد:** شرط. **وعن نحاة:** متعلق با المنع **المنع:** مبتداء. **شمل:** جمله خبر.

**ترجمه:** که چیری فائده ورکوله تاکید ددغه نکری دا تاکید مقبول دی او نحات د بصری نه منع د تاکید ددغه نکری شامل شوی دی منع ددغه تاکید د نکره لره چې مفید دفائده وی دغه تاکید د نکره او که نوی.

**تشریح:** یو اسم دی او هغه نکره دی بیا به خالی نوی یا به نکره محدود ئی لکه یو م او شهر شو یا به نکره غیر محدودئی لکه وقت اوحین او زمان شو په هغه کې. ٢ : مذهب دی. ١ : مذهب د کوفیانو دی. ٢ : مذهب د بصریانو دی کوفیان وائی که په تاکید د نکره کې فائده وو جائزه دی نحو اعتکف اسبوعا کله او که فائده نوو بیا جائز ندی نحو صمت دهرا کلّه بصریان وائی تاکید دنکره جائز ندی مطلقا چې هغه محدودوی او که غیر محدودوی او هغه مفید د فائده وی او که نوی او مختاره په نزد د ناظم صاحب باندې په دی مقام کې مذهب د کوفیانودی ځکه دی دلته ذهاب کړی دی په مذهب دکوفیانو باندی.

| | |
|---|---|
| ٥٢٧- واغن بكلتا في مثنى وكلا | عن وزن فعلاء و وزن أفعلا |

**ترکیب:** **بکلتا:** جار مجر ور متعلق باغن. **عن وزن:** جار مجرور متعلق باغن.

**ترجمه:** او بی پر وائی کوه ته په کلتا سره په تاکید د تثنیه مؤنث کې او په کلا سره په تاکید د

تثنيه مذکر کې د تثنیه د وزن د فعلاء او د افعل نه.

**تشریح:** یعنې تاکید د تثنیه مذکر کې د اجمع تثنیه ته ضرورة نشته ځکه د تثنیه مذکر تاکید کولې شي په کلا سره دارنګې تاکید دتثنینه مؤنث کې د جمعاء تثنیه ته ضرورة نشته ځکه د تثنیه مؤنث تاکید کولې شي په کلتا سره ددې نظیر مخکې مونږ بیان کړې دی ددې دوجه نه غوره خبره دا وو چې دا نظم وبعد کل اکدوا با جمعا پسې ذکر کړیوې.

| | |
|---|---|
| ۵۲۸- وإن یؤکد الضمیر المتصل | بالنفس والعین فبعد المنفصل |

**ترکیب:** **وان یوکد:** ضمیر مستتر انت فاعل که توکد شي الضمیر مفعو ل به موصوف صفة نائب فاعل که یؤکد شي، **بالنفس** متعلق بتوکد. **فبعد المنفصل** جزا. ۱: خبرد مبتداء محذوف ای فتوکید بعد الضمیر المنفصل.۲: فاکد بها بعد الضمیر المنفصل.

**ترجمه:** ۱ : که ته اراده او کړې تاکید د ضمیر مرفوع متصل په نفس او عین سره.۲: که چیرې اراده او کړې شوه تاکید د ضمیر مرفوع متصل په نفس او عین سره دالفاظ د تاکید معنویونه ددغه تاکید کولې شي او وروستو دتاکید ددینه په ضمیر منفصل سره.

| | |
|---|---|
| ۵۲۹- عنیت ذا الرفع، وأکدوا بما | سواهما، والقید لن یلتزما |

**ترکیب:** **ذالرفع:** مفعول به. **بما:** ما موصوله. **سواهما:** صله. الواو للحال. **والقید:** مبتداء. **لن یلتزما:** ضمیر مستتر نائب فاعل خبر د مبتداء بیا جمله حال از ضمیر اکدوا.

**ترجمه:** قصد کړې دې ما په دغه ضمیر مذکور سره خاوند درفع او تاکید کړې دې عربو ددغه ضمیر مرفوع متصل په هغه الفاظ د تاکید سره چې ما سواء نفس او دعین نه دی او قید او شرط لپاره د تاکید هیڅ کله لازم کړې شوی ندی یعنې تاکید ددې ضمیر مرفوع منفصل سره اولادا شرط ندی ددې تاکید لپاره.

**تشریح** حاصل ددې بیتین دادې تاکید د ضمیر مرفوع متصل په لفظ دنفس او عین سره کولې شي پس د تاکید دضمیر مرفوع متصل نه په ضمیر مرفوع منفصل سره نحو ضربت انت نفسك زیدا لپاره ددې خبرې چې لازم نه شي التباس د مؤکد دفاعل سره په صورة د وقوع د نفس او عین کې تاکید لپاره ضمیر مرفوع مستتر مثال لکه زید اکرمني هو نفسه شو اوس ته نفسه سره تاکید او کړې دهغه ضمیر مرفوع متصل چې مستتر دې په دې اکرمني کې بې د تاکید نه په ضمیر مرفوع منفصل سره بیا دا پته نه لګیږي چې دا نفسه فاعل دا کرمني دی او که دا تاکید د ضمیر مرفوع مستتر فاعل دا کرمني دی لهذا ته زید اکرمني هو نفسه اوایه چې دا التباس با الکل ختم شي او هر چې دې صورة دعدم التباس مثال تاکید لکه ضربت

انت نفسك دا محمول دی په صورة د التباس باندې طردا للباب. ۱: ضمير سره احتراز او کړه د اسم ظاهرنه ځکه د اسم ظاهر په نفس او عين سره جائز دې بی د تاکيد نه ضمير مرفوع منفصل سره شو مثال قد مر فاتح.۲: او مرفوع سره احتراز وکړه د ضمير منصوب او دمجرور نه ځکه تاکيد د ضمير منصوب او د ضمير مجرور په لفظ د نفس او عين سره کولی شی بی د تاکيد نه ضمير منفصل سره دوجه د عدم التباس نه مثال لکه ضربتك نفسك مررت بك نفسك شو.۳: متصل سره احتراز وکړه د منفصل نه ځکه تاکيد دضمير مرفوع منفصل په لفظ د عين او نفس سره کولی شی بی د تاکيد نه ضمير مرفوع منفصل سره مثال لکه انت نفسك قائم شو. ٤: بالنفس والعين سره احتراز وکړه نور الفاظ د تاکيد معنوی نه لکه لفظ د کل او اجمع شو ځکه ددوی سره تاکيد د ضمير مرفوع متصل جائز دی بی د تاکيد نه ضمير مرفوع منفصل سره دوجه د عدم التباس نه نحو الزيدون قاموا كلهم اجمعون.

| | |
|---|---|
| ۵۳۰- وما من التوكيد لفظي يجي | مكررًا كقولك: "ادرجي ادرجي" |

**ترکیب: وما:** موصوله مبتداء.لفظی خبر د مبتداء محذوف ای هو لفظی جمله صله. **من التوکید** په اعتباره دمتعلق محذوف سر ه حال از ضمير خبر چې هغه لفظی دی ځکه د الفظی مشتقی دی حکما ځکه دا اسم منسوب دی يجئ جمله خبر. **مکررا:** حال از فاعل يجئ. **کقولك:** خبر د مبتداء محذوف ادرجی ادرجی: مقوله د قول مفعو ل به.

**ترجمه:** ای الذی هو لفظی ای منسوب الی الفظ حال کونه کائنا من التوکيد يجئ مکررا هغه چې د تاکيد لفظی نه هغه به راځی تکرارد لفظ اول سره برابره خبره دی چې هغه اسم وی او که حرف وی او که فعل وی مثال لکه دا مقوله ستا شو ادرجی ادرجی يعنی تاکيد لفظی راځی په تکرار د لفظ اول او په تکرا ر د مرادف دهغې سره او تاکيد معنوی راځی په الفاظ محصوررو سره او په تاکيد لفظی کې تاکيد لفظا او معنی دواړه دی او په تاکيد معنوی کې تاکيد فقط معنی دی نه لفظا ځکه ورته تاکيد معنوی وائی.

| | |
|---|---|
| ۵۳۱- "ولا تعد لفظ ضمير متصل | إلا مع اللفظ الذي به وصل" |

**ترکیب: الامع:** ظرف مستثنی از حال لفظ ضمير مفعو ل به. **به:** متعلق بوصل.

**ترجمه:** اومه راګرځوه ته لفظ د ضمير متصل لره په تاکيد لفظی کې مګر سره د هغه لفظ او هغه عامل نه چې ددی لفظ سره اتصال شوی دی ددی ضمير.

**تشريح:** يعنی ته چې تاکيد د ضمير متصل کوې په تاکيد لفظی سره.

او تاکيد لفظی راځی په تکرار د لفظ اول سره الهذا دغه ضمير خو به ته مکرر کوی لکن دغه

ضمير متصل به يواځې نه مكرر كوی بلكه هغه لفظ به هم ورسره مكر ر كوی چې د چا پور ی ضمير متصل شودی لپاره ددی چې لازم نه شی انفصال د متصل اوس ضمير متصل عام دی چې۱: ضمير مرفوع وی. ۲ : اوكه ضمير منصوب وی.۳: اوكه ضمير مجرور وی او مجرور عام دی چې مجرور بـا الاضافة وی او كه مجرور بحرف الجروی مثال لكه قمت قمت ، ضربك غلامك بك بك.

| به جواب كنعم وكبلى" | ٥٣٢- "كذا الحروف غير ما تحصلا |
|---|---|

تركيب: كذا: مقدم. الحروف: مبتداء موصوف. غير ۱ :صفة. ۲ : منصوب على الاستثناء. ما: موصوله به: متعلق بتحصل. جواب فاعل تحصل جمله صله. كنعم وكبلى: خبر د مبتداء محذوف.

ترجمه: په شان د ضمير مرفوع متصل باندې حروف دی غير د هغه حروف نه چې حاصليږی دی حروف سره جواب د سوال لكه نعم اوبلى شو. يعنى دغسې حرف چې محصل د جواب ندی دا حرف چې كم معمول باندې داخل شوی دی سره د هغه معمول نه به رامعاد كوی بی د هغه معمول نه به نه رامعـاد كوی نحو فی الدار فی الدار زيد إنّ زيدا فی الدار و كما فی قوله تعالىٰ أيعدكم أنكم إذا كنتم، فلا يقال في في الدار زيد ، إنّ إنّ زيدا قائم، لكن هغه حروف چې د هغه سره حاصل شوی وي جواب مثال لكه نعم او بلى شو دارنگى باقى حروف ايجاب شو دانعم اوبلى دی ذكر كړی دی بطور مثال اوس د حرو ف ايجاب تاكيد لفظى چې كوی اعاده ددی وحده جائز دی بی داعاده د معمول نه او اعاده د معمول ته ضرورة نشته دی لكه په نور حروف كې چې ضروری وو څكه دا حروف ايجاب چا پوری متصل شوی ندی په جواب كې ددی سره څه شئ به معاد كوی مثال لكه سائل اقام زيدووايي ته به په جواب كې نعم نعم يا لا لابه وائی لافقط بعد الايجاب راځی جواب لپاره او بلى فقط بعد النفى راځی جواب لپاره او باقى حروف ا يجاب عـام دی بعد الايجاب او بعد الالمفغى دواړو كې راځی جواب لپاره نو حروف ايجاب په اعتبارد جواب سره دری قسم شو هغه دی چې فقط په جواب د نفى كې راځی او په جواب دا ثبات كې نه راځی مثال لكه لا شو. ۲ : ځنی هغه دی چې په جواب د نفى او د اثبات دواړو كې راځی مثال لكه باقى حروف ايجاب شو.

| أكّد به كل ضمير اتصل | ٥٣٣- ومضمر الرفع الذي قد انفصل |
|---|---|

تركيب: ومضمر: موصوف. ۱ :مرفوع على الابتدا.۲: ما اضر عامله على شريطة التفسير. الذى: صفة. جمله صله. كل: مفعول به. ضمير: موصوف اتصل: جمله صفة.

ترجمه: او ضمير د مرفوع هسی ضمير مرفوع چې هغه منفصل شوی وي ته تاكيد كوه په دی

ضمیر مرفوع منفصل سره د هر قسم ضمیر چې هغه متصل نی بیا عام دی چې مرفوع متصل وی او که منصوب متصل وی او که مجرور متصل وی نو دلته دری مثالونه پکاردی ځکه ضمیر متصل دری قسم دی. ۱ :مثال د ضمیر مرفوع منفصل چې تاکید واقع شوی دی د مرفوع متصل لکه دا قول د الله تعالی شو اسکن انت وزوجك الجنة. ۲ : مثال دضمیر مرفوع منفصل چې تاکید واقع شو یدي دضمیر منصوب متصل لکه ضربتك انت شو ۳ : او مثال د ضمیر مرفوع منفصل چې تاکید واقع شوي دي د ضمیر مجرور متصل لکه مررت بکانت شو دا تاکید لفظي دي لکن په تکرار د لفظ اول سره نه دي بلکه په تکرار د مرادف د لفظ اول سره دي

## عطف البیان

داماسیاتی تریو حدپورې بحث دعطف بیان دي عطف مصدر صیغه دي په معنی دمفعول سره معطوف او دا معطوف په دوه قسمه دي. ۱ : معطوف بالحرف دي. ۲ : معطوف ذوبیان دي اوس دي معطوف لپاره معطوف ولی وائی ځکه عطف کوونکي اومائله کولوته وائي اوداکوږ اومائل کړي شوي دي ماقبل متبوع ته په اعراب اوپه حکم کې لاکن دي اول معطوف ذوبیان بیان کوي بیا به دمعطوف بالحرف بیان کوي.

| والغرض الآن بیان ما سبق | ٥٣٤- العطف: إما ذو بیان، أو نسق |
| --- | --- |

**ترکیب** : **العطف**:مصدر مبنی للمفعول مبتداء.**بیان**:خبر.**والفرض**.مبتداء،**بیان**:خبر.**ما**:موصوله **سبق**: نه ښکاری. **الآن**: ظرف زمان مبنی علی الفتحه دي ځکه دامتضمن دي معنی دحرف لره چې هغه معنی دالف لام عهد خارجي دي چې زمانه حاضر ترینه مراد ده.

**ترجمه** : معطوف به یا خاوند دبیان وي یا به دامعطوف خاوند دحرف عطف به ئي دیبه داسی ئي چې سرکې حرف عطف راغلې وي دحروف عاطفونه دامقصودي ځما اوس په زمان حاضره کې بیانول دهغه معطوف دي چې هغه مخکې دي په ذکر کې دهغه دوه قسمونونه په دي بیت کې چې هغه عطف بیان دي اوعطف نسق به وروسته بیا نوم اوس عطف بیان دنحویانو په اصطلاح کې څه ته وایي دي دهغی تعریف کوی.

| حقیقة القصد به منکشفه | ٥٣٥- فذو البیان: تابع، شبه الصفه |
| --- | --- |

**ترکیب** : **فذو**:مبتداء.**تابع**:خبر موصوف.**شبه**:صفة اول ځکه دانه معرفه کیږي اضافة سره معرفي ته **حقیقة**:مبتداء.**به**:متعلق منکشفه پوري.**منکشفه**.خبر جمله صفة ثانی تابع لپاره.

**ترجمه** : پس هغه معطوف چې خاوند دبیان دمتبوع خپل دي داتابع دي هسی تابع چې مشابه دي صفة سره په تابع والی دمتبوع خپل کې لکه څنګه چې صفة په لس امور کې تابع دمتبوع

وو داهم په دغه لس امور کې دمتبوع تابع کيږي.حقيقة دمتبوع اومعنی حقيقي دمتبوع چې مقصود دمتکلم دي په دي عطف بيان سره به انکار کيږي اونعت داکارنه کوي بلکه هغې سره ښکاره کيږي حال دمتبوع نه حقيقة دمتبوع.

**تشريح** : هر تعريف کې لابدي دي دجنس اوفصل نه تابع جنس په دي کې ټول داخل شو شبه الصفة فصل اول دي سره بدل اومعطوف بالحرف اوتاکيد خارج شو ځکه هغه مشابه ندي صفة سره حقيقة القصد الخ.فصل ثانی دي سره صفة خارج شو دتعريف دعطف بيان نه نو تعريف دعطف بيان بالکل جامع مانع شو.

| | |
|---|---|
| ٥٣٦- فأولينه من وفاق الأول | ما من وفاق الأول النعت ولي |

**ترکيب**: **فاولينه** کې ضمير مفعول اول.**من**:متعلق باولين.**ما**،موصوله مفعول ثانی د اولين: **من وفاق**.متعلق بولي.**النعت**:مبتداء: **ولي**.جمله فعليه خبر دمبتداء بيا جمله اسميه صله دموصول اوعائد دموصول حذف شوي دي ای وليه.

**ترجمه** : هرکله چې عطف بيان مشابه شو صفة سره پس خامخاه متصل کړه ته دي معطوف دوبيان سره او ورکړه ته دي عطف بيان له موافقه داول نه چې هغه متبوع دي ما هغه حکم لره چې نعت پيوست شو يدي دغه حکم سره دموافقه داول نه نو دده موافقه ماقبل سره هغه شو چې موافقه دنعت منعوت سره کم حکم وولکه څنګه چې په لس امور کې هغه تابع دماقبل دي دارنګي داعطف بيان هم په لس امور کې تابع دماقبل دي نودي مخکې نظم کې اوپه تعريف کې ويلې وو چې داعطف بيان مشابه دي دَ صفة سره اوس دادهغی سره په څه کې مشابه دي په دي نظم کې وجه دشبه بيان کړه.

| | |
|---|---|
| ٥٣٧- فقد يكونان منكرين | كما يكونان معرفين |

**ترکيب**:**کما**:مصدريّه داما بعد په تاويل دمصدر سره مجرور لپاره دجاراو جار مجرورخبر ثاني د يکونان.

**ترجمه** : پس کله کله کيږي دامعطوف ذوبيان اودهغی مبين دواړه نکره لکه څرنګه چې کيږي دادواړه معرفه کما فی قوله تعالی من ماء صديد ، من شجرة مبارکة زيتونة ، اوکفارة طعام مساکين بل لکه داقول درعربو شو اشتريت حُلِيّاسوارا په دي کې رد وکړه په هغه چا باندې چې هغوی په عطف بيان کې تعريف شرط کوي لکه جارالله ذی محشری وغيره شو دا په مثالونو مذکورو کې وائي چې بدل واقع شوي دي نه عطف بيان اوس فوائد دعطف بيان څه دي. ۱ :که دا عطف بيان معرفة وو توضيح دمتبوع لپاره راځي اوکه نکره وو نو د تخصيص

دمتبوع لپاره راځي لکه مثالونه مخکې ذکر شو اوکله عطف بيان راځي د مدحې لپاره کما في قوله تعالى: جعل الله الكعبة البيت الحرام.

| | |
|---|---|
| ٥٣٨- وصالحًا لبدلية يرى | في غير نحو "يا غلام يعمرا" |

**تركيب: وصالحا** مفعول ثاني مقدم ليرى ان كانت قلبية او حال من ضمير يرى **لبدلية** متعلق بصالحا. **في** متعلق بيري. **غلام** منادى مفرد معرفه مبنى على الضمه. **يعمرا** عطف بيان منصوب حملا على محله.

**ترجمه**: اوليدلى کيږي عطف بيان صالح او لائق لپاره د بدلية په هر ځاى کې په استعمال د كلام د عربو كې په غير د مثل د يا غلام يعمر نه.

| | |
|---|---|
| ٥٣٩- ونحو "بشر" تابع "البكري" | وليس أن يبدل بالمرضي |

**تركيب**: و نحو معطوف على نحو المذكور. تابع بالنصب حال از بشر و بالجر صفة لهم.

**ترجمه**: او په غير د مثل د بشر نه چې دا ليدى شي تابع د البكري په عطف بيان سره او ندي دا تابع د وګرځولى شي د البكري په بدلية سره په قول مختار د نحاتو سره اګر كه عند الفراء بدلية د دې جائز دى لكن د جمهور په نزد باندې جائز نه دى.

**تشريح**: حاصل د دې بيت دا دى د كم اسم نه چې عطف بيان جوړيږي د هغې نه بدل هم جوړيږي لكن دوه تركيبونه دي چې هغه دوه تركيبونو كې د اسم نه عطف بيان جوړيږي او بدل نه جوړيږي. ١: منادى مفرد معرفه مبني على الضمه نه وروسته تابع مفرد معرفه اسم معرب راشي نحو يا غلام يعمرا اوس دلته كې دا عطف بيان متعين دى بدلية نه صحيح كيږي ځكه تا ته معلوم دى چې تابع د منادى مفرد معرفه عطف بيان راشي ترفع و تنصب دى او بدل نه جوړيږي ځكه تا بع د منادى مفدر معرفه بدل راشي حكمه. كحكم المنادى المستقل دى په دې شان سره كه منادى مستقل په خپله مفرد معرفه يې مبني على الضمه وي او كه مضاف وو معرب معرب منصوب به يې او دلته هو معرب منصوب لوستى دى معلومه شو چې دا معطوف وو بيا ل دى بدل نه دى ځكه كه بدل وي مبني على الضمه به وو يعمرا ځنګه وايې ؟. ٢: تابع راشي د معرفه باللام او معرف باللام مضاف اليه د صفة معرف باللام راغلى يي بيا دا تابع لائق د عطف بيان دى او د بدلية لائق نه دى ځكه بدل په حكم د تكرار د عامل كې وي اوس زه دا بشر د البكري نه بدل وګرځوم او بدل په حكم د تكراد دعامل كې وي او عامل په دې مقام كې التارك دى نو التارك بشر به شي دا شو د قبيلي د الضارب زيد نه او الضارب زيد تركيب خو خلكو ناروا كرى دى لعدم ترتب الفائدة في اللفظ بالاضافة دا تركيب هم ناروا

شو او فراء اګر که خلاف کړی دی د مهور نه لکه هغې لره خلکو نه دی پریخې بلکه په هغې باندې رد کړی دی لکه ابن الحاجب کافیه په بحث الاضافة کې دارنګې دی هم رد وکړه په هغې باندې ولیس ان یبدل بالمرضی سره لهذا د هغې خبرې له اعتبار نشته اوس پاتې شوه دا خبره چې جمله عطف بیان واقع کیږي او نه په دېکې عملاء د علم نحو او علماء د علم بلاغة خلاف دی نحویان وایې جمله عطف بیان نه واقع کیږي او علم بلاغة والا وایې واقع کیږي نحو: قوله تعالی: ﴿فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطٰنُ قَالَ يٰٓاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلٰى﴾ دا یا آدم هل ادلك الخ عطف بیان واقع شوي دی فوسوس الیه الشیطان لپاره اونحویان وایې دا عطف بیا ن نه دی بلکه بدل دی. ۲ : قوله تعالی: ﴿وَ نُوْدُوْٓا اَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ﴾ دا ان تلکم الجنة جمله عطف بیان واقع شوي دی نودوا لپاره نحویان وایي دا تفسیر او بیان واقع شوي دی په ان تفسیریه سره او جمله عطف بیان بې د ان او ای تفسیریه نه نه واقع کیږي.

## عطف النسق

هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د قسم اول د عطف نه چې هغه عطف بیان دي پس شروع ئي وکړه په بیان د قسم ثاني د عطف کې چې هغه عطف نسق دي، نسق وائي خبره په ترتیب سره چلول چې مقام ته ګوري د هغې مناسب خبري وکړي، اوس معطوف بالحرف ته عطف نسق ولي وائي؟ څکه په دي کې هم معطوف په ترتیب د معطوف علیه سره وي حکم معطوف علیه له مخکې ثابت وي معطوف نه غالبًا.

| | |
|---|---|
| ۵٤۰- تال بحرف متبع عطف النسق | كاخصص بود وثناء من صدق |

**ترکیب: تال** خبر مقدم **بحرف** الباء بمعنی مع متعلق بتال موصوف **متبع** صفة **عطف النسق** مبتداء مؤخر **کاخصص** خبر د مبتداء محذوف **من** موصوله مفعول به د اخصص جمله صله.

**ترجمه**: معطوف په واسطي د حرف سره دا به یو اسم وي داسې اسم چې واقع کېدونکې دي وروسته د معطوف علیه نه متصل بلا فصل یواځي نه بلکې متصل به وي سره د یو حرف نه داسې یو حرف چې هغه وروسته راتلونکې دي د معطوف علیه نه، مثال لکه اخصص الخ شو خاص کوه ته هغه سړي لره چې هغه رشتني دي په دوستۍ سره او په صفت سره په دي مثال وُدُ معطوف علیه او ثناءِ معطوف دي واقع شویدي سره د یو حرف نه چې واو دي وروسته د معطوف علیه نه، اوس هغه حروف عاطفه ذکر کوي چې هغه کوم حرفونه دي په هغې سره یو اسم عطف کولي شي په بل اسم باندې.

| | |
|---|---|
| ٥٤١- فالعطف مطلقًا: بواو، ثم، فا | حتى، أم، أو، ک"فيك صدق و وفا" |

**ترکیب: فالعطف** مبتداء **مطلقا** ۱: حال از مبتداء على مذهب سيبويه. ۲: حال از ضمير جار مجرور على مذهب من جوز تقديم الحال على الظرف **حتى** معطوف بحذف العاطف.
**كفيك** خبر مقدم **صدق** معطوف عليه مبتداء مؤخر **وفا** معطوف اصله وفاء قصر للضرورة.
**ترجمه**: پس عطف نسق په حال کون د دې عطف کې چې مطلق وي چې دا معطوف معطوف عليه سره شريك وي په لفظ کې او په معنى کې يعنى په هري طريقي سره شراکت دي لفظًا هم شراکت دي او معنًى هم شراکت دي، دا ثابت دي په واو او ثم او فا او حتى سره او ام او "او" سره، او که ته وائي ماته مثال وښايه چې حرف عطف معطوف د معطوف عليه سره په لفظ کې هم شريك کړي وي او معنى کې هم شريك کړي وي، دا وائي مثال لکه دا قول ستا شو فيك صدق و وفا رشتيا او وفاداري په لوظ کې ثابت ده په تا کې، و وفاء کې دا اول واو عاطفه دي دغه واو لګيدلي دي دا وفاء يې شريك کړي دي چې دا دواړه په مخاطب کې ثابت دي صدق سره په ثبوت د دې دواړو کې په مخاطب کې.
**سوال** مطلقًا په ترکيب کې څه شي واقع شوي دي؟ **جواب** دا حال واقع شوي دي فالعطفُ مبتداء نه.
**سوال** او که ته وائي حال د مبتداء نه نه واقع کيږي؟ **جواب** دا بنا دی د ده په مذهب باندې، او که ته وائي خامخا هغه مذهب د جمهورو باندې بنا کوم بيا دا حال واقع شوي د ضمير جار مجرور نه او حال مقدم شوي دي د وجې د ضرورت شعري نه، يا بنا د هغه چا په مذهب باندې چې هغوی تقديم د حال په ظرف باندې جائز وائي.

| | |
|---|---|
| ٥٤٢- وأتبعت لفظًا فحسب: بل، ولا | لكن، ک"لم يبد امرؤ لكن طلا" |

**ترکیب: لفظا** تميز **فحسبُ** بمعنى كاف مبتداء و خبره محذوف اي فكافيك هذا **لكن** معطوف بحذف العاطف **يبدُ** مجزوم بحذف الواو من بدا يبدو الناقص الواوي بمعنى الظهور، و من بدأ يبدأُ مهموز اللام بمعنى الشروع **امرؤ** فاعل.
**ترجمه**: او تابع کوي بل او لا او لکن د حروف عاطفه ؤ نه معطوف لره د معطوف عليه د جهت د لفظ نه فقط نه د جهت د حکم نه مثال لکه لم يبدُ الخ شو، نو ښکاره شوي مونږ ته يو سړي مګر ښکاره شوي وو مونږ ته بچي د سارانې غواګانو يعنى مونږ د خلکو په تالاش ميدان ته وتلي وو لکن مونږ خلك قابو نه کړه څکه د خلکو هيڅ درك نه وو ما سوا د اولاد د بقري وحشي نه طلا بر وزن فتى. ۱: ولد د بقر وحشي ته وائي. ۲: يا ولد د ظبي ته وائي چې نوي پيدا شوي وي. ۳: څوك وائي ولد د ذات الظلف ته وائي مطلقًا، او جمع د دې اطلاء راځي لکه د سبب

جمع اسباب راځي بروزن افعال، او دا طلا عطف دي په امرؤ باندې په لکن سره دا شريك دي معطوف سره من حيث اللفظ لا من حيث المعنى، او دا امرؤ لفظ د اسماء عجيبو نه دي چې حرکت د عين کلمه تابع د حرکت د لام کلمې دي.

**تشريح:** حاصل د دې بيتينو دا دي: چې دا نهه حروف عاطفه په مقام د عطف کې دوه قسمه دي: ۱: قسم هغه دي چې معطوف شريکوي د معطوف عليه سره په لفظ کې چې دا معطوف به معرب وي په اعراب د معطوف عليه سره او په حکم کې دي شان سره کوم حکم ثابت وي معطوف عليه لره هغه حکم ثابتوي معطوف لره هم او عطف لپاره شپږ حروف راځي د هغه حروف عاطفه ؤ نه واو، فا، ثم، حتى، بالاتفاق، ام، او په دې شرط سره چې دا دواړه اضراب لپاره نو که اضراب لپاره وو بيا دا په معنى د بل سره دي قسم ثاني کې داخل دي. ۲: قسم هغه دي چې معطوف شريکوي معطوف عليه سره فقط په لفظ کې نه په حکم کې دي لپاره دري حروف راځي د نهه حروف عاطفه ؤ نه: بل، لا، لکن، اوس د دي حروف عاطفه ؤ خانله معاني بيانوي.

| | |
|---|---|
| ٥٤٣- "فاعطف بواو لاحقًا أوسابقًا | في الحكم أو مصاحبًا موافقًا" |

**ترکيب: بواو** متعلق باعطف **لاحقًا** مفعول به **في الحكم** تنازع فيه کل من لاحقًا و سابقًا.
**مصاحبًا** موصوف **موافقًا** صفة، مصاحبًا عطف دي په لاحقًا باندې.

**ترجمه:** پس عطف کړه ته په واسطې د واو سره هغه اسم لره چې هغه وروسته وي په حکم کې د معطوف عليه نه يا مخکې وي او يا ملګري وي چې متحد وي معطوف عليه سره په ثبوت د حکم کې.

**تشريح:** حاصل د دې بيت دا دي چې ناظم صاحب وائي واو د حروف عاطفه ؤ نه راځي جمع مطلق او مطلق جمع لپاره چې دا معطوف شريك دي معطوف عليه سره په حکم او په اعراب کې او په ترتيب او عدم ترتيب باندې دلالت نه کوي دا به ته معلوموي د امر خارج نه دا د دي واو نه نه معلوميږي، مثال لکه جاءني زيد و عمرو د دي معنى دا ده چې دا زيد او عمرو دواړه شريك دي په دي مجيئت کې او دا پته نه لګي د دي واو نه چې دا زيد مخکې راغلي دي او که عمرو مخکې راغلي دي او که دا دواړه معًا راغلي دي، او بعضي کسانو د کوفيانو نه لکه فراء او ثعلب شو او قطرب النحوي د بصريانو نه ويلي دي چې دا واو راځي ترتيب لپاره لکن دا خبره د دوی بلکل ضعيف ده ځکه الله تعالى په قرآن کې ويلي دي. ۱: ﴿وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيْمَٰنَ﴾ په دي ايت کې عطف د ايوب او

سليمان او يونس راغلي دي په عيسى باندې سره د دينه دا مخکې وو د عيسى عَلَيْهِ السَّلَام نه خکه عيسى عَلَيْهِ السَّلَام د دوى نه وروسته راغلي دي، دينه معلومه شوه چې واو دلالت نه کوي په ترتيب باندې خکه که واو دلالت په ترتيب باندې کولي عطف د سابق به په لاحق باندې نه وو راغلي.

۲ : قوله تعالى : ﴿كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ﴾ چې وحي د نبي عَلَيْهِ السَّلَام مؤخر وه خکه دا آخر النبيين او خاتم النبيين دي او وحي د نورو انبياؤ مقدم ده زمانًا سره د دينه وحي د هغوى عطف کړي دي په وحي د نبي عَلَيْهِ السَّلَام باندې د دينه معلومه شوه چې واو دلالت نه کوي په ترتيب باندې بلکه واو راځي جمع مطلق لپاره.

۳ : قوله تعالى : ﴿وَاسْجُدِيْ وَارْكَعِيْ مَعَ الرّٰكِعِيْنَ﴾ دا وارکعي عطف کړي دي په و اسجدي باندې واو سره، سره د دينه چې رکوع مقدم وي په سجده باندې بالاجماع، دا دليل دي په دې خبره باندې الواوُ من الحروف العاطفة لايدل على الترتيب و الافلا يصح العطفُ ههنا.

٤ : الله تعالى فرمائي په سورة بقره کې دي : ﴿ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُوْلُوْا حِطَّةٌ﴾ او په سورة اعراف کې ئې ويلي دي ﴿وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا﴾ اوس که دا واو ترتيب لپاره شي بيا لازميږي تناقض بين الآيتين دينه معلومه شوه چې دا واو مطلق جمع لپاره راځي نه لپاره د ترتيب.

٥ : قوله تعالى في كفارة الخطا ﴿فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ﴾ دا ودية مسلمة الى اهله عطف دي په تحرير رقبة مؤمنة باندې سره د دينه چې تقديم التحرير په كفاره کې په ادا د دية باندې واجب ندي بالاتفاق خکه که دية مخکې ورکړي تحرير رقبةٍ وروسته وکړي هم ذمه فارغه شوه، دا دليل دی په دې خبره باندې چې واو مطلق جمع لپاره راځي نه لپاره د ترتيب.

٦ : قوله تعالى : ﴿اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوْتُ وَنَحْيَا﴾ دلته د حياة نه مراد دي اول پيدا ښن او حياة دنيوي او حياة اخروي نه دي مراد خکه بعث بعد الموت نه دوى منکر وو، او نحيا يې کړي دي په نموتُ باندې باوجود د دينه حياة مقدم دي په موت باندې، دا دليل دي په دې خبره باندې چې واو مطلق جمع لپاره راځي نه لپاره د ترتيب، و الافلا يصح الترتيب، د دې وجې نه ابو علي الفارسي ويلي دي: اجمع نحاةُ البصرةِ و الكوفةِ ان الواو لمطلق الجمع لاللترتيبِ، او اختلاف د فراء او د ثعلب او د قطرب النحوي لره اعتبار نشته دي، او دي ناظم هم اوويل فاعطف بواو لاحقًا كما في قوله تعالى: ﴿وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا وَّاِبْرٰهِيْمَ﴾ په دغه ځای کې مؤخر زمانًا عطف کړي دي سابق زمانًا باندې دا ايت مثال دي د "ف" عاطف بواو لاحقا لپاره خکه ارسال د نوح عَلَيْهِ السَّلَام مخکې دي د ارسال د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام نه او او سابقا په ترکيب کې يا

عطف کوه یا عطف کوه سابق زمانًا په مؤخر زمانًا باندې کما في قوله تعالی: ﴿كَذٰلِكَ يُوحِيٓ إِلَيْكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكَ﴾ وحي د رسول الله ﷺ چې لاحق زمانًا دي او د هغه نورو وحي سابق زمانًا ده او وحي د هغه نورو انبیاؤ عطف کړي دي په وحي د نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ باندې او مصاحبًا یا عطف کوه په واسطې د واو سره مصاحب في الحکم زمانًا لره په معطوف علیه باندې کما في قوله تعالی: ﴿فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَصْحَٰبَ ٱلسَّفِينَةِ﴾ چې اصحاب السفینه مصاحب دي او معي دي نوح عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ سره په نجاة کې ځکه نجات په وخت کې دا ټول په سفینه کې وو.

| | |
|---|---|
| ٥٤٤- واخصص بها عطف الذي لا يُغني | متبوعه، كـ"اصطف هذا وابني" |

**ترکیب: بها** اي بالواو بها جار مجرور دي متعلق دي "و" پورې **متبوعه** فاعل لا یغني، عن تابعه معنی دا ده: دا متبوع بې پرواه نه دي د تابع نه.

**ترجمه:** او خاص کوه ته په دې واو پورې عطف د هغه اسم او عطف د هغه معطوف چې نه بې پروا کیږي متبوع د د غه معطوف چې معطوف علیه دي د تابع خپل نه چې معطوف دي، دا په هغه ځای کې راځي چې هلته معنی د تشارك مراد وي هلته معطوف علیه بغیر د معطوف نه نه تمامیږي هلته چې ته عطف کوي خاص په کلمه د واو سره به کوي او نور حرفونو سره عطف جائز نه دي ١ مثال د دې لکه اصطف هذا و ابني شو، **ترجمه:** صف جوړ کړه زید او خوئ ځما، اوس دلته دا ابني عطف دي په واو سره په هذا باندې چې مشار الیه د هغې زید دي او دا زید د معطوف علیه نه مستغني او بې پروا نه دي، بلکه دا محتاج دي معطوف ته په صف راوړلو کې ځکه دي یواځي صف نه شي جوړولې، او اصطف ماضي دي د باب افتعال نه، اصل کې اصتفف وو بیا تا د باب افتعال بدل کړه طا سره ځکه فا کلمه د باب افتعال کې صاد راغلي دی او فا په فا کې مدغمه کړه د وجې د اجتماع د حرفینو متجانسینو نه اصطف جوړ شو. ٢: بل مثال د دې لکه اختصم زید و عمرو شو، عمرو عطف دي په زید باندې او دا زید مستغني نه دي د عمرو نه بلکه محتاج دي دیته په مخاصمه کې ځکه عمرو معطوف چې ورسره نه وي دا زید به چا سره مخاصمه کوي، اوس په دې کې زید ثم عمرو جائز ندي بلکه اختصم زید و عمرو به وائي. ٣: بل مثال لکه اشترك زید و عمرو. ٤: بل مثال لکه جلست بین زیدٍ و عمروٍ، د واو معنی ئې بیان کړه اوس د فا او د ثم معنی بیانوي.

| | |
|---|---|
| ٥٤٥- والفاء للترتيب باتصال | و"ثم" للترتيب بانفصال |

**ترکیب: الفاء** مبتداء **للترتیب** خبر په اعتبار د متعلق محذوف سره **باتصال** حال از للترتیب **ثم** مبتداء **للترتیب** خبر **بانفصال** حال از خبر.

**ترجمه**:او فا د حروف عاطفه ؤ نه وضع شوی دی ترتیب لپاره سره د اتصال د معطوف او معطوف علیه نه په حکم کې یعنی دا فا دلالت کوي چې دا حکم ثابت دي معطوف لره پس د معطوف علیه نه متصل بلا فصل، نحو قوله تعالی: ﴿الَّذِیْ خَلَقَ فَسَوّٰی﴾ او ثم وضع شوي دي ترتیب لپاره سره د انفصال د معطوف او معطوف علیه نه په حکم کې په دي شان سره دا ثم دلالت کوي چې دا حکم ثابت دي معطوف علیه لره پس د معطوف علیه نه مع الفصل لهذا دا ثم کوم یو لره چې حکم ثابت وي اولاً هغې نه معطوف علیه جوړوي او کوم یو لره چې حکم وروسته ثابت وي هغې نه معطف جوړوي، نحو قوله تعالی: ﴿وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ﴾.

| | |
|---|---|
| ٥٤٦- واخصص بفاء عطف ما ليس صلة | على الذي استقر أنه الصله |

**ترکیب**: **عطف** مفعول به **ما** موصوله **صله** جمله صله **على الذي** متعلق على العطف.

**ترجمه**:او خاص کړه ته په فا پورې عطف د هغه جمله چې هغه نه وي لپاره د صلې په هغه جمله کې چې هغه صله د موصول واقع شوي ده استقر چې ثابت شوي وي انه په تحقیق سره دا صله د موصول ده.

**تشریح**: یعنی دوه جملې دي په کلام کې د موصول نه وروسته یوې جملې ته چې ګوري هغه لائق د صلې ده لکن هغه دویمه جملې ته چې ګوري هغه لائق د صله والي نه ده او تا ارداه وکړه چې زه دا وایم جمله عطف کوم په ذي اول جملې باندې دغه عطف نور حروف عاطفه ؤ سره نشي کولي هلته کې به عطف په فا سره کوي، دا اصلاح د فا کار دي نه د نورو حروفو ځکه دا فا ظاهر کې تا ته صرف فا عاطفه ښکاري او په دي کې دننه معنی د سببية پرته ده، او فا سببي د ما قبل او د ما بعد نه یوه جمله جوړوي او جمله واحده کې یو رابط کافي وي لهذا عطف د دي په هغې باندې صحیح شو، مثال د دي لکه الذي یطیرُ فیغضبُ زید الذباب دا مثال په کافیه کې ذکر شوي دي، اوس د الذي نه وروسته دوه جملې راغلي دي یطیرُ. او یغضبُ زید او دا یطیر جمله صله لپاره د الذي صحیح کیږي ځکه دا مشتمل دي په عائد د موصول باندې چې ضمیر مستتر دي فاعل د یطیرُ راجع دي الذي ته او یغضب زید صله لپاره د الذي نه صحیح کیږي د وجې د عدم اشتمال د دینه په عائد د موصول باندې ځکه د دي یغضبُ اسناد اسم ظاهر فاعل ته شوي دي چې زید دي، اوس دا یغضبُ زید چې ته صله واقع کوي الذي لپاره دا عطف کوه په یطیرُ باندې په فا سره بیا به صله واقع شي ځکه دا فا دلالت کوي په سببیت باندې چې ما قبل سبب ګرځوي د ما بعد لپاره نو دا شرط او جزا شو او شرط او جزا مجموعه یو جمله وي د دي لپاره یو رابط کافي شو، او فا عاطفه سببیت لپاره چې راغلي وي د هغې مثال قوله تعالی: ﴿فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى فَقَضٰى عَلَيْهِ﴾.

| | |
|---|---|
| ٥٤٧- بعضًا بحتى اعطف على كل، فلا | يكون إلا غاية الذي تلا |

**تركيب: بعضا** مفعول به مقدم **بحتى** متعلق باعطف **على كل** متعلق باعطف **ولا** جمله حال **يكون** ضمير مستتر راجع الى بعض او الى المعلوم المفهوم من العطف **تلا** ضمير مستتر راجع الى المعطوف فاعل او عائد د صلې حذف شوى دى اي تلاهُ.

**ترجمه:** عطف کړه ته کلمي د حتى سره جز لره په کل باندې چې هغه کل به معطوف عليه وي، هر كله چې دا كل معطوف عليه شو پس نه به كيږي دا معطوف د كلمي د حتى مگر انتهاء لپاره د هغه معطوف عليه چې واقع شوي دي دا معطوف د حتى وروستو د د دغه معطوف عليه نه متصل بلا فصل.

**تشريح:** حتى د حروف عاطفه ؤ نه پشان د ثم دي ترتيب مع الفصل كې بيا فرق دا دي ۱ ثم كې مهلت زيادت دي او حتى كې كم دي. دويم فرق دا دي چې د دي حتى به معطوف او معطوف عليه داسې شي گرځوي چې دا معطوف د دي به جز وي ضعيفه يا قويه د معطوف عليه نه اوس كه د دې معطوف جز قويه وو د معطوف عليه نه معطوف عليه كې ضعفيت ثابت شو نحو ماتَ الناسُ حتى الانبياء. اكلتُ السمكةَ حتى راسَها او كه د دي معطوف جز ضعيفه وو معطوف عليه كې به قوت وي نحو قدمَ الحاجُ حتى المشاةُ، اوس دا مدخول د حتى به جز ضعيفه او جز قويه به ولې وي ځكه اصل په حتى كې حتى جاره دي او حتى جاره انتهاء لپاره راځي، او مونږ د حتى عاطفه مدخول وگرځوو جز د ما قبل نه لپاره د دي خبري چې دلته هم معنى د غايه پيدا شي چې مشابه شي د حتى جاره سره.

**سوال** اوس مدخول چې جز قويه يا ضعيفه شي غايه په دي سره څنگه راځي ؟

**جواب** كه مدخول د دي جز ضعيفه شي نو شروع به د جز قويه نه وشي اختتام به راشي په جز قويه باندې او كه مدخول د دي جز قويه شي نو شروع به د جز ضعيفه نه وشي اختتام به راشي په جز قويه باندې، عطف بحتى مشروط بشروط اربعة ۱ : عطف الاسم دون الفعل. ۲ :عطف اسم الظاهر دون الضمير. ۳ : مدخول جز قويه يا ضعيفة. ٤ : مدخول د حتى غايه د ماقبل.

| | |
|---|---|
| ٥٤٨- و"أم" بها اعطف إثر همز التسوية | أو همزة عن لفظ "أي" مغنيه |

**تركيب:** ام مراد اللفظ مبتداء **اعطف** جمله خبر **بعد** مضاف متعلق باعطف **همز** مضاف اليه مضاف **السوية** مضاف اليه **همزة** موصوف **عن لفظ** متعلق بمغنية **مغنية** صفة.

**ترجمه:** بل د حروف عاطفه ؤ نه كلمه د ام ده عطف كوه ته په دي كلمه د ام سره پس د همزي تسويه نه يا وروسته د هغه همزي نه چې هغه استغناء راوستونكي ده د لفظ د اي نه.

**تشريح:** بل حرف د حروف عاطفه ؤ نه ام دی دا په دوه قسمه دی: ۱: ام متصله. ۲: ام منقطعه. ام متصله ديته وائي: چې ما بعد متصل وي ما قبل پورې په حکم کې او دا واقع کيږي د همزې د تسويي او همزي د استفهام نه وروسته چې هغه استغناء راولي د تلفظ د اي نه د دي وجې نه صاحب د کافيه ويلي دي فام المتصلة لازمة لهمزة الاستفهام يليها احد المستويين لطلب التعين لکن هغه دا فرق نه دی کړي چې دا به کومه همزه وي، مثال د ام متصله چې واقع شوې ده پس د همزي د تسويي نه چې همزه تسويه داخله وه په سر د معطوف عليه کې لکه دا قول د الله تعالى شو: ﴿سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ﴾ اي انذارك و عدم انذارك مستويان بل مثال لکه دا قول د الله تعالىٰ: ﴿سَوَآءٌ عَلَيۡنَآ أَجَزِعۡنَآ أَمۡ صَبَرۡنَا﴾ اي جزعنا و صبرنا مستويان علينا، همزه د تسويه ديته وائي: چې داخليږي په جمله باندې په محل د مصدر کې ديته همزه د تسويي ځکه وائي چې دي د دوه شيانو په مينځ کې مساوات ثابتوي بي د ترجيح د احدهما نه په آخر باندې، مثال د ام متصله چې واقع شوی دی پس د همزه د استفهام نه چې هغه تلفظ د اي نه بي پروايي پيدا کوي ځکه د هغې معنى ادا کړه چې هغه طلب د تعين د احد الامرين دي، بيا د هغې تلفظ ته څه ضرورت دي لکه ارجل في الدار ام امراة شو، بل مثال د دي لکه دا قول د الله تعالى شو: ﴿وَإِنۡ أَدۡرِيٓ أَقَرِيبٌ أَمۡ بَعِيدٌ مَّا تُوعَدُونَ﴾ ﴿ءَأَنتُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُ﴾.

| | |
|---|---|
| ٥٤٩- وربما أسقطت الهمزة، إن | كان خفا المعنى بحذفها أمن |

**ترکيب:** ربما حرف تقليل ما کافه ځکه داخل شوي دي فعل باندې و الافلا الهمزة نائب فاعل خفا اسم د کان بحذفها متعلق بامن.

**ترجمه:** او کله کله ساقطولې شي دغه همزه د لفظ نه په دي شرط سره کچيري وو پټوالي د معنى د دې همزې په حذف د همزه سره بچ کړی شي مثال د دې لکه دا قول د الله تعالى شو: ﴿سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ﴾ على قراءة، و کما في قول الشاعر:

لعمرك ما ادري و ان كنت داريًا — بسبع رمين الجمر ام بثمانيا

اي بسبع رمين، دا همزه حذف شوي ده، اوس هغه دويم قسم بيانوي چې هغه ام منقطعه دي.

| | |
|---|---|
| ٥٥٠- وبانقطاع وبمعنى "بل" وفت | إن تك مما قيدت به خلت |

**ترکيب:** بانقطاع متعلق بوفت بمعنى مراد اللفظ مضاف اليه معطوف على بانقطاع وفت ضمير مستتر هي راجع الى ام هغه فاعل مما متعلق خلت پورې ما موصوله قيدت جمله صله به متعلق بخلت جمله خبر د تك.

**ترجمه:** پوره والي کوي دا ام په څه سره پوره والي کوي بانقطاع په انقطاع سره د ما بعد یك د ما قبل نه او په معنی د بل سره په اعراض د ما قبل کې او شك په ثاني کې، په دي شرط سره کچیري وو دا ام خالي د هغه شرطونو نه چې وه دا همزه مقيد کړي شوي په هغه شرطونو سره چې هغه وقوع د ام ده پس د همزه تسويه او پس د هغه همزه نه چې هغه استغناء راولي د تلفظ د اي نه.

**تشريح:** خلاصه د دې دا ده چې ام منقطعه دیته وائي چې دا ما بعد منقطع وي د ما قبل نه ځکه دا ما بعد ځانله مستقل کلام دی او دا ام په معنی د بل سره دي اضراب لپاره راځي د ما قبل نه ځکه د اما بعد ځانله مستقل کلام دی او دا ام په معنی د بل سره دي اضراب لپاره د ما قبل نه او ما بعد کې شك پيدا کوي، مثال د ام منقطعه لکه انها لإبل ام هي شاة اول ئي وويل انها لابل دا لري نه چې ښکاري دا اوښان دي بيا ئي وويل های تو به زه تيروتم چې دا اوښان نه دي د مخکني کلام نه اعراض وکړو ام هي شاة سره، اوس هغه پله حيران يم چې دا ګډې بيزې دي او که بل څه بلا دي، بل مثال د دي قوله تعالى: ﴿أَمْ جَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ﴾ وقوله تعالى: ﴿لَا رَيْبَ فِيهِ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ ﴿أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ﴾ اي بل يقولون، او كله كله اضراب لپاره راځي او متضمن وي معنی د استفهام انکاري لره كما في قوله تعالى: ﴿أَمْ لَهُ الْبَنَاتُ وَلَكُمُ الْبَنُونَ﴾ اوس كه دلته دا ام فقط اضراب لپاره شي بې د تضمن د معنی د انکار نه بيا محال لازميږي لهذا مونږ وايو دلته ام منقطعه اضراب لپاره دی سره د انکار نه، او ام منقطعه ته ام منقطعه ځکه وائي چې دا ما بعد منقطع کوي د ما قبل نه او ام متصله ته ام متصله ځکه وائي چې دا ما بعد متصل دي ما قبل پورې، او فرق په ما بين د ام متصله او ام منقطعه کې دا دي: ۱: ام منقطعه اضراب لپاره راځي بخلاف المتصلة.
۲: ام منقطعه واقع كيږي بعد الخبر دون المتصلة. ۳: ام متصله واقع كيږي وروسته د همزي تسويې نه دون المنقطعة. ٤: د ام منقطعه مدخول ځانله مستقل كلام وي بخلاف المتصلة.

| | |
|---|---|
| ٥٥١- خير، أبح، قسم بأو وأبهم، | واشكك، وإضراب بها أيضًا نمي |

**تركيب:** ابح معطوفان على خير بحذف العاطف باوتنازع فيه الافعال الثلاثة و اضراب مبتداء بها متعلق باضراب نمي جمله خبر.

**ترجمه:** اختيار ورکړه او اختيار ثابت کړه ته مخاطب خپل ته په کلمې د او سره، او مباح کړه حکم مخاطب لپاره په کلمې د او سره، او تقسيم ثابت کوه په ما بين د دوه څيزونو کې په کلمې د او سره، او ابهام او اخفاء ثابت کړه په حکم کې مخاطب ته يعنى په مخاطب باندې د دي حکم اخفاء راوله په کلمې د او سره او مخاطب شکي کړه په دې حکم کې په کلمې د او سره، يا ځان شکي کوه په کلمې د او سره، او اضراب په دې کلمې د او سره نسبت کړي شوي دي کوفيانو ته.

**تشريح:** بل حرف د حروف عاطفه ؤ نه كلمه ده، او ده دا كلمه د او د حروف عاطفه ؤ نه متكثر المعنى ده يعنى ډيرو معانو سره راځي په استعمال د كلام د عربو كې او دلته (۷) معاني د او بيان كړي دي د دينه علاوه نوري معاني هم راځي ۱ : او راځي تخيير لپاره بعد الطلب نحو تزوج هنداء او اختَها خذ من مالي دنياراً او درهماً. ۲ : او راځي اباحت لپاره بعد الطلب نحو جالس الحسنَ او ابن سيرين جالس العلماء او الزهاد تخيير او اباحت په مينځ كې دا فرق دي: چې اباحت كې جمع بين الامرين جائز ده، او تخيير كې جائز نه دي، مثال لكه جالسِ العلماء او الزهادَ كې دا مخاطب دواړه فريقين سره كښني او كه يو سره كښني او نورو سره نه كښيني دواړه ده لپاره جائز دي، او تزوج هنداء او اختَها كې جمع بين الامرين جائز نه ده ځكه نكاح دوه خويندو سره په يوځاى باندې شرعًا ممنوع ده. ۳ : كله او راځي تقسيم لپاره كما في قوله تعالى : ﴿قَالُوا سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ﴾ دلته دا كلمه د او تقسيم لپاره ده ځكه ځني خلكو به ويل مجنون دي او ځني خلكو به ويل ساحر دي، بل مثال لكه الكلمة اسم او فعل او حرف دارنګه دا كلمه د او تقسيم لپاره راځي په مقام د تعريف كې مثال لكه المبني ما ناسب مبني الاصل او وقع غير مركب غير المنصرف ما فيه علتان او واحدة تقوم مقامهما. ٤ : او راځي ابهام او اخفاء لپاره كما في قوله تعالى : ﴿إِنَّا أَوْ إِيَّاكُمْ لَعَلَىٰ هُدًى أَوْ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ﴾ پته نه لګي چې ستا لار سمه ده او كه زمونږ لار سمه ده. ٥ : او راځي شك لپاره په كلام خبري كې كما في قوله تعالى : ﴿لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ﴾.

شك او اخفاء په مينځ كې فرق دا دی: چې اخفاء كې متكلم عالم دي په مخاطب باندې ابهام ئي راوستلو او شك كې دا متكلم پخپله عالم ندي، او فرق په ما بين د تشكيك كې او ابهام كې دا دي: چې تشكيك عبارت دي احداث د شك نه په قلب د سامع كې وروسته د هغې نه چې هغه شكي نه وو، او ابهام عبارت دي ابقاء د متكلم نه مخاطب لره على الشك وروسته د هغې نه چې هغه شكي وو. ٦ : كله او راځي اضراب لپاره يعنى په معنى د بل سره نحو قوله تعالى: ﴿وَأَرْسَلْنَاهُ إِلَىٰ مِائَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ﴾ اي بل يزيدون و نحو قول الشاعر:

كانوا ثمانين او زادوا ثمانية     لولا رجاؤك قد قتلت اولادي

اى عيالي، ځكه اولاد د يو سړي دومره نوي او رجاؤك كې اضافت د مصدر شوي دي مفعول به ته، و هو على حذف مضاف اي لولا رجائي عطاؤك موجود يا هشام، فاعل د رجاء او خبر د لولا محذوف دي، په دي شعر كې دا كلمه د او په معنى د بل سره ده.

| | |
|---|---|
| ٥٥٢- وربما عاقبت الواو، إذا | لم يلف ذو النطق للبس منفذا |

**تركيب:** **ربما** حرف تقليل **عاقبت** ضمير مستتر هي فاعل راجع الى او **الواو** مفعول به **اذا** متضمن دي

معنی د شرط لره ذوفاعل للبس متعلق منفذ پورې منفذ مفعول اول د يلف او مفعول ثاني حذف شوی دی.

**ترجمه:** او ډېر کرتې وروستو کوي دا او واو لره يعنی نائب جوړوي، کله چې اونه مومي خاوند د نطق چې هغه متکلم دي سوري لپاره د التباس په ما بين د معنی د او او په معنی د واو کې منفذ سوري ته وائي، دلته مراد موضع وقوع الالتباس دي، د دي نظم مطلب دا دي: چې کله کله په استعمال د کلام د عربو کې او راځي په معنی د واو سره کله چې دا په امن کې وي د التباس نه په ما بين د معنی د واو او معنی د او کې، نحو قوله تعالی: ﴿وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْ كَفُوْرًا﴾ او قول الشاعر:

جاء الخلافةَ او كانت له قدرًا — كما اتى ربه موسى على قدر

**ترکيب د شعر:** جاء بمعنی حضرَ لازم، و بمعنی وصل متعدي کما ههنا اوبمعنی الواو اي و کانت له قدرا موافقا له ربه مفعول به مقدم موسی فاعل على قدراي کما اتی موسی لمناجاة ربه علی موافقة، دا شعر جرير ويلي دي په مدح د عمر بن عبد العزيز کې.

| | |
|---|---|
| ٥٥٣- ومثل "أو" في القصد "إما" الثانية | في نحو: "إما ذي وإما النائية" |

**ترکيب:** ومثل ١: مبتداء. ٢: بالعکس چې مثل خبر مقدم اما مبتداء مؤخر في القصد متعلق علی مثل اما موصوف خبر الثانية خبر في نحو ١ متعلق علی مثل. ٢: متعلق علی فعل محذوف اعني في نحو ٣ يا حال واقع شوي دي ضمير د الثانية نه اي حال کونها کائنةً في نحو اما ذا معطوف عليه و الثانيه معطوف شو معطوف عليه سره د معطوف نه مبتداء خبر محذوف اي لك.

**ترجمه:** او په مثل د او باندې په قصد د متکلم کې معناګانو مذکورو لره اما دويم دي نه اما اول ښکه دا اما اول اما عاطفه نه دي دا صرف راوړي شوي دي لپاره د دي خبري چې دا دلالت وکړي چې دا وروسته اِما دي په کسري د همزي سره آما نه دي په فتحي د همزه سره يعنی دا اما اول راوړي شوي دي لپاره دفع د التباس په مينځ د اما حرف شرط او اما ترديديه کې، او که ته وائي چې ماته مثال وښايه چې اما راغلي وي په معنی د او سره؟ دا وائي: مثال لکه مثل د دي ترکيب کې شو اما ذي و اما النائيه اي تزوج اما ذي و اما النائيه، ترجمه: په نکاح سره واخله دا قريبه چې هنده ده يا دا بعيده واخله چې فاطمه ده دلته ١: اما تخيير لپاره دي او دا معنی د او دي نو شو اما په معنی د او سره ٢: دا ما راځي د اباحت لپاره نحو جالس اما الحسنَ واما ابن سيرين. ٣: اما راځي د تقسيم نحو الکلمة اما اسم و اما فعل و اما حرف. ٤: دا راځي ابهام او شك لپاره نحو قام اما زيد و اما عمرو او دا اما جمع مطلق او اضراب لپاره نه راځي، اووم دا اما اول

عاطفه نه دي بالاتفاق، اوس دا اما دويم عاطفه دي او که نه؟ په دې کې اختلاف دي:
۱: يونس نحوي وائي دا عاطفه نه دی ځکه دا واقع کيږي د واو عاطفه نه وروسته، او قاعده دا ده و العاطفُ لايدخلُ على العاطف. ۲: جمهور وائي دا عاطفه دي او واو عاطفه داخليږي په دې باندې لپاره د عطف د اما په اما باندې او اما عطف د ما بعد کوي د ما قبل باندې.

| | |
|---|---|
| ۵۵۴- وأول "لكن" نفيًا أو نهيًا، و"لا" | نداء أو أمرًا أو إثباتًا تلا |

**تركيب:** لكن مفعول اول نفيًا مفعول ثاني ولا مراد اللفظ مبتداء نداء مفعول به مقدم تلا لپاره امرًا معطوفان على نداء تلا ضمير مستتر هو فاعل راجع الى لا.

**ترجمه:** او واقع کړه لکن وروسته د نفي يا د نهي نه متصل بلا فصله، او لا عاطفه واقع کيږي وروسته د نداء او د امر او د اثبات نه، او که ته وائي ماته مثال وښايه چې لکن راغلي دي عطف لپاره او مخکې د دينه معطوف عليه منفي يا نهي راغلي وي مثال لکه: ما قامَ زيد لكن عمرو، لاتضرب زيداً لكن عمراً. دا لکن استدراك لپاره دي او که د دې لکن نه وروسته جمله راغلې وي يا لکن راغلى وي وروسته د او نه بيا دا لکن ابتداء لپاره دې نه استدراك لپاره مثال د اول نحو قول الشاعر:

إن ابن ورقاء لا تُخشَى بوادرُه لكن وقائعُه في الحرب تُنتظر

مثال د دويم قوله تعالى: ﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ﴾ اي و لكن كان رسول الله، دا رسولَ الله منصوب دي ځکه دا خبر د کان محذوف دي دا نه دي عطف په ابا احدٍ باندې. ۲: دارنګه دا لکن واقع شي بعد الاثبات بيا هم ابتداء لپاره دي نه لپاره د عطف نحو قامَ زيد لكن علي اي لكن علي لم يقم، دا على مبتداء محذوف الخبر دي، مثال د لا عاطفه لکه: جاءني زيد لاعمرو، اضرب زيداً لاعمراً، يا ابنَ اخي لاابنَ عمي.

| | |
|---|---|
| ۵۵۵- وبل كلكن بعد مصحوبها | كلم أكن في مربع بل تيها |

**تركيب:** بل مراد اللفظ مبتداء كلكن خبر بعد متعلق بمقدر حال از ضمير مستتر در خبر كلم خبر د مبتداء محذوف في په اعتبار د متعلق محذوف سره خبر د اكن بل معطوف على مربع تيها اصله تيهاء قصر لضرورة الشعر.

**ترجمه:** او بل د حروف عاطفه ؤ نه بل په شان د لکن دي په حال کون د دې بل کې چې دا واقع وي وروستو د د مصحوبين د لکن نه چې هغه نفي او نهي دي، مثال د دې لکه لم اكن في مربع بل في تيها شو، ترجمه :نه يم رسيدلي زه هغه ځای د استوګني د دوستانو زما ته په سپرلي موسم کې، بلکه ما شپه کړي وه خوشي بيابان کې.

**تشريح:** بل د حروف عاطفه ؤ نه بل دي هغه څه کار کوي؟ دا وائي دا بل پشان لکن دي په استدراك کې. ۱ : کچيري دا واقع شوي وو ورسته د دوه ملګري شوي د لکن نه، اوس هغه دوه ملګري شوي د لکن کوم دي چې هغه نفي او نهي دي. ۲ : او مدخول د دي مفرد وي، مثال د نفي لکه: لم اکن في مربع بل في تيها مربع. ۱ : کور د خوشالئ. ۲ : کور د ملګرو. ۳ : کور د سپرلي ته وائي ځکه دا ماخوذ دي د رَبيع نه، يا د رُبعي نه، ربيع سپرلي ته وائي، او ربعي هغه چاته وائي چې هغه څلورمه برخه اخلي د خلکو نه، بل مثال لکه: لا يقومُ زيد بل عمرو شو، مثال د نهي نحو: لاتضرب زيداً بل عمراً. ۲ : کچيري دا واقع شوي وو په کلام مثبت کې بيا دا بل اضراب لپاره راځي چې دا ما قبل حکم ثابتوي مدخول خپل لره او ما قبل لره ګرځوي په حکم د مسکوت عنه کې، مثال لکه: قامَ زيد بل عمرو. ۳ : او که د دې بل نه وروسته جمله راغلې وه بيا دا عطف لپاره نه راځي بلکه ابتداء لپاره راځي بيا دا فائده کوي اضراب ابطالي. ۲ : يا اضراب انتقالي، اضراب ابطالي ديته وائي چې دا عدول کوي من موضع الى موضع آخر سره د ابطال د حکم نه په موضع اول کې نحو قوله تعالى: ﴿وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ۚ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ﴾ اي بل هم عباد مکرمون ﴿اَمْ يَقُوْلُوْنَ بِهٖ جِنَّةٌ ۚ بَلْ جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ﴾ او اضراب انتقالي ديته وائي: چې دا عدول کوي من موضع الى موضع بې د ابطال د حکم اول نه نحو قوله تعالى: ﴿قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ۝ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ۝ بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا﴾ ﴿وَلَدَيْنَا كِتٰبٌ يَّنْطِقُ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ﴾ ﴿بَلْ قُلُوْبُهُمْ فِيْ غَمْرَةٍ﴾.

| | |
|---|---|
| ۵۵٦- وانقل بها للثان حکم الأول | في الخبر المثبت، والأمر الجلي |

**ترکيب:** **بها للثان** دواړه مجرور متعلق دي انقل پورې **حکم** مفعول به **في** متعلق بانقل.
**الخبر** موصوف **المثبت** صفة **والامر** معطوف على الخبر **الجلي** صفة کاشفة.

**ترجمه:** نقل کړه ته په دې کلمې د بل سره دويم ته چې هغه معطوف دي حکم د اول چې هغه معطوف عليه دي په جمله خبريه مثبته کې او امر ظاهر کې هر کله چې دا حکم د اول نه نقل شو ثاني ته نو دا ول په حکم د مسکوت عنه کې وګرځوو، مثال لکه: قامَ زيد بل عمرو. اضرب زيداً بل عمراً.

| | |
|---|---|
| ۵۵۷- وإن على ضمير رفع متصل | عطفت فافصل بالضمير المنفصل |

**ترکيب:** **وان**: حرف شرط، **على**: حرف جر متعلق بعطفت، **رفع**: موصوف **متصل** صفة، **فافصل**: جزاء شرط، **بالضمير**: جارمجرور متعلق بافصل الضمير موصوف، **المنفصل**: صفة،

**ترجمه** : که چرې تا اراده وکړه عطف د اسم ظاهر په ضمير مرفوع متصل بادې نو دا درته وصيت کوم چې ته جدائي راوله د دې معطوف او معطوف عليه چې ضمير مرفوع متصل دي

په مېنځ کې په ضمير مرفوع منفصل سره، مثال لکه جئت أنا و زيد.

| ٥٥٨- أو فاصل ما، وبلا فصل يرد | في النظم فاشيًا، وضعفه اعتقد |
|---|---|

**ترکيب: فاصل** معطوف على الضمير **ماصفتي** اي فاصل اي فاصل **بلافصل** متعلق على يرد **په يرد** کې ضمير مستتر هو فاعل راجع الى ضمير رفع **فاشيًا** حال از ضمير يرد **ضعفه** مفعول به مقدم.

**ترجمه**: يا په يو فاصل سره هر څنګه فاصل چې وي خوا هغه فاصل اسم وي او که حرف وي بيا دا فاصل اسم عام دي چې منصوب وي او که مجرور وي، او عطف د يو اسم په ضمير مرفوع متصل باندې بې فصله راغلي دي په نظم کې په حال کون د دي کې چې هغه ډير ډير دي يعنى ظاهر دى پټ نه دي او عقيده وساته ته د هغې ضعف يعنى دا ضعيف دي.

**تشريح**: يعنى ته وکړي عطف د اسم ظاهر په ضمير مرفوع متصل باندې په استعمال د کلام د عربو کې ته عطف نه شي کولي يعنى ستا لپاره عطف جائز نه دي تر څو پورې چې ۱: تاکيد نه وي کړي د ضمير مرفوع متصل په ضمير مرفوع منفصل سره. ۲: يا د هغوى په مېنځ کې ماسوا د ضمير مرفوع منفصل بل يو شي سره فصل نه وو واقع کړي. ۳: يا فصل راوړي نه وو دواړو سره لپاره د دې خبرې چې لازم نشي عطف د مستقل کلمې په بعض اجزاء د کلمې باندې او دا ناروا دى عند النُحات ځکه لازميږي تبعيت د مستقل غير مستقل لره او تبعيت د مستقل غير مستقل لره باطل دى. ۱: مثال د دې چې عطف د اسم ظاهر راغلي وي په ضمير مرفوع متصل باندې او فصل راغلى وي د دوى په مېنځ کې په ضمير مرفوع منفصل سره نحو قوله تعالى: ﴿اسْكُنْ اَنْتَ وَ زَوْجُكَ الْجَنَّةَ﴾ ﴿اذْهَبْ اَنْتَ وَ رَبُّكَ فَقَاتِلَا﴾ ﴿قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ وَ اٰبَآؤُكُمْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ﴾. ۲: او مثال د دې چې فصل راغلي وي د دوى په مېنځ کې په ما سره نحو قوله تعالى: ﴿جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا وَ مَنْ صَلَحَ﴾ ﴿مَآ اَشْرَكْنَا وَ لَآ اٰبَآؤُنَا﴾ ﴿ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ۝ اَوَ اٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ﴾. ۳: مثال د هغې چې فصل راغلي وي دواړو سره نحو قوله تعالى: ﴿فَكُبْكِبُوْا فِيْهَا هُمْ وَ الْغَاوٗنَ﴾ او عطف د اسم په ضمير مرفوع متصل باندې بلا فصله دا ضعيف دى، او دا راغلى دى په نظم کې سره د ضعف نه د وجې د ضرورت شعري نه کما في قول الشاعر:

قلتُ اذا اقبلتْ و زُهر تهادَى      كنعاج الفَلا تعسفنَ رملاً

په دې قول د شاعر کې زُهر اسم ظاهر عطف شوي دي په ضمير مرفوع مستتر د اقبلتْ باندې چې هغه هيَ دي بلا فصله دا سماعي دي، فلا يُقاسُ عليه غيره عند البصريين خلافًا للكوفيين، چې هغوى دا جائز وائي قياسًا كما في قوله تعالى: ﴿وَ سَخَّرْنَا مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَ الطَّيْرَ﴾ په يو

قراءت کې و الطيرُ مرفوع راغلي دي، بصريان وائي: دا مبتداء ده او خبر د دې حذف شوی دی مسخرات. او کوفيان وائي دا عطف دي په ضمير مرفوع متصل د يُسبحنَ باندې.
زهر صيغه جمع مؤنث صفت مشبهه ده مفرد د دې راځي زهراء كفاطمة الزهراء زهراء بي بي فاطمې ته ويلې شي، سپينې ښايسته زنانه ته ويلی شي لکه حُمر جمع راغلي ده د حمراء او صفت مشبه مذکر د دينه ازهر راځي يعنی ځليدونکې، دا عبارت په حذف د موصوف سره دي اي و نسورة زُهْرة تهادی اصل کې تتهادَی وو يو تا حذف شوي ده اي يتمايلنَ و يتبخترنَ في مشيهن نعاج بقره وحشي دا عبارت په حذف د مضاف سره دي، اي كتمايل نعاج الفلا تعسفنَ اي ملن عن الطريق المعتادة للمشي و مشين في الرمل.

| | |
|---|---|
| ٥٥٩- وعود خافض لدى عطف على | ضمير خفض لازمًا قد جعلا |

**تركيب: عودُ** مبتداء **لدى** بمعنی عند متعلق على عود **على** متعلق بعطف **لازمًا** مفعول ثاني مقدم على جعل **جُعلا** جمله خبر.

**ترجمه**: راوګرځول او اعاده د جار چې هغه عام دی حرف جر وي او که مضاف وي په وخت د عطف د اسم ظاهر کې په ضمير مجرور متصل باندې ګرځولي شوي دي لازم د جمهورو په نزد باندې مثال د دې نحو قوله تعالى: ﴿فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا﴾ ﴿نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ آبَائِكَ﴾

| | |
|---|---|
| ٥٦٠- وليس عندي لازمًا، إذ قد أتى | في النثر والنظم الصحيح مثبتا |

**تركيب: ليس** ضمير مستتر هو فاعل راجع الى عود الضمير **عندي** متعلق لازما پورې **لازماً** خبر د ليس **اذ** تعليلي **اتى** ضمير مستتر هو فاعل راجع الى العطف على ضمير خفض من غير اعادة الخافض **في النثر** متعلق باتى **مثبتا** حال از فاعل اتى.

**ترجمه**: او نه ده دا اعاده د عامل جاره معطوف سره لازم زما په نزد باندې ځکه په تحقيق سره راغلی دی عطف د اسم په ضمير مجرور متصل باندې بې د اعادې د جار نه په نثر او نظم کې هسې نثر او نظم چې صحيح دي او په حال کون د دې عطف کې چې عطف دي په ضمير مجرور متصل باندې بې د اعادې د جار نه دا ثابت دي په استعمال د کلام د عربو کې ځکه قواعد د علم تابع وي د استعمال د کلام د عربو او په کلام د عربو کې عطف د اسم ظاهر په ضمير مجرور باندې راغلي دي بې د اعادې د جار نه، مثال د عطف د اسم ظاهر په ضمير مجرور باندې بې د اعادې د جار نه په نثر صحيح کې چې هغه قرآن پاک دی دا قول د الله تعالى: ﴿وَكُفْرٌ بِهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ ﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامِ﴾ على قراءة.
او مثال د عطف د اسم ظاهر په ضمير مجرور باندې بې د اعادې د جار نه په نظم صحيح کې

لکه دا قول د شاعر شو:

فالیوم قربت تهجونا و تشتُمنا فاذهب فما بك و الایام من عجب

**ترکیب: تهجونا** حال از فاعل و **تشتمنا** عطف تفسیر **فما** ملغاة العمل لفوت الترتیب **بك** خبر مقدم **من** زائده **عجب** مبتداء مؤخر. دلته عطف د الایام اسم ظاهر راغلي دي په ضمیر مجرور متصل باندې بي د اعادي د جار نه چې هغه با ده بل مثال لکه شعر د سعد الدین شیرازي شو:

بلغ العلی بکماله کشف الدجی بجماله

حسُنت جمیع خصاله صلوا علیه و آله

د و آله اسم ظاهر عطف دي په ضمیر مجرور د علیه باندې بي د اعادي د جار نه چې هغه علی دي. دا مذهب د کوفیانو او د یونس او د اخفش او د ابن مالك دي چې دوی عطف د اسم ظاهر په ضمیر مجرور باندې بي د اعادي د جار نه جائز وائي دلیل د دوی لپاره سمع ده، او جمهور وائي: عطف د اسم په ضمیر مجرور باندې بي د اعادي د جار نه جائز نه دي ځکه دا ضمیر مجرور د وجې د شدة اتصال نه ګرځیدلي دي په منزله د کالجزء د کلمي نه اوس که مونږ عطف وکړو اسم ظاهر لره بې د اعادي د جار نه بیا لازمیږي عطف د مستقل کلمې په جزء د کلمي باندې او دا جائز نه دی ځکه بیا لازمیږي تابعیت د مستقل د غیر مستقل، او دلائل د هغه بعضو نه دوی جواب کوي: هر چې ﴿تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامِ﴾ په کسرې سره راغلی دی ځکه دا واو قسمیه دي، او وَٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ عطف دی په سبیل الله باندې نه په ضمیر د به باندې، او هر چې شعر دي یجوزُ في الشعر ما لایجوز في غیره.

| | |
|---|---|
| ٥٦١- والفاء قد تحذف مع ما عطفت | والواو، إذ لا لبس، وهي انفردت |

**ترکیب: والفاء** مبتداء **قد تحذف** خبر **ما** موصوله **عطفت** صله، ضمیر مستتر هي فاعل راجع الی الفاء و العائد محذوف اي به **والواو** مبتداء محذوف الخبر ای کذلك **اذ** متعلق بتحذف خبر لامحذوف اي موجود **انفردت** جمله خبر د مبتداء چې هي دی.

**ترجمه**: او فا د حروف عاطفه ؤ نه کله کله حذف کولي شي سره د هغه معطوف نه چې عطف کړی شوي دي په دې فا سره نحو قوله تعالی: ﴿أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡحَجَرَۖ فَٱنۢبَجَسَتۡ﴾اي فضرب فانبجست، دا ضرب عطف دی په اوحینا باندې فا عاطفه سره د معطوف حذف شوې ده چې فضربَ دي، او معطوف علیه یواځي پاتې شوي دي چې اوحینَا دي، او واو هم سره د معطوف نه حذف کولي شي معطوف علیه یواځي پاتې شي څه وخت کې چې نه وو التباس، نحو قوله تعالی: ﴿سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلۡحَرَّ﴾ والبردَ دلته واو سره د معطوف علیه نه حذف شوي دي چې و

البردَ دی او معطوف علیه یواځې پاتې دي چې الحرَ دي.

| | |
|---|---|
| ٥٦٢- بعطف عامل مزال قد بقي | معموله، دفعًا لوهم اتقي |

**ترکیب: بعطف** متعلق بانفردت **عامل** موصوف **مزال** صفة اول **بقي** جمله صفت ثاني یا حال **معموله** فاعل **دفعًا** مفعول له **لوهم** متعلق بدفعًا موصوف **اتقی** جمله صفت.

**ترجمه:** او دا واو یواځې شوی دی په عطف کولو د یو عامل سره داسې عامل چې حذف کړې شوي دي او داسې عامل یا په حال کون د عامل کې چې په تحقیق سره پاتې شوي وي معمول د هغه واو سره لپاره دفع کولو د یو ګمان داسې ګمان چې د هغې نه ځان ساتلي شي یعنی د هغې نه ځان ساتل ضروري دي، مثال د دي لکه علفتُها تبنًا و ماءً بارداً شو چې دا تبنًا مفعول ثاني دي علفتها لپاره بیا وریسي و ماءً بارداً کې دا واو عاطفه دي عامل محذوف لپاره یعنی د دي معطوف عامل حذف شوي دي او دا ماء د هغې معمول دي، اوس هغه عامل محذوف کوم دي چې هغه سقیتُها دي ځکه که دا سقیتُها عامل د ماءً محذوف دلته نه را اوباسو بیا دا ماءً به عطف شي په تبنًا باندې او دا عطف باطل دي د وجې د عدمِ اشتراك د تبنًا او ماءً نه په عامل کې بیا لازمیږي فساد د معنی او دا باطل دي، او دي و ماء لپاره مفعول معه هم نه شو ویلې د وجې د تعذر د معیت او مصاحبت، د ماءً نه تبنًا سره په وقوع د فعل کې، او که دا علفتُها متضمن شي معنی انلتُها لره بیا دا ماءً عطف دي په تبنًا باندې په دي کلام کې حذف نشته دی بیا مثال نه جوړیږي. بل مثال د دي لکه دا قول د شاعر شو:

اذا ما الغانیاتُ برزنَ یومًا و زججْنَ الحواجبَ و العیونَا

**ترکیب:** الغانیاتُ جمع د غانیة. ١ : هغه زنانه چې مستغني وي د ځان ښایسته کولو نه د وجې د حسن او جمال خپل نه. ٢ : اللتي تُطلَبُ و لاتُطلبُ. ٣ : شابة عفیفة ذات زوج زججن نرم کړې الحواجب مفعول به دي زججن لپاره او و العیون کې دا واو عاطفه دي او معطوف عامل د دي واو عاطفه حذف شوي دي چې هغه کحلنَ دي، او دا العیون مفعول به د هغه فعل محذوف دي عامل معطوف حذف شوي دي او واو عاطفه پاتې شوي دي معمول د هغه عامل محذف سره ځکه که مونږ دلته دا معمول د هغه فعل محذوف ونه ګرځوو دا به عطف شي په الحواجب باندې او په هغې باندې عطف نه صحیح کیږي د وجې د عدم اشتراك د دي دواړو نه په عامل کې چې هغه زججنَ دي ځکه تزجیج الحواجب وائي نرم کول اوږدول د حواجب په اخذ د ویښتو سره د اطرافو نه دا معنی په دي عیون کې نه صحیح کیږي او که دا زججنَ متضمن شي معنی د تحسین او تزیین لره بیا دا عطف دي په الحواجب باندې په دي کلام کې حذف نشته دي.

| ٥٦٣- وحذف متبوع بدا -هنا- استبح | وعطفك الفعل على الفعل يصح |
|---|---|

**ترکيب:** وحذف مفعول به مقدم **متبوع** موصوف **بدا** جمله صفت **هنا** متعلق ببدا يا استبح پورې **عطفك** مصدر مضاف الى الفاعل مبتداء **الفعل** مفعول به **يصح** جمله خبر.

**ترجمه:** او جائز کړه ته حذف د متبوع چې معطوف عليه دي هسې متبوع چې هغه ښکاره کيږي په دې مقام د عطف نسق کې په دي شان سره چې تا فکر کوو او ستا فکر سره هغه معطوف عليه معلوميدو، و الافلا، او که ته وائې ماته مثال وښايه چې حذف د معطوف عليه شوي دي په استعمال د کلام د عربو کې د وجې د ظهور د هغې نه؟ زه وايم خود به ئې ښايم نحو قوله تعالى و **لتصنع على عيني** اي لترحم و لتصنع على عيني، بل مثال لکه يو سړي تا ته ووائي الم تضرب زيداً ته د هغې په جواب کې ووائې بل عمراً اي بل ضربتُه و عمراً، اوس په دي کې دا توهم وو چې يره دا خو بحث د عطف وو او معطوف او معطوف عليه پکې اسماء وو لهذا عطف د فعل په فعل باندې جائز دي او که نه نو ناظم دفع د توهم وکړه و **عطفك** الخ سره عطف کول ستا فعل لره په بل فعل باندې دا تا لره روا دي نحو زيد قامَ و سلم، و قوله تعالى ﴿تَبٰرَكَ الَّذِيْٓ اِنْ شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ وَيَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا﴾ وقول صاحب الكافية المبني ما ناسب مبني الاصل او وقع غير مركب دا وقعَ عطف دي په ناسب باندې عطف د فعليه په فعليه باندې راغي.

| ٥٦٤- واعطف على اسم شبه فعل فعلا | وعكسًا استعمل تجده سهلًا |
|---|---|

**ترکيب:** **اسم** موصوف **شبه** صفة **فعلا** مفعول به **عكسَ** مفعول به مقدم **استعمل** لپاره **تجده** مجزوم لانه وقع جواب الامر ه مفعول اول **سهلاً** مفعول ثاني.

**ترجمه:** او عطف کړه ته فعل لره په يو اسم باندې داسې اسم چې مشابه وي فعل سره، لکن عکس هم مستعملوه يا مستعملوه بالعکس چې فعل نه معطوف عليه واقع کړه او اسم چې شبيه بالفعل دی معطوف جوړوه نو وبه مومې ته دي لره آسان، يعنى عطف د فعل جائز دي په هغه اسم باندې چې هغه مشابه وي فعل سره لکه اسم فاعل او اسم مفعول او صفت مشبه وغيره شو کما في قوله تعالى: ﴿فَالْمُغِيْرٰتِ صُبْحًا ۙ فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًا﴾ دا اثرن عطف دي په مغيرات باندې او هغه اسم دي مشابه دي فعل سره ځکه دا په تاويل د أغرنَ کې دي، و قوله تعالى: ﴿اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَاَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا﴾ دا اقرضوا الله عطف دي په المصدقين باندې او دا شبه فعل دي، د دينه تاويل په فعل سره کولي شي اي ان الذين تصدقوا و اقرضوا الله، وقوله تعالى: ﴿اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صٰٓفّٰتٍ وَّيَقْبِضْنَ﴾ اي قابضات، طير: جمع د طائر ده لکه صحب

جمع د صاحب ده، او کله ئې اطلاق کیږي په مفرد باندې، دارنګه جائز دي عطف د شبه فعل په فعل باندې ځکه د دې فعل نه تاویل کولی شي په مشتقي سره نحو قوله تعالی: ﴿يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ﴾.

## البدلُ

بل د توابعو نه بدل دي دا هغه تابع دي چې دا صرف مقصود دي په حکم سره او متبوع د دې صرف ذريعه ده لپاره د ذکر د ده، او دا ځلور قسمه دي: ١ : بدل الکل دیته بدل مطابق هم وائي. ٢ : بدل البعض. ٣ : بدل الاشتمال. ٤ : بدل الغلط.

**وجه د حصر**: دا بدل به خالي نه وي يا به دا بدل عين مبدل منه وي يا به جزء وي، او که عين وو بدل الکل والا فبدلُ البعض، او که مشتمل موندی شي په دې متبوع خپل باندې چې دا يو صفت متقرره دی قائم دي په دې موصوف کې دا بدل الاشتمال دي او که په ما بين د مبدل منه او بدل کې هيڅ علاقه نه وه نه علاقه د کليت وه او نه علاقه د جزئيت وه او نه علاقه د اشتمال وه هغه ته ويلي شي بدل غلط، ديته بدلِ الاضراب او بدل النسيان او بدل مباين هم وائي.

| | |
|---|---|
| ٥٦٥- التَّابِعُ المَقْصُودُ بِالحُكْمِ بِلاَ | وَاسِطَةٍ هُوَ المُسَمَّى بدلًا |

**ترکيب**: **التابع** موصوف مبتداء اول **المقصود** صفت **بلا** متعلق بالتابع **واسطة** مبتداء ثاني **المسمى** خبر، ضمير مستتر نائب فاعل **بدلا** مفعول ثاني، جمله خبر د مبتداء اول لپاره.

**ترجمه**: تابع کوه يعنی اسم متاخر چې معرب وي په اعراب د سابق سره هسي اسم متاخر چې مقصود وي په حکم سره بې د واسطي د حرف نه د دغه تابع نوم ايخودي شوي دي په بدل سره، هر تعريف کې لابدي وي د جنس او د فصل نه التابع جنس دي په دې کې داخل شو پردي خپل تول المقصود بالحکم فصل اول په دې سره خارج شو نعت او تاکيد او عطف بيان بلا واسطة فصل ثاني دي سره خارج شو عطف النسق ځکه دا اګر که مقصود بالحکم دي لکن په واسطي د حرف سره دي.

| | |
|---|---|
| ٥٦٦- مُطَابِقًا أَو بَعْضًا أَو مَا يَشْتَمِل | عَلَيهِ يُلفَى أَو كَمَعْطُوفٍ بِبَل |

**ترکيب**: **مطابقا** مفعول ثاني مقدم د يلفى **ما** موصول **يشتمل** جمله صله **او کمعطوف** معطوف علی ما.

**ترجمه**: موندلی شي دا بدل مطابق او موافق د متبوع خپل سره په مصداق کې او يا جز د مبدل منه يا هغه بدل چې مشتمل دي مبدل منه په هغې باندې يا مشتمل دي دا بدل په مدلول د متبوع خپل باندې، يا دا بدل موندلي شي پشان د معطوف ببل يعنی د دې حکم به پشان د

حکم د معطوف ببل وي.

**تشریح**: یعنی بدل په څلور قسمه دي: ۱ : بدل کل او بدل مطابق چې مصداق د بدل بعینه مصداق د مبدل منه وي نحو قوله تعالی: ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾.

۲ : بدل البعض چې مصداق د بدل جزء وي د مصداق د مبدل منه نه بیا عام دي چې قلیل وي یا مساوات وي یا اکثر وي د مبدل منه نه نحو قوله تعالی: ﴿ ثُمَّ عَمُوْا وَ صَمُّوْا كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ﴾ کثیر بدل بعض واقع شوي دي د واو ضمیر نه، و قوله تعالی: ﴿ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ﴾ دا من بدل بعض واقع شوي دي د الناسُ نه، نحو قولك ضربتُ زیداً راسَه جاء القبیلةُ رُبعُها او نصفُها او ثلثاهَا. ۳ : بدل الاشتمال: چې دا بدل مشتمل وي په مبدل منه باندې یا به مبدل منه مشتمل وي په بدل باندې بي د جزئیت او کلیت نه مثال د اول نحو قوله تعالی: ﴿يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ﴾ چې قتال بدل واقع شوي دي د الشهر الحرام نه، مثال د دویم نحو قوله تعالی: ﴿قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ۝ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُوْدِ﴾ النار بدل واقع شوي دي الاخدود نه، ځکه اخدود د دوی مشتمل وو په اور باندې.

بدل بعض او بد اشتمال کې لابدي ده د ضمیر نه لفظًا یا تقدیراً چې هغه ربط راولي د بدل د مبدل منه خپل سره. ۴ : قسم بدل غلط دي: چې حکم کړي وي په مبدل منه باندې د وجې د غلطۍ نه او د دې غلطۍ لرې کولو لپاره بدل ذکر کړي وي نحو جاء زید حمار دا په کلام فصیح کې نه راځي.

| | |
|---|---|
| ۵۶۷- وَذَا لِلِاضْرَابِ اعْزُ إِنْ قَصْدًا صَحِبْ | وَدُونَ قَصْدٍ غَلَطٌ بِهِ سُلِبْ |

**ترکیب**: **وذا** مفعول به مقدم **للاضراب** متعلق باعز **قصدًا**. ۱: مفعول به مقدم بمعنی المقصود. ۲ : او علی حذف مضاف اي ذا قصد **صحب** ضمیر مستتر هو راجع الی البدل المشار الیه بذا **قصد** علی تقدیر مضاف حال و العامل محذوف اي ان صحب البدل المتبوع حالة کونه دون قصد **غلط** موصوف خبر د مبتداء محذوف اي فهو بدل غلط **سلب** ضمیر مستتر راجع الی الحکم متعلق محذوف اي سلب به الحکم عن الاول و هو المتبوع جمله صفة.

**ترجمه**: دا قسم بدل چې هغه په ترجمه کې پشان د ترجمه د بل وي ته د دې نسبت کوه اضراب ته که دا بدل ملګري شوي وو د دې مبدل منه خپل سره په وخت د قصد کولو د متکلم کې ذکر د مبدل منه، کچیرې دا بدل ملګري شوي وو د مبدل منه سره بې د قصد د متکلم نه ذکر د مبدل منه لره د غه بدل غلط دي هسې غلط چې لرې کړي شوي دي دغه حکم د متبوع نه په دې بدل

سره يا لرې کړې شوي دي په دې بدل سره هغه غلطيا د متکلم لکه تا اراده وکړه چې زه عمرو ذکر کوم او په وخت د تلفظ کې زيد ووائي نسياناً يا خطاً بيا عمرو ووائي ديته بدل نسيان او بدل غلط ويلې شي.

| | |
|---|---|
| ۵۶۸- كَزُرْهُ خَالِدًا وَقَبِّلْهُ الْيَدَا | وَاعْرِفْهُ حَقَّهُ وَخُذْ نَبْلاً مُدَى |

**ترکيب:** **اليدا** منه رابط محذوف دي.

**ترجمه:** مثال د دې اقسامو اربعه ؤ مذکور دی په دې بيت کې: ملاقات کوه ته دغه سړي سره، اوس دغه سړي څوك دي چې زه د هغه سره ملاقات وکړم خالداً چې هغه خالد دي ملاقات چې وکړم څه به کوم ښکل کوه ته ده لره دواړه لاسونه د ده او وپيژنه دې خالد لره حق د هغه چې په هغې کې يو صفت متقرره دي چې د هغه لائق دا دي چې د هغه ادب کوه او واخله غشي های تويه زه تير وتم غشي نه بلکه چاړه واخله. اول مثال د بدل الکل دي ځکه مصداق د بدل بعينه مصداق د مبدل منه دي، او دويم مثال د بدل البعض دي ځکه مصداق د يد جزء دي د مصداق د مبدل منه.

**سوال:** مونږ مخکې ويلي وو چې بدل البعض او بدل الاشتمال کې لابدي وي د ضمير نه چې هغه ربط راولي د دې دواړو د مبدل منه خپل سره وَقبله اليدا کې خو ضمير نشته دي؟

**جواب:** په دې کې لابدي ده د ضمير نه لکن هغه ضمير عام دي لفظاً وي او که تقديراً وي دلته تقديراً دي اي و قَبلهُ اليدَ منه، او دا دريم مثال د بدل الاشتمال دي، او څلورم مثال د بدل الغلط دي، او بدل غلط دوه قسمه دي: ۱: بدل اضراب ۲: بدل نسيان بدل خطا، په دې کې دواړه احتمال لري يعني دا مثال د بدل اضراب هم جوړيږي او مثال د بدل نسيان او بدل خطا هم جوړيږي په دې شان سره که ديته ګوري چې دلته متکلم قصد د ذکر د بدل او د مبدل منه دواړو کړي دي ليکن ده عدول کړي دي قصد د مبدل منه نه قصد د بدل ته دا بدل اضراب دي، او که ديته ګوري چې ده اول قصد د ذکر د بدل کړي دي لکن خطاً يا نسياناً دي تلفظ وکړو د مبدل منه باندې بيا کله چې ده ته د خپلې خطائي پته ولګېده نو په بدل باندې تلفظ وکړو نو دا بدل غلط او بدل نسيان دي.

| | |
|---|---|
| ۵۶۹- وَمِنْ ضَمِيرِ الحَاضِرِ الظَاهِرَ لا | تُبْدِلهُ، إلا ما إحاطة جَلا |

**ترکيب:** **من** متعلق بلا تبدل **الظاهر** موصوف صفة غلط دي بلکه دا ما اضمرَ عامله على شريطة التفسير دی **تُبدله** ضمير راجع الى الظاهر **ما** موصول منصوب على الاستثناء **احاطة** مفعول به مقدم **جلا** جمله صله.

**ترجمه**: بدل مه واقع کوه ته اسم ظاهر لره د ضمير حاضر نه چې هغه ضمير د مخاطب او ضمير د متكلم دي لپاره د دي چې لازم نه شي انقصيت د مقصود چې بدل دي د غير مقصود نه چې مبدل منه دي مګر هغه اسم ظاهر واقع کوه د ضمير مخاطب او د ضمير متكلم نه چې هغه فائده کوي او ظاهروي شمول د حکم لره.

| | |
|---|---|
| ٥٧- أو اقتضى بعضًا أو اشتمالا | كأنك ابتهاجك اشتمالا |

**ترکيب**: **اقتضى** معطوف على جلا، و الضمير المستتر راجع الى ما **بعضا** مفعول به **كانك** خبر د مبتداء محذوف **ابتهاجك** بدل اشتمال از اسم ان **استمالا** جمله خبر ان.

**ترجمه**: يا تقاضا کوله دغه اسم ظاهر بعينه د مبدل منه خپل نه يا اشتمال د مبدل منه خپل

**تشريح**: ١ اسم ظاهر د اسم ظاهر نه بدل واقع کېږي بالاتفاق ٢ : او ضمير د ضمير نه بدل نه واقع کيږي بالاتفاق، هر چې قمتَ انتَ کې دا انتَ تاکيد دي نه بدل. ٣ : او ضمير د اسم ظاهر نه بدل واقع کيږي او که نه په دي کې خلاف دي: څوك وائي واقع کيږي مثال لکه رايتُ زيداً اياه شو او څوك وائي نه واقع کيږي ځکه د مسموع د عربو نه دی، هر چې رايتُ زيداً اياه دا ترکيب مصنوعي د بعضي نحويانو دي دا د عربو نه مسموع ندي. ٤ : اسم ظاهر بدل د ضمير نه واقع کيږي او که نه؟ دا مسئله لږ غوندې تفصيل غواړي هغه دا چې:

١ : اسم ظاهر بدل کل واقع کيږي د ضمير غائب نه نحو قوله تعالى. ﴿فَسَوّٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ﴾ ﴿وَ اَسَرُّوا النَّجْوَى ۖ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا﴾ الذين بدل واقع شوي دي واو ضمير غائب دا اسروُا نه. يا لکه زره خالداً شو چې مخکې مثال تير شوي وو، بل مثال لکه ضربته زيداً ځکه انقصيت د مقصود د غير مقصود نه نه لازميږي

٢: اسم ظاهر بدل د ضمير د متکلم او ضمير د مخاطب نه نه واقع کيږي ځکه دا بدل مقصود بالحکم دي د مبدل منه نه او هغه ضمير مبدل منه اعرف دي او اسم ظاهر د قبيلي د غيبوبت نه دي بيا لازميږي انقصيت د مقصود چې بدل دي د غير مقصود نه چې مبدل منه دي دا باطل دي.

١ : لکن دا اسم ظاهر بدل کل واقع کيږي د ضمير متکلم او د مخاطب نه په دې شرط سره چې دي فائده کوله شمول او احاطه د حکم. ١ : تولي زماني لره. ٢ : يا تول افراد د مبدل منه لره.

٢ : يا دواړو لره، مثال د احاطه زماني او افرادي نحو قوله تعالى : ﴿تَكُوْنُ لَنَا عِيْدًا لِّاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا﴾ نا د لنا ضمير د متکلم مبدل منه او دا لاولنا و آخرنا بدل کل واقع شوي دي د هغې نه. او مثال د احاطي د افراد نحو جئتم صغيرکم و کبيرکم او اسم ظاهر بدل بعض واقع کيږی د ضمير

حاضر نه بلا قيل و شرط نحو قوله تعالى: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَ الْيَوْمَ الْآخِرَ﴾ دا لمَن جار مجرور بدل بعض واقع شوي دي د لكم جار مجرور نه او لمن مجرور اسم ظاهر دي او د لكم مجرور ضمير مخاطب دي دا بدل بعض دي د كل مبدل منه نه څكه اسوه حسنه د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټول مخاطبين لپاره نه دي بلكه دا د هغه چا لپاره دي يرجوا الله واليوم الآخر د دي مخاطبين نه، و قول الشاعر:

اوعدني بالسجن و الاداهم رجلي فرجلي شسنةُ المناسم

المناسم: سخت قدم والا، مناسم جمع د منسِم ده خف البعير ته وائي، دلته قدم مراد دي، په دي شعر كې دا رجلي اسم ظاهر بدل بعض واقع شوي دي د اوعدني ضمير د متكلم نه

٣ دارنګه اسم ظاهر بدل اشتمال واقع كيږي د ضمير حاضر نه بلا قيد و شرط مثال لكه انك ابتهاجك استعمال شو، دا مثال ذكر دي په نظم كې بدل اشتمال لپاره،

**ترجمه**: په تحقيق سره تازګي د صورت ستا هغه مائله شوي ده د زاړه تازګی نه، دا ابتهاجك اسم ظاهر بدل اشتمال واقع شوي دي د ضمير مخاطب منصوب د اسم د اِن نه، بل مثال د دي لكه اعجبتني علمُك و نحو قول الشاعر:

بلغنا السماءَ مجدنا و سناؤنا و انا لنرجو فوق ذلك مظهرا

په دې كې دا مجدنا بدل اشتمال واقع شوي دي د نا ضمير متكلم فاعل د بلغ نه.

| | |
|---|---|
| ٥٧١- وَبَدَلُ الْمُضَمَّنِ الْهَمْزَ يَلِي | هَمْزًا كَ"مَنْ ذَا أَسَعِيدٌ أَمْ عَلِي؟ " |

**تركيب**: **وبدل** مبتداء **المضمن** ضمير مستتر نائب فاعل **الهمز** مفعول ثاني **يلي** جمله خبر **همزاً** مفعول به د يلي **كمن** مبتداء **ذا** خبر **سعيد** بدل از **من** **علي** عطف على سعيد.

**ترجمه**: اي الاسمُ الذي ضمن معنى الهمزةِ يلي همزاً كمن الخ، او بدل د هغه مبدل منه چې هغه متضمن وي معنى د همزه استفهامي لره هغه به واقع كيږي وروستو د همزه د استفهام نه متصل بلا فصل، مثال د دې لكه من ذا اسعيد ام علي شو، ترجمه: زه درنه تپوس كوم چې څوك دی دغه ولاړ سړي ايا سعيد دی او كه علي دي، حاصل د دې بيت دا دي: چې اسم بدل واقع شي د اسم استفهام نه يعنی د هغه اسم نه چې هغه متضمن دي معنی د حرف استفهام لره چې هغه نهه اسمونه دي كم، ما، اي، من، متى، اين، انى، ايان، كيفَ دغه همزه به ذكر كولي شي د بدل سره مثال د دي لكه من ذا أ سعيد ام علي شو، بل مثال د دي نحو كم مالك اعشرون ام ثلاثون، ما صنعتَ اخيراً ام شراً ما استفهاميه منصوب محلاً مفعول به مقدم صنعتَ لپاره، او دا خيراً بدل واقع شوي دي د ما اسم استفهام نه او همزه د استفهام ورسره

راغلي ده او دا شراً عطف دي په خيراً بدل باندې.
دارنگه اسم بدل واقع د اسم شرط نه يعنی د هغه اسم نه چې هغه متضمن دي معنى د ان شرطيه لره چې نهه دي من، وما، مهما، و اي، حيثما، اذما، متى اينما، انى، اسم جازمه مر فعل را دغه ان حرف شرط به ذکر کولي شي دي بدل سره مثال د دي لکه ما تصنع ان خيراً و ان شراً تُجزَى به دا ما اسم شرط منصوب محلاً مفعول به مقدم تصنع فعل شرط لپاره او دا خيراً بدل واقع شوى دى د ما اسم شرط نه او ان حرف شرط ورسره راغلي دي او دا شراً عطف دي خيراً بدل باندې نو دى هم بدل واقع شو د هغې نه څکه دې سره هم ان حرف شرط راغلى دى او دا مسئله د ناظم نه پاتې شوې ده هغه نه ده ذکر کړې.

| | |
|---|---|
| ۵۷۲- وَيُبْدَلُ الفِعْلُ مِنَ الفِعْلِ ک"من | يصل إلينا يستعن بنا يعن" |

**ترکيب:** **الفعل** نائب فاعل **من الفعل** متعلق بيبدل خبر د مبتداء محذوف **کمن** شرطيه مبتداء **الينا** متعلق بيصل **يستعن** بدل اشتمال من يصل **بنا** متعلق بيستعن **يعن** جمله خبر.
**ترجمه:** فعل بدل واقع کولي شي د فعل نه مثال د فعل چې بدل واقع شوى دي د فعل نه لکه دا ترکيب شو من يصل الخ بشرط د دي چې کوم سړي پيوستيږي مونږ سره يعنی طلب د امداد کوي زمونږ نه هغه هسې نه پاتې کيږي بلکه هغه سره امداد کولي شي، اوس دلته يستعن فعل بدل اشتمال واقع شوي دي د يصل د فعل نه هغه مبدل منه دي. بل مثال د دې لکه دا قول د الله تعالى شو ﴿وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ اَثَامًا ۝ يُضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ﴾ دا يضاعف بدل واقع شوي دي د يلقَ نه. ۱: بدل الاشتمال. ۲: يا بدل الکل، دا يضاعف ځکه مجزوم دي. ۳: مثال د بدل غلط نحو قامَ قعدَ زيد. ٤: بدل البعض مسموع نه دي د عربو نه.
۲: دارنگه کله کله جمله بدل واقع کيږي د جملي نه نحو قوله تعالى: ﴿اَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ۝ اَمَدَّكُمْ بِاَنْعَامٍ وَّ بَنِيْنَ﴾ دا دويم امدکم جمله بدل واقع شوي دي د دي اول امدکم. نه ۲: او کله جمله بدل واقع کيږي د مفرد نه على سبيل الندرة و الشذوذ کما في قول الشاعر:

| | |
|---|---|
| الى اللهِ اشکو بالمدينة حاجةً | و بالشام اخرى کيف يلتقيان |

يعنې زه شکايت کوم الله تعالى ته د دې دوه حاجتينو چې يو په مدينه کې دي او بل شام کې دي څکه د دوى التقاء متعذره ده، اوس په دې قول د شاعر کې دا کيفَ يلتقيانِ جمله اسميه بدل واقع شوي دي د حاجة او د اخرى مفردين نه. ۲: يا دا جمله مستانفه ده جواب سوال واقع شوي دي سائل سوال وکړو هل تجتمع الحاجتان د حذف کړه جواب ئي وکړو کيف يلتقيانِ استفهام انکاري اي لايلتقيانِ بيا مثال نه جوړيږي. ۲: او مفرد بدل د جملي نه نه واقع کيږي.

# النداء

دا ما سياتي تر يو حده پورې بحث د هغه مفعول به دي چې هغې له نحاتو په خپل اصطلاح کې نوم ايښودي دي منادى او دغه نداء مصدر صيغه ده د باب مفاعلي نه په معنى د منادى سره مبني للمفعول او منادى په لغت کې اواز کرده شده ته وائي، او په اصطلاح کې هغه اسم ته وائي چې د هغې په سر کې حرف نداء داخل شوي وي دا تعريف بالعلامه شو او تعريف بالمفهوم او تعريف حقيقي دا دي: هوَ المطلوب اقبالُه بحرف نائب منابَ ادعوا لفظًا يا تقديرًا.

اوس هغه حروف نداء کوم دي چې په سبب د دخول د هغې سره اسم منادى واقع کيږي هغه حروف دا بيانوي لکن حروف نداء مشهور پنځه دي او ده دوه زيات کړي دي آ، واو.

| | |
|---|---|
| ٥٧٣- وَلِلمُنَادَى النَّاءِ" أو كالناء "يا، | وأي، وآ" كذا "أيا" ثم "هيا" |

**تركيب**: **للمنادى** خبر مقدم موصوف **الناء** صفت او **كالناء** عطف على الناء **يا** مراد اللفظ مبتداء مؤخر **واي** عطف على يا **كذا** خبر مقدم **ايا** مبتداء مؤخر **هيا** عطف على ايا.

**ترجمه**: يا و اي او آ د حروف نداء نه دا تول راځي لپاره د هغه منادى چې هغه لرې مكان كې وي حقيقةً او په نفس الامر کې يا لرې مكان كې حقيقةً نه دي لکن لرې په شانتې وي مثلاً وده دې يا نه دى لکن غافل دي هغه ته هم په زوره اواز پکار دى پشان د منادى بعيد حقيقةً، ايا او هيا دا پشان د يا دى چې دا راځي لپاره د هغه منادى چې هغه بعيد وي په مكان كې حقيقةً يا حكمًا.

**سوال** ته وائې يا راځي منادى بعيد لپاره دا خبره ستا منقوضه شو يا الله سره نه لأنّه أقرب من حبل الوريد؟ **جواب** الله تعالى اګر كه مونږ ته نژدې دي لکن د الله تعالى مرتبه ډيره اوچته ده د وجې د علم د شان خپل نه دا ګرځيدلي دي په منزله كالناء ځکه يا سره اواز كولي شي. ٢: د بعضو خلكو په نزد يا عام په استعمال کې بيا د سره اعتراض نه وارديږي.

| | |
|---|---|
| ٥٧٤- والهمز للداني، و"وا" لمن ندب | أو "يا" وغير"وا" لدى اللبس اجتنب |

**تركيب**: **الهمزُ** مبتداء **للداني** خبر وامبتداء خبر، **لمن** موصوله خبر **نُدب** جمله صله او**يا** عطف على وا **غيرُ** مبتداء وامراد اللفظ مضاف اليه **لدى** اللبس متعلق باجتنب **اجتنب** جمله خبر.

**ترجمه**: او همزه مفتوحه د حروف نداء نه دا راځي لپاره د هغه منادى چې هغه قريب وي د جهت د مكان نه كما في قول امرؤ القيس:

| | |
|---|---|
| أ فاطم مهلاً بعض هذا التدلل | و ان كنتِ قد ازمعتِ صرمي فاجملي |

او وا او يا د حروف نداء نه دا راځي لپاره هغه د هغه شخص او لپاره د هغه ذات چې په هغه باندې ژړا او فرياد كولي شي مندوب په لغت کې ميت ته وائي، يبكى احد و يعد محاسنه،

دي لپاره چې خلکو ته پته ولګي چې مرګ د دې امر عظيم دي هغوی د دې سره شريك شي په ژړا کې او هغوی ده ته تسلي ورکړي، او په اصطلاح د علماؤ کې: هو المتفجع عليه وجودًا او عدمًا، ته وائي، مثال د متفجع عليه عدمًا لکه ميت شو وا زيداه، او مثال د متفجع عليه وجوداً لکه مصيبت شو وامصيبتاه، او هغه حرف چې وا ده غير د واو نه ده لپاره د ندبه هغه يا دي په وخت د التباس کې د مندوب د غير مندوب سره د هغه لفظ نه اجتناب کولي شي يعنی په مندوب کې نه شي مستعملولی او په وخت د امن کې مستعملولی شي په مندوب کې کما في قول الشاعر:

حملتَ امرًا عظيمًا فاصطبرتَ له و قمتَ فيه بامر الله يا عُمرًا

مراد د امر عظيمه نه خلافت دي، دا شعر جرير ويلی دي په ندبه د عمر بن عبد العزيز کې.

ناظم حروف نداء اووه ذکر کړل او منادی يې دوه قسمه ذکر کړه: ١ : منادی مندوب. ٢ : منادی غير مندوب، او دا حروف نداء درې قسمه دي: ١ : هيا، ايا، اي، و همزه، آ، دا مختص دي منادی غير مندوب پورې په منادی مندوب کې نه راځي. ٢ : وا د حروف نداء نه مختص دي په منادی مندوب پورې په غير مندوب کې نه راځي. ٣ : يا عام ده په منادی مندوب او غير مندوب دواړو کې راځي.

**سوال** دا يا ولې عام شو؟ **جواب**: ځکه دا مشهور ده په دې حرف نداء کې او دا نور غير مشهور دی لهذا دا يا د وجې د شهرت نه اولی دي په تعميم سره، بيا دي دا منادی منقسم کړه دوه قسمو ته: ١ : بعيده ٢ : قريبه، حرف نداء چې کوم په منادی غير مندوب کې مستعمليږي هغه دوه قسمه ده: ١ : قسم هغه دي چې منادی بعيد کې مستعمليږي لکه: يا، و هيا، ايا، اي، وآ، شو. ٢ : قسم هغه ده چې په منادی قريب کې مستعمليږي لکه همزه شوه.

بعضې خلك تقسيم د منادی کوي درې قسمونو ته. ١ : قريب ٢ : بعيد ٣ : متوسط، او حروف نداء تقسيموي څلورو قسمو ته: ١ : قسم هغه دی چې په منادی قريب کې مستعمليږي لکه همزه شوه ځکه قلت د حروفو دلالت کوي په قلت د مسافت باندې. دويم قسم هغه دي چې په منادی بعيد کې مستعمليږي لکه: هيا، او ايا شو ځکه کثرت د حروفو دلالت کوي په کثرت د مسافت باندې. دريم قسم هغه دی چې منادی متوسط کې مستعمليږي لکه: اي شو ځکه توسط د حروفو دلالت کوي په توسط د مسافت باندې. څلورم قسم هغه دی چې عام دي په منادی قريب او بعيد او متوسط درې واړو کې مستعمليږي لکه يا شو، ځکه دا مشهور دي په دې حروف نداء کې د وجې د شهرت نه اولی دي په تعميم سره.

| ٥٧٥- وغَيرُ مَنْدوبٍ وَمُضمَرٍ وَمَا | جَا مُسْتَغَاثًا قَدْ يُعَرَى فاعلما |
|---|---|

**تركيب:** و**غير** مبتداء **مضمر** دا دواړه عطف دي په مندوب باندې **ما** موصوله **جا** مقصور على لغة جمله صله **مستغاثا** حال از ضمير جاء **يُعرى** جمله خبر **فاعلما** فعل فاعل خانله مستقله جمله ده، او الف بدل د نون تاكيد خفيفه نه راغلي دي وقف د وجې نه.

**ترجمه:** ١ : او غير د منادى مندوب نه ٢ : او غير د منادى مضمر نه ٣ : او غير د هغه منادى نه چې هغه راغلي ده مستغاث كله كله خالي كولى شي دا منادى د حرف نداء نه، نه په دې خبره باندې خامخا پوهه شه.

**تشريح:** يعنى حذف د حرف نداء چې "يا" ده جائز ده د هر منادى نه ما سوا د منادى مندوب او منادى مضمر او منادى مستغاث نه. ١ څكه مشهور نه دي دغه اشياء په نداء سره په شان د اعلام سبقت نه كوي ذهن د مخاطب په كون د دوى باندې منادى په تقدير د حرف نداء سره.

٢ : څكه مقصود په منادى مستغاث او منادى مندوب كې مد د صوت او تطويل د كلام دي او حذف منافي دي د مد د صوت او د تطويل د كلام سره او د دينه علاوه په نورو خايونو كې كله كله حرف نداء حذف كيږي . ١ : څكه كون د هغه اسماء منادى مشهور او كثير شائع دي په استعمال د كلام د عربو كې سبقت كوي ذهن د مخاطب په كون د دې باندې منادى په تقدير د حرف نداء سره. ٢ : يا نداء ديته كثيره ده او كثرت استعمال تقاضا د تخفيف كوي او تخفيف ورله مونږ وركړه په حذف د حرف نداء سره مثال د دي نحو قوله تعالى : ﴿يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا﴾ اي يا يوسفُ . ﴿رَبِّ أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْكَ﴾ اي يا رب . ﴿رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ﴾ ﴿يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ۝ ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ﴾ ونحو قولك من لا يزال محسنًا احسنَ الَي ايها الناسُ وحدوا اللهَ فان التوحيدَ راسُ الطاعات، اي يا ايها الناس.

| ٥٧٦- وذاك في اسم الجنس والمشار له | قل ومن يمنعه فانصر عاذله |
|---|---|

**تركيب:** **ذاك** مبتداء بحذف التابع اي و ذلك التعدي **في اسم** متعلق بقل **والمشار** عطف على اسم الجنس **له** اللام بمعنى الى **قل** جمله خبر **يمنعه** شرط **فانصر** جزا **عاذله** مفعول به.

**ترجمه:** او دا حذف كول د حرف نداء او خالي كول د حرف نداء په اسم جنس منادى كې او منادى مشار اليه كې كوم دي؟ او څوك چې منع كوي حذف د حرف نداء لره په اسم جنس او مشار اليه كې لكه ابن حاجب شو، ته امداد كوه او ملګرى شه ملامتګر د هغه سره يعنى ته هم ورسره ملامت اووايه په هغې باندې، يعنى په دې كې دوه مذهبه دي: ١ مذهب د بصريانو دي ٢ : مذهب د كوفيانو دي، بصريان وائي حذف د حرف نداء د منادى اسم جنس او منادى مشار

اليه نه جائز نه دي ځکه نداء اسم جنس او اسم اشارې ته قليل دی ذهن سبقت نه کوي په کون د
ده باندې منادی په تقدير د حرف نداء سره، او کوفيان وائي جائز دي، او دي مقلد د کوفيانو
دي دليل د هغوی لپاره سمع ده د عربو نه مثال د حرف نداء چې حذف شوي دي د اسم اشاره نه
نحو قوله تعالى: ﴿أَنْتُمْ هَٰؤُلَاءِ تَقْتُلُونَ أَنْفُسَكُمْ﴾ اي يا هؤلاء، و قول الشاعر:

اذا اهملث عيني لها قال صاحبي بمثلك هذا لوعة و غرامُ

ای يا هذا، او مثال د حرف نداء چې حذف شوي دي د اسم جنس نه افتدِ مخنوقُ اصبح ليلُ
اطرق كرا اطرِق كرا. ان النعامَ فی القرَی دا ضرب مثل دي دا ويلی کيږي هغه سړي ته چې هغه
بې فائدي خبرې کوي، او جمهور د دينه جواب کوي چې دا شاذ دي.

| | |
|---|---|
| ۵۷۷- "وَابْنِ المُعَرَّفَ المُنَادَى المُفْرَدَا | عَلَى الَّذِي فِي رَفْعِهِ قَدْ عُهِدَا" |

**ترکيب: المعرف** مبدل منه مفعول به **المنادى** بدل موصوف **المفرد** اصفة يا اصل کې دا موصوف او المعرف ورله صفت وو دا مقدم کړي شو او ابنِ بدل او مبدل منه وايو ځکه موصوف صفت معنی نه جوړيږي نو تابع نه متبوع وګرځيدو د دي مثال بل ځای کې ما مررت بمثلك احد كان في الاصل ما مررت باحد مثلك **على الذي** متعلق بابن **في رفعه** متعلق بعهد **عُهِدا** جمله صله.

**ترجمه:** او مبني کړه ته معرفه منادی لره برابره خبره ده چې مخکې د دخول د حرف نداء نه معرفه وي او که پس د دخول د حرف نداء نه معرفه وي يا برابره خبره ده چې معرفه وضعي وي او که معرفه قصدي وي هسې معرفه منادی چې مفرد دي په دي شان سره مضاف او شبه مضاف نه دي په هغه حرکت او حرف باندې په تحقيق سره تاته معلوم شوي دي دغه حرکت او حرف په رفع د هغې کې مخکې د دخول د حرف نداء نه، يعنی منادی مفرد معرفه مبني ده په علامې د رفع سره او علامه د رفع دري دي. ۱: ضمه ۲: الف ۳: واو، اوس ۱: مخکې د دخول د حرف نداء نه دغه منادی مفرد معرفه مرفوع بالضمه وه پس د دخول د حرف نداء نه مبني على الضم به وي نحو: يا زيدُ. ۲: او که مخکې د دخول د حرف نداء نه دغه منادی مفرد معرفه مرفوع على الف وه. دلته به مبني على الالف وي نحو: يا زيدانِ. ۳: او که مخکې د دخول د حرف نداء نه دغه منادی مفرد معرفه مرفوع بالواو وه دلته مبني على الواو وي نحو: يا زيدون.

**سوال:** منادی مفرد معرفه مبني ولې ده بيا مبني على الضمه ولې ده؟

**جواب:** ځکه دا واقع شوي دي په مقام د کاف ضمير کې چې اصل کې ادعوك وو سره د مشابهت نه هغې سره په تعريف او افراد کې او کاف ضميري مشابه دي کاف خطابي سره صورةً او مبني على الضمه ځکه دي ۱: که موټر دا مبني على الفتحه وګرځوو بيا التباس راځي د هغه منادی

سره چې مضاف شوي وي، يا ضمير د متكلم ته بيا هغه يا بدل شوي وي الف سره او هغه الف حذف شوي وي اكتفاء بالفتحه كړي وي نحو يا غلامَ، او كه مبني على الكسره وګرځوو بيا التباس راځي د هغه منادى سره چې مضاف شوي وي يا ضمير د متكلم ته او دا يا حذف شوي وي اكتفاء بالكسره كړي وي نحو يا قومِ. ۲: دا مبني على الضمه ګرځولي ده ځكه دا منادى مشابه ده قبلُ او بعدُ سره په انقطاعِ د صوت كې، اوس قبل او بعد كه مضاف وي يا نكره وي چې مضاف اليه حذف شي نسياً منسياً معرب ده، او كه مضاف اليه د دي محذوف منوي وو يعنى مفرد معرفه وو مبني على الضمه دي، دارنګه دا منادى مفرد معرفه وو مبني على الضمه دي.

| ۵۷۸- وَانْوِ انْضِمَامَ مَا بَنَوا قَبْلَ النِّدَا | وليجر مجرى ذي بناء جددا |
|---|---|

**تركيب: انضمام** مفعول به **ما** موصول مضاف اليه **بنوا** صله و العائد محذوف اي بنوه **وليجر** ضمير مستتر هو راجع الى ما بنوا نائب فاعل **مجرى** مفعول مطلق **ذي** مضاف اليه مضاف **بناء** مضاف اليه موصوف **جُدِدا** جمله صفت.

**ترجمه:** ۱: او قصد وكړه او نيت وكړه ته مضموم كول د هغه منادى. ۲: مقدر كوه ته ضمه د هغه منادى چې هغه مبني كړي وو دوى مخكې د دخول د حرف نداء نه، او جاري دي كړي شي دغه اسم چې مبني دي مخكې د دخول د حرف نداء نه په شان د جاري كېدلو د هغه منادى چې هغه خاوند د بنا ده هسې بنا چې نه وي كړي شوي دا او تا ورله اوس وركړي وه، يعنى منادى مفرد معرفه مخكې د دخول د حرف نداء نه مبني وي كله چې حرف نداء په هغې باندې داخل شي منادى وګرځي دا په خپل حال باندې باقي پاتې دي لكن پكې تقديراً راځي نحو: يا هذا، يا سيبويه، دا مبني على الكسره دي او مبني على الضمه دي تقديراً او منصوب دي محلاً وروسته تابع دده لره رفع وركوه لپاره د رعايت د ضمه مقدر او نصب وركوه لپاره د رعايت د محل.

| ۵۷۹- وَالْمُفْرَدَ الْمَنْكُورَ وَالْمُضَافَا | وَشِبْهَهُ انْصِبْ عَادِمًا خِلَافَا |
|---|---|

**تركيب: المفرد** مفعول به مقدم، موصوف **المنكور** صفت **والمضافا** معطوفان على المفرد **عادمًا** حال از فاعل انصب **خلافا** مفعول به لعادمًا.

**ترجمه:** او نصب وركوه ته منادى مفرد نكري لره او منادى مضاف او شبه مضاف لره په حال كون ستا كې چې ته ورك كوونكى ئې خلاف لره په دې خبره كې ځكه په دې كې خلاف نشته دي.

**تشريح: يعنى ۱**: منادى مفرد نكره. ۲: او منادى مضاف. ۳: او منادى شبه مضاف معرب دى په اعراب د نصب سره ځكه دا مفعول به دي لپاره د فعل محذوف چې هغه أدعُو يا أنادي دي، او مفعول به نه وي مګر منصوب وي او دا اګر كه واقع شوي دي په مقام د كاف ضميري باندې

لکن مشابه نه دي هغې سره په افراد او په تعریف کې ځکه مبني نه شو، او نصب د دې اتفاقي دی په دې کې د هيچ چا خلاف نشته دي، مثال د منادی مفرد نکري کقول الاعمی: یا رجُلاً خذ بیدِي، او مثال د منادی مضاف نحو: یا عبدَ الله، او شبه مضاف دیته وائي: چې یو جز وي د ده نه وروسته بل جز راغلي وي او د هغه د دې مخکني جز سره تعلق وي او هغه متمم د دې جزء اول وي دا تعلق به یا. ۱: تعلق د عامل او معمول به وي لکه یا طالعًا جبلاً، یا حسنًا وجهُه شو. ۲: یا به دا تعلق تعلق د معطوف او معطوف علیه وي، بیا دا مجموعه دال ګرځیدلي وي یو مرتبه معین لپاره لکه: یا ثلاثةً و ثلاثین شو.

| ۵۸۰- وَنَحْوَ زَيْدٍ ضُمَّ وَافْتَحَنَّ مِنْ | نَحْوِ أَزَيْدُ بْنَ سَعِيدٍ لاَ تَهِنْ |
|---|---|

**ترکیب: نحو** مفعول به مقدم ضم لپاره **ضُم** امر والواو بمعنی او **من** په اعتبار د متعلق محذوف سره حال د زید نه **ازید** منادی مفرد معرفه. ۱: مبني علی الضمه. ۲: یا مبني علی الفتحه بن معرب منصوب حملاً علی المحل لانه مضاف و المضاف تُنصب **تهن** جواب نداء.

**ترجمه:** او ضمه ورکوه ته مثل د زید لره یا خامخا فتحه ورکوه دا فتحه ورکول مستحب دي په دي نون تاکید ثقیله سره اشاره وکړه چې دا فتحه مختاره ده ځکه داسې قسم منادی کثیر الوقوع ده په استعمال د کلام د عربو کې تقاضا د تخفیف کوي او تخفیف ورله ورکړه په بنا علی الفتحه سره، اوس هغه زید چیرته دي چې ضمه ورکوي او فتحه ورکوي هغې لره من نحو په حال کون د دي زید کې چې دا ثابت دي په مثل د دي ترکیب کې چې: ا زیدَ بنَ سعیدٍ لاتهن، ای زید د سعید زویه ته سستوالي مه کوه زما په کار کې په دي کې ۱: زید منادی واقع شوي ده. ۲: او دا موصوف ده په ابن سره. ۳: چې هغه مضاف ده بل علم ته چې هغه سعید دي، اوس په دي زید کې ستا لپاره جواز د وجهینو دي چې ۱: ا زیدَ بنَ سعیدٍ وائي بالفتح. ۲: او که ا زیدُ بنَ سعیدٍ وائي بالضمه، لکن ا زیدَ بنَ سعیدٍ بالفتحه مختار او ا زیدُ بنَ سعیدٍ بالضمه صرف جائز قدري دي.

منادی مفرد معرفه: ۱: معرفه بالعلم. ۲: موصوف شي په ابن سره. ۳: او هغه ابن مضاف شوي وي بل علم ته. ٤: او د دې منادی مفرد معرفه او د هغه ابن په مینځ کې فصل نه وو راغلي ۵: او حرف نداء مذکور وو بیا جائز دي ستا لپاره په منادی کې وجهَان: ۱: بنا علی الضمه یا زیدُ بنَ عمروٍ. ۲: بنا علی الفتحه یا زیدَ بنَ عمروٍ، لاتهن ته په دي کې سستي ونه کړي چیرته ځکه ستا لپاره دواړه جائز دي.

| ۵۸۱- وَالضَّمُّ إِنْ لَمْ يَلِ الابْنُ عَلَمَا | أَوْ يَلِ الابْنَ عَلَمٌ قَدْ حُتِمَا |
|---|---|

**ترکیب: الضمُ** مبتداء ان شرطَ **الابنُ** فاعل **علمًا** مفعول به **الابنَ** مفعول به علم فاعل، جزا محذوف ده

دل عليه الكلام السابق **خُتما** ضمير مستتر هو نائب فاعل راجع الى الضم جمله خبر.

**ترجمه:** او ضمه په منادى كې په تحقيق سره لازم كړي شوي ده كچيرته واقع شوي نه وي ابن وروسته د علم نه متصل بلا فصل، اوس د دي صورتونه دوه دي: ۱ : ابن علم نه وروسته نه دي واقع شوي مثال لكه: يا غلامُ بنَ زيدٍ شو. ۲ : يا علم نه وروسته خو واقع شوي وي لكن متصل نه دي واقع شوي بلكه د دې منادى مفرد معرفه بالعلم په مينځ كې فاصل راغلي دي نحو: يا زيدُ الفاضلُ ابنَ عمروٍ. ۳ : دارنګه ضمه واجب كړى شوې ده كچيري علم نه وو واقع شوي وروسته د ابن نه مثال: لكه يا زيدُ بنَ اخينا شو، يعني يو شرط پكې منتفي وو د هغه شروط خمسه مذكوره ؤ نه، بيا ضمه پكې واجب ده فتحه نه ده جائز لكه ځكه دغسې قسم كثير نه ده په استعمال د كلام د عربو كې دا تقاضا د تخفيف نه كوي.

| | |
|---|---|
| ۵۸۲- واضمم أو انصب ما اضطرارا نونا | مما له استحقاق ضم بينا |

**تركيب: ما** موصوله مفعول به على سبيل التنازع **اضطرارا** مفعول له مقدم نون لپاره **مما** متعلق نون پورې **له** متعلق بُين پورې **استحقاق** مبتداء **بُينا** جمله خبر د مبتداء بيا جمله اسميه صله لپاره د موصول.

**ترجمه:** ضمه وركړه ته يا نصب وركړه هغه منادى له چې د وجې د ضرورت شعري نه هغې له تنوين وركړي شوي وي يعنى ضرورت شعري د وجې نه منون ګرځولي شوي دي په حال كوّن د دغه منادى كې چې دا وي د هغه افرادو د منادى نه چې د دي مناده لپاره حق والى د ضمي بيان كړى شوي، مثال د منادى مفرد معرفه مبني على الضمه چې تنوين راغلي وي د وجې د ضرورت شعري نه:

سلامُ الله يا مطر عليها وليس عليك يا مطرُ السلامُ

**تركيب: مطر** اسم رجل **عليها** على زوجة مطر **مطرٌ** جاء على الاصل.

او مثال د منادى مفرد معرفه چې منصوب منون راغلي وي د وجې د ضرورت شعري نه:

ضربتْ صدرَها الى و قالت يا عديًا لقد وقتك الاواقي

الىَ كې. ۱ : الى تعليلي ظرف لغو متعلق دي ضربت پورې. ۲ : بمعنى من ظرف مستقر په اعتبار د متعلق محذوف سره حال واقع شوي دي د ضمير د ضربت نه اي حالَ كونها متعجبة مني، الاواقي: كان في الاصل الوواقي مثل اواصل واو همزي سره بدل شوي دي بمعنى الحوافظ.

| | |
|---|---|
| ۵۸۳- وباضطرار خص جمع "يا" و"أل" | إلا مع "الله" ومحكي الجمل |

**تركيب: با** متعلق ده خُص پورې **خُص ۱** : ماضي مجهول. ۲ : يا صيغه د امر **يا** مراد اللفظ مضاف اليه لپاره د جمع او جمعُ. ۱ : نائب فاعل. ۲ : يا مفعول به **وال** عطف على يا **مع الله** په اعتبارد

متعلق محذوف سره حال از جمع محكى عطف على الله.
**ترجمه:** خاص كړى شوى دى يا خاص كړه ته ضرورت شعري د وجې نه جمع كول د يا حرف نداء او الف لام تعريفي مگر په ضرورت باندې مه حمل كوه جمع د حرف نداء او الف لام تعريفيو لفظ د الله سره هغه بې د ضرورت شعري نه روا شوي دي، او دارنگه روا شوي دي جمع د يا سره د الف لام په هغه علم كې چې نقل كړي شوي دي د جملي نه.
**تشريح:** حاصل د دې بيت دا دې چې حرف نداء بالذات په منادى معرف باللام باندې نه داخليږي، لهذا يا الحسنُ نه شي ويلي ځكه بيا لازميږي جمع په ما بين د التي د تعريف كې دا باطل دي، ځكه بيا لازميږي لغوية د احدهما، اوس كه ته خامخا حرف نداء په معرف باللام باندې داخلول غواړي د دي حرف نداء او معرف باللام په مينځ كې به كلمه د ايها يا هذا اسم اشاره به راوړې په مذكر كې او كلمه د ايتها او هذه به راوړې په مؤنث كې نحو قوله تعالى: ﴿يَاأَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ﴾ ﴿يَاأَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا﴾ ﴿يَاأَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ۝ ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً﴾ كقولك: يا هذا الرجل، يا هذه المراة.
او ضرورت شعري د وجې نه حرف نداء بالذات الف لام باندې داخلول جائز دي نحو:

فيا الغلامان اللذان فرا     اياكما ان تكسبا شرًا

الغلامان معرف باللام باندې يا حرف نداء داخل شوي ده او په مينځ كې فصل نه دي راغلي اى او هذا سره، د دې قاعدې كليي نه دوى مستثنى كړي دي دوه صورتونه چې په هغه دوه ځايونو كې دخول د حرف نداء بالذات په معرف باللام باندې جائز دي بې د ضرورت شعري نه ١: په لفظ د الله كې يا الله ويلى كېږي. ٢: په هغه علم كې چې نقل كړى شوي وي د جملي نه مثال لكه: يو هلك دي د هغې نوم ايښودلى شوي دي المنطلقُ زيد، اوس ته په هغې ته اواز كوي يا المنطلقُ زيد به وائي په دخول د حرف نداء سره بالذات په معرف باللام باندې ځكه ١: په دي دوه صورتونو كې دا الف لام د جملې د مسمى به نه گرځيدلى دى ځكه دا لفظ علم گرځيدلي دي سره د الف لام نه تعريف حاصل شوى دى علميت د وجې نه او الف لام پكې زائد دي لكن لازم دي كلمي سره لپاره احاطه د علميت حرف نداء چې بالذات په دي باندې داخل شي جمع نه راځي په مابين د التي د تعريف كې بلكه دا په شان د يا زيدُ دي. ٢: وجه دا ده دا حرف نداء بالذات ځكه داخليږي په لفظ د الله باندې چې دلته توسط د اي او هذا ممكن نه دي ځكه دا دواړه دلالت كوي په تعدد او ابهام باندې دا منافي دي الله سره نو توصيف د الله په أي او هذا سره جائز نه دي ځكه دا حرف نداء بالذات په دي باندې داخليږي هر چې دي يا المنطلقُ

زيد کې لپاره د دي چې لازم نه شي طوالت د کلام په توسط د ايها او هذا سره ځکه ايها يا هذا په مينځ کې راوړو بيا خبره اوږديږي.

| ٤٨٥- والأكثر "اللهم" بالتعويض | وشذ "يا اللهم" في قريض |
|---|---|

**ترکيب:** ال **اکثرُ** مبتداء **اللهم** خبر **بالتعويض** په اعتبار د متعلق سره حال د خبر نه **يا** مراد اللفظ فاعل **في القريض** متعلق بشذ.

**ترجمه:** او اکثر په استعمال کې اللهم دي په عوض راوړلو د ميم مشدده سره د حرف نداء محذوف نه په اخير د لفظ د الله کې بغير د يا نه، او شاذ دي يا اللهم دا ميم مشدده په عوض کې راوړل په اخير د لفظ د الله کې سره د يا نه ثقط په شعر کې نه په نثر کې ځکه دا ميم مشدده په عوض د يا حرف نداء محذوفه کې وو اوس يا هم ورسره ذکر کړي بيا لازميږي جمع په ما بين د عوض او معوض عنه کې بې د ضرورت شعري نه دا جائز نه دي، او ضرورت شعري د وجې نه کله کله راځي.

**تشريح:** حاصل د بيت دا دی چې حرف نداء يا کله کله حذف کيږي لکن حذف د حرف نداء دوه قسمه دی: ١ : حرف نداء حذف کيږي بلا عوض نحو يوسفُ اعرض عن هذا. ٢ : حرف نداء حذف کيږي سره د عوض نه دا مختص دي په لفظ د الله پورې کله کله حرف نداء حذف کيږي د لفظ د الله نه په عوض کې په اخير کې ميم مشدده مفتوحه راوړي شي يا الله په ځای باندې اللهمَّ ويلي کيږي بې د حرف نداء نه ځکه بيا لازم کيږي جمع په ما بين د عوض او معوض عنه کې البته ضرورت شعري د وجې نه کله کله يا اللهمَّ ويلي کيږي کما مرّ في قول الشاعرِ

اني اذا ما حدث آلما اقولُ يا اللهم يا اللهمَا

**ترکيب:** حدث فاعل د فعل محذوف دي من قبيل و ان احد من المشركين استجارك، ترجمه: ای اقولُ يا الله يا الله اکشف عني ما نزل بي.

**سوال:** د حرف نداء په عوض کې ١ دا ميم ولې راوړي بل حرف ولې را نه وړه؟

**جواب:** په عوض کې دا ميم مشدده راوړه نه بل حرف د وجې د مناسبت نه د ده حرف نداء سره په تعريف کې لکه څنګه چې حرف نداء تعريف لپاره راځي، دارنګه دا ميم کله کله تعريف لپاره راځي لام تعريفي په ځای باندې په لغت د حمير قبيله کې او مشدده مفتوحه ئې راوړه لپاره د دي چې ١ دلالت وکړي په تعظيم د مسمّى باندې د دي وجې نه په لفظ د الله کې تفخيم مستحب دي وروسته د مفتوح يا مضموم نه راشي دون المکسور په هغې کې به تفخيم نه کوي کما في نحو: الحمدُ للهِ خلافًا للبعض چې هغوی وائي: بعد المکسور هم تفخيم مستحب دي. بيضاوي.

٢ : يا ميم مشدده راوړه لپاره د دي چې دا دال شي په حرفين باندې په شان د يا، او په اخير کې

راوړه نه په اول کې. ۱ : لپاره د دي چې ابتدا بالساکن را نشي. ۲ : لپاره د حصول د تبرك په ابتدا د اسم الله باندې خکه عوض په محل د معوض عنه کې راوړل لازم نه دي کله په اخير کې هم راځي نحو: عدة، اما په بدل کې دا خبره ضروري ده چې دا بدل به په محل د مبدل منه کې راوړي نحو: ماء و ثعالی، د بدل او د عوض په مینځ نسبت عموم خصوص مطلق دي کل بدل عوض و لا عکسَ، دوه مادي غواړي. ۱ : ماده اجتماعي نحو: ماء و ثعالی و لغة. ۲ : ماده افتراقي چې عوض به وي بدل به نه وي نحو: عدة.

**زده کړه دا خبره:** چې لفظ د الله منادی واقع شي دي لپاره احکام مختصه دي چې هغه نورو لپاره نه دي ثابت. ۱ : دخول د یا فقط په دي باندې او نور حروف نداء په لفظ د الله باندې نه داخلیږي. ۲ : دخول د حرف نداء په معرف باللام باندې بالذات بي د توسط د اي او د هذا نه. ۳ : جعل د همزه وصلي د لفظ د الله قطعي کله چې منادی واقع شي نحو: یا الله. ٤ : حذف د حرف نداء په عوض کې په اخیر کې میم مشدده مفتوحه راوړل نحو: اللهمّ، او اللهم مختص دی په منادی پورې او لایوصف و لایوصفُ به دي پشان د ضمیر عند سیبویه لایوصف به دی نه لایوصفُ عند المبرد یعنې دا صفت د بل چا لپاره نه واقع کیږي، او دا دی لپاره صفت بل څوك واقع کیدی شي د مبرد په نزد باندې نحو قوله تعالی: ﴿اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ﴾ دا فاطر السماوات منصوب دي خکه دا صفت واقع شوي دي منادی مفرد معرفه مبني علی الضمه لپاره چې اللهم دی او تابع د منادیِ مفرد معرفه مبني علی الضمه مضاف راشي منصوب ئي وروسته راشي دا مسئله او سیبویه دا محموله وي په نداء مستانفه باندې یعنې دا ځانله منادی ده، اللهُم پشان ای قل اللهُم یا فاطرَ السماوات، او منادی مضاف منصوب وي دا خکه منصوب ده.

## فصل

هر کله چې فارغ شو ناظم د بیان ذ احکامو د منادی نه پس شروع ئې وکړه په بیان د احکام د توابعو د منادی کې.

**سوال:** توابع خو ده مخکې بیان کړي دي بیا دلته ئي څله بیانوي؟

**جواب:** توابع د منادی مفرد معرفه مبني علی الضمه لپاره څه احکام مختصه دي چې هغه نور توابع له نه دي ثابت هغه احکام مختصه بیانولو لپاره دي اوس توابع د منادی بیانوي.

| | |
|---|---|
| ٥٨٥- تَابِعَ ذِي الضَّمِّ المُضَافَ دُونَ أَل | أَلزِمْهُ نَصْبًا، كَ"أَزيد ذَا الحيل" |

**ترکیب:** تابع ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر، موصوف مضاف **ذي** مضاف الیه مضاف **الضم** مضاف الیه **المضاف** صفة **دون** حال از تابعَ **نصبًا** مفعول ثاني **ذا** مضاف مضاف الیه **الحیل** منادی

مفرد معرفه مبني على الضمه موصوف.

**ترجمه**: تابع د هغه منادى چې هغه خاوند د ضمه ده هسې تابع چې مضاف وي په اضافت معنوي سره په حال کون د دې تابع د منادى کې چې هغه مضاف ده په اضافت معنوي سره الف لام به پکې وي لازم کوه ته د غه تابع سره نصب ځکه منادى مضاف يا شبه مضاف واقع شي هغه معرب کولی شي په اعراب د نصب سره کما مر سره د وجود دعلت د بنا نه په هغه وقوع د منادى ده په موضع د کاف ضميري کې اوس تابع د منادى چې مضاف شي بيا په طريقه اولى سره به معرب کيږي په اعراب د نصب سره د وجې د انتفاء د علت د بناء نه چې هغه مباشرت دي حرف نداء سره، او که ته وائي ماته مثال وښايه چې تابع د منادى مفرد معرفه مضاف راغلي وي په اضافت معنوي سره او منصوب وي؟ دا وائي: لکه ازيدُ ذا الحيَل شو، چې دا زيد منادى مفرد معرفه مبني على الضمه ده او ذا الحيل مضاف مضاف اليه په اضافت معنوي سره صفت واقع شوي دي زيد لپاره منصوب باللالف دي ځکه ذا اسم دي د اسماء سته مکبره ؤ نه، او اسماء سته مکبره مضاف شي غير د "ي" نه د ضمير د متکلم ته معرب کولي شي په اعراب بالحرف سره په حالت رفعي واو سره راځي او په حالت نصبي کې الف سره راځي او په حالت جري کې يا سره راځي دلته حالت نصبي دي الف سره راغلي ده، او مراد په دي تابع سره غير د بدل او د معطوف بالحرف نه دي ځکه بدل او معطوف بالحرف چې دا مطعوف بالحرف مجرد وي د الف لام نه حکمه کحکم المنادى المستقل او که معوف بالحرف دا معرف باللام وي په هغې کې جواز د وجهينو دي دا به وروسته راشي.

و المضاف سره احتراز وکړه تابع مفرد نه، او دون ال سره ئې احتراز وکړه د تابع د منادى مفرد معرفه مبني على الضمه مضاف مقترن بال نه نحو: يا زيدُ الحسن الخلق ځکه په دي جواز د وجهينو دي: ١: تُرفع تبعًا للفظه. ٢: تُنصبُ تبعًا لمحل المنادى، دا به هم وروسته دا بيانوي.

| | |
|---|---|
| ٥٨٦- وما سواه ارفع أو انصب واجعلا | كمستقل نسقًا وبدلًا |

**ترکيب**: **ما** موصوله مفعول به مقدم ارفع لپاره **سواه** صله وعاطفه يا استينافيه **اجعلا** الف بدل از نون خفيفه لاجل الوقف **كمستقل** مفعول ثاني **نسقا** مفعول د اجعل **بدلا** عطف على نسقًا.

**ترجمه**: او هغه توابع چې سوا دي د دغه تابع مضافه دون ال نه د هغې مصداقونه څلور دي:

١: نعت. ٢: عطف بيان. ٣: تاکيد. ٤: اضافت لفظي رفع ورکوه ته دغه توابع لره د وجې د حمل نه په لفظ د منادى مفرد معرفه باندې يا نصب ورکوه ته هغې لره د وجې د حمل نه په محل د منادى مفرد معرفه باندې ځکه هغه محلاً منصوب ده بنا بر مفعول به مثال د نعت نحو: يا زيدُ

نِ العاقلَ، مثال د عطف بيان نحو: يا غلامُ بشر، بشراً، مثال د تاكيد نحو: يا تيمُ اجمعون، اجمعين، مثال د اضافت لفظي: يا زيدُ الحسنُ الوجهِ، او خامخا گرځوه ته معطوف بالحرف مجرد عن اللام د منادى مفرد معرفه لره مطلقاً، او دارنګه خامخا اوګرځوه ته بدل منادى مفرد معرفه لره مطلقاً پشان د منادى مستقل مطلقًا دا معنى چې دا بدل او معطوف بالحرف مجرد عن اللام عام دي چې مفردين وي نحو: يا زيد عمرُ يا زيد و عمرُ، او كه مضافين وي نحو: يا زيدُ اخا عمرٍو، يا زيدُ و اخا عمرٍو، ځكه بدل په حكم د تكرار د عامل كې وي او معطوف بالحرف كې دا حرف عطف په منزله د عامل دي نو دا دواړه شو پشان د مباشر د حرف نداء ځكه دي لپاره حكم د منادى مستقل دي.

| ففيه وجهان ورفع ينتقى | ٥٨٧- وَإِنْ يَكُنْ مَصْحُوبَ "أَل" مَا نُسِقَا |
|---|---|

**تركيب: ان** شرط **مصحوب** خبر د يكن **ما** موصوله اسم د يكن **نسقا** جمله صله **ففيه** خبر مقدم **وجهان** مبتداء مؤخر جمله جزاء **رفع** نكره مبتداء واقع شوي ده لوقوعه في مقام التقسيم **ينتقى** جمله خبر.

**ترجمه**: كچيري وو دا عطف هغه تابع چې ګرځولي شوي دي معطوف بالحرف ملګري شوي د الف لام سره ثابت دي په دي كې دوه وجې او رفع پكې مختاره كولي شي، حاصل د دي بيت دا دي: چې تابع د منادى مفرد معرفه معطوف بالحرف معرف باللام وي لكه ځنګه چې په هغه توابع كې جواز د وجهينو وو چې هغه غير وو د تابعِ مضافَ دون ال نه، دارنګه په دي كې هم جواز د وجهينو دي نحو يا زيدُ و الحارثُ و الحارثَ، لكن دومره فرق دي چې هغوى كې دا رفع او نصب دواړه يو شانته دي بالاتفاق په اولويت او عدم اولويت كې خلاف نشته ديت، او په دې كې خلاف دي: ١ خليل او سيبويه او مازني وائي رفع مختاره ده سره د جواز د نصب نه ځكه دا معطوف بالحرف حقيقت كې منادى مستقله ده مغاير ده د معطوف عليه نه مقطوع د بالنداء ده د دي سره د حركت د منادى مستقل مناسب دي چې هغه رفع ده. ٢: ابو عمرو او يونس نحوي وائي: نصب مختار دى ځكه دخول د حرف نداء په دي باندې ممتنع ده بالذات نو دا منادى مستقل نه شوه بلكه تابع ده او تابع د مبني تابع د محل وي، او محل د مبني نصب دي. ٣: ابو العباس مبرد قول فيصل او محاكمه كړې ده: ان كانَ كالحسنِ فكا الخليلِ و الافكابي عمرو.

| يَلْزَمُ بِالرَّفْعِ لَدَى ذِي المَعْرِفَهْ | ٥٨٨- وَأَيُّهَا مَصْحُوبَ أَل بَعْدُ صِفَهْ |
|---|---|

**تركيب: وايها** مبتداء **مصحوب** مفعول به مقدم **بعدُ** مبني على الضمه اي بعده ضمير راجع دي اي ته **صفه** حال ثاني **تلزم** ضمير مستتر هي راجع ايُها ته فاعل جمله خبر **الرفع** حال ثالث از مصحوب ال **لدى** متعلق بتلزم.

**ترجمه:** کله د ایها لازم وي چا سره لازم وي مدخول د الف لام سره چې ته هغې لره منادی گرځوي په حال کون د دې مدخول د الف لام کې چې دا واقع شوي وي وروسته د اي نه صفت مرفوع په نزد هغه خلکو باندې چې هغه خاوندان د پوهې دي.

**تشریح:** يعنی د دې قیاس به په نورو منادی باندې نه کوي ځکه چې هلته صفت د منادی مفرد معرفه مبني علی الضمه کې جواز د وجهینو وو او منادی مفرد معرفه مبني على الضمه اي راشي او د دې لپاره صفت راځي معرف باللام لکه څنګه چې په دي منادی کې رفع لازم ده، دارنګه د دې هغه تابع کې هم رفع لازم ده ځکه دا مقصود ده په نداء سره نو منادی مستقل شو حکم د هغه واخیست په خلاف د صفت د نورو منادی مفرد معرفه نه هغه مقصود بالنداء نه دي لهذا هغې لپاره حکم د منادی مستقل نه دي بلکه په هغې کې جواز د وجهینو دي او لدی ذي المعرفه ئې وویله ځکه د پوهې خاوندان به دا تمیز وکړي چې توابع د منادی دوه قسمه دي: ۱: مقصود دي. ۲: غیر مقصود دي او دا هغه تابع دي چې مقصود دي په نداء سره او دا اي صرف ذکر کړي شوي دي واسطي لپاره د نداء معرف باللام ته.

| | |
|---|---|
| ٥٨٩- وأيهذا أيها الذي ورد | ووصف أي بسوى هذا يرد |

**ترکیب:** **ايهذا** مبتداء **ايها** معطوف بحذف العاطف **ورد** ضمير مستتر راجع مذكور ته جمله خبر **وصفُ** مبتداء **بسوى** متعلق بوصف **يُرد** جمله خبر.

**ترجمه:** توصیف د اي په اسم اشاره سره هغه اسم اشاره چې عاري دي د کاف خطابي نه مثال لکه ایهذا شو، او توصیف د اي په کلمي د الذي سره وارد شوي ده په کلام د عربو کې، او توصیف د اي علاوه د دې مذکور سره رد کولي شي.

**تشریح:** یعنی توصیف او تفسیر د اي کولي شي په استعمال د کلام د عربو کې.

۱: معرف باللام سره نحو یا ایها الرجلُ.

۲: په اسم اشاره سره نحو: ایهذا الرجل **اي** موصوف، **هذا** صفت مبدل منه، **الرجل** بدل.

۳: په الذي سره نحو قوله تعالی: ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِي نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ﴾ او د دینه علاوه نورو سره توصیف د دې جائز ندي او څوک چې جائز وائي لکه ابن کیسان شو یرد په هغې باندې رد کول مناسب دي چې دا خبره د ده مردود ده او زه درته وصيت کوم چې قبول ئې نه کړې.

| | |
|---|---|
| ٥٩٠- وذو إشارة كأي في الصفه | إن كان تركها يفيت المعرفه |

**ترکیب:** **ذو** مبتداء **كاي** خبر **في الصفه** په اعتبار د متعلق محذوف سره حال د ضمير د خبر نه ان شرط **تركها** اسم د كانَ **يفيت** جمله خبر د كان **المعرفه** مفعول به د يفيت.

**ترجمه**: اسم اشاره پشان د ايُ ده په لزوم د صفت کې او په وجوب د رفع کې کچيري وو توصيف د ذا اسم اشاره چي فوت کوي معرفت د مشار اليه لره مخاطب ته.

**تشريح**: يو اسم اشاره ده چې هغې باندې حرف نداء داخله کړې او بغير د توصيف د هغې نه معرفت د مشار اليه نه راخي بيا توصيف د دې اسم اشارې لازم دي په چان د أيّ باندې ١: توصيف د دې کوه معرف باللام سره نحو يا ذالبعير. ٢: توصيف د دې کوه په موصول سره چې هغه مقترن باللام وي نحو يا ذا الّذي دارنګې هغه اسم اشاره منادي لپاره کوم صفت چې راغلی دی د هغې رفع هم په تا لازم دي لکه څنګه چې د أيّ منادي په صفت کې رفع په تا باندې لازم وو او که په ترك د صفة سره نه فوت کيدو پېژندګلو د مشارإليه د اسم اشارې مخاطب ته بيا ترك د صفة جائز دي لکه ته يا هذا ووائي ترجمه: اى دغه او ستا مخ هغه طرف ته وي، داسې قسم اي بترك الصفة اسم اشاره منادى په مقامات حريرى کې ډېر زيات راغلي دي.

| | |
|---|---|
| ٥٩١- في نحو "سعدُ سعدَ الأوس" ينتصب | ثان وضم وافتح أولا تصب |

**ترکيب**:**في نحو**: متعلق دي ينتصب پورې، **سعد**: منادى بحرف نداء محذوف، **سعدالأوس** ١: تاکيد. ٢: بدل. ٣: عطف بيان. ٤: يا مفعول به لپاره د فعل محذوف. ٥: يا منادى ده حرف نداء حذف شوې ده، **وضم**: امر صيغه ده، **أولا**: ظرف، و بدون التنوين اسم تفضيل صفت دي، **تصب**: جواب د امر اى ان تضم و تفتح اولاتصب من تميم مره وتيم قيس وتيم غالب وتيم شيبان وتيم صبه.

**ترجمه**: او په مثل د سعد سعدالاوس کې منصوب کيږي ثاني اسم او ضمه ورکړه ته او فتحه ورکړه اول اسم لره که چير تا دا کار وکړه يعنى دې اول اسم لره دې فتحه ورکړه يا ضمه نو وبه دسې حق ته.

**تشريح**: په دې نحو کې ئې اشاره وکړه تعميم ته مراد په دې ترکيب سره هر هغه منادى ده چې منادى مفرد معرفه صورةً مکرر راغلي وى او ثاني مضاف شويوى غير ته بيا هغه شير عام دى که علم وى او که علم نوى بيا برابره خبره ده چې دا ترکيب وى او که بل وى نحو:

ياتيم تيم عدي لا اباکمو لايلقينکم سورة عمر[1]

په دې اول اسم کې نصب او ضمه دواړه جائز دى څکه دا يامنادى مفرد معرفه ده او منادى مفرد معرفه مبنى على الضمه وِي يا دا منادى مضاف ده مذکور ته عندالسيبويه او محذوف ته عندالمبرد او منادى مضاف منصوب وى او په دې دويم اسم کې نصب واجب دى څکه دا يا

[1]: **ياتيم**: اسم القبيله **العدى**: اسم لاب القبيلة والاضافة لتميزه **لاابا کمو**: خبر دا محذوف دى اى موجود او لام زائد دى سورة اى مشر.

تابع د مضاف دی او یا تابع د مضاف الیه ځکه په دې کې دوه مذهبه دي.

١: سيبويه وائي چې دا اصل کې ياتيم عدي تيم عدي وو بيا دا عدي ثاني حذف شو دفعا للتکرار ياتيم عدي تيم پاتي شو بيا دا تيم ثاني مقدم شو په دې عدي اول باندې او تاکيد وګرځولي شو د تيم اول لپاره ياتيم تيم عدي شو ځکه دا قاعده ده چې مضاف کله قطعه کړي شي د اضافة نه په هغې کې واجب دی یو د امور اربعه وو نه. ١: بناء على الضمه لکه قبلُ او بعدُ کې شو. ٢: په عوض کې تنوين راوړل لکه يومئذن او حينئذ شو. ٣: اضافة په مثل د اضافة اولی باندې لهذا مونږ چې دا مقدم کړه په عدي باندې صورةً مضاف شو په حقيقت کې تاکيد دی د اول لپاره او که ته وائي چې فصل راغي په مابين د مضاف او مضاف اليه کې؟

**جواب:** فصل په مابين د مضاف او مضاف اليه کې جائز دی په تاکيد سره.

٤: الف لام په عوض کې راوړل.

دريم: مذهب د مبرد دی دا وائي چې دا په اصل کې ياتيم عدي تيم عدي وو بيا دا عدي اول حذف شو دفعا للتکرار ولدلالت الثاني عليه ياتيم تيم عدي پاتي شو نو د مبرد په نزد باندې تيم ثاني ځکه منصوب دی چې دا تابع مضاف دی والمضاف تُنصب او د سيبويه په نزد باندې ځکه منصوب دی چې دا تابع د منادی مضافی دی ځکه تاکيد دی.

**خلاصه:** د ماقبل داده چې دا منادی به خالي نوی يا به مبني وی يا به معرب وی که مبني وو نو تابع د دې څلور قسمه راځي. ١- هغه تابع دی چې په هغه کې رفعه واجب ده. دا په هغه ځائ کې راځي چې منادي ای يا اسم اشاره راغلې وی د هغې تابع معرب مرفوع راځي فقط او نصب جائز ندی يا ايهذ الرجل، ياهذه المرأةُ.

٢: قسم هغه ده چې ضمه واجب ده بناء لکه بدل او معطوف بالحرف مجرد عن اللام شو نحو يا سعيدُ خليلُ، ياسعيدُ وخليلُ.

٣: قسم هغه ده چې نصب واجب دي لکه تابع مضاف شو مجرد من ال نحو: يا عليُ ابا الحسن. يا عليُ و ابا سعيدٍ. يا خليلُ صاحبَ خالدٍ. يا تلاميذ كلَكم.

٤: قسم هغه ده چې په هغې کې جواز د وجهينو دي: رفع او نصب دا راځي په پنځه ځايونو کې ١: نعت مضاف مقترن بال نحو يا خالد الحسن الوجه. ٢: نعت. ٣: تاکيد. ٤: عطف بيان.

٥: معطوف مقترن بال، او که منادی معرب وه نو تابع د دې معرب راځي ابداً.

# المنادى المضاف الى ياء المتكلم

دا بحث د هغه منادى دي چې هغه شوې ده یا ضمير د متكلم ته کوم منادى چې مضاف شوي وي یا ضمير د متكلم ته دا دوه قسمه وي: ۱: هغه منادى مضاف ده چې هغه صحيح یا جار مجرى صحيح مضاف شوي وي یا ضمير د متكلم ته په هغې کې پنځه وجې جائز دي: ۱: یا غلامِيْ ۲: یا غلامِيَ ۳: یا غلامِ ٤: یا غلامَ ٥: یا غلامًا، لكن صاحب د كافيه شلور وجې جائز کړي دي او دا شلورمه وجه يې نه ده ذکر کړې ځکه دا شاذ ده. ۲: منادى معتل مضاف ده چې د هغې په اخير کې الف او واو او یا راغلي وي په هغې کې دا وجوه مذكوره جائز نه دي بلکه حکم د هغه پشان دَ حکم د غير منادى الي ياء المتكلم دي نحو: یا فتايَ

| | |
|---|---|
| ٥٩٢- واجعل منادى صح إن يضف ليا | كعبد عبدي عبد عبدا عبديا |

**تركيب:** منادى مفعول اول، موصوف **صح** ضمير مستتر راجع الى المنادى فاعل جمله صفت **يضف** ضمير مستتر راجع الى المنادى نائب فاعل **ليا** متعلق بيُضف **كعبدِ** متعلق باجعل مفعول ثاني عبدى معطوف على العبد الاول بحذف العاطف **عبدا** بدون التنوين منون غلط دي لکه بعضو نسخو ليکلي دي.

**ترجمه:** وګرځوه ته منادى لره داسې منادى چې صحيح نحوي وي یا جاري مجرى د صحيح وي پشان د عبدِ او عبدي الخ، په دې شرط سره که مضاف کړي شوي وو دا منادى یا ضمير د متكلم ته.

**تشريح:** يعنى منادى صحيح چې مضاف شي یا ضمير د متكلم ته په هغې کې پنځه وجې جائز دي:

۱: حذف الياء اكتفاء بالكسرة مثال لکه: یا عبدِ شو، كقوله تعالى. ﴿يٰعِبَادِ فَاتَّقُوْنِ﴾.

۲: اثبات الياء ساكنةً مثال لکه یا عبدِي یا غلامي یا قوي، وقوله تعالى: ﴿يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ﴾.

۳: قلب الكسرة فتحة و الياء الفًا نحو: یا عبدَیا، و قوله تعالى: ﴿يٰحَسْرَتٰى عَلٰى مَا فَرَّطْتُ فِيْ جَنْۢبِ اللّٰهِ﴾.

٤: یا الف سره بدل کړي بيا حذف کړي اكتفاء بالفتحه وکړي نحو: یا عبدَ.

٥: اثبات الياء مفتوحةً نحو: یا عبدِيَ، و قوله تعالى: ﴿يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ﴾.

| | |
|---|---|
| ٥٩٣- وفتح أو كسر وحذف اليا استمر | في "يابن أم، يابن عم لا مفر" |

**تركيب:** **فتحُ** مبتداء **وحذف** الواو بمعنى مع **الياء** مضاف اليه **استمر** ضمير مستتر راجع الى حذف الياء فاعل جمله خبر **يا** معطوف بحذف الواو **مفر** خبر محذوف اي لامفر لي.

**ترجمه:** فتحه د منادى مضاف یا کسره د منادى مضاف یا ضمير د متكلم ته سره د حذف د یا د متكلم نه دا هميشه شوي ده په یا ابنَ امَ او یا ابنَ عمَ کې نشته دي خاى د تبنتيدلو خما لپاره.

**تشریح:** یعنی منادی چې واقع شي لفظ د ابن او ابنة او دغه مضاف شوي وي ام یا عم لفظ ته او دغه ام او عم لفظ مضاف شوي وي یا ضمیر د متکلم ته دغه ځای کې یا ضمیر د متکلم حذف کولي شي تخفیفًا د وجې د کثرت استعمال او طول د لفظ او ثقل د تضعیف نه، او په دې ام او عم لفظ کې به دوه حرکتونه راځي فتحه او کسره، یا چې حذف شي کسره د ما قبل باقي پاتې شي، او کسره بدل په فتحې سره او یا بدل شي په الف سره او الف حذف شي او فتحه د ما قبل باقي پاتې شي، و قد قُرِئَ نحو قوله تعالى: ﴿يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِي﴾ بالفتح والکسر، او نوري هغه درې وجې جائز دي ضرورت شعري د وجې نه: ۱: یا ابنَ امي یا ابن عمي.
۲: یا ابن اميَ یا ابن عميَ. ۳: کسره بدل کړي فتحې سره او یا بدل کړي الف سره، یا ابن اما یا ابن عما ووائي، کما في قول الشاعر:

یا ابنةَ عما لا تلومي و اهجَعي — لا یخرقُ اللومُ حِجابَ مسمعي

| | |
|---|---|
| ۵۹۴- وفي الندا "أبت أمت" عرض | واکسر أو افتح ومن الیا التا عوض |

**ترکیب:** في النداء متعلق دي عرض پورې ابت مبتداء أمت معطوف بحذف العاطف عوض ضمیر مستتر هو راجع الی فاعل جمله خبر د مبتداء من الیا متعلق عوض پورې التا مبتداء.

**ترجمه:** یا ابتِ او یا امتِ وارد شوي دي او وړاندې شوې ده کسره په نداء کې ورکوه ته کسره دې تا لره لپاره د مناسبت د ذات د یا او فتحه ورکوه ته دې تا لره لپاره د مناسبت د حرکت د یا د متکلم او دا تا عوض د یا د ضمیر د متکلم نه راغلې ده.

**تشریح:** یعنې منادی واقع شي لفظ د اب یا ام او مضاف شي یا ضمیر د متکلم ته په دې کې هغه پنځه وجې جائز دي د هغې نه علاوه نوري دوه وجې هم جائز دي: ۱ دا یا ضمیر د متکلم حذف کړي د هغې په عوض کې تا راوړي دا تا مفتوح وړانه یا ابتَ یا امتَ یا مکسور ووایه یا ابتِ یا امتِ. ۲: او دا هم جائز دي چې دا یا. ۳: ضمیر د متکلم حذف کړي د هغې په عوض کې الف او تا دواړه راوړي یا ابتَا یا امتَا ووائي، دا ده نه دي ذکر کړي او دا جائز نه دي چې دې تا سره یا ضمیر د متکلم هم ذکر کړي یا ابتي یا امتي ووائي، خکه بیا لازمیږي جمع په ما بین د عوض او معوض عنه کې او دا باطله ده. ۴: او یا ابتُ او یا امتُ مبنی علی الضمه شاذ دي مجموعه (۹) وجې روا شوي.

## اسماءُ لازمة النداء

دا بحث د هغه اسماؤ دي چې لازم دي نداء سره چې بغیر د نداء نه نه مستعملیږي بې د ضرورت نه او که ضرورت ورته پیدا شي بیا مستعلمیږي.

| | |
|---|---|
| ۵۹۵- و"فل" بعض ما یخص بالندا | "لؤمان نومان" کذا واطردا |

**ترکیب: فل** مبتداء **بعض** خبر **ما** موصول **یُخص** صله **لؤمان** مبتداء **نومانُ** معطوف بحذف العاطف.

**ترجمه:** لفظ د فُلُ بعضي د هغه اسماؤ نه دي چې هغه خاص کولي شي په نداء پورې یا فلُ وائي په معنی د یا فلانة سره، بیا په دې اصالت د فل کې خلاف دي: ۱ : سیبویه وائي دا اصل کې فُلّي وو بیا هغه یا الف سره بدل شوي ده بیا الف حذف شوي دي التقاء د ساکنینو د وجې نه فُلُ پاتې شوي دي دا د ید او د م د قبیلي نه دي یعنی اسماء محذوفة الاعجاز نه دي ۲ : اخفش وائي: دا اصل کې فلان وو د هغې نه تخفیف شوی دی په منادی کې یا فلان نه یا فُلُ جوړ شوي دي لکن د ده دا مذهب ضعیف دی ځکه: ۱ : د منادی حرف اخیر حرف صحیح وي او ما قبل ترینه مده زائده وي په وخت د ترخیم کې دواړه حذف کولی شي په دې شرط سره چې دا اکثر من اربعة احرفِ وي مثال لکه: یا عثمانُ کې عثمُ جائز دي ترخیم د وجې نه او دا فلان لفظ زائد علی اربعة احرفِ نه دي ۲ : ترخیم کولی شي په علم کې نه په اسم جنس کې او دا فلان لفظ اسم جنس دی نو د اخفش په مذهب باندې دوه خلاف القیاس کارونه شوي دي په دې لفظ د فُلُ کې، او لفظ د لؤمان او نومان په شان د فُلُ خاص کړي شوي دي په نداء پورې وائي عرب یا لؤمانُ اي ډیر ملامت کړی شوي سړیه یا نؤمانُ اي ډیر خوب کوونکې سړیه.

| | |
|---|---|
| ۵۹۶- في سب الأنثى وزن "یا خَبَاثِ" | والأمر هکذا من الثلاثي |

**ترکیب: سب** متعلق په اطرد پورې چې مذکور دي په بیت سابق کې. **خباث فاعل** د اطرد. **والامرُ** مبتداء **هکذا** خبر **من الثلاثي** حال از ضمیر خبر.

**ترجمه**: او کثیر شائع دي په کنځلو کې ښځو ته وزن د یا خباث یعنی هر هغه ماده چې هغه دلالت کوي په کنځلو باندې د هغې نه اسم جوړ کړي فعال په وزن باندې هغه راځي د کنځلو د ښځو لپاره لکه فسق نه فساقِ جوړ کړي او خبث نه خباثِ جوړ کړي او لکع نه لکاع جوړ کړي یا فساق یا خباثِ یا لکاع ووائي په دې باندې قیاس کوه نوري مادې، او امر د ثلاثي مجرد نه فعال وزن باندې هم په شان د خباث دې په اطراد کې هغه لکه څنګه چې په کنځلو کې مطرد دې، دارنګه دا په امر کې مطرد دي، یعنی امر دارنګه قیاس دي او مطرد دي فعال په وزن باندې په شان د یا خباثِ په حال کون د دې امر کې چې مشتق شوي وي د ثلاثي مجرد نه لکه:

ترالِ، تراك، ضرابِ شو دا فعال امري به دي مقام کې ذکر شوي دي طرداً للباب ځکه د دي دا مقام نه دي.

| ولا تقس وجر في الشعر "فل" | ٥٩٧- وشاع في سب الذكور فعل |
|---|---|

**تركيب:** **في سب** متعلق بشاع **فعل** فاعل شاع **في الشعر** متعلق بجر **فل** نائب فاعل د جر.

**ترجمه:** او شائع کثير دي په کنځلو د نارينو کې اسم فَعُل په وزن باندې نحو: يا فَسُقُ په معنی د يا فاسق يا خُبُثُ په معنی د يا خبيثُ يا عَذُرُ په معنی د يا غادرُ او ته قياس مه کوه په دي کنځلو د ښځو باندې نورو اسماؤ لره.

**تشريح:** يعني فعال وزن باندې اسم کنځلي د ښځو لپاره قياس وو او دا فعل وزن باندې اسم کنځلي د نارينو لپاره سماعي دي او ته په دي سمع د عربو باندې اکتفاء کوه او قياس لپاره اجازه نشته دی چې ته په دې باندې نور قياس وکړې. وجراو جر ورکړي شوي دي لفظ د فُل لره په شعر کې د وجې د ضرورت شعري نه لکه په دي قول د شاعر کې شو:

تَضل منه ابلى بالهوجَل لجة أمسك فلانًا عن فُل

**تركيب:** **بالهواجل** الباء بمعنى في. **الهوجل** اي الارض. **امسك** امر صيغه ده. **لجة** شور شغب.

اي عن فلان ترخيم شوي دی په غير منادی کې بحذف الالف والنون خلاف القياس د وجې د ضرورت شعري نه و ترخيم المنادی جائز وفي غيره ضرورةً د هغه غير مثال دا دي.

## الاستغاثة

دا بحث د استغاثه دي په لغت کې طلب د امداد ته وائي او د دوی په اصطلاح کې نداء د يو احد ده بل ته لپاره دفع د ظلم د ظالم د مظلوم نه، او استغاثې لپاره د حروف نداء نه فقط يا راځي او دا نور حروف نداء استغاثې لپاره نه راځي او دا يا چې په استغاثه کې مستعمل شي د دي حذف جائز نه دي لکه څنګه چې جائز نه دي حذف د يا په نداء کې بيا دا استغاثه په خارج کې موجوديږي څلور څيزونه غواړي: ١ : مستغيث ٢ : مستغاث منه. ٣: مستغاث له ٤ : مستغاث به، مطلوب منه اعانه ته مستغاث وائي لکه مدخول د حرف نداء شو، او مطلوب له اعانه ته مستغاث له وائي لکه معطوف على المستغاث شو، او مطلوب به اعانه مستغاث به وائي.

| باللام مفتوحا كيا للمرتضى | ٥٩٨-إذا استغيث اسم منادى خفضا |
|---|---|

**تركيب:** **اذا** شرط **استغيث** نائب فاعل **منادى** صفت يا حال **خفضا** جزا **مفتوحا** حال من اللام **للمرتضى** خبر د مبتداء محذوف. ١ : ومتعلق بيا عند ابن معين لما فيها معنى الفعل بفعل مقدر عند سيبويه.

**ترجمه:** په هغه وخت کې چې استغاثه وکړي شي د مسمى د يو اسم نه هسې اسم چې منادی وي

يا په حال كون د دغه اسم مستغاث كې چې دا منادى ده د مجرور كولى شي په واسطه د لام جاره سره په حال كون د دغه لام كې چې داخل شوي وي په مستغاث باندې دا به مفتوح وائې، او كه ته وائې ماته مثال وښايه چې منادى مستغاث وي او په هغې باندې لام جاره داخل شوي وي مجرور وي او لام جاره مفتوح وي دا وائې مثال د دي لكه: يا لَلمرتضى شو.

**تشريح:** ۱ : يعنى منادى مفرد معرفه مبني على الضمه وه. ۲ : او منادى مضاف معرب منصوب وه د هغې وجه مخكې تيره شوي ده. ۲ : او منادى مستغاث باللام معرب مجرور وي.

**سوال:** اوس دا منادى مستغاث باللام معرب ولې ده او مجرور ولې ده؟

**جواب:** معرب ځكه دى چې دا لام د خواص معظمو او مكبرو اسم نه قوي كيږي دي سره جهت د اسميت او اصل په اسماؤ كې اعراب دي نو په خپل اصل كې باقي پاتې كړى شو چې هغه اعراب دي او مجرور ځكه ده چې لام جاره داخل شوي دي او عمل د لام جاره جر دي په مدخول خپل كې.

**سوال:** اوس دا لام جاره مفتوح ولې وي او مونږ خو د استعمال د كلام د عربو نه معلومه كړې ده چې لام جاره په اسم ظاهر باندې داخل شي مكسور وي نحو: المالُ لزيد ، او كچيري په ضمير باندې داخل شي مفتوح وي نحو: لك لكما لكم ماسوا د هغه يو ځاى نه چې هغه لي دي دغه ځاى كې لام مكسور راغلي دي د وجې د يا نه؟ **جواب:** دا لام جاره په مفتوح وي لپاره د دي خبرې چې لازم نه شي التباس په ما بين د لام د مستغاث او لام د مستغاث له كې په وخت د حذف د مستغاث او اقامت د مستغاث له كې په مقام د مستغاث باندې.

**سوال:** فرق بالعكس ولي نه كوي؟ **جواب:** فرق يې په عكس سره ونكړو ځكه مستغاث واقع شوي دى په موضع د كاف ضميري كې او مستغاث له د هغې په ځاى باندې ندي واقع شوي او لام چې كله داخل شي په ضمير باندې مفتوح وي ځكه مونږ دي لره فتحه وركړه.

**سوال:** دا لام جاره داخل شي په اسم ظاهر باندې مجرور ولې وي او په ضمير باندې چې داخل شي مفتوح ولې راځي؟

**جواب:** ۱ لپاره د فرق په ما بين د لام جاره او لام ابتدائيه تاكيديه كې ځكه لام ابتدائيه داخل كيږي په اسم ظاهر باندې غالبًا مفتوح راځي نحو: لزيد قائم اوس لام جاره هم مفتوح شي بيا لازميږي التباس مخاطب باندې چې ايا دا لام جاره دي او كه لام ابتدائيه تاكيديه دي او په ضمير باندې غالبًا لام ابتدائيه نه داخليږي فرق ته ضرورت پاتې نه شو ځكه په ضمير باندې چې داخل شي لام جاره مفتوح راځي. ۲ : يا ضمائر وضع شوي لپاره د ايجاز او اختصار او فتحه اخف الحركات نه ده او مناسب اختصار سره خفت دي ځكه فتحه وركړه. ۲ : يا لپاره د دي چې لازم نه

شي خروج د کسري نه ضمي ته په ضمير غائب کې مثال لکه: له او نور محمول دي په دي باندې طرداً للباب، او په اسم ظاهر باندې داخل شي مکسور وي د هغې لپاره وجې دوه دي: ۱: لپاره موافقت د مؤثر او متاثر سره. ۲: دا لام جاره نه دي لام امر دي هغه داخل کيږي په فعل باندې او دا داخل کيږي په اسم باندې او لام امر خو مکسور وو دا هم مکسور شو حملاً للضد على الضد.

| وفي سوى ذلك بالكسر ائتيا | ۵۹۹- وافتح مع المعطوف إن كررت "يا" |
|---|---|

**ترکيب:** **وافتح** مفعول به محذوف اي اللام مع حال از مفعول به محذوف **يا** مراد اللفظ مفعول به **سوى** متعلق ائتيا پورې **بالكسر** ائتيا پورې **ائتيا** الالف بدل من نون التاكيد.

**ترجمه:** او فتحه ورکوه ته لام لره په حال کون د دي لام کې چې دا مقرون وي او داخل شوي وي په هغه اسم باندې چې عطف کړي شوي دي په منادى مستغاث باللام باندې په دې سره که تا مکرر کړي وو يا حرف نداء لره او علاوه د دي مذکور نه ته راتلل کوه په کسرې د لام سره د استغاثي سره چې هغه ما سوا. ۱: معطوف د منادى مستغاث دي بي د تکرار د يا نه. ۲: او منادى مستغاث له دي.

دا مذکور څکه وايو چې مشار اليه د ذلك دوه دي: ۱: منادى مستغاث. ۲: معطوف د منادى مستغاث سره د تکرار د نداء نه او ذلك سره اشاره شوي ده په تاويل د مذکور سره.

**تشريح:** **يعنى** منادى مستغاث باللام دي ته بل اسم عطف وکړي په هغې باندې ئې که حرف نداء معاد کړي وو دي معطوف سره بيا فتحه د لام واجب ده دا لام به مفتوح وي په معطوف کې نحو: يا لزيدٍ و يا لعمرٍو، او که حرف نداء نه وو معاد کړي معطوف سره ۱: بيا دا لام د معطوف به مکسور وي نحو: يا لزيدٍ و لعمرٍو. ۲: او که منادى مستغاث نه وو بلکه مستغاث له وو بيا هم دا لام به مکسور وي نحو: يا لزيدٍ للمظلوم، نو مجموعه څلور صورتونه شو دوه صورتونو کې فتحه واجب ده په دې لام کې: ۱: منادى مستغاث ۲: معطوف د منادى مستغاث چې حرف نداء معاد کړي وي نحو: يا لزيدٍ، و يا لعمرٍو، او دوه صورتونو کې کسره واجب ده: ۱: معطوف د منادى مستغاث بدون يا ۲: مستغاث له نحو: يا لزيدٍ و لعمرٍو و لبكرٍ.

| ومثله اسم ذو تعجب ألف | ۶۰۰- وَلَامُ مَا اسْتُغِيثَ عَاقَبَتْ أَلِفْ |
|---|---|

**ترکيب:** **لامُ** مبتداء، **ما** موصوله، **استغيث** جمله صله، **عاقبت** جمله خبر **عاقبت** ضمير مستتر راجع الى اللام هغه فاعل **الف** مفعول به **مثله** خبر مقدم **اسم** مبتداء مؤخر يا بالعكس **تعجب** صفت د اسم **ألف** جمله صفت د تعجب.

**ترجمه:** او لام د هغه منادى چې هغې ته نداء کړي شوي ده په طريقه د استغاثي سره يا لام د هغه

منادی چې استغاثه کړی شوې ده وروسته ځان پسې راوړي دا لام الف لره نائب یا دي د ځپل ځان نه بدل ګرځوي الف او ما قبل د الف چې لام کلمه ده هغه مبني کیږي په فتحي باندې انّ الفتحة مناسبة الف نحو: یا زیداه، او په مثل د دغه منادی مستغاث باللام باندې هغه منادی دي چې هغه خاوند د تعجب دی هسې تعجب چې هغه معلوم کړی شوي دي معرب والي د هغه او دخول د لام جاره په هغې باندې لکه ته وائي: یا للماء د وجه د کثرت د اوبو نه، یا للدواهي دي لام ته لام التعجب وائي، او دي منادی ته منادی متعجب منه وائي لکه څنګه چې منادی مستغاث کې لام مفتوح وو دارنګه دلته کې دا لام مفتوح دي، او لکه څنګه چې منادی مستغاث معرب مجرور وو دارنګه دا منادی متعجب منه هم معرب مجرور ده وجه هغه ده کوم چې په منادی مستغاث کې تیر شوي وو.

## النُّدبة

ندبه په لغت کې ژړا ته وائي، او په اصطلاح کې ژړا د یو کس ده په میت باندې او د هغه محاسن شمیرلو لپاره د دې چې خلك معذور وګني ده لره او شریك شي ده سره په غم کې.

| | |
|---|---|
| ٦٠١- ما للمنادی أجعل لمندوب وما | نکر لم یندب ولا ما أبهما |

**ترکیب**: **ما** موصوله مفعول به مقدم، **للمنادی**: صله د موصول **لمندوب** مفعول ثاني **ما** موصوله مبتداء **نکر** صله **یُندب** جمله خبر **ما** موصوله **أبهما** جمله صله.

**ترجمه**: وګرځوه ته مندوب لپاره هغه حکمونه ټول چې ثابت دي منادی لره او هغه اسم چې هغه نکره ګرځولي شوي وي هغه مندوب نه شي ګرځولي.

**تشریح**: یعنی په هغې باندې ندبه نه شي کولي، فلا یقال وا رجلاه، دارنګه ندبه نه شي کولي او مندوب نه شي ګرځولي هغه اسم چې هغه مبهم وي او مبهم په دنیا کې دوه دي: ۱ : اسماء اشارات ۲ : او موصولات د وجې د عدم حصول د مقصد نه په نکره او مبهم کې چې هغه اعلام د نادب دی خلکو ته په دې خبره باندې چې مرګ د دې امر عظیم دې لپاره د دې خبرې چې خلك دې سره په غم کې شریك شي او دې لره معذور وګني او دې لره تسلي ورکړي اوس که دا مندوب نکره یا مبهم وو بیا دا ژړا د ده خلکو ته څنګه به ښکاره شي او خلك به د ده څنګه همکاري وکړي.

| | |
|---|---|
| ٦٠٢- ویندب الموصول بالذي اشتهر | كـ"بئر زمزم" یلي "وا من حفر" |

**ترکیب**: **الموصول** نائب فاعل **اشتهر** صله **کبئر** خبر د مبتداء محذوف **یلي** ضمیر مستتر راجع الی بئر زمزم جمله حال از بئر زمزم **وامن** مفعول به د یلي.

**ترجمه**: مندوب وګرځولي شي اسم موصول په هغه صلي سره چې دا موصول مشهور وي په دغه

صفت د صلي سره مثال د دي لكه: بئر زمزم شو په حال كون د دي كې چې دا واقع شي وروسته بې فصله، و امن حفرنه و امن حفر بئر زمزماه ووائي.

**تشريح**: يعنى موصول وو د هغې لپاره صله وه او هغه صله سره دا مشهور وو بيا به د هغې نه مندوب جوړولى شي په مذهب د كوفيانو باندې او بصريان دا هم جائز نه وائي، او كه چيرته راغلى وي هغې ته شاذ وائي لكه: وا من حفر بئر زمزماه، ځكه د دي بئر حافر معلوم دي چې عبد المطلب دي دا كوهي د هغې په تصرف كې وو او هغه كنستى وو نو دا په منزله د وا عبدَ المطلب كې شو، بل مثال د دې لكه: وا من قلع بابَ خيبراه په دي سره ندبه كولي شي په حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې ځكه قالع د دي معلوم دي چې على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي.

| | |
|---|---|
| ٦٠٣- ومنتهى المندوب صلة بالألف | متلوها إن كان مثلها حذف |

**تركيب**: **منتهى** ما اضمر عامله على شريطة التفسير **متلوها** مبتداء **ان كان** ضمير مستتر هو راجع الى متلوها اسم د كان **مثلها** خبر كان، **حُذف** جمله خبر د مبتداء، و جواب الشرط محذوف دل عليه الكلام السابق.

**ترجمه**: په اخير د مندوب پورې ته الف پيوست كوه لپاره مد د صوت چې مقصود دي په ندبه كې او متبوع د دي الف د ندبي كچيري وو په مثل د الف د ندبي باندې هغه به نه پاتې كيږي حذف كيږي به التقاء د ساكنينو د وجې نه صرف دا يو الف د ندبي به پاتې كيږي.

**تشريح**: حاصل د دې بيت دا دى اخير د مندوب پورې الف پيوست كيږي لپاره مد د صوت كما في قول جرير في ندبة عمر بن عبد العزيز: و قمتَ فيه بامر الله وا عُمرا، ١ : وامعديكرياه، مندوب مركب امتزاجي وو ٢ : مندوب مركب اضافي وو دا الف د ندبه به زياتي كوي په اخير د مضاف اليه كې ځكه دا اخير د مندوب دي نو وا عبد المكاه وا غلاماه به وائي په عبد الملك او غلامك كې ٣ : او كه مندوب مركب توصيفي وو په هغې كې خلاف دي جمهور وائي الف به زياتي كوي په اخير د موصوف كې وا زيداه الطويلُ به وائي په زيد طويل كې، يونس نحوي وائي الف به زياتي كوي په اخير د صفت پورې وا زيد الطويلاه به وائي، او جمهورو په نزد باندې دا تركيب ممتنع دي، يونس لپاره دليل دوه دي: ١ : دليل نقلي ٢ : دليل عقلي: دليل نقلي د هغې وا جمجمتي الشاميتينا دي او دليل عقلي د هغې دا دي چې دا مركب توصيفي قياس كوي په مركب اضافي باندې جمهور د دليل نقلي نه ١ جواب كوي چې وا جمجمتي الشاميتيناه په تخفيف د يا سره مركب اضافي دي نون غورځيدلي دي اضافت د وجې نه نو زيادت د الف راغلي دي په اخير د مضاف اليه كې ٢ : او كه ومنم چې دا په تشديد د يا سره

مرکب توصيفي دي بيا دا شاذ دي، او دليل عقلي نه جواب دا دی چې قياس د دې په مرکب اضافي باندې دا قياس مع الفارق دي ځکه مرکب اضافي کې اتصال لفظي دي نه معنوي او په مرکب توصيفي کې اتصال معنوي دي نه لفظي او منظور النظر د نحويانو اتصال لفظي دي نه معنوي لهذا دا مضاف اليه اخير د منادی شه نه دا صفت، اوس په اخير د مندوب کې سابقًا الف وو هغه مخکې الف به حذف کيږي د وجې د التقاء د ساکنينو نه مثال لکه: يا فتاه شو په يا فتَی کې او يا موسَاة شو ساه شو په يا موسی کې.

| ٦٠٤- كذاك تنوين الذي به كمل | من صلة أو غيرها نلت الأمل |
|---|---|

**ترکيب**: **كذاك** خبر مقدم **تنوين** مضاف مبتداء مؤخر بتقدير مضاف **الذي** مضاف اليه موصول بحذف الموصوف اي حذف تنوين الاسم الذي **من صلة** حال از ضمير به **غيرها** عطف على صلة **الامل** مفعول به.

**ترجمه**: په شان د دغه الف حذف کولي شي تنوين د هغه اسم مندوب چې هغه کامل شوي دي په دې تنوين سره په حال کون د دغه مکمل ګې چې کائن وي د صلې نه يا د غير د صلي نه وو يعنی هغه کامل کوونکی د مندوب چې تنوين دي يا به وي په اخير د صله کې يا به وي په غير کې نلت الامل خدای پاك دې ورسوه مقاصدو ته، دعا ئې وکړه طالب لپاره چې خوشحاله شي، مثال د صله لکه وا من حفر بئر زمزماه، او مثال د غير صله وا غلام زيداه.

اوس که اخير د مندوب مفتوح وو په اخير کې چې الف زيات کړي دا مفتوح به په خپل حال باندې باقي پاتې کوي نحو: وا غلام احمدا، او که اخير د دي مضموم يا مکسور وو هغه به بدل کولي شي په فتحي سره از برای مناسبت الف نحو: وا غلاباه، وا قامَ الرجلا په غلابِ او قام الرجلُ کې چې دا علم واخلي.

| ٦٠٥- والشكل حتمًا أوله مجانسا | إن يكن الفتح بوهم لابسا |
|---|---|

**ترکيب**: **والشكلُ** ما اضمر عامله على شريطة التفسير **حتما** حال از ضمير اول او من الشكل **اوله** مفعول اول **مجانسًا** مفعول ثاني **بوهم** متعلق لابسًا پورې **لابسًا** خبر د يكن.

**ترجمه**: اي اول الشكلَ مجانسًا من الحروف حال كونه لازمٌ، واقع کوه ته وروسته حرکت د حرف اخير د مندوب نه متصل بلا فصل په طريقې د وجوب سره هغه حرف علت لره چې هغه مجانس او موافق د حرکت سره دي لکه واو مجانس د ضمه دي که حرکت د حرف اخير د مندوب ضمه وو واو زياتوه او يا مجانس د کسري ده که حرکت د حرف اخير د مندوب کسره وه يا زياتوه، په دې شرط سره ګډيږي وه فتحه د حرف اخير د مندوب شريك کيدونکې وهم د التباس سره.

**تشريح: يعنى** مد د صوت لپاره په اخير د مندوب کې الف زياتى کولي شي په دي شرط سره چې التباس نه راتلو دغير سره لکه: وا عمرُ کې وا عمرا به وائي او وا زيد کې وا زيداه به وائي، او وا عبد الملك کې به وا عبد الملکا وائي، او وا غلامَ زيدا کې وا غلامَ زيداه اوائي، وا غلامك کې به وا غلامکا وائي، او که التباس راتلو بيا عدول به کوي د الف نه هغه حرف علت ته چې هغه مجانس دي د حرکت د اخير د مندوب سره مثال لکه: وا غلامك کې وا غلامکيه به وائي په زيادت د يا سره چې دا مجانس د کسري دي ځکه که مونږ الف زياتي کړو بيا التباس راځي غلام د مخاطب سره، دارنګه وا غلامکم کې وا غلامکموه به وائي په زيادت د واو سره چې دا مجانس د ضمه دي ځکه که ته الف زياتې کړې بيا د دې التباس راځي غلام د مخاطَبين سره.

| | |
|---|---|
| ٦٠٦- وواقفا زد هاء سكت إن ترد | وإن تشأ فالمد والها لا تزد |

**ترکيب: واقفا** حال از فاعل زد **هاء** مفعول به **فالمد** مبتداء خبر محذوف اي واجب او لازم.
**والهاء** مفعول به مقدم مقصور للضرورة.

**ترجمه**: زياتې کوه ته ها د سکتې لره په حال کون ستا کې چې ته وقف کوونکى يې په دې مندوب باندې کچيري اراده کوي ته لپاره حفظ د مدات چې هغه واو او الف او يا دي ځکه که مونږ دا "ه" زيات نه کړو په حالت د وقف کې وقف د وجې نه دا واو او يا او الف به حذف شي لازم به شي فوت د مقصود چې هغه مد د صوت دي، او که ستا خوښه وي چې وقف نه کوي نو بيا مده لازم دي او ها مه زياتي کوه صرف وا زيدا وا غلامکمو وا غلامکي وايه بدون الهاء، او ها د سکتي هغه ها ته وائي چې دا زياتى کولي شي په اخير د کلمه کې په حالت د وقف کې:
١: ها د سکته په اخير کې راځي اول او په مينځ کې نه راځي ٢: دا ساکن وي متحرك نه راځي.

| | |
|---|---|
| ٦٠٧- وقائل وا عبديا وا عبدا | من في الندا اليا ذا سكون أبدى |

**ترکيب: وقائل** خبر مقدم ضمير مستتر فاعل **واعبديا** مفعول به **واعبدا** معطوف بحذف العاطف من مبتداء مؤخر **في النداء** متعلق بابدى **اليا** مفعول به مقدم **سكون** حال از مفعول به مقدم.
**ابدى** جمله صله د موصول چې هغه من دي.

**ترجمه**: اي و من اظهر الياء ساكنةً في النداء قائل وا عبديا او عبدا، يعنى کوم خلك چې ښکاره کوي په منادى کې يا ضمير د متکلم خاوند د سکون مثلاً يا غلامي وائي په ظهور د يا ساکني سره هغوى ويونکي دي په مندوب کې وا عبديا وا عبدا.

**تشريح**: دي ناظم من في النداء و اليا ذا سكون ابدى وويل ځکه کوم خلك چې يا ساکنه نه ښکاره کوي ١ يا يا مفتوح ښکاره کوي يا عبدىَ وائي ٢: يا يا الف سره بدل کوي او کسره

فتحې سره بدل کوي بيا الف حذف کوي اکتفاء کوي په فتحې باندې يا عبدَ وائي، اوس کوم خلك چې په منادى کې يا عبديْ وائي بسکون الياء دغه لغت والا خلکو په مندوب کې دوه خبرې کړي دي: ۱: واعبد يا ويلي دي کله چې الف د ندبه په اخير د مندوب پورې پيوست کړه التقاء د ساکنين راغله په ما بين د الف او يا کې هغه يا له نصب ورکړه از براى مناسبت الف ۲ : وا عبدا ويلي دي کله چې الف د ندبه زياتې کړی شو په اخير د مندوب کې التقاء د ساکنين د وجې نه يا حذف کوي او کسره د دال فتحي سره بدلوي لپاره د موافقت د الف وا عبدا وائي

## الترخيمُ

ترخيم په لغت کې ترقيق او نرمي کولو ته وائي لکه وائي عرب: صوت رخيم اي صوت رقيق و لَيِّن، کما في قول الشاعر:

لها بشر مثلُ الحرير و منطق رخيم الحواشي لا هراء و لا نزر

**ترجمه**: بشر جمع بشرة مثل قصب و قصبة، نرم دي طرفونه د خبرې د ده يعني ټولې خبرې د ده نرمې دي او نه ډيرې دي چې سرې ستړی کوي او نه کمې دي چې لا يدلُ على المراد ځکه خيرُ الکلام ما قل و دلّ دي.

او ترخيم په اصطلاح کې: هو حذف في آخر المنادى تخفيفًا ته وائي، او د کوم منادى نه اخير حذف شوي وي هغې ته مرخم وائي، دا ترخيم بيا درې قسمه دي: ۱ : ترخيم المنادى ۲ : ترخيم الضرورة. ۳ : ترخيم التصغير، دا به وروسته په خپل باب کې بيانوي.

| | |
|---|---|
| ۶۰۸- ترخيمًا احذف آخر المنادى | كيا سعا في من دعا سعادا |

**ترکيب: ترخيمان** ۱ مفعول له اي لاجل الترخيم ۲ : ظرف بحذف المضاف اي وقت الترخيم ۳ : حال اي حال کونك مرخما. ٤ : مفعول مطلق من غير لفظه مثل قعدت جلوسًا **المنادي** مفعول به **کيا** خبر د مبتداء محذوف **في** حال از کيا سُعا **من** موصوله **دعا** جمله صله **سُعادا** مفعول به.

**ترجمه**:حذف کوه ته اخير د منادى لره تخفيفًا د وجې د ترخيم نه يا په حال کون ستا کې چې ته ترخيم کوونکی ئې په اخير د منادى کې او که ته وائي ماته مثال وبنايه چې اسم دي منادى واقع شوي وي د هغې په اخير کې ترخيم شوي وي، دا وائي مثال لکه: يا سُعا شو په قول د هغه چا کې چې هغه اواز کوي سُعاد ته نو يا سُعادُ په ځاى يا سُعا وائي په حذف د حرف اخير د منادى سره تخفيفًا په سعة د کلام بې د ضرورت شعري نه، ځکه ترخيم دوه قسمه دي: ۱ ترخيم د منادى دي ۲ : ترخيم د غير د منادى دي، ترخيم د غير منادى ضرورت شعري د وجې نه راځي مثال لکه: يا رُمي اذ متى تصاحبنا، و قول الآخر: تضل منه ابلي بالهوجل في لجة امسك

فلانًا عن فُلِ اي عن فلانِ، او ترخيم د منادى جائز دى مطلقًا هم په ضرورت شعري كې او هم غير ضرورت شعري كې.

| | |
|---|---|
| ٦٠٩- وجوزنه مطلقًا في كل ما | أنث بالها والذي قد رخما |

**تركيب: مطلقًا** حال از مفعول به **ما** موصوله **بالها** متعلق بأنث جمله صله **الذي** ما اضمر عامله على شريطة التفسير **رُخما** جمله صله.

**ترجمه**: او خامخا روا كوه ته ترخيم لره په هر هغه اسم كې چې مؤنث كړى شوى وي په ها سره هغه ها چې په حالت د وقف كې بدل د تا نه راځي احتراز عن تاء اخت و بنت په حال كون د دغه مؤنث ذو تا كې چې دا مطلقا علم وي او كه نه وي، زائد على ثلاثة احرف وي او كه نوي، ځكه دا تا وضع شوې ده په معرض د سقوط او زوال كې دي لپاره ادنى مقتضي د سقوط پكار دي يعنى دا ايله بانه غواړي د غورځيدلو او ترخيم خو اعلى مقتضي د سقوط دي ترخيم سره به خامخا غورځيږي مثال لكه: يا فاطمة كې يا فاطمُ به وائي، او يا شاة كې يا شا به وائي، يا ثُبة كې يا ثُبُ به وائي، او يا جارية يا جاريَ به وائي.

| | |
|---|---|
| ٦١٠- بحذفها وفره بعد واحظلا | ترخيم ما من هذه الها قد خلا |

**تركيب: بحذفها** متعلق رخُم پورې. **بعد** مبني على الضمة منصوب محلاً. **واحظلا** الالف بدل من نون التاكيد لاجل الوقف **ما** موصوله **هذه** متعلق **خلا** پورې **الها** په دې كې دري تركيبونه دي **خلا** جمله صله.

**ترجمه**: او هغه اسم او هغه منادى مؤنث بالتاء په تحقيق سره ترخيم شوي دي په هغې كې په حذف د تاى تانيث سره نو پريږده دغې لره وافر او ډيره يعنى نور حروف حذف نه كړې چېرته وروستو د حذف د تاء تانيث نه ځكه مقصود د ترخيم نه تخفيف دي او تخفيف حاصل شوى دى په حذف د تا سره، او خامخا منع شه ته ترخيم د هغه اسم نه چې په تحقيق سره خالي دي او وزګار دي هغه د دې ها نه چې دا بدل راځي د تاي تانيث نه په حالت د وقف كې.

| | |
|---|---|
| ٦١١- إلا الرباعي فما فوق العلم | دون إضافة وإسناد متم |

**تركيب: الرباعي** منصوب على الاستثناء **فا** عاطفه **ما** موصوله **فوق** صله **العلم** بدل از رباعي **دون** باعتبار متَعلّق حال من الرباعي **اسناد** موصوف مُتم صفت.

**ترجمه**: مگر منع مه كوه د ترخيم د هغه اسم نه چې خالي دي د تاى تانيث نه چې دا رباعي علم دي يا زيات دى د څلور حرفونو نه په حال كون د دغه رباعي علم كې چې دا به كائن وي بې د اضافت او اسناد نه هسې اسناد چې تام كړي شوي دي، يعنى دا اسم رباعي علم مركب به نه وي په تركيب اضافي سره او نه دا مركب وي په تركيب اسنادي سره داسې اسناد چې تام كړي شوي دي.

**تشريح**: حاصل د دې بيت دا دی: چې منادی دوه قسمه ده: ۱: هغه ده چې مختوم ده په تای تانيث سره په هغې کې ترخيم جائز دي مطلقًا کما مر ۲: قسم هغه ده چې هغه مختوم نه دي په تای تانيث سره په هغې کې چې ترخيم کوي دا مشروط ده په شروط خمسه ؤ سره چې څلور په هغې کې عدمي دي او يو وجودي دي، عدمي دا دي: ۱: ان لايکونَ مضافًا. ۲: و لاجملةً ۳: ولا مستغاثًا. ٤: ولامندوبًا، دا دريم شرط ده نه دي ذکر کړي او صاحب د کافيه ذکر کړي دي، او څلورم شرط هغه هم نه دي ذکر کړي بلکه ترک کړي ئې دي مقايسةً، او وجودي دا دي: ان يکونَ علمًا زائدًا على ثلاثةِ احرفٍ.

اوس علم به ولې وي؟ ځکه علم د وجې د شهرت نه دلالت کوي ما بقي په ما أُلقي باندې، زائد به ولې وي؟ لپاره د دې چې لازم نه شي نقصان د قدر صالح د کلمې نه. سوال کلمه چې ثلاثي وي او تا پکې راغلي هلته خو ترخيم کيږي په حذف د تا سره کما مر او سره د دې خبري نه چې نقصان د قدر صالح د کلمې نه راځي؟ جواب هلته نقصان د وجې د ترخيم نه ندي راغلي بلکه وضع د کلمې په دوه حرفونو سره شوي او تا پکې عارضي راغلي ده حذف نه شوه ترخيم د وجې نه.

اوس منادی مضاف او منادی مستغاث او منادی مندوب او منادی جمله کې چې دا جمله علم ګرځيدلي وي ترخيم ولې نه کيږي؟ هر چې دي په اضافت کې ځکه ترخيم په هغې کې ممکن نه دي ځکه ترخيم د وجې نه حرف يا به ته حذف کوي اخير د مضاف نه يا به حذف کوي اخير د مضاف اليه نه که اخير د مضاف نه حذف کوي بيا ترخيم په اخير د منادی کې رانغلي بلکه د منادی مينځنې حرف حذف شو ځکه دا مضاف او مضاف اليه د وجې د شدت اتصال نه په لفظ کې دا ګرځيدلي په منزله د کلمه واحده، او که اخير د مضاف اليه نه حذف کوي بيا حذف په اخير د منادی کې رانغي ځکه منادي په حقيقت کې دا مضاف ده او مضاف اليه ځانله مستقله کلمه ده خارج ده د حکم د مضاف نه.

او هر چې دي مستغاث او مندوب ځکه مقصود په دې دواړو کې زيادت دي لپاره د مد د صوت حذف ورسره منافي دي، او هر چې ده جمله ځکه دا د جملې نه نقل شوي ده علم ګرځيدلي دي يو شخص لپاره، لپاره د دې چې دلالت وکړي په قصه غريبه باندې لکه تابط شراً، او شابَ قرناها شو، اوس موږ ترخيم د وجې نه د دينه څه شي حذف کړو بيا دا دلالت نه کوي په هغې قصې غريبه باندې.

بيا دې ناظم دا اسناد موصوف کړو په متم سره ئې اشاره وکړه چې دلته مراد د اسناد نه نسبت تام مراد دي او نسبت ناقص ندي مراد په دې سره ئې احتراز وکړه د مرکب ناقص نه مثال لکه:

بعلبك او معديكرب شو په هغې کې ترخيم جائز دي ځکه کله چې دا شروط مذکوره ټول موجود شي په منادی کې بيا ترخيم چې کوي دا منادی به خالي نوي يا به مفرد وي يا به مرکب وي، که مرکب وي ترخيم کولي شي په حذف د جزء اخير سره او که مفرد وي نو ترخيم په هغې کې دوه قسمه دي۱: هغه دي چې ترخيم کولي شي په حذف د حرف واحد سره دا اکثر دي.
۲: هغه دي چې ترخيم کولي شي په حذف د حرفينو سره دا قليل دي دا اوس بيانوي په دې بيتونو کې.

| إن زيد لينا ساكنا مكملا | ٦١٢- ومع الآخر احذف الذي تلا |
|---|---|

**ترکيب:** ومتعلق احذف پورې مع الآخر مضاف اليه على تقدير مضاف اي مع حذف الآخر الذي مفعول به بحذف الموصوف اي الحرف تلا ضمير مستتر راجع الى الآخر عائد د موصوا. محذوف اي الذي تلاه الآخر جمله صله زيد ضمير مستتر راجع الى الذي تلا هغه نائب فاعل مکملا لينًا حال از ضمير زيد مخفف از لينًا ساکنًا صفت اول مکملا نعت ثاني يا حال.

**ترجمه:** حذف کوه ته سره د حذف کولو ستا اخيرني او ورستني حرف د منادی هغه حرف لره حذف کوه چې واقع کيږي دا اخير د منادی وروسته د هغې نه متصل بلا فصله، په دې شرط سره ۱ کچيري زائد کړي شوي وو دا ما قبل د منادی ۲: چې دا حرف علت ساکن او مخکې حرکت ئې موافق وو په حال کون د دې لين زائده کې چې دا مُکمل دي.

| واو وياء بهما فتح قفي | ٦١٣- أربعة فصاعدًا والخلف في |
|---|---|

**ترکيب:** اربعة مفعول به د مکمل فصاعدًا ۱: عطف على اربعة. ۲: حال از فاعل فعل محذوف اي فذهب عن ذی الحروف صاعداً. ۳: يا مفعول مطلق دي د فعل محذوف اي فيصعد صاعداً بهما خبر مقدم فتح مبتداء مؤخر جمله صفت د واو و ياء قفي ضمير مستتر هو راجع الى الخلف نائب فاعل جمله خبر د الخلف.

**ترجمه:** څلور حروف لره يا دي تکميل کوي زيات لره د څلور نه او خلاف په مينځ د علماؤ کې موندلي شوي دي په واو او يا کې هسي واو او يا چې فتحه معى وي د دې دواړو سره په دې شان سره چې مخکې د واو او يا نه فتحه راغلي وي.

**تشريح:** حاصل د دې بيتينو دا دي. ۱: چې حرف اخير د منادی حرف صحيح وو. ۲: او ما قبل ترينه مده زائده راغلي وو په څلورم ځای کې يا پنځم ځای کې يا د هغې نه زيات په هغې کې چې ته ترخيم کوې، ۱: صورت اتفاقي د وجه نه حرفان اخيران چې حرف مده او حرف صحيح دي دواړه حذف کيږي بالاتفاق لپاره د دې خبري چې وارد نه شي په مونږ. باندې مثل مشهور

چې صلت علی الاسد و بُلت عن النقد چې ترخیم د وجې نه قوي حرف دي حذف کړه چې هغه حرف صحیح دي او ضعیف او کمزوري حرف ته دي ځه ونه ویل چې هغه حرف علت ساکنه دي نو یا عثمان کې به یا عثمَ به وائي، او یا منصورُ کې به منصُ وائي، او یا مسکینُ کې به یا مسك وائي، او یا مروانُ کې به یا مروَ وائي، او یا اسماء کې به اسمَ وائي ترخیم د وجې نه
۲ : صورت اتفاقي: او که دا ما قبل اخیر سره حرف علت نه وو بلکه حرف صحیح وو نحو: جعفر، سفرجل، قمطر، . ۲ : یا حرف علت خو وو لکن زائد نه وو نحو: مختار. ۳ : یا زائد خو وو لکن ساکن نه وو نحو: قنَور. ٤: یا ساکن خو وو لکن څلورم ځای کې نه وو واقع بلکه دریم ځای کې راغلي وو نحو: ثمودَ و سعیدٍ و عمادٍ بیا دا ما قبل ورسره نه حذف کیږي ترخیم د وجې نه بالاتفاق صرف اخیري دا حرف صحیح به حذف کولي شي بالاتفاق لپاره د دي چې لازم نه شي نقصان د قدر صالح د کلمي نه په رباعي او په ثلاثي کې.
۳ : صورت اختلافي: او که دا ما قبل اخیر د دي منادی مده نه وو نحو: فرعوون او غرنیق بیا په دي کې خلاف دي. ۱ : فرا وائي: دواړه به حذف کولي شي یا فرعَ یا غرنَ به وائي په یا فروعونُ او یا غرنیقُ کې. ۲ : او جمهور وائي: دواړه به نه حذف کوي فقط دا حرف صحیح به حذف کولي شي یا فرعو به وائي په یا فرعون کې او یا غرني به وائي په یا غرنیق کې.

| | |
|---|---|
| ٦١٤- والعجز احذف من مرکب وقل | ترخیم جملة وذا عمرو نقل |

**ترکیب: العجزَ** مفعول به مقدم **من مرکب** متعلق باحذف **ترخیمُ** فاعل **قل** **ذا** مبتداء اول **عمرو** مبتداء ثاني **نقل** جمله خبر د مبتداء ثاني بیا جمله خبر د مبتداء اول، او عائد ضمیر منصوب مفعول به حذف شوي دي اي نقله.

**ترجمه:** او حذف کوه ته جزء اخیر او جزء وروستني د مرکب لره د منادی مرکب نه چې هغه مرکب وي په ترکیب امتزاجي سره ځکه دا په منزله د تای تانیث دي په عروض کې ځکه دا دواړه خانله کلمي دي او ګرځیدلي په منزله د کلمي آخري نه او هغه خو ترخیم د وجې نه اوغورځیده نو دا به هم غورزیږي مثال لکه: یا بعلبك کې به یا بعل وائي په حذف د بك سره، او یا معدیکرب کې به یا معدِ وائي په حذف د یکرب سره، بیا مونږ د مرکب نه مرکب امتزاجي واخست ځکه مرکب اضافي او مرکب تام کې ترخیم جائز نه دي کما مر.
او کوم چې دي ترخیم د جمله چې علم ګرځیدلي وي او دا ترخیم د جمله عمرو چې لقب د هغې سیبویه دي نقل کړي دي د عربو نه مثال لکه: یا تابطَ شراً کې یا تابطَ اوائي بحذف شراً، دغه عمرو نه مراد سیبویه دي ځکه د سیبویه اسم محضه عمرو دي، عمرو بن عثمان بن قنبر

الفارسي او سيبويه د ده لقب دي او اسم كنيه د ده ابو بشر ده، او دا په دي لقب سره مشهور دي په اسم محضه او اسم كنيه باندې عام خلك نه پيژني او ناظم دلته د دي سيبويه اسم محضه هم مونږ ته وښودو چې اسم محضه د سيبويه عمرو دي.

| | |
|---|---|
| ٦١٥- وإن نويت بعد حذف ما حذف | فالباقي استعمل بما فيه ألف |

**تركيب: و ان** او كه ته قصد وكړي د هغه حرف چې حذف كړي شوي دي **حذف** بالتنوين دون الاضافة او مفعول به د دې حذف شوي دي **ما** موصوله **حُذف** جمله صله **الباقي** مفعول به مقدم **بما** متعلق استعمل پورې **ما** موصوله **فيه** متعلق الف پورې **الف** جمله صله.

**ترجمه:** او كه په نيت كې باقي فرض كړي ته وروسته د حذف د دي حرف نه هغه حرف چې حذف كړي شوي دي پس مستعملوه ته باقي پاتې شوي كلمي لره په هغه حالت سره چې معلوم كړي شوي دغه حالت مخكې د ترخيم نه په دي منادى كې.

| | |
|---|---|
| ٦١٦- واجعله إن لم تنو محذوفًا كما | لو كان بالآخر وضعًا تمما |

**تركيب: محذوفًا** مفعول به اول **كما** ۱: بمعنى مثل. ۲: يا زائده ما مصدريه مفعول به ثاني **كان** ضمير مستتر هو راجع الى الباقي اسم د كان **بالآخر** متعلق تمم پورې **وضعًا** منصوب بنزع الخافض اي على الوضع **تمما** جمله خبر د كان.

**ترجمه:** كچيري په نيت كې مراد نه كړي ته حرف محذوف لره وګرځوه ته منادى مرخم لره كاف په معنى د مثل سره شو. ۱: لكه څنګه چې دا باقي او مذكور وو تام كړي شوي په حرف اخير سره په اعتبار د وضع د واضع سره كاف زائد شه. ۲: يا كون د باقي تام كړي شوي اخير حرف سره هغه اخيري حرف چې هغه اخير ګرځيدلي دي پس د حذف د حرف اخير نه حقيقةً نه په اعتبار د وضع د واضع سره، المراد من الاخير ههنا الحرف الذي صارَ بعد الترخيم اخرًا عرضًا و ماقبلها وسطًا حقيقيًا كما كان قبله

| | |
|---|---|
| ٦١٧- فقل على الأول في ثمود: "يا | ثمو" و"يا ثمي" على الثاني بيا |

**تركيب: فقل فا** تفريعيه **على الاول** په اعتبار د متعلق محذوف سره حال از ضمير قل اي جاريًا على الاول **ثمو** متعلق بقل **ثمود** مفعول به د قل **بيا** په اعتبار د متعلق محذوف سره حال واقع شوي دي د يا ثمي نه.

**ترجمه:** پس ووايه ته په دي اعتبار اول باندې په يا ثمود كې يا ثمو او يا ثمي په اعتبار ثاني باندې په حال كون د دي يا ثمي كې چې دا ثابت دي په يا سره.

**تشريح:** حاصل د دي ابياتو دا دي: چې تا يو اسم كې ترخيم وكړو حرف اخير د هغې حذف كړو

هغه حرف ستا په نيت کې مراد وو نسيًا منسيًا تا ندي حذف کړي نو کوم حرف چې ترخيم نه
وروسته حرف اخير د منادی ګرځيدلي دي هغه به په خپل حال باندې دغسې پاتې وي په هغې
کې به هيڅ قسم تغير نه راوړي مثال لکه يا حارِ به وائي په يا حارثُ کې او داسې يا کروَ به
وائي په کروانَ کې دا واو به الف سره نه بدلوي د وجې د وجود د مانع نه چې هغه وقوع د الف
ده وروسته د واو نه تقديراً ځکه هغه محذوف په حکم د ملفوظ کې دي دلته کې داسې وائي به
ته يا ثمو په يا ثمود کې دا واو يا سره او ضمه د ما قبل کسري سره به نه بدلوي ځکه واو پس د
ضمي نه چې راشي يا سره هله بدليږي چې په اخير د کلمه کې طرف کې راشي او دا په اخير د
کلمه کې طرف کې نده راغلي ځکه دلته هغه دال محذوف مراد دي او هغه محذوف په حکم د
ملفوظ کې دی. او که ته هغه حرف محذوف لره حذف کړي نسيًا منسيًا او دا باقي کلمې لره
منادی مستقل وګرځوې بيا يا حارُ به وائي په يا حارثُ کې ځکه دا منادی مفرد معرفه ده او
منادی مفرد معرفه مبني على الضمه وي او يا ثمي به وائي په يا ثمودُ کې په قلب د واو يا سره
او قلب د ضمه د ما قبل کسري سره از برای مناسبت، يا ځکه دا قاعده ده چې واو واقع شي په
طرف د کلمه کې پس د ضمي نه هغه واو يا سره بدل کولي شي او ما قبل ضمه په کسري سره
ځکه داسې اسم په استعمال د کلام د عربو کې ندي راغلي چې د هغې په اخير کې واو راغلي
وي او مخکې ترينه ضمه راغلي وي، او که داسې چيرته راشي هغه به يا سره بدلولي شي او
دلته واو راغلي دي پس د ضمي نه په طرف کې ځکه دا منادی تا ګرځولي ده اسم براسه په
جعل د محذوف سره نسيًا منسيًا، او دارنګه يا کرا به وائي په يا کروان کې په قلب د واو الف
سره د وجې د عدم وجود د مانع د اعلال نه ځکه محذوف تا حذف کړي دي نسيًا منسيًا او دا
منادی براسه ګرځېدلي ده، دا اول لغت مسمی کولي شي په لغت د من ينتظر سره، او دا دويم
لغت مسمی کولي شي په لغت د من لا ينتظر سره لهذا يا حارِ يا ثمو يا کروَ به وائي پس د
ترخيم نه په لغت د من ينتظر باندې، او يا حارُ او يا ثمي او يا کرا به وائي په لغت د من لا ينتظر
کې يعنی په لغت د هغه چا کې چې هغوی ګرځوي محذوف لره نسيًا منسيًا، اوس د جواز د
وجهينو به هره منادی مرخم کې جوړېږي دا وائي:

| | |
|---|---|
| ٦١٨- والتزم الأول في كمسلمه | وجوز الوجهين في كمسلمه |

**ترکيب:** **الاول** مفعول به. **في کمُسلمه** متعلق بالتزم. **کمسلمه** کاف اسمي بمعنى مثل لدخول في عليه لان الحرف لايدخل على الحرف.

**ترجمه:** او لازم کړه ته اعتبار اول لره ترخيم د منادی په مثل د مُسلمه کې او مراد په دې سره هغه

کلمه ده چې په هغې کې ت فارقه راغلي وي په ما بين د مذکر او د مؤنث کې او ته پکې ترخيم وکړي دغه تا محذوفه د مسلمه به ستا په نيت کې مراد وي دا به نه حذف کوي نسيًا منسيًا او باقي کلمه به په خپل حال باندې روغه پاتې کړي په هغې کې به هيڅ قسم تغير ونکړي، لهذا يا مُسلمَ به وائي په فتحې د ميم سره پس د ترخيم نه په يا مسلمةُ کې، او يا مسلمُ به نه وائي په ضمې سره پشان د يا حارُ لپاره د دې چې لازم نه شي التباس په ما بين د مذکر او د مؤنث کې يعنى لازميږي التباس يا مسلمُ صيغه واحد مذکر اسم فاعل غير مرخم سره بيا دا پته نه لګي چې دا صيغه واحد مذکر اسم فاعل منادى غير مرخم مبني على الضمه ده او که نه صيغه واحده مؤنث اسم فاعل منادى مرخم ده چې اصل کې يا مسلمةُ وو پس د ترخيم نه مبني على الضمه ګرځولي دي په جعل د محذوف سره نسيًا منسيًا.

او جائز کړه ته اعتبار اول او اعتبار ثاني د ترخيم د منادى لره په مثل د مَسلمه کې او مراد په دې سره هغه کلمه ده چې په هغې کې تا فارقه نه وي راغلي په ما بين د مذکر او د مؤنث کې نو په يا مَسلمةُ کې چې ترخيم وکړي بيا ستا لپاره دوه وجې روا دي: ۱ : جعل د منادى مرخم منادى مستقل او اسم براسه په جعل د محذوف سره نسيًا منسيًا نو يا مَسلمُ به وائي مبني على الضمه ۲ : جعل د منادى مرخم ثابت بجميع اجزائه په جعل د محذوف سره مراد په نيت کې بيا به وائي ته يا مُسلمَ په فتحې د ميم سره.

| ۶۱۹- "ولاضطرار رخموا دون ندا | "مَا لِلنِدَا يَصْلُحُ نَحْوُ أَحْمَدَا" |
|---|---|

**ترکيب:** دون حال از ما مفعول به. **ما** موصوله مفعول به رخموا لپاره. **للنداء** متعلق يصلح پورې جمله صله. **نحو**خبر د مبتداء محذوف اي ذلك نحو احمد.

**ترجمه:** د وجې د ضرورت شعري نه ترخيم کړي دي عربو په ه غه اسم کې چې هغه لائق او صالح د نداء وي په حال کون د دغه اسم کې چې بې د صورت د نداء نه وي يعنى منادى نه وي واقع شوي مثال د دې لکه لفظ د احمد شو چې صالح لپاره د نداء دي يا احمدُ ويلي شي، اوس دا غير منادى په شعر کې راشي ضرورت شعري د وجې نه په دې کې که ترخيم کوي نو ستا لپاره جائز دي ترخيم کوه، او که اسم صالح لپاره د منادى نه وي يعنى د هغې نه منادى نه جوړيده بيا په هغې کې ترخيم جائز نه دى نه د وجې د ضرورت شعري نه او نه بغير د ضرورت شعري نه مثال د هغې لکه الرجلُ شو، په دې کې ترخيم نه دي جائز نه د وجې د ضرورت شعري نه او نه هسې د وجې د انتفاء د شرط نه چې هغه کون د اسم دي صالح لپاره د منادى او دا الرجل صالح لپاره د نداء نه دي ځکه حرف نداء معرف باللام باندې بالذات نه داخليږي، او مثال د

ترخيم په غير د منادى کې د وجې د ضرورت شعري نه لکه دا قول د امرؤ القيس شو:

لنعم الفتى يعشو الى ضوء ناره طريف بن مال ليلة الجوع و الخصر

**يعشو**: اي يسير في الظلام، **الخصر**: اي البرد الشديد په لغت د من ينتظر باندې طريف بن مال به وائي بدون التنوين، او په لغت د من لا ينتظر باندې طريف بن مالٍ به وائي بالتنوين او د دي مثال دوه شعره نور د دي ترخيم بحث اول سر کې ذکر شوي دي.

## الاختصاصُ

اي هذا بحثُ الاختصاص، دا هم نوم د يو نوع د مفعول به دي عامل ناصبه د دي حذف کولې شي په حذف وجوبي قياس سره او صاحب د کافيه مواضع اربعه د حذف د عامل ناصبه د مفعول به ذکر کړي دي صرف د شهرت د وجې نه ځکه حذف د عامل ناصبه د مفعول نه دې منحصر په هغه مواضع اربعه ؤ پورې بلکه د هغې نه علاوه نور ځايونو کې هم حذف کيږي لکه اغراء کې شو دارنګه په اختصاص کې شو، دارنګه عدول وکړی شي د نعت مجرور نه په نصب سره نحو: ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ عامل د دي حذف کولې شي په حذف وجوبي قياسي سره، او اختصاص ۱: په لغت کې بندول د يو شي په شي پورې. ۲: او په اصطلاح د نحويانو او په اصطلاح د علماء د علم بلاغت کې: تخصيص د يو حکم دي کوم حکم چې د هغه تعلق راغلي دي ضمير سره چې ضمير اوله يا ۱: فاعل واقع شوي دي. ۱: يا مبتداء واقع شوي ده د دغه حکم د تخصيص وکړي ته وروسته اسم ظاهر پورې او هغه اسم ظاهر به ۱: يا معرف باللام وي. ۲: يا به مضاف وي معرف باللام ته. ۳: يا به صورت د هغه د نداء به وي ۳: يا اختصاص د نحويانو په اصطلاح کې هغه اسم ته وائي چې عمل کړي وي په هغې کې نصب بنا بر مفعول به په اخص يا مثل د اخص مقدر سره. ٤: او صورتونه د اختصاص درې دي، يعنی لفظ د ايُها او ايتُها به راغلي وي د دغه مناسبت د وجې نه ده دا بحث د اختصاص وکړو وروسته د باب د نداء نه او دغه اسم ظاهر مسمى کولي شي په مختص سره.

| | |
|---|---|
| ٦٢٠- الاختصاص كنداء دون يا | ك"أيها الفتى" بإثر "ارجونيا" |

**ترکيب**: **الاختصاص** مبتداء **کنداء** خبر **دون** باعتبار متعلق نعت نداء **کايها** خبر د مبتداء محذوف موصوف **الفتى** صفت **باثر** حال از ايها **ارجونيا** مراد اللفظ مضاف اليه.

**ترجمه**: اختصاص په شان د نداء باندې دي بې د يا نه، يعنی صورت د اختصاص په صورت د نداء باندې دي. ۱: لکن منادى سره حرف نداء ذکر کيږي او د دي سره حرف نداء نه ذکر کيږي ۲: هغه سره الف لام نه راځي او د دي اختصاص سره الف لام راځي. ۳: او د منادى په سر کې بل

شي لره نه پرېږدي او د دې اختصاص نه مخکې بل شي راځي، مثال د اختصاص لکه: ايها الفتی شو وروسته د لفظ د ارجوني نه راشي اي ارجوني ايها الفتَى امید کوئ تاسو زما نه په حال کون زما کې چې زه مختص یم په مینځ د ځوانانو ټول ټال کې په دې طمعې سره دا ايُّ موصوف دي الفتَى معرف باللام صفت واقع شوي دي موصوف سره د صفت نه دا مفعول به دي د فعل محذوف لپاره چې هغه اَخُصُ دي حذف شوي دي وجوبًا بيا جمله حال واقع شوي ده مخکې ارجوني يا ضمير متكلم مفعول به نه.

اوس دلته کې ۱ : حکم طلب د رجاء دي ۲ : او يا ضمير د متکلم دي. ۳ :او اسم ظاهر الفتى دى، او ايها الفتى نه بل څوك نه دي مراد بلکه ده خپل ځان نه تعبير کړي دي ايها الفتى سره نو ضمير متكلم د ارجوني او ايها الفتى دا دواړه د يو شي نه عبارت دي، بل مثال د دې لکه اللهم اغفر لنا ايتها العصابة اي اللهم اغفر لنا مخصصين او مخصوصين بالغفران بين الجماعة من الناس يعنى يا الله ته وبخښې مونږ لره خاصكر زمونږ ډله د مسلمانانو.

| ٦٢١- وَقَدْ يُرَى ذَا دُونَ أيَ تِلوَ ألْ | كَمِثْلِ نَحْنُ العُرْبَ أسْخَى مَنْ بَذَلْ |
|---|---|

**ترکیب: ذا** نائب فاعل يرى لپاره. **دون** حال از ذا. **تلوَ** مفعول ثاني. **كمثل** خبر د مبتداء محذوف. **نحنُ** مبتداء **العرب** مفعول به د فعل محذوف وجوبًا چې هغه تخصيص دي. **السخى** خبر.
**من** موصول مضاف اليه **بذل** جمله صله، اي ممن بذل دا من تفضيلي حذف کړي دي د وجې د ضرورت شعري نه په دې سره درې اعتراضونه دفع شول. ۱ : عدم مطابقت بين المبتداء والخبر. ۲ : عدم استعمال د اسم تفضيل په يو د طرق ثلاثه ؤ سره. ۳: عمل د اسم تفضيل نصب بنا بر مفعول به په من کې او دا مسموع د عربو نه ندي.

**ترجمه:** او كله كله موجوديږي دا اَختصاص په حال كون د دې کې چې اي ورسره نه وي وروسته د الف لام نه، او که ته وائي ماته مثال وښايه چې يو اسم وي چې هغه ذكر شوي دي وروسته د الف لام نه بلا اي اختصاص لپاره. دى وائي مثال لکه نحن العرب اسخَى من بذل شو، يعنې مونږ خاص کوو په دې نحنُ والي سره عربو چې ډير سخيان يو د هغه خلکو نه چې هغه سخيان دي دا دوه قسمه اختصاص ذکر شو. دريم قسم اختصاص ذکر يې ونه کړو هغه دا دي چې اختصاص د هغه اسم دي چې هغه مضاف دي معرف باللام ته او ذکر شوي دي وروسته د ضمير مرفوع منفصل نه نحو قوله عَلَيهِ السَّلَام : نحنُ معاشرَ الانبياء لا نُورث دنيارًا و لا درهمًا، ترجمه : ان عدم توريث الدينار و الدرهم مختص بالانبياء و مقصور عليهم
مونږ خاص کوو دا حکم چې لانورث دى په ټولګي د انبياؤ پورې.

**ترکیب**: دا **نحنُ** مبتداء ده، **لا نورثُ** جمله خبر دي، **العربَ** مفعول به لپاره د فعل محذوف دي چې هغه نخُص دي، او دا حذف شوي دي وجوبًا جمله فعليه معترضه واقع شوي ده بين المبتداء و الخبر دا حکم چې ثابت وو مبتداء لپاره هغه حکم مختص کړه په دي وروسته اسم ظاهر پورې چې معاشر الانبياء دي، بل مثال د دي لکه دا قول د شاعر شو:

نحنُ بناتِ طارقٍ نمشي على النمارق

بکسر التاء في بنات طارق او که بناتُ طارق مرفوع ووائي بيا خبر دي، مثال نه جوړيږي. بيا دا اسم مختص په اعتبار د اعراب او بنا سره دوه قسمه دی: ۱ : مبني دي على الضمه چې هغه ايُها او ايتُها دي دا مبنی دي په ضمي سره د وجې د مشابهت د ده نه منادی سره لفظًا او صورةً، او منصوب محلاً دی ځکه دا مفعول به دی لپاره د فعل محذوفه وجوبًا چې هغه اخُص دي ۲ : معرب منصوب دي دا هغه باقي دوه قسمه دي: ۱ : معرف باللام. ۲ : مضاف معرف باللام ته او عامل د دې حذف شوی دی وجوبًا چې هغه نخُص دي.

## التحذيرُ والاغراء

دا ما سياتي تر يو حد پورې بحث د تحذير او د اغراء دي د دينه مخکې تير شه بحث د اختصاص، او اختصاص په اصطلاح د نحويانو کې نو دی د يو مفعول به داسې مفعول به چې هغه منصوب وي عامل محذوف سره چې هغه واجب الحذف وي، اوس بيانوي تحذير او اغراء دا دواړه هم نومونه د مفعول به دي.

تحذير په لغت کې تخويف الشئ عن شئ و تبعيد شئٍ عن شئٍ ته وائي، او په اصطلاح د نحويانو کې دا يو معمول دی چې منصوب شوي دي په اتقِ يا مثل د اتقِ مقدر سره، بيا دا تحذير دوه قسمه دي: ۱ : تحذير کله محذر وي. ۲ : او کله محذر منه وي، که تحذير محذر منه وي هغه. ۱ : کله مکرر وي نحو: الاسدَ الاسدَ. ۲ : او کله په عطف سره وي نحو قوله تعالى: ﴿نَاقَةَ اللهِ وَسُقْيٰهَا﴾ اي تجَنبُوا ناقةَ الله. ۳ : او کله بې د تکرار او عطف نه وي نحو الاسدَ شو.

تحذير چې محذر وي شرط ذکر د محذر منه دي يعنی لابدي وي ذکر د محذر منه نه، ويُحذف عند وجود قرينةٍ مثال لکه يو سړی وائي سافعلُ کذا ته هغې ته وائي اياك په حذف د محذر منه سره چې ان تفعله دي د وجې د قرينې د الی نه په تعين د محذوف باندې چې هغه کلام سابق دي، او دا محذر منه. ۱ : کله اسم تاويلي راځي. ۲ : او کله اسم صريحي راځي او محذر منه چې کله اسم تاويلي وي د هغې د ذکر طريقې درې دي. ۱ : بالواو نحو: اياك و ان تحذف. ۲ : په من سره نحو اياك من ان تحذف. ۳ : په تقدير د من سره: اياك ان تحذفَ، او که محذر منه

اسم صريحي وي د هغې ذكر دوه طريقې دي: ۱: بالواو نحو: اياك و الاسدَ ۲: په من سره نحو: اياك من الاسد، او تقدير د من په دي کې نه راځي قاعدة.

| ٦٢٢- "إياك والشر" ونحوه نصب | محذر بما استتاره وجب |
|---|---|

**تركيب: اياك** مفعول به مقدم **محذر** فاعل **بما** جار مجرور متعلق بنصب، **ما**: موصوله **استتارهُ** مبتداء **وجب** جمله فعليه خبر بيا جمله صله لپاره د موصول.

**ترجمه:** اياك لره چې دا مفعول به محذر دي او الشرَ لره چې دا محذر منه دي او مثل د اياك لره چې هغه اياکما اياکم دی نصب ورکړی دی محذِر چې هغه متكلم دي په څه سره نصب ورکړی دی په هغه عامل سره چې استتار د هغه واجب دي په متكلم باندې.

| ٦٢٣- ودون عطف ذا لإيا انسب وما | سواه ستر فعله لن يلزما |
|---|---|

**تركيب: دون** متعلق بانسب. **ذا** مفعول به مقدم. **يا** متعلق بانسب. **ما** موصوله مبتداء اول. **سواه** صله. **سترُ** مبتداء ثاني. **لن يُلزما** جمله خبر د مبتداء ثاني بيا جمله خبر د مبتداء اول.

**ترجمه:** او نسبت کوه ته دا نصب د دې مفعول به چې تحذير ورته وائي په هغه عامل سره چې واجب الحذف دي خاص كلمه د اياك ته بې د صورت د عطف نه هم لكه: اياك و الاسد او اياك ان تفعل شو، او هغه نصب د مفعول به چې تحذير ورته وائي سوا د دې نصب نه او د دې محذَر بإياك نه چې عامل واجب الحذف نه راته نو مستتر کول د عامل ناصبه د هغه بلكل لازم شوي نه دي په تا باندې مثال لكه نفسك الشرّ شو، اي جنب نفسَك من الشر عامل د دې حذف شوي دي جوازاً.

| ٦٢٤- إلا مع العطف أو التكرار | كـ"الضيغم الضيغم يا ذا الساري" |
|---|---|

**تركيب: مع العطف** متعلق د يلزم. **كـا** خبر د مبتداء محذوف. **الضيغم** مفعول به لفعل محذوف وجوبًا و هو احذر **الضيغمَ** تاكيد للاول **ذا** مبني على الضمة تقديراً منصوب محلاً بدل عطف بيان، نعت.

**ترجمه:** مگر دغه تحذير چې سوا د اياك نه دي سره د عطف وو مثال لكه: راسَك و السيفَ شو او كلمه د اياك سره نه ده بغير د كلمې د اياك نه دي او سره د عطف نه دي عامل د دي حذف شوی دی وجوبًا چې هغه اتقِ دي، يا سره د تكرار نه وو مثال لكه الضيغمَ الضيغمَ يا ذا ايسار شو اى دغه د شپې مزل کوونکی خاوند د منزل کولو په شپه کې زمرى زمرى دى. معنى دا شوه يعني ځان ساته د زمري نه دا هم منصوب دى په اتقِ مقدر سره چې د هغې حذف واجب دي.

**تشريح:** حاصل د دې ابياتو دا دی دا مفعول به چې مسمى کړی شوې ده په تحذير سره دا به خالي نه وي يا به په لفظ د اياك سره وي يا به بغير د لفظ د اياك سره وي، كه په لفظ د اياك سره وو د دې هغه محذر منه به خالي نه وي ځكه تحذيز چې محذر وي ذكر د محذر منه شرط دي يا به اسم

صريحي وي يا به اسم تاويلي وي كه اسم صريحي وو دا محذر منه ذكر كولى شي. ۱ : په عطف سره نحو: اياك و التاخيرَ اياك و الكذبَ. ۲ : په من سره نحو اياك من النفاقِ اي باعد نفسك من النفاق. ۳ : بې د عطف او من سره على الشذوذ نحو: اياك الضلالةَ اي أُحذرك الضلالةَ، دا اياك او الضلالةَ دواړه مفعول به دي د فعل محذوف لپاره چې هغه أُحَذِرُ دي. او كه دا محذر منه اسم تاويلي وو بيا ذكر كولى شي. ۱ : په عطف سره نحو: اياك و ان تحذفَ. ۲ : په من سره نحو: اياك من ان تحذفَ. ۳ : په تقدير د من سره بغير د عطف او د من نه نحو: اياك ان تحذفَ.

او كه دا محذر غير د لفظ د ياك نه وو دا محذر منه اسم صريحي راځي اسم تاويلي نه راځي او دا اسم صريحي بيا ذكر كولي شي. ۱ : عطف سره نحو: نفسك و الاسدَ. ۲ : په من سره نحو: نفسك من الاسد. ۳ : بې د عطف او د من نه نحو: نفسك الاسدَ اي أُحذرك الاسدَ.

او كه دا تحذير محذر منه وو. ۱ : يا به په تكرار سره وي نحو: الاسدَ الاسدَ، الضيغمَ الضيغمَ، اللهَ اللهَ في اصحابي، په دي كې رفع لوستل هم جائز دي بنا په دي چې دا خبر د مبتداء محذوف دي اي هذه الاسدُ الاسدُ ثاني تاكيد لپاره د اول دي په خلاف د اللهَ اللهَ نه په هغې كې رفع لوستل جائز نه دي بنا په دې چې دا خبر د مبتداء محذوف دي چې هغه هذا دي لعدمِ صحةِ الاشارةِ الى اللهِ لان اللهَ تعالى غيرُ محسوسٍ بالبصرِ، او اسم اشاره مشار اليه محسوس غواړي ۲ : يا به عطف سره به وي نحو قوله تعالى : ﴿نَاقَةَ اللهِ وَ سُقْيٰهَا﴾. ۳ : يا به بې د تكرار او د عطف نه به وي نحو: الاسدَ، دا مجموعه دوولس صورتونه د تحذير شو، عامل د دي تحذير حذف كولي شي په اياك سره في جميع استعمالاته چې هغه شپږ دي په حذف وجوبي سره دې خبرې ته ناظم اشاره كړې ده اياك و الشرَ سره. دارنګه دا عامل د دې تحذير حذف كولى شي وجوباً غير د اياك سره هم په دې شرط سره چې دا تحذير مكرر وو يا په هغې باندې عطف شوي وو دې خبرې ته اشاره كړې ده ناظم الامع العطف او التكرار سره.

او كه دا تحذير غير د لفظ د ايا نه بې د عطف او تكرار نه راغلي وو بيا حذف د عامل د هغې لازم نه دى بلكه دا عامل حذف كولي شي جوازاً د وجې د عدم وجود د سد مسد نه چې هغه اقامت د معمول دي په مقام د عامل كې په معاونت د تكرار او عطف سره، دې خبرې ته ناظم اشاره كړې ده وَ ما سواهُ ستر فعله لن يلزما سره، مثال د دي لكه: نفسك الشرَ، نفسك الاسدَ، يا يواځي الاسدَ شو، اي جنب نفسك من الشر، أُحذر الاسدَ تقدير د من په دي كې راغلي دي خلاف القياس هغه قاعده دا ده چې من مقدر كيږي مخكې د آن او آن مشدد نه.

| | |
|---|---|
| ٦٢٥- وشذ "إياي" و"إياه" أشذ | وعن سبيل القصد من قاس انتبذ |

**ترکیب:** **ایاي** فاعل **و ایاه** مبتداء **اشذ** خبر **عن** متعلق باتبذ **من** موصول مبتداء **قاس** جمله صله **انتبذ** جمله خبر.

**ترجمه:** تحذیر په ایاك ضمیر مخاطب سره به راځي قیاساً نه ضمیر د متکلم او غائب سره نو شاذ دی تحذیر ایايَ ضمیر د متکلم سره، او تحذیر ایاه ضمیر غائب سره د هغې نه هم زیات شاذ دی او چا چې ایايَ ضمیر د متکلم او ایاه ضمیر غائب قیاس کړي دي په ایاك ضمیر د مخاطب باندې په تحذیر کې هغوی د لارې د انصاف نه غورځیدلي دي مثال د ایايَ او ایاه چې تحذیر لپاره راغلی دی خلاف القیاس کما في قول عمر رضی الله عنه: ایايَ و ان یحذفَ احدُکم الارنبَ، و کما في قول الشاعر:

فلا تصحب اخا الجِیل إیّاك و إیّاه

جمهور دیته شاذ وائي، او بعضې خلکو دیته قیاسي ویلي دي، بل مثال د دې کقول بعض العرب اذا بلغَ الرجل الستین: ایاه و ایا الشوابَ، یعنی سړي چې شپیته کالو ته ورسیږي دا دې ځان ساتي د ځوانو ښځو نه او دا ځوانې ښځې دې د دینه ځان ساتي په دې کې دوه شذوذه جمع شوي دي، ناظم په هغوی باندې رد وکړو و عن سبیل الخ سره، لهذا غوره مذهب د جمهورو مذهب دی، د تحذیر احکامو نه اوزګار شو اوس بیانوي احکام د اغراء په طریقې د حوالې سره.

| | |
|---|---|
| ٦٢٦- وکَمُحَذِّرٍ بِلاَ إِیَّا اجْعَلاَ | مُغْرًى بِهِ فِي کلِّ مَا قَدْ فُصِّلاَ |

**ترکیب:** **کمحذر** متعلق اجعل پورې **بلا** متعلق باجعل **اجعلا** الالف بدل من نون التاکید للوقف **في کل** متعلق باجعل **ما** موصوله **فصلا** جمله صله.

**ترجمه:** په شان د هغه مفعول به چې د هغې نوم محذر دي خامخا وګرځوه ته هغه مفعول به لره چې نوم د هغې مغری به دي چې په دې باندې باعثیت کړي شوي دي بې د ایا نه په ټول هغه حکمونو کې په تحقیق سره هغه بیان کړي شوي دي په بحث د تحذیر کې.

**تشریح:** حاصل د دې بیت دا دی: چې ۱: یو مفعول به دي د هغې نوم اختصاص او مختص دي ۲: او یو مفعول به دي د هغې نوم تحذیر او محذر دي دي دا دواړه قسمه مفعول به مخکې ذکر شو، اوس ۳: یو مفعول به دي د هغې نوم اغرا او مغری به دي دغه قسم مفعول به اوس بیانوي.

**اغراء په لغت کې:** تیزول د متکلم دي مخاطب په یو کار کې داسې کار چې هغه په حق د دي مخاطب کې ډیر مفید وي، او په اصطلاح د نحویانو کې اغراء علم ګرځیدلي دي د هغه مفعول به لپاره چې هغه منصوب شوي دي عامل واجب الحذف سره د عامل واجب الحذف چې هغه فائده کوي تشویق او ترغیب په مخاطب کې مثال لکه: أطلب، افعل، اِلزَمْ شو، دا به راوباسي مناسب د مقام سره او استعمال د دي اغراء په شان د استعمال د تحذیر دی سره د عطف نه ذکر

كوي او كه بې د عطف نه ذكر كوي صرف دومره فرق دى چې د هغې په سر كې إيّاك لفظ ذكر كولى شي او د ده په سر كې اياك لفظ نه شي ذكر كولي بلكه بل لفظ به ذكر كوي.
كه دا مغرى به. ١ : مكرر ذكر شوى وو ٢ : عطف شوى وو په دې باندې بيا عامل د دې حذف كولي شي وجوبًا مثال د اغراء بدون العطف الاجتهادَ الاجتهادَ اي الزم الاجتهادَ و نحو قول الشاعر:

اخاك اخاك ان من لا اخا كساعٍ الى الهجاء بغير سلاحِ

و ان عم المرء فاعلم جناحُه وهل ينهض البازي بغير جناحِ

او مثال د اغراء مع العطف: الصدقَ و كرمَ الخلق ٢ : او كه دا مكرر نه وو ذكر شوي دارنگه عطف نه وو شوى په دې باندې بيا ذكر د عامل د دې جائز دى دا عامل د دې حذف كولى شي جوازاً مثال د دې لكه: الاقدامَ اي الزم الاقدامَ الخيرَ اي افعل الخيرَ الصلاةَ جامعةً اي احضُر الصلاةَ.

## اسماءُ الافعال والاصوات

دا ما سياتي تر يو حده پورې بحث د اسماء افعال دي، او دارنگه بحث د اصواتو دي اسماء افعال هغه كلمې ته وائي: تدلُ على ما يدل عليه الفعل، چې ذات ئې اسم دي او ترجمه ئې د افعالو وي.
**سوال** دا كه ته مونږ ته وائي خو فرق په ما بين د اسم او فعل كې په اعتبار د معنى سره دي چې معنى مطابقي مستقل وه اسم او كه مطابقي مستقل نه وه فعل، اوس ترجمه د دوى چې فعل دي بيا د دوى په اسميت باندې دليل څه پاتې شو؟
**جواب** دليل په اسميت د دوى باندې دا دي: انها لاتقبل علامة الفعل، او كه دا افعال وي اسماء نه وي علامات د فعل به په دوى باندې راغلي وي ٢ : دوى ته أسماء وايو په دې اعتبار سره چې د دې اسم فاعل او اسم مفعول امر نهي نه راځي، دارنگه گردان د دوى نه كيږي، امر او نهي او تصريف دا علامه د فعل دي دا چې رانغله مونږ ته پته ولگيده چې دا اسماء دي افعال نه دي، لكن د افعال په معنى باندې دلالت كوي د دې د وجې نه اسماء افعال وائي.
**سوال** اصوات اسماء افعال سره يو ځاى ولې ذكر كړل؟ **جواب** ځينې اصوات په معنى د اسماء افعالو باندې دي د دې مناسبت د وجې نه دوى سره يو ځاى ذكر كړي دي.

| ٦٢٧- ما ناب عن فعل كشتان وصه | هو اسم فعل وكذا أوه ومه |
|---|---|

**تركيب: ما** موصول مبتداء اول **فعل** ١ حال از فاعل نابَ ٢ : يا خبر د مبتداء محذوف **هو** مبتداء ثاني **اسمُ** خبر د مبتداء ثاني جمله خبر د مبتداء اول **كذا** خبر مقدم مراد اللفظ مبتداء ثاني.
**ترجمه:** هغه اسم چې قائم كيږي د فعل په ځاى باندې په عمل كې او په معنى كې دغه اسم، اسم فعل دى مثال د دې لكه: شتانَ شو چې دا اسم فعل دي ځكه دا قائم دى په معنى كې او په

عمل کې افترقَ په ځای باندې، او بل مثال د دې لکه صَه شو چې دا قائم دي په معنی کې او په عمل کې اُسكتْ په ځای باندې، د افترق او شتانَ معنی یوه ده، او د صَه او د اُسكتْ معنی یوه ده، او په شان د شتان او صَه باندې آوه دي او مَه دي ځکه دا آوه قائم کیږي په ځای د اتوجعُ باندې او مَه قائم کیږي په ځای د انكفف باندې. دینه معلومه شوه چې اسم فعل دري قسمه دي. ۱ : اسم فعل بمعنی الماضي مثال لکه شتان شو. ۲ : اسم فعل په معنی د امر حاضر سره مثال لکه صَه مَه شو. ۳ : اسم فعل په معنی د مضارع سره مثال لکه: آوه شو په معنی د اتوجعُ سره، او اُفِ شو په معنی د اتفضجرُ سره، او کوم خلك چې وائي اسم فعل دوه قسمه دي. ۱ : بمعنی الماضي. ۲ : بمعنی الامر هغوی وائي اسم فعل په معنی د مضارع سره نه راځي. ۱ : او په دې مثالونو کې تاویل کوي دا داخلوي په ماضي کې چې دا اصل کې په معنی د ماضي سره وو لکن د دینه معنی انشائي مراد ده او دال په معنی حالي باندې مضارع ده ځکه مضارع سره تعبیر کوو. ۲ : هغوی اسم فعل دوه قسمه کوي. ۱ : بمعنی الامر. ۲ : بمعنی الماضي، ځکه اسم فعل په معنی د مضارع سره دا ډیر کم راغلی دی په استعمال د کلام د عربو کې نهایت قلت د وجې نه دا په منزله د کالمعدوم شو.

**تنبیه:** مَه اسم فعل دي بمعنی الامر په معنی د انكفِف سره نه په معنی د اكفف او امنع سره لکه بعضې خلکو چې ویلي دي ځکه دا مه لازم دي معنی د دي دا ده چې ته منع شه د دي کار نه او امنع او اكفف هغه دواړه متعدي دي او لازم او متعدي دواړه متباینین دي دي لازم نه ځنګه ته تعبیر کوي په متعدي سره.

| | |
|---|---|
| ٦٢٨- وما بمعنى افعل كـ"آمين" كثر | وغيره كـ"وي وهيهات" نزر |

**ترکیب:** ما موصوله مبتداء. **بمعنی** صله. **کامین** خبر د مبتداء محذوف. **کثر** جمله خبر.
**وغیرہ** مبتداء **کوی** خبر د مبتداء محذوف. **نزُر** جمله خبر.

**ترجمه:** او هغه اسماء چې هغه ثابت دي په معنی د امر حاضر معلوم سره دا ډیر ډیر راځي مثال د دي لکه آمین شو چې دا اسم فعل دي بمعنی الامر په معنی د استجِب سره، او غیر د دینه چې کوم دي لکه هیهاتَ شو په معنی د بُعُدَ سره او وَي دارنګه واهًا شو په معنی د اعجب یا اتعجبُ سره کما في قول ابن قیم رحمه الله:

واهًا لمنطق اليوناني ۰ کم فیه من افك و من بهتانِ

دا کم دی.

**تشریح:** حاصل د دې بیت دا دی چې اسم فعل دري قسمه دي. ۱ : بمعنی الامر. ۲ : بمعنی الماضي.

٢ : بمعنى المضارع، لكن اسم فعل په معنى د امر سره دا ډير دي از زيات راځي د اسم فعل بمعنى الماضي او بمعنى المضارع نه ځكه اسم فعل بمعنى الامر قياسي هم راځي لكه نزال شو په خلاف د نورو نه هغه قياسي نه راځي او اسم فعل بمعنى الماضي زيات دي د اسم فعل بمعنى المضارع نه دا د ټولو نه كم دي د دي د وجې نه اكثر نحويانو اسم فعل بمعنى المضارع نه دي حساب كړي، هغوى وائي اسم فعل دوه قسمه دي. ١ : بمعنى الامر. ٢ : بمعنى الماضي. او دا لفظ د آمين. ١ : بروزن فاعيل باندې اكثر دي استعمالاً لكن بعيد عن القياس دي ځكه لغت عربي فاعيل په وزن باندې چيرته نه دي راغلي په استعمال د كلام د عربو كې بلكه په دې وزن باندې اسماء عجميه راغلي دي لكه قابيل او هابيل شو د دي وجې نه زعم كړي دي بعضو علماؤ چې دا آمين لفظ عجمي دي نه عربي، بيا څوك په دي الف د آمين كې اماله كوي او څوك اماله نه كوي. ٢ : لغت امين راغلي دي بر وزن فعيل دا موافق قياسًا دي لكن اقل استعمالاً دي لكه راغلي دي په دي قول د شاعر كې:

| | |
|---|---|
| تباعد عني فطحل اذ دعوته | أمين فزاد الله ما بيننا بعدًا |

بعضې خلكو د دينه انكار كړي دي. ٣ : لغت آمين دي بالمد و تشديد الميم، بيا دا اسم فعل نه دي بلكه جمع مذكر سالم اسم فاعل صيغه ده په معنى د قصد كولو سره لكه قرآن كې راغلي دي ولاآمين البيت الحرام بيا د دې معنى دا ده: قاصدينَ نحوك.

| | |
|---|---|
| ٦٢٩- والفعل من أسمائه عليكا | وهكذا دونك مع إليكا |

**تركيب:** **الفعلُ** مبتداء اول **اسمائه** خبر مقدم **عليكا** مراد اللفظ مبتداء مؤخر جمله اسميه خبر د مبتداء اول **هكذا** خبر مقدم **دونك** مراد اللفظ مبتداء مؤخر **اليكا** په اعتبار د متعلق سره حال واقع شوي دي.

**ترجمه:** فعل چې دي بعضي اسماء د دي فعل نه عليك دي او داسې دونك دي سره د اليك نه.

**تشريح:** يعنې اسماء افعال درې قسمه دى: ١ مرتجل ٢ : معدول منقول، ځكه په دې اسماء افعالو كې ١ ځنې داسې دي چې اول نه اسماء وضع كړى شوي دي لكه هيهات او آمين او اف شو په معنى د اتضجر سره ٢ : او ځني داسې دي چې وضع اول كې سره اسم نه وو بلكه فعل وو بيا د هغې نه معدول كړي دي اسم فعل ترې جوړ كړي دي لكه نزالِ او ضرابِ شو. دا دواړه اسم فعله دي معدول دي د انزل او د اضرب فعل امر حاضر معلوم نه بعد العدول هم د دي په معنى كې مستعمليږي صرف لفظ كې فرق راغي. ٣ : او ځني داسې دي چې وضع اول كې اسم فعل نه وو بلكه وضع اول كې ظرف وو يا جار مجرور وو يا مصدر وو يا حرف تنبيه وو بيا د هغې نه نقل شوي دي اسم فعل ترې جوړ شوي دي مثال د ظرف لكه: دونك شو بمعنى خُذ، او مثال د جار

مجرور لکه عليك او اليك شو دا دواړه اصل کې جار مجرور وو بيا د هغې نه نقل شوي دي اسم فعل ګرځيدلي دي: اليك عني په معنی د تَنَح سره، او عليك نفسك په معنی د الزمهَا سره كاف د دي دواړو سره لازم دي بغير د كاف نه دا اسم فعل نه مستعمليږي، بيا دومره فرق دي چې دا اليك لازم دي او عليك اسم فعل متعدي دي، دا متعدي کيږي بالذات بې د زيادت د با نه مثال لكه: عليك نفسك شو، او کله کله با زياتي کولي شي د دي سره مثال لكه قوله عليه السلام عليكم بسنتي اصل کې عليكم سنتي دی او دا با زائده راغلي ده مثال د تنبيه لكه: ها الكتاب شو اي خُذه او مثال د مصدر په دي نظم کې ذکر کوي.

| ويعملان الخفض مصدرين | ٦٣٠- كذا رويد بله ناصبين |
|---|---|

**تركيب:** **كذا** خبر مقدم **رويد** مبتداء مؤخر **ناصبين** حال از ضمير مستتر در خبر **الخفض** مفعول به **مصدرين** حال از ضمير فاعل يعملان.

**ترجمه:** او دغسې رويد او بله هم اسماء افعال نه دي په حال کون د دي دواړو کې چې دا نصب ورکوونکې دي مدخول خپل لره، او دوی عمل د جر کوي مدخول خپل کې د وجې د اضافت نه په حال کون د دي دواړو کې چې صيغه د مصدر واخلي په دغه وخت کې دا دواړه معرب دي لكه: رويدَ زيدٍ او بلهَ زيدٍ راغلي دي په کلام: عربو کې رويدَ زيدٍ په معنی دا أمهل زيدٍ سره او بله زيدٍ په معنی د أترك زيدٍ سره نحو اعجبني رويدك زيداً، و بلهك عمراً.

بيا د دې رُويدَ لپاره فعل مستعمل دي چې أرودَ دي مصدر د هغې راځي ارواداً په معنی د نرمي او دمه سره او رُويدَ د هغې تصغير ترخيم دي په حذف د زوائد سره، او بلهَ په اصل کې مصدر صيغه ده په معنی د ترك سره او د دي لپاره فعل من لفظه نشته دي، بلكه فعل د ده فعل د معنی د دي دي چې هغه ترك دي.

دارنګه دا رويدَ او بلهَ مصدر شي او منون اوائي بيا دا عمل د نصب کوي په ما بعد کې بنا بر مفعول به نحو: رويداً اخاك بلهاً الشرَ، دا مفعول مطلق دي فعل محذوف لپاره.

| لها وأخر ما لذي فيه العمل | ٦٣١- وما لما تنوب عنه من عمل |
|---|---|

**تركيب:** **ما** موصوله مبتداء **لما** صله، **ما**: موصوله **تنوب** ضمير مستتر هي راجع الى اسماء الافعال **عنه** متعلق بتنوب **من** بيان د ما مبتداء **لها** خبر **ما** مفعول به **مالذي** خبر مقدم **فيه** متعلق بالعمل **العمل** مبتداء مؤخر جمله صله د ما مفعول به.

**ترجمه:** اى الذي استقرَ من عمل الفعل الذي تنوب عنه مستقر لها، هغه عمل د اسم فعل چې ثابت وو لپاره د هغه فعل چې قائميږي او نائب کيږي اسماء افعال د دغه فعل نه هغه به ثابت وي

لپاره د دغه اسماء افعال او وروستى. کوه ته هغه معمول چې ثابت دي لپاره د دې اسماء افعال په هغې کې عمل.

**تشريح:** کوم عمل چې ثابت دي فعل لره هغه عمل به ثابت وي د هغه اسم فعل لپاره چې هغه په معنى د دغه فعل سره راغلي دي په دي شان سره که دا اصل فعل لازم وو دا اسم فعل خليفه به هم لازم وي او که هغه اصل فعل متعدي وو دا اسم فعل خليفه به هم متعدي وي لکه: هيهاتَ په ځاى د بَعُدَ باندې قائم شوي دي، بعد چې کوم عمل کوي هغه عمل دي کوي چې هغه رفع ورکوي فاعل لره فقط نو دا هيهات هم رفع ورکوي فاعل لره فقط نحو: هيهات يومُ العيد، او رُويدَ په ځاى د امهل باندې قائم شوي دي او امهل چې کوم عمل کوي هغه عمل دا کوي چې هغه رفع ورکوي فاعل لره او نصب ورکوي مفعول به لره دارنګه دا هم رفع ورکوي فاعل لره او نصب ورکوي مفعول به لره او تقديم د مفعول به په فعل باندې جائز دي مثال لکه: أمهل زيداً کې زيداً امهل ووايه او تقديم د معمول د اسماء افعال په اسماء افعال باندې نه دي جائز، فلا يُقال زيداً رُويدَ بل يقالُ رُويدَ زيداً بلا تقديم المعمول.

| | |
|---|---|
| ۶۳۲- واحكم بتنكير الذي ينون | منها وتعريف سواه بين |

**ترکيب:** ينونَ جمله صله منها متعلق بينون تعريف مضاف ، مبتداء سواه مضاف اليه مضاف بين خبر.

**ترجمه:** او حکم کوه ته په تنکير د هغه اسم فعل سره چې هغې له تنوين ورکولي شي د دې اسماء افعال نه او تعريف د هغه اسم فعل چې هغه غير منون ښکاره وي.

**تشريح:** يعنى اسماء افعال دوه قسمه دي: ۱ ځني داسې دي چې د هغې په اخير کې تنوين راشي لکه صهٍ مهٍ واهًا شو ۲ : او ځني داسې دي چې د هغې په اخير کې تنوين نه راځي لکه صَه او مَه شو، اوس کوم کې چې تنوين راځي حکم کوه په نکارت د هغې باندې او دې تنوين ته تنوين تنکير وائي، او کوم کې چې تنوين نه راځي حکم کوه په تعريف د هغې باندې لهذا صهٍ او مهٍ په تنوين سره چې راشي د دې معنى اسكت سكوتًاما، انكفف انكفافًا ما، او بغير د تنوين نه چې راشي د دې معنى ده: اسكت سكوتَ الآن، انكفف انكفافًا الآن.

| | |
|---|---|
| ۶۳۳- وَمَا بِهِ خُوطِبَ مَا لاَ يَعْقِلُ | مِنْ مُشْبِهِ اسْمِ الفِعْلِ صَوتًا يُجْعَلُ |

**ترکيب:** ما موصول مبتداء به متعلق بخوطب خوطب جمله صله ما موصوله نائب فاعل يعقل جمله صله من بيان لما موصوله مبتداء صوتا مفعول ثاني مقدم يجعل جمله خبر.

**ترجمه:** او هغه اسماء چې هغه اسماء سره خطاب کولي شي هغه حيواناتو ته چې هغه ذي عقل نه دي چې هغه مشابه دي اسم فعل سره په استقلال في التلفظ کې ۱ : کرخولي شي دغه اسم لره

صوت ٢ : يا مسمى كړي دي دغه اسم صوت.

| | |
|---|---|
| ٦٣٤- "كَذَا الَّذِي أَجْدَى حِكَايَةً كَ"قَبْ" | والزم بنا النوعين فهو قد وجب |

**ترکیب:** **كذا** خبر مقدم **اجدى** صله **حكاية** مفعول به **كقب** خبر د مبتداء محذوف **بنا** مضاف، مفعول به **النوعين** مضاف اليه **فهو** مبتداء **وجب** خبر، جمله اسميه لاتمام البيت.

**ترجمه:** او دغسې ګرځولی شوی دی د اصوات نه هغه شي چې هغه فائده کوي حکايت لره د صوت د بل شي نه مثال د دي لکه قَبْ شو، او لازم کوه بنا د دي دواړو نوعينو چې اسماء افعال او اسماء اصوات دي په تحقيق سره دغه بنا د دې دواړه نوعينو واجب ده په تا باندې.

**تشريح:** حاصل د دې بيتينو دا دی: چې اسماء اصوات دوه قسمه دي. ۱ : هغه دي صُوت به البهائم اواز کولی شي هغه سره بهائمو ته لکه: هَلا شو دي سره اواز کولي شي فرس ته لکه: عدَس شو دې سره اواز کولي شي بغل ته، بل لکه نخ شو اواز کولي شي اوښانو ته کښېنولو لپاره.

۲ : قسم يُحکی به صوت دي په دي سره حکايت کولي شي د بل چا د اواز لکه: قَب شو چې دي سره حکايت کولي شي اواز د توري بل لکه: غاق شو دي سره اواز کولي شي اواز د کارغه، بل لکه وَيه شو دي سره حکايت کولي شي هغه اواز د اواز کوونکي په ميت باندې د دی وجې نه سيبويه او نفتويه ته مرکب صوتي وائي ځکه د دې په اخير کې صوت راغلي دي چې هغه ويه دي.

اسماء افعال او اسماء اصوات دواړه د قبيلي د مبنياتو نه دي، اسماء افعال ځکه مبني دي چې دا متضمن دی معنی د مبني اصل لره چې هغه ماضي او امر حاضر معلوم دي او اسماء اصوات ځکه مبني دي. ۱ : وقع غير مرکب دي په ترکيب کې نه واقع کيږي. ۲ : ځکه مبني دي چې دا مشابه دي د حروف غير عاملو سره في کونه مستعملاً لاعاملاً و لامعمولاً.

## نونا التوكيد

دا بحث د دوه نونو دی چې هغه واضع وضع کړی دی لپاره د تاکيد د طلب د فعل چې. ۱ : هغه نون تاکيد ثقيله دي. ۲ : نون تاکيد خفيفه دي، دا دواړه متصل کيږي په اخير د فعل پورې او دا دواړه علامات د فعل دي لکن فعل په اعتبار د زماني سره دري قسمه دي. ۱ : ماضي. ۲ : مضارع. ۲ : امر حاضر معلوم، دا نون تاکيد ثقيله او خفيفه متصل کيږي په اخير. ۱ : د امر پورې مطلقًا او نه متصل کيږي. ۲ : په اخير د ماضي پورې او حال پورې مطلقًا، او که ماضي په معنی د مستقبل سره وه بيا متصل کيږي کما في قوله عَلَيْهِ السَّلَامُ فاما ادركنّ احد منكم الدجال اي فاما يدركن. ۳ : او په اخير د مضار پورې متصل کيږي په دي شرط سره چې دا واقع شوي وي وروسته د قسم نه يا وروسته د ادوات د طلب نه، او که د دينه وروسته نه وو واقع

خکه نون تاکید ثقیله او خفیفه وضع شوي بیا نه متصل کیږي په اخیر د مضارع پورې دي لپاره د تاکید د طلب د فعل او په دې کې طلب نشته دي.

| ۶۳۵- للفعل توكيد بنونين هما | كنوني أذهبن واقصدنهما |
|---|---|

**ترکیب**: **للفعل** خبر مقدم **توكيد** مبتداء مؤخر **بنونين** متعلق بتوكيد **هما** مبتداء **كنوني** خبر **اذهبن** مراد اللفظ مضاف اليه **واقصدنهما** عطف على اذهبن.

**ترجمه**: خاص فعل لپاره ثابت دي تاکید په دوه نونو سره چې دا دوه نونونه پشان د دوه نونونه د اذهبَن او اقصدنهما دي، یعني خامخا لاړ شه او خامخا قصد کوه د دې دواړو نونینو. اذهبن مثال د نون تاکید ثقیله دی چې متصل شوي دي په اخیر د امر حاضر پورې، او اقصدن مثال د نون تاکید خفیفه دي چې متصل شوی دی په اخیر د امر حاضر معلوم پورې.

**تشریح**: او دا دواړه یو شانتې دي په تاکید د طلب د فعل کې عند الجمهور صرف خلیل ویلي دي چې تاکید په نون تاکید ثقیله کې زیات دي د نون تاکید خفیفه نه ۱: ځکه زیادت د حروفو دلالت کوي په زیادت د معنی باندې ۲: دلیل د هغه لپاره دا قول د الله تعالی دي: ﴿لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِّنَ الصَّٰغِرِينَ﴾ ځکه دا امراة العزیز اشد حریصه وه په قید کولو د یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ د ذلیل کولو نه د دې وجې نه لیُسجنن سره نون تاکید ثقیله ولګوه، او ﴿لَيَكُونًا مِّنَ الصَّٰغِرِينَ﴾ سره نون تاکید خفیفه ولګوه، ځکه دا قیدي کول د یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې ډیر زیات مطلوب وو د ذلیل کولو نه د دې وجې نه د هغې تاکید وشو نون تاکید ثقیله سره او د دې تاکید وشو نون تاکید خفیفه سره ځکه په هغې تاکید زیات دی او په دې کې تاکید کم دي.

| ۶۳۶- يؤكدان أفعل ويفعل آتيا | ذا طلب أو شرطًا أما تاليًا |
|---|---|

**ترکیب**: **افعل** مفعول به **آتيا** حال از يفعل **ذا** حال از ضمیر آتيًا **شرطان** عطف ذا طلب باندې **اما** مفعول به مقدم **تاليًا** صفت د شرط یا حال متداخله.

**ترجمه**: تاکید کوي دا دواړه نونونه د افعل صیغه د امر حاضر معلوم مطلقًا او دغسې دا دواړه تاکید کوي د یفعل صیغه د مضارع په حال کون د دې یفعل صیغه د مضارع کې چې دا راغلي وي خاوند د طلب، او یا راغلی وي شرط په حال کون د دې شرط کې چې واقع وي وروسته د اما نه، یا هسې شرط چې واقع وي وروسته د اما نه.

**تشریح**: یعني نون تاکید ثقیله او خفیفه متصل کیږي په اخیر د امر حاضر معلوم پورې مطلقًا د وجې د وجود د معنی د طلب د فعل نه په ده کې او نون تاکید نه متصل کیږي په اخیر د فعل مضارع پورې مطلقًا بلکه متصل کیږي چې دا مضارع راغلي وي.

۱ : ذاتُ طلبٍ په دې شان سره. ۱ : واقع شوي وي وروسته د لام امر نه نحو ليضربن. ۲ : واقع شوي وي وروسته د لا نهي نه نحو: ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا﴾ ۳ : واقع شوي وي وروسته د حرف عرض نه نحو: الا تنزلنَ بنا فتصيبَ خيراً. ٤ : واقع شوي وي وروسته د حرف تحضيض نه نحو: هلا تقومن. ٥ : واقع شوي وي وروسته د حرف تمنى نه نحو: ليتك تقومنّ. ٦: واقع شوي دي وروسته د حرف استفهام نه نحو: أ تمدحَن بكراً فهو خائن. ۷ : واقع شوي وي وروسته د اسم استفهام نه نحو: كيف تضربَن زيداً و هو اخوك. ۲ : دارنګه نون تاكيد متصل کیږي په اخير د مضارع پورې چې دا واقع شوي وي وروسته د اما حرف شرط نه نه مطلق حرف شرط نه وروسته نحو قوله تعالىٰ: ﴿فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ﴾ او صاحب د کافيه ويلي دي و كثرت في مثل اما تفعلن ځکه چې دغه ځاى کې لازم شو تاكيد د حرف شرط چې ان دي ما زائده سره تا باندې لازم دي تاكيد د فعل په طريقه اولى سره لپاره د دې خبرې چې لازم نه شي انقصيت د مقصود چې دا فعل دي د غير مقصود نه چې دا حرف دي.

| | |
|---|---|
| ٦٣٧- أو مثبتا في قسم مستقبلًا | وقل بعد "ما ولم" وبعد "لا" |

**تركيب:** او معطوف على شرط **في قسم** متعلق مثبتًا پورې **مستقبلاً** حال از ضمير مثبتًا **قل** ضمير مستتر هو راجع الى التاكيد هغه فاعل **ما** مضاف اليه **بعد** معطوف بعد سابق باندې **لا** مراد اللفظ مضاف اليه.

**ترجمه:** يا واقع شي فعل مضارع مثبت مستقبل په جواب د قسم کې، او کم دی تاكيد د فعل مضارع نون تاكيد سره چې دا فعل مضارع واقع شوی وي وروسته د ما نفي او د لم نه دارنګه واقع شوی وي وروسته د لا نفي نه.

**تشريح:** نون تاكيد متصل کیږي په اخير د فعل مضارع پورې چې دا واقع شوی وي مثبت مستقبل په جواب د قسم کې غير مفصول د لام الجواب نه په يو فاصل سره نحو: و اللهِ لافعلَن كذا، وقوله تعالى : ﴿ تَاللّٰهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ﴾ ځکه هر کله چې تاكيد وکړې د مضارع مثبت مستقبل امر منفصل سره چې قسم دی بيا تا باندې لازم دي تاكيد د امر متصل سره چې دا نون تاكيد ثقيله دي، او که فعل مضارع منفي وه لفظًا يا تقديراً يا حال وو يا مفعول وو د لام الجواب نه واقع شي په جواب د قسم کې بيا تاكيد د فعل مضارع نون تاكيد ثقيله سره ممتنع دي نحو: ۱ : قوله تعالى : ﴿تَاللّٰهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوسُفَ﴾ اى لاتفتؤ، فعل مضارع منفي دي په لا مقدره سره جواب واقع شوې ده د قسم تاكيد نه دی کړې. ۲ : و قوله تعالى : ﴿وَلَئِنْ مُّتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ لَاِلَى

الله تحشرون﴾ ﴿وَ لَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى﴾ دلته فعل مضارع مثبت مستقبل واقع شوی دی جواب قسم او تاکید نه دی کړی نون تاکید ثقیله سره ځکه فصل راغلی دی د دې مضارع او لام الجواب په مينځ کې په سوف سره په و لسوف يعطيك ربك فترضى کې او په الى سره ﴿لالى الله تحشرون﴾ کې ۲: والله لتذهب الآن، دلته مضارع حالي ده لهذا د دې تاکيد په نون تاکيد سره جائز نه دي.

او فعل مضارع چې واقع شي وروسته د ما زائده او لانفي او د لم نه اتصال نون تاکید قلیل دي مثال د اتصال د نون وروسته د ما زائده نه نحو: بعين ما ارينك، اي اني اراك بعين بصيرة دا ویلی کیږي هغه سړي ته چې هغه چشم پوشي کوي تا سره بجهدٍ ما تبلغنّ، يعني کوشش کوه په دې کار کې بې د کوشش سترې والي نه حصول د دې کار مشکل دی وکما في قول الشاعر:

اذا مات منهم مَيت سُرق ابنه  و من عضةٍ ما ينبتن شكيرها غضة

بمعنى جبلٍ، شكيرها (معنى بوټی د غزونی) يعنى اخلاق او شمائل د پلار په دې کې موجود شي خلك وائي دا د پلار غلا کړی دی، او مثال د اتصال د نون تاکید فعل مضارع پورې وروسته د لم نه کما في قول الشاعر:

يحسبه الجاهل ما لم يعلما  شيخا جالسا علي كرسيّه معمأ

يحسبه: (اى اللبن او الجبل) مالم يعلما: (ما مصديه ظرفيه) جار مجرور په اعتبار د متعلق سره صفت اول اي جالسًا على كرسيه، كرسيه معممًا دا صفت ثاني دا شاعر د يو غر مدح کوي يا د يو صفت کوي خاروي چې لشل په لوخي کې د پيو نه زګ پيدا شو د هغې نه لوخي ډك شو د هغې په صفت کې دا شعر ويلو، اوس دلته نون تاکید خفيفه متصل شوي دي يعلم مضارع پورې چې واقع شوي دي وروسته د لم نه، دا يعلما اصل کې يعلمن وو بيا وقف د وجې نه دا نون تاكيد خفيفه الف سره بدل شوي دي، او مثال د اتصال د نون تاكيد فعل مضارع پورې پس د لانفي نه نحو قوله تعالى: ﴿وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً﴾.

| | |
|---|---|
| ٦٣٨- وغير إما من طوالب الجزا | وآخر المؤكد افتح كابرزا |

**تركيب:** **غير** معطوف على **لا طوالب** حال از غير اما **وآخر** مفعول به مقدم **المؤكد** بحذف الموصوف **كابرزا** خبر د مبتداء محذوف، الالف بدل من نون التاكيد للوقف.

**ترجمه:** او فعل مضارع مثبت شرط واقع شوي وي د اما نه علاوه د نور کلماتو شرط نه وروسته چې هغه طالب د جزا دي نحو قول الشاعر

من يُثقفن منهم فليس بآيبٍ  ابدا و قتل بني قُتَيبةَ شافي

اوس دلته يُثقفَن فعل مضارع مثبت تاكيد شوي دي نون تاكيد خفيفه سره او مضارع واقع شوې ده وروسته د من شرطيه نه او فلَيسَ بآيبِ جمله فعليه جزا واقع شوي ده فا جزائيه ورسره راغلې ده ځکه فعل يکې غير منصرف دي او فا جزائيه ماضي متصرف خالي لفظًا او تقديراً عن قد سره نه راځي، او بآيبِ کې دا "ب" زائده ده دا صيغه د واحد مذکر اسم فاعل ده د أب يؤب أوبا نه باب نه او بآيبِ کې دا يا واقع بعد الالف همزه سره نه ده بدل شوې سره د دينه د دې په اصل کې اعلال شوی دی. ۱: د وجې د ضرورت شعري نه. ۲: يا دا شاذ ده، او ابدا زمان طويل غير محدود ته وائي د دې وجې نه لکه يو سړی قسم وخوري و الله لا اکلمك ابداً، اخيري مرګ په وخت کې خبرې وکړي حانث دی ځکه ده ابدا ويلي دي او ابد شامل من اول التکلم الى آخر العمر تول زمان ته. دارنګه کله کله نون تاکيد متصل کيږي په اخير د فعل مضارع مثبت پورې چې واقع شي وروسته د ربما نه کما في قول الشاعر:

ربما اوفيتُ في علم ترفَعن ثوبي شمالات

دا دې ناظم صبب نه دی ذکر کړي زيادت ندرت د وجې نه.

| | |
|---|---|
| ۶۳۹- واشکله قبل مضمر لين بما | جانس من تحرك قد علما |

**ترکيب: مضمر** موصوف **لين** بفتح اللام. ۱: لانه مصدر من لانَ يلين ليناً. ۲: او صفة مشبهة كان في الاصل لَين مثل ميت دا په ترکيب کې. ۱: صفت واقع شوي دي. ۲: يا بدل. ۳: يا عطف بيان **بما** متعلق باشکل، **وما** موصولة **جانس** جمله صله **تتحرك** موصوف **علما** جمله صفت.

**ترجمه:** او فتحه ورکوه ته حرف اخير د مضارع لره چې هغه مؤکد جوړ شوي دي په نون تاکيد ثقيله او خفيفه سره، او که ته وائي ماته مثال وښايه دا وائي لکه أبرزا شو، اصل کې ابرُزنْ وو بيا وقف د وجې نه دا نون الف شوي دي، او حرکت ورکړه ته اخير د دي فعل مضارع لره مخکې د هغه ضمير نه چې هغه حرف علت ساکنه دي لکه واو او يا ضمير فاعل شو په جمع مذکر او واحده مؤنث مخاطبه کې بما په هغه حرکت سره چې هغه مجانس وي د دغه ضمير لين سره، او په تحقيق سره تا ته مجانست د هغې معلوم شوي دي چې واو سره مجانس حرکت ضمه ده او يا سره مجانس حرکت کسره ده، اوس که هغه حرف لين مضمر واو وه ضمه ورله ورکوه نحو: اضربُن او که حرف لين مضمر يا وه کسره ورله ورکوه نحو: اضربِن لپاره د دې خبرې چې دا مجانس حرکت دليل وګرځي په حذفيت د واو او يا باندې، اوس هغه حرف لين مضمر سره به څه چل کوي پس د اتصال د ضمير نه دا وائي:

| | |
|---|---|
| ۶۴۰- والمضمر احذفنّه إلا الألف | وإن يكن في آخر الفعل ألف |

فی آخر خبر مقدم **الف** اسم د يكن.

**ترکیب: المضمر** ما اضمر عامله على شريطة التفسير في آخر خبر مقدم الف اسم د يكن.

**ترجمه**: او حذف کوه ته ضمير لره چې لين دي د وجې د التقاء د ساکنينو على غيرحده نه، او قاعده دا ده کله چې التقاء د ساکنينو على غير حده راشي اول مده وي هغه حذف کيږي الا مگر دا درته وايم چې الف مه حذف کوه ځکه بيا لازميږي التباس د مفرد سره کچيري وو الف په اخير د فعل کې چې تا مؤكد گرځولي دي په نون تاکید سره.

| والواو- ياء كاسعين سعيا | ٦٤١- فاجعله منه -رافعا غير اليا |
| --- | --- |

**ترکیب: منه** راجع الى المضارع **رافعًا** حال از ضمير منه **ياءً** مفعول ثاني د اجعل **كاسعين** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**: پس وګرځوه ته دغه الف لره د دې مضارع نه يا په حال کون د دي مضارع کې چې دا رفع ورکوونکې وي هغه ضمير لره چې هغه غير دی د واو او د يا ضميري نه چې هغه يا خو ضمير مستتر دی يا الف ضميري دي مثال د هغه به څنګه وي لکه اسعَينَ سعيًا شو، نو دي اسعَ رفع ورکړې ده ضمير مستتر له نو کله چې تاکید د دې کوي هغه الف بيا معاد کوي يا به ئي وګرځوي اسعَين سعيًا به وائي، يعنى خامخا كوشش كوه ته كوشش كولو سره، اوس که تا دا مضارع رافع واو لره ګرځولې وه يا لره ګرځولي وو بيا به څه چل کوي په وخت د الحاق د نون تاکید کې دا وائي:

| واو ويا شكل مجانس قفي | ٦٤٢- واحذفه من رافع هاتين وفي |
| --- | --- |

**ترکیب: شکل** موصوف **مجانس** صفت مبتداء **قُفي** جمله خبر.

**ترجمه**: او حذف کړه ته دغه الف لره د هغه فعل نه چې هغه رفع ورکوونکې وي دغه واو او يا لره، او په دغه واو او يا کې چې دا مرفوع شوي دي په دغه فعل سره حرکت داسې حرکت چې موافق دي دغه واو او يا سره د هغې به تابعداري کولي شي يا موندلی شوي دي.

| قوم اخشون" واضمم وقس مسويا | ٦٤٣- نحو "اخشين يا هند" بالكسر و"يا |
| --- | --- |

**ترکیب: نحو** خبر د مبتداء محذوف اي ذلك نحو **بالكسر** حال از اخشيَن **مُسويا** حال از ضمير مستتر در قس.

**ترجمه**: مثال دا دی لکه اخشِين يا هندُ شو، اخشين پسې يا هند ذکر کړه دې سره اشاره وکړه چې دا صيغه د واحد مؤنث امر حاضر معلوم ده او د دينه بغير پته نه لګيده چې دا اخشيَن دي او که اخشِين دي معنى د دې دا ده خامخا ويريږه اي هندي په حال کون د دې اخشين کې چې دا ثابت دی په کسري د يا سره چې موافق حرکت د يا دی د وجې د التقاء د ساکنينو على غير حده نه نون تاکید خفيفه سره ځکه دا اصل کې اخشَيِي وو يا الف سره بدل شوه د وجې د فتحې د

ما قبل نه بيا الف د وجې د التقاء د ساکنينو نه حذف شو اخشَيِ پاتې شو بيا کله چې نون تاکيد خفيفه متصل شو التقاء د ساکنينو راغله على غيره حده د يا او د نون تاکيد خفيفه په مينځ کې التقاء د ساکنينو د وجې نه موږ دغه يا له کسره ورکړه از برای مناسبت يا او دا يا حذف نه کړه ځکه د دې نه مخکې کسره نشته دي او دا يا هله حذف کيږي چې مخکې کسره وي اخشين جوړ شو، اوس هغه الف چې حذف شوي دي د وجې د التقاء د ساکنينو نه دغه يا سره موږ دوباره نه معاد کوو ځکه دا حرکت عارضي دي په حکم د سکون کې دي په نسبت سره ما قبل ته نه په نسبت سره ما بعد ته اوس که موږ هغه معاد کړو بيا لازميږي التقاء د ساکنينو.

او بل مثال د دې لکه: يا قومِ اخشَوُن شو ضمه ورکوه ته دې واو لره او قياس کړه ته په دې اخشَيِن او اخشَوُن باندې نور صيغو لره لکه: ارضَيِن او ارضَوُن و غيره شو چې په اخره کې الف وي په داسې حال کې چې ته مساوات کوونکی يې په ما بين د اخشَيِن او ارضَيِن کې او په ما بين د اخشَوُن او ارضَوُن کې اخشَوُن په اصل کې اخشَيُو وو يا متحرك ما قبل ترينه مفتوح يا الف سره بدل کړه بيا التقاء د ساکنينو د وجې نه هغه حذف شوه اخشو پاتې شو بيا کله چې نون تاکيد خفيفه متصل شو التقاء د ساکنينو راغله واو او نون تاکيد خفيفه په مينځ کې على غير حده او التقاء د ساکنينو د وجې نه واو له ضمه ورکړه از برای مناسبت واو، واو حذف نه کړه ځکه د دې واو نه مخکې ضمه نشته دی اوس هغه کوم الف لام کلمه چې حذف شوي وو د وجې د التقاء د ساکنينو نه واو سره، اوس هغه محذوف حرف به نه معاد کوي ځکه حرکت د واو حرکت عارضي دی التقاء د ساکنينو د وجې نه راغلي دي اوس هغه دوباره معاد شي بيا التقاء د ساکنينو راځي. دلته کې مقصود بالمثال خو صرف د اخشَوُن دی او د دينه مخکې دا يا قومِ ورسره ذکر کړه. ۱ : نسبت لټوي اخشون لپاره چې د دې اخشَوُن ضمير مخاطب مصداق قوم دي. ۲ : او تاته اعلان کوي چې دا جمع مذکر امر حاضر معلوم صيغه ده.

**تشريح:** نون تاکيد چې متصل شي په اخير د فعل پورې دا فعل به خالي نه وي يا به رافع وي ضمير مستتر او الف ضمير لره او يا به رافع وي واو او يا ضميري لره که دا رافع وو ضمير مستتر لره بيا د وجې د اتصال د نون تاکيد نه حرف اخير د فعل مضارع مؤکد مبني على الفتحه ګرځي برابره خبره ده چې هغه حرف صحيح وي او که حرف علت وي از جهت تخفيف مثال لکه: اضربَن ليَضربَن لتضربَن لاضربَن لنضربَن ارمِيَن، ادعوَن، اخشَيَن شو.

او که دا فعل رافع وو الف ضمير لره بيا اتصال د نون تاکيد ثقيله د وجې نه دا الف به نه حذف کوي التقاء د ساکنينو د وجې نه ځکه بيا لازميږي التباس د تثنيه د مفرد سره او التقاء د

ساكنينو د وجې نه اول حرف مده هله حذف كيږي چې دا موجب د التباس نه وي، اوكه موجب د التباس وو بيا هلته حذف جائز نه دي مثال لكه: الحسن عندك باندې ته همزه د استفهام داخل كړي آ ألحسنُ عندك؟ ووائي اجتماع د همزتينو به راشي او دا موجب د ثقل ده اوس كه تخفيف حاصلول غواړي ستا لپاره روا دي چې دا دويم همزه الف سره بدل كړي آلحسنُ عند ووائي اوس التقاء د ساكنينو راغله على غير حده دا جائز دي ځكه كه مونږ دغه الف لره حذف كړه بيا التباس خبر د انشاء سره راځي، دارنګه اضربانِ كې التقاء د ساكنينو د وجې نه دا الف مونږ حذف كړو بيا التباس راځي تثنيه د مفرد سره. ۲ : د ا الف مونږ ځكه نه حذف كوو چې دا التقاء د ساكنينو على حده ده او التقاء د ساكنينو على حده جائز ده.

او كه دا فعل رافع وو واو ضمير او ي ضمير لره اتصال د نون تاكيد راشي او د دي واو نه مخكې ضمه وه او د دي يا نه مخكې كسره وه بيا التقاء د ساكنينو على غير حده د وجې نه دا واو او يا حذف كولي شي على مذهب البعض چې هغوی التقاء د ساكنينو على حده لپاره وحدت د كلمه شرط وائي او التقاء د ساكنينو على غير حده د وجې نه على مذهب الجمهور يا نه شي حذف كولی ځكه هغوی وحدت دكلمه شرط نه وائي.

**سوال:** بيا په جمهورو باندې اعتراض وارديږي التقاء د ساكنينو على حده خو جائز دي بيا دا ولې حذف كوي؟ **جواب:** التقاء د ساكنينو على حده جائز خو ده لكن په دي ځای كې مونږ حذف كوو د وجې د ثقل نه لپاره د حصول د تخفيف ځكه وقوع د واو په ما بين د ضمه او د نون تاكيد ثقيله په مينځ كې او وقوع د يا په ما بين د كسره او د نون تاكيد ثقيله په مينځ كې موجب د ثقل دي داتقاضا د تخفيف كوي او تخفيف ورله مونږ وركړه په حذف د واو او د يا سره ځكه مخكې ضمه موجود وي هغه دلالت كوي په حذفيت د واو باندې او مخكې كسره موجود وي په حذفيت د "ي" باندې په خلاف د اضربان نه هلته الف واقع شوي دي په ما بين د فتحه او د نون تاكيد ثقيله كې دا موجب د ثقل نه دي دا په خپل حال باندې پاتې كړي شو مثال د دي لكه اضرِبن ليضرُبن لتضرُبن لتضرِبن شو، او كه د دې واو نه مخكې ضمه نه وه راغلې او د دې يا نه مخكې كسره نه وې راغلي اتصال د نون تاكيد ثقيله راشي بيا التقاء د ساكنينو على غيره حده راځي بالاتفاق التقاء د ساكنينو على غير حده د وجې نه دغه واو له به ضمه وركوي از براى مناسبت واو او دغه يا له به كسره وركوې از براى مناسبت يا او دغه واو او يا به نه حذف كوي د وجې د عدم وجود د دليل نه په حذفيت د دوی باندې چې هغه ضمه د ما قبل او كسره د ما قبل ده مثال د دې لكه قوله تعالى: ﴿فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ﴾ اِخْشَيِنّ، ارضَيِن ،

لِتُدْعَيِن ، اِخْشَوُن، اِرْضَوُن، لِتُدْعَوُن ، لِيُدْعُوُن شو.

| | |
|---|---|
| ٦٤٤- ولم تقع خفيفة بعد الألف | لكن شديدة وكسرها ألف |

**تركيب**: **خفيفة** بالرفع فاعل و بالنصب حال از ضمير تقع **لكن** عطف على خفيفة **كسرُها** مبتداء ألف جمله خبر.

**ترجمه**: او نه دى واقع شوى نون تاكيد خفيفه وروسته د هغه صيغو نه چې په اخير کې الف راځي چې هغه څلور تثنيه او دوه جمعې مؤنث صيغې دي لپاره د دې چې لازم نه شي التقاء د ساكنينو على غيره حده او په هيڅ صورت کې دفع د التقاء د ساكنينو ممكن نه ده خلافاً ليونس و الكوفيين چې هغوى وائي دا واقع كيږي ځكه د التقاء د ساكنينو هغوى په دې مقام کې جائز وائي دا قياس كوي په حالت د وقف باندې لكه څنګه چې التقاء د ساكنينو وقف د وجې نه جائز ده دارنګه دا هم جائز ده و عليه قراءةُ ابن ذكوان في قوله تعالى **ولا تتبعان** او مشهور قراءت و لاتتبعانّي دي په نون تاكيد ثقيله سره.

**سوال** اتصال د نون تاكيد خفيفه دې څلور شيانو پورې ممتنع شي ځكه التقاء د ساكنينو راځي د الف سره او دوه صيغې د جمع مؤنث پورې اتصال دى جائز شي ځكه هلته الف نشته دې كه مونږ دا نون تاكيد خفيفه متصل كړو هغې پورې التقاء د ساكنينو نه راځي لهذا لضرِبْنَ کې ليضربنن وايه او په لتضربن کې لتضربْنّن وايه؟ **جواب**: جمع مؤنث صيغو کې الف اګر كه نشته دى لكن كله چې ته نون تاكيد خفيفه متصل كوي الف به ورسره زياتي كوې بيا التقاء د ساكنينو راځي.

**سوال** اوس الف به ورسره ولې زياتي كوم؟ **جواب**: ځكه نون تاكيد خفيفه فرع د نون تاكيد ثقيله دي هغه اصل دي او هغه سره به الف زياتي كول دي لپاره چې لازم نه شي اجتماع د ثلاث نوناتو زئدات او نون تاكيد خفيفه سره به هم الف زياتي كوي، لپاره د دې چې لازم نه شي مخالفت د فرع د اصل خپل نه او خلك فرع د اصل خپل نه مخالفت كوي بلكه فرع تابع كوي د اصل خپل او نون تاكيد ثقيله راځي په تثنيه او جمع مؤنث کې لعدم التقاء الساكنين على غير حده على مذهب الجمهور او دا په دې کې مكسور وي لمشابهتها بنون التثنيه في وقوعها بعد الالف الزائدة.

| | |
|---|---|
| ٦٤٥- وألفا زد قبلها مؤكدا | فعلا إلى نون الإناث أسندا |

**تركيب**: **الفًا** مفعول به مقدم **مؤكدًا** حال از فاعل زد **فعلاً** موصوف مفعول به د مؤكدا **نون** متعلق أسند پورې **أسنداء** جمله صفت د فعلا.

**ترجمه**: او زيات كړه ته الف فاصل لره مخكې د نون تاكيد ثقيله نه په حال كون ستا کې چې ته تاكيد كوونكې يې د هغه فعل چې د هغه اسناد شوى دى نون ضمير د جمع مؤنث ته مثال

لكه اضرِبْنان شو لپاره د دې چې لازم نه شي اجتماع د ثلاث نونات زائدات او دا مستقل او مستكره دي په استعمال د كلام د عربو كې دې نون نه چې مخكې كوم الف راغلی دی هغې ته الف فاصل وائي ځكه دې جدائي راوسته په ما بين د نون ضمير د جمع مؤنث او نون تاكيد ثقيله كې، زائدات قيد چې ولګوو دې سره اعتراض دفع شو.

**سوال:** ته وائې اجتماع د نوناتو ناروا ده ليكونَن كې خو درې نونونه جمع شوي دي او په لِيَمُنن كې څلور نونونه جمع شوي دي؟ **جواب:** زه وايم اجتماع د ثلاثه نوناتو زائدات ناروا دي او په ليكونن كې دوه نونونه زائد دي او يو اصلي دي او په لِيَمْنن كې دوه نونونه اصلي دي او دوه زائد دي.

| | |
|---|---|
| ٦٤٦- واحذف خفيفة لساكن ردف | وبعد غير فتحة إذا تقف |

**تركيب:** **خفيفة** مفعول به **لساكنٍ** متعلق با حذف **لساكنٍ** موصوف **ردف** جمله صفت **بعدَ** متعلق با حذف **اذا** متعلق باحذف **تقف** جمله مضاف اليه.

**ترجمه:** او حذف كوه ته نون تاكيد خفيفه لره د وجې د التقاء د هغه حرف ساكن نه چې هغه وروسته د دينه راغلي دي ځكه د دې شان، شان د تنوين دی لكه تنوين نون ساكنه دي اتصال د حرف ساكن د وجې نه حذف كيږي دارنګه دا هم نون ساكنه دي كه د دې سره اتصال د حرف ساكن راشي حذف كيږي كما في قول الشاعر:

لَا تهين الْفَقِير علك أَن      تركع يَوْمًا والدهر قد رَفعه

علك: لغت دی په لعل كې. ان تركع: خبر بحذف المضاف. ٢: يا مصدر مبني للفاعل.

دا لاتُهينَ اصل كې لا تُهينَنْ وو كله چې الفقير ورسره يو ځای شو د هغه همزه په درج كې وغورځيده بيا التقاء د ساكنينو راغله على غير حده بين النون واللام دا نون تاكيد خفيفه حذف شو ځكه دا قابل د حركت نه دی چې مونږ دې له حركت وركړو التقاء د ساكنينو د وجې نه لاتهينن نه لاتُهينَ پاتې شو مبني على الفتحه، او كه دا نون تاكيد خفيفه وروسته د هغه حركت نه راغلي وو چې هغه غير د فتحې نه دی يعنی وروسته د ضمي نه او كسري نه راغلي وو په هغه وخت كې چې وقف وكړې د وقف د وجې نه دا حذف كوه مثال لكه: اضربُن كې اضربو وائي او اضربِن كې به اضربي وائي:

| | |
|---|---|
| ٦٤٧- واردد إذا حذفتها في الوقف ما | من أجلها في الوصل كان عدما |

**ترجمه:** او راوګرځوه بيرته كله چې ته حذف كړې دغه نون تاكيد خفيفه لره په حالت د وقف كې هغه حرف چې د وجې د دې نون تاكيد خفيفه نه په حالت د وصل كې معدوم شوي وو از جهت زوال مانع او چې علت د حذف د هغه حرف پاتې نه شو چې هغه التقاء د ساكنينو وو نون تاكيد

خفيفه سره مثال لكه: اضربُن کې وقف وکړي وقف د وجې نه دا نون به حذف شي هغه واو محذوفه به معاد شي اضربو به شي په اعادي د واو محذوفه سره، دارنګه اضربِن کې وقف وکړي وقف د وجې نه دا نون تاکيد خفيفه به حذف شي هغه يا محذوفه به معاد شي اضربي به شي په اعادي د يا محذوفه سره.

| | |
|---|---|
| ٦٤٨- وأبدلنها بعد فتح ألفا | وقفا كما تقول في قفن: قفا |

**تركيب: ابدلنها** مفعول اول **الفا** مفعول ثاني **وقفًا**. ۱: منصوب بنزع الخافض اي في الوقف. ۲: حال از فاعل ابدل **كما** خبر د مبتداء محذوف **في قفن** متعلق بتقول **قفا** مقوله د قول مفعول به.

**ترجمه**: او خامخا بدل کوه نون تاکيد خفيفه لره چې دا واقع شوي وو وروسته د فتحي نه الف سره په حالت د وقف کې لکه وائي به ته قفَن کې قفا کله چې ته وقف کوي په ابدل د نون تاکيد خفيفه الف سره.

**تشريح**: دا نون تاکيد خفيفه کې چې وقف کوي دا نون تاکيد خفيفه به خالي نه وي يا به واقع شوي وي پس د فتحي نه يا به واقع شوي وي پس د ضمي نه او د کسري نه که فتحي نه وروسته واقع شوي وو په حالت د وقف کې دا نون تاکيد خفيفه به الف سره بدل کړي لکه: اضربَن کې به اضربا وائي او قفَن کې به قفَا وائي او نحو قول الشاعر:

يحسبه الجاهلُ ما لم يعلما　　　شيخًا على كرسيهِ معممًا

کما مرَ، و قول الآخر:

فإيّاكَ والمَيتْاتِ لا تَقْرَبَنّها　　　ولا تَعْبُدِ الشَّيْطانَ واللهَ فاعْبُدَا

كان في الاصل فاعبدَنْ بنون التوكيد الخفيفة المنقلبة الفًا في الوقف، او که د ضمي او کسري نه وروسته واقع شوي وو بيا وقف د وجې نه دا نون تاکيد خفيفه حذف کيږي او کوم حرف چې اتصال د نون تاکيد خفيفه د وجې نه حذف شوی وو هغه به دوباره معاد کيږي د وجې د زوال د مانع نه لهذا اضربُن کې اضربو وائي په حالت د وقف کې او اضربِن کې اضربي وائي په حالت د وقف کې.

## ما لا ينصرف

دا بحث د هغه اسم دي چې په هغې کې کسره وا تنوين نه جاري کيږي اسم اولاً دوه قسمه دی. ۱: معرب. ۲: مبني، معرب بيا په دوه قسمه دي. ۱: منصرف. ۲: غير منصرف، دا منصرف او غير منصرف اقسام د اسم معرب دي فعل نه منصرف راځي او نه غير منصرف راځي، دارنګه اسم مبني نه منصرف راځي او نه غير منصرف راځي، غير منصرف يا لا ينصرف د نحويانو په اصطلاح کې هغه اسم معرب ته وائي چې په هغې کې دوه سببه راشي د اسبابو د منع صرف نه

مع شرائطه یا یو سبب راشي چې هغه قائم مقام د سببینو وي لکه صیغه د منتهی الجموع الف مقصوره الف ممدوده شو.

| | |
|---|---|
| ٦٤٩- الصَّرْفُ تَنوِينٌ أَتَى مُبَيِّنَا | مَعْنًى بِهِ يَكُونُ الاسْمُ أَمْكَنَا |

**ترکیب: الصرف** مبتداء **تنوین** موصوف خبر تنوین جمله صفت **مبینا** حال از ضمیر اتی **معنی** مفعول به موصوف **به** متعلق بیکون **امکنا** خبر د یکون جمله صفت.

**ترجمه:** صرف تنوین دي هسي تنوین چې راغلي وي په حال کون د دغه تنوین کې چې بیانونکې دي یو معنی لره هسي معنی چې په سبب ددغه معنی سره کیږي اسم امکن چې هغه عدم مشابهت د دي اسم دي فعل سره په وجود د فرعتینو کې.

**تشریح:** امکن یعني منصرف هغه اسم ته وائي چې په هغې کې اعراب ثلاثه مع التنوین راځي لکن مراد د تنوین نه تنوین تمکن دي نه تنوین عوضي او نه تنوین مقابله ځکه تنوین عوضي او تنوین مقابله په غیر منصرف کې هم راځي لکه دواعٍ، غواشٍ صیغه د منتهی الجموع کې تنوین عوضي راغلي دي او عرفات کې تنوین مقابله راغلي دي.

| | |
|---|---|
| ٦٥٠- فَأَلِفُ التَّأْنِيثِ مُطْلَقًا مَنَعْ | صَرْفَ الَّذِي حَوَاهُ كَيفَ مَا وَقَعْ |

**ترکیب: فالف** مبتداء **مطلقا** حال از ضمیر منع په حال کون د الف التانیث کې چې دا مطلق وي **منع** جمله خبر **صرف** مفعول به **حواه** جمله صله **کیف** اسم شرط **وقع** فعل شرط، جزا محذوف ده دل علیه الکلام السابق اي کیفما وقع فالف التانیث منع الصرف.

**ترجمه:** الف علامه د مؤنث مطلقًا چې مقصوره وي او که ممدوده وي منع کوي صرف د هغه اسم لره چې مشتمل دي او ګېره اچولي ده او احاطه کړي ده دغه الف په دغه اسم باندې په کوم یو صفت سره چې واقع شي برابره خبره ده چې دا اسم معرفه وي او که نکره وي مفرد وي او که جمع وي دا الف تانیث به دغه اسم لره غیر منصرف کوي مثال لکه: سلمی، حبلی، اسماء، حمراء، ځکه دا سبب واحد قائم مقام د سببینو دی ځکه په دې کې یو تانیث دي او بل لزوم د علامه د تانیث ده نو حکمًا دا دوه سببه شو ځکه دا سبب واحد قائم مقام د سببینو ګرځي.

| | |
|---|---|
| ٦٥١- وزائدا فعلان في وصف سلم | من أن یری بتاء تأنیث ختم |

**ترکیب: زائدا** موصوف، عطف علی ضمیر منع **في** په اعتبار د متعلق سره صفت د زائدا فعلان **وصف** موصوف سَلم جمله صفت **من** متعلق بسلم **بتاء** متعلق بختم **خُتم** جمله مفعول ثاني د یُرى.

**ترجمه:** بل سبب لپاره د لا ینصرف دوه حرف زائد د وزن د فعلان دي دا په یو اسم صفتي کې راشي په دې شرط سره چې هغه وصف بچ شوي وي د لیدلو نه په تای تانیث سره ختم کړی

شوي وي، يعنی الف نون مزيدتين چې په کلمه کې راشي سره د وصف نه دا هم منع کوي صرف لره لکن په دې شرط سره چې د دي مؤنث په تای تانيث سره نه وي مثال لکه: سکران شو دا غير منصرف دي د وجې د وصفيت او الف نون مزيدتين نه او شرط موجود دي چې مؤنث سکرې راغلي دي بې د تای تانيث نه او سَيفان او آليان منصرف دي ځکه مؤنث د دي سيفَانة او اليانة راغلي دي، سيفان طويل ته وائي او اليان منصرف دي تاتي والاته وائي.

| ٦٥٢- ووصف اصلي ووزن أفعلا | ممنوع تأنيث بتا كأشهلا |
| --- | --- |

**تركيب:** **وصف** معطوف على زائداً فعلان و **وزن** الواو بمعنى مع **ممنوع** حال من افعل **بتا** متعلق بتانيث ۲ : او بمحذوف صفة له **كاشهلا** خبر د مبتداء محذوف و ذلك كائن كاشهلا.

**ترجمه:** او بل سبب د اسبابو د منع صرف نه، وصفيت اصلي دي سره د وزن فعل نه راشي دا وزن فعل عام دی چې افعل په وزن باندې وي او که په دغه وزن باندې نوي په حال کون د افعل کې چې منع کړی شوی دی تانيث قياسي نه د تانيث بالتاء قياسي نه مثال د هغه وزن فعل چې منع کړی شوی دی د تای تانيث قياسي نه لکه اشهل شو، دا غير منصرف دي دوجي د وصفيت اصلي او وزن فعل قسم ثاني نه او شرط د دي موجود دي چې مؤنث شهلاء راغلي دي نه متلبس بالتاء، بل مثال د دې لکه اکبر شو مؤنث د دي کبرى راځي او که وزن فعل وو او مؤنث د هغې بالتاء راغلی وو هغه سبب لپاره د منع صرف نه دي. ۱ : مثال لکه يعمل شو مؤنث د دي يعملة راغلي دي. ۲ : عرب وائي ناقة يعملة. ۲ : مثال لکه: ارمل شو فقير ته وائي مؤنث د دي ارمَلَة راځي.

| ٦٥٣- وألْغِيَنَّ عارض الوصفيه | كأربع وعارض الإسميه |
| --- | --- |

**تركيب:** **عارض** مفعول به **كاربع** خبر د مبتداء محذوف **عارض** معطوف په عارض سابق باندې.

**ترجمه:** او خامخا برباد کړه ته هغه صفت لره چې عارضي وي اضافت د صفت موصوف ته شوي دي مثال لکه اربع شو په مررت بنسوةٍ اربعٍ کې ځکه وصفيت عارضي دي د وجې د عروض نه دا تاثير نه کوي په سببيت د منع صرف کې، او برباد کړه اسميت عارضي لره په دي شان سره که يو اسم په اصل وضع کې وصف وو بيا غلبه داسميت راغلي وه په وصفيت باندې هغه بيا هم غير منصرف دي د وجې د وصفيت نه ځکه غلبه د اسميت ضرر نه رسوي وصفيت اصلي ته، يعنی وصفيت عارضي برباد دي او لغو دي صرف نه منع صرف نه شي جوړولي ينصرفُ لا ينصرفُ نه شي جوړولي، او منصرف نه غير منصرف نه شي جوړولي، دارنګه اسميت عارضي برباد دی منع صرف نه صرف نه شي جوړولي.

| في الأصل وصفا انصرافه منع | ٦٥٤- فالأدهم القيد لكونه وضع |
|---|---|

**تركيب:** **فالادهم** مبتداء **القيد** عطف بيان **لكون** متعلق بوضع **وضع** جمله اسم د لكونه **في الاصل** متعلق بوضع **وصفًا** حال از ضمير وضع **انصرافه** مبتداء **منع** جمله خبر د مبتداء ثاني بيا جمله خبر د مبتداء اول.

**ترجمه:** هر كله چې اسميت عارضي برباد شو وصفيت اصلي معتبر شو پس ادهم چې هتكړى دي منع كړي شوي دي صرف د ده د وجې د كېدو د ادهم نه وضع كړي شوي وصف په اصل وضع كې.

| مصروفة وقد ينلن المنعا | ٦٥٥- وأجدل وأخيل وأفعى |
|---|---|

**تركيب:** **اجدل** مبتداء **مصرفة** خبر **قد ينلن** جمله مستانفه.

**ترجمه:** او اجدلُ لفظ او اخيل لفظ او افعى لفظ دا ټول منصرف دي او اړولي شوي دي د منع صرف نه په اتفاق د نحاتو سره ځكه دا په اعتبار داصل وضع سره اوصاف نه وو بلكه دا وضعًا هم اسماء دي اوس په استعمال د كلام د عربو كې هم اسماء دي، او كله كله مومي دا درې واړه منع لره د صرف نه چا دا قول كړي دي چې دا غير منصرف دي ځكه اجدل مشتق دي د جدل نه او جدل قوت ته وائي او اخيل برګ مارغه ته وائي مشتق دي د خُيول نه او خيول كثير الخيلان ته وائي، او خيلان جمع د خالّ ده او خال تور ټكي ته وائي، او افعى مشتق دي د فعوة نه او فعوة خبث ته وائي.

**تشريح:** بل سبب د اسبابو د منع د صرف نه وصف دي، وصف د دوى په اصطلاح كې هغه اسم ته وائي چې هغه دلالت كوي په ذات مبهمه باندې چې معتبر وي ورسره يو صفت د صفاتو نه لكه: احمر، اسود، ضاربُ، مضروب شو، بيا دا وصفيت دوه قسمه دي. ١: وصفيت اصلي دي. ٢: وصفيت عارضي دي وصفيت اصلي ديته وائي چې دا لفظ واضع وضع كړي دي معنى وصفي لپاره په دې شان سره په حين د وضع كې وصفيت معتبر وي د دې ذات سره، او وصفيت عارضي ديته وائي: چې دا لفظ واضع وضع كړيدي معنى اسمي لپاره او په حين د وضع كې وصفيت نه وو معتبر او دا معنى وصفي راغلي ده وروسته په استعمال كې د عارض استعمال د وجې نه مثال لكه: اربع شو اوارنب شو، وصفيت په دې دواړو كې عارضي دي اربع لفظ په اصل كې واضع وضع كړي دي د يوې مرتبې معين لپاره د مراتبو د عدد نه چې ما فوق الثلاثه و ما تحت الخمسه دي،او وصفيت عارض كيږي ديته په استعمال كې كله چې ته دا صفت واقع كړې معدود لپاره مثال لكه: مررت بنسوة اربع اي بنسوةٍ معدوداتٍ، او ارنب لفظ په اصل كې وضع شويدي د يو ذات لپاره چې هوسۍ ده او وصفيت عارض كيږي ديته په

استعمال کې چې خلك د ارنب نه جَبان اراده کوي او دا جبن په دي کې معنی وصفي عارضي ده او معتبر په منع صرف کې وصفیت اصلي دي د وجې د اصالت نه نه وصفیت عارضي د وجې د عروض نه لهذا اسودُ، احمرُ، ارقمُ غیر منصرف دي د وجې د وصفیت اصلي نه او ارنب منصرف دي د وجې د وصفیت عارضي نه، او دا وصفیت اصلي سبب دمنع صرف ګرځي په دري ځایونو کې. ۱ : وزن فعل سره چې هغه قابل د تا تانیث قیاسي نه وي فلا یردُ باسودَ لان مؤنثه اسودة اذا کان علمًا للحیة لانه خلاف القیاس، او قاعده مؤنث دده راځي سوداء که علم ئي وانه اخلي. ۲ : دا وصفیت اِصَلي سبب د منع صرف ګرځي عدل سره او الف نون مزیدتان سره په هغې کې هم دا شرط دي چې مؤنث چې مؤنث د هغې به بالتاء نه وي مثال لکه: عطشان او سکران شو، دا غیر منصرف دي بالاتفاق ځکه مؤنث د دي عطشَی او سکرَی راځي بدون التاء. ۲ : او سیفان او الیَان منصرف دي بالاتفاق ځکه مؤنث ددي سیفانة او الیَانة راځي په تای تانیث سره. ۳ : او لفظ د رحمان کې خلاف دي څوك وائي دا منصرف دي ځکه مؤنث د دې فعلی په وزن باندې نه دی راغلی او څوك وائي دا غیر منصرف دي ځکه مؤنث د دي بالتاء نه دي راغلي رحمانة، دارنګه ندمان لفظ ذو جهتین دي. ۱ : ندمان په معنی د ندیم سره واخلي مشتق دي د ندامة نه او ندامة په معنی د مکالمة او محادثة سره دي دا منصرف دي ځکه مؤنث د ده ندمانة راځي په تا سره. ۲ : او که دا په معنی د نادم سره واخلي مشتق دي دندم نه او ندم پریشانتیا ته وائي بیا دا غیر منصرف دي ځکه مؤنث د دي ندمی راځي بدون التاء.

**سوال:** غُفران ته غیر منصرف ووایه ځکه دوه سببه د اسبابو د منع صرف نه په دي کې موجود دي. ۱ : وصفیت دي. ۲ : الف نون مزیدتان دي، او شرط په دي کې موجود دي چې مؤنث د ده بالتاء نه دي راغلي ؟ **جواب** په دې کې وصفیت نشته دي ځکه وصف د نحویانو په اصطلاح کې هغه اسم ته وائي چې هغه دلالت کوي په ذات مبهمه باندې او معتبر وي ورسره یو صفت د صفاتو نه مصدر ته دوی وصف نه وائي ځکه دا دلالت نه کوي په ذات باندې. ۳ : دا وصفیت اصلي سبب د منع صرف ګرځي عدل سره لکه دي خبري ته اشاره کوي ناظم په دي بیت کې:

| | |
|---|---|
| ٦٥٦- وَمَنْعُ عَدْلٍ مَعَ وَصْفٍ مُعتَبَر | فِي لَفْظِ مَثْنَى وثُلاَثَ وأُخَرْ |

**ترکیب:** منع مبتداء **عدل** موصوف **وصف** صفتِ یا حال **في لفظ** متعلق بالمعتبر.

**ترجمه:** او بل سبب د اسبابو د منع صرف نه عدل دي او منع کول د عدل صرف لره په حال کون د عدل کې چې مقرون وي سره د وصف نه معتبر دي په لفظ د مثنَی او ثلاث او اخرُ کې ځکه په دي دریواړو الفاظو کې یو وصفیت اصلي دي چې هغه تکرار دي په مثنی او ثلث کې او

وروسته والي دي په أخر کې او بل سبب په دي درې وارو الفاظو کې عدل تحقيقي دي ځکه مثنى معدول دي د اثنان اثنان نه او ثلاث معدول دي دثلاثة ثلاثة نه مثال لکه جاءني القوم مثنى د دې معنى دا ده جاء القومُ اثنانِ اثنانِ جاءني القومُ ثُلثُ ددي معنى دا ده: جاءني القومُ ثلاثة ثلاثة،او أُخرُ معدول دي د الاخرُ نه نحو قوله تعالى **فعدة من أخر**

| | |
|---|---|
| ٦٥٧- وَوزنُ مَثْنَى وثُلاثَ كَهُمَا | مِنْ واحدٍ لأربعٍ فَليُعلمَا |

**تركيب:** **و وزن** مبتداء **كهما** خبر **واحدٍ** حال **لاربع** حال از ضمير مستتر در خبر **فليُعلما** الالف بدل من نون التاكيد للوقف.

**ترجمه:** وزن د مَثنَى او وزن د ثُلث پشان د مثنَى او ثلث ثابت دي په منع صرف کې د واحد نه واخله تر اربع پورې دا کار به خامخا معلوم کړي شي چې دا وزن جوړول مثنى او ثلث په شان په اعداد کې. ١ : ختم دي په دي اربع پورې د هغې نه هغه ماسوا کې به نه جوړوي ځکه سمع په دې ځای پورې شوي ده کما في قوله تعالى مثنَى و ثلاثُ و رُباع نو واحد کې به أُحاد د مَوْحَد به وائي او اثنان کې به ثُنايَ مثنَى به وائي،او ثلث کې ثلث مثلثُ به وائي، او اربع کې به رُباع مربع به وائي بيا د هغينه هغه خوا اعداد کې به نه جوړوئ ٢ : کوفيان او زجاج وائي: د دينه علاوه نور اعدادو کې هم جوړولي شي تر عشر پورې لکه: خُماس مخمسُ، سُداسُ مسدسُ، سُباع مسبعُ، ثُمانُ مثمنُ، تُساعُ متسعُ، عُشارُ معشرُ شو، دا اګرکه مسموع من العرب نه دي لکن دي لره قياس کوي په ما تحت باندې د وجې د علت مشترکه نه په ما بين ددوی کې چې اصول الاعداد دي.

| | |
|---|---|
| ٦٥٨- وكُن لِجمعٍ مُشبهٍ مَفَاعِلا | أوِ المفاعيلَ بِمنعٍ كافِلاً |

**تركيب:** **لجمع** متعلق بکافلا **جمع** موصوف **مشبه** صفت **مفاعلا** مفعول به د مشبه **بمنع** متعلق بکافلاً **کافلا** خبر کن.

**ترجمه** :او شه ته ذمه وار په منع صرف سره لپاره د هغه جمع چې هغه مشابه وي په لفظ کې مفاعل سره يا مشابه وي مفاعيل سره.

**تشريح:** **يعنى** بل سبب د اسبابو د منع د صرف نه صيغه د منتهى الجموع ده او دا هغه سبب دي چې ايک يواځي قائميږي په مقام د سببينو باندې ځکه په دي کې يو جمع ده او بل لزوم د جمع دي يا تکرار د جمع دي نو دا په منزله د سببينو شو ځکه صيغه د منتهى الجموع د وجينه کلمه غير منصرف ګرځي او دا صيغه د منتهى الجموع دوه قسمه ده. ١ : صيغه د منتهى الجموع قسم اول ده چې اول او ثاني متحرك وي او دريم ځای کې الف علامه د جمع تکسير راغلي وي

د هغې نه بعد حرفان متحركان اولها مكسور وي مثال لكه: مساجدُ شو. ٢: او صيغه د منتهى الجموع قسم ثاني ديته وائي چې اول او ثاني متحرك وي او دريم ځاى كې الف علامه د جمع تكسير راغلي وي او د هغې نه بعد حروف ثلاثه اوسطها ساكن راغلي وي مثال لكه: مصابيح شو اوزان د صيغه د منتهى الجموع قسم اول راځي افاعل نحو اناصر، مساجد مفاعل، نواصر فواعل، دراهم فعالل، صيارف فياعل، تجارب و تنابلُ تفاعل وزن باندې جمع تجربة و تنبل بر وزن فعائل نحو صحائف درهم قصير ته وائي، او اوزان د صيغه د متهى الجموع قسم ثاني راځي اساليب افاعيل، مصابيح مفاعيل، طواحين فواعيل، دنانير فعاليل، فعائيل وزن باندې نه دى راغلي، دياجير فياعيل، دياجير ديجور ظلمة، تفاعيل وزن باندې نحو تسابيح، تقاسيم، تراويح، جمع تسبيحة و تقسيم و ترويحة، بل راځي فعالي په وزن باندې صيغه د منتهى الجموع قسم ثاني نحو علابيُ كراسيُ جمع علباء و كرسي نو مجموعه څوارلس اوزان شو، صيغه د منتهى الجموع لپاره په دي اوزان باندې چې چيرته اسم راشي په استعمال د كلام د عربو كې هغه به غير منصرف وي، اوس په دې وزن باندې صيغه د منتهى الجموع راشي هغې ته به كتلي شي چې دا صحيح ده او كه ناقص دي كه صحيح وو د صحيح كار به هغې سره كرلي شي او كه صحيح نه وو بلكه د معتلو نه وو بيا د معتل كار هغې سره كولي شي په حالت رفعي اوحالت جري كې.

| ٦٥٩- وَذَا اعتِلالٍ مِنهُ كالجَوَارِي | رفعًا وجَرًّا أجْرِه كَسارِي |
| --- | --- |

**تركيب:** وذاما اضمر عامله على شريطة التفسير **منه** متعلق باعتلال. **الجواري** حال از اعتلال. **رفعًا** منصوب بنزع الخافض. **كساري** متعلق اجر پوري، يا كاف بمعنى مثل مفعول مطلق من غير لفظه اي مثل اجراء ساري.

**ترجمه:** جاري كوه ته خاوند د حرف علت لره د دې صيغي د منتهى الجموع نه لكه جواري شو په حالت رفعي او په حالت جري كې پشان د سارٍ په حذف د يا او په تعويض د تنوين كې اما په حالت نصبي كې په بقا د يا سره منصوب بالفتحه به وي بلا تنوين نحو: هذه جوارٍ و رايتُ جواريَ و مررتُ بجوارٍ دا په حالت د نصب كې غير منصرف دي بالاتفاق د وجې د بقا د صيغه د منتهى الجموع نه او په حالت رفعي او جري كې صيغه د منتهى الجموع باقي نه ده په هغې كې خلاف دي څوك وائي دا غير منصرف دي او څوك وائي منصرف دي.

| ٦٦٠- ولِسَراويلَ بِهذا الجمعِ | شَبَهٌ اقتضى عمومَ المَنعِ |
| --- | --- |

**تركيب:** **لسراويل** خبر مقدم. **بهذا** متعلق بشبه. **شبهٌ** مبتداء مؤخر موصوف. **اقتضى** جمله صفت. **المنع**

مفعول به.

**ترجمه**: او مشابهت لفظي د دي صيغه منتهى الجموع سره ثابت دي سراويل لپاره او دغه مشابهت لفظي تقاضا کوي عموم د منع صرف لره.

**تشريح**: **يعنی** دا لفظ د سراويل اگر که جمع صيغه نه ده بلکه مفرد دي لکن دا غير منصرف دي په هر صورت باندي چې برابره خبره ده چې دا لفظ عربي وي او که عجمي وي د وجې د مشابهت د دي نه صيغه د منتهى الجموع قسم ثاني سره ځکه مشبه حکم د مشبه به اخلي لهذا حکم د هغې واخست چې منع صرف دي.

| | |
|---|---|
| ٦٦١- وإنْ بِهِ سُمِّيَ أو بِمَا لَحِقْ | بِهِ فالانصرافُ مَنعهُ يَحِقْ |

**ترکيب**: **به** متعلق دي سمى پورې نائب فاعل چې ظرف يا جار مجرور راشي د هغې تقديم جائز دي د وجې د عدم التباس نه **الانصراف** مبتداء اول **منعه** مبتداء ثاني **يحق** جمله خبر.

**ترجمه**: کچيري نوم کېخودلي شوي وو په دي صيغه د منتهى الجموع سره يا په هغه لفظ سره چې هغه ملحق ده او مشابه ده صيغه د منتهى الجموع سره لکه سراويل شو پس انصراف منع د دي انصراف واجب ده مثال لکه: سراويل او مساجد لفظ لپاره علم وګرځوي بيا به هم په دي کې اعراب د غير منصرف وائي لکه: حضاجر علم دي ضبع لپاره او غير منصرف دي د وجې د جمعيت اصلي نه او جمع عام ده چې حالي وي او که وضعي وي.

| | |
|---|---|
| ٦٦٢- والعلم امنع صرفه مرکبا | ترکيب مزج نحو: "معد يکربا" |

**ترکيب**: **العلم** ما اضمر عامله على شريطة التفسير. **مرکبًا** حال از ضمير صرفه. **ترکيب** مفعول مطلق. **نحو** خبر د مبتداء محذوف اي و ذلك نحو معديکرب.

**ترجمه**: او منع کوه ته علم لره د انصراف نه په حال کون د دي علم کې چې دا مرکب وي په ترکيب امتزاجي سره نه په ترکيب اضافي سره او نه ترکيب صوتي سره او نه ترکيب توصيفي او نه ترکيب بنائي او نه ترکيب اسنادي سره ځکه دا سبب لپاره د منع صرف نه ګرځي ځکه مرکب تعدادي او مرکب صوتي او مرکب اسنادي درې واړه د قبيلي د مبنياتو نه دي او منصرف او غير منصرف دا اقسام د اسم معرب دي او مرکب اضافي سبب د منع صرف نه ګرځي ځکه اضافت د وجې نه غير منصرف منصرف ګرځي مثال د علم مرکب په ترکيب امتزاجي سره چې غير منصرف دي د وجې د علميت او ترکيب نه لکه معديکرب، او حضرت موت، او بعلبك شو.

| | |
|---|---|
| ٦٦٣- كَذَاكَ حاوِي زائِدَي فَعْلاَنَا | كَغَطفانَ وكَأَصْبَهَانَا |

**ترکيب**: **كذاك** خبر مقدم **حاوي** مبتداء مؤخر **غطفان** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**:او دغسې منع كوه صرف د هغه علم لره چې هغه مشتمل وي په دوه حرف زائدو د وزن فعلان باندې مراد په دې وزن فعلان سره هر هغه اسم دې چې د هغې په اخير كې الف نون مزيدتين راغلي وي بيا عام دې چې مفتوح الفاء وي لكه غَطفان شو دا نوم دې په عربو كې يو قوم لپاره، يا مكسور الفاء وي لكه عِمران او اِصبهان شو چې دا اصبهان نوم د وطن دې يا مضموم الفاء وي لكه عثمان شو، دا درې واړه غير منصرف دي د وجې د علميت او الف نون مزيدتين نه.

| | |
|---|---|
| ٦٦٤- كَذَا مُؤَنَّثٌ بهاءٍ مُطلَقًا | وشرطُ مَنعِ العَارِ كَونُهُ ارتقى |

**تركيب**: **كذا** خبر مقدم **مؤنث** مبتداء مؤخر **بهاء** متعلق بمؤنث **مطلقا** حال از ضمير خبر **شرط** مبتداء **كونه** خبر **ارتقى** جمله خبر د كون.

**ترجمه**:او داسې منع كوه ته صرف د علم لره چې دا مؤنث دي په تاى تانيث لفظي سره په حال كون د دغه مؤنث بالتاء كې چې دا مطلق دي برابره خبره ده. ١ : چې دا علم د مذكر ګرځيدلي وي لكه طلحة شو، او كه علم د مؤنث وي لكه فاطمه شو. ٢ : زائد على ثلاثة احرف وي لكه فاطمه شو، او كه نه وي لكه قلت شو چې چا لپاره علم وګرځوي، او شرط د منع صرف د هغه مؤنث چې عاري دي د تاى تانيث نه لفظًا كېدل د دغه علم دي ختلي او بره د ثلاثه نه.

| | |
|---|---|
| ٦٦٥- فوقَ الثلاثِ أو كجُورَ أو سَقرَ | أو زيدَ اسمَ امرأةٍ لاَ اسمَ ذَكرَ |

**تركيب**: **او كجور** معطوف على ارتقى **زيد** حال از زيد **لااسم** عطف على اسم امراة.

**ترجمه**:دپاسه د حروف ثلاثه ؤ نه مثال لكه زينب شو يا كېدل د دغه علم دي پشان د جور باندې يعنى عجمه به وي يا كېدل د دغه علم دي پشان د سقرُ يعنى متحرك الاوسط به وي خكه كه زائد على ثلاثة احرف نه شي او عجمه نه شي او متحرك الاوسط نه شي نو شي به ثلاثي ساكن الاوسط عربي حاصل به شي په دي كې خفت دا به معارض شي هغه ثقل د سببينو سره هغه سببين به د تاثير نه وباسي وجوبًا، يا كېدل د دغه علم دي په شان د زيد په حال كون د دي زيد كې چې دا علم واخلي د يوي زنانه لپاره نه لپاره د مذكر مراد په زيد سره هر هغه اسم دي چې مشهور وي په اسماء د مذكر كې او ثلاثي عربي ساكن الاوسط وي او ته دغه اسم لره علم وګرځوي د يوي زنانه لپاره. ١ : دا به غير منصرف وي وجوبًا د وجې د علميت او تانيث معنوي نه اګر كه دا ثلاثي ساكن الاوسط عربي دي كه مونږ دا غير منصرف مستعمل نه كړو بيا التباس راځي د دي مؤنث مذكر سره په دي شان سره ستا مراد به د دينه مؤنث به وي او مخاطب به ددينه مذكر اراده كوي خكه دا مشهور دي په مذكر كې. ٢ : بل د فعل اسناد وشي اسم ظاهر مؤنث حقيقي ته مع الفصل هلته تذكير او تانيث د فعل دواړه جائز دي نحو: ضربت

اليوم هند ضرب اليوم هند لكن دلته سره د فصل نه تانيث د فعل واجب دي لپاره د دي خبرې چې لازم نه شي التباس د مؤنث د مذكر سره نو قامتِ اليوم زيد به وائي وجوبًا كله چې دا علم ګرځيدلي وي مؤنث لپاره.

| ٦٦٦- وَجهانِ في العادِمِ تذكيرًا سَبقْ | وعُجمَةً كهندَ والمنعُ أحَقْ |
|---|---|

**تركيب:** **وجهان** مبتداء، في العام خبر **تذكيرًا** موصوف **سبق** جمله صفت موصوف سره د صفت نه مفعول به عادم لپاره **كهند** خبر د مبتداء محذوف **المنع** مبتداء **احق** خبر.

**ترجمه:** دوه وجې روا دي په هغه تانيث معنوي ثلاثي ساكن الاوسط کې چې هغه ورك كونكې وي تذكير سابق لره، دارنګه عجمه لره مثال لكه هند شو چې دا ثلاثي ساكن الاوسط دي او په دي کي عجمه نشته دي دارنګه تذكير سابق نشته دي اوس په دي کې تا لپاره دوه وجې روا دي منصرف مستعمل كول او غير منصرف مستعمل كول، لكن منع صرف غوره دي د صرف نه د وجې د وجود د سببينو نه، بيا دي ناظم العادم تذكيراً سبقَ وويل خكه كه دا تانيث معنوي ثلاثي ساكن الاوسط مخكې علم وو مذكر لپاره بيا علم وګرځوي مؤنث لپاره په هغې کې دوه وجې روا نه دي بلكه منع صرف واجب ده مثال لكه زيد شو كما مر.

| ٦٦٧- والعَجَميُّ الوضعِ والتَّعريفِ مَعْ | زيدٍ على الثلاثِ صرْفُهُ امْتنعْ |
|---|---|

**تركيب:** **العجمي** مبتداء اول مضاف لانه مشتقي تاويلاً **الوضع** مضاف اليه **التعريف** حال از ضمير العجمي **على الثلاث** متعلق بزيد بمعنى الزيادة **صرفه** مبتداء ثاني **امتنع** جمله خبر د مبتداء ثاني بيا جمله خبر د مبتداء اول.

**ترجمه:** او هغه اسم چې عجمي وي په اعتبار د اصل وضع سره او علم وو په اعتبار د اصل وضع سره په حال كون د دي اسم عجمي الوضع کې چې دا معنى ده زيادت سره په دريو حرفونو باندې منصرف كول د دغه اسم عجمي چې علم دي او زائد على ثلاثة احرف دي ممتنع دي بلكه وجوبًا به دا غير منصرف وي.

**تشريح:** يعنى بل سبب د اسبابو د منع صرف نه عجمه ده او عجمه سبب لپاره د منع صرف هله ګرځي ۱ چې دا علم وي په لغت عجمي کې حقيقةً يا حكمًا، حقيقةً لكه ابراهيم شو حكمًا لكه قالون شو ۲ : او زائد على ثلاثة احرف وي مثال لكه اسماعيل او اسحاق شو، او كه دا علم نه وو په لغت عجمي کې بيا لغت عربي ته را نقل كړې علم وګرځوي لكه لجام شو يا علم خو دي په لغت عجمي کې لكن زائد على ثلاثة احرف نه دي بيا عام دي چې ساكن الاوسط وي لكه نوح شو، يا متحرك الاوسط وي لكه شترُ او لمك شو چې دا لمك متو شلح بن نوح خوئ وو او

دي ته صاحب د كافيه غير منصرف ويلې دي ځكه هغه وائي شرط لپاره تاثير د عجمه په منع صرف كې. ۱: كون د ده دي عجمه په لغت د عجمو كې. ۲: زائد على ثلاثة احرف وي. ۳: كه زائد على ثلاثة احرف نه وي متحرك الاوسط به وي و شتر و ابراهيم ممتنع ځكه شتر متحرك الاوسط دي او ابراهيم زائد على ثلاثة احرف دي

| ٦٦٨- كَذَاكَ ذو وزنٍ يَخصُّ الفِعلا | أو غالبٍ كأحمَدٍ ويَعلى |
|---|---|

**تركيب كذاك** خبر مقدم **ذو** مبتداء مؤخر **وزن** موصوف، **يخص** جمله صفت **الفعلا** مفعول به **او غالب** عطف على يخص **احمد** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**:او دغسې منع به وي د هغه اسم چې هغه خاوند د وزن وي او خاص وي دا وزن په دي فعل پورې مثال لكه شمرا او ضرب شو كله چې علم وګرځوي، يا به دا وزن غالب وي په فعل كې مثال لكه احمد او يعلى شو.

**تشريح**: يعنى بل سبب د اسبابو د منع صرف نه وزن فعل دي دا وزن فعل سبب لپاره د منع صرف هله ګرځي چې ا وزن مختص وي په فعل پورې يا به غالب وي په فعل كې او په اسم كې به ډير كم موجود كيږي د دي علامه دا ده چې د دي فعل اول سر كې به يو حرف راغلي وي د حروف اتين نه، مثال لكه تغلبُ او يشكرُ، او احمدُ او يزيدُ او يعلى شو، دا ټول غير منصرف دي د وجې د علميت او وزن فعل نه او كه دا وزن مختص نه وو فعل پورې او نه غالب وو په دي فعل كې بيا دا منصرف دي لكه جعفَر شو يا لكه ضَرَبَ شو چې دا د چا لپاره علم وګرځوي.

| ٦٦٩- وَمَا يَصيرُ عَلمًا مِن ذِي ألِفْ | زِيدتْ لإلحاقٍ فَلَيسَ ينصرِفْ |
|---|---|

**تركيب**: **ما** موصوله مبتداء متضمن معنى د حرف شرط لره **علما** خبر د يصير **ذى** متعلق بيصير **زيدت** متعلق بزيدت **الف** موصوف **زيدت** جمله صفت، **لالحاق** متعلق دى زيدت پورې **ليس** جمله خبر د مبتداء متضمن بمعنى الشرط **ينصرف** جمله خبر د ليس.

**ترجمه**:او هغه اسم چې وګرځي علم د هغه لفظ نه چې هغه خاوند د الف وي هسې الف چې هغه زيات شوي وي لپاره د الحاق دا به منصرف نوي بلكه دا به غير منصرف وي د وجې د علميت او هغه الف نه چې مشابه دي الف التانيث سره مثال لكه ارطى او ذفرى شو ملحق دي جعفر او درهم پورې، او كه دا علم نه وو يا همزه زياته كړي وه الحق لپاره لكه علباء شو دا چا لپاره علم ګرځوي او كه نه دا منصرف دي.

| ٦٧٠- والعَلَم امْنَعْ صرفَهُ إن عُدِلاَ | كَفُعَلِ التوكيدِ أو كَثُعَلا |
|---|---|

**تركيب**: العلمَ ما اضمر عامله على شريطة التفسير.

**ترجمه:** او منع کوه ته صرف د علم کچیري عدل کړي شوي وو په دغه علم کې مثال لکه هغه اسم شو چې هغه په وزن د فُعَل راځي لپاره د تاکید لکه جُمَعُ شو یا لکه ثُعَلُ شو دارنګه عمر او زفر او زحل شو چې دا غیر منصرف دي ځکه په دي کې یو علمیت دي او بل عدل تقدیري دي چې عمر معدول دي د عامر نه او زفر معدول دي د زافر نه او ثعل معدول دي د ثاعل نه او زحل معدول دي د زاحل نه او جُمع غیر منصرف دي ځکه په دي کې یو علم علم جنس دي لأنه علم التاکید، د دې د وجې نه دا تاکید د معرفه لپاره راځي او بل بدل تحقیقي دي چې دا معدول دي د جمعاوات نه ځکه جُمَعُ جمع د جمعاء دي او مؤنث فعلاء وزن باندې راشي هلته قاعده دا ده د هغې جمع راځي فعلاوات په وزن باندې لکه صحراء جمع صحراوات راځي دلته جمعاء جمع راغلي ده جُمَعُ دینه معلومه شوه چې دا معدول دي جمعاوات نه.

| ٦٧١- والعَدْلُ والتانیث مَانِعًا سَحَرْ | إِذَا بِهِ التعیینُ قَصْدًا یُعْتَبَرْ |
|---|---|

**ترکیب:** **العدل** مبتداء **مانعًا** خبر **اذا** متعلق بمانعا **به** متعلق بیعتبر، نائب فاعل بفعل محذوف یفسر بعده **قصدًا** حال از ضمیر مستتر **یعتبر** مفسر بفعل محذوف.

**ترجمه:** عدل او تانیث دواړه چې یو ځای شي دا دواړه منع کونکې دي سحر لفظ لره چې دا معدول دي السحر نه کله چې دا سحر معتبر کړي شي معین سحر په اعتبار د قصد سره او که متعین یې قصد کړې نه وو بیا دا منصرف دي.

**خلاصه د ما سبق دا ده:** چې غیر منصرف دوه قسمه دي. ۱ : هغه دا چې سبب واحد قائم مقام د علتینو دي لکه صیغه د منتهی الجموع او الفي التانیث شو. ۲ : هغه دي چې په هغې کې دوه سبب د اسبابو د منع صرف نه راغلي دي اوس په دي سببینو کې یو سبب به یا به علمیت وي یا به وصفیت وي وصف سبب د منع صرف لپاره راځي درې ځای کې. ۱ : وزن فعل سره. ۲ : الف نون مزیدتین سره. ۳ : عدل سره او دا علم سبب لپاره د منع صرف راځي اووه ځایونو کې.

۱ : تای تانیث سره. ۲ : عجمه سره. ۳ : وزن فعل سره. ٤ : ترکیب سره ٥ : الف نون مزیدتین سره.

٦: د هغه اسم سره چې د هغې په اخیر کې الف زائد الحاق لپاره راغلي وي. ۷ : عدل سره بیا دا تعریف عدل سره چې جمع شي درې ځایونو کې صرف لره منع کوي. ۱ : په علم مذکر کې نحو عمر. ۲ : جمع مؤکد کې. ۳ : په لفظ د سحر کې کله چې د دینه معنی سحر اراده کړي شي.

| ٦٧٢- وابن علی الکسر فعال علما | مؤنثًا وهو نظیر جشما |
|---|---|

**ترکیب:** **فعال** مفعول به **علمًا** حال از فعال **مؤنثًا** ۱: صفت. ۲ : یا حال ثاني **عند** دا متعلق دي نظیر پورې او د دي بل متعلق محذوف دي او عند مضاف دي بحذف المضاف اي و فعال علمًا

مؤنثًا نظير جشما عند بني تميم في اعرابه اعراب ما لا ينصرف.

**ترجمه**: او مبني کوه ته په کسري باندې هغه اسم لره چې هغه فعال وزن باندې دي په حال کون د دغه اسم کې چې علم وي لپاره د اعيان د مؤنثو غير ذوات الراء دا نظير د جُثَمُ دي په نزد د بني تميم باندې لکه څنګه چې جثم غير منصرف دي يو پکې علميت دي او بل پکې عدل تقديري دي دارنګه دا فَعال علم مؤنث غير ذوات الرا نه لکه: قطام، او غلابِ، او رباب شو دا غير منصرف دي د بني تميم په نزد باندې د وجې د وجود د علميت او د عدل تقديري نه چې دا قطام معدول دي د قاطمة نه او غلاب معدول دي د غالبة نه اما د حجازينو په نزد باندې فعالِ علمي مطلقًا د مبنياتو نه دي چې هغه د ذوات الراء نه وي او که غير ذوات الراء نه وي ځکه دا مشابه دي فعال امري سره عدلاً و زنةً او فعال علمي ذوات الراء کې اکثر بني تميم موافق دي حجازينو سره په بناء کې او بعضي بني تميم ديته هم معرب وائي په اعراب د غير منصرف سره.

| | |
|---|---|
| ٦٧٣- عند تميم واصرفن ما نكرا | من كل ما التعريف فيه أثرا |

**ترکيب**: **ما** موصوله مفعول به **نكرا** جمله صله **من** په اعتبار د متعلق سره حال واقع شوي د ما نه **ما** موصوله **التعريف** مبتداء **فيه** متعلق باثر **اثرا** ضمير مستتر هو فاعل جمله خبر بيا جمله صله د موصول.

**ترجمه**: او خامخا منصرف کړه ته هغه اسم غير منصرف لره چې نکره کړي شي د هر هغه غير منصرف نه چې علميت پکې تاثير د منع صرف کړي وو په هغې کې.

**تشريح**: څلور ځايونو کې علميت تاثير کوي په طريقه د شرطيت او سببيت دواړو سره لکه. ۱: تای تانيث لفظي. ۲: عجمه. ۳: ترکيب. ٤: او الف نون مزيدتين کې شو، او په دوه ځايونو کې تاثير کوي په منع صرف کې فقط په طريقي د سببيت سره بي د شرطيت نه لکه عدل او وزن فعل کې شو، اوس ته دغه غير منصرف لره نکره کړي بلا سبب لکه دغه څلور ځايونه شو ځکه انتفاء د شرط مستلزم ده انتفاء د مشروط لره او علی سبب واحد لکه عدل او وزن فعل کې شو، اوس که علميت پکې تاثير نه وو کړي لکه صيغه د منتهی الجموع او الفي التانيث چا دپار علم کړي بيا غير منصرف دي او که نکره کړي بيا هم غير منصرف دي ځکه علميت په دي کې تاثير نه شرطًا کړي او نه سببًا کړي دي، اوس معرفي نه چې نکره جوړوي د هغې طريقي دوه دي. ۱: د دي علم نه اراده وکړي وصف مشهور نحو لكل فرعون موسى اي لكل مبطل محق. ۲: د دينه يو مسمی اراده کړي لاعلی التعيين نحو: جاءني عمر من العمرين، جاءتني فاطمة من الفاطمات.

| | |
|---|---|
| ٦٧٤- وَمَا يكونُ مِنهُ مَنقوصًا ففي | إعرابهِ نَهجَ جَوارٍ يَقتفي |

**ترکيب**: **ما** موصوله مبتداء **يكون** جمله صله **منه** متعلق بيكون **منقوصًا** خبر د يكون **ففي** متعلق

بيقتفي نهج مفعول به مقدم يقتفي جمله خبر لپاره د مبتداء چې ما موصوله ده.

**ترجمه**: او هغه اسم چې وي د دي غير منصرف نه منقوص، تابعداري كوي دغه اسم په معرب والي كې لاره د جوارٍ مثال لكه: قاض شو دا نه علم وګرځوي د يوې زنانه لپاره دا غير منصرف دي د وجې د علميت او د تانيث معنوي نه دا به معرب كولي شي په اعراب د جوارٍ سره چې دا صيغه د منتهى الجموع اسم منقوص غير منصرف ده په دې شان سره په حالت رفعي او جري كې به په تقدير د ضمه او كسره سره به وي او كه دا يا حذف شوي وه په عوض كې به تنوين راوړي او په حالت نصبي كې به فتحه سره به وي لفظًا بالتنوين نو لهذا جاءتني قاضٍ و رايت قاضيَ و مررتُ بقاضٍ به وائي.

| ٦٧٥- ولاضطرار، أو تناسب صرف | ذو المنع والمصروف قد لا ينصرف |
|---|---|

**تركيب**: ومتعلق صرف پورې ذونائب فاعل **المصروف** مبتداء **لاينصرف** خبر.

**ترجمه**: او د وجې د ضرورت شعري نه او يا د وجې د تناسب پيدا كولو نه د منصرف سره منصرف ګرځولي شي غير منصرف، او هغه اسم چې منصرف وو وضعًا كله كله غير منصرف شي د وجې د ضرورت شعري نه، مثال د تناسب كما في قوله تعالى: ﴿سَلَٰسِلَاْ وَأَغْلَٰلًا﴾ اغلال منصرف دي او سلاسل غير منصرف دي ځكه صيغه د منتهى الجموع ده په دي كې تنوين ويلى شوى دى لپاره د تناسب د اغلالاً سره، بل مثال قوله تعالى: ﴿وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا﴾ ود او نسر منصرف دي لعدم وجود الشرط و هو الزيادة على الثلاثة كما مر، او سواع او يعوق او يغوث دا درې واړه غير منصرف دي د وجې د علميت او عجمه نه او شرط په دي كې موجود دي چې زيادت على الثلاثه دي، او سُواع كې تنوين ويلي شوي دي لپاره د تناسب د وداً سره، او مثال د ضرورت شعري كما في قول فاطمة رضي الله عنها:

صُبت علي مصائبُ لو انها صُبت على الايام صرن لياليًا

مصائب او ليالي غير منصرف دي ځكه صيغه د منتهى الجموع قسم اول دي او تنوين په دي كې راغلي دي د وجې د ضرورت شعري نه، او بل مثال د دي لكه دا قول د شاعر شو

لها حِكمُ لقمانٍ و صورةُ يوسفٍ نغمةُ داودٍ و عفةُ مريمَ

مثال د منصرف چې غير منصرف ګرځيدلى دى د وجې د ضرورت شعري نه.

و ممن ولدوا عا مرُ ذو الطولِ و ذو العرضِ

ممن خبر مقدم عامر مبتداء مؤخر الطول صفت اول ذو العرض صفت ثاني.

يعني غټ او فراخ جسم والا سړی، اوس دلته کې عامر منصرف دي لوجود العلمية فقط دا غير منصرف ګرځي دا په دي شان سره تنوين نه دي ويلي، اوس دا تنوين ولي نه دي ويلي د وجې د ضرورت شعري نه. ۱ : ضرورت شعري د وجې نه غيرمنصرف نه منصرف جوړولي شي دا مسئله اتفاقي ده د ټول. ۲ : ضرورت شعري د وجې نه منصرف نه غير منصرف جوړولي شي او که نه دا مسئله اختلافي ده. ۱ : کوفيان او اخفش او فارسي وائي غير منصرف کولي شي.
۲ : اکثر بصريان وائي: منصرف نه غير منصرف نشي جوړولي او غوره خبره دا ده چې غير منصرف کولي شي دليل لکه دا قول د شاعر شو.

## اعرابُ الفعل

دا ما سياتي تر يو حده پورې بيان د اعراب د فعل مضارع دي دلته کې د فعل نه مراد فعل مضارع ده ځکه فعل دري قسمه دي: ماضي، مضارع، امر حاضر په دي دري قسمونو فعل کې فقط دا فعل مضارع معرب ده د وجې د مشابهت تامه نه، اسم فاعل سره په دي شرط سره چې دا خالي وي د نون تاکيد ثقيله او خفيفه او د نون ضمير فاعل نه معرب چې وي دا به اعراب غواړي او اعراب د مضارع دري دي: رفع، نصب، جزم، او جر په دي کې نه راځي لکه څنګه چې جزم په اسم کې نه راځي دا رفع او نصب مشترک دي بين الاسم و الفعل او جر مختص دي په اسم پورې په فعل کې نه راځي ځه دا اثر د حرف جر دي او دخول د حرف جر مختص دی په اسم پورې دا جر هم مختص شو په اسم پورې لپاره د دې چې لازم نه شي مخالفت د اثر د مؤثر کسبي خپل نه او دا جائز نه دي، او جزم مختص دی په فعل پورې په اسم کې نه راځي ځکه دا اثر د عامل جازم دي او دخول د عامل جازمه مختص دی په فعل پورې دا جزم هم مختص شو په فعل پورې لپاره د دې چې لازم نشي مخالفت د اثر د مؤثر کسبي خپل نه او دا جائز نه دي، اوس فعل مضارع مرفوع به په څه سره وي او منصوب به په څه سره وي، او مجزوم به په څه سره وي.

| | |
|---|---|
| ٦٧٦- ارفعْ مُضَارعًا إذا يُجرَّدُ | مِن ناصِبٍ وجازِمٍ كتَسْعَدُ |

**ترکيب** : **مضارعًا** مفعول به بحذف الموصوف اي فعلاً مضارعًا **من** متعلق بيجرد. **ناصب** جزا محذوف دل عليه الكلام السابق. **كتسعد** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**: رفع ورکوه ته فعل مضارع لره لفظًا يا تقديراً که دا معرب وو يا محلاً که دا مبني وو څه وخت کې چې دا خالي شي د عامل جازم او د عامل ناصب نه د هغې مثال به څنګه وي لکه تسعد شو چې دا صيغه د مضارع ده از سَعِدَ يَسْعَدُ که تسعدَ شي يا اسعدَ يُسعدُ اسعاداً نه که

تُسعدُ شي او دا مرفوع ده په ضمه سره لفظاً ځکه دا خالي ده د عامل ناصب او جازم نه، اوس دا فعل مضارع لره دا رفع چا ورکړې ده د دې لپاره عامل رافعه څوك دي د دې عامل رافعه کې خلاف دي. ۱: زجاج او ثعلب وائي صحت د تاويل د فعل مضارع د اسم فاعل سره دغه عامل دي. ۲: او ابن کيسان وائي دا علامه د مضارع عامل دي. ۳: بصريان او کوفيان وائي عامل په دي کې معنوي دي، اوس دا عامل معنوي څه شي دي؟ د دې په تعبير کې بصريان او کوفيان خلاف دي، کوفيان وائي: عامل معنوي خلو د مضارع ده د عامل ناصب او جازم نه، او بصريان وائي: وقوع د فعل مضارع ده په موضع د اسم باندې لکن غوره او بهتر مذهب د کوفيانو دی ځکه د هغوی په مذهب باندې اعتراض نه واردیږي، او د بصريانو په مذهب باندې اعتراضونه واردیږي او د هغې جوابونه کوي تکلفاً. والتفصيل في الخادمة شرح الکافيه.

| | |
|---|---|
| ٦٧٧- وبلن انصبه وكي كذا بأن | لا بعد علم والتي من بعد ظن |

**ترکيب: کی** دا دواړه جار مجرور متعلق دي فعل مقدر پورې يدل عليه السابق. **لا بعد** معطوف عليه محذوف اى بعد غير علم. **التي** مبتداء. **بعد** صله د موصول.

**ترجمه:** او په لن سره او په کي سره نصب ورکوه مضارع لره او دغسې نصب ورکوه په ان سره،

**سوال:** او که ته وائي نقض راغی ستا د مخکې خبرې په دې قول د الله سره ﴿عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ﴾ په دې مثال سره علمت ظننتُ ان سيقومُ زيد باندې چې ان په مضارع باندې داخل شوی دی او عمل ئې نه دی کړي؟ **جواب:** وار خو کوه کنه چې زما خبرو ته غوږ کېده زه به خبره سر ته ورسوم بيا په ما باندې اعتراض کوه لابعد العلم نصب مه ورکوه ان سره فعل مضارع لره چې وروسته د ما دا د علم نه واقع شي.

| | |
|---|---|
| ٦٧٨- فانصب بها والرّفع صحّح واعتقد | تخفيفها من أنّ فهو مطّرد |

**ترکيب: فانصب** جمله انشائيه خبر واقع شوي دي مخکې مبتداء لپاره **و الرفعَ** مفعول به مقدم **تخفيفها** مفعول به **من** متعلق بالتخفيف **فهو** مبتداء **مطرد** خبر.

**ترجمه:** او هغه ان چې وروسته د ظن نه واقع شي ته نصب ورکوه مضارع لره چې دغه ان سره چې وروسته د مادي د ظن نه دي او صحيح کوه رفع وروسته د دغه ان نه مضارع کې بيا عقيده وساته تخفيف د دې انّ د ان مشدده نه دا دی چې هغه حرف دی د حروف مشبه بالفعل نه.

**سوال:** او که ته وائي په دې انَ کې انْ لوستل چيرته جائز دي؟ **جواب** دی وائي فهو مطرد يعنی تخفيف د آن بيا دخول د دي په مضارع باندې دا کثير شائع دي په استعمال د کلام د عربو کې.

**تشريح:** يعنی ان چې واقع شي پس د مادي د علم نه بيا په مضارع کې رفع واجب ده نصب جائز

نه دي ځکه دا ان مخفف من المثقل دی نحو قوله تعالی : ﴿عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَّرْضٰى﴾ ﴿اَفَلَا يَرَوْنَ اَلَّا يَرْجِعُ اِلَيْهِمْ قَوْلًا﴾ ځکه ماده د علم دلالت کوي په یقین باندې او ان مصدریه دلالت کوي په طمع او رجاء باندې په ما بین کې منافات دي او ان مخففه من المثقل دلالت کوي په تخفیف باندې دا د علم سره مناسب دي لکن بیا په دې کې شرط دا دی چې د دي او د فعل مضارع په مینځ کې په سین یا سوف یا قد یا حرف نفي به راغلي وي لپاره د دي چې لازم نه شي التباس د ان مخففه من المثقل د ان ناصبه مصدریه سره.

او که دا ان واقع شي وروسته د هغه افعال قلوب نه چې هغه دلالت کوي په ظن باندې بیا په دې مضارع کې جواز د وجهینو دي رفع لوستل هم جائز دي او نصب لوستل هم جائز دي ځکه که دیته ګورې چې دا افعل قلوب دلالت کوي په ظن باندې او ان مجفف من المثقل دلالت کوي په تحقیق باندې دا ورسره مناسب نه دي منصوب وایه چې دا اَنْ ناصبه مصدریه شي او دا ظن سره مناسب دی ځکه دا دلالت کوي په عدم تیقن باندې او که دې ته وګورې چې دا افعال قلوب دلالت کوي په غلبې د وقوع د فعل باندې بیا دا مناسب دي د ان مخفف من المثقل سره چې هغه دلالت کوي په تحقیق باندې بیا مرفوع ووایه چې دا ان مخفف من المثقل سره چې هغه دلالت کوي په تحقیق باندې مرفوع ووایه چې دا ان مخفف من المثقل شي نحو قوله تعالی : ﴿وَ حَسِبُوْٓا اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ﴾ په دي تکون کې رفع او نصب دواړه جائز دي لکن. ۱ : دا نصب مختاره دي که فصل نه وو راغلي د دي ان او فعل په مینځ کې په لا سره نحو قوله تعالی : ﴿اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا﴾ .۲ : او که فصل راغلي وو په لاسره بیا رفع او نصب دواړه برابر دي نحو قوله تعالی : ﴿وَ حَسِبُوْٓا اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ﴾ .۳: او که فصل راغلي وو بغیر د لا نه مثلا په قد، یا سین، یا سوف سره، بیا رفع واجب ده د نصب جائز نه دي ځکه ان ناصبه مصدریه د دي حروف سره نه راځي.

| | |
|---|---|
| ۶۷۹- وبعضهم أهمل أن حملاً على | ما أختها حيث استحقّت عملا |

**ترکیب:** **وبعضهم** مبتداء **اهمل** جمله خبر **ان** مراد اللفظ مفعول به. ۱ : مفعول له. ۲ : یا مصدر په تاویل د اسم فاعل سره حال واقع شوي دي د ضمیر مستتر د اهمل نه اختها بدل یا عطف بیان واقع شوي دي د ما مصدریه نه متعلق اهمل پورې مبني علی الضمه، **عملا** مفعول به.

**ترجمه:** او بعضې د عربو نه هسې پرېښودی دا ان ناصبه مصدریه لره د عمل کولو نه او هغه قابل د عمل د نصب د مضارع دي د وجې د حمل د دي نه په هغه ما مصدریه باندې چې مشابه دي دې سره په حرف مصدریه کې کوم ځای کې چې قابل وګرځي دا ان د عمل کولو په

دي شان سره وروسته د علم او د ظن نه نه دي واقع شوي نحو قوله تعالى: ﴿لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ﴾ په يو قراءت باندې و نحو قول الشاعر:

ان تقرآن على اسماء و يحكمان مني السلام و الا تُشعرا احدا

په دې شعر کې ان دوه خله راغلی دی او دې اول انّ له عمل نه دي ورکړي دي شاعر ځکه دا محمول دي په ما مصدريه باندې په عدم عمل کې او دا دويم ان له عمل ورکړي دي.

| | |
|---|---|
| ۶۸۰- ونصبوا بإذن المستقبلا | إن صدرت والفعل بعد موصلا |

**ترکيب:** **المستقبلا** مفعول به **والفعل** مبتداء **بعد** مبني على الضمه، و باعتبار المتعلق خبر د مبتداء **موصلا** حال از ضمير مستتر في الظرف.

**ترجمه:** او نصب ورکړی دی عربو په کلمه د ان سره فعل مستقبل لره په دې شرط سره که دا اذان په صدر کې او اول سر کې واقع شوي وو او حال دا دی وو هغه فعل چې راځي وروستو د ان نه هغه پیوست کړی شوی وو دې اذن سره يعنی مضارع د دې اذن سره اتصال واجب دي لکن دا خبره کوم چې:

| | |
|---|---|
| ۶۸۱- أو قبله اليمين وانصب وارفعا | إذا إذن من بعد عطف وقعا |

**ترکيب:** **او قبله** اي قبل الفعل خبر مقدم **اليمين** مبتداء مؤخر **اذن** فاعل لفعل محذوف **من** يفسره بعده **بعد** متعلق وقعَ پورې **وقعا** جمله مفسره.

**ترجمه:** يا قسم راغلی وو مخکې د فعل نه په دې شان سره قسم واقع شوی وو د فعل او د اذن په مينځ کې بيا هم عمل کولي شي، او نصب ورکوه ته او رفع ورکوه مضارع لره کوم وخت کې چې اذن وروسته د حرف عاطف نه واقع شوي وو.

**تشريح:** بل حرف د حروف ناصبه ؤ د فعل مضارع نه اذن دي دا چې مضارع باندې داخل شي مضارع لره نصب ورکوي لکن عمل د ده په مضارع کې د نصب مشروط دي په شروط ثلاثه ؤ سره. ۱: دا فعل به مستقبل وي. ۲: او دا اذن به مصدر وي د کلام اول سر کې به راغلي وي په دي شان سره دا ما بعد د ان به متم لپاره د ما قبل نه وي، اوس د اتمام صورتونه دري دي. ۱: دا ما بعد به خبر د مبتداء نه وي نحو انا اذن اکافئك. ۲: دا ما بعد جزا د شرط به نه وي نحو ان تاتني اذن اکرمك. ۳: دا ما بعد به جواب د قسم نه وي نحو و الله اذن افعل. ۳: دريم شرط دا دي عمل د اذن لپاره چې فصل به نه وي راغلي د اذن او د فعل په مينځ کې ما سوا د قسم نه.

او که دا فعل مستقبل نه وو بلکه حال وو بيا دا اذن عمل نه کوي نحو: اذن اظنك صادقاً، جواب د هغه چا کې چې هغه تاته: اني احبك ووائي، او که دا اذن مصدر نه وو بيا هم عمل نه

کوي مثالونه د دي مخکې ذکر شو، دارنګه فصل راغلي وو د دي او د فعل په مینځ کې علاوه د قسم نه بیا هم دا عمل نه شي کولي مثال لکه: اذن هم یقومون بالواجب په جواب د هغه چا کې چې هغه ووائي: یجودُ الاغنیاء بالمال في سبیل العلم، مثال د جامع د شروط: اذن انتظرك في جواب من قال لك سازورك، دلته کې ټول شرطونه موجود دي. ۱ : چې دا انتظرك خالص مستقبل دي. ۲ : او دا اذن د کلام اول سر کې راغلي دي. ۳ : او د دي اذن او د فعل په مینځ کې فصل نه دي راغلي دا اذن عمل د نصب کړي دي په دي مضارع کې.

او که فصل راغلی وو په قسم سره بیا هم دا عمل کوي نحو: اذن و الله اکرمك في جواب من قال لك: انا آتیك غداً ، او نحو قول الشاعر:

اذَن و الله نرمیهم بحربٍ — تُشیبُ الطفلَ من قبل المشیب

یا یُشیب بالیاء دواړه جائز دي، او که دا قسم مخکې شوی وو په اذن باندې بیا عمل نکوي ځکه په فصل سره عمل کوي او په تقدیم سره عمل نه کوي ځکه صدارت فوت کیږي او دا جائز ندي.

۱ : ابن مالك فصل په ما بین د اذن او فعل کې فقط په قسم سره متعذر وګرځوه. ۲ : او بعضې خلکو فصل په لا او نداء سره هم متعذر ګرځولی دي نحو: اذن لا اجیئك في جواب من قال لك ساضربك غداً ، اذن یا زهیرُ تنجحَ په جواب د هغه چا کې چې هغه ووائي: ساجتهدُ. ۳ : او ابن عصفور ویلي دي که ظرف او جار مجرور سره فصل راغلي وو بیا هم عمل کوي، او بعضې خلکو شروط د اعمال د اذنِ او فواصل جائزه جمع کړي دي په دي شعر کې:

اعمل اذن اذا اتتك اولاً — و سَقتَ فعلاً بعدها مستقًلا

و احذر اذا اعملتها ان تفصلا — الا بحلفٍ او نداء او بلا

وافصل بظرفٍ او بمجرورٍ على — رايِ ابن عصفورٍ رئیس النُبلا

او که اذن واقع شوي وو وروسته د واو او فا نه چې هغې کې رفع او نصب دواړه جائز دي لکن رفع پکې غالب ده مثال د رفع بعد الواو نحو قوله تعالی : ﴿وَ اِنۡ کَادُوۡا لَیَسۡتَفِزُّوۡنَكَ مِنَ الۡاَرۡضِ لِیُخۡرِجُوۡكَ مِنۡهَا وَ اِذًا لَّا یَلۡبَثُوۡنَ خِلٰفَكَ اِلَّا قَلِیۡلًا﴾ مثال د رفع بعد الفاء قوله تعالی : ﴿اَمۡ لَهُمۡ نَصِیۡبٌ مِّنَ الۡمُلۡكِ فَاِذًا لَّا یُؤۡتُوۡنَ النَّاسَ نَقِیۡرًا﴾ او په قراءت غیر سبعه کې لا یلبثوا، او لا یاتوا راغلي دي بحذف النون دي اذن له عمل ورکړي دي هغه نون اعرابي غورځولي دي.

دغه اذن ته حرف نصبْ او حرف استقبال او حرف جزا او حرف جواب وائي دا د دي نومونه دي لکه لم ته حرف نفي او حرف جزم او حرف قلب وائي، حرف جواب خو ځکه ورته وائي چې دا اذن په هغه کلام کې راځي چې هغه جواب وي د کلام سابق او حرف جزا ځکه وائي کوم کلام

باندې چې داخل شوي دي هغه جزا وي مضمون د كلام سابق لپاره غالبًا ، او كله خالص جواب لپاره راځي چې په هغې كې جزا نه وي مثال لكه ته ووائې: اني احبك او هغه په جواب كې ووائي اذن اظنك صادقًا. بيا د دې اذن په اصالت كې خلاف دې. ١ : څوك وائي دا اصل كې اذ آنْ وو يعنى مركب دې د اذا او د آن ناصبه مصدريه نه بيا د وجې د كثرت استعمال نه دا همزه د ان نه حذف شوه اذن ترينه جوړ شو. ٢ : څوك وائي اصل كې اذا ظرفي شرطي وو بيا د دې هغه شرط حذف كړه د هغې په عوض كې تنوين راغي په دې كې نو تنوين د ده عوضي دې، عوض راغلي دې د جملې شرطي محذوفي نه، بيا ئې دا حرف وګرځوو نصب وركوي مضارع لره مثال لكه: اذن اكرمَك ته ووائې په جواب د هغه چا كې چې هغه ووائي: انا آتيك غداً ، د دې اذن اكرمك معنى دا ده: اذا جئتَني يا اذا كان الامر كذلك اكرمُك. او په كتابت كې دا ليكلې شي په نون سره عامل وي او كه مهمل وي، بعضې خلكو ويلې دي كه عامل وو په نون سره به ليكلې شي او كه مهمل وو په الف سره به ليكلې شي، او كتابت د دې په قرآن كې الف سره شوي دي لايُقاس عليه غيرُه ځكه دا قانون دې لانه خطّان لايُقاسان خطّ العروض و خط المصحف.

| | |
|---|---|
| ٦٨٢- وبين لا ولام جر التزم | إظهار أن ناصبة وإن عدم |

**تركيب:** **بين** متعلق بالتزم **اظهار** اضافت د مصدر الى المفعول نائب فاعل **ناصبةً** حال از نون عُدم شرط او جزا د دې وروسته نظم كې ذكر دې.

**ترجمه:** او په ما بين د لا او لام كې لازم كړې شوي دې اظهار د ان لپاره د دې چې لازم نه شي توالي د لامينو په حال كون د دې ان كې چې دا ناصب وي مضارع لره.

| | |
|---|---|
| ٦٨٣- لا فأن أعمل مظهرا أو مضمرا | وبعد نفي كان حتما أضمرا |

**تركيب:** **لا** نائب فاعل **فان** مفعول به مقدم **مظهراً** حال از مفعول به مقدم **بعد** متعلق باضمر **حتمًا** مفعول مطلق په اعتبار د موصوف سره اي اضماراً حتمًا.

**ترجمه:** او كه ورك شوي وو لا نافيه پس ان عامل وګرځوه په مضارع كې په داسې حال كې چې دا ظاهر وي او كه مقدر وي او وروسته د نفي د كان نه تقدير د ان واجب دې.

**تشريح:** ان ناصبه مصدريه نصب وركوي مضارع لره ظاهرةً او مقدرةً او دا ان مقدر كيږي جوازاً وروسته د شپږ حروفو نه. ١ : دا مقدر كيږي لام كې نه وروسته جوازاً په دې شرط سره چې د دې لام كې وروسته لا نفي او لا زائده نه وي راغلي، او كه لام كې مقترن وو په لا نفي يا لا زائده سره بيا اظهار د ان واجب دې او تقدير د ان جائز نه دې لپاره د دې چې لازم نه شي توالي د لامينو مثال د لا نفي قوله تعالى : ﴿لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ﴾ او مثال د لا زائده نحو قوله تعالى :

﴿لِئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ الْكِتٰبِ﴾ اي لاجل ان يعلم اهل الكتاب، او دا لا زائد دي او كه د دي لام كي نه وروسته لا نه وو راغلي بيا تقدير د ان او اظهار د ان دواړه جائز دي.

۱: ان مقدر كيږي جوازاً د لام العاقبة نه وروسته او لام العاقبة هغه لام جاره ته وائي: چې د هغې نه ما بعد عاقبت او نتيجه د ما قبل وي ديته لام الصيرورة هم وائي، او لام المآل هم وائي، او لام النتيجه هم وائي، قوله تعالى : ﴿فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا﴾ يعنى عاقبت د عمل د دوى دا شو چې دا د دوى دشمن وګرځيده او دوى خو دي لپاره نه وو اخستي چې دا دوى دشمن شي لهذا ليكونَ كي دا لام لام العاقبة دي نه لام كي او دينه وروسته ان مقدر دي هغې يكون له ئي نصب وركړي دي او تقدير د ان جائز دي. ۲: ان مقدر كولي شي واو. ٤: او فا ٥: او ثم. ٦: او واو نه وروسته ، په دې شرط چې دوى سره عطف د مضارع راغلي وو په اسم جامد باندې دا به وروسته د دي بحث په اختتام كې بيانوي، مثال د واو نحو يا بني الشجاعُ الفرارَ و يسلمَ اي و السلامة. لولا الله و يلطف بي لهلكتُ اي ولطفه بي مثال د فا تعبُك خير من راحتك، مثال د ثم: يرضي الجبانُ بالهوانِ ثم يسلمَ اي ثم السلامةَ، مثال د او قوله تعالى : ﴿وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللّٰهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَآئِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا﴾ اي الاوحيًا او ارسالَ رسولٍ.

او ان مقدر كيږي وجوبًا پس د نفي د كان يعنى لام الجحود نه وروسته نحو قوله تعالى : ﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ﴾ ﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ﴾ ﴿لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ﴾ د دي لام نه وروسته ان مقدر دي وجوبًا هغې مضارع له نصب وركړي دي او دا مضارع په تاويل د مصدر سره مجرور دي لپاره د جار، او جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوف سره خبر د ما كانَ او خبر د لم يكن دي، اي ما كانَ الله مريداً لظلمهم،أى: لم يكن اللهُ مريداً لغفرانهم.

لام الجحود هغه لام جاره ته وائي چې راځي په خبر د كان منفي كې او ديته لام نفي هم وائي، او تسميه د دي په لام الجحود سره تسميه د عام ده په اسم د خاص سره ځكه جحود انكار د ما تعريفي ته وائي، نه مطلق انكار ته او دلته د انكار نه مطلق نفي مراد ده.

| | |
|---|---|
| ۶۸۴- كذاك بعد أوإذا يصلح في | موضعها حتى أو ألا أن خفى |

**تركيب:** كذاك متعلق بخفي بعد متعلق بخفي حتى فاعل يصلحُ ان مراد اللفظ مبتداء خفي جمله خبر.

**ترجمه:** په شان د تقدير د آن باندې وروسته د كان نه ان مقدر كيږي وروسته د كلمې د او نه په طريقې د وجوب سره په هغه وخت كې چې قابل وي او صالح وي كلمه د حتى بمعنى الى د ده په ځاى كې يا كلمه د الا په ځاى د ده كې نحو: لالزمنك او تُعطيَني حقي، اي الى ان تعطيَني

حقي يا إلاّ أن تعطيني حقي ځکه دا حرف جر دي او حرف جر نه داخليږي په فعل باندې يا الا استثنائيه دي او الاستثنائي نه داخليږي په فعل باندې لهذا د دينه وروسته ان مقدر دي دا د دي فعل مضارع نه په تاويل د مصدر سره اسم جوړوي دخول د إلى يا دا لا راشي په اسم باندې.

| | |
|---|---|
| ۶۸۵- وبعد حتى هكذا إضمار أن | حتم كجد حتى تسر ذا حزن |

**ترکیب:** و **بعد** متعلق اضمار پورې **هكذا** حال از ضمير خبر **اضمار ان** مبتداء **حتم** خبر د مبتداء محذوف **تسر** ضمير مستتر انتَ هغه فاعل **ذاحزن** مضاف مضاف اليه مفعول به.

**ترجمه:** لکه څنګه چې آن مقدر کيږي وجوبًا وروسته د كان منفيه نه او وروسته د او بمعنى الى يا الانه تقدير د ان واجب دي هغه دواړو په شانتي وروسته د حتى جاره. ۱ : چې هغه په معنى د لام تعليلي سره وي مثال لکه: جد الخ شو ترجمه :كوشش كوه ته د دي غرض لپاره چې خوشحاله کړي ته غمژن لره، بل مثال د دي لکه: اسلم تدخل الجنةَ اي لتدخل الجنةَ. اطعِ الله حتى تفوزَ برضاهُ اي لتفوزَ.

۲ : په معنى د الى سره دي نحو قوله تعالى : ﴿قَالُوا لَن نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عَاكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا مُوسَىٰ﴾.

۳: او كله ان مقدر کيږي د هغه حتى نه وروسته چې هغه راځي په معنى د الاسره نحو قول الشاعر:

ليس العطاء من الفضولِ سماحةً ... حتى تجودَ و ما لديكَ قليل

اي الا ان تجودَ.

| | |
|---|---|
| ۶۸۶- وتلو حتى حالا أو مؤولا | به أرفعن وانصب المستقبلا |

**ترکیب: تلو** بمعنى تالي او واقع بعد حتى مفعول به مقدم **حالان** حال از مفعول به مقدم **به** ضمير راجع الى الحال متعلق مؤولاً پورې **المستقبلا** مفعول به.

**ترجمه:** او خامخا رفع ورکوه ته فعل مضارع لره په حال د دغه فعل مضارع کې چې وروسته د حتى نه واقع شوي وي او په حال کون د دغه مضارع کې چې دا حال ګرځولي شوي وي په نظر سره ما قبل ته حقيقةً يا تاويلاً او تقديراً او فرضًا يعنى حال حكايةً وو او دا ما قبل سبب وو لپاره د ما بعد مثال لکه مرض فلان حتى لا يرجونه شدة مرض سبب د عدم رجاء دي، او نصب ورکوه ته فعل لره هغه فعل مضارع چې واقع شوي وي مستقبل نحو: صُم حتى تغيبَ الشمسُ.

| | |
|---|---|
| ۶۸۷- وبعد فاجواب نفى أو طلب | محضين أن وسترها حتم نصب |

**ترکیب:** و **بعد** متعلق نصب پورې **محضين** صفت د نفي او طلب **ان** مراد اللفظ مبتداء **ستره** مبتداء **حتم** خبر **نصب** خبر جمله حال واقع شوي ده د ضمير د نصب نه.

**ترجمه:** او آن نصب ورکوي مضارع لره وروسته د فا نه او دا فا واقع شوي وه په جواب د نفي کې

نحو: ما تاتينا فتحدثّنا، و قوله تعالى: ﴿لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا﴾ يا په جواب د طلب كې واقع شوي وي چې هغه امر او نهي دي او استفهام او عرض او تحضيض او تمنى دي او ما قبل سبب وي ما بعد لپاره په دغه وخت كې چې دا مضارع له نصب وركوي بعد الفاء تقدير د ان واجب دي مثال د امر نحو: زرني فاكرمك، مثال د نهي نحو قوله تعالى: ﴿كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيْهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِيْ﴾ مثال د استفهام نحو قوله تعالى: ﴿فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ فَيَشْفَعُوْا لَنَآ﴾ مثال د عرض نحو الا تنزل بنا فتصيبَ خيرا مثال د تمنى د تحضيض نحو قوله تعالى: ﴿لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْٓ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ فَاَصَّدَّقَ وَ اَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ﴾ مثال د تمنى نحو قوله تعالى: ﴿يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ مَعَهُمْ فَاَفُوْزَ فَوْزًا عَظِيْمًا﴾ لكن دا نفي او طلب داسې نفي او طلب وي چې خالص او محض نفي او طلب وي نفي خالص ديته وائي چې نفي شوي وي او هغه نفي په خپل حال باندې پاتې شوي وي او هغه نفي الاسره وروسته مات شوي نه وي نحو ما انتَ الا تاتينا فتحدثُنا او طلب خالص ديته وائي چې دا طلب په صيغه د اسم فعل سره شوي نه وي نحو صَه فينامُ الناسُ دلته نصب جائز نه دي بلكه دا مضارع مرفوع به وائي.

| | |
|---|---|
| ۶۸۸- والواو كالفا إن تفد مفهوم مع | كلا تكن جلدا وتظهر الجزع |

**تركيب: الواو** مبتداء **كالفا** خبر **مفهومَ** مفعول به **كلا تكن** خبر د مبتداء محذوف **جلداً** خبر د تكن و بمعنى مع **الجزع** مفعول به.

**ترجمه:** او واو په شان د فا دي په تقدير د دي ان كې وجوبًا وروسته د دينه او په تقدم د نفي او طلب كې كچيري فائده كوه دي واو معنى د مع، او كه ته وائي ماته مثال وښايه چې واو وي په معنى د مع سره واقع شوي وي وروسته د نفي يا د طلب نه او د هغې نه وروسته ان مقدر شوي وي وجوبًا مضارع له نصب وركړي وي؟ دا وائي مثال لكه: لاتكن الخ شو، يعنى مه كېږه ته تكړه سړي چې ښكاره كوي ته بې صبري.

**تشريح:** ان مقدر كولي شي وجوبًا پس د واو نه لكن مطلقًا نه بلكه دا مشروط دي په شرطينو سره: ۱: شرط دا دى چې دا واو به په معنى د مع سره وي چې دلالت كوي حصول د ما قبل سره د ما بعد نه ۲: شرط دا دي چې دا به واقع شوي وي وروسته د نفي خالص او د طلب خالص نه په شان د فا په دي شرط كې هغې سره شريك دي مثالونه د دي بعينه هغه مثالونه د فا دي چې دا فا لرې كوه واو كيدو دا به مثالونه د واو شي مثال د نفي: ما تاتينَا فتحدثّنا، او مثال د طلب لكه: لاتكن جلداً و تظهرَ الجزعَ شو، بل مثال لكه دا قول د شاعر شو:

لا تنهَ عن خلقٍ و تاتي مثله عار عليك اذا فعلتَ عظيمُ

**خلاصه د ما سبق داده**

چې ان ناصبه مصدريه په اعتبار د اضمار او اظهار سره دري قسمه ده. ۱: واجب الاظهار مع لام كي چې د هغې نه وروسته لا راغلي دى. ۲: واجب الاضمار بعد اللام، والفا، والواو بمعنى مع، واو، وحتى. ۳: جواز د وجهين. ۱: پس د لام كي نه چې د هغې نه وروسته لا نوي راغلي. ۲: او پس د لام العاقبة نه. ۳: پس د واو، او فا، او ثم، او د او نه په دي شرط سره چې د دوى سره عطف د مضارع راغلي وي په اسم جامد باندې بيا هلته وروسته د دوى نه اظهار د ان او اضمار د ان دواړه جائز دي.

| | |
|---|---|
| ۶۸۹- وبعد غير النفي جزما اعتمد | إن تسقط الفا والجزاء قد قصد |

**تركيب:** **وبعد** متعلق اعتمد پورې **جزمًا** مفعول به مقدم **تسقط** كه فعل مجرد نه وو **الفا** فاعل يا مفعول به كه محذوف نه شي **قصد** جمله خبر بيا جمله اسميه حال واقع شي.

**ترجمه:** او يقين كوه جزم د مضارع كومه مضارع چې واقع شوي وي وروسته د هغه امورو نه چې مخكې ذكر شو د نفي نه علاوه كه ساقط كړي ته هغه فا په داسې حال كې چې قصد كړې شو جزائيه او مسببيت د دي مضارع ما قبل لپاره.

**تشريح:** يعنى فعل مضارع واقع شي جواب پس د طلب نه په دي شان سره واقع شي وروسته د امر او د نهي او د استفهام او عرض او تحضيض او تمنى نه وروسته دا مضارع مجزوم كولي شي په تقدير د ان شرطيه سره سره د فعل شرط نه وروسته د دي امورو سته ۋ نه، مثال د امر او امر عام دي لفظًا وي او كه معنىً وي، مثال د امر لفظًا قوله عَلَيْهِ‌السَّلَامُ قولوا لا اله الا الله تفلحوا. مضارع مجزوم ده بحذف النون، و قول امرؤ القيس:

قفا نبك من ذكرى حبيبٍ و منزل بسقط اللوى بين الدخول فحوملِ

نبك مضارع مجزوم ده بحذف الياء. بل مثال لكه: تعلَمْ، تغزُ، دلته مضارع مجزوم ده بحذف الحركة او واو عين كلمه حذف شوې ده د وجې د التقاء د ساكنينو على غير حده نه لام كلمه سره او دا اول حرف ساكن مده وو، مثال د امر معنىً نحو قوله تعالى: ﴿هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ۝ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ۝ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ﴾ دلته دا مضارع مجزوم ده ځكه واقع شوي ده وروسته د فعل طلب نه چې هغه تؤمنون او تجاهدون دي ځكه دا په معنى د آمنُوا او جاهدُوا سره دي، دا مجزوم د دي وجې نه ندي چې دا واقع شوي دي وروسته د استفهام نه ځكه دا د هغې سره

مرتبط نه دي، مثال د استفهام هل تفعلُ خيراً توجرْ مثال د عرض: الا تزورُنا تكن مسروراً، مثال د تحضيض: هلا تجتهدُ تنلْ خيراً، مثال د تمنى ليتنيِ اجتهدتُ اكن مسروراً، مثال د ترجي: لعلك تطيعُ اللهَ تفزْ بالسعادةِ، په دي ټولو مثالونو کې فعل مضارع واقع شوي ده وروسته د طلب نه مجزوم ده په تقدير د ان شرطيه سره فعل شرط نه مخکې د فعل مضارع او وروسته د فعل طلب نه.

| ۶۹۰- وشرط جزم بعد نهي أن تضع | إن قبل لا دون تخالف يقع |
|---|---|

**ترکيب: وشرط** مبتداء **بعد** متعلق شرط پورې **ان تضع** بتاويل المصدر خبر د مبتداء **ان** مفعول به **دون** حال از ان مفعول به **تخالف** موصوف **يقع** جمله صفت د تخالف.

**ترجمه:** او شرط د جزم د مضارع وروسته د صيغي د نهي نه په تقدير د اِن سره کېښودل ستا دي ان شرطيه لره مخکې د لا نهي نه په حال کون د دي ان شرطيه کې واقع کېږي به بي د مخالفت د معنى مقصود ستا نه مثال لکه: لاتکفُر تدخلِ الجنةَ، دا ترکيب صحيح دي ځکه د دي معنى دا ده: ان لاتکفر تدخل الجنةَ ځکه عدم کفر سبب لپاره دخول الى الجنة او لاتکفر تدخل النارَ ترکيب صحيح نه دي ځکه تقدير د ان مخکې د لا نه نه صحيح کېږي ان لاتکفر تدخل النار ځکه عدم کفر سبب لپاره د دخول الى النار نه دي بلکه هغه سبب د دخول الى الجنة دي.

**سوال:** دلته ان تکفر ولې مقدر نه راوباسې بي د تقدير د لا نه چې دا ترکيب جائز شي او صحيح شي؟ **جواب** ان تکفر نه را اوباسم ځکه دا نهي قرينه د فعل منفي ده نه د مثبت ځکه مقدر د جنس د مذکور نه وي مذکور نهي ده نو مقدر به هم نفي راوباسي.

بيا عامل د دي فعل مضارع کې څلور مذهبه دي. ۱ : جمهور وائي عامل شرط مقدر دي.
۲ : بعضي وائي دا جمله سابقه ده ځکه دا متضمن دي معنى د شرط لره. ۳ : ځوک وائي عامل د دغه جمله سابقه ده ځکه دا نائب دي د حرف شرط نه. ٤ : ځوک وائي عامل لام امر دي چې هغه مقدر دى په دې مضارع کې او عمل باقي پاتې دي.

| ۶۹۱- والأمر إن كان بغير افعل فلا | تنصب جوابه وجزمه أقبلا |
|---|---|

**ترکيب: والامر** مبتداء **ان کان** جمله شرطيه خبر **بغير** په اعتبار د متعلق محذوف سره خبر د کان **فلا** جزا **جوابه** مفعول به **وجزمه** مفعول به مقدم **اقبلا** الالف بدل من نون التوکيد للوقف.

**ترجمه:** او امر کچيري وو بغير د صيغي د افعل نه يعنى امر حاضر معلوم نه وو بلکه امر وو په صيغه د اسم فعل سره يا امر با لام وو پس نصب مه ورکوه ته جواب د امر لره يعنى مضارع لره چې په جواب د امر کې واقع شوي ده او جزم د دغه مضارع چې واقع وي وروسته د امر نه او

هغه امر هر څنګه چې وي خامخا قبول کړه.

**تشريح:** مضارع چې واقع شي وروسته د امر نه په دې کې. ۱: نصب هم جائز دي. ۲: او جزم هم جائز دی او رفع هم جائز ده لکن نصب هله جائز دي چې دا وروسته د صيغې د امر حاضر معلوم نه راغلی وي ځکه امر دري قسمه دي. ۱: امر حاضر معلوم ديته امر بالصيغه هم وائي. ۲: امر په صيغه د اسم فعل سره راځي هغې ته اسم فعل بمعنی الامر وائي. ۳: امر په لام سره راځي هغې ته امر باللام وائي، اوس که دا مضارع وروسته د اسم فعل بمعنی الامر نه راغلی وه يا وروسته د امر باللام نه راغلي وي بيا په هغې کې نصب جائز نه دي په تقدير د انْ سره خلافاً للکسائي فلا شاهدَ له بلکه په هغې کې به جزم وائي يا رفع به وائي، نحو صَهْ ينامُ الناسُ ووايه که قصد د سببيت ونکړې مثل قوله تعالى: ﴿وَيَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ﴾ دا يعمهون جمله مستانفه ده، يا ينمِ الناسُ ووايه که قصد د سببيت وکړې.

| ۶۹۲- والفعل بعد الفاء في الرّجا نُصِب | كنصب ما الى التمنّي ينتسب |
|---|---|

**ترکيب:** **الفعل** مبتداء **بعد** حال از ضمير مستتر في نصب **في الرجا** متعلق بالنصب **نصب** ضمير مستتر راجع الى الفعل نائب فاعل مفعول مطلق په اعتبار د موصوف سره جمله خبر **التمنی** متعلق ينسب پورې **ينتسب** ضمير مستتر هو راجع الى ما هغه فاعل جمله صله.

**ترجمه:** او فعل مضارع چې واقع شي وروسته د فا نه او په صيغه د رجا کې واقع شي هغه به منصوب کولی شي په تقدير د أن سره پشان د نصب د هغه مضارع باندې چې هغه منسوب کيږي تمنی ته يعنی مضارع لکه څنګه چې واقع شي وروسته د ليتَ نه منصوب کولي شي نحو: ليتَ مالاً فانفقه دارنګه مضارع منصوب کولي شي وروسته د لعلَ نه راشي کما في قوله تعالى: ﴿لَعَلِّيٓ أَبۡلُغُ ٱلۡأَسۡبَٰبَ ۝ أَسۡبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ﴾.

| ۶۹۳- وإن على اسمٍ خالصٍ فعل، عُطِف | تنصبه أن ثابتاً أو منحذف |
|---|---|

**ترکيب:** **على** متعلق عُطف پورې **فعل** نائب فاعل لفعل محذوف **ان** مراد اللفظ فاعل **ثابتا** حال از مفعول به.

**ترجمه:** که چيرې فعل مضارع عطف کړې شوي وي په اسم صريح باندې منصوب کيږي دا مضارع په ان سره په حال کون د دغه ان کې چې دا ثابت وي او که حذف کړې شوي وي.

**تشريح:** يعنی عطف د مضارع شوي وي په اسم جامد باندې بيا دا مضارع به منصوب وي په ان سره، اوس دا ان ستا خوښه ده چې ظاهر کوې او که مقدر کوې لپاره د دې چې لازم نه شي عطف د جمله فعليه په اسم جامد باندې او دا جائز نه دي مثال د دې څنې مخکې تير شوي

دي، بل مثال لكه دا قول د شاعر شو:

ولبس عباءة و تقرّ عيني أحبّ إليّ من لبس الشفوف

أي: لُبس عباءةٍ و قرة عيني جمع د شف ده باريك لباس ته وائي دا شعر ويلي دي ميسون الكلابية د حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ښځې.

| ما مرّ فاقبل منه عدل رَوى | ۶۹۴- وشذّ حذف أن ونصبُ في سوى |
|---|---|

**ترکیب:** **حذف** فاعل **نصب** عطف على حذف **ما** موصوله مرصله **ما** موصوله مفعول به **عدل** مبتداء **روى** جمله خبر بيا جمله اسميه صله واقع شوي ده او عائد ضمير منصوب حذف شوي دي، اي رواهُ.

**ترجمه:** او شاذ دى حذف د ان ناصبه مصدريه او نصب د مضارع په ماسوا کې د هغه ځايونو نه چې هغه تير شوى دى مخکې، او ته قبول کړه تقدير د ان او نصب د دې مضارع نه هغه چې نقل کړى دى تا ته يو انصافدار سړي لکن په هغې باندې قياس د نورو مه کوه دا مذهب د بصريانو دى، او کوفيان قياس کوي مثال د دي لکه خُذ اللصَ قبل ياخذكَ أي: قبل ان ياخذكَ و قول الشاعر:

الا ايهذا اللائي احضرَ الوغى و ان اشهدَ اللذاتِ هل انتَ مخلدي

اى عن حضورِ الحربِ و عن حضور مجالس اللذاتِ، خبردار اى سړيه! حاضر شه ته جنګ ته اګر که ته حاضريږى مزو ته نو ستا طاقت شته چې ته ما هميشه په دي دنيا کې ژوندي پاتې کړي زه ستا خبره ومنم، و قول الشاعر الآخر:

تسمعَ بالمعيد خير من ان تراه و ستعرف قدره ان فتحَ فاه

دا هله شاذ دى چې ته تسمعَ منصوب ووائي، وقوله تعالى: ﴿قُلْ أَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَأْمُرُوٓنِّيٓ أَعْبُدُ﴾ بالنصب على قراءة الحسن، هرکله چې دا ان مقدر شي بغير د مواضع مذکوره ؤ نه غوره په هغې کې دا دى چې ته هغه ان لره عمل ور نه کړې په لفظ کې بلکه دا مضارع مرفوع به وائي ځکه ان حرف دى عامل ضعيف دى پس د حذف نه دي عمل نشي کولي نحو قوله تعالى: ﴿وَمِنْ اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا﴾ اى ان يريكم البرقَ دلته ان مقدر دي عمل ئې ندى کړى.

**سوال:** دې سره يو اعتراض دفع شو چې و من آياته خبر مقدم دي او يُريكم البرق مبتداء مؤخر دي او جمله مبتداء نه واقع کيږي دلته څنګه مبتداء واقع شوي ده؟

**جواب:** دلته ان مقدر دى اصل کې داسې دى ان يريكم الله وو دا ان فعل مضارع لره په تاويل د مصدر سره اسم جوړوي او مبتداء اسم واقع کيږي لکن دا اسم عام دي حقيقةً وي او که تاويلاً وي دلته مبتداء اسم دي تاويلاً، دا ترکيب په شان د تسمعُ بالمعيدي خير من ان تراه باندې کچيري تسمع مرفوع ولوستلي شي، وقوله تعالى: ﴿قُلْ أَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَأْمُرُوٓنِّيٓ أَعْبُدُ أَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ﴾

مشهور قراءة باندې اعبد په رفع سره راغلي دي.

## عواملُ الجزم

دا بحث د هغه عواملو دی چې هغه عمل کوي په مضارع کې د جزم لفظًا که دا فعل مضارع معرب وو محلاً که دا فعل مضارع مبني وو بيا دا عوامل جازمه د فعل مضارع دوه قسمه دي.
۱ : هغه دي چې جزم ورکوي فقط يو فعل لره لکه: لم، لما، لانهي، لام امر شو.
۲ : هغه دي چې جزم ورکوي دوه فعلو لره لکه ان او اسماء شرطيه شول.

| | |
|---|---|
| ۶۹۵- بلا ولام ـ طالباً ضع جزما | في الفعل هكذا بلم ولَمّا |

**ترکیب:** **بلا** متعلق دي ضع پورې، **ولام** دا عطف دي، **طالبا** حال دي د فاعل د ضع نه، **جزما** مفعول به د ضع ده، **فی الفعل** متعلق دي ضع پورې، **هکذا**، **بلم** دا دواړه جار او مجرور متعلق دي فعل مذوفه پورې چې دل عليه الكلام المذكور، اصل عبارت داسې دي ضع كذا بلم و لمّا.
**ترجمه:** کېږده ته جزم لره په فعل مضارع کې لفظًا يا محلاً، چا سره کېږدم په لانهي او لام امر سره په حال کون ستا کې چې ته طلب کوونکي ئې فعل لره په دي دواړو سره لاسره طلب د ترك د فعل کوي او لام امر سره طلب د وجود د فعل کوي، دغسې کېږده جزم په فعل مضارع لفظًا يا محلاً په الم او لما سره دا دواړه داخل شي فعل مضارع باندې. ۱ : فعل مضارع لره جزم ورکوي.
۲ : او فعل مضارع مثبت نه ماضي منفي وجوړوي، او د لم او د لما په مينځ کې څلور فرقونه کوي. ۱ : لم نفي مطلق لپاره راځي استمرار د نفي پکې وي او که نه وي مثال د استمرار د نفي لم يلد و لم يولد مثال د عدم استمرار نحو: لم افعل ثم فعلت، او لما نفي مستغرق لپاره راځي چې دا نفي مستغرق وي جميع اجزاؤ د زماني د ماضي لره تر زماني د حال پورې: لما افعل ثم فعلتُ نه دي جائز ځکه بيا لازميږي تناقض ځکه د لما افعل معنى د اده ما نه دي کړي په زمانه تيره شوي کې الى الآن او ثم فعلت معنى دا ده چې ما کړي دي په مابين کې تناقض دي.
۲ : لما راځي نفي د متوقع الحصول لپاره بخلاف لم منفي د لم متوقع الحصول ندي. ۳ : لم وروسته د ادات د شرط نه راځي بخلاف لما دا وروسته د ادات د شرط نه نه راځي لهذا لم تفعلوا ويلي شي، ان لم تفعلوا نه شي ويلي. ٤ : مدخول د لما حذف جائز دي بخلاف لم مگر ضرورت شعري د وجې نه مدخول د لم خذف کيږي كما في قول الشاعر:

احفظ و ديعتك التي استودعتها  يوم الاعازب ان وصلت وان لم

اي و ان لم توصل.

| | |
|---|---|
| ٦٩٦- واجزم بان ومن وما ومهما | أيِّ متى أيّان أين إذ ما |

**ترکیب:** **بان** متعلق اجزم پورې **مهما** دا ټول عطف دي په ان باندې بحذف العاطف په بعض کې.

**ترجمه:** او جزم ورکوه ته فعل مضارع لره په اِن سره او په من سره الخ لپاره د موافقت د اثر د مؤثر سره لکه څنګه چې دا مختص دي په فعل پورې دغسې مونږ دي لپاره داسې مؤثر ګورو هغه مختص وي په فعل پورې.

| ٦٩٧- وحيثما أنى وحرفٌ إذ ما | كإن وباقي الأدوات أسما |
|---|---|

**ترکیب:** **حيثما** عطف على السابق **حرف** خبرمقدم **كإن** په اعتبار د متعلق محذوف سره صفت د حرف **باقي** مبتداء **اسمًا** قصر للضرورة خبر.

**ترجمه:** او بل جزم ورکوه ته په حيثما او اني سره هم او اذ ما حرف دي پشان د اِن باندې او باقي ادات د شرط اسماء دي.

**تشریح:** يعنى په دې ټولو ادواتو د شرط کې. ١: اِن خالص حرف دي يعنى د دې په حرفيت باندې ټولو اتفاق دي. ٢: او اذ ما کې خلاف دي څوك وائي حرف دي او څوك وائي اسم دي.
٣: او باقي ټول خالص اسماء دي بالاتفاق.
هر کله چې فارغ شو ناظم د بيان د عواملو جازمو نه اوس بيانوي شرط او جزا.

| ٦٩٨- فعلين يقتضين شرط قدِّما | يتلو الجزاء وجواباً وُسِما |
|---|---|

**ترکیب:** **فعلين** مفعول به مقدم **شرط** مبتداء **قدما** جمله خبر **الجزاء** فاعل **جوابًا** مفعول ثاني مقدم په وُسم باندې او ضمير مستتر نائب فاعل مفعول اول.

**ترجمه:** که اِن دي او که نور کلمات دوی غواړي دوه فعلينو لره يو به فعل اول وي او يو به فعل ثاني وي لکن د دې فعل اول لپاره څه وائي او دې فعل ثاني لپاره څه وائي ددوی په اصطلاح کې دي وائي هغه فعل چې مقدم کړي شوي دي هغه مسمى کولي شي شرط سره، او د دې شرط پسې جزاء راځي دا مسمى کړي شوي دي په جواب شرط سره.

| ٦٩٩- وماضيين أو مضارعين | تلفيهما أو متخالفين |
|---|---|

**ترکیب:** **ماضيين** مفعول به مقدم **متخالفين** دوه صورتونه په دې کې جوړيږي مجموعه څلور صورتونه شو.

**ترجمه:** او مومي به ته دغه شرط او جزا دواړو لره ماضي يا دواړه مضارع يا دواړه مخالف د يو بل نه په دې شان سره چې شرط ماضي وي او جزا مضارع وي، يا جزاء ماضي ده او شرط مضارع ده. ١: مثال د ماضيين نحو قوله تعالى: ﴿وَإِنْ عُدْتُّمْ عُدْنَا﴾. ٢: مثال د مضارعين. ﴿وَإِن تُبْدُوا مَا فِي أَنفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُم بِهِ اللَّهُ﴾. ٣: مثال د متخالفين چې شرط ماضي وي او جزاء

مضارع راغلي وي نحو قوله تعالى: ﴿مَن كَانَ يُرِيدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا﴾.

٤: او مثال د بالعكس چې شرط مضارع وي او جزا ماضي راغلي وي دا قليل دی نحو قول الشاعر:

من يكدني بسيِّ كنت منه — كالشجا بين حلقه و الوريدِ

دا شاعر د خپل ورور صفت کوي، ترجمه: څوك چې زما سره تيګي کوي ته هغې لپاره خنډ واقع کيږي په لاره کې هغه ما ته ضرر نه شي رسولی لکه هډوکې چې مرۍ کې ونښلولی شي ښکته خيتې ته ئي نه پريږدي، وقوله عليه السلام من يقم ليلة القدر ايمانًا و احتسابًا غُفر له ما تقدم من ذنبه و قول عائشة رضي الله عنها ان ابا بكر رجل اسيف متى يقم مقامك رق.

| | |
|---|---|
| ٧٠٠- وبعد ماضٍ رفعك الجزا حسن | ورفعه بعد مضارعٍ وهن |

**تركيب: بعد** متعلق بحسن **رفعك** مبتداء **حسن** خبر **ورفعُه** مبتداء **بعد مضارع** متعلق بو هن **وهن** خبر.

**ترجمه:** او هغه مضارع چې واقع شوه جزا وروسته د شرط فعل ماضي نه رفع ورکول ستا دغه جزا لره حسن دي او رفع د دي جزامضارع وروسته د شرط مضارع نه دا ضعيف دي او جزم قوي دي.

**تشريح:** يعنی تا چې وکتل شرط فعل ماضي او جزا فعل مضارع راغلي وه په دغه مضارع کې تا لره دوه خبرې روا دي. ١: رفع. ٢: جزم، لکن رفع حسن ده د وجې د وجود د مانع نه چې هغه فعل دي او جزم احسن دي د وجې نه صلاحيت د جزم نه، مثال د رفع كما في قول الشاعر:

و ان اتاه خليل يومَ مسغبةٍ — يقولُ لا غائب مالي و لا حِرم

اي حرمان اسم د لاخبر محذوف دی عندي، وخليل بمعنى المحتاج لانه ماخوذ من الخلة بفتح الخاء بمعنى الفقر والحاجة لا من الخُلة بضم الخاء بمعنى الصداقة يعنی دلته خليل په معنی د محتاج سره دی نه په معنی د دوست سره او په دې قول د شاعر کې يقولُ جزا واقع شوې ده د شرط لپاره او مرفوع ئي ويلي دی نه مجزوم ځکه که مجزوم ئي لوستلي وي يقل به ئي ويلي وي مثال د جزم قوله تعالى: ﴿مَن كَانَ يُرِيدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ﴾ او شرط او جزا دواړه فعل مضارع راشي جزم واجب دی او رفع لوستل په جزا کې ضعيف ده كما في قول الشاعر:

يا اقرع بن حابسٍ يا ا قرعُ — انك ان يُصرعَ اخوك تصرعُ

اول اقرعُ کې فتحه مختاره رفع جائز، او دويم اقرع تاکيد دي، وقوله تعالى: ﴿أَيْنَ مَا تَكُونُوا يُدْرِككُّمُ الْمَوْتُ﴾ بالرفع على قراءة.

**سوال:** لازم شو بنا ستا په قاعده باندې ضعفية د ترکيب د دي قول د الله تعالى: ﴿فَمَن يُؤْمِن بِرَبِّهِ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَلَا رَهَقًا﴾ دلته يخاف مضارع جزا واقع شويده په رفع سره دي؟

**جواب**: دلته مضارع مرفوع ده ځکه د من شرطيه تاثير ندي کړي د وجې د زيادت فصل نه په ما بين د شرط او جزا کې. ۱: په فا سره. ۲: بيا په لاسره، دا نه چې دا ترکيب ضعيف دي.

| شرطاً لإن أو غيرها لم ينجعل | ۷۰۱- واقرن بفا حتماً جواباً لو جُعِل |
|---|---|

**ترکيب**: **بفا** متعلق باقرن **حتمًا** بمعنى حاتمًا حال **جوابًا** موصوف مفعول به **جُعل** اي الجواب جمله صفت **شرطًا** موصوف مفعول ثاني **لان** باعتبار المتعلق صفة **ينجعل** جواب الشرط، اي الجواب.

**ترجمه**: پيوست کوه ته په دي فا جزائيه سره وجوبًا جزا لره په دي شرط سره کچيري وګرځولى شي دا جواب او جزا شرط ان لپاره يا غير د ان نه نور ادات د شرط لپاره هغه شرط نه ګرځي.

**تشريح**: د دې مجموعه صورتونه دولس دي:

۱: جمله اسميه ده نحو قوله تعالى: ﴿وَإِنْ يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾.

۲: او فعل جامد دي نحو قوله تعالى: ﴿إِنْ تَرَنِ أَنَا أَقَلَّ مِنْكَ مَالًا وَوَلَدًا ۝ فَعَسَىٰ رَبِّي أَنْ يُؤْتِيَنِ خَيْرًا مِنْ جَنَّتِكَ﴾

۳: امر دي نحو قوله تعالى: ﴿إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ﴾.

٤: ماضي ده قد سره لفظًا يا تقديراً مثال د قد لفظي نحو قوله تعالى: ﴿إِنْ يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَهُ مِنْ قَبْلُ﴾ مثال د قد تقديري ان كان قميصه قد من قبل فصدقت اي فقد صدقت.

۵: مضارع ده قد سره نحو ان تذهب فقد اذهب.

٦: مضارع منفي په ما سره ده نحو قوله تعالى: ﴿فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ﴾.

۷: مضارع منفي په لن سره ده نحو قوله تعالى: ﴿وَمَا يَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُكْفَرُوهُ﴾.

۸: مضارع مقترن په سين سره ده نحو قوله تعالى: ﴿وَمَنْ يَسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهِ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيْهِ جَمِيعًا﴾.

۹: مضارع مقترن په سوف سره ده نحو قوله تعالى: ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ﴾

۱۰: مضارع مقترن په رب سره ده نحو: ان تجئ فربما اجئ.

۱۱: جزا د دي مصدر په كانما سره وي نحو قوله تعالى: ﴿مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا﴾.

۱۲: جمله مقترن وي ادات د شرط سره نحو قوله تعالى: ﴿وَإِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَبْتَغِيَ نَفَقًا فِي الْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَاءِ فَتَأْتِيَهُمْ بِآيَةٍ﴾. فان استطعت دا جزا د شرط اول ده او ددي جزا حذف شوي ده فافعل. او که دا جواب صالح وو چې د ان يا نور ادات لپاره شرط واقع کيږي

بيا فا جزائيه راوړل ممتنع دي په دي جزا کې مثلاً فعل ماضي شو چې خالي دي د قد نه لفظاً او تقديراً او په مقام د دعاء کې ندي مستعمل شوي نحو: ان ضربتَ ضربتُ، او که جزا مضارع مثبت وو يا منفي وو په لاسره په هغې کې فا راوړل او نه راوړل دواړه جائز دي.

| ٧٠٢- وتخلف الفاء إذا المفاجاة | كإن تجد إذا لنا مكافأة |
|---|---|

**تركيب: الفاء** مفعول به **اذا** فاعل مضاف **المفاجاة** مضاف اليه اضافت د دال مدلول ته **كان** خبر د مبتداء محذوف **لنا** خبر مقدم **مكافاه** مبتداء مؤخر جمله جزا واقع شوي ده او اذا مفاجاتي رابط دي جواب شرط سره.

**ترجمه:** او قائميږي په ځای د فا جزائيه باندې اذا مفاجاتي دا دواړه شريك دي په تعقيب د مدخول خپل کې مثال د دې لکه ان تجِد الخ که ته سخا وکړي ناګهاني هغه به زمونږ لپاره بدل وي بل مثال د دې لکه دا قول د الله شو : ﴿وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ اِذَا هُمْ يَقْنَطُوْنَ﴾ وقوله تعالى: ﴿فَاِذَآ اَصَابَ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ﴾ وقوله تعالى : ﴿اِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً ۖ مِّنَ الْاَرْضِ ۖ اِذَآ اَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ﴾.

| ٧٠٣- والفعلُ من بعد الجزا إن يقترن | بالفا أو الواو بتثليثٍ قمِن |
|---|---|

**تركيب: الفعل** مبتداء **من بعد** متعلق بيقترن **يقترن** جزا محذوف دل عليه الكلام السابق **بالفا** متلعق بيقترن **بتثليث** متعلق بقمن **قمن** خبر.

**ترجمه:** او فعل مضارع داسې فعل مضارع چې واقع وي وروسته د جز د شرط نه په دې شرط سره کچيرې پيوست وو دا فعل مضارع د فا عاطفه سره يا واو عاطفه سره دا لائق ده په درې اعرابونو سره. ١ : رفع پکې روا ده بنا بر جمله مستانفه. ٢ : او جزم پکې روا دي بنا په تقدير د عطف سره په جزا باندې. ٣ : او نصب پکې روا دي بنا په دې باندې چې ان پکې مقدر دي، مثال د واو لکه: ان يقم زيد يخرُج عمرو و يذهبُ جعفر، بالحركات الثلاثة، مثال د فا نحو قوله تعالى : ﴿وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ۖ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ﴾ .١: بالجزم في قراءة السبعة من غير عاصم. ٢ : و بالرفع في قراءة عاصم. ٣: وبالنصب في قراءة ابن عباس رضي الله عنه شذوذاً.

| ٧٠٤- وجزمٌ او نصبٌ لفعلٍ إثر فا | أو واوٍ ان بالجملتين اكتُنِفا |
|---|---|

**تركيب: جزم** مبتداء **لفعل** ١ : موصوف صفة خبر ٢ متعلق په جزم او نصب پورې على سبيل التنازع خبر محذوف اي جائز **اكتُنفا** جزا محذوف.

**ترجمه:** جزم او نصب ثابت دي لپاره د هغه فعل مضارع چې دا فعل مضارع واقع شوی وي وروسته

د فا عاطفه نه يا دا فعل مضارع واقع شوي وي وروسته د واو عاطفه نه کچيري احاطه کړې شوي وه د دغه فعل مضارع په دوه جملو سره په دي شان سره جمله شرطيه مخکې راغلې وه او جمله جزائيه وروسته راغلې وه او دغه مضارع په مينځ کې راغلي وه مثال لکه: ان تستقم و تجتهدُ اکرمك، اوس تجتهد چې واقع شوی دی په ما بين د شرط او جزا کې. ۱ : جزم روادي عطفًا على تستقم. ۲ : نصب جائز دي په تقدير د ان سره او رفع جائز نه ده ځکه رفع جائز وه بنا بر جمله مستانفه او دلته جمله مستانفه نه جوړېږي ځکه استيناف راځي مخکې د اتمام د جملې شرطيه نه.

| ۷۰۵- والشرط يُغني عن جوابٍ قد عُلِم | والعكس قد يأتي إن المعنى فُهِم |
|---|---|

**ترکيب:** **الشرط** مبتداء **يُغني** جمله خبر **جواب** موصوف **عُلم** صفت **والعكس** مبتداء **المعنى** نائب فاعل فعل د دي حذف شوي دي يفسر بعده **فُهم** جمله مفسره.

**ترجمه:** او شرط بې پروا کيږي د جزا نه چې هغه معلوم شوي ده، او عکس د دي خبرې کله کله راځي چې غناء په جزا سره کولي شي چې جزا ذکر شي او شرط ورله حذف شي په دي شرط سره که معنى معلوميده.

**تشريح:** ۱: يعنى حذف د شرط سره د بقا د جزا نه يا بالعكس دا جائز دي په وخت د وجود د قرينه داله کې په تعين د محذوف باندې او که قرينه نه وه موجود بيا جائز نه دي. ۲ : او حذف د جزا سره د بقا د شرط نه کثير دي او حذف د شرط سره د بقا د جزا نه قليل دي ځکه دا ناظم والعكس قد ياتي وويل، په دي قد سره اشاره وکړه تقليل ته مثال د حذف د جزا سره د بقا د شرط نه: انتَ فائز ان اجتهدتَ، جزا حذف شوي ده، دل عليه الكلامُ السابق، و قوله تعالى : ﴿فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَبْتَغِيَ نَفَقًا فِي الْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَآءِ﴾ اي فان استطعت فافعل، دارنګه حذف کيږي چې جواب د سوال واقع شي نحو: ا تُكرم سعيداً او ته ووائي په جواب کې: ان اجتهدَ اي ان اجتهدَ اکرمْه، مثال د حذف د شرط سره د بقا د جزا نه نحو قل الحقّ و الافاسکت، و کما قال الشاعر:

طلقها فليت لها بكفءٍ — و إلا يعلُ مفرقك الحُسامُ

مفرقك وائي وسط الرأس ته او حسام وائي سيف القاطع ته، **ترکيب:** لدى متعلق دي إحذف پورې، جواب مفعول به، ما موصوله، أخرت صله، عائد يې محذوف دي أى أخرته فهو مبتداء، ملتزم خبر.

**ترجمه:** طلاق ورکړه دغه ښځې ته، ته د دې کف او مثل نه ئې او که نه ئې طلاقوي نو زه به ستا علاج وکړم د سر په توره باندې، سلام د الله دې وي په دې ښځه باندې يا مطره او په تا باندې دې د الله د سلام نوي، و ان لم تُطلقها شرط محذوف دي لدلالت ما قبله عليه او جزا مذکوره ده

چې یعلُ دي او دا مجزوم ده بحذف الواو، د دینه مخکې شعر دا دي:

سلامُ اللهِ یا مطرٌ علیها و لیس علیك یا مطرُ السلامُ

دا مطر د رنګ نه خراب وو او د دې ښځه ډیره ښائسته وه او دا عاشق شاعر په هغې باندې عاشق وو اوس دا شاعر دی خاوند ته وائي ته دا خپله ښځه پریږده ځکه ته د دې لائق نه یې او که نه ئې پریږدې زه ستا سر قلم کوم.

| | |
|---|---|
| ۷۰۶- واحذف لدی اجتماع شرطٍ وقسم | جواب ما أخرت فهو ملتزم |

**ترکیب:** **لدی** متعلق باحذف، **جواب** مفعول به ما موصوله **اخرت** صله عائد محذوف ای اخرته **فهو** مبتداء **ملتزم** خبر.

**ترجمه:** او حذف کوه ته په وخت د اجتماع د شرط او قسم کې، جواب د هغه شي چې تا وروسته کړی دی دغه شي لره د قسم او د شرط نه دا حذف د جواب او جزا د مؤخر لازم کړې شوې ده په تا باندې ځکه دا اولیت د اسبابو د ترجیح نه دي په دې شرط سره که نه وو مقدم شوې په دې شرط او جزا باندې ما یحتاجُ الی الخبر یعنی مبتداء مثال د تقدیم د شرط په قسم باندې: ان یقم زید و الله اکرمه، دا اکرمه جزا واقع شوې ده شرط مقدم لپاره او جواب قسم حذف شوې دې لاکرمنَه دلالت کوي په هغې باندې دا جزا دِ شرطت، او مثال د تقدیم د قسم په شرط باندې: و اللهِ ان قامَ زید لاکرمنه دا لاکرمنه جوابَ قسم دي او جزا د شرط حذف شوې ده دلالت کوي په هغې باندې دا جواب قسم، بل د دې مثال قولِه تعالی: ﴿قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لَا يَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيْرًا﴾. دا لا یاتون جواب د قسم محذوف دي چې هغه معلومیږي لام موطیه للقسم نه، اصل کې: و اللهِ لئن الخ دي او جزا د شرط محذوف ده دلالت کوي په هغې باندې جواب د قسم، وقوله تعالی: ﴿وَاِنْ اَطَعْتُمُوْهُمْ اِنَّكُمْ لَمُشْرِكُوْنَ﴾ دا جواب د قسم مقدر دي ځکه حکم د قسم مقدر پشان د حکم د قسم مذکور دي، صاحب د کافیه ویلي دي: و تقدیرُ القسم کاللفظ. بل از چونکې بابا په دې مثالونو کې د علم بدیع د صنائعو نه صنعت احتیاك پروت دی ګڼ شیان یو په بل کې ورننویستل چې دوه ځیزونه جمع شي او د هغوی دوه متعلقه وي د دې دوو نه یو حذف کړي او دا بل پاتې کړي د هغې متعلق حذف کړي دا موجود دلیل دی په محذوف باندې، اوس دلته شرط او قسم جمع شوي دي او شرط جزا غواړي او قسم جواب غواړي قسم حذف شوې دي د هغې جواب پاتې دي او شرط باقي پاتې دي د هغې جزا حذف شوې ده.

| | |
|---|---|
| ۷۰۷- وان تواليا وقبل ذو خبر | فالشرط رجّح مطلقاً بلا حذر |

**ترکیب:** **قبل** خبر مقدم **ذو** مبتداء مبتداء مؤخر جمله حال از فاعل **فالشرط** مفعول به مقدم **مطلقا** حال از مفعول به **بلا حذر** متعلق رجح جمله فعلیه جزا د شرط.

**ترجمه:** کچیري متوالي او پرله پسې راشي دا قسم او شرط دواړه په داسې حال کې چې د دې دواړو نه مخکې مبتداء راغلې وي، پس ترجيح ورکوه ته شرط لره مطلقًا په قسم باندې دا شرط هر څنګه چې وي برابره خبره ده چې شرط مقدم وي او که مؤخر وي بې د منع او ويري نه يعنی د چا نه ويريږه مه دغه ځای کې ترجيح شرط له ورکوه ځکه دا عمده دي په کلام کې او قسم د دي لپاره تاکيد دي دلته څلور مثالونه پکار دي. ۱: مثال لکه زيد و الله ان يجتهد اکرمه. ۲: زيد ان يجتهد و الله اکرمه غوره دي. ۳: د زيد و الله ان يجتهد لاکرمنّه. ٤: زيد ان يجتهد و الله لاکرمنّه نه، او صاحب د کافيه استواء د امرينو فرمايلي ده بې د ترجيح د احدهما نه په آخر باندې.

| | |
|---|---|
| ۷۰۸- وربّما رُجِّح بعد قسم | شرط بلا ذي خبرٍ مقدّم |

**ترکیب:** **بعد** متعلق رجح پورې **شرط** نائب فاعل **بلا** دا هم متعلق دي رجح پورې **ذي** موصوف **مقدم** صفت.

**ترجمه:** او لږ لږ ترجيح ورکړی شوې ده شرط لره په قسم باندې چې واقع شوي وي دا شرط وروسته د قسم نه بې د هغه خاوند د خبر نه چې مخکې دی د شرط او د جزا دواړو نه، مثال لکه: و الله ان يقم زيد اکرمه، و کما في قول الشاعر:

لئن مُنيت بنا عن غبّ معركةٍ　　　لا تُلفنا عن دماء القوم تنتفل

**ترجمه:** مُنيت ای ابتليت غب بمعنى بعد تنتفل تبري کوونکی، اوس قسم مقدم شوی دی په شرط باندې چې ان مُنيتُ دي ځکه لام موطئه للقسم دي په لئن کې د هغې نه مخکې قسم مقدر دی او لاتُلفنا جزا ګرځولي ده شرط لپاره بحذف الياء او دا قليل دي.

## فصل لو

دا فصل دی په بیان د لو کې.

| | |
|---|---|
| ۷۰۹- لو حرف شرطٍ فِي مضيٍّ ويقلّ | إيلاؤها مستقبلاً لكن قبِل |

**ترکیب:** **لو** مراد اللفظ مبتداء **حرف** خبر **شرطٍ** موصوف **مضي** صفت **ايلاؤها** فاعل، اضافة المصدر الى مفعوله الاول **مستقبلا** مفعول ثاني **قبل** ضمير مستتر هو راجع الى الايلاء نائب فاعل.

**ترجمه:** لو حرف شرط دي پشان د ان باندې چې تعليق د مضمون د جز راولي په مضمون د شرط پورې لکن په زمانه د ماضي کې او اِن تعليق د مضمون د جز راولي په مضمون د شرط پورې په زمانه د استقبال کې، او کم دي واقع کول د لو وروسته د فعل مستقبل نه متصل بلا فصله لکن دا مقبول دي او روا دي ممتنع نه دي کما في قوله تعالى: ﴿وَ لْيَخْشَ الَّذِيْنَ لَوْ تَرَكُوْا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا خَافُوْا عَلَيْهِمْ﴾.

**تشریح:** یو لو دی او یو لولا دی دواړه راځي امتناع لپاره لو لپاره هم حرف امتناع ویلی کیږي او لولا ته هم حرف امتناع ویلی کیږي، بیا دومره فرق دي چې لولا امتناعیه دلالت کوي په انتفاء د شي ثاني باندې د وجه د وجود د شئ اول نه نحو: لولا علي لهلك عمر، هلاکت د عمر منتفي شوي د وجې د وجود د علی رضي الله عنه نه، او لو دلالت کوي په انتفاء د شئ ثاني باندې د وجې د انتفاء د شئ اول نه دا خبره مشهوره ده په خلکو کې. ابن هشام ویلي دي: لو دلالت کوي په انتفاء او امتناع د شرط باندې دائماً فقط او په امتناع د جزا باندې دلالت کوي په هغه وخت کې چې سبب د هغې لپاره فقط دا شرط وي نه بل شي، ځکه انتفاء د سبب مستلزم دي انتفاء د مسبب لره اوس دا سبب عام دی. ۱: چې شرعي وي کما في قوله تعالى: ﴿وَ لَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا﴾ منازل د علما، ته به دی رسولي وي په دې آیتونو سره چې ده ته توفیق د عمل کولو ورکړی وي لکن رفعه منتفٍ لانتفاء السبب و هي المشية ځکه د دوی په مینځ کې ملازمت شرعي دي. ۲: یا به سبب عادةً وي نحو قوله تعالى: ﴿لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا﴾. ۳: یا به دا سبب وي عقلاً نحو لو کانت الشمس طالعةً لکان النهارُ موجوداً لکن وجود د نهار منتفي دی د وجې د انتفاء د طلوع د شمس نه ځکه د دوی په مینځ کې ملازمت عقلاً دي، او که جزا لپاره سبب د دې شرط نه علاوه نور هم وي بیا انتفاء د شرط مستلزم نه ده انتفاء د جزا لره یعنی انتفاء د شرط سره انتفاء د جزا نه راځي نحو: لو کانتِ الشمس موجودة لکان الضوء موجوداً، اوس انتفاء د طلوع د شمس سره انتفاء د وجود د ضوء نه راځي ځکه وجود د ضوء لپاره بل

سبب هم شته چې هغه ګيس دی او بجلي ده او ډيوې دي.

| ۷۱۰- وهي في الاختصاص بالفعل كإن | لكنّ لو أنّ بها قد تقترن |
|---|---|

**تركيب: هي** مبتداء **في الاختصاص** متعلق بما يتعلق به الخبر **بالفعل** متعلق بالاختصاص **كإن** خبر **لكن** اسم د لكن **أن** مبتداء **بها** متعلق بيقترن **يقترن** خبر بيا جمله خبر د لكن.

**ترجمه:** دا لو شرطيه په شان د ان شرطيه دی په خاص والي کې په فعل پورې، لکن لو چې دي آن د حروف مشبه بالفعل نه کله کله پيوست کيږي دي لو شرطيه سره نحو قوله تعالى: ﴿وَلَوْ أَنَّ مَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ﴾ دا آن سره د اسم او خبر نه جمله په تاويل د مصدر سره فاعل واقع شوي دي د فعل محذوف لپاره نو دخول د لو راغی په فعل باندې تقديراً د دې د وجې نه. د لو نه وروسته چې إن راشي آن به وائې او إن جائز نه دی ځکه دا مقام مقام د مفرد دی اوس دا مقام د مفرد ولې دی ځکه دا مدخول د لو فاعل واقع شوی دی د فعل محذوف د پاره او فاعل نه وي مګر مفرد وي حقيقة يا تاويلاً او جمله فاعل نه واقع کيږي.

دارنګه دا إن داخليږي په فعل باندې دا فعل عام دي لفظاً وي نحو: إن ضربتَ ضربتُ، يا تقديراً وي نحو: و ان احد من المشركين استجارك دا احد فاعل د فعل محذوف دي چې د هغې تفسير شوی دی په ما بعد کې يا د دي مثال لکه دغه نظم شو.

| ۷۱۱- وإن مضارع تلاها صُرِفا | الى المضيّ نحو لو يفي كفى |
|---|---|

**تركيب: مضارع** فاعل لفعل محذوف مفسر بعده **ها** مفعول به **صرفا** جزا **الى المضي** متعلق صرف پورې **نحو** خبر د مبتداء محذوف **لو** شرط **كفى** جزا.

**ترجمه:** که چيرې مضارع واقع شوی وي وروسته د دې لو نه متصل بلا فصله هغه مضارع به نقل کولی شي ماضي ته مثال د دې لکه لو يعنى كفى شو، **ترجمه:** کچيرې وفاداري کړې وي په زمانه تيره شوي کې کافي به وي لکن ده وفاداري نه ده کړي کافي نه شو، و كما في قول الشاعر:

لو يسمعون كما سمعتُ كلامَها خروا لعزة رُكعًا و سُجودًا

دلته لو داخل شوی دی په مضارع باندې چې يسمعون دي په معنى د ماضي سره ګرځولي دي اي لو تسمعوا، يعنى إن راځي استقبال لپاره که ماضي باندې داخل شي د هغې نه مستقبل جوړوي، او لو راځي ماضي لپاره که مضارع باندې داخل شي د هغې نه ماضي جوړوي.

## اما و لولا و لوما

دا ما سیاتي تر یو حده پورې بحث د اما او د لولا او د لوما دي.

| | |
|---|---|
| ۷۱۲- أمّا كمهما يك من شيءٍ وفا | لتلو تلوها وجوباً ألفا |

**ترکیب:** اما مبتداء **کمهما** خبر **وفا** مبتداء **لتلو** متعلق بالف **وجوبًا** حال از نائب فاعل **ألف** الفا جمله خبر د مبتداء چې وفا ده.

**ترجمه:** کلمه د أما دا د حروف شرط نه ده په شان د مهما یکن من شيءٍ ده، یعني دا أما حرف شرط ایك یواځې قائم دی په مقام د مهما یکن من شيءٍ باندې د دې وجې نه ددینه وروسته ذکر د فعل شرط ناروا دی ځکه بیا لازمیږي اجتماع د معوض او د معوض عنه او اجتماع د نائب او منوب راځي دا ناروا ده.

او دخول د فا جزائیه معلوم کړی شوی دی په طریقې د وجوب سره د هغه اسم سره چې هغه اسم واقع دی وروسته بې فصله د چا نه وروسته واقع وي دي هغه اسم نه چې هغه واقع شوي دي وروسته د اما نه لپاره د بقاء داثر د فعل شرط په دې نائب کې چې اما دي ځکه دا قائم دمهما او د فعل شرط دي او فعل شرط خو جزا غوښتله او جزا د فعل شرط کې غالبًا فا جزائیه راتله مونږ وویل پریږده چې اثر د فعل شرط په دې اما کې پاتې شي مونږ ته پته ولګي چې دا اما حرف شرط دی چې قائم شوي دي په مقام د مهمَا یکن فعل شرط باندې نحو: اما زید فمنطلق.

| | |
|---|---|
| ۷۱۳- وحذف ذي الفا قلَّ في نثرٍ إذا | لم يك قول معها قد نُبِذا |

**ترکیب:** وحذف مبتداء **الفا** بدل، صفت، عطف بیان **قل** خبر **اذا** شرط جزا محذوف دل علیه الکلام السابق **معها** متعلق بنُبِذ **نُبذا** ضمیر مستتر هو راجع الی القول نائب فاعل جمله خبر د یك.

**ترجمه:** او حذف د دغه فا جزائیه د اما سره دا ډیر کم دی په نثر کې دا په هغه وخت کې چې نه وي لفظ د قول دي فا جزائیه سره حذف کړي شوي.

**تشریح:** یعنی فا جزائیه د اما سره لازم ده دا به خامخا ورسره راځي په نثر کې. ۱: او حذف په نثر کې قلیل دی که لفظ د قول فا جزائیه سره حذف شوی نه وو کما في قوله عَلَيْهِ السَّلَام اما بعد ما بال رجال یشترطون شروطا لیست في کتاب الله ای فما بال رجال دلته فا جزائیه حذف شوې ده، و قول عائشة: اما الذین اجمعوا بین الحج و العمرة طافوا طوافًا واحدًا اي فقد طافوا. ۲: او حذف د فا جزائیه سره د قول نه. ۳: او په شعر کې دا کثیر شائع دي په استعمال د کلام د عربو کې مثال د فا محذوف سره د قول نه نحو قوله تعالی: ﴿فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ﴾ شرط جزا د دي

محذوف ده فيقال لهم ﴿أَكَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ﴾ د جهنميانو دوه علامې دي. ۱: مخ توروالي. ۲: د سترګو شينوالي، او مثال د فا محذوف په شعر کې فاما القتالُ لاقتال لديكم. و لكن سيراً في عراض المواكب ترکیب: لکن اسم محذوف اي ولكنكم سيراً مفعول مطلق لفعل محذوف عراض ناحيه المواكب مواضع د چکر. اصل کې فلا قتالَ لديكم وو او فا جزائيه حذف شوې ده د وجې د ضرورت شعري نه او حذف د دي په اشعارو کې كثير دی او په نثر کې قليل دي بې د قول نه او سره د قول نه كثير دي.

| ۷۱۴- لولا ولوما يلزمان الابتدا | إذا امتناعاً بوجودٍ عقدا |
|---|---|

**ترکیب**: **لولا** مبتداء **يلزمان** خبر **الابتدا** اي المبتداء مفعول به **امتناعًا** مفعول به مقدم **بوجود** متعلق عقد پورې.

**ترجمه**: او کلمه د لولا او لوما لازم کوي دا دواړه ځان سره وروسته مبتداء لره او خبر به دي د حذف وي وجوباً په هغه وخت کې چې حاصل کړې وي او تړلي وي دي لولا او لوما امتناع د ثاني لره په سبب د وجود د شي اول سره نحو: لولا علي لهك عُمر، او که خبر د دي افعال عامو نه نوو بلکه افعال خاصو نه وو بيا دا جمله به روغه موټه مذكور به وي نحو:

و لولا الشعرُ بالعلماء يزري لكنتُ اليومَ اشعرَ من لبيد

د دي لولا او لوما لپاره لابدي ده د جواب نه، جواب د دي به خامخا ذکر کوي مقرون باللام که مثبت وو او که منفي وو بيا به مقرون باللام نه وي او کله کله جواب د لولا حذف کولی شي په وخت د وجود د قرينه کې په تعين د محذوف باندې نحو قوله تعالى: ﴿وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ﴾ جواب د لولا حذف شوي دی لَهلكتم.

| ۷۱۵- وبهما التحضيض مز وهلا | ألاّ ألا وأولينها الفعلا |
|---|---|

**ترکیب**: **بهما** متعلق بمن **التحضيض** مفعول به مقدم **الا** معطوف ضمير مجرور باندې بحذف العاطف **لينهما** مفعول اول **الفعلا** مفعول ثاني.

**ترجمه**: او په دې دواړو سره ښکاره کوه معنی د تحضيض لره چې تيزول د متكلم دي مخاطب خپل لره په حصول د فعل باندې په زمانه راتلونکې کې، دارنګه په هلاّ او الاو الا سره پس د دغه وخت کې ته خامخا پيوست کوه دي دواړو سره فعل لره او فعل عام دي لفظًا وي او که تقديراً وي.

**تشريح**: **يعنى** که دا مخکې معنی نه وي حاصل کړی دي لولا او لو په دغه وخت کې حروف تحضيض وائي، او هلا او آلا او الا هم حروف تحضيض دي ځکه دا داخل شي په مضارع باندې تحضيض د مخاطب فائده کوي، دارنګه دوی لپاره حروف تنديم هم وائي، ځکه دا ماضي

باندې داخل شي ندامت فائده کوي مخاطب ته په فوت کېدو د فعل باندې او دا واجب الدخول دی په فعل باندې او که فعل لفظًا نه وو تقدیر به را اوباسي.

| علّق أو بظاهرٍ مؤخّر | ٧١٦- وقد يليها اسم ـ بفعلٍ مُضمَرٍ |
|---|---|

**ترکیب:** **یلیها** مفعول به **اسم** فاعل **بفعل** متعلق بعلق **علق** جمله صفت د اسم **او** عطف علی بفعل مع ملاحظة موصوف محذوف **بظاهر** موصوف **مؤخر** صفت.

**ترجمه:** او کله کله واقع کیږي وروستو د دې حروف تحضیض نه متصل بلا فصل اسم داسې اسم چې هغه به معمول ګرځولی شوي وي په فعل مقدر سره. ١: جوازاً نحو قوله عليه السلام لجابرٍ رضي الله عنه فهلا بكرًا تلاعبك و تلاعبُها اي فهلا تزوجتَ بكرًا. ٢: یا دا فعل مقدر وي وجوباً هغه وروسته فعل مشتغل بالضمیر ګرځولی شوي وي نحو: هلا زیداً ضربته یا په فعل ښکاره سره چې هغه مؤخر وو که دا وروسته فعل مشتغل بالضمیر نه وو نحو: هلا زیداً ضربتَ.

## الاخبارُ بالذي والالفُ و اللام

دا بحث د خبر ورکول دي د جز د جملې نه په معاونت د کلمه د الذي سره یا د الف لام موصولي سره نحویانو تمرین د متعلم لپاره یو باب وضع کړی دی هغې ته اخبار بالذي وائي، تسمیه د کل په اسم د جز اشرف او د اشهر سره په اخبار بالذي سره امتحان کوي د طالب په مسائلو د دې فن کې چې د کوم یو جز نه اخبار بالذي جائز دي او د کوم یو جز نه جائز نه دي دا به هله وپیژني چې ده ته مسائل د نحوې معلوم وي.

| عن الذي مبتدأ قبل استقر | ٧١٧- ما قيل أخبر عنه بالذي خبر |
|---|---|

**ترکیب:** **ما** موصول مبتداء **اخبر** نائب فاعل **بالذي** دواړه متعلق دي اخبر پورې **خبر** خبر **عن الذي** متعلق خبر پورې **مبتداء** حال از الذي **قبل** متعلق استقر پورې **استقر** صله.

**ترجمه:** هغه جز د جملې چې وویلی شي تا ته خبر ورکړه ته د دې جز د جملې نه په معاونت د کلمه د الذي سره دا به خبر وي د کلمې د الذي نه په حال د دغه الذي کې چې ده قراري نیولی دی دغه الذي مخکې د دغه جز د جملې نه.

| عائدها خلف معطي التكملة | ٧١٨- وما سواهما فوسّطه صله |
|---|---|

**ترکیب:** **ما** موصوله مبتداء **سواهما** صله **صله** حال از مفعول به **عائد** مبتداء **خلف** مضاف خبر **معطي** مضاف الیه مضاف **التکمله** مضاف الیه.

**ترجمه:** او هغه څیزونه چې سوا دي د الذي او د هغه جز د جملې نه هغه واقع په وسط کې وي په حال کون د دغه سوا کې چې هغه به صله وي او عائد د کلمه د الذي په دې صله کې هغه ضمیر اسم به وي

چې هغه به خليفه او قائم مقام کرځولي شي د هغه اسم نه چې هغه ورکوونکې دي تکميل د جملې لره ځوك ورکوي هغه خبر ورکوي لکه مخکې ويلي شوي وو و الخبر الجزء المتمم الفائدة.

**تشريح:** يعني د اخبار بالذي لپاره درې شرطونه دي ناظم صبب هغه شرطونه دوه نظمونو کې بيان کړه: ۱: تصدير د الذي. ۲: جعل د ضمير په موضع د مخبر عنه کې.

۲: جعل د مخبر عنه خبر د مبتداء چې الذي دی اوس مثال به د دې څنګه وي چې په هغې کې دا درې واړه شرطونه راغلي وي دا وائي:

| | |
|---|---|
| ۷۱۹- نحو الذي ضربته زيدٌ فذا | ضربت زيداً كان فادر المأخذا |

**ترکيب:** **نحو** خبر د مبتداء محذوف **فذا** مبتداء **ضربت** مراد اللفظ خبر د كان مقدم **كان** ضمير مستتر هو راجع الى ذا اسم د كان جمله خبر د مبتداء **الماخذا** مفعول به.

**ترجمه:** مثال لکه الذي ضربته زيد شو دغه الذي ضربته زيد اصل کې وو ضربتُ زيداً پس پوهه شه ته په ماخذ او مشتق منه د دي الذي ضربته زيد باندې چې هغه ضربت زيداً دي بيا الّذي د دي جمله اول سر کې راوړل او زيدا مفعول به په ځای باندې ضمير کېښودل ۱ او دا زيداً مفعول به وروسته کړه خبر وګرځول الّذی لپاره ضربت زيداً نه الذي ضربته زيد جوړ شو الذي موصول ضربته جمله فعليه صله د موصول سره د صلې نه مبتداء او زيد ورله خبر جمله خبريه اسميه او مخکې جمله فعليه وه په اخبار بالذي سره جمله اسميه جوړه شوه.

| | |
|---|---|
| ۷۲۰- وباللذين واللذين والتي | أخبر مراعياً وفاق المثبت |

**ترکيب:** **اللذين** متعلق اخبر پورې **مراعيًا** حال از فاعل **فاق** مفعول به د مراعياً.

**ترجمه:** او په کلمه د الذَين سره چې تثنيه مذکر موصول دي او په جمع مذکر موصول سره چې الذين دي او واحده مؤنث موصول سره چې التى دی خبر ورکوه ته د جز د يوې جملې نه په حال کون ستا کې چې لحاظ کوونکی وي ته موافقت د دې خبر لره.

**تشريح:** مراد مثبت نه دلته مخبر عنه دی چې هغه خبر دی ځکه خبر لپاره لکه څنګه چې جزء المتمم وائي دارنګه دی لپاره مثبت هم وائي ځکه دا ثابت کړی شوی دی مبتداء لره، اوس که دا مخبر عنه تثنيه وه اخبار به الذان تثنيه سره کوي او که مخبر عنه جمع وه اخبار به په الذين جمع سره کوي ځکه په ما بين د مخبر به او مخبر عنه کې مطابقت شرط دي ضربتُ الزيدَين نه چې اخبار کوي الذَين ضربتهما الزيدان به وائي، او ضربت الزيدن نه چې اخبار کوي الذِين ضربتهم الزيدون به وائي.

| | |
|---|---|
| ۷۲۱- قبول تأخيرٍ وتعريفٍ لما | أخبر عنه هاهنا قد حتما |

**ترکیب:** **قبول** مبتداء **لما** متعلق بحتم موصوله **اخبر** صله **عنه** نائب فاعل **ههنا** متعلق بحتم **حتما** ضمير راجع تاخير تعريف ته نائب فاعل جمله خبر.

**ترجمه:** قبلول د وروسته والي او قبولول د تعريف د هغه جز د جمله چې تا اراده کړې ده اخبار د هغه جز د جمله نه په تحقيق سره واجب کړی شوې ده په دې مقام د اخبار بالذي کې.

**تشريح:** او که دا قابل د تعريف نه وي بيا اخبار د هغه په الذي سره ناروا دي لکه حال او تميز شو څکه دا نکره راځي معرفه نه راځي او که دا قابل د تاخير نه وو بيا د هغې اخبار ناروا دي لکه ضمير شان او اسماء شرط او اسماء استفهام و غيره شو څکه د دوی صدارت واجب دي په کلام کې.

| | |
|---|---|
| ۷۲۲- كذا الغِنى عنه بأجنبيٍّ أو | بمُضمَرٍ شرط فراع ما رعوا |

**ترکیب:** **كذا** متعلق بشرط **الغنى** مبتداء **عنه** دا دواړه متعلق دي الغنى پورې **شرط** خبر **فراع** فا تفريعيه **ما** موصوله **رعوا** صله عائد ضمير منصوب مفعول به محذوف اي رعوهُ.

**ترجمه:** دارنګه شرط کړی شوی په دې باب د اخبار بالذي کې غنا د دغه جز د جملې نه په اجنبي سره يا په ضمير سره پس ته رعايت او لحاظ کوه د هغه شرطونو چې لحاظ داري کړی عربو د دې شرطونو.

**تشريح:** او که دا صالح د استغناء په اجنبي سره نه وو بيا اخبار جائز نه دي لکه ضمير رابط شو په جمله کې چې واقع شوي وي خبر د مبتداء مثال لکه: زيد ضربته شو اوس د دې ضمير منصوب مفعول به نه اخبار بالذي نه دی جائز څکه د دې په ځای باندې وضع د اجنبي صحيح نه ده، دارنګه که دا صالح د استغناء په ضمير سره نه وو بيا اخبار جائز نه دي مثال لکه: موصوف شو بدون الصفة او صفت شو بدون الموصوف او مضاف شو بدون المضاف اليه څکه: و الضميرُ لايوصف و لايوصفُ به و لايُضاف، او اخبار د موصوف او صفت مجموعي نه او مضاف مضاف اليه مجموعي نه او يواځي مضاف اليه نه جائز دي او صحيح دي.

| | |
|---|---|
| ۷۲۳- وأخبروا هنا بأل عن بعض ما | يكون فيه الفعل قد تقدّما |

**ترکیب:** **هنا** متعلق اخبروا پورې **عن** دا دواړه هم د هغې پورې متعلق دي **ما** موصوله **يكون** صله **فيه** متعلق بتقدم **الفعل** اسم د يكون **تقدما** جمله خبر د يكون.

**ترجمه:** خبر ورکړي دي نحاتو په دې مقام د اخبار کې په الف لام موصولي سره د جز د هغه جملي نه چې وي په دغه جمله کې فعل مخکې راغلي، يعنی اخبار الف لام سره د جز د جمله اسميه نه نه شي کولی بلکه جز د جمله فعليه نه کولي شي.

| | |
|---|---|
| ٧٢٤- إن صحّ صوغ صلةٍ منه لأل | كصوغ واقٍ من وقى الله البطل |

**تركيب:** **صوغ** فاعل **منه** متعلق صوغ پورې **لال** متعلق صله پورې **كصوغ** خبر د مبتداء محذوف **وقى** متعلق بصوغ **البطل** مفعول به.

**ترجمه:** په دې شرط سره کچیري صحیح وو جوړول د صله لپاره دال د دغه فعل نه او که ته وائي ماته مثال وښایه چې الف لام سره خبر ورکړي دي خلکو د جز د جملي نه او په هغه جمله کې فعل مقدم وي؟ دا وائي لکه: وقى اللهُ البطل شو، دا جمله فعليه ده، اوس ته چې اخبار ورکوي مفعول نه په الف لام سره الواقي الله اياه البطلُ به وائي، او که اخبار ورکړي الله نه الواقي البطلَ اللهُ به وائي.

او که دا فعل صالح نه وو اسم فاعل جوړولو لپاره مثلاً فعل جامد وو يا سين او سوفَ داخل شوی وو بيا اخبار الف لام سره روا نه دي.

| | |
|---|---|
| ٧٢٥- وإن يكن ما رفعت صلة أل | ضمير غيرها أبين وانفصل |

**تركيب:** **ما** موصوله اسم د يكن **رفعت** رابط محذوف دي رفعته خبر د يكن **ال** فاعل رفعت **بين** جزا **انفصل** ضمير دواړو کې مستتر راجع ما موصوله ته.

**ترجمه:** کچیرې وو هغه اسم چې رفع ئې ورکړې ده دغه اسم لره صله د الف لام ضمير چې نه دي راجع الف لام موصولي ته قطع کولی شي دا ضمير د عامل خپل نه او منفصل به ذکر کولی شي مثال: ضربت زيداً دې ته اخبار وکړې د دې زيداً مفعول به نه په الف لام سره الضاربه انا زيد به وائي په انفصال د ضمير مرفوع د ضارب سره، او که د دې ضمير مرفوع متصل نه اخبار کوي په الف لام سره الضارب زيداً انا به وائي کوم ضمير چې وضع کړي شوي دي ضمير مرفوع متصل په ځای باندې هغه مستتر دي په الضاربُ کې ځکه هغه راجع دي موصول ته.

## العدد

دا ما سياتي تر يو حده پورې بحث د هغه اسماؤ دی چې هغه دلالت کوي په کميت او مقدار د افرادو د معدوداتو باندې.

| في عدِّ ما احادُهُ مذكَّره | ۷۲۶- ثلاثةً بالتاء قل للعشره |
| --- | --- |

**ترکيب:** **ثلاثة** مفعول به مقدم **التاء** باعتبار متعلق حال از ثلاثة **للعشرة** اللام بمعنى الى **في عدا** دواړه متعلق دي قل پورې **ما** موصوله آحاده مبتداء **مذکره** خبر جمله صله.

**ترجمه:** اووايه ته ثلاثه په حال کون د دې کې چې متلبس دي په تا سره تر عشره پورې په شميرو د هغه معدوداتو کې چې افراد د هغې مذکر وي.

| جمعاً بلفظ قلةٍ في الأكثر | ۷۲۷- في الضِدِّ جرِّد والمميزَ اجرر |
| --- | --- |

**ترکيب:** **في الضد** متعلق جرد پورې **جرد** مفعول به محذوف اي جردها من التاء **المميز** مفعول به مقدم **جمعًا** حال من المميز **بلفظ** متعلق بجمعًا **في الاكثر** متعلق بقلة.

**ترجمه:** او خالي کوه ته دغه ثلاثه لره تر عشره پورې د تا نه په ضد د آحادو د مذکر کې چې هغه آحاد د مؤنث دی، او جر ورکوه ته تميز د دې لره په حال کون د دغه تميز کې چې دا به صيغه د جمع وي په لفظ د جمع قلة سره ډير ډير يعنى اکثر استعمال د کلام د عربو کې او اکثر سره احتراز وکړو د اقل نه ځکه تميز د عدد اقل کله کله جمع کثرت هم راځي.

**تشريح:** عدد په درې قسمه دي: ۱ : عدد اقل يو نه واخله تر لسو پورې ۲: عدد اوسط يوولسو نه واخله تر سلو پورې ۳ : عدد اکثر سلو نه واخله الى آخره، تميز د عدد اقل راځي جمع مجرور ماسوا د لفظ د مائة نه او غالبًا دا تميز راځي جمع قلة او کله کله جمع کثرة هم راځي نحو قوله تعالى **ثلاثة قروء** قروء جمع د قرء ده، دا جمع کثرت ده او جمع قلة د دې اقراء راځي، اوس دلته تميز قروء جمع کثرت ولې راغلى دی ځکه قروء جمع د قُرء دي بروزن فَعْل او فعل وزن باندې مفرد جمع راځي افعل په وزن باندې لکه د فَلس جمع افلس راغلي ده، او دلته د دې جمع اقراء راغلې ده بروزن افعال شاذ، او هر کله چې دا شاذ شوه دا په منزله د کالمعدوم شو ځکه تميز د دې جمع کثرت راغلي دي قروء ځکه کله چې جمع قلة يو لفظ لپاره نه وي هلته تميز جمع کثرت راځي نحو: ثلاثةُ رجال، اوس که دا تميز جمع مذکر راغلي وه دا عدد به مؤنث کوي يعنى خلاف القياس به مستعملوي لپاره موافقت د عدد معدود خپل سره معدود جمع ده او جمع په تاويل د جماعة سره مؤنث دي اوس که دا عدد مؤنث کړو موافقت د عدد راغي معدود خپل سره په تانيث کې، او که دا تميز جمع مؤنث وو عدد به مذکر مستعملوي نحو: ثلاثُ

نسوةٍ لپاره د فرق په ما بين د عدد د مذكر او عدد د مؤنث كې، او بالعكس ئي ونكړه ځكه مذكر اسبق دي وجوداً هغه دا مطابقت واخست او دا مؤنث هسي پاتې شو.

**سوال** دا قاعده ستا منقوض شو په دي قول د الله تعالى سره من جاء بالحسنة فله عشر امثالها امثال جمع مذكر تميز واقع شوي دي او عدد مؤنث نه دي مستعمل شوي؟ **جواب** دلته دا امثال جمع مؤنث ده ځكه د دينه حسنات مراد دي اي فلهُ عشرُ حسناتها ٢: اذا كان المعدود مؤنثًا و اللفظُ مذكرا او بالعكس ففيه وجهان التذكير و التانيث نحو: ثلاث اشخص من النساء، او دا فله عشرُ امثالها د دي قبيلي نه دي چې دا مؤنث نه تعبير كړي چې حسنات دي په لفظ د مذكر سره چې امثال دي په دي عدد كې تذكير او تانيث دواړه جائز دي كه لحاظ د لفظ كوي عدد مؤنث ووايه ځكه لفظ مذكر دي او كه لحاظ د معنى كوي عدد مذكر ووايه ځكه په اعتبار د معنى او مصداق سره دا مؤنث دي، او جاءني ثلاثة من الرجالِ كې دا الرجال تميز د عدد نه دي بلكه تميز د عدد حذف شوي دي او دا د هغې لپاره بيان واقع شوي دي اي ثلاثة اشخاصٍ من الرجال، اوس تميز د عدد اوسط او د عدد اكثر بيانوي:

| | |
|---|---|
| ٧٢٨- ومائةٍ والألف للفرد أضِف | ومائة بالجمع نزراً قد رُدِف |

**تركيب:** مائةً مفعول به مقدم للفرد متعلق اضف پوري مائة مبتداء بالجمع متعلق ردف پوري نزرًا حال از ضمير مستتر ردف رُدِفضمير مستتر هو راجع مائة نائب فاعل جمله خبر.

**ترجمه:** او مضاف كړه ته لفظ د مائة او لفظ د الف تميز خپل ته چې هغه صيغه د مفرد وي او مائة لفظ په تحقيق سره موندلى شوى دى او متبوع كړى شوى دى تميز صيغه د جمع سره په حال كون د دې كې چې دا كم دي.

**تشريح:** يعني تميز د عدد اكثر راځي مفرد مجرور نحو: مائة رجلٍ و مائة امراةٍ، او كله كله راځي جمع مجرور نحو قوله تعالى: ﴿وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ ثَلَثَ مِائَةٍ سِنِينَ﴾ باضافة المائة الى سنين، او بلا اضافت هم قراءت راغلى دى په دې كې اي ثلاث مائةٍ سنين بيا دا سنين بدل يا عطف بيان واقع شوى دى د ثلاث مائة لپاره، او كله كله تميز د عدد اكثر مفرد منصوب راځي خلافًا للقياس كما في قول الشاعر:

اذا عاش الفتى مائتين عامًا ... فقد ذهب المسرّةُ و الفتاءُ

| | |
|---|---|
| ٧٢٩- وأحد ذكر وصلنه بعشر | مركّباً قاصِد معدودٍ ذكر |

**تركيب:** احدَ مفعول به مقدم مركبًا حال از ضمير مستتر في صِلَنْه قاصدَ اضافة الى المفعول حال ثاني ذكر صفت د معدود.

**ترجمه**: او ذکر کوه ته لفظ د احد لره او پیوست کوه ته دغه لفظ د احد لره عشر پورې په حال کون ستا کې چې ته ترکیب کوې احد لره عشره سره او په حال کون ستا کې ته قصد کوونکی یې معدود مذکر لره.

| | |
|---|---|
| ۷۳۰- وقل لدى التأنيث إحدى عشره | والشين فيها عن تميم ـ كسره |

**ترکیب**: **احدی** مفعول به و **الشين** مبتداء اول **فيها** دا دواړه په اعتبار د متعلق محذوف سره خبر مقدم **کسره** مبتداء ثاني بيا جمله خبر مبتداء اول لپاره.

**ترجمه**: او وایه په نزد دتانيث د معدود باندې احدى عشره په تانيث د جزئینو سره، او شين چې دی په عشره کې په وخت د ترکیب کې د احدى سره یا د نور اعدادو سره نقل کړی شوی دی د بني تميم نه کسره د شين.

**تشريح**: احد په مذکر کې او احدَی په مؤنث کې دا ته مرکب کړې عشره سره بيا ته به وګوري که معدود مذکر وو دواړه جزء به مذکر کړې نحو: احد عشر رجلاً، او که معدود مؤنث وو بيا دواړه جزونه به مؤنث کړي نحو: احدى عشرة امراةً شو، ځکه جزء اول د دي ترکیب محمول دي په حالت د افراد باندې، او هر چې دي جز ثاني محمول دي ځکه هر کله چې تميز مونږ ته معلوم شو د جز اول نه جز ثاني خلاف القياس مستعمل کولو ته ضرورت پاتې نه شو، او اثنان او اثنتان به دا وروسته بيانوي هغه ده وروسته کړي دي. بيا کله چې دا احدَی لفظ يا اثنتان لفظ مرکب شي تر تسع پورې دا لفظ د عشرة سره. ۱: بني تميم په دي شين د عشرة کې کسره وائي لپاره د دې چې لازم نه شي توالي د اربع حرکات فتحاتو دا موجب د ثقل دي.

۲ : او حجازيين په سکون سره وائي ځکه سکون اخف دي د کسرې نه په دې مقام کې مذهب د بني تميم ضعيف دي ځکه هغوی باران نه تښتيدلی دی پرنالې لاندې راغلي دي چې عدول ئې کړی دی خفيف نه چې فتحه ده ثقيل ته چې کسره ده. ۳: بعض خلك فتحه وائي.

| | |
|---|---|
| ۷۳۱- ومع غير أحدٍ وإحدى | ما معهما فعلت فافعل قصدا |

**ترکیب**: **مع** متعلق فافعل پورې **ما** موصوله مفعول به مقدم **معها** متعلق بفعلت جمله صله **قصدا** حال از ضمير مستتر في افعل على تاويل الاسم الفاعل.

**ترجمه**: او کوه ته هغه عدد اقل سره چې هغه عدد اقل غير دي د احد او د احدى نه هغه کار او هغه معامله چې تا کړې وه د دې دواړو سره په حال کون ستا کې چې ته انصاف کوونکی ئې د عشره يعنی مه کمه وه او مه زياتوه بلکه عدل او انصاف کوه.

**تشريح**: دا لفظ د عشره سره ماسوا د احد او د احدى نه بل عدد اقل مرکب شي د اثنان نه واخله تر

تسع پورې دی لفظ د عشره سره به هغه کار کوي کوم کار چې تا مخکې دي سره په ملګرتیا د احد او احدی کې کړي وو، یعنی که تمیز د دې مذکر راغلی وو دا عشر لفظ به هم مذکر مستعملوي مثال لکه: اثنان عشر رجلاً، ثلاثةَ عشر رجلاً، الخ، بتانیث الجزء الاول و تذکیر الجزء الثاني، او که تمیز مؤنث راغلی وو دا عشر لفظ به مؤنث کوي مثال لکه: اثنتان عشرة امراةً، ثلاثة عشرة امراة، اربع عشرة امراةً الخ بتذکیر الجزء الاول و تانیث الجزء الثاني د ثلاثه نه پورته.

| | |
|---|---|
| ۷۳۲- ولِثلاثةٍ وتسعةٍ وما | بينهما إن رُكِّبا ما قدِّما |

**ترکیب: لثلاثة** خبر مقدم **ما** موصوله **بينهما** صله **ما** موصوله مبتداء مؤخر **قدما** صله.

**ترجمه:** او ثابت دی ثلاثة او تسعة او د هغه عدد اقل لپاره چې هغه واقع دي د دې دواړو په مینځ کې چې هغه اربع دی تر تسعه، دوی له څه شي ثابت دي ما هغه حکم چې مخکې تیر شوی دی په حالت د عدم ترکیب کې کچیرې دا مرکب کړی شوی وو عشره سره چې هغه ثبوت د تا دی دوی سره که تمیز مذکر راغلي وو او حذف د تا دی د دوی نه که تمیز مؤنث راغلي وو.

۱: لپاره د دې چې. ۲: لازم نه شي اجتماع د علامتَي د تانیث د جنس واحد نه فیما هو کالکلمة الواحدة کې: فلا یردُ باحدی عشرة امراة. ۱: ځکه جز اول د دې حالت ترکیبي محمول دی په حالت د افراد باندې هلته خو دا مستعملېدو خلاف القیاس دارنګې دلته هم مستعمل شو خلاف القیاس او دا لفظ د عشرة په حالت د افراد کې خلاف القیاس مستعملیدو، او دلته مستعملیږي موافق القیاس. ۱: لپاره د دې چې لازم. ۲: ځکه هر کله چې التباس مدفوع شو په تذکیر او تانیث د جز اول سره په ما بین د مذکر او د مؤنث کې په نسبت سره مخاطب ته پس حاجت پاتې نه شو استعمال د جز ثاني ته خلاف القیاس، یعنی هر کله چې تمیز مونږ ته معلوم شو د جز اول نه بیا جز ثاني خلاف القیاس مستعملولو ته ضرورت پاتې نه شو. ۲: په حالت د افراد کې عشر لفظ خلاف القیاس مستعملیدو په مذکر کې لپاره د دې چې دا عدد موافق شي د معدود سره ځکه معدود جمع مذکر وه او جمع په تاویل د جماعة سره مؤنث دي او مؤنث کې خلاف القیاس کیدل، لپاره د دې چې التباس رانه شي بین المذکر و المؤنث، او دلته معدود د دي مفرد مذکر دي دا عشره چې خلاف القیاس مستعمل کړو مطابقت نه راځي په ما بین د عدد او معدود کې، بیا د دې لثلاثة الخ وویل او اثنان ذکر نې ونکړه د هغې حکم اوس بیانوي.

| | |
|---|---|
| ۷۳۳- وأول عشرة اثنتي وعشرا | إثني إذا أنثى تشا أو ذكرا |

**ترکیب: عشرة** مفعول اول **اثنتي** مفعول ثاني **عشرا** عطف علی عشرة **اثنی** معطوف علی اثنتي **اثنی** مفعول به مقدم **تشا** ضمیر انت مستتر فاعل **ذکرا** عطف علی انثی.

**ترجمه:** او قريب كړه عشره ته لفظ د اثنتان په تانيث سره او قريب كوه عشره ته لفظ د اثنان په تذكير سره په هغه وخت كې چې تا اراده وكړه معدود مؤنث يا معدود مذكر.

**تشريح:** يعني اثنان په شان د احد دي كله چې دا مركب شي عشره په دي شان سره كه تميز د دی مذكر راغلی وو دا جز اول او جز ثاني به دواړه مذكر كوي او كه تميز مؤنث راغلي وو جز اول او جز ثاني دواړو به مؤنث كوي نحو: عندي اثنا عشرَ درهمًا، عندي اثنتَا عشرةَ امراةً.

| والفتح في جزأي سواهما ألف | ٧٣٤- واليا لغير الرّفع وارفع بالألف |
|---|---|

**تركيب: والياء** مبتداء **لغير** خبر **با**متعلق بارفع **والفتح** مبتداء **في جزاي** متعلق بالف **الف** جمله خبر.

**ترجمه:** او يا په اثنان او اثنتان كې دا به ثابت وي غير رفع لره چې هغه نصب او جر دي او رفع وركړه ته دې لره په الف سره يعنى دا به مرفوع بالالف به وي په حالت رفعي كې او منصوب او مجرور باليا به وي په حالت نصبي جري كې، او نصب په جزونو د هغه عدد مركب كې چې هغه سوا وي د دي دوه جزونو نه معلوم كړي شوي دي.

**تشريح:** يعنې احد عشر نه واخله تر تسعة عشر پورې جز اول او جز ثاني دواړه مبني على الفتحه دي ماسوا د جز اول د اثنا عشره نه دا معرب دي څكه دا مشابه دي مضاف سره په سقوط د نون كې په دې شان سره دلته دا نون حذف شوي دي د وجې د اتصال نه نه د وجې د اضافت نه لكه صاحب د شمه ويلي دي هغه په دې مقام كې خطا شوي دي، لكه چې دا نون حذف كيږي د وجې د اضافت نه او اضافت د خواص معظمو او مكبرو د اسم نه دي قوي كيږي هغې سره جهت د اسميت او اصل په اسماؤ كې اعراب دي لهذا دا معرب شو، او معرب دي په اعراب د تثنيه سره په حالت رفعي كې به واو سره وي او په حالت نصبي جري كې به يا سره وي، او د دينه علاوه د دې نورو جز اول او جز ثاني دواړه مبني على الفتحه دي هر چې دا جز اول د وجې د وقوع د دينه په وسط كې څكه اجراء د اعراب په وسط د كلمه كې جائز ندي، او هر چې دی جز ثاني څكه دا متضمن دی معنى د حرف لره چې هغه واو دی او د واو معنى جمع مطلق ده په هغې باندې دا مشتمل دي مثال لكه: احد عشر يوولس ته وائي دا جمع معنى د دي واو دي چې حذف شوي دي اصل كې احد و عشر وو بيا دا واو حذف كړي شو د دوه اسمونو نه يو اسم جوړ كړه او د هغه واو په معنى باندې د جز ثاني مشتمل دي صرف په لفظ كې تغير راغلي دي چې مخكې معرب وو اوس مبني ګرځيدلي دي او په معنى كې تغير نه دي راغلي معنى د هغه او د دې يو ده.

| ۷۳۵- وميّز العشرين للتسعينا | بواحدٍ كأربعين حينا |
|---|---|

**ترکیب: العشرين** مفعول به **للتسعينا** اللام بمعنی الی مثل قوله تعالی **كل يجري لاجل مسمى، بواحد، للتسعينا** دا دواړه متعلق دي د ميز پورې **كاربعين** خبر د مبتداء محذوف **حينا** تميز.

**ترجمه:** او تميز واقع کړه ته عشرين لره تر تسعين پورې يعنی په عقود ثمانيه ؤ کې په مفرد سره او که ته وائي ماته مثال وښايه چې تميز مفرد راغلي وي دي وائي لکه: اربعين حينًا شو اي زماناً واحد نه معلومه شوه چې تميز به د دې مفرد راځي او د دي مثال نه معلومه شوه چې تميز به د دې منصوب راځي ځکه تميز مجرور راځي د وجې د اضافت نه او اضافت دلته ممتنع دي ځکه اضافت د وجې نه دا نون د عقود ثمانيه ؤ يا به ئي حذف کوي يا به نه حذف کوي که حذف کوې حذف د نون راغی بغير د نون د جمع نه ځکه دا جمع حقيقي نه ده، دا باطل دی او که نه حذف کوې بيا بقا د نون راغله سره د اضافت نه دا باطل دی، ځکه صورت د دې صورت د جمع مذکر سالم دي، دارنګه تميز د دې مذکر وي او که مؤنث وي دا به مذکر مستعملوي نحو: عندي عشرين رجلاً، عندي عشرون امراةً د وجې د عدم امکان د مطابقت نه ځکه مطابقت راځي په علامې د تانيث سره اوس دا علامه د تانيث به خالي نه وي يا به د دې واو او نون نه مخکې راوړي يا به وروسته راوړي که مخکې راوړي بيا اجراء د علامه راغله په وسط د کلمه کې دا باطل دي، او که وروسته راوړي بيا اجرا د علامه راغی په کلمه آخر کې ځکه د واو او نون ځانله کلمه ده او دا باطل ده.

| ۷۳۶- وميّزوا مركّباً بمثل ما | مُيِّز عشرون فسوّينهما |
|---|---|

**ترکیب: مركبًا** مفعول به **بمثل** متعلق بميز **ما** موصوله **ميز** جمله صله عائد محذوف اي به **عشرون** نائب فاعل **ها** مفعول به فسوينها کې.

**ترجمه:** او تميز واقع کړی دی عربو عدد مرکب لره په مثل د هغه تميز باندې چې تميز واقع کړی شوی وو لفظ د عشرون په هغه تميز سره چې هغه مفرد منصوب دي او خامخا برابر کوه ته د دې دواړو لره او په تميز کې فرقه مه کوه.

**تشریح:** يعنی لکه څنګه چې تميز د عشرون الی تسعين مفرد منصوب راځي دارنګه واحد چې مرکب کړي عقود ثمانيه ؤ سره تر عشر پورې د هغې تميز هم مفرد منصوب راځي ځکه تميز مجرور راځي د وجې د اضافت نه او اضافت دلته ممتنع دي ځکه لازم کيږي جعل د کلمات ثلاثه کلمه واحده بې د علميت نه او دا باطل دي، او مفرد راځي. ۱: لپاره د حصول د تخفيف د وجې د ثقل د ترکيب نه. ۲: او بل دا چې په صورت دَ فضله کې دي او فضله سره قلت د حروف مناسب دي.

**سوال:** ته وائي تميز د عدد اوسط مفرد منصوب راځي دا قاعده ستا منقوض شوه په دي قول د الله تعالى سره و قطعناهم اثنتي عشرة اسباطًا اسباط جمع تميز واقع شوي ده اثنتي عشرة لپاره؟

**جواب:** دلته دا اسباطًا تميز نه دي واقع شوی اثنتي عشرة لپاره بلکه تميز د دې حذف شوی دی چې هغه فرقةً دي، او دا اسباطًا د هغې نه بدل واقع شوي دي ځکه که دا اسباطًا د هغه لپاره تميز واقع شوی وي بيا و قطعناهم اثني عشر ويل پکار وو، ځکه اسباط جمع د سبط ده او دا مذکر دی او تميز چې د دې لپاره مذکر راشي هلته جز اول او جز ثاني دواړه مذکر مستعملولی شي کما مر، دارنګه عندي عشرون من الرجال کې دا من الرجال تميز نه دي واقع شوي بلکه تميز د دي حذف شوي دي او دا د هغې بيان دي اي عندي عشرون شخصًا من الرجال.

| | |
|---|---|
| ۷۳۷- وإن أضيف عدد مركّبٌ | يبق البنا وعجزٌ قد يُعرَبُ |

**ترکيب:** **عدد** نائب فاعل موصوف **مرکب** صفت **يبق** ۱: بحذف الالف. ۲: و ببقائها دواړه جائز دي **عجز** مبتداء **يعرب** جمله خبر.

**ترجمه:** که چيرې مضاف کړی شي دا عدد مرکب پاتې کيږي به هغه زړه بنا د ده او جز ثاني د دغه مرکب په وخت د اضافت کې کله کله معرب کولی شي مثال لکه: جاءني خمسةَ عشرك، و مررت بخمسة عشرك په بنا د جزئينو سره دا کثير دي، او جاءني خمسةَ عشرُك، و مررت بخمسة عشرِك په اعراب د جز ثاني سره دا قليل دي او دا سيبويه عربو نه نقل کړي دي لکن دا ډير کم دي.

| | |
|---|---|
| ۷۳۸- وصغ من اثنين فما فوق إلى | عشرةٍ كفاعلٍ من فعلا |

**ترکيب:** **من** متعلق بضع **فما** فا عاطفه، **ما** موصوله **فوق** صله **الى** متعلق بضع **عشرة** په اعتبار د متعلق محذوف سره صفت واقع شوي دي صفت محذوف لپاره اي وزنًا مماثلاً لفاعل **فعلا** دا متعلق دي صفت محذوف د فاعل پورې أي: المصوغ من فعل.

**ترجمه:** او جوړ کړه ته د اثنين عدد نه او د هغه عدد نه چې هغه پاسه دي د دي اثنين نه تر عشر پورې اسم فاعل داسې اسم فاعل چې په وزن د فاعل باندې وي چې هغه جوړ کړی شوی دی د فعل مجرد نه.

| | |
|---|---|
| ۷۳۹- واختمه في التأنيث بالتا ومتى | ذكّرت فاذكر فاعلاً بغير تا |

**ترکيب:** **في** په اعتبار د متعلق محذوف سره حال از مفعول به **بالتا** متعلق باختمه **متى** شرط **ذکرت** مفعول محذوف اي المعدود **فاعلا** موصوف **بغير تا** صفت.

**ترجمه:** او ختم کړه ته د غه اسم فاعل المصوغ من فعل لره په وخت د تانيث د ده کې په تا سره او کوم وخت کې چې ته معدود مذکر ذکر کوې پس ذکر کړه ته فاعل بې د تا نه.

**تشريح:** يعني لکه څنګه چې اسم فاعل د فعل نه جوړ کړې مذکر بې د تا نه راځي او مؤنث تا سره وي دارنګه اسم فاعل ته جوړ کړه د اسم عدد نه اوس معدود مذکر کې به بې د تا نه وائي او معدود مؤنث کې به سره د تا نه وائي.

| | |
|---|---|
| ۷٤۰- وإن تُرِد بعض الذي منه بُنِي | تضف إليه مثل بعضٍ بيّن |

**ترکیب:** **بعض** مفعول به **منه** متعلق بني پورې **بُنِي** صله **تضف** مفعول به محذوف اي الفاعل **مثل** حال از مفعول محذوف **بَيِن** صفت د بعض.

**ترجمه:** که چیرې اراده کوې ته په دې اسم ناعل سره بعضې هغه عدد چې جوړ کړې شوې دې دا اسم فاعل د دغه عدد نه، مضاف کوې به ته اسم فاعل لره دغه عدد ته په حال کون د دغه اسم فاعل کې چې دا پشان د کلمې د بعض دې داسې بعضُ چې هغه ظاهر دې په دلالت د معنی د بعضیت کې مثال لکه: ثالثُ ثلاثةٍ شو معنی د دې دا ده هغه یو چې واقع دې په مرتبه دریمه کې د دریو نه یو مراد دی ټول نه دې دا معنی د بعض ده بیا دا یو لاعلی التعین هم نه دې مراد بلکه هغه یو معین مراد دې دیته ویلی شي اسم فاعل بیان الحال اي بیان المرتبه.

| | |
|---|---|
| ۷٤۱- وإن ترد جعل الأقل مثل ما | فوق فحكم جاعل له احكما |

**ترکیب:** **جعل** مفعول اول **مثل** مفعول ثاني **ما** موصول **فوق** صله **فحكم** مفعول مطلق نوعي مقدم **له** متعلق باحکم **احكما** الالف بدل من نون التاکید جمله جزا.

**ترجمه:** او که ته اراده کوې ګرځول د عدد انقص په شان د هغه عدد باندې چې هغه د دینه فوق دی او زیات دی په یو سره، پس خامخا حکم کوه ته لپاره د دغه اسم فاعل مصوغ من فعل لره په شان د حکم جاعل چې دا اسم فاعل په معنی د جاعل سره دی.

**تشريح:** دیته اسم فاعل بیان التصيير وائي خلاصه د دې ما سبق دا ده کوم اسم فاعل چې جوړیږي د اسم عدد نه دا دوه قسمه دي. ۱: اسم فاعل بیان الحال دي. ۲: اسم فاعل بیان التصيير دي اسم فاعل بیان الحال دیته وائي چې دا دلالت کوي په یو عددمعین باندې چې هغه واقع دي په مرتبه معین کې د مضاف الیه نه علامه د دي دا ده. ۱: د دي شروع کیږي واحد نه الی آخره. ۲: او د دې اضافت کیږي مساوي ته یا ما فوق ته نه ما تحت ته مثال لکه: ثاني اثنین، ثاني الثلاثة هغه یو چې واقع دی په مرتبه معین کې د دوو نه چې هغه دریم دي او هغه یو چې واقع دی په مرتبه معین کې د دریو نه چې هغه څلورم دي.

او اسم فاعل بیان التصيير دیته وائي: چې هغه ګرځوي عدد انقص لره د مستق منه زائد په یو سره او علامه د دې دا ده. ۱: چې د دې ابتدا کیږي د دوو نه نه د واحد نه ځکه واحد لاتدې بل عدد

نشته دی چې دا په هغې کې زیادت راولي تر عشره پوړې د هغې نه دا اخوا نه راځي. ۲: ځکه د هغې نه اخوا مرکبات دي په هغې کې معنی د جعل نه جوړیږي ۳: او دا مضاف کیږي ما تحت ته نه مساوي او ما فوق ته مثال لکه: ثالث اثنین شو، ترجمه: هغه یو چې ګرځوونکی دی دوو لره دریم.

| | |
|---|---|
| ۷۴۲- وإن أردت مثل ثاني اثنين | مركّباً فجئ بتركيبين |

ترکیب: ان شرط مثل مفعول به مرکبا حال از مفعول به فجئ جزا ترکیبین متعلق بجئ.

ترجمه: که چیرې اراده وکړې ته اخذ د اسم فاعل چې هغه په مثل د ثاني اثنين باندې دی په معنی د بعضیت کې په حال کون ستا کې ته دغه اسم فاعل لره مرکب کونکې یې، یعنی ته اسم فاعل جوړوي د مرکب نه ځکه به جوړوي په دغه وخت کې راتلل کوه ته په دوه ترکیبونو سره حادي عشرَ احدَ عشرَ به وائي په اضافت د مرکب اول سره مرکب ثاني ته معنی د دې دا ده هغه یولسو چې واقع دي په مرتبه یوولسمه کې یعنی یوولسمه.

| | |
|---|---|
| ۷۴۳- أو فاعلاً بحالتيه أضف | الى مركّبٍ بما تنوي يفي |

ترکیب: فاعلا مفعول به مقدم بحالتیه په اعتبار د متعلق محذوف سره نعت د فاعلاً الی متعلق باضف مرکب موصوف بما متعلق بیفي، ما موصوله تنوي صله عائد محذوف اي به یفي جمله صفت د مرکب.

ترجمه: یا مضاف کړه ته دغه اسم فاعل لره چې تا را اخستي دي د عدد مرکب نه په دواړو حالتینو خپل سره چې هغه حالت د تذکیر او حالت د تانیث دي عدد مرکب ته داسې مرکب چې دا وفا کوي او پوره کوي هغه معنی لره چې ته قصد کوي.

تشریح: یعنی حادي عشر احد عشرَ کې دا جز اخیر د مرکب اول حذف کوه دا حادي مضاف کوه مرکب ثاني ته تر تاسعَ احدَ عشرَ پورې دا ستا لپاره جائز دي ځکه حادي عشر احد عشر چې کوم معنی باندې دلالت کوي په هغه معنی باندې دا هم دلالت کوي بیا دا حادي معرب دي د وجې د انتفاء د علت د بنا نه چې وقوع د دې ده په توسط کې.

| | |
|---|---|
| ۷۴۴- وشاع الاستغنا بحادي عشرا | ونحوه وقبل عشرين اذكرا |
| ۷۴۵- وبابه الفاعل من لفظ العدد | بحالتيه قبل واو يُعتمد |

ترکیب: بحادي متعلق بشاع قبل متعلق باذکر اذکرا الالف بدل من النون التاکید.

ترجمه: او کثیر شائع دي بې پروا یي د اضافت د مرکب الی المرکب نه په حادي عشر سره یا په مثل د حادي عشر سره لکه ثاني عشر او ثالث عشرَ شو په حذف د جز ثاني سره د مرکب اول نه او په حذف د جز اول سره د مرکب ثاني نه بیا په دې کې دري وجې روا دي. ۱: بنا د دواړو دا مشهور ده. ۲: اعراب د دواړو. ۳: اعراب الاول و بناء الثاني، او ذکر کوه ته اسم فاعل ماخوذ لره چې هغه اخستي دي

د عدد نه، نه مخکې د عشرين او باب د عشرين نه چې هغه عقود ثمانيه دي ثلاثون اربعون خمسون الخ

بحالتيه قبل واوِ يُعتمد په دوه حالتونو د دغه اسم فاعل ماخوذ سره چې هغه حالت د تذکير او حالت د تانيث دي په حال کون د دغه اسم فاعل کې چې دا به مخکې د واو نه به يې داسې واو چې يقين او اعتماد کولی شي په دې واو باندې په مقام د عدد کې په دې شان سره نور حروف عاطفه نه مستعمليږي په عدد کې ماسوا د واو نه نو حادي و عشرون حادية و عشرونَ به وائي په واو سره په شان د احد و عشرون او احدى و عشرون لپاره د دې چې فرع موافق شي د اصل خپل سره.

## كم وكائن وكذا

دا ما سياتي تر يو حده پورې بحث د کم او د کائن او د کذا دی، دا درې واړه راخي په استعمال د کلام د عربو کې کنايه لپاره او کنايه هغې ته وائي چې په يو شي باندې اجمالاً او ابهامًا دلالت کوي نه تفصيلاً او صراحةً او دا درې واړه هم دلالت کوي په عدد مبهم باندې مثلاً د کم استفهامي معنی ده څومره او د کم خبري معنی ده ډير او کذا معنی ده دومره او د کائن معنی ده ډير دا ټول اجمالاً او ابهامًا عدد دی په دې کې تعين نشته دي بلکه په دوی سره کنايه کولی شي د عدد نه.

| | |
|---|---|
| ٧٤٦- ميّز في الاستفهام كم بمثل ما | ميَّزت عشرين ككم شخصا سما |

**ترکيب:** **کم** مفعول به **بمثل** متعلق بميز **ما** موصوله **ميزت** صله عائد محذوف اي به **ككم** خبر د مبتداء محذوف **کم** مبتداء **سما** جمله خبر بيا جمله مقوله د قول محذوف.

**ترجمه:** تميز واقع کړه کم لره په حال کون د دې کې چې دا مستعمل شوی وي په استفهام کې په مثل د هغه تميز باندې چې هغه تميز واقع کړی وو عشرين لفظ لپاره يعنې عدد اوسط لپاره چې هغه مفرد منصوب دی او که ته وائې ماته مثال وښايه چې کم استفهاميه به وي او تميز ورله مفرد منصوب راغلي وي؟ مثال لکه شخصًا شو په کم شخصًا سما کې: ترجمه: څومره د جهت د سړو نه اوچت شوي دي په مرتبه کې.

**تشريح:** کم په دوه قسمه دي. ١ : استفهاميه. ٢ : خبريه، کم چې په استفهام کې مستعمل شي تميز د دې مفرد منصوب راخي په شان د تميز د عدد اوسط باندې مثال لکه: کم درهمًا عندك، کم رجلاً ضربتَ کم شخصًا سما.

**سوال:** تميز د کم استفهاميه مفرد منصوب ولې راخي؟ **جواب:** منصوب خو ځکه راخي چې دا تميز دی او اعراب د تميز نصب وي او مفرد ځکه راخي چې د دې سره استفهام کولی شي د عدد مطلق نه او مقصود د متکلم طلب د تعين د عدد مطلق دی د مخاطب نه پس ورکړی شو دې

لره تميز د عدد اوسط لپاره د دې چې لازم نه شي ترجيح بلا مرجح په ورکولو د تميز د يو د طرفينو د عدد باندې چې هغه يو عدد اقل دی او بل عدد اکثر دی.

| | |
|---|---|
| ٧٤٧- وأجز أن تجرّه من مضمرا | إن وليت كم حرف جرٍّ مظهرا |

**ترکيب:** **ان** مفعول به **تجره** مفعول به **من** فاعل **مضمرا** حال از من **کم** فاعل **حرف** موصوف مفعول به **مظهرا** صفت يا حال، مظهر او مضمر په مينځ کې. ١: جناس صوتي دي دا دليل دی په دې خبره باندې چې ضاد مشابه بالظاء دی نه مشابه بالدال ځکه که دا مشابه بالدال شي بيا جناس صوتي نه جوړيږي. ٢: او دارنګه د دوی په مينځ کې جناس مضارع دي محسناتو لفظيو نه. ٣: دارنګه د دوی په مينځ کې طباق الايجاب دی.

**ترجمه:** او روا کړه ته په خپل ځان باندې چې جر ورکول تميز د کم استفهامي لره محلاً من حرف جر په حلا کون د دې من کې چې دا به مقدر وي په دې شرط سره چې واقع شوی وو دا کم وروسته د حرف جر نه متصل بلا فصل په حال کون د حرف جر کې چې دا به ظاهر وي مثال د دي لکه: بکم درهم اشتريت هذا الکتاب ای بکم من درهم اشتريتَه، کچيري حرف جر نه وو داخل شوی په دې کم استفهاميه باندې لفظاً بيا جر ورکول نه دي جائز تميز د کم استفهاميه لره بلکه دا تميز د کم استفهامي به منصوب وي وجوباً.

**تشريح:** دې ځای نه معلومه شوه. ١: چې دا کم اسم دی بدليل دخول حرف الجر عليه مثالهُ قد مرّ او دخول د حرف جر دا علامه د اسم ده. ٢: څوك وائي دا مرکب دي د کاف تشبيهي او د ما استفهاميه نه چې اصل کې کما وو بيا الف د ده وغورځول تخفيفاً او ميم ئې ساکن کړه لکن صحيح خبره دا ده چې دا مفرد دی او مرکب نه دی. ٣: او دا کم استفهامي دلالت کوي په عدد مبهم باندې مطلقاً يعنی بې د قيد د قلت او د کثرت نه. ٤: ولاتقع الافي صدر الکلام.

٥: و نصب تميزه اولى على کل حال و جره ضعيف بتقدير من ان سبقهَا حرف جر، و ضعف منه اظهار من نحو: بکم درهماً اشتريت هذا الکتاب اولى بکم درهمٍ اشتريت هذا الکتاب ضعيف، بکم من درهمٍ اشتريت هذا الکتاب اضعف. ٦: او جائز دي فصل په ما بين د کم استفهاميه او تميز د ده کې په ظرف يا جار مجرور سره کثيراً نحو: کم عندك کتاباً، کم في الدار رجلاً، او په خبر او عامل د ده سره قليلاً نحو: کم جاءني رجلاً، کم اشتريت کتاباً. ٧: ويجوز حذف تميزها عند وجود القرينة نحو: کم مالك اي کم درهمًا او ديناراً. ٨: وحکمها في الاعراب ان تقع مرفوعًا او منصوبًا او مجروراً کما ذکر في الکافية او ده نه دی ذکر کړی.

| | |
|---|---|
| ٧٤٨- واستعملنها مخبراً کعشره | أو مائةٍ ککم رجالٍ أو مره |

**ترکیب:** مخبرا حال از فاعل كعشره مفعول مطلق په اعتبار د موصوف محذوف سره مائة خبر د مبتداء محذوف كم مبتداء مره خبر د دي محذوف دي اى عندي.

**ترجمه:** او خامخا مستعمل کوه ته کم لره په حال کون ستا کې چې ته خبر ورکوونکی یې په دې کم سره د کثرت د عدد نه په شان د استعمال د تمیز د عدد اقل چې هغه جمع مجرور وو، یا په شان د تمیز د عدد اکثر باندې چې هغه مفرد مجرور وي او که ته وائې ماته مثال وښایه چې کم خبریه وي او تمیز ورله راغلی وي تمیز د عدد اقل جمع او تمیز د عدد اکثر مفرد مجرور؟ دا وائي مثال لکه: کم رجالٍ عندي شو چې تمیز مفرد مجرور راغلی دی، ترجمه : ډیر د جهت د سړو نه ثابت دي زما څخه او بل مثال لکه کم مَرَةٍ عندي شو چې تمیز جمع مجرور راغلی دی، ترجمه : ډیر د جهت د ښځو نه دی په نزد زما باندې.

**سوال:** تمیز د کم خبریه جمع مجرور او مفرد مجرور ولې راځي؟ **جواب:** مفرد مجرور ځکه راځي چې دا کنایه ده د عدد کثیر نه او تمیز د عدد کثیر نه راځي مگر مفرد مجرور راځي، او جمع مجرور ځکه راځي چې عدد دوه قسمه دی. ۱ : صریح. ۲ : کنایه، او په عدد صریح کې دلالت په کثرت عدد باندې صراحةً موجود دی او صراحةً معلومیږي بخلاف العدد الکنائي په عدد کنائي کې دارنگه نه وو پس وگرځولی شو جمعیت د تمیز د دې جبیره او قائم مقام د ما فات چې هغه صراحةً د کثرت دی. ۱ : لکه څنگه چې حذف د تمیز د کم استفهامیه جائز دی عند وجود القرینة دارنگه تمیز د کم خبریه هم حذف کول جائز دي عند وجود القرینة مثال لکه: کم عصیت امري اي کم مرة عصیت امري. ۲ : لکه څنگه چې جائز وو فصل په ما بین د کم استفهامیه او تمیز د هغه کې دارنگه جائز دی فصل په ما بین د کم خبریه او تمیز د ده کې بیا نصب د تمیز واجب دی لامتناع الاضافة مع الفصل مثال لکه: کم عندك درهمًا د کم خبریه یا به دا تمیز مجرور وي په من سره لفظًا مثال لکه کم عندك من درهم، او که دا فاصل فعل متعدي وو بیا جر د تمیز په من سره واجب دي لپاره د دې چې لازم نشي التباس مفعول به سره نحو: کم قرات من کتابٍ اوس که دا کتاب مجرور نه شي په من سره بیا د دې التباس راځي کم قراتُ کتابًا مفعول به سره، او په کم نالني معروف کې دوه ترکیبونه جائز دي:

۱ : معروف فاعل دي نالَ لپاره او تمیز د کم مقدر دي: اي کم مرةً. ۲ : معروفًا منصوب دي بنا بر تمیز او فاعل د نال ضمیر مستتر دي راجع دي کم ته وحکمها في الاعراب کحکم کم الاستفهامیة ولهما صدر الکلام و لهذا لا یتقدم علیهما شئ من متعلقات جملتیهما الا حرف الجر و المضاف. کم دوه قسمه دی. ۱ : کم استفهامیه. ۲ : کم خبریه د دي دواړو حکمونه تفصیلاً بیان شو

او س د دې دواړو اول ما به الاشتراك بيا ما به الامتياز پيژندل پكار دي،

**ما به الاشتراك:** د دې دواړو دا دی. ١ : كونهما كنايتين عن عدد مبهم مجهولِ الجنس و المقدار. ٢ : كونهما مبنيين. ٣ : كون البناء على السكون. ٤ : و لهما صدر الكلام. ٥: والاحتياج الى التميز، لكه څنګه چې ما به الاشتراك پنځه دي دارنګه ما به الامتياز هم پنځه دي:

١ : خبريه مختص ده ماضي پورې پشان د رب حملاً للنقيض على النقيض چې رُب وضع شوي دي انشاء د تقليل لپاره، او كم خبريه وضع شوي دي انشاء د تكثير لپاره د هغې دخول خو مختص وو په ماضي پورې د دې دخول هم مختص شو په ماضي پورې بخلاف الاستفهامية و لهذا لايجوز كم كتبٍ ساشتري كما لا يجوز رب دارٍ سابني، او دا جائز دي كم كتابًا ستشتري ٢: كم استفهاميه جوابُ غواړي او كم خبريه جواب نه غواړي څكه په دې كم خبريه سره متكلم اخبار كوي مخاطب ته استفهام د مخاطب نه نكوي چې جواب وغواړي. ٣ : تصديق او تكذيب متوجه كيږي كم خبريه ته نه استفهاميه ته څكه دا انشائيه ده او انشاء احتمال د صدق او كذب نه لري.

**سوال** كم خبريه خو راځي لپاره د انشاء د تكثير بيا ته دې ته خبريه څنګه وائي او په ما بين د خبر او انشاء كې خو منافات دي؟

**جواب:** ديته مونږ خبريه هم وايو او انشائيه هم وايو منافات نشته څكه جهتين بدل دي من وجه انشائيه ده او من وجه خبريه ده، مثلاً: كم رجلٍ ضربتُ اخبار دي د ضرب د ډير خلكو تله او انشاء ده استكثار د ضرب لپاره، نو اوس دغه خبره څوك وكړي بيا سامع دا ويلي شي چې دروغ وائي ده نه دی وهلي ډير كسان او دا نه شي ويلي چې دا دروغ وائي انشاء د استكثار د ضرب نه ده ويلې. ٤ : مبدل د كم خبريه نه راشي هغه نه مقترن كيږي په همزه استفهامي سره په خلاف د كم استفهاميه نه نوو كم رجلٍ في الدار عشرة بل عشرون، كم كتابٍ اشتريت عشرةً بل عشرين به وائي، په كم خبريه كې او كم رجلاً غلمانُك آ عشرة ام عشرون، كم كتابًا اشتريتَ ا عشرةً ام عشرين به وائي، په كم استفهاميه كې پنځم فرق مميز د دې دواړو مختلف دي اعرابًا و صيغةً چې تميز د كم استفهاميه مفرد منصوب راځي او تميز د كم خبريه مفرد مجرور يا جمع مجرور راځي.

| | |
|---|---|
| ٧٤٩- ككم كأيّن وكذا وينتصب | تمييز ذين أو به صل من تصب |

**تركيب:** **ككم** خبر مقدم **كائن** مبتداء مؤخر **تمييز** فاعل به متعلق صل پورې **من** مفعول به **تُصب** جواب امر.

**ترجمه:** كائن او كذا دا په شان د كم خبرى دى په دې شان سره لكه څنګه چې كم خبري سره اخبار

ورکولي شي په کثرت د اشياؤ باندې دارنګه د دي کائن او کذا سره هم اخبار ورکولي شي د کثرت اشياؤ نه، او منصوب کيږي تميز د دي دواړو يا تميز د دي کائن سره چې دا کائن په معنی د کم خبري سره دي متصل کوه من که ته دا کار وکړي نو ته به حق ته ورسيږي.

**تشريح:** يعنی دا کائن او کذا په شان د کم خبري باندې راځي لکن دومره فرق دي چې تميز د دې دواړو منصوب راځي او تميز د کم خبريه مجرور راځي مثال د کائن لکه دا قول د شاعر شو:

وکائن لنا فضلاً عليکم ومنةً قديمًا ولا تدرون ما منّ منعم

و قول الآخر:

أُطرد الياسَ بالرجاء فکائن آلمًا حُم يُسرُه بعد عُسرِ

آلم اسم فاعل صيغه ده د أَلِمَ يالَمُ أَلَمًا نه په معنی د درد سره، او مثال د کذا نحو: عندي کذا درهمًا، او کله کله تميز د دوی مجرور راځي په من سره نحو قوله تعالی: ﴿وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قُتِلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ﴾ دا جمع د رِبِي ده بکسر الراء و تشديد الباء و الياء منسوب دي رِبة ته او رِبة جماعت ته وائي نو د دي رِبيُون معنی شوه. ١ : الالوف من الناس او الجماعات. ٢ : يا مراد د دينه علماء او اتقياء او عابدان دي، وقوله تعالی: ﴿وَكَأَيِّن مِّن دَابَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا اللَّهُ يَرْزُقُهَا وَإِيَّاكُمْ﴾ د کائن اسم کنايه مبتداء مرفوع محلاً لاتحمل رزقها دا جمله صفت واقع شوې ده دابةٍ لپاره الله يرزقها و اياکم دا جمله خبر واقع شوی دی د مبتداء نه او دا من نه متصل کيږي تميز د کذا سره ځکه دې ناظم صاحب او بِه صِل من تُصب وويلو.

**سوال** دې ناظم وويل دا کائن او کذا په شان د کم دي اوس دا په څه کې د هغې په شان دی؟

**جواب** کائن په شان د کم دي. ١ : في الابهام. ٢ : والافتقار الى التميز. ٣ : والبناء على السکون. ٤ : و افادة التکثير. ٥ : ولزوم الصدارة. ٦: والاختصاص بالماضي، او دا کذا په شان د کم دي. ١ : في الابهام. ٢ : والافتقار الى التميز. ٣ : والبناء على السکون. ٤ : وافادة التکثير او په لزوم د صدارت کې دا د هغې په شان نه دي.

او فرق دا دي چې کم کله په ترکيب کې. ١ : مبتداء واقع کيږي. ٢ : او کله خبر واقع کيږي. ٣ : او کله مفعول به واقع کيږي. ۴ : او کله مفعول فيه واقع کيږي. ٥: او کله مفعول مطلق واقع کيږي په اعتبار د تميز سره. او کائن په ترکيب کې فقط مبتداء واقع کيږي او خبر د دي لپاره جمله راځي يا شبه جمله راځي چې هغه ظرف يا جار مجرور دي. او کذا په ترکيب کې. ١ : فاعل واقع کيږي نحو: سافر کذا و کذا رجلاً. ٢ : او کله نائب فاعل واقع کيږي نحو: أکرم کذا و کذا مجتهداً. ٣ : او مفعول به واقع کيږي نحو: اکرمتُ کذا و کذا عالمًا. ٤ : کله مفعول فيه واقع

کیږي نحو: سافرت کذا و کذا یومًا و سِرتُ کذا و کذا میلاً. ٥: او کله مفعول مطلق واقع کیږي نحو: ضربتُ اللص کذا او کذا ضربةً ٦: او مبتداء واقع کیږي نحو: عندي کذا و کذا کتابًا. ٧: او کله خبر واقع کیږي نحو: المسافرون کذا و کذا رجلاً، نو کذا د کم نه صرف په څلور خبرو کې خلاف شو. ١: دا فاعل کیږي او هغه نه واقع کیږي. ٢: دا نائب فاعل واقع کیږي او هغه نه واقع کیږي. ٣: دا ذکر کیږي کله مکرر مع العطف او بلا عطف او کله ذکر کیږي غیر مکرر او کم ذکر کیږي غیر مکرر دائمًا او کم صدر الکلام کې واقع کیږي بخلاف کذا.

**سوال:** د کائن او د کذا په مینځ کې ما به الاشتراك خو بیان شو اوس د کائن او د کذا په مینځ کې څه فرق دي؟ **جواب** د دوی په مینځ کې شپږ فرقه دي. ١: من متصل کیږي تمیز د کائن سره بخلاف کذا. ٢: تصدیر د کائن واجب دي بخلاف کذا.

٣: کائن کنایه د عدد مبهم نه راځي فقط نه د بل شي نه په خلاف د کذا نه چې هغه عام دی کله کنایه لپاره راځي د عدد مبهم نه قلیلاً کان او کثیراً نحو جاءني کذا و کذا رجلاً کله دا کنایه راځي د جملې نه نحو: قلت کذا و کذا حدیثًا، او کله کنایه لپاره راځي د مفرد نه نحو: جئت یوم کذا وکذا وفي الحدیث یقال للعبد یوم القیامة أتذکر یوم کذا وکذا و فعلت کذا و کذا.

٤: کائن لپاره انشاء د تکثیر راځي فقط په خلاف د کذا نه هغه عام دی.

٥: کائن مختص دی ماضي پورې په خلاف د کذا نه دا عام دي.

٦: کائن ذکر کیږي غیر مکرر او کذا عام دي کله مکرر ذکر کیږي او کله غیر مکرر ذکر کیږي مثالونه یې مخکې ذکر شو.

## الحكاية

اوس دی بیانوي مسئله د حکایت. په لغت کې نقل ته وائي، او په اصطلاح د نحویانو کې ایراد اللفظ علی ما تسمعه ته وائي، ١ مثال لکه ته ووائي: کتبتُ یعلمُ ای کتبتُ هذه الکلمةَ اوس یعلم په ترکیب کې مفعول به واقع شوی دی منصوب دي تقدیراً او یعلمُ کې چې دا رفع راغلي ده دیته اعراب حکائي ویلي شي چې دا اصل کې صیغه د فعل مضارع وه او مرفوع وو د وجې د عامل معنوي نه چې هغه خلو د دي ده د عامل ناصبه او د جازمه نه هغه رفع ده دلته رانقل کړي ده ٢: کله حکایت کولي شي په کله د اي او د من سره او کله حکایت کولي شي د علم وروستو د من نه دغه مسئله ده دلته راځستې ده في آخر النظم.

| | |
|---|---|
| ٧٥٠- احك بأيِّ ما لمنكورٍ سئل | عنه بها في الوقف أو حين تصل |

**ترکیب:** بأي متعلق باحك ما موصوله مفعول به لمنکور صله، موصوف سئل صفت عنه نائب فاعل بها

متعلق بسئل في الوقف متعلق باحك اوحين معطوف على الوقف مضاف تصل مضاف اليه.

**ترجمه**: را نقل کړه ته په کلمه د ای کې الباء بمعنى في هغه احوال ټول ټال چې هغه احوال ثابت دي لپاره د نکرې هسې نکره چې تپوس کړی شوی دی د هغه نکري نه په دې کلمې د اي سره برابره خبره ده چې په حالت د وقف کې وي یا په حالت د وصل کې وي.

**تشريح**: کوم حالت چې هغه نکره کې پروت دي رفع نصب جر ا فراد تثنيه جمعية تانيث تذکير هغه دلته رانقل کړه په دي اي کې مثال لکه: ته ووائي: جاءني رجل او زه ستا نه د هغه اسم نکرې استفهام وکړم په کلمي د اي سره زه به اي رجلٍ وایم هغه مسؤول عنه نکره مرفوع وو بنا بر فاعليت هغه اعراب د غه ای ځان ته نقل کوي نو ته به ايُ رجلٍ وائي مرفوع، او که تا رایتُ رجلاً ویلي وو زه به ايَ رجلٍ وایم په نصب سره، او که ته مررت برجل ووائي زه به ايِ رجل ووایم په کسرې سره، او که ته جاءني رجلان ووائي زه به ايا رجلٍ وایم، او که ته جاءني رجالٍ ووائي زه به وایم ايُوا رجالٍ، او که ته ووائي جاءت امراة زه به اية امراةٍ وایم، او که ته وائي: جاءت امراتَان زه به وایم ايتا امراةٍ، او که ته وائي جاءت نساء زه به وایم اياتُ نساء.

۲: بعضې خلکو ويلي دي حکايت کولی شي فقط د اعراب او د تذکير او د تانيث، اوس کچيرې هغه مسؤول عنه نکرې نه تا تپوس وکړو په کلمي د من سره د هغې حالت به څنګه وي دا وائي:

| | |
|---|---|
| ٧٥١- ووقفاً احكِ ما لمنكورٍ بمن | والنّون حرّك مطلقاً وأشبعن |

**ترکيب**: **وقفا**. ۱: منصوب بنزع الخافض. ۲: يا بمعنى اسم الفاعل حال از فاعل احك **ما** موصوله مفعول به **لمنكور** صله **بمن** متعلق باحك الباء بمعنى في مثل ما مر **النون** مفعول به مقدم **مطلقا** مفعول مطلق په اعتبار د موصوف محذوف سره اي تحريکا مطلقًا.

**ترجمه**: او رانقل کړه ته په کلمه د من کې احوال ټوټل مثلاً افراد تثنيه جمعيت تذکير تانيث چې هغه ثابت دی نکرې لره په حالت د وقف کې فقط نه په حالت د وصل کې، او نون لره متحرک کړه ته په مطلق حرکت سره چې رفع سره کوي او که د نصب سره کوي او که جر سره کوي او دغه حرکت دغسې مه پرېږده بلکه هغه حرکتونو لره خامخا اشباع کړه ته فتحه چې اشباع کړې په حکايت د منصوب کې الف به پيدا شي او ضمه چې اشباع کړې په حکايت د مرفوع کې واو به پيدا شي او کسره چې اشباع کړې په حکايت د مجرور کې يا به پيدا شي.

| | |
|---|---|
| ٧٥٢- وقل منان ومنين بعد لي | إلفان بابنين وسكّن تعدِل |

**ترکيب**: **منان** مراد اللفظ مفعول به **بعد** متعلق **بقل** **لي** خبر مقدم **الفان** مبتداء مؤخر **کابنين** صفة الفان **سکن** مفعول به محذوف **تعدل** جواب د امر.

ترجمه: ووايه منانِ په وخت د سوال كې د تثنيه نكره نه په حالت رفعي كې او منَين ووايه په حالت نصبي جري كې او دا واقع شوی وي وروسته د دې تركيب نه چې لي الخ دی زما دوه دوستان دي او په دې دوه دوستانو باندې زما داسې زړه سوزي لكه څنګه چې زما هغه دوه خامنو باندې زړه سوزي. بيا كه ته سوال وكړې د هغه الفان نه په كلمې د من سره منان به وائې، او كه سوال وكړي د ابنين نه منين به وائي او نون د منانِ دارنګه نون د منين لره ته ساكن كړه او كه تا ساكن كړل نو انصاف به وكړې، يعنی په دې منانِ او منين سره حكايت كولي شي په وقف سره منان او منَين او دلته په دې نظم كې حركتونه په دې باندې ويلي شوي دي ضرورت شعري د وجې نه او حكايت چې كوي دا به ساكن كوي منانْ منينْ به وائي، او كه ته وائي بيا خو التقاء د ساكنينو على غير حده راغی دا جائز نه دي جواب التقاء د ساكنينو على غير حده په حالت د وقف كې مفتقر دي.

| والنّونُ قبل تا المثنّى مسكنه | ٧٥٣- وقل لمن قال أتت بلتٌ منه |
|---|---|

تركيب: لمن متعلق اتت مقوله د قال بنت فاعل منَه مفعول به لقل النونُ مبتداء قبلَ متعلق مسكنه پورې مُسكنه خبر.

ترجمه: او وايه ته هغه چا ته چې هغه وائي اتت بنت راغلې ده لور، اوس ته چې د هغه نه د هغه لور تپوس كوې په كلمې د من سره يره زينب راغلې ده او كه فاطمه راغلې ده؟ ته به وائي مَنَه په اتصال د تای تانيث سره په دې كلمه د من پورې، اوس كه څوك ووائي: اَتَت بنتان او ته تپوس كوې په كلمې د من سره د هغه بنتانو نه څنګه به وائي، دا اوس هغه مسئله بيانوي و النونَ الخ او نون چې راځي مخكې د تا د تثنيه نه په حالت رفعي او په حالت نصبي جري كې دواړو كې دا نون ساكن كړي شوي دي مَنتانِ او مَنتَين ويلي كيږي.

| بمن بإثر ذا بنسوةٍ كلف | ٧٥٤- والفتح نزرٌ وصل التا والألف |
|---|---|

تركيب: والفتح مبتداء نزر خبر التا مفعول به بمن دا دواړه جار مجرور متعلق دي صِل پورې بنسوةٍ متعلق بكلف كلف خبر.

ترجمه: او فتحه چې چا ويلي ده قليل ده، يعنی فتحه په دغه نون كې چې مخكې د تای تانيث نه ده په دغه تثنيه كې مَنَتان او مَنتَين ووائي دا كم راغلی دی په استعمال د كلام د عربو كې، او پيوست كړه ته الف او تا لره په دې كلمه د من پورې چې دا من واقع شي وروسته د دې تركيب نه دا بنِسوةٍ كلف: يعني دغه يو سړي په ډيرو ښځو باندې عاشق دي بيا تا ترينه تپوس وكړو يره هغه كُنې ښځې څوك دي ته به وائې منات په سوال كې.

| | |
|---|---|
| ٧٥٥- وقل منون ومنين مُسكناً | إن قيل جا قومٌ لقومٍ فطنا |

**تركيب**: **منون** مفعول به **مُسكنا** حال از فاعل **قل جا** مراد اللفظ نائب فاعل **لقوم** متعلق بجا، موصوف **فطنا** صفت.

**ترجمه**: او ووايه ته په وخت د حكايت كې منون په حالت رفعي كې او منين په حالت نصبي جري كې په حال ستا كې چې ته ساكن كوونكى يي نون د منون او د منين لره كچيري اويلي شي جاء قوم الخ، راغلي دي يو قوم بل قوم ته داسې قوم ته راغلى دى چې دا زيرك قوم دي، اوس كه ته د قوم نه تپوس كوي چې فاعل د جاء دي مُنون به وائي او كه د لقومٍ نه تپوس كوي مَنين به وائي.

| | |
|---|---|
| ٧٥٦- وإن تصل فلفظ من لا يختلف | ونادر منون في نظمٍ عُرف |

**تركيب**: **ان** شرط **فلفظ** مبتداء جمله جزا **لا يختلف** خبر **نادر** خبر مقدم **منون** مبتداء مؤخر **نظمٍ** متعلق بنا در موصوف **عُرف** جمله صفت د نظم.

**ترجمه**: او كه چيرې متصل كړې ته دې كلمي د من لره كلام سره پس د لفظ د من به نه مختلف كيږي هغه زوړ حال باندې به وي، او كم دي الحاق د علامات چې منون ووائي او دا راغلي دي په طريقي د قلت سره په شعر كې داسې شعر چې هغه پيژندل شوي دي.

**تشريح**: دا من په حالت د وصل كې چې راشي يعنى ته دا بلي كلمي سره متصل كړې بيا اختلاف په حركتونو سره او په الحاق د علاماتو سره په دې باندې نه راځي بلكه دا به په خپل زوړ حال باندې باقي پاتې وي مثال لكه يو سړي ووائي تاته: جاءني رجل يا رجلان يا رجال په دې درې واړو حالتونو كې به من يا هذا به وائي، يا يو سړي تا ته ووائي: جاءت امراة يا امرآتان يا نساء ته چې د هغه نه تپوس كوي من يا هذا به وائي. او الحاق د علاماتو په حالت د وصل كې كولى شي په طريقي د قلت سره په شعر كې كما في قول الشاعر:

اتوا ناري فقلت منونَ انتم　　　　فقالوا الجنُ قلت عِموا ظِلامًا

اصله انعموا حذف الالف و النون تخفيفًا، تركيب: ناري سوال مقدر قالوا اتينا، مضاف اليه مفعول به منون مبتداء دا حكايت دي د ضمير د اتينا محذوف نه فقالوا اي نحن الجن.

اوس په دې شعر كې په دې من پورې واو او نون متصل شوى دى په حالت د وصل كې خلاف القياس ځكه د قاعدې تقاضا دا ده چې من انتم اوائي او دې شاعر منون ويلي دي په الحاق د علاماتو سره دا شاذ دي فلا يقاس عليه غيره، او په منون كې دوه شذوذه نور هم راغلي دي د دينه علاوه: ١: تحريك د نون او د قاعدې تقاضا دا ده منون ويلي كيږي. ٢: حكايت د ضمير محذوف نه.

| إن عريت من عاطفٍ بها اقترن | ٧٥٧- والعلم احكينه من بعد من |
|---|---|

**ترکیب: العلمَ** ما اضمر عامله على شريطة التفسير **من** متعلق باحك **عاطف** موصوف **بها** دا متعلق دی اقترنَ پورې.

**ترجمه**: او خامخا را نقل کړه دغه علم لره وروسته د من نه کچیرې خالي وو دا من د حرف عاطف نه هسې حرف عاطف چې مقترنیږي په دې من سره.

**تشریح**: کله په دې من سره حکایت کولې شي د علم نه یعنی مخکې مسؤول عنه معرفه علم وو یو سړی جاءني زید ووائي او ته د هغې نه تپوس کوي په من سره من زید ووایه، او که هغه رایتُ زیداً اوائي ته من زیداً ووایه، او که هغه مررتُ بزیدٍ ووائي ته من زیدٍ ووایه په دې شرط سره چې دا من خالي وو د حرف عاطف نه او که دا من مقترن وو حرف عاطف سره بیا په دغه ځای کې رفع متعين ده حکایت د علم نه بیا جائز نه دي نور اعراب نه شي ویلي لکه هغه ووائي: جاءني زید ته به ومن زید وائې، او که هغه رایتُ زیداً ووائي ته به بیا و من زید وائې، او که هغه مررت بزیدٍ وائي ته به بیا و من زید ووایې په رفع د زید سره دریواړو حالتونو کې ځکه دا من مبتداء ده او هغه علم خبرى دي على مذهب سيبويه او بالعكس دي على مذهب الجمهور، او دې ناظم والعلمَ احکینه وویل ځکه حکایت د علم نه سوا د بلي معرفي نه جائز نه دي.

## التانيث

| وفي أسام قدّروا التاء كالكتف | ٧٥٨- علامة التأنيث تاء أو ألف |
|---|---|

**ترکیب**: **علامة** مبتداء **تاء** خبر **و الف** عطف بتاء **في** متعلق بقدروا **التا** مفعول به **كالكتف** خبر د مبتداء محذوف اي و تلك الاسماء كالكتف.

**ترجمه**: علامه د مؤنث تاء ده او دا د تاي تانيث دوه قسمه ده. ١ : تاي تانيث متحركه دا علامه د اسم ده لکه تا د ضاربة شوه. ٢ : تاي تانيث ساکنه ده دا علامه د فعل ده لکه تا د ضربتْ شوه، دا تاء متحرکه بیا دوه قسمه ده. ١ : ملفوظه. ٢ : مقدره، او بل علامه د تانيث الف دي او دا الف هم دوه قسمه دی. ١ : مقصوره لکه الف د حبلی شو. ٢ : ممدوده لکه الف د حمراء شو، او په ډیر اسماؤ کې مقدر کړي دي نحاتو یا عربو په هغې کې تا مثال لکه: کتف شو دا مؤنث دی ځکه په دې کې تا علامه د تانيث مقدر ده، اوس په دې اسماؤ کې دا تا مقدر ده او که نه دا به مونږ د څه نه معلوموو دا وائي:

| ونحوه كالرّدّ في الصغير | ٧٥٩- ويُعرف التقدير بالضمير |
|---|---|

**ترکیب**: **التقدير** نائب فاعل **نحوه** خبر د مبتداء محذوف اي و ذلك كائن كالرد في التصغير.

ترجمه: او پيژندل كيږي تقدير د تاى تانيث په ارجاع د ضمير د مؤنث سره يا به مثل د ارجاع د ضمير د مؤنث سره لكه رد كول د تا شو په حالت د تصغير كې نو مونږ وايو كتف مؤنث دي ځكه دا تا په دي كې مقدر ده ځكه تصغير د دې راځي كتَيفَة.

| | |
|---|---|
| ٧٦٠- ولا تلي فارقةً فعولا | أصلاً ولا المفعال والمفعيلا |

تركيب: فارقة حال از فاعل فعولا مفعول به اصلا حال از فعولا.

ترجمه: او نه واقع كيږي دا تا فارقه په ما بين د مذكر او د مؤنث كې په هغه اسم پورې چې هغه په وزن د فعول باندې وي او اصل دي يعنى په معنى د فاعل سره دي نه په معنى د مفعول سره نه په وزن د مفعيل باندې.

| | |
|---|---|
| ٧٦١- كذاك مِفعَل وما تليه تا | الفرق من ذي فشذود فيه |

تركيب: كذاك خبر مقدم مفعل مبتداء مؤخر ما موصوله مبتداء تا فاعل من متعلق تلي پورې ذي الاوزان المذكورة فشذوذ مبتداء ثاني فيه خبر بيا جمله خبر د مبتداء اول.

ترجمه: او دغسې په شان د فعول نه پيوست كيږي دا تا فارقه هغه اسم پورې چې هغه په وزن د مفعل باندې وي او هغه اسم چې واقع شوى دى او متصل شوى دى په دې پورې تا فارقه په ما بين د مذكر او مؤنث كې د دې اوزانو مذكوره ؤ نه شاذ كائن شوى دى په دې كې.

| | |
|---|---|
| ٧٦٢- ومن فعيلٍ كقتيلٍ إن تبع | موصوفه غالباً التا تمتنع |

تركيب: من متعلق بتمتنع كقتيل حال از فعيل تبع ضمير مستتر راجع الى فعيل موصوفه مفعول به غالبا حال از ضمير مستتر تبع تمتنع مبتداء جمله خبر.

ترجمه: او تا فارقه بين المذكر و المؤنث منع كيږي په غالب اوقاتو كې د هغه اسم نه چې هغه په وزن د فعيل باندې دى په معنى د مفعول سره مثال لكه قتيل شو په شرط د دې سره چې واقع شوي وو وروسته د موصوف نه او كه د موصوف نه وروسته نه وو واقع شوي بيا دا فارقه بين المذكر و المؤنث متصل كيږي.

تشريح: اسم دوه قسمه دي. ١ : مذكر دي. ٢ : مؤنث دي، مذكر ديته وائي چې په هغې كې علامه د تانيث نوي او مؤنث ديته وائي چې په هغې كې علامه د تانيث موجود وي لفظًا يا تقديراً او لفظًا عام دى چې حقيقةً وي نحو ناقةٌ يا حكماً وي نحو عقرب، او علامې د تانيث دري دي. ١ : الف مقصوره. ٢ : الف ممدوده. ٣ : تاى تانيثي، دا بيا دوه قسمه ده. ١ : متحركه. ٢ : ساكنه تاى تانيثي، ساكنه دا علامه د فعل ده متصل كيږي په اخير د فعل ماضي پورې لپاره د دې

چې دلالت وکړي په تانيث د فاعل باندې د اول وهلت نه او تای تانيث متحركه دا علامه د اسم ده متصل كيږي په اخير د اسم پورې لپاره د فرق په ما بين د مذكر او د مؤنث کې. او ځینې داسې اسماء دي چې په هغې پورې تای تانيث نه متصل كيږي څکه هغه مشترك دي بين المذكر و المؤنث. ۱ : اسم فعول په وزن باندې راشي په معنى د فاعل سره په هغې پورې تای تانيث نه متصل كيږي نحو: رجل صبور امراة صبور، او كه وزن د فعول په معنى د مفعول سره وو بيا متصل كيږي نحو: ركوب اكولة حلوبة. ۲ : اسم په وزن د مفعال. ۳ : او مِفعيل باندې راشي تای تانيث نه متصل كيږي مثال لكه: امراة معطار، امراة معطير شو، معطار او معطير هغه ځا ته وائي چې عادت د هغې تَعطُر او تطيب وي. ٤ : او اسم په وزن د مفعل باندې راشي مبالغي لپاره تای تانيث نه متصل كيږي مثال لكه: امراة مغشم شو، او كه د دې پورې تای تانيث متصل شوي وه لكه: امراة عدوة، او امراة ميقانة مذكر ميقان راځي ډير زيات يقين كوونكی څه چې واوري په هغې باندې يقين كوي، امراة معطارة و غيره شو دا شاذ دي .٥: او اسم راشي فعيل په وزن باندې په معنى د مفعول سره او موصوف ورسره ذكر شوي وو بيا دا مشترك دي بين المذكر و المؤنث تای تانيث نه متصل كيږي په اخير د دې پورې مثال لكه: رجل جريح رجيم امراة جريح رجيم رجل قتيل امراة قتيل، رجل كحيل، امراة كحيل، رجل خضيب، امراة خضيب.

او كه وزن فعيل په معنى د فاعل سره وو په هغې کې تای تانيث راځي نحو: شريفة ظريفة كريمة يا په معنى د مفعول سره خو دى لكن موصوف ورسره نه وو ذكر شوى بلكه مستعمل شوى وو په شان د استعمال د اسماء بيا تای تانيث متصل كيږي مثال لكه: ذبيحة، نطيحة و غيره شو.

سوال ته وائي وزن فعيل په معنى د فاعل سره راشي تائي تانيث متصل كيږي فرقًا بين المذكر و المؤنث دا قاعده ستا منقوضه شوه ان رحمةَ الله قريب من المحسنين سره دلته اسم د اِن مؤنث دى او خبر مذكر راغلى دى قريبة ويل پكار وو مؤنث ؟

جواب ۱: دلته رحمت په معنى د احسان سره دي مذكر دي اي ان حسانَ الله قريب.

۲ : وزن فعيل بمعنى الفاعل محمول دي په وزن فعيل بمعنى المفعول باندې.

۳ : رحمة لفظ مضاف شوي دي الله ته او لفظ د الله مذكر دي د هغه نه تذكير كسب كړي دي څكه مضاف د مضاف اليه نه كله تانيث كسب كوي او كله تذكير كسب كوي.

| | |
|---|---|
| ۷٦۳- وألف التأنيث ذات قصر | وذات مدٍّ نحو أنثى الغرِّ |

تركيب: الف مبتداء ذاتُ خبر وذاتُ معطوف على الخبر نحو خبر د مبتداء محذوف اي ذلك نحو انثى الغر.

**ترجمه:** او الف التانيث چې خاوند د قصر دي مثال لکه: حبلی شو او بل خاوند د مد دي لکه مؤنث د غُر شو چې د دي مؤنث راځي غراء او غراء مؤنث د اَغَر دي او دا ټولي د صفت مشبه صيغي دي.

**تشريح:** نو دينه معلومه شوه چې الف علامه د مؤنث دوه قسمه ده. ۱: الف مقصوره. ۲: الف ممدوده او مطلق الف مقصوره او الف ممدوده علامه د مؤنث نه ده بلکه هغه الف مقصوره او الف ممدوده علامي د اسم دي چې هغه زائد وي لغير الالحاق و تکثير البناء پس اعتراض وارد نه شو په مونږ باندې په عصا او ارطی او قبعثرَی او کساء او علباء سره چې د دوی اسماء په اخير کې الف مقصوره او الف ممدوده راغلي دي او دا اسماء مؤنث نه دي ځکه الف د عصا او همزه د کساء اصلي دي بدل د واو نه راغلي دي او الف د ارطی او همزه د علباء زائد راغلي الحاق لپاره، ارطی ملحق دي جعفر پورې او علباء ملحق دي قرطاس پورې، او الف د قبعثری زائد راغلي دي تکثير د بناء لپاره، اوس دا الف مقصوره په کومو اسماء مؤنثو کې راځي او الف ممدوده په کومو اسماء مؤنثو کې راځي د هغې مشهور اوزان بيانوي:

| ۷٦٤- والإشتهار في مباني الأولى | يبديه وزن أربى والطولى |
|---|---|

**ترکيب:** **الاشتهارُ** مبتداء **في** متعلق بالاشتهار **يُبدِ** خبر **وزن** فاعل.

**ترجمه:** او شهرت په بناګانو د اول الف کې چې هغه الف مقصوره دي، ښکاره کوي دغه شهرت لره وزن د اربی او وزن د فعلی.

| ۷٦٥- ومرطى وَوزن فعْلى جمْعا | أو مصدراً أو صفةً كشبعى |
|---|---|

**ترکيب:** **او مصدراً** عطف على جمعا

**ترجمه:** دارنګه شهرت ښکاره کوي وزن د مرطی او وزن د فعلی په حال کون د دي فعلی کې چې دا جمع وي لکه صرعی شو چې دا جمع د صريع ده، دارنګه مرضی جمع د مريض ده، يا په حال کون د دي فعلی کې چې دا مصدر وي لکه: دعوی شو يا صفت وي لکه: شعبی شو صيغه واحده مؤنث صفت مشبه صيغه ده فعلی په وزن باندې مذکر د دي راځي اشبع.

| ۷٦٦- وكحُبَارى سمّهى سبطري | ذكرى وحثيثى مع الكفرّى |
|---|---|

**ترکيب:** **کحباری** عطف على کشبعی **سمی** دا معطوف دي حباری باندې بحذف العاطف مع **الکفری** حال از جميع مذکورات.

**ترجمه:** يا به دا صفت فُعالی په وزن باندې وي لکه: خُباری شو دا د يو مرغۍ نوم دي، او فُعلی په وزن باندې لکه سُممي شو باطل ته وائي، يا فِعْللی په وزن باندې لکه: سِبَطری شو په تکبر باندې تللو ته وائي، بل لکه دِفَعی شو دا يو نوع د مشي ده په ټوپونو باندې تلل يا راځي فعلی

په وزن باندې بیا دا عام دي مصدر وي لکه ذکرى شو یا جمع وي لکه: ضربَى او حِجلى شو جمع ظَرِبان و حَجَلٍ جمع فِعلى په وزن باندې د دي دوو نه علاوه نور په دي وزن باندې نه دي راغلی په استعمال د کلام د عربو کې فصول اکبري او راځي فِعیلَى په وزن باندې لکه: حِثیثَى او دلیلَى شو بل لکه: خلیفَى شو بمعنی الخلافة، و في حدیث عمر بن الخطاب: لولا الخَلیفَى لأذنتُ یعنی کچیري ځما مشغوله په امورو د خلافت سره نه وي ما به اذان کړي وو، دا رنګه الف مقصوره راځي په هغه اسم کې چې هغه په وزن د فُعلى باندې وي لکه کفرى شو.

| ٧٦٧- كذاك خليطى مع الشُّقَّارى | واعزُ لغير هذه استندارا |
|---|---|

**ترکیب: كذاك** خبر مقدم **خليطى** مبتداء مؤخر **مع** حال از خليطى **اعزُ** متعلق باعز **استمرارا** مفعول به.

**ترجمه:** په شان د کفرى وزن باندې الف مقصوره راځي په هغه اسم کې چې هغه په وزن د فُعیلَى باندې راځي او فُعالى په وزن باندې راځي مثال د اول لکه خُلیطَى شو په معنی د اختلاط سره، او مثال د ثاني لکه شقارى شو چې دا د بوټي نوم دي، او نسبت وکړه ته ندرت هغه مواضع د الف مقصوره لره چې غیر د مواضع مذکورو نه دي.

| ٧٦٨- لمدّها فعلاء أفعلاء | مثلث العين وفعللاء |
|---|---|

**ترکیب: لمدها** خبر مقدم **فعلاء** مبتداء مؤخر **مثلث** حال از افعلاء **فعللاء** معطوف افعلاء.

**ترجمه:** لپاره د مد د دې علامې د تانیث راځي اسم په فَعلاء او افعلاء او فعللاء په وزن باندې لکن افعلاء یواځي په فتحې د عین سره نه او یواځي کسرې د عین سره نه او یواځي ضمې د عین سره نه بلکه په حال کون د دي افعلاء کې چې عین کلمه د ده په دروارو حرکتونو سره وي مثال د اول لکه: حمراء او صحراء شو، او مثال د ثاني لکه: اربُعاء بضم الباء و فتحها و کسرها چارشنبه ورځ ته وائي، او مثال د دريم لکه عقرباء شو چې مذکر د دي عقرب راځي.

| ٧٦٩- ثمّ فِعالا فعللا فاعولا | وفاعلاء فعليا مفعولا |
|---|---|

**ترکیب: فعالا** دا ټول عطف دي په فعلاء باندې ځني بحذف العطف او ځني مقصور کړي دي د وجې د ضرورت شعري نه علی فهم الطالب من قوله لمدها.

**ترجمه:** او الف ممدوده راځي په هغه اسم کې چې هغه په وزن د فِعالاءُ باندې وي مثال لکه: قِصاصاء شو بمعنی القصاص او په وزن د فعلُلاء کې مثال کله: قرفصاء شو، او په وزن د فاعلاء کې مثال لکه: عاشوراء شو، او په وزن د فاعلاء کې مثال لکه: قاصعَاء شو او په وزن د فعلیاء کې مثال لکه: کبریاء شو، او په وزن د مفعولاء کې مثال لکه مشیوخاء شو جمع شیخ.

| ٧٧٠- ومطلق العين فعالا وكذا | مطلق فاءِ فعلاء أخِذا |
|---|---|

**تركيب**: **مطلق** حال مقدم از فعالا ١ **فعالا** ١ مبتداء اول ٢: معطوف على السابق بحذف الواو و**كذا** متعلق باخذ **مطلقً** حال از ضمير مستتر در اخذ راجع الى فعلاء **فعلاء** مبتداء ثاني **أُخذا** جمله خبر د مبتداء ثاني بيا جمله خبر د مبتداء اول.

**ترجمه**: او بل اوزان د الف ممدوده نه وزن د فعالاء دي په حال كون د ده كې چې مطلق العين دي يعنى مثلث العين واخلي دلته ضرورت شعري د وجې نه هغه همزه لري كړي ده، اصل كې فعالاء دى، مثال د فعالاء لكه كراساء شو، او مثال د فعولاء لكه عاشوراء شو، مثال د فعيلاء لكه بريساء شو، دا يو لغت دى لكه براساء، او په مثل د دې باندې فعلاء دي په حال كون د ده كې چې مطلق الفاء دي چې فا كلمه د ده ضمه وي او كه كسره وي او كه فتحه وي او دغسې بناګانې د الف ممدوده اخستى شوى دى مطلق الفاء مثال د اول لكه: براساء شو دا يو لغت دي برنساء كې او مثال د ثاني لكه: جَنقاء او مثال د ثالث خيلاء شو.

## المقصورُ والممدودُ

دا بحث د اسم مقصور او د اسم ممدود دي، اسم مقصور د نحويانو په اصطلاح كې هغه اسم احتراز عن يرضى معرب احتراز عن ذا ته وائي چې د هغې په اخير كې الف مقصوره راغلي وي او دا لازم وي احتراز عن الف الزيدان او محل د اعراب دغه الف وي تقديراً او دغه الف په دې اسم كې اصلي بالكل نه راخي بلكه دا يا بدل راخي د يا نه يا د واو نه يا زائد راخي او زائد كله علامه د تانيث وي يا زائد الحاق لپاره وي لكه الف د ارطى او د زفرَى شو.

او اسم ممدود د نحويانو په اصطلاح كې هغه اسم معرب ته وائي چې د هغې په اخير كې همزه راغلي وي او د هغې نه مخكې الف زائده راغلي وي او محل د اجراء د اعراب هغه همزه ده لكن څوك درنه تپوس وكړي چې اسم مقصور څو قسمه دي او اسم ممدود څو قسمه دي ته به وائې مقصور دوه قسمه دي. ١: قياسي. ٢: سماعي، دارنګه مد هم دوه قسمه دي. ١: قياسي. ٢: او بل سماعي، اوس سماعي كم يو دي او قياسي كوم يو دي د هغې بيان كوي.

| | |
|---|---|
| ٧٧١- إذا اسم استوجب من قبل الطرف | فتحاً وكان ذا نظيرٍ كالأسف |

**تركيب**: **اذا** شرط **اسم** فاعل لفعل محذوف يفسر بعده **ستوجب** جمله مفسره **من** متعلق باستوجب **فتحًا** مفعول به **كان** خبر، ضمير مستتر راجع الى اسم كان **كالاسف** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**: په كوم وخت كې چې واجب كړي شي اسم مخكې طرف يعنى په ما قبل اخير د اسم كې فتحه او وي د دغه اسم لپاره نظير په صحيح كې مثال لكه: آسف شو چې دا نظير د جوى دي.

| ثبوت قصرٍ بقياسٍ ظاهر | ۷۷۲- فلنظيره المُعَلّ الآخر |
|---|---|

**ترکیب: فلنظیر** موصوفاً خبر مقدم **المعل** صفت **ثبوت** مبتداء مؤخر **بقیاس** متعلق بثبوت موصوف **ظاهر** صفت.

**ترجمه:** پس لپاره نظیر د دي اَسَف چې معتل الآخر واخلي ثبوت د قصر دي په قاعده سره داسې قاعده چې هغه ښکاره ده مثال لکه: جویٰ شو، او رضا او غنیٰ شو د دي لپاره نظیر په صحیح کې شته دي چې اَسَف دي دا دواړه ولي مفتوح العین دي ځکه مفتوح العین دي چې ماضي د دي دواړو مکسور العین ده او لازم ده او ماضي، مکسور العین وي او لازم وي د هغې مصدر فَعَل په وزن باندې راځي هر کله چې دا مصدر مفتوح العین شو قاعده د قال متوجه شوه چې یا متحرك ما قبلش مفتوح یا الف سره بدل کړه نو مقصور ترینه جوړه شوه.

| كفعلةٍ وفُعلةٍ نحو الدّمى | ۷۷۳- كفعلٍ وفُعلٍ في جمع ما |
|---|---|

**ترکیب: کفعل** خبر د مبتداء محذوف اي و ذلك **في** حال از فَعل و فُعل **ما** موصوله **کفعلة** صله **نحو** خبر د مبتداء محذوف دي.

**ترجمه:** او اسم مقصور قیاساً راځي هغه اسم چې فِعَل او فُعَل په وزن باندې وي په حال کون د دي دواړو کې چې دا فِعَل راغلي دي جمع د هغه مفرد چې هغه فِعلَة په وزن باندې دي مثال لکه: لِحي شو چې دا جمع د لِحیة ده او بل مثال لکه حِلَی او مِرَی شو چې جمع د حِلیة او مِریَة دي، او دا فُعل وزن راغلي دي جمع د هغه مفرد چې هغه په وزن د فُعلَة باندې دي مثال د دي لکه: دُمَی شو چې دا جمع د دُمیة ده، بل مثال د دي لکه عُرَی او مُدَی شو چې جمع د عُروة او مُدیة ده، اوس بیانوي اسم ممدود قیاسي.

| فالمدّ في نظيره حتماً عُرف | ۷۷٤- وما استحق قبل آخرٍ ألف |
|---|---|

**ترکیب: ما** موصول مبتداء اول **استحق** صله **الف** مفعول به **فا** زائده **المد** مبتداء ثاني **نظیر** متعلق بعرف **حتما** حال از ضمیر مستتر در عرف جمله خبر.

**ترجمه:** او هغه اسم د صحیح نه چې هغې لازم کړي دي د ځان نه مخکې د وروستي حرف الف لره پس مده د دي په نظیر په معتل کې پیژندلي شوي دي په طریقې د وجوب سره.

| بهمزِ وصلٍ كارعوى وكارتأى | ۷۷۵- كمصدرِ الفعل الذي قد بُدِيا |
|---|---|

**ترکیب: کمصدر** خبر د مبتداء محذوف اي و ذلك **الفعل** موصوف **الذي** صفت **بُدیا** جمله صله **بهمز** متعلق ببدي **کارعوی** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه:** او دا کائن دی په مصدر د هغه فعل کې په تحقیق سره دا فعل ماضي شروع کړي شوي

ده په همزه وصليه سره مثال د مصدر د هغه فعل چې د هغه ابتدا شوې ده همزه وصليه سره لکه ارعَوی شو چې مصدر ارعواء راځي، او بل مثال د دې لکه: ارتدَی شو چې مصدر د دې ارتداء راځي او نظير د دې راغلی دی په صحيح کې اکتسابًا، هر کله د بيان د اسم مقصور او د اسم ممدود قياسي نه فارغ شو اوس بيانوي اسم مقصور او اسم ممدود سماعي.

| | |
|---|---|
| ۷۷۶- والعادم النظير ذا قصر، وذا | مدِّ بنقل، كالحجا وكالحذا |

**ترکيب: العادم** مبتداء **ذاقصر** حال از بنقل **ذا** عطف على ذا قصر **بنقل** خبر **كالحجی** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه:** او هغه اسم مقصور او ممدود د ناقصو نه چې هغه ورکوونکی دي د نظير خپل د صحيح نه دا فرق دی په نقل او سمع د عربو پورې و لايقاس عليه غيره، مثال د اسم مقصور سماعی چې د هغه لپاره په صحيح کې نظير نه پيدا کيږي لکه حجٰی او سينا شو نو حجٰی عقل ته وائي او مثال د اسم ممدود سماعی چې د هغې لپاره په صحيح کې نظير نه پيدا کيږي لکه حذاء او ثراء شو.

| | |
|---|---|
| ۷۷۷- وقصر ذي المدِّ اضطراراً مُجمَع | عليه والعكس بخلفٍ يقع |

**ترکيب: و قصر** مبتداء، **اضطرارا** مفعول له، **مجمع** خبر، **عليه** متعلق بجمع نائب فاعل، **والعكس** مبتداء **بخلف** متعلق بيقع، جمله خبر.

**ترجمه:** او مقصور کول د خاوند د الف ممدوده د وجې د ضرورت شعري نه په دې باندې اتفاق کړی دی دواړه فريقينو چې کوفيان او بصريان دي يعنی اسم ممدود نه مقصور جوړول ضرورت شعري د وجې نه دا جائز دي بالاتفاق مثال د دې مخکې نظمونو کې تير شو لکه: مطلق العين فعالاو كذا كې فعلاء نه فعالا جوړ کړي وو ضرورت شعري د وجې نه، او عکس د دې خبري چې هغه جوړول د ممدود دي د مقصور نه دا واقع کيږي سره د خلاف نه په ما بين د کوفيانو او بصريانو کې په دې شان سره بصريان وائي اسم مقصور نه ممدود جوړول جائز نه دي ضرورت شعري د وجې نه هم، او کوفيان وائي: جائز دي او کوفيانو استدلال کړی دی په دې قول د شاعر سره:

يا لك من تمرٍ و من شيشاءِ ينشب في المسعَل و اللهاءِ

يا لك اي يا عجبًا لك اللام للتعجب المسعل موضع السعال و اللهاء د ژبې د پاسه اخيرې طرف د غوښې ته لها وائي.

شيثاء لغة في شيساء الشيس لغة في شيص هغه کجوري ته وائي چې هډوکې ئې مضبوط نه وي، دلته ده اللها مقصور نه اللهاء ممدود جوړ کړی دي د وجې د ضرورت شعري نه.

## كيفية تثنية المقصور والممدود وجمعها تصحيحًا

دا اسم مقصور به خالي نه وي يا به ثلاثي وي يا به زائد على ثلاثة احرف وي، كه ثلاثي وو بيا به خالي نوي يا به مجهول الاصل وي يا به معلوم الاصل وي، كه مجهول الاصل وو بيا به خالي نوي يا به اماله شوي وي يا به نوى شوي، كه اماله شوي وه يا سره بدليږي نحو: متى او كه اماله نه وه شوي بيا واو سره بدليږي لكه: الى شو، كه معلوم الاصل وو بيا به خالي نوي يا به بدل د واو نه راغلي وي يا به بدل د يا نه راغلي وي كه بدل د واو نه راغلي وو واو سره بدليږي نحو: عصا او كه بدل د يا نه راغلي وو يا سره بدليږي نحو: فتى، او كه زائد على ثلاثة احرف وو يا سره بدليږي نحو: اعلى، دارنګه اسم ممدود كې همزه به خالي نه وي يا به اصلي وي يا به زائد وي كه اصلي وي بيا به خالي نه وي يا به بدل د واو او د يا نه راغلي وي يا به نه وي راغلي كه نه وي راغلي تثبت نحو: قراء او كه راغلي وو تثبت او تقلب واواً نح، رداء كساء، او كه دا همزه زائده وه بيا به خالي نه وي يا به زائد وي لپاره د الحاق يابه زائد وي لپاره د تانيث، كه زائد للالحاق وو تثبت و تقلب واواً مثل كساء نحو علباء، او كه زائد لپاره د علامې د مؤنث وو تقلب واواً نحو حمراء. كه چيرته يو اسم وي د هغې په اخير كې الف مقصوره راغلى وى او يو اسم وى د هغې په اخير كې الف ممدوده راغلې وى او تا اراده وكړه چې زه د هغې نه تثنيه او جمع جوړوم په حين د الحاق د علاماتو د تثنيه او د جمع كې د هغې په مفرد كې تغير راځي هغه دا بيانوي اوس هغه تغير څنګه راځي دا الف مقصوره به خالي نه وي يا به راغلي وي بدل د واو نه حقيقةً يا حكمًا دا په وخت د تثنيه جوړولو كې رد كيږي واو ته لپاره لحاظ داري د اصل مثال لكه: عصا كې به عصوان وائي، او كه دا الف مقصوره بدل د يا نه راغلي وو حقيقةً يا حكمًا يا زائد على ثلاثة وو دا په وخت د تثنيه جوړولو كې رد كيږي يا ته لپاره لحاظ داري د اصل مثال لكه: رحَى كې رحيان وائي، اوس اسم ممدود دي تا اراده وكړه چې زه تثنيه جوړوم نو ته به دغه همزه ته به ګوري كه دا همزه اصلي وو تثبت په خپل حال باندې باقي پاتې كړه مثال لكه: قُراء كې به قراءان به وائي، او كه اصلي نه وو بيا به خالي نه وي يا به بدل د واو نه راغلي وي يا به بدل د يا نه راغلي وي يا به زائد وي، او كه زائد وو بيا به خالي نوي يا به زائد وي لپاره د الحاق او يا به زائد وي لپاره علامه د مؤنث لكه: حمراء شو كه زائد وو علامه د مؤنث لپاره قُلبت واواً و الا فالوجهان: يعنى همزه بدل د واو نه راغلي وه لكه كساء شو. ۲ : يا بدل د يا نه راغلي وه لكه رداء شو. ۳ : يا زائد لپاره د الحاق وه لكه علباء شو بيا په هغې كې جواز د وجهينو دي. ۱ : ثبوت د همزه په خپل حال يا ندي. ۲ : او همزه واو سره بدل كوه نو مجموعه. ۵ : پنځه صورتونه شو: يو

صورت کې تثبت دي او يو صورت کې قلبت واواً دي او درې صورتونو کې جاز الامران دي.

| ۷۷۸- آخرَ مقصورٍ تثنّى اجعله يا | إن كان عن ثلاثةٍ مرتقيا |
|---|---|

**ترکيب:** آخرما اضمر عامله على شريطة التفسير **مقصور** موصوف **تُثنّي** جمله صفت **اجعله** هُ مفعول ثاني كان في الاصل ياءً مقصور لاجل الضرورة هذا جائز بالاتفاق كما مر **ثلاثة** متعلق بمرتقيًا مرتقيًا خبر د كان او كان کې ضمير مستتر راجع الى الياء اسم د كان.

**ترجمه:** حرف آخر د اسم مقصور چې هغه الف مقصوره دي داسې اسم مقصور چې تثنيه کوي نه ګرځوه آخر د اسم مقصور لره يا په دې شرط سره کچيري وو دا اسم مقصور ختونکی پورته طرف ته د دريو حروفو نه په دې شان سره چې څلورم ځای کې واقع شوي دي يا د هغې نه زيات مثال لکه: اعلی او مصطفی شو په دې کې به اعليان او مصطفيان به وائي لپاره د حصول د تخفيف ځکه يا خفيف ده په نسبت سره واو ته.

| ۷۷۹- كذا الذي اليا أصله نحو الفتى | والجامدُ الذي أميل كمتى |
|---|---|

**ترکيب:** **كذا** خبر مقدم، الذي الخ مبتداء مؤخر **اليا** مبتداء **اصله** خبر **نحو** خبر د مبتداء محذوف اي و ذلك **والجامدُ** معطوف على الذي موصوف **الذي** صفة كمتى خبر د مبتداء محذوف و ذلك كائن.

**ترجمه:** او دغسې بدلوه ته الف مقصوره يا سره په وخت د تثنيه جوړولو کې هغه اسم مقصور چې اصل کې يا ده لپاره لحاظ داری، د اصل لکه: فتًى شو چې اصل کې فَتَي وو، بيا يا الف سره بدل شوې ده او هغه الف التقاء د ساکنينو د وجې نه حذف شوي دي که دا فتًى مجرد عن اللام و الاضافة وو، اوس ته چې د دي فتى نه تثنيه جوړوي فَتَيَانِ به وائي، او دغسې بدلوه الف مقصوره يا سره په اسم جامد کې هغه اسم جامد چې په هغې کې اماله شوي وي ما قبل فتحه کې چې فتحه مائله کړي وي طرف د کسري ته مخکې د الف نه په دي شان سره چې نيم فتحه ويلي وي او نيمه کسره او ورپسې الف مائل کړی وي طرف د يا ته په دي شان سره نيم الف ويلي وي او نيم يا ويلي وي ديته اماله وائي، مثال لکه: متَى او بلی شو.

**تشريح:** حاصل د ما قبل دا دی اسم مقصور نه چې تثنيه جوړوې په درې ځايونو کې الف يا سره بدليږي. ۱ : الف راغلی وو څلورم ځای کې يا زيات د څلورم ځای نه مثال د اول لکه: اعلی شو او مثال د دويم لکه مصطفی شو. ۲ : الف واقع شوي وو دريم ځای کې بدل د يا نه راغلي وي مثال لکه: فتًى شو. ۳ : يو اسم د مجهول الاصل چې دا پته نه لګي دا الف بدل د واو نه راغلي وی او که بدل د يا نه راغلی وي او په هغې کې اماله شوې وه مثال لکه: متَى شو دا په کلي کې دوه کسانو لپاره علم وګرځوي بيا تثنيه جوړه کړي: جاءني متيان به وائي الف مقصوره به بدل

کړي يا سره څکه دا حکمًا يا ده، اسم مبني کې اماله ماسوا د متَی او أنَی وائي او ذا نه نده راغلې دارنګه په حروفو کې بلَی او يا او لادرامًا لانه علاوه په نورو حروفو کې نده راغلي.

| | |
|---|---|
| ۷۸۰- في غير ذا تقلب واو الألف | وأولها ما كان قبل قد أُلِف |

**ترکيب: في غير** متعلق بتقلب اي في غير جميع ما تقلب فيه الألف ياءً **واوَ** مفعول به **الالفَ** نائب فاعل **اولها** مفعول اول **ما** موصوله مفعول ثاني **قبل** متعلق بالف **اُلف** جمله خبر.

**ترجمه:** اړولی شي واو ته الف د اسم مقصور په هغه ځايونو کې چې هغه غير دي دغه مواضع مذکور نه واقع کوه ته وروسته بې فصله د دغې کلمې منقلبي سره هغه علامه چې هغه علامه معلوم کړی شوی دی مخکې د دې کتاب اول سر کې چې الف او نون مکسوره دي حالت رفعي کې او يا او نون مکسوره دي په حالت نصبي جري کې.

**تشريح:** اسم مقصور نه چې تثنيه جوړوي صرف دوه ځايونو کې الف مقصوره واو سره بدليږي. ۱: الف د اسم مقصور دريم ځای کې واقع شوي وي او بدل د واو نه راغلي وي لکه: عصا شو تثنيه چې جوړوي عصَوان به وائي دا الف به واو سره بدل کړي لپاره لحاظ داري د اصل.

۲: الف مقصوره راغلی وي په هغه اسم کې چې هغه مجهول الاصل دي او په هغې کې اماله نه ده شوي مثال لکه: الَی شو چې دا چا لپاره علم وګرځوي بيا تثنيه جوړوي دا الف به واو سره بدل کړي اِلَوان به وائي څکه په دې کې اماله نه ده شوي نو دا په حکم د واو کې دی.

طريقه او کيفيت د بنا د تثنيه د اسم مقصور بيان شو اوس بيانوي طريقه د بناء د تثنيه د اسم ممدود.

| | |
|---|---|
| ۷۸۱- وما كصحراء بواوٍ ثنّيا | ونحو علباءٍ كساءٍ وحيا |

**ترکيب: ما** موصوله مبتداء **كصحراء** صله **بواو** متعلق بثنيا **ثُنيا** جمله خبر **نحو علباء** خبر د مبتداء محذوف **حيا** مقصور للضرورة.

**ترجمه:** او هغه اسم ممدود چې هغه په شان د صحراء باندې وي چې همزه زائد لپاره علامې د تانيث راغلي وي دا تثنيه کولي شي په واو سره په دې شان سره دا همزه به واو سره بدلوي په وخت د تثنيه جوړولو کې نو صحراء کې به صحراوان وائي څکه وقوع د همزه زائده بين الالفين دا موجب د ثقل دي بيا واو سره بدل کړه نه يا سره څکه واو اقرب دي همزي ته په ثقل کې په نسبت سره يا ته، او مثل د علباء چې همزه راغلي وي د الحاق او مثل د کساءٍ چې همزه راغلي وي بدل د واو نه، او مثل د حياء چې همزه راغلي وي بدل د يا نه.

| | |
|---|---|
| ۷۸۲- بواوٍ او همزٍ وغير ما ذكر | صحّح وما شذّ على نقلٍ قُصِر |

**ترکيب: بواو** خبر د مبتداء چې نحو دي في البيت السابق **همز** مفعول به مقدم **ما** موصوله **ذکر** صله

**ما** موصوله مبتداء **شذ** صله **على نقل** متعلق بقصر **قُصر** جمله خبر.

**ترجمه**: په واو سره وي يا تثنيه د دې درې واړو به همزې سره او هغه همزه چې غير وي د هغه همزه ګانو نه چې ذکر کړې شوې دی هغه روغ موتې پاتې کړه په وخت د تثنيه جوړولو کې لکه قراء او وضاء حسن الوجه ته وائي کې قراءان وضاءان به وائي، او هغه چې خلاف راغلی د دې قواعدو نه هغه به بند کړي شوي وي په سمع پورې قياس لره به دخل نه وي مثال لکه: قراء دي، قاعده تا ته حکم کوي قرءان وايه، اوس که قراوان منقول وي دا شاذ دي دارنګې حمراء کې قاعده تا ته حکم کوي حمراوان وايه اوس که حمرايان منقول وي نو دا شاذ دي او خوزَلی کې خوزليان به وائي او خوزلان شاذ دي.

**سوال**: کساء او حياء او علباء کې جواز د وجهينو ولي دي؟ **جواب** ځکه دا همزه ذو وجهين ده من وجه مشابه ده همزه د قراء سره چې دا بدل د اصلي نه راغلي ده حکم د همزه اصلي واخست او من وجه مشابه ده حمراء سره چې بعينه اصلي نه ده حکم د همزه د حمراء واخست او عمل په جهتين باندې ممکن وي اعمال اولی دي د اهمال نه هکذا همزةُ علباء که ديته ګوري چې دا ملحق ده قرطاس پورې دا همزه د سين په ځای باندې راغلي ده دا په حکمً د اصلي کې ده حکم د قراء واخست او که ديته ګوري حقيقت کې دا همزه زائد وي حکم د حمراء واخست.

| | |
|---|---|
| ۷۸۳- واحذف من المقصور في جمع على | حدّ المثنّى ما به تكمّلا |

**ترکيب**: **في جمع** دا دواړه متعلق دي احذف پورې، **جمعٍ**: موصوف **على حد** په اعتبار د متعلق سره صفت **ما** موصوله مفعول به احذف **به** متعلق بتکملا **تکملا** جمله صله.

**ترجمه**: او حذف کړه ته د دې اسم مقصور نه په وخت د جوړولو د جمع کې هسې جمع چې کائن ده په اندازې د تثنيه باندې لکه څنګه چې تثنيه کې اعراب بالحرف راځي دارنګه په دې کې هم اعراب بالحرف راځي، **ما**: هغه حرف لره چې په دې حرف سره کامل شوي دي دا اسم مقصور د وجې د التقاء د ساکنين نه على غير حده واو سره په حالت رفعي کې او يا سره په حالت نصبي جري کې.

| | |
|---|---|
| ۷۸٤- والفتح أبق مشعراً بما حُذِف | وإن جمعته بتاء وألف |

**ترکيب**: **الفتحَ** مفعول به مقدم **مشعرًا** حال از مفعول به مقدم **بما** متعلق بمشعراً ، **ما**: موصوله **حذف** جمله صله **ان** شرط **بتاء** متعلق بجمعته.

**ترجمه**: او باقي پاتې کړه فتحه د ما قبل د الف په حال کون د دغه فتحه کې چې خبر ورکوونکی شي په حذفيت د الف مقصور باندې نحو قوله تعالى : ﴿وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ﴾

وقوله تعالى: ﴿وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ﴾ كچيري جمع كوي ته دغه اسم مقصور لره په الف او تا سره يعنى تا جمع كول جمع مؤنث سالم سره.

| وتاء ذي التا ألزمنّ تنحيَه | ٧٨٥- فالألف اقلب قلبها في التثنيه |
|---|---|

**تركيب: الالف** مفعول به مقدم **قلبها** مفعول مطلق نوعي **في التثنية** متعلق بقلبها **تاء ذي** مفعول اول مقدم **تنحيه** مفعول ثاني.

**ترجمه:** پس بدل كړه ته دغه الف د اسم مقصور لره په شان د بدلولو د دغه الف په تثنيه كې مثال لكه: حمراء كې حمراوات وائي، يعنى بالفرض دا جمع كوې د جمع مؤنث سالم سره خلاف القياس داسې جمع كوه په نحو قوله عَلَيْهِ السَّلَامُ: ليس في الخضروات صدقة اما قياساً جمع د حمراء په جمع مؤنث سالم سره نه دي جائز، او حبلى كې حبليات وائي، او خامخا لازم كړه ته هغه اسم مقصور چې خاوند د تا وي د جهت د حذف كولو نه چې هغه تا لرى كړه لزوما لپاره د دي چې لازم نشي اجتماع د دوه تا ګانو مثال لكه: فتاة دي دا چې ته جمع كوي په جمع مؤنث سالم سره فتيات به وائي بحذف تاء فتاة و بقلب الالف ياءً.

| إتباع عينٍ فاءهُ بما شُكِل | ٧٨٦- والسّالم العين الثلاثي اسماً أنِل |
|---|---|

**تركيب: السالم** مفعول به مقدم **العين** موصوف **الثلاثي** صفت **اسما** حال از ثلاثي **اتباعَ** مفعول ثاني مقدم د اتباع **عين** مفعول اول **بما** موصوله جار مجرور متعلق باتباع **شكل** جمله صله عائد محذوف اي به.

**ترجمه:** او هغه اسم چې سالم العين وي د تضعيف او د حرف علت نه او ثلاثي وي وركوه ته هغې ته تابع كول د عين كلمه فا كلمه د دي اسم لره په هغه حركت سره چې هم شكل وي دا حركت د فا كلمي سره په دي شان سره كه فا كلمه مفتوحه وه او عين كلمه ساكنه وه دغه عين كلمه به مفتوح كوي.

| مختتماً بالتاء أو مجرّدا | ٧٨٧- إن ساكن العين مؤنثاً بدا |
|---|---|

**تركيب: ان** حرف شرط، بدا فعل شرط **ساكنَ** حال مقدم از ضمير بدا **مؤنثا** حال ثاني **مختتما** حال ثالث **اومجردا** معطوف على مختتما.

**ترجمه:** په دې شرط سره چې ښكاره شوى وو دغه اسم سالم العين ثلاثي په حال كون د دغه اسم ښكاره شوي كې چې ساكن وي او مؤنث وي او ختم شوي وي په تا سره يا مجرد وي د دغه تا نه.

**تشريح:** حاصل د دي بيتينو دا دي چې يو اسم دي ته هغه جمع كوي په جمع مؤنث سالمي سره اتباع د عين كلمه د هغې د فا كلمه په حين د جمع كې مشروط دي په شروط خمسه ؤ سره. ١:

اسم به سالم العين وي احتراز ئې وکړو د معتل العين نه او د تضعيف العين نه مثال لکه: جوزة او جنة شو، فانه لا يجوز فيها الا السكان. ۲: دغه اسم سالم العين به اسم جامد وي نو احتراز ئې وکړو د صفت نه مثال لکه: ضخمة شو، فانه لايجوز فيها الا التسكين. ۳: دغه اسم جامد سالم العين به ثلاثي وي نو احتراز ئې وکړو د رباعي نه مثال لکه: جيئل شو ځکه دا ساکن په خپل حال باندې پاتې کولي شي. ٤: دغه اسم جامد سالم العين ثلاثي به ساکن العين وي نو احتراز ئي وکړو د متحرك العين نه مثال لکه: شجرة شو ځکه دا په خپل حال باندې باقي پاتې کولى شي. ٥: او دغه اسم جامد سالم العين ثلاثي ساکن العين به مؤنث وي بالتاء يا به مجرد عن التاء وي احتراز ئي وکړو د مذکر نه ځکه هغه نه جمع کيږي په الف او تا سره، اوس دا پنځه واړه شرطونه په يو اسم کې موجود شي په هغې کې اتباع د عين کلمي د فا کلمي جائز ده په دې شان سره که فا کلمه مفتوح وه عين کلمه مفتوح کوه مثال لکه: حفنة کې جَفَنتان اوايه او که فا کلمه مکسور وه عين کلمه مکسور کوه مثال لکه: سدرة کې سدرات روايه او که فا کلمه مضموم وه عين کلمه مضموم کوه مثال لکه: غرفة کې غُرُفات جائز دي.

| ۷۸۸- وسكّن التالي غير الفتح أو | خفّفه بالفتح فكلاً قد رووا |
|---|---|

**ترکيب: التا** مفعول به **غير** مفعول به التالي **بالفتح** متعلق بخفف **فکلا** مفعول به مقدم.

**ترجمه:** او ساکن کړه ته هغه عين کلمه لره چې هغه واقع کيږي وروسته بي فصله د هغه حرکت نه چې هغه غير دي د فتحي نه يا تخفيف ورکوه ته دغه عين کلمي لره چې وروستو د غير د فتحي نه واقع دي په فتحي سره او په تحقيق سره نقل کړي دي نحويانو هر يو د دې لغتونو نه د عربو نه مثال لکه: خطوة او کسرة شو، په دې کې ستا لپاره دوه وجې جائز دي:

۱: کسرات او خُطوات روايه په بقاء د سکون د عين کلمي سره.

۲: کسرات او خُطوات روايه په فتحي د عين کلمي سره او که د فتحي نه وروستو واقع شوي وو په هغې کې فتحي نه علاوه بله وجه جائز ده مثال لکه: وعد کې به وعدات وائي.

| ۷۸۹- ومنعوا إتباع نحو ذروه | وزبيةٍ وشذّ كسر جروه |
|---|---|

**ترجمه:** او منع کړي دي عربو يا نحويانو تابع کول د عين کلمي فا کلمي لره په مثل د ذروة او زُبية کې او شاذ دي پکې کسره د فا کلمه د جِروه.

**تشريح:** يعنى فا کلمه مکسوره او لام کلمه واو يا ياء سره د سکون د عين کلمي نه لکه: زُبية شو په دې کې صرف فتحه او سکون د عين کلمه جائز دي په جمع مؤنث سالم جوړولو کې او اتباع د عين کلمه د فا کلمي جائز نه دي.

**سوال:** ته وائي په دي کې اتباع د عين کلمي د فا کلمي جائز نه ده جروة کې خو جِروات راغلي دي په اتباع د عين کلمه فا کلمه سره. **جواب:** ده يې جواب وکړو و شذَ کسر جِروه سره يعنى دا راغلى دى خلاف القياس او زه وايم قاعدة اتباع د عين د فا کلمه جائز نه دي.

| ۷۹۰- ونادرٌ أو ذو اضطرار غير ما | قدمته أو لأناسٍ انتمى |
|---|---|

**ترکيب:** نادرخبر مقدم اوذومبتداء مؤخر ماموصوله **قدمته**صله **لأناسٍ**متعلق باتتمى **انتمى**معطوفة على الخبر.

**ترجمه:** او کم به وي او يا د وجې د ضرورت شعري نه به وي غير د هغه ځيزونو نه چې هغه ما مخکې ذکر کړي دي يا د هغې نسبت شوى وي خاص د يو قوم ته.

**تشريح:** يعنى دا کومه قاعده چې ما مخکې ذکر کړه د هغې مخالف يو لفظ راشي هغه به د درې خبرو نه خالي نوي. ۱ : يا به شاذ وي مثال لکه: کهَلات شو په کهْلة کې په فتحي د عين کلمي سره او د قاعدي تقاضا دا ده کهْلات اووايه بسکون العين ځکه دا صفت دي ۲: يا به راغلي وي خلاف د قواعدو مذکورو نه د وجې د ضرورت شعري نه کما في قول الشاعر:

حُملت زَفرات الضُحَى طقتُها — و ما لي بزَفرات العشِي يدان

دلته شاعر زَفراتِ ويلي دي په فتحي د فا سره لپاره تابعداري د فا کلمه چې هغه زا ده ځکه اسم سالم العين ثلاثي ساکن العين مؤنث چې جمع کوي په جمع مؤنث سالمي سره هلته قاعده دا ده چې عين کلمه به تابع کړي د فا کلمي. ۳ : او يا به دا د يو خاص قوم لغت به يي لکه هذيل قبيله په جوزة او بيضة کې جَوزات او بَيضات وائي بفتح العين و غيرهم بسکون العين.

## جمع التكسير

هر کله چې فارغ شو ناظم د بيان د کيفيت او طريقه د بنا د تثنيه او د جمع مذکر سالم او مؤنث د اسم منقوص او د اسم مقصور نه او ممدوده، اوس بيانوي اوزان د جمع تکسير او جمع تکسير هغه جمع ته وائي چې د هغې مفرد وران شوي وي په وخت د جوړولو د جمع کې لپاره حصول د جمعيت اوس دا تغير د مفرد عام دي لفظًا وي او که تقديراً وي او تغير لفظي عام دي ذاتًا وي او که صفةً وي او تغير ذاتي بيا عام دي چې په زيادت سره وي او که کموالي سره وي.

او جمع تصحيح هغې ته وائي چې بنا د مفرد د دي روغ پاتې شوي وي په دي شان سره تغير داخلي نه وي راغلي لپاره حصول د جمعيت لکن دا جمع تکسير چې راځي دا دوه قسمه راځي:

۱ ځينې جمع قلة راځي چې د هغې اطلاق کيږي دريو نه تر لسو پورې ۲: او ځنې جمع کثرت راځي د هغې اطلاق کيږي د يوولسو نه تر اخير پورې، او څوک وائي جمع قلة ديته وائي چې د

هغې اطلاق کیږي دریو نه تر لسو پورې او جمع کثرت دیته وائي چې د هغې اطلاق کیږي دریو نه الی لانهایة پورې فرق د دوی په مینځ کې په اعتبار د انتهاء سره دي نه په اعتبار د ابتداء سره، او اوزان د جمع قلة شپږ دي اوس هغه اوزان د جمع قلة بیانوي.

| | |
|---|---|
| ۷۹۱- أفعلة أفعل ثمّ فِعله | ثمَّت أفعال جموع قلة |

**ترکیب: افعلة** مبتداء **افعل** عطف بعاطف مقدر **جموع** خبر د مبتداء.

**ترجمه**: یو راځي په وزن د افعلة لکه ارغفة شو جمع د رغیف ده، او بل راځي افعل په وزن باندې لکه فلس شو چې جمع د فلس دي او بیا راځي په وزن د فعلة باندې لکه غلمة شو جمع د غلام ده او بیا راځي په وزن د افعال لکه: اقوال شو چې جمع د قول ده دا ټول جمع قلة دي چې دلالت کوي د دریو نه واخله تر لسو پورې.

**تشریح**: او ثمت کې دا ثم عطف لپاره دي دا تا راوړي شوي دي لپاره د دي چې دلالت وکړي په تانیث د صرف باندې، او مولانا عصام الدین د شرح جامي په حاشیه کې یوه قاعده بیان کړي ده چې تای تانیث ثم عاطفه پورې متصل کیږي کله چې دا ثم عطف د جمله علی الجمله لپاره راغلي ووکما في قول الشاعر:

لقد امر علی اللئیم یسبني فمضیتُ ثمه وقلت لا یعنيني

او که عطف د مفرد لپاره راغلی وو بیا نه متصلیږي او دلته ثم عطف د مفرد علی المفرد لپاره دی او تای تانیث متصل شوي دي د وجې د ضرورت شعري نه.

فرق په ما بین د جمع قلة او جمع کثرت کې وضعًا دي او په استعمال کې کله کله دا جمع قلة مستعملیږي په موضع د جمع کثرت کې او کله کله دا جمع کثرت مستعملیږي په موضع د جمع قلة کې.

| | |
|---|---|
| ۷۹۲- وبعض ذي بكثرةٍ وضعاً يفي | كأرجلٍ والعكس جاء كالصُفيّ |

**ترکیب : بعض** مبتداء مضاف الیه **ذي** مضاف الیه **بکثرة** متعلق بیفي **وضعًا** تمیز یا منصوب بنزع الخافض یعني جمله خبر **کارجل** خبر د مبتداء محذوف **العکسُ** مبتداء **جاء** جمله خبر **کالصُفي** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**: او بعضې د دي جمع قلة نه په ځای د جمع کثرت باندې وفا کوي په اعتبار د وضع د واضع سره مثال لکه ارجُل شو دا جمع کثرت لپاره هم راځي ځکه د دي جمع کثرت ندي مستعمل په استعمال د کلام د عربو کې او عکس د دي هم راغلي دي چې جمع کثرت به یي په ځای د جمع قلة باندې راغلي وي مثال لکه: صُفي شو چې جمع د صفاة دي او صفاة خویه ګټې ته وائي، او صُفي اصل کې صُفُوي وو بر وزن فعول په شان د حُلي بیا واو بدل شو "ي" سره او

يا په يا کې مدغمه کړه او ما قبل ضمه کسره سره بدل کړه از برای مناسبت یا، و يا که لازم نیاید خروج ضمه تحقیقي بسوی کسره تقدیری صفي جوړ شو، اوس دا جمع کثرت په موضع د جمع قلة کې هم مستعمليږي ځکه د دې جمع قلة نشته دي مونږ به خامخا مستعمله وو په جمع قلة باندې، دا جمع کثرت مستعمل شوي ده په قلت کې استعمالاً لا وضعاً ځکه د دې جمع قلة راغلي ده اصفاء، مثال د جمع کثرت چې مستعمليږي په مقام د جمع قلة کې وضعاً لکه رجال او قلوب شو ځکه د دې جمع قلة نه ده راغلي وضعاً لهذا عکس د ارجل رجال او قلوب دې نه صفي.

اوس جمع قلة او د جمع کثرت په تعريف کې دوه مذهبه وو. ۱ : ځني خلك وائي دا دواړه مختلف دي په ابتدا او انتهاء دواړو کې. ۲ : او ځني خلق وائي په ابتدا کې متفق دي صرف په انتهاء کې خلاف دي چې جمع قلة تر لسو پورې دلالت کوي د هغې نه هغه خوا دلالت نه کوي او جمع کثرت دلالت کوي الى النهاية پورې، بنا په مذهب اول باندې جمع قلة دلالت کوي په جمع کثرت باندې نيابةً او مجازاً او جمع کثرت دلالت کوي په جمع قلة باندې نيابةً مجازاً او بنا په مذهب ثاني باندې جمع قلة دلالت کوي په موضع د جمع کثرت باندې نيابة او مجازا او جمع کثرت دلالت کوي په مقام د جمع قلة باندې حقيقةً نه نيابةً او مجازاً ځکه دا د دې خپل مقام دې، جمع بر وزن افعل به په کوم مفرد کې جوړيږي دارنګه فعلة الخ د دې تعين پکار دي دا وائي.

| | |
|---|---|
| ۷۹۳- لفعلٍ اسماً صحّ عيناً أفعل | وللرباعيّ اسماً أيضا يُجعل |

**ترکيب**: **لفعل** خبر مقدم **اسما** موصوف حال از فعل **صح** جمله صفت **عينًا** تميز **افعل** مبتداء مؤخر و **للرباعي** متعلق بيجعل مفعول ثاني **اسمًا** حال از رباعي **يُجعل** ضمير مستتر هو راجع الى مفعول اول چې هغه افعل دي.

**ترجمه**: جمع قلة په وزن د افعل باندې ثابت ده لپاره د هغه اسم مفرد چې هغه په وزن د فعل باندې وي. ۱ : په حال کون د دې فعل کې چې اسم جامد وي. ۲ : داسې اسم جامد چې صحيح العين وي په دې سره احتراز وکړو د معتل العين نه لکه قول شو، او جمع قلة په وزن د افعل باندې ګرځولی شي لپاره د هغه اسم چې هغه څلور حرفيز وي په حال کون د دې رباعي کې چې دا اسم جامد وو.

| | |
|---|---|
| ۷۹٤- إن كان كالعناق والذراع في | مدٍّ وتأنيثٍ وعدِّ الأحرف |

**ترکيب**: **کان** ضمير مستتر راجع الى الرباعي اسم د کان **العناق** خبر د کان **في** متعلق بکان **تانيث** دا دواړه عطف دي په مد باندې.

**ترجمه**: په دې شرط سره کچيرې وو دغه اسم جامد رباعي په شان د عَناق او زراع باندې. ۱ : په مده کې. ۲ : او په تانيث کې. ۳ : او په شمير د حروفو کې.

**تشريح**: اوزان د جمع قلة شپږ دي يو د هغوی نه راځي دَ افعل په وزن باندې اوس افعل په وزن باندې جمع راځي د دوه اسمونو نه. ۱ : اسم جامد صحيح العين بر وزن فَعل جمع راځي افعل په وزن باندې لکه د نفس جمع انفس راځي، او د فلس جمع افلس راځي او د وجهٌ جمع اوجُه راځي، او د دلو جمع ادلٍ راځي، اصل کې ادلوٌ وو بر وزن افعُل اسم جامد سره احتراز وکړو د صفت نه لکه: صَعب شو د هغې جمع داسې نه راځي او صحيح العين سره ئې احتراز وکړو د معتل العين نه لکه قولك شو چې د دې جمع اقول نه راځي بلکه اقوال او اقولة راځي، او هر چې اعين جمع د عين او دورِ جمع د دار شاذ دي خلاف القياس راغلي دي. ۲ : افعل په وزن باندې جمع راځي د اسم رباعي مؤنث چې ما قبل اخير د هغې مده راغلي وي مثال لکه: ذراع شو جمع د دې اعنُق راځي او هر چې دي اغرب جمع د غراب چې هغه مذکر دي شاذ دي خلاف القياس راغلي دي.

| | |
|---|---|
| ۷۹۵- وغير ما أفعل فيه مطّرد | من الثلاثي اسماً بأفعالٍ يرد |

**ترکيب**: **غير** مبتداء **ما** موصوله **افعل** مبتداء **فيه** متعلق بمطرد **مطرد** خبر **من الثلاثي** حال از ضمير مستتر في المطرد **اسما** حال از من الثلاثي **بافعال** متعلق بيرد **يرد** جمله خبر.

**ترجمه**: او هغه اسم جامد چې غير وي د هغه اسم جامد نه چې افعل وزن په هغه کې قياسي جوړ شوی دی د ثلاثي نه په حال کون د دې ثلاثي کې چې اسم جامد دې د جمع قلة د دې غير راځي په افعال وزن باندې په غالب اوقاتو کې مثال لکه: د کبد جمع اکباد راغلي ده او د جمل جمع اجمال راغلي ده او د عضد جمع اعضاد راغلي ده، او د عنب جمع اعناب راغلي ده، او د ابل جمع آبال راغلي ده، اصل اابال وو بر وزن افعال بيا همزه ثاني الف سره بدل شوي ده وجوبًا په قاعده د آمن باندې نو آبال ترې نه جوړ شوي دی او د ثوب جمع اثواب راغلي ده، او د بيت جمع ابيات راغلي ده، او د صعب جمع اصعاب راغلي ده، دا دَ صفت مشبه صيغي دي دَ فَعل په وزن باندې او دا ټول غير ما ذکر دي.

| | |
|---|---|
| ۷۹۶- وغالباً أغناهم فعلان | في فعلٍ كقولهم صردان |

**ترکيب** : **غالبًا** منصوب بنزع الخافض **فعلان** فاعل **في** متعلق باغناهم **كقولهم** خبر د مبتداء محذوف **صردان** خبر د مبتداء محذوف اي هذه صِردان.

**ترجمه**: او بې پرواه کوي عربو لره هغه وزن د جمع تکسير چې فعلان په وزن باندې دې په هغه

اسم کې چې هغه فُعَل په وزن باندې دي مثال لکه دا قول د دوی شو: صِردان دا جمع د صُرد ده او صرد بر وزن فُعل دي جمع د دي راغلي ده صِردان فِعلان په وزن باندې.

**تشريح**: يعنی غير ما ذکر جمع غالبًا راځي افعال په وزن باندې ماسوا د اسم بر وزن فُعَل نه دا د هغې نه مستثنی دي ځکه د دي جمع راځي فِعلان په وزن باندې لکه د صُرد جمع راځي صِردان او صرد دا هغه مارغه دي چې اول دي روژه نيولي ده د خدایٔ رضا لپاره، او هر چې ارطاب جمع د رُطب دا شاذ دي خلاف القياس راغلي دي.

| ۷۹۷- في اسمٍ مذكّرٍ رباعيٍّ بمد | ثالث افعلة عنهم اطّرد |
| --- | --- |

**ترکيب**: **في** متعلق باطرد **اسم** موصوف **مذكر** صفت اول **رباعي** صفت ثاني المراد من الرباعي اللغوي **بمد** صفت ثالث په اعتبار د متعلق محذوف سره **افعلة** مبتداء **عنهم** متعلق باطرد **اطرد** جمله خبر.

**ترجمه**: جمع قلة په وزن د افعلة باندې دا ډير زيات واقع کېدونکې ده د عربو نه په اسم جامد کې داسې اسم جامد چې هغه به مذکر وي او داسې اسم جامد چې هغه به رباعي وي او داسې اسم جامد چې دريم خای کې به مده وي.

**تشريح**: يعنی افعلة وزن باندې جمع قلة راځي قياسًا او اطرادًا اسم جامد رباعي مذکر چې دريم خای کې ئې مده راغلي وي مثال لکه: طعام شو جمع د دي راځي اطعمة او د حمار جمع راځي أحْمرة، او د غلام جمع راځي أغلمة او د رغيف جمع راځي ارغفة او د عمود جمع راځي اعمدة او د نصاب او د نصيب جمع راځي انصبة او د زمام جمع راځي اَزِمة اصل ازممة وو اجتماع د حرفينو متجانسينو راغله اول په دويم کې ادغام وشو، ازمة جوړ شو دارنګه د امام جمع راځي ائمة کان في الاصل أامِمة بر وزن افعِلة بيا اجتماع د حرفينو متجانسينو د وجې نه حرکت د ميم ئې نقل کړو همزې له ئې ورکړو ميم ئې په ميم کې ادغام کړو ائمة ترې نه جوړ شو. او اعزة جمع د عزيز او اذلة جمع د ذليل او اشحة جمع د شحيح صفت مشبه په دي وزن باندې راغلي دي خلاف القياس ځکه جمع په دي وزن باندې قياسًا په اسم جامد کې راځي.

| ۷۹۸- والزمه في فعالٍ أو فِعال | مصاحبي تضعيف أو اعلال |
| --- | --- |

**ترکيب**: **الزمه** اي وزن افعلة **فعال** متعلق بالزم **مصاحبي** حال از فعال و فِعال.

**ترجمه**: او دغسې لازم کوه ته دغه جمع قلة لره چې په وزن د افعِلة باندې دي په هغه مفرد کې چې هغه په وزن د فَعال باندې وي، يا فِعال په وزن باندې وي په حال کون د دغه فَعال او فِعال کې چې دا ملګري شوي وي په تضعيف سره يا دوی ملګري شوي وي لام کلمه حرف علت سره

مثال د تضعيف لکه بنان جمع د اِبنة راځي او زمام جمع د ازِمة راځي او مثال د معتل اللام لکه قِباء جمع د اَقبية راځي او فِناء جمع د افنية راځي.

| | |
|---|---|
| ۷۹۹- فعل لنحو أحمرٍ وحمرا | وفعلة جمعاً بنقلٍ يُدرى |

**ترکیب:** فُعل مبتداء لنحو خبر و حمرا مقصور للضرورة فعلة مبتداء جمعًا مفعول ثاني مقدم بنقل متعلق بيُدرى يدرى جمله خبر.

**ترجمه:** جمع کثرت په وزن د فعل باندې دا ثابت ده لپاره مثل د احمر او حمراء، یعنی د هغه صفت مشبه چې مذکر د هغې افعل په وزن باندې راځي او د هغې مؤنث فعلاء په وزن باندې راځي بيا برابره خبره ده چې أحمر او حمراء وي او كه بل وي لكه: اعورُ عوراء او ابيضُ بيضاء شو، نو د احمر مذکر او د حمراء مؤنث دواړو جمع راځي حُمْر، او جمع قلة په وزن فِعلة باندې دا په کوم کوم مفرد کې راځي هغې ته گوته نه نيسم ځکه جمع په وزن د فعلة د جموع قلتو نه دا معلوملي شي په نقل سره د عربو نه یعنی جمع قلة فعلة په وزن باندې قیاسًا نه راځي بلکه دا سماعًا راځي او نو اوزان د جمع قلة قیاسي دي مثال د جمع قلة بر وزن فعلة لكه: شِيخة جمع د شيخ راغلي ده، او فتية جمع د فتی راغلي ده، او غِلمة جمع د غلام راغلي ده، او د صبي جمع صِبية راغلي ده او د خصي جمع خصية راغلي ده، دا سماعي دي و لایقاس علیه غیره.

| | |
|---|---|
| ۸۰۰- وفعل لاسمٍ رباعيٍّ بمد | قد زيدَ قبل لامٍ اعلالاً فقد |

**ترکیب:** فُعُل مبتداء لاسم خبر، موصوف رباعي صفت اول مد صفت ثاني قد زيد جمله صفت لام موصوف اعلالا مفعول به مقدم فقد جمله صفت.

**ترجمه:** او جمع تکثیر په وزن د فُعُل باندې په ضمې د فا او د عین کلمې سره دا ثابت دي لپاره د هغه اسم جامد چې رباعي وي او په مد سره وي، اوس دا مد به په کوم ځای کې وي؟ دا وائي دا مد زیاتي کړی شوی دی مخکې د لام کلمې نه داسې لام کلمه چې ورك کړي يې وي اعلال له يعنی مده به راغلي وي په دریم ځای کې او لام کلمه به حرف علت نه وي بلکه حرف صحیح به وي مثال لکه حمارٌ جمع د دي حُمُر راځي في قوله تعالی: ﴿كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُسْتَنفِرَةٌ﴾ بل مثال لکه کتاب او سرير شو جمع يې راځي كتُب سُرُر، او د نذير جمع نُذُر او خَشِن جمع خُشُن او صحيفة جمع صُحُف او صبور جمع صبر راغلي ده خلاف القياس یعنی دا شاذ دي ځکه دا اوصاف دي.

| | |
|---|---|
| ۸۰۱- ما لم يضاعف في الأعمّ ذو الألف | وفعل لفعلةٍ جمعاً عُرِف |

**ترکیب:** ما مصدریه ظرفیه ما بعد په تاویل د مصدر سره مصدر دي الالف نائب فاعل فُعل مبتداء

لفعلة متعلق بجمعًا جمعًا حال از ضمير عرف عُرف جمله خبر.

ترجمه: په وخت د عدم كون د ذو الالف كې مضاعف په اغلب استعمال د كلام د عربو كې، يعنى دريم ځاى كې چې مده راغلې ده دا به خالي نوي يا به "واو" وي يا به يا وي يا به الف وي، او كه دا مده واو يا يا وو بيا د دي جمع راځي فُعُل په وزن باندې مطلقًا او كه دا مده الف وو بيا جمع د دي فُعُل په وزن باندې په دي شرط سره چې دا مضاعف نه وو، او جمع په وزن د فُعَل باندې لپاره د هغه مفرد چې هغه په وزن د فُعلة دي دا پيژندل شوي دي په حال كون د فُعل كې چې دا جمع وي مثال لكه: غرفة مفرد دي د دي جمع غرف راځي، او برقة مفرد ده د دي جمع بُرَق راځي او د حُجة جمع حُجج راځي، اما نُوب جمع د نُوبَة او قرى جمع د قرية شاذ دي دا خلاف القياس راغلي دي.

| | |
|---|---|
| ۸۰۲- ونحو كبرى ولفعلةٍ فعل | وقد يجئ جمعه على فعل |

تركيب: نحو عطف على فعلة السابق و لفعلة خبر مقدم فِعَل مبتداء مؤخر جمعُه فاعل على فُعَل متعلق بيجئ.

ترجمه: او داسې راځي جمع فُعَل په وزن باندې په مثل د كبرى مفرد لكه د نصرى جمع نُصَر راځي او د صُغَرى جمع صُغَر راځي، او مفرد په وزن د فعلة باندې وي د هغې جمع به راځي په وزن د فعل باندې او كله كله راځي جمع د فِعلة مفرد په وزن د فُعل باندې.

تشريح: جمع تكثير فعل په وزن باندې راځي د هغه اسم مفرد چې فِعلة په وزن باندې دي لكه: قطع جمع د قِطعة راغلي ده، او حِلى راغلي جمع د حِلية او كله كله جمع مفرد بر وزن فِعلة راځي فُعَل په وزن باندې لكه د لحية جمع لُحى لكه څنګه چې د لحية جمع لِحَى راغلي ده دارنګه لُحَى هم راغلې ده.

| | |
|---|---|
| ۸۰۳- في نحو رامٍ ذو اطّرادٍ فعله | وشاع نحو كاملٍ وكمله |

تركيب: في نحو متعلق باطرد ذو خبر مقدم فُعلة مبتداء مؤخر نحو فاعل.

ترجمه: صفت مفرد مذكر په وزن د فاعل باندې ناقص يائي په طريقې د قياس سره جمع د دي راځي په وزن د فُعَلة باندې مثال لكه هُداة شو چې دا جمع هادٍ ده اصل كې هَدَيَة وو، يا متحرك ما قبلش مفتوح يا الف سره بدل كړه هُداة جوړ شو، دارنګه قُضاة جمع د قاضٍ ده او دُعاة جمع د داعٍ ده او رُماة جمع د رامٍ ده او نُحاة جمع د ناحٍ ده، او وُشاة جمع د واشٍ ده، او كثير شائع دي جمع فعلة په وزن باندې په هغه مفرد عاقل بر وزن فاعل صحيح اللام كې مثال لكه: كمَلة جمع راغلي ده د كامل او سَحَرة جمع راغلي ده د ساحر، او سفَرة جمع راغلي ده د

سافر، او بررة جمع راغلي ده د بار.

| | |
|---|---|
| ۸۰٤- فعلى لوصفٍ كقتيلٍ وزمن | وهالكٍ وميّت به قمن |

**ترکیب:** **فعلى** مبتداء **لوصف** خبر **كقتيل** خبر د مبتداء محذوف اي و ذلك **زمن** عطف على قتيل **ميت** مبتداء **به** متعلق قمن پورې **قمن** خبر.

**ترجمه:** او جمع په وزن د فَعلى باندې په فتحې د فا او سکون د عين او الف مقصوره سره دا راځي لپاره د هغه مفرد صفت چې په وزن د فعيل باندې وي، يا په وزن د فَعِل باندې وي، يا فاعل په وزن باندې وي، مثال لکه: قتيل شو جمع د دې راځي قتلیٰ بر وزن فعلیٰ او د مريض جمع راځي مرضیٰ او د شتيت جمع راځي شتّی، او د زمن جمع راغلي ده زَمنیٰ د ډيرې مودې بيمار ته ويلې شي، او د هالك جمع راغلي ده هلكیٰ، او جمع د اسم صفتي په وزن د فَيعل باندې لائق ده په دې وزن سره مثال لکه: ميت شو، دا اسم صفتي دې فَيعل په وزن باندې ځکه دا اصل کې ميوت وو، واو "ي" شو او "ي" په "ي" کې مدغم شوه ميت ترينه جوړ شو، اوس د دې جمع موتیٰ راځي او اموات جمع د مَيت بالتخفيف ده، دارنګه د احمق جمع راځي حمقیٰ او د سکران جمع راځي سکرَی کما في قوله تعالى وترى الناس سكارى وما هم بسكارى على قراءة حمزة.

| | |
|---|---|
| ۸۰۵- لفعلٍ اسماً صحّ لاماً فعله | والوضع في فعلٍ وفعلٍ قلله |

**ترکیب:** **لفعل** خبر مقدم **اسما** حال از فعل، موصوف **صح** جمله صفت **لاما** تميز **فعله** مبتداء مؤخر و **الوضع** مبتداء **فعل** متعلق قلّلة پورې **قلله** مفعول به جمله خبر.

**ترجمه:** جمع فِعَلة په وزن باندې ثابت ده لپاره د هغه مفرد چې هغه فُعل په وزن باندې وي او اسم جامد چې صحيح اللام وي مثال لکه: دِرَجَة جمع د دُرج مغزل راغلي دي، او وضع د عربو په هغه مفرد کې چې په وزن د فَعل باندې وي او په هغه مفرد کې چې هغه فعل په وزن باندې دي کموي دغه جمع بر وزن فِعلة لره مثال لکه: عِرَدَة جمع د غَرْد راغلي ده، او قِردَة جمع راغلي ده د قرد بر وزن فعلٍ.

| | |
|---|---|
| ۸۰٦- وفُعّل لفاعلٍ وفاعله | وصفين نحو عاذلٍ وعاذله |

**ترکیب:** **فعّل** مبتداء **لفاعل** خبر **وصفين** حال از متعاطفين **نحو** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه:** او جمع په وزن د فُعّل باندې دا راځي لپاره د هغه مفرد صفتي چې هغه فاعل او فاعلة په وزن باندې دي په حال کون د فاعل او فاعلة کې چې دا دواړه صفتونه وي مثال د دې لکه عاذل او عاذلة شو جمع د دې دواړو راځي عُذّل بل مثال لکه: راکع جمع رکّع راځي.

| | |
|---|---|
| ۸۰۷- ومثله الفعّال فيما ذكّرا | وذان في المعتلِ لاماً تدرا |

**ترکیب: مثله** خبر مقدم **الفعال** مبتداء مؤخر **فیما** متعلق بمثل لما فیه من المماثلة **ما** موصوله **ذکرا** جمله صله **ذان** مبتداء **المعتل** متعلق بندر **لاما** تمیز **ندرا** جمله خبر.

**ترجمه:** او په مثل د وزن د فعل باندې فُعال وزن جمع دي په هغه شرطونو کې چې هغه ذکر شوي دي مثال لکه: قراء او تجار شو په قارئ او تاجر کې، او دا دواړه په معتل اللام کې کم کم دي مثال: لکه غُزاء او غُزی شو په غازٍ کې.

| | |
|---|---|
| ۸۰۸- فعل وفعلة فِعال لهما | وقلَّ فيما عينه اليا منهما |

**ترکیب: فعل** مبتداء اول **فِعال** مبتداء ثاني **لهما** خبر د مبتداء ثاني **قل** ضمیر مستتر راجع الی فعال هغه فاعل **فیما** ما موصوله **عینه** مبتداء **الیا** خبر بیا جمله صله **منهما** حال از صله.

**ترجمه:** اسم یا صفت مفرد د فَعلة وزن باندې راشي جمع فعال وزن باندې ثابت ده د دي دواړو لپاره، او دا جمع په وزن د فعال باندې کمه ده په هغه فَعْل او فعلة مفرد کې چې عین کلمه لپاره، او دا جمع په وزن د فعال باندې کمه ده په هغه فَعْل او فعلة مفرد کې چې عین کلمه "ي" وي، د دي دواړو نه مثال د اسم بر وزن فَعْل او فعلة چې عین کلمه د هغې "ي" نده او جمع راغلي ده فعال په وزن باندې لکه: کعاب او قِصاع او جِنان شو چې دا جمع د کعب او قصعة او جَنة ده، او مثال د صفت لکه: صَعب او صَعْبَة شو چې جمع د دي صِعاب راځي، او مثال د فَعل او فعْلَة معتل العین لکه ثوب او ضیف او ضیعة شو چې جمع د دي ثیاب او ضیاف او ضیاع راځي او دا قلیل دي په اجوف یائي کې د دي وجې نه په صرف کې وائي: اما بیاع جمع بائع نمي آید زیرا که جمع بر وزن فِعال الاجوف یای نمی آید ، اما ضیاف جمع ضیف شاذ است، و الشاذُ کالمعدوم و المعدوم لیسَ بشيءٍ.

| | |
|---|---|
| ۸۰۹- وفعل أيضاً له فعال | ما لم يكن في لامه اعتلال |

**ترکیب: فَعَل** مبتداء ول **له** خبر مقدم **فعالُ** مبتداء ثاني **ما** ظرفیه مصدریه **في لامه** خبر د یکن **اعتلال** اسم د یکن.

**ترجمه:** او مفرد چې فَعَل وزن باندې وي په فتحي د فا او د عین سره د هغې جمع هم راځي په وزن د فعال باندې په وخت د عدم کون د لام کلمه د دي کې حرف علت.

| | |
|---|---|
| ۸۱۰- أو يك مضعفاً ومثل فعل | ذو التا وفعل مع فعلٍ فاقبل |

**ترکیب: اویک** عطف علی یکن ضمیر مستتر راجع الی اسم یکن **مضعفا** خبر د یکن **فعل** خبر مقدم **ذو** مبتداء مؤخر **مع** حال از فعل.

**ترجمه:** یا په وخت د عدم کون د دغه فَعل کې مضاعف او مثل د دغه فعل باندې چې خالي دي

د تا نه ذو التاء دي او فَعْل مفرد په حال کون د دي کې چې مقارن واخلي فُعْل مفرد سره په دي دواړو کې هم ته قبول وګرځوه جمع په وزن د فِعَال باندې.

**تشريح:** لکه څنګه چې فِعال وزن باندې جمع راځي د فعل او د فعلة مفرد دارنګه دا جمع راځي د فَعَل او فعلة مفرد هم په دي شرط سره چې دا دواړه معتل اللام نوي او مضاعف نوي مثال لکه: جَمَل شو جمع د دي جمال راځي او جبَل شو جمع د دي جبال راځي د فعل او فُعل مفرد مثال: د فِعل لك ذئب او بئر شو جمع د دي راځي بئار او ذئاب، او مثال د فُعل لكه: رُمح او دُهن شو جمع د دي راځي رِماح او دِهان، واما في قوله تعالى : ﴿فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ﴾ دا اسم مفرد دي په معنى د سري څرمن سره دا جمع نده او يو دِهان جمع د دُهن ده په معنى د تيلو سره هغه جمع ده.

| | |
|---|---|
| ۸۱۱- وفي فعيلٍ وصف فاعلٍ ورد | كذاك في أنثاه أيضا اطّرد |

**ترکيب:** في فعيل متعلق وصفَ حال از فعيل كذاك متعلق باطرد في انثاه متعلق باطرد اطرد ضمير مستتر هو راجع دي فعال ته هغه فاعل.

**ترجمه:** او په هغه اسم کې چې هغه د فعيل صحيح اللام وي او دا فعيل وزن باندې اسم وصف د فاعل وي يعنى صفت مشبه وي نه اسم جامد وارد شوي دي د غه فعيل مفرد مذكر کې جمع په وزن د فِعال باندې مثال لكه: كريم او شريف شو چې جمع د دي كرام او شراف راځي، او مطرد دي او قياسي دي دا جمع فعال په وزن باندې په شان د دي فعيل مذكر باندې په مؤنث د دي کې مثال لكه: كريمة او شريفة شو جمع د دوى راځي كرام او شِراف، او غني او ولِي، دارنګه مؤنث د دوى جمع فعال په وزن باندې نه راځي څکه هلته فعيل سره مونږ صحيح اللام قيد ولګوو.

| | |
|---|---|
| ۸۱۲- وشاع في وصفٍ على فعلانا | أو انثييه أو على فعلانا |

**ترکيب:** شاع ضمير مستتر هو راجع الى فِعال وصف موصوف على صفت او انثيه معطوف على فعلان اوعلى معطوف على قوله على فعلان.

**ترجمه:** او شائع كثير دي دا جمع فعال په وزن باندې په هغه صفت کې چې هغه فعلان په وزن باندې دي او مؤنث د هغې فَعلانة په وزن باندې دي مثال لكه: ندمان او ندمانة شو جمع د دي ندام راځي، دغسې دا جمع كثير شائع ده په هغه وصف کې چې هغه فُعلان وزن باندې وي مثال لكه: خُمصان شو جمع د دي راځي خِماص.

| | |
|---|---|
| ۸۱۳- ومثله فعلانة والزمه في | نحو طويلٍ وطويلةٍ تفي |

**ترکيب:** مثله خبر مقدم فعلانة مبتداء مؤخر الزمه متعلق بالزم تفي مضارع مجزوم ده بحذف الياء

خکه دا په جواب د امر کې راغلي ده او دا کوم یا چې په دي کې راغلي ده دا هغه لام کلمه نده بلکه دا یا اشباعي ده.

**ترجمه:** او په مثل د فُعلان مذکر باندې فُعلانة مؤنث دي مثال لکه: خُمصان شو، جمع د دې راځي خِماص او لازم کوه ته دغه جمع لره په هغه صفت مشبه کې چې هغه په مثل د طويل مذکر او په مثل د طويلة مؤنث باندې وي، او که ته لازم کړي دي جمع لره په مثل د طويل او طويلة کې ته به وفا وکړې او پوره والي به وکړي حق لره، او د دوی نه علاوه نو اسماء مفرده فعال وزن باندې جمع راغلي وي هغه به شاذ وي.

| | |
|---|---|
| ۸۱۴- وبفعولٍ فعِل نحو كبد | يُخصُّ غالباً كذاك يطّرد |

**ترکیب:** **بفعول** متعلق بيخص **فعِل** مبتداء **نحو** خبر د مبتداء محذوف **يخص** جمله خبر **غالبًا** حال از ضمير مستتر في يخص **كذاك** متعلق بيطرد.

**ترجمه:** او مفرد چې فَعِل په وزن باندې وي دا به جمع کولي شي جمع په وزن د فَعِل فُعول باندې او دا جمع مختص ده په فعول وزن پورې په غالب استعمال د کلام د عربو کې مثال د دې لکه: كَبِد شو چې دا مفرد دي بر وزن فَعِل جمع د دې راځي كبود، دارنګه نَمِر شو جمع د دې نُمور راځي، او دغسې دا فعول وزن جمع مطرد ده.

| | |
|---|---|
| ۸۱۵- في فعلٍ اسماً مطلق الفا وفعل | له وللفُعال فعلان حصل |

**ترکیب:** **في فعل** متعلق بيطرد **اسمًا** حال از فعل **مطلق** حال **فعل** مبتداء **له** خبر **للفُعال** متعلق بحصل **فعلان** مبتداء **حصل** جمله خبر.

**ترجمه:** په فَعْل مفرد کې چې اسم جامد وي خنګه اسم جامد وي په حال کون د دې فَعل مفرد کې چې مطلق الفا وي ما درته فتحه وويل لکن په دې پورې تخصيص نشته ته چيرته په دې پورې تخصيص ونکړې بلکه دا فَعل مثلث الفاء اوايه فَعل، فِعل، فُعل جمع به د دوی راځي فُعول په وزن باندې مثال لکه: قَلب و لَيث شو بر وزن فَعل جمع د دې قلوب او لُيوث راځي، او حِمل او فيل مفرد دي بر وزن فعل جمع د دې راځي حُمول او فُيول، و بُرد او جُند مفرد دي بر وزن فُعْل جمع د دې راځي جُنود او بُرود فُعول په وزن باندې.

لکن دې فعل مفرد کې دا خبره شرط ده چې دا به اجوف واوي نه وي خکه د اجوف واوي جمع په دې وزن باندې نه راځي خکه صرف مير کې وائي: اما قُوول جمع قائل نمي آيد زيرا که اجوف واوی بر وزن فُعول نمي آيد، اما فُووج جمع فوج و سووق جمع سوق فهما نادران و النادرُ كالمعدوم و المعدوم ليسَ بشيٍ.

و فَعَل او جمع په وزن د فُعول حاصل شوي ده لپاره د هغه مفرد چې هغه فَعَل په وزن باندې وي مثال لکه: أسَد او ذكر او شَجَن شو جمع د دي راځي أُسود، او ذُكور، او شُجون او د دي شجن جمع قلة أشجان راځي، او جمع په وزن د فعلان باندې حاصل شوي ده لپاره د هغه مفرد چې هغه فُعال په وزن باندې وي مثال لکه: غراب او غلام شو جمع د دي راځي غربان او غلمان.

| | |
|---|---|
| ٨١٦- وشاع في حوتٍ وقاعٍ مع ما | ضاهاهما وقلَّ في غيرهما |

**تركيب:** **شاع** ضمير مستتر هو راجع الى فعلان هغه فاعل **ما** موصوله ضاهاهما جمله صله.

**ترجمه:** او شائع كثير دي دا جمع فِعلان په وزن باندې په حوت مفرد كې چې فا كلمه باندې ضمه وي او عين كلمه ساكنه وي او اجوف واوي وي، دارنګه شائع كثير دي په قاع مفرد كې چې فا كلمه كې فتحه وي او عين كلمه كې الف وي بدل دواو نه راغلي وي او دا جمع كثير د: په هغه مفرداتو كې چې هغه د دي دواړو سره مشابه وي مثال لكه: نون بمعنى حوت دا مشابه دي حوت سره وزنًا و معنًى او عُودٌ او نُورٌ او كوزٌ شو، دا مشابه دي حوت سره جمع د دي راځي نينان او عيدان او نيران او كيزان لكه څنګه چې د حوت جمع حيتان راځي او تاج او جار او نار شو چې دا مشابه دي قاع سره په دي ټولو كې الف بدل د واو نه راغلي دي جمع د دي تيجان او جيران او نيران او بيبان راځي لكه څنګه چې قاع جمع د قيعان راځي.

او يو نيران دي بالتشديد يا بالتخفيف هغه تثنيه د نَير ده جسم نوراني ته وائي او يو نِيران دي بر وزن فعلان دا جمع د نور ده يا د نار ده پخوا به خلكو ويل بيا به سوزي په نَيران دا غلط دي بلكه داسې ويل پكار دي بيا به سوزي په نِيران كې ځكه دا جمع د نار ده، او هغه تثنيه د نَير ده او نِير جسم نوراني ته وائي لكه نمر او سپوږمۍ شو په جسم نوراني سره څوك نه سوزي بلكه په اور سيزلي كيږي از چونكي بابا جي او جمع فِعلان په وزن باندې قليل ده يعنى لږ لږ راځي په هغه اسماء مفردو كې چې هغه غير د دي اوزانو مذكورو نه راځي لكه د صِنو جمع صِنوان راغلي ده، او صنو شبيه او مماثل ته وائي او د غَزال جمع غِزلان راغلي ده او د حائط جمع حِيطان راغلي ده او د ضَيف جمع ضيفان راغلي ده دا ټول شاذ دي.

| | |
|---|---|
| ٨١٧- وفعلاً اسماً وفعيلاً وفعل | غير معلِّ العين فعلان شمل |

**تركيب:** **فُعلان** مفعول به مقدم **اسمًا** حال از فعلاً **غيرَ** حال از فَعَل **فُعلان** مبتداء **شمل** جمله خبر.

**ترجمه:** او جمع فُعلان په وزن باندې شامل دي هغه مفرد لره چې هغه فَعَل په وزن باندې دي په حال كون د دي كې چې اسم جامد واخلي او دارنګه شامل دي مفرد بر وزن فعيل باندې او شامل دي هغه مفرد لره چې هغه فَعَل په وزن باندې دي په دي شرط سره چې دا مفرد بر وزن

فَعَل معتل العين نوي مثال د دي لكه: قضيب او ذكر او ركب شو چې جمع د دوى قُضبان او ذُكران او رُكبان راځي، او جمع فُعلان په وزن باندې غير د دي امور ثلاثه ؤ نه راغلي وي هغه به شاذ وي مثال لکه: وُحدان جمع د واحد ده او جُدران جمع د جدار ده.

| | |
|---|---|
| ٨١٨- ولكريمٍ وبخيلٍ فعلا | كذا لما ضاهاهما قد جُعِلا |

**تركيب**: **لكريم** خبر مقدم **فعلا** مبتداء مؤخر مقصور للضرورة **لما** ما: موصوله، مفعول ثاني د جعل، جار مجرور متعلق دي جعل پورې **ضاهاهما** جمله صله د موصول **جُعلا** ضمير مستتر هو راجع فعلاء ته هغه نائب فاعل مفعول اول.

**ترجمه**: او جمع فُعَلاء په وزن باندې دا ثابت ده لپاره د هغه مفرد چې هغه فعيل په وزن باندې دي صفت مذكر عاقل صحيح اللام غير مضاعف مثال لكه: كريم او بخيل شو د دي جمع راځي كرماء او بُخلاء بر وزن فعلاء، او داسې ګرځولي شوي دي دا جمع بر وزن فُعَلاء لپاره د هغه اسماء چې هغه مشابه دي د دي دواړو سره مثال لكه: عليم او شريك او جليس او ظريف او نديم شو چې جمع د دوى راځي علماء او شُركاء او جلساء او ظرفاء او ندماء بر وزن فُعَلاء، او كله كله راځي جمع په دي وزن باندې صفت مذكر عاقل بر وزن فاعل مثال لكه: صلحاء او جهلاء او شعراء شو دا جمع د صالح او د جاهل او د شاعر ده.

| | |
|---|---|
| ٨١٩- وناب عنه أفعلاء في المعلّ | لاماً ومُضعَفٍ وغير ذاك قل |

**تركيب**: **افعلاءُ** فاعل **لامًا** تميز **غيرُ** مبتداء **قل** خبر.

**ترجمه**: او قائم شوي دي او خليفه شوي دي د فُعلاء وزن د جمع نه جمع په وزن اَفعلاء باندې په هغه مفرد بر وزن فعيل معتل اللام كې او مضاعف كې مثال لكه: انبياء، اولياء، اصفياء، اشداءو اعزاء شو چې دا جمع د نبي او ولي او صفي او شديد او عزيز ده، او افعلاء وزن جمع غير د معتل اللام نه او مضاعف كې كم راځي مثال لكه د نصيب جمع انصباء راځي او د صديق جمع اصدقاء راغلي ده او دا نه مضاعف دي او نه معتل اللام دي.

| | |
|---|---|
| ٨٢٠- فواعل لفوعلٍ وفاعل | وفاعلاء مع نحو كاهل |

**تركيب**: **فواعل** مبتداء **لفوعل** خبر **مع** په اعتبار د متعلق سره حال واقع شوي دي مما قبله نه.

**ترجمه**: او جمع په وزن د فواعل باندې ثابت ده لپاره د هغه مفرد چې هغه په وزن د فوعل باندې او فاعل او فاعلاء په وزن باندې راځي په حال كون د دي كې چې دا مقرون دي مثل د كاهل سره په دي حكم كې مراد په كاهل سره هر هغه اسم جامد چې راغلي وي فاعل په وزن باندې د دي جمع راځي فواعل په وزن باندې مثال لكه: كواهل شو لكه څنګه چې فواعل په وزن باندې

راځي و فوعل او فاعل او د فاعلاء مفرد مثال لکه: کوثَر او قالَب او قاصعاء شو د دي جمع راځي کواثِرُ، قوالبُ، قواصِعُ فواعل په وزن باندې.

| | |
|---|---|
| ۸۲۱- وحائضٍ وصاهلٍ وفاعله | وشذّ في الفارس مع ما ماثله |

**ترکیب:** حائضٍ معطوف على كاهل شذ ضمير مستتر هو راجع الى فواعل مع حال ما موصوله ماثله ضمير مستتر هو راجع "ما" ته هغه فاعل مفعول به جمله صله.

**ترجمه:** او جمع په وزن د فواعل باندې راځي لپاره د هغه اسم چې هغه فاعل په وزن باندې دي او مختص دي په مؤنث پورې لکه: حائض شو او لپاره د هغه اسم مفرد بر وزن فاعل چې هغه صفت د مذکر لا يعقل دي لکه: صاهل شو، او دارنګه راځي لپاره د هغه اسم مفرد چې هغه فاعلة په وزن باندې دي مطلقًا برابره خبره ده چې دا صفت وي او که اسم جامد وي مثال لکه: حائض جمع حوائض راځي او طالق جمع طوالق راځي او ناهد جمع نواهد راځي، او دَ صاهل جمع صواهل راځي او دَ شاهق جمع شواهق راځي، او د فاطمة جمع فواطم راځي او د ناصرة او د ضاربة جمع نواصر او ضوارب راځي، او مفرد په وزن د فاعل باندې صفت د مذکر عاقل لکه: ضارب او عالم شو دا نه جمع کيږي په وزن د فواعل باندې.

**سوال** او که ته وائي نقض راغلي فارس سره چې دا صفت بر وزن فاعل دي او صفت د مذکر عاقل دي او جمع د دي راغلي ده فوارس فواعل په وزن باندې؟

**جواب** دا وائي و شذ الخ دا جمع په وزن د فواعل باندې په اسم مفرد بر وزن فاعل صفت د مذکر عاقل کې لکه: فارس شو سره د هغه اسماء نه چې هغه مشابه دي فارس سره په کېدو د دوی کې فاعل په وزن باندې صفت د مذکر عاقل مثال لکه: سابق او ناکس راغلي دي خلاف القياس، او دا شاذ دي.

| | |
|---|---|
| ۸۲۲- وبفعائل اجمعن فعاله | وشبهه ذا تاءٍ أو مزاله |

**ترکیب:** بفعائل متعلق باجمعن فعاله مفعول به ذا حال از فعاله وعطف على ذا تاء مُزاله مضاف مضاف اليه من اضافة اسم مفعول الى مفعوله.

**ترجمه:** او خامخا جمع کړه ته فعائل په وزن باندې هغه مفرد چې په وزن د فعالة باندې وي مطلق الفاء او مثلث الفاء يعنی په فتحي د فا سره وي او که په ضمي د فا سره وي او که په کسري د فا سره وي، مثال لکه: سحابة، رِسالة، ذوابة، پرانستي ويختو ته وائي، او که ترلي وي هغې ته عقيصه وائي جمع د دي عقائص راځي، او جمع د دي نورو راځي سحائب او رسائل او ذوائب، او داسې جمع کوه ته په دي وزن جمع سره هغه اسم چې هغه مشابه دي فعالة

سره په څلور حرفيز والي او په دريم ځای کې مده راغلي وي مثال لکه: حمولة او ذبيحة و غيره شو جمع د دي راځي حمائل او ذبائح په حال کون د دي فعالة کې چې دا خاوند تا وي او که دا "ت" لري کړي شوي وي مثال لکه: شِمال بفتح الفاء و كسرها او عُقاب او عَجوز شو دا بدون التاء دي او جمع د دي راځي شمائل او عقائب او عجائز فعائل په وزن باندې.

| صحراء والعذراء والقيس اتبعا | ۸۲۳- وبالفعالي والفعالى جُمِعا |
|---|---|

**ترکیب: بالفعالی** متعلق جمعا پورې **صحراء** نائب فاعل **والقيس** مفعول به مقدم **اتبعا** الالف منقلبة من نون التاكيد الخفيفة، يعنى خامخا ته تابع شه د قياس.

**ترجمه**: او جمع کړي شوي دي فعالِي او فعالى په وزن باندې مؤنث دا فعل اسمي چې فعلاء په وزن باندې راغلي دي مثال لکه صحراء شو، دارنګه مؤنث صفتي چې صحراء په وزن باندې راغلي يي او مذكر ورله نه وي لکه عذراء شو تابع كيږي پکې د قياس يعنى دا عذراء قياس دي په صحراء باندې د صحراء جمع صحارِي او صحارَى راځي، او دارنګه د عذراء جمع عذارى او عذاري راځي لکه راغلي دي په دي قول د امرؤ القيس کې فظل العذارى يرتمين بلحمها. و شحمٍ كهداب الدمقسِ المفتلِّ په خلاف د حمراء نه چې مذكر د هغې احمر راغلي دي د دي جمع په دي وزن باندې راځي، دارنګه اسم. ۱ : فعلى وزن باندې راشي لکه: فَتوى بفتح الفاء و سكون التاء او معتل اللام. ۲ : فعيلة په وزن باندې راشي لکه هديّة شو.
۳ : او معتل اللام و العين فاعلة په وزن باندې راشي لکه زاويَة شو جمع د دوی راځي فعالى په وزن باندې لکه د فتوى جمع راځي فتاوىٰ او د هدية جمع هدايا او د زاوية جمع راځي زوايا، او اسم راشي. ٤ : فعلاة په وزن باندې لکه: موماة شو.
٥: يا فعنلى په وزن باندې جمع لکه: حَبَنطَى شو جمع د دي راځي فعالى په وزن باندې لکه د موماة جمع راځي موامي او د حنبطى جمع راځي حباطِي، او اهالي جمع د اهل او اراضِي جمع د ارض او ليالي جمع د ليل راغلي ده فعالي په وزن باندې خلاف القياس دا شاذ دي.

| جُدِّد كالكرسيّ تتبع العرب | ۸۲٤- واجعل فعاليَّ لغير ذي نسب |
|---|---|

**ترکیب: فعالي** مفعول اول **لغير** مفعول ثاني **نسب** موصوف **جدد** جمله صفت **كالكرسي** خبر د مبتداء محذوف **العرب** مفعول به د تتبع لپاره او دا مجزوم دي ځکه جواب د امر واقع شوي دي.

**ترجمه**: او ګرځوه ته جمع د فعالِيّ په وزن باندې په "ي" مشدده سره لپاره د هغه اسم مفرد چې هغه غير دي د هغه اسم نه چې هغه خاوند د نسب دي يعنى هغه "ي" مشدده نه وي نسبت لپاره نه وي راوړي شوي لکه: كوفة کې كوفيٌ شو، او که ته دا کار وکړي تابعداري به وکړي ته

استعمال د كلام د عربو مثال د فعالي لغير النسب لكه: كرسي شو، جمع د دي راځي كراسي، دارنګه زَربيٌ جمع راځي زرابي او قمري جمع راځي قماري، او د انسي جمع راځي اناسي، دارنګه الف ممدوده زائد لپاره د الحاق راغلي وي د هغې جمع راځي فعاليّ په وزن باندې مثال لكه: علباء حرباء شو جمع د دي راځي علابيّ حرابيّ.

| ۸۲۵- وبفعالل وشبهه انطقا | في جمع ما فوق الثلاثة ارتقى |
|---|---|

ترکیب: **بفعالل** متعلق بانطق **انطقا** الالف بدل من النون **في جمع** متعلق بانطق **ما** موصوله **فوق الثلاثة** متعلق بارتقى **ارتقى** جمله صله.

**ترجمه:** او خامخا تلفظ كوه ته په هغه صيغه د منتهى الجموع سره چې هغه په وزن د فعائل سره دي د الف د صيغه د منتهى الجموع نه وروسته دوه حرف صحيح اولهما مكسور راغلي وي، يا په هغه صيغه د منتهى الجموع سره تلفظ كوه چې هغه په شان د فعالل صيغه د منتهى الجموع باندې راغلي وي لكه افاعل او مفاعل او فواعل او فعائل شو په جمع د هغه اسم مفرد كې چې اوچت شوي وي حروف د هغې دپاسه د درې حروفو نه.

| ۸۲٦- من غير ما مضى ومن خماسي | جُرِّد الآخر انف ـ بالقياس |
|---|---|

ترکیب: **غير** حال از ما موصوله **من** متعلق بانف **خماسي** موصوف **جُرد** ضمير مستتر هو راجع الى الخماسي نائب فاعل جمله صفت **انف** صيغه د امر **بالقياس** متعلق بانف.

**ترجمه:** لكه دغه حروف چې دريو نه اوچت شوي دي دا به غير وي د هغه اسماء مفردو نه چې مخكې تير شوي دي لكه احمر او حمراء و غيره شو، او لرې كوه ته د خماسي نه په وخت د جمعيت كې وروستني حرف لره قياسًا او اطرادًا د هغه خماسي نه چې هغه مجرد خماسي وي مثال لكه: سفرجل كې سفارِجُ اووايه، خلاصه دا ده: چې په دي كې دوه مذهبه دي.

۱: جمهور وائي د دينه مونږ جمع نه شو راوړلي.

۲: او اخفش وائي زه روا كومه جمع د دي به راځي فعالل په وزن باندې بحذف الخامس.

| ۸۲۷- والرّابعُ الشبيه بالمزيد قد | يحذف دون ما به تمّ العدد |
|---|---|

ترکیب: **الرابع** مبتداء موصوف **الشبيه** صفت **قد** خبر **دون** متعلق بيحذف **ما** موصوله **به** متعلق بتم **العدد** فاعل جمله صله.

**ترجمه:** او څلورم حرف د دغه اسم خماسي داسې څلورم حرف چې مشابه دي مزيد سره كله كله حذف كولي شي او نشي حذف كولي هغه حرف چې په دغه حرف سره ختم شوي وي عدد د خماسي مثال لكه: خورنق شو څلورم حرف نون دي دا مشابه دي حرف زائد سره په كېدو د دي

کې د حروف زوائدو نه دغه نون حذف کولي خوارق سره جمع کوي.

| | |
|---|---|
| ٨٢٨- وزائد العادي الرباعي احذفه | ما لم يك ليناً إثره اللذ ختما |

**ترکیب:** **وزائد** ما اضمر عامله علی شريطة التفسير **الرباعي** مفعول به للعادي الساکن للضرورة **ما** مصدرية **اثره** خبر مقدم **اللذ** موصول مبتداء مؤخر **ختما** جمله صله.

**ترجمه:** او حذف کړه ته هغه حرف زائد لره د هغه اسم نه چې هغه اوړيدلي يي د څلور حرفيز نه يا به هغه رباعي مزيد وي يا به هغه خماسي مجرد وي يا به خماسي مزيد فيه وي دا حرف زائد به حذف کوي په وخت د نه کېدو کې دغه زائد لين چې وروسته د دي لين نه هغه حرف وي چې ختم کړي شوي دي په دي حرف سره دا کلمه مثال لکه: مدحرج کې به دحارج وائي په حذف د ميم سره او فدوکس به فداکس وائي بحذف الواو، او که ما قبل آخر لين وو دا نشي حذف کولي بلکه دا جمع کولي شي فعاليل په وزن باندې مثال لکه: قنديل کې به قناديل وائي او فرعون کې به فراعين وائي په ابدال د واو "ي" سره د وجې د کسري د ما قبل نه.

| | |
|---|---|
| ٨٢٩- والسّين والتا من كمستدعٍ أزل | إذ ببنا الجمعِ بقاهما مُخِلّ |

**ترکیب:** **السين** مفعول به مقدم **کمستدع** الکاف بمعنی مثل لدخول من عليها **اذ** تعليلي **ببنا** متعلق بمخل **بقاهما** مبتداء **مخل** خبر.

**ترجمه:** او لري کړه ته سين او "ت" د مثل د مستدع نه، ځکه په بقا او پاتې والي د دواړو سره نقصان راځي بنا د جمع ته نو مستدع کې به مداع وائي په حذف د سين او "ت" سره او دا ميم به باقي پاتې کوي ځکه دا علامه ده او د کلمي اول سر کې راغلي ده ځکه دا وائي.

| | |
|---|---|
| ٨٣٠- والميمُ أولى من سواهُ بالبقا | والهمز والياء مثله إن سبقا |

**ترکیب:** **الميم** مبتداء **اولی** اي واجب دا خبر **من سواه** متعلق باولی **بالبقا** متعلق باولی **الهمز** مبتداء **مثله** خبر **سبقا** جز محذوف ده دل عليه الکلام السابق.

**ترجمه:** او ميم د مستدع اولی دي په بقا د ده سره د نورو حروفو نه چې هغه سين او "ت" دي او همزه او يا په مثل د ميم باندې دي په اولويت د بقا کې په دي شرط سره چې دا همزه او "ي" واقع شوي وو د کلام اول سرکې مثال لکه: يلندد کې به يلاد وائي او الندَدَ کې به الادُ وائي بحذف النون.

| | |
|---|---|
| ٨٣١- والياء لا الواو احذف ان جمعت ما | كحَيْز بونٍ فهو حكم حُتِما |

**ترکیب:** **اليا** مفعول به مقدم **ما** موصوله مفعول به **کحيزبون** صله جواب شرط محذوف دل عليه الکلام السابق **حکم** موصوف **حتما** جمله صفت موصوف سره د صفت نه خبر د مبتداء چې هو

دي.

**ترجمه**:او حذف کوه ته "ي" لره نه واو لره کچیري جمع ته هغه اسم مفرد لره چې هغه ثابت دي په شان د لفظ د حیزبون باندې دا یو حکم دي واجب کړي شوي نو حیزبون کې حزابین به وائي، او یعطموس کې به عطامس وائي بحذف الیاء دون الواو ځکه که دا واو حذف کړي شي په بقاء د "ي" سره صیغه د منتهی الجموع نه جوړیږي بلکه هغه هم حذف کول غواړي لهذا په دي کې دا یا حذف او واو باقي پاتې کوه دا به بیا "ي" سره بدلیږي د وجې د کسري د ما قبل نه.

| | |
|---|---|
| ٨٣٢- وخيّروا في زائدي سرندى | وكلّ ما ضاهاه كالعلندى |

**ترکیب**: **في** بحذف المضاف اي في حذف زائده سرندیٰ **ما** موصوله **ضاهاه** ضمیر راجع الی سرندی مفعول به **العلندی** خبرد مبتداء محذوف.

**ترجمه**:او اختیار ورکړي دي عربو خلکو ته په حذف کولو د یو د زائدي د سرندی کې او هر هغه اسم کې چې هغه مشابه دي سرندی سره په زیادت د نون او الف کې لکه علندی او حبنطی شو، اوس دا چې جمع کوي ستا خوښه ده چې الف حذف کوي بیا جمع کوي نو سَراندُ او علاندُ او حبانطُ اووایه، او که دا نون حذف کوي بیا جمع کوي نو علادٍ او سرادٍ او حباطٍ اووایه د وجې د کسري د ما قبل نه الف "ي" سره بدل شو بیا اعلال د قاضٍ وکړي شو.

**التصغيرُ**

بل د تغیر د کلمي نه تصغیر د مکبر دي او دا تصغیر مختص دي په اسم متمکن پورې په حرف کې نه راځي او په اسماء مبنیو کې نه راځي او افعالو کې نه راځي او که بالفرض په دوی کې راغلي وي هغه به شاذ وي، بیا دا تصغیر په هغه اسماء معربو کې جوړیږي چې هغه قابل د تحقیر وي او کوم اسماء معربه چې قابل د تحقیر نه وي په هغه کې به نه راځي لکه اسماء د انبیاء علیهم السلام او اسماء د ملائکو او کبیر او عظیم شو د دي تصغیر نه راځي.

| | |
|---|---|
| ٨٣٣- فُعيلاً اجعل الثلاثيَّ إذا | صغّرته نحوُ قُذيّ في قذا |

**ترکیب**: **فعیل** مفعول ثاني مقدم **للثلاثي** مفعول اول المراد من الثلاثي الثلاثي اللغوي یعنی دري حرفیز او دري تکېز **نحو** خبر د مبتداء محذوف **في قذا** حال از قذی.

**ترجمه**:ګرځوه ته وزن د فُعیل لپاره تصغیر د اسم ثلاثي مجرد په هغه وخت کې چې مصغر کوي ته اسم ثلاثي مجرد لره او که ته وائي ماته مثال وښایه چې ثلاثي کلمه وي او د هغې تصغیر راغلي وي په فُعیل وزن باندې دي وائي مثال لکه: قَذَي شو په قُذَي کې، حرف اول را ضمه دادند و ثاني را فتحه دادند سویم جا یا از برای علامه اسم تصغیر در آوردند بعده دو حرف از

يك جنس در يكجا در يك كلمه بهم آمدند اول ساكن ثاني متحرك بود بنا بر ان اول را در ثاني ادغام كردند تا قذى گشت قُذَي شد، دارنگه فَلس كي به فُلَيس وائي او عبد كي به عُبيد وائي او عمرو كي به عُمير وائي.

| | |
|---|---|
| ٨٣٤- فُعيعِلَ مع فُعيعيلٍ لما | فاق كجعل درهمٍ دريهما |

**تركيب:** **فعيعل** مبتداء **فعيعيل** حال از ضمير مستتر دي خبر **لما** خبر، **ما** موصوله **فاق** جمله صله بحذف المفعول اي فاق الثلاثي **كجعل** خبر د مبتداء محذوف **درهم** مفعول اول **دريهما** مفعول ثاني.

**ترجمه:** تصغير فُعيعل په وزن باندې سره د فعيعيل وزن نه راځي لپاره د هغه اسم چې د هغه حروف زيات وو دري حروفو نه مثال لكه گرځول ستا شو درهم اسم رباعي لره دُرَيهم بر وزن فعيعل حرف اول راضمه دادند و ثاني را فتحه داندند سويم جا يا از براى علامه اسم تصغير در آوردند و حرفيكه ما بعد از يا علامه اسم تصغير بود آن را كسره دادند تا درهم گشت دريهم شد، مثال د تصغير بر وزن فُعيعيل لكه: عُصَيفير شو په عصفور كي دلته د "ي" بدل د واو نه راغلي ده د وجې د كسري د ما قبل نه، اوس اسم مكبر نه مصغر څه لپاره جوړوي په دي تصغير باندې فائده څه مرتب ده؟ فوائد په تصغير باندې دا مرتب دي. ١ : كله تصغير راځي دَ تحقير لپاره د هغه شي چې په هغې كې توهم د لوئ والي د هغه كېدي شي لكه: جُبَيل شو په جبل كې. ٢ : كله راځي تقليل لپاره مثال لكه: دريهمات شو. ٢ : كله راځي تقريب لپاره د هغه شي چې په هغې كې توهم كولي شي بعد د هغه شي يا په زمانه كې لكه قبيل العصر شو، يا په مكان كې مثال لكه: فويق الدار شو يا په مرتبه كې مثال لكه: أُصيغر منك. ۴ : راځي شفقت او ترحم لپاره لكه حُسَين او بُنَي شو. ۵: راځي تعظيم لپاره كما في قول الشاعر:

و كل اناس سوف تدخل بينهم دُويهَة تصغرُ منها الانامل

تصغير د داهية تعظيم لپاره دي يعنى يو لوئ مصيبت او بصريان د دينه انكار كوي هغوى وائي تصغير دَ تعظيم لپاره نه راځي ځكه تعظيم منافي دي د تصغير سره.

| | |
|---|---|
| ٨٣٥- وما به لمنتهى الجمع وُصِل | به إلى أمثلة التصغير صِل |

**تركيب:** **ما** موصوله مبتداء، يا ما اضمر عامله على شريطة التفسير **لمنتهى** دا دواړه جار مجرور متعلق دي وصل پورې **وُصل** جمله صله **به**، **الى** دا دواړه متعلق دي وروسته صِل پورې **صِل** جمله خبر، يا مفسره.

**ترجمه:** او هغه طريقه چې رسيدل كړي شوي دي په دغه طريقې سره صيغه د منتهى الجموع ته ځان ورسوه ته په دغه طريقې سره صيغو د تصغير ته.

**تشريح.** ۱ : په دي شان سره حرف زائد په دي کې صرف يو راغلي وو په حين د تصغير جوړولو کې هغه به حذف کوي مثال لکه مدحرج او غضنفر کې به دُحَيرِج او غُضَيفِر وائي. ۲ : او که حروف زوائد پکې دوه راغلي وو يا زيات بيا اولی بالحذف چې کوم وي هغه به حذف کوي په تصغير جوړولو کې او بل به باقي پاتې کوي مثال لکه: مُنطَلِقٌ کې به مُطَيلِقٌ وائي او متدحرج او مستدع کې به دُحَيرِجٌ او مُدَيعٌ وائي. ۳ : او که احدهما اولی بالحذف نه وو بلکه دواړه يو شانتي وو مثال لکه سرندی او علندی شو بيا ستا خوښه ده چې ته کم يو حذف کوي او کم يو پاتې کوي عُلَيند او سُرَيند وائي بحذف الالف، او که عُلَيد او سُرَيدٍ وائي بحذف النون او الف يا سره بدل شوي دي د وجې د کسرې د ما قبل نه او بيا اعلال د قاضٍ پکې شوي دي.

| | |
|---|---|
| ۸۳۶- وجائزٌ تعويضُ يا قبل الطرف | إن كان بعضُ الاسم فيهما انحذف |

**ترکيب: جائز** خبر مقدم **تعويض** مبتداء مؤخر **قبل** متعلق بالتعويض **بعض** اسم كان **فيهما** متعلق بانحذف **انحذف** جمله خبر كان و الجزاء محذوف دل عليه الكلام السابق.

**ترجمه:** او روا دي تا لره عوض ګرځول د "ي" مخکې د حرف طرف نه يعنی په ما قبل اخير کې په وخت د تصغير جوړولو کې کچيري وو بعضي د اسم نه حذف شوي په دي صيغه د جمع تکسير او تصغير کې، مثال لکه سفرجل کې سفاريجُ او سُفَيرِيج به وائي په حذف د لام کلمه سره او د هغې په عوض کې "ي" ما قبل اخير کې راوسته، او که سفيرج او سفارج اوائي هم جائز دي بي د عوض راوړلو نه يا لره په ما قبل اخير کې ځکه دا يا عوض راوړل واجب نه دي بلکه جائز دي.

| | |
|---|---|
| ۸۳۷- وحائد عن القياس كلّ ما | خالف في البابين حكماً رُسِما |

**ترکيب: حائد** خبر مقدم **عن القياس** متعلق بحائد **كل** مبتداء مؤخر **ما** موصوله **خالف** جمله صله **حكما** مفعول به موصوف **رُسمًا** جمله صفت.

**ترجمه:** او کوږ ګرځي به د قياس او د قاعدي نه هر هغه اسم چې هغه مخالف شوي وي په دي دواړه بابونو کې د هغه حکم نه چې هغه تاته بيان کړي شوي دي او مقرر کړي شوي دي مثال لکه: تصغير د مغرب مغيربان او تصغير د عشيَة عُشَيشِيَة دي او تصغير د رجل رويجل او تصغير د انسان أُنيسَان او تصغير د ليل لُيَيلِيَة راغلي دي او د رهط جمع تکسير اراهط او د باطل جمع تکسير اباطيل راغلي دي خلاف القياس دا موقوف دي په سمع د عربو پورې و لا يقاس عليه غيره.

| | |
|---|---|
| ۸۳۸- لتلو يا التصغير من قبل عَلَم | تأنيثٍ أو مدّتِه الفتح انحتم |

**ترکيب:** لتلو متعلق بانحتم قبلحا از تلو علم مضاف تانيث مضاف اليه اومدته معطوف على علم الفتح مبتداء الحتم خبر.

**ترجمه:** او فتحه واجب ده لپاره د هغه حرف چې واقع کيږي وروسته متصل بلا فصل "ي" د تصغير نه او مخکې د علامي د تانيث نه چې هغه تاى متحرکه او الف مقصوره ده او مخکې د مده د تانيث نه چې هغه الف ممدوده دي مثال لکه: درجة کې به دُريجة او حُبلى کې به حُبَيلى وائي او حمراء کې به حُميراء وائي.

| أو مدَّ سكران وما به التحق | ٨٣٩- كذاك ما مدّة أفعالٍ سبق |
|---|---|

**ترکيب:** كذاك خبر مقدم ما موصوله مبتداء مؤخر مدة مفعول به مقدم سبق جمله صله مد معطوف على مدة افعال ما موصوله معطوف على سكران به متعلق بالتحق التحق جمله صله.

**ترجمه:** او دارنگه فتحه واجب کړي شوي ده هغه حرف لره چې دا حرف مخکې شوي دي په مده د افعال باندې چې هغه الف دي او هغه حرف چې مخکې دي مده د سکران نه چې صفت مشبه دي يا د هغه مده نه چې هغه بعينه مده د سکران ندي لکن ملحق د مده د سکران دی لکه مده د عثمان شو نو افعال کې به أُفيعال وائي او آجمال کې به أُجيمال وائي او سکران کې به سُكيران وائي او عثمان کې به عُثيمان وائي، لکن دا وجوب د فتحه مخکې د مده د سکران نه مشروط دي په شروط ثلاثه ؤ سره. ۱ : الف او نون به زائدتين وي. ۲ : او مؤنث د ده به فعلانة په وزن باندې راغلي نوي. ۲ : او جمع د دي به فعالين په وزن باندې راغلي نوي او که داسې نه وو بيا فتحه واجب نه ده نو حَسان او عَفان کې حُسَيس ِين او عُفَيفِين به وائي او سِيفان کې به سُيَيفين وائي مؤنث د دي سيفانة راځي، او سلطان کې به سُلَطِين وائي ځکه جمع د دي سلاطين راځي بر وزن فعالين.

| وتاؤه منفصلين عدّا | ٨٤٠- وأَلِفُ التأنيث حيث مُدّا |
|---|---|

**ترکيب:** والف مبتداء حيث حال از مبتداء يا از ضمير خبر تاء عطف على الف التانيث منفصلين مفعول به مقدم عُدا جمله خبر.

**ترجمه:** الف علامه د تانيث په حال کون د دي کې څه وخت کې چې ممدود شي او "ت" علامه د تانيث دا دواړه شمار کړى شوي دي د حروف نه جدا.

| وعجزُ المضاف والمركّب | ٨٤١- كذا المزيد آخراً للنسب |
|---|---|

**ترکيب:** كذا خبر مقدم المزيد مبتداء مؤخر آخر منصوب بنزع الخافض للنسب متعلق بالمزيد عجزُ معطوف على المزيد المركب معطوف على المضاف.

**ترجمه**:او دغسې هغه حرف چې هغه زياتي کړي شوي دي په اخير د دي اسم کې لپاره د نسبت او جز ثاني د مضاف چې مضاف اليه دي او جز ثاني د مرکب امتزاجي شمير کړي شوي دي ځانله مستقل کلمه او په جمله کې تصغير جائز نه دي لکه تابطَ شرا کې شو ځکه د مرکب سره امتزاجي قيد ولګوو.

| ۸٤۲- وهكذا زيادتنا فعلانا | من بعد أربعٍ كزعفران |
|---|---|

**ترکيب**: **هكذا** خبر مقدم **زيادتنا** مبتداء مؤخر **من** حال از ضمير خبر **كزعفران** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**:او دغسې کلمه منفصله به شميرلي شي دوه حروف زائدتين د وزن فعلان په حال کون د دغه دوه زيادتونو کې چې ثابت دي وروسته د څلور حروفو نه مثال د دي لکه: زعفران شو.

| ۸٤۳- وقدّر انفصال ما دلّ على | تثنيةٍ أو جمع تصحيحٍ جلا |
|---|---|

**ترکيب**: **انفصال** مفعول به **ما** موصوله **دل** صله **على** متعلق بدل **تصحيح** موصوف **جلا** جمله صفت.

**ترجمه**:او دغسې فرض کړه ته جداوالي د هغه علاماتو چې هغه دلالت کوي په تثنيه د اسم باندې يا دلالت کوي په جمع تصحيح د اسم باندې کومه جمع تصحيح؟ دا وائي جلا چې هغه قياسي جمع تصحيح ده په دي شان سره موافق د قاعدي د جمع تصحيح سره جمع شوي دي مثال لکه: مسلمون او زيدون شو، نه هغه جمع صحيح چې هغه خلاف القياس راغلي ده لکه سنون او ارضون شو، په دي ټولو صورتونو کې په وخت د تصغير جوړولو کې الف ممدوده او تاى تانيث او مضاف اليه او جز ثاني د مرکب امتزاجي او علامه د تثنيه او جمع مذکر سالم او الف او نون مزيدتين په خپل حال باندې پاتې کيږي نو حمراء کې حُميراء او حنظلة کې حُنَيظلة او عبد الله کې عبيد الله او بعلبك کې بُعيلَبك او زعفران کې زُعَيفران او رجلان کې رُجَيلان او مسلمون کې مُسَيلمُون به وائي.

| ۸٤٤- وأِلف التأنيث ذو القصر متى | زاد على أربعة لن يُثبتا |
|---|---|

**ترکيب**: **الف التانيث** موصوف مبتداء **ذو** صفت **متى** اسم شرط **على اربعة** متعلق بزاد **لن** جزا حذف الفاء للضرورة، مجموعه جمله شرطيه خبر د مبتداء.

**ترجمه**:او الف علامه د تانيث داسې الف التانيث چې خاوند د قصر وي نه خاوند د مد ځکه د هغه حکم مخکې ذکر شوي دي، په کوم وقت د اوقاتو کې چې دا زائد شي په څلور حروفو باندې بلکل دا ثابت نه پاتې کيږی بلکه دا به حذف کيږي لکه: قرقرى کې به قُريقر وائي، اوس يو اسم دي زادَ على اربعة احرفٍ د هغې په اخير کې الف مقصوره راغلي لکن مخکې ور سره مده راغلي مثال لکه: حبارى شو په دي کې زه تاته جزمًا حکم نه کوم چې الف مقصوره

خامخا حذف کوه بلکه په دي کې ستا لپاره اختيار دي چې دا الف وروستني حذف کوي او که مخکني الف حذف کوي.

| | |
|---|---|
| ٨٤٥- وعند تصغير حُبارى خيِّرِ | بين الحبيرى فادر والحُبيِّرِ |

**ترکيب**: **عند** متعلق بخير **بين** دا هم متعلق دي خير پورې **فادر** جمله معترضه بين المعطوف و المعطوف عليه.

**ترجمه**: په نزد د تصغير د هغه اسم باندې چې د هغې په اخير کې الف مقصوره راغلي وي او مخکې ورسره مده راغلي وي لکه: حبارى شو اختيار کوه ته په ما بين د حُبيرى کې په حذف د الف اول او په بقاء د الف وروستني سره او په ما بين د حُبَير کې په حذف د الف ثاني، او ابدال د الف اول يا سره او "ي" په "ي" کې ادغام کړه پس پوهه شه په دي جواز د امرينو باندې.

| | |
|---|---|
| ٨٤٦- واردُدْ لأصلٍ ثانياً ليناً قلِب | فقيمةً صيِّرْ قويمةً تصب |

**ترکيب**: **لاصل** متعلق باردد مفعول ثاني **ثانيًا** مفعول اول، موصوف **لينًا** صفت **قلب** صفت ثاني **فقيمةً** مفعول به مقدم **قويمَة** مفعول ثاني **تُصب** جواب الامر.

**ترجمه**: او رد کوه ته اصل خپل ته دويم حرف لره داسې دويم حرف چې هغه حرف علت وي او داسې دويم چې هغه بدل کړي شوي وي او که دا رد کړې ته اصل خپل ته صواب ته به ورسيږې مثال لکه: قِيمَة اصل کې قِوْمَة وو واو "ي" سره بدل شوي دي د وجې د کسرې د ما قبل نه، اوس د دينه چې تصغير جوړ وي قُوَيمَة به وائي په اعادې د واو مقلوبه سره د وجې د زوال د علت د ابدال نه چې هغه کسره د ما قبل وه.

| | |
|---|---|
| ٨٤٧- وشذَّ في عيدٍ عُييد وحُتم | للجمع من ذا ما لتصغيرٍ عُلِم |

**ترکيب**: **عُييد** فاعل **للجمع من** دا دواړه جار مجرور متعلق دي حتم پورې **ما** موصوله نائب فاعل **لتصغير** متعلق بعلم **علم** جمله صله.

**ترجمه**: او شاذ دي په عيد کې عُييد لوستل بې د اعادې د واو مقلوبه نه او لازم کړي شوي دي هغه حکم چې تصغير د عيد کې معلوم شوي دي لپاره د جمع د دغه حکم مذکور نه چې رد دي مثال لکه: ميزان کې واو "ي" سره بدل شوي دي د وجې د کسرې د ما قبل نه دا واو مقلوبه لکه څنګه چې په حين د تصغير کې معاد کيږي نحو: مُوَيزِين دارنګه جمع تکسير چې جوړوي هم معاد کيږي مَوَازِين به وائي، او په عييد کې د قاعدې تقاضا دا ده عُوَيد اووايه، لکن دوی عييد وائي بې د رد د مقلوب نه خلاف القياس لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د تصغير د عود سره دارنګه جمع تکسير د عيد کې اعياد اووايه بې د رد د محذوف نه لپاره د دې چې

لازم نه شي التباس د جمع تكسير د عود سره.

| ٨٤٨- والألف الثان المزيدُ يُجعلُ | واواً كذا ما الأصل فيه يُجهل |
|---|---|

**تركيب:** **والالف** مبتداء **الثاني** صفت **المزيد** صفت ثاني **يُجعل** جمله خبر **واوًا** مفعول ثاني **كذا** خبر مقدم **ما** موصوله مبتداء مؤخر **الاصلُ** مبتداء **فيه** متعلق بيجهل **يُجهل** جمله صله.

**ترجمه:** او الف دويم چې هغه زائد وي بدل کولي به شي واو سره په وخت د تصغير کې، دارنګه بدلولي شي واو سره هغه الف چې اصل په هغې کې مجهول وي مثال د اول لکه: ضويرب شو په ضارب کې، و مثال د ثاني لکه: عُويج شو په عاج کې.

**تشريح:** الف چې راشي په دويم ځاى کې په دي کې پنځه احوال دي. ١ : بدل راغلي وي د واو نه. ٢ : بدل راغلي وي د "ي" نه د دي دواړو حکم ذکر شوي دي. ٣ : زائد وي. ۴ : مجهول الاصل وي د دي دواړو حکم په دي بيت کې بيان شوي دي. ٥ : بدل د همزي نه راغلي وي لکه: آدم کې د دي حکم وروسته په بابُ الابدال کې بيان ئې کړي دي چې په حين د تصغير کې واپس همزه کيږي او هغه همزه واو سره بدلولي شي او يدم به وائي.

| ٨٤٩- وكمِّل المنقوص في التصغير ما | لم يحوِ غير التاء ثالثاً كما |
|---|---|

**تركيب:** **المنقوص** المفعول به **في التصغير** متعلق بكمل **ما** مصدريه ظرفيه **يحو** ضمير مستتر راجع الى المنقوص **غير** حال مقدم على صاحبه و هو الثالث مفعول به **كما** خبر د مبتداء محذوف اي ذلك كائن كما.

**ترجمه:** او پوره کوه هغه اسم لره چې کم کړي شوي دي دَ دري حروفو نه په وخت د تصغير جوړولو کې او په وخت د عددم اشتمال د ده کې په دريم حرف باندې په حال کون د دي دريم حرف کې چې هغه غير د "ت" نه دي مثال د دي لکه لفظ د "ما" او "لا" شو چې دا علم وګرځوي دا الف د ما او لا به واو سره بدل کړي او "ي" د تصغير به د دينه وروسته زياته کړي او بله "ي" وروستو د يا د تصغير نه زياته کړي لپاره د وزن برابرولو د تصغير نو په دي ما او لا کې مُوَي او لُوَي به وائي، او که دريم حرف د دي تا وو هغه په خپل حال باندې باقي پاتې کولي شي او هغه حرف محذوف معاد کولي شي لکه: شفة کې به شُفَيهَة وائي او عدة کې به وُعَيدَة وائي.

| ٨٥٠- ومَن بترخيمٍ يُصغِّر اكتفى | بالأصل كالعُطيف يعني المِعطفا |
|---|---|

**تركيب:** **من** موصول مبتداء **بترخيم** متعلق بيصغر **يُصغر** صله **اكتفى** جمله خبر **كالعطيف** خبر د مبتداء محذوف **يعنى** ضمير مستتر راجع الى من **المصطفا** مفعول به.

**ترجمه:** او هغه سړي چې دا تصغير کوي سره ترخيم نه فقط دا پوره والي کوي اصلي حروفو د

مکبظ سره مثال د دي لکه عُطیف شو، اراده کوي دا مَن مکبر سره مِعطَف دارنګه حمید شو په حامد او محمود کې او عُصفور او قِندیل کې چې تصغیر الترخیم جوړوي عُصَیفر او قُنیدل به وائي، تصغیر ترخیم دیته وائي چې زوائد حروف اول ته حذف کړي او حروف اصلي چې پاتې شي د هغې نه تصغیر جوړ کړي، اوس که دا حروف اصلي دري وو تصغیر د دي راځي فعیل په وزن باندې لکه عُطیف شو او که حروف اصلي ځلور وو بیا دا راځي فُعیلِل په وزن باندې لکه عُصیفر شو.

| ۸۵۱- اختم بتا التأنیث ما صغّرت | مِن مؤنثٍ غارٍ ثلاثيٍّ كسِن |
|---|---|

**ترکیب: بتا** متعلق باختم **ما** موصوله مفعول به اختم لپاره صغرت صله **مؤنث** موصوف **عار** صفت ثاني **کسن** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه:** او ختم کوه ته تای تانیث سره هغه اسم چې تا اراده کړي دي تصغیر جوړول په هغې کې د مؤنث نه داسې مؤنث چې خالي وي د تا نه او ثلاثي وي مثال د دي لکه: سِن شو تصغیر د دي سُنینَة راځي، دارنګه د ارض تصغیر اُرَیضَة راځي، او د ید تصغیر یُدیدَة راځي او د دار تصغیر دُوَیرَة راځي.

**سوال** شجر او بقر او خمس ثلاثي دي او خالي دي د تا نه تصغیر چې جوړوي اختتام بالتاء نه راځي؟ **جواب** دا وائي:

| ۸۵۲- ما لم یکن بالتا یُرى ذا لبس | کشجرٍ وبقرٍ وخمس |
|---|---|

**ترکیب: ما** مصدریه په ظرفیت **یکن** ضمیر مستتر راجع الى المؤنث اسم د یکن **یُرى** خبر **لبس** مفعول ثاني **کشجر** خبر د مبتداء محذوف اي و ذلك كشجر الخ.

**ترجمه:** په وخت د عدم کون د دي کې په "ت" سره داسې "ت" چې لیدلي کیږي خاوند د التباس په وخت د تصغیر کې مثال لکه: بقر او شجر او خمس کې به شُجیر او بُقیر وا خُمیس وائي بدون التاء لپاره د دي چې لازم نشي التباس د تصغیر د بقرة او شجرة او خمسة سره.

| ۸۵۳- وشذّ ترك دون لبسٍ وندَر | الحاق تا فیما ثلاثیًا کثر |
|---|---|

**ترکیب: ترک** فاعل **دون** حال از فاعل **الحاق** فاعل **فیما** متعلق بندر **ثلاثیا** مفعول به مقدم **کثر** صله.

**ترجمه:** او شاذ دي ترك د هغه "ت" چې بي د التباس نه وي مثال لکه: قوس کې قُوَیس او حرب کې حریب او درع کې دریع او عرس کې عُریس نعل کې نُعیل بدون التا دا شاذ دي د قیاس تقاضا دا ده قُوَیسة او حُرَیبة اوایه ځکه دا مؤنث دي او التباس نشته دي ذو التاء سره ځکه ذو التاء ندي راغلي په دي کې، او نادر دي پیوست کول د "ت" په هغه اسم کې چې حروف د هغې

ډير شوي دي د دريو نه مثال لكه: قُدام كې قُدَيديمَة او امام كې أُمَيمَة شو.

| | |
|---|---|
| ۸۵۴- وصغَّروا شذوذاً الذي التي | وذا مع الفروع منها تا وتي |

**تركيب:** **شذوذًا** حال از فاعل بمعنى شاذين **الذي** مفعول به **التي** معطوف بعاطف مقدر **الفروع** حال از ذا **منها** خبر مقدم **تا** مبتداء مؤخر.

**ترجمه:** او تصغير كړي دي عربو په طريقې د شذوذ سره د الذي او د التي د اسماء موصولو نه او د ذا د اسماء اشاراتو نه دا يواځي نه بلكه دا ذا سره د فروعو خپلو نه واخلي چې هغه ذان او ذين دي او د دي اسماء اشاراتو نه تا او تي سره د فروعاتو نه واخلي چې هغه تان او اولاء دي د دي تصغير راځي اللَذَيا و اللَتَيا و ذَيَا و تَيا يعنى اللَذَيا په الذي كې او اللَتَيا په التي كې و ذَيا په ذا كې و تَيَا په تا كې ذَيانِ تَيَانِ په ذان او تانِ كې، او لَياءُ په اولاء كې او لَيَا په اولى كې، اللَذَيان و اللَتَيانِ په اللَذانِ و اَللَتَانِ كې، اللَذَيُون و اللَتَياتُ په اللذين و اللاتي كې مخالف د قاعدي د تصغير نه چې دلته ضمه د فا كلمه په ځاى په اخير كې الف زياتي كوي او ما قبل كې يا زياتي كوي، اولَياء كې دا الف ممدوده ځانله كلمه ده دَ دي دخل نشته په تصغير جوړولو كې دا به دغسې پاتې كيږي اللذيون كې يو يا زياتي كړه ما قبل اخير كې بيا "ي" په "ي" كې مدغمه كړه او په اخير كې الف زياتي كړه اللَذَيَان جوړ شو بيا دغه الف واو سره بدل كړه په حالت رفعي كې او "ي" سره بدل كړه په حالت نصبي جري كې لپاره د دي چې لازم نه شي التباس په ما بين د تصغير د اللذَين او اللذِين كې، لهذا په حالت رفعي كې به اللَذَيُون وائي او په حالت نصبي جري كې اللذيينَ به وائي اللتيات دا ئي رد كړو مفرد خپل ته چې التي دي بيا ئي زيات كړه په اخير كې الف اوما قبل اخير كې "ي" بيا "ي" په "ي" كې مدغمه كړه اللتيا شو بيا هغه الف د مفرد ئي وغورځولو دا ئي جمع كړو په جمع مؤنث سالم سره نو اللَتَيا شو.

## النسبُ

دا ما سياتي تر يو حده پورې بحث د نسبت دي، نسبت څه ته وائي؟ تعلق د يو شي دي بل شي سره او اضافت د يو شي دي يو قبيلي يا يو كلي ته يا به تعلق د مكان يا به تعلق د نسب به وي مثال لكه: رجل مكي شو معنى د دي دا ده دا سړي دي داسې چې د دې تعلق دى مكې سره يعنې د مكې اوسيدونكى دي او د مكې د كلي دي او د هغې باشنده دي او سيبويه د دي نسبت نه تعبير كړى دى په اضافت سره.

| | |
|---|---|
| ۸۵۵- ياءً كيا الكرسيِّ زادوا للنسب | وكلُّ ما تليه كسرُهُ وَجَب |

**تركيب:** **ياءً** مفعول به مقدم موصوف **كيا** صفت **وكل** مبتداء اول **ما** موصوله **تليه** جمله صله **كسره**

مبتداء ثاني وجب جمله خبر د مبتداء ثاني بيا جمله خبر د مبتداء اول.

**ترجمه:** زياتى كړې ده عربو لپاره د دلالت كولو په نسبت د يو شي باندې "ي" لره داسې "ي" چې هغه په شان د "ي" د كرسي ده. ١: په تشديد كې. ٢: او په كسره د ما قبل كې. ٣: او په نقل د اعراب كې دي يا مشدده ته، او هر هغه حرف چې واقع كيږي دا يا مشدده وروسته بې فصله كسره د دي واجب ده از براى مناسبت يا.

**تشريح:** نسبت د دوى په اصطلاح كې الحاق د " ى " مشدده ته وائي په آخر د اسم كې مكسور ما قبلها لپاره د دې چې دلالت وكړي په نسبت د يو شئ شئ آخر ته او الحاق د يا نسبتي په اخير د اسم پورې د ري تغيره په هغه اسم كې راځي. ١: تغير لفظي وجوب د كسره په ما قبل كې او نقل د اعراب حرف اخير د اسم نه يا مشدده ته اوس اعراب په دي باندې جاري كيږي مثال لكه: بغدادي كې مخكې اعراب په دي دال باندې جاري كېده اوس په دي "ي مشدده" باندې اعراب جاري كيږي. ٢: تغير معنوي راغي چې دا منسوب اليه اسم د منسوب وګرځيده. ٣: تغير حكمي راغي هغه دا كلمه چې الحاق د يا نسبتي وشو په اخير د اسم پورې دا په حكم د مشتقي كې وګرځيده نو دي سره به معاملهٔ كولي شي معامله د مشتقي په دي شان سره چې دا رفع وركوي اسم ظاهر او ضمير لره بنا بر نائب فاعل مثال لكه: جاء المصري ابوه كې دي ابوه له رفع دي المصري وركړي ده او جاء الرجلُ المصريُ كې په دي المصري كې ضمير مستتر دي هو راجع دي الرجل ته هغه نائب فاعل دي، دارنګه ا قريشي زيد كې زيدله رفع دي قريشي وركړي ده او دا مبتداء قسم ثاني ده.

| | |
|---|---|
| ٨٥٦- ومثله ممّا حواهُ احذفْ وتا | تأنيثٍ أو مدَّته لا تثبتا |

**تركيب:** مثله مفعول به مقدم مما متعلق باحذف، ما: موصوله حواه جمله صله الضمير راجع الى الياء تامفعول به مقدم مدته عطف على تاء التانيث لاناهيه تُثبتاالالف بدل من نون التوكيد.

**ترجمه:** او حذف كړه ته مثل د دغه "ي نسبتي" لره د چا نه؟ د هغه اسم نه چې هغه مشتمل وي په دغه يا مشدده باندې په وضع كې، او مه ثابتوه په وخت د الحاق د "ي نسبتي" كې تاى تانيث او الف التانيث لره چې د هغه اسم په اخير تاى تانيث وي لكه: فاطمة شو، يا مده د تانيث وي لكه: الف د حبلى شو ځكه يا نسبتي د وجې د شدت اتصال نه كالجزء د كلمي ګرځيدلي ده او اجراء د علاماتو په وسط كې جائز نه ده.

**تشريح:** دا منسوب دوه قسمه دي. ١: هغه دي چې الحاق د "ي نسبتي" د وجې نه په دي كلمه كې تغير نه راځي ماسوا د هغه تغير نه چې مخكې ذكر شو لكه حسن كې حُسَني راځي بې د

څه تغير او تبديل نه. ٢ : قسم هغه دي چې په هغې کې تغير راځي الحق دي نسبتي د وجې نه، اوس دا اخير د اسم منسوب به خالي نه وي يا به "ي مشدده" وي يا به نوي که "ي مشدده" راغلي وه بيا به خالي نوي يا به مسبوق بحرفٍ واحدٍ وي يا به مسبوق بحرفين وي يا مسبوق باكثر من حرفين وي، که مسبوق بحرف واحد وو لکه: حَي او طَي شو هلته حرف اول د مشدد له فتحه ورکولي شي او رد کولي شي واو ته که دا بدل د واو نه راغلي وو او ثاني واو سره بدلولي شي په وخت د الحاق د يا نسبتي کې، لهذا حى او طي کې به حَيَوِي او طَوَوِي وائي، او که مسبوق بحرفين وو مثال لکه: علي او عدي او نبي شو دا يا اولى حذف کولي شي او ما قبل له فتحه ورکولي شي او دا دويم "ي" واو سره بدلولي شي لهذا علي او عدي او نبي کې به علوِي او عدوى او نبوِي وائي، او که مسبوق باکثر من حرفين وو مثال لکه: کرسي او شافعي شو، بيا دا يا مشدده حذف کولي شي د دي په ځاى به يا نسبتي کېدي کرسِي او شافعِي به وائي، فرق دا دي که دا منسوب شي په حکم د مشتقي کې دي يعمل عمل فعله، او که منسوب نه شي بيا اسم جامد دي، او که اخير د اسم منسوب يا مشدده نه وو بيا به خالي نه وي يا به تاى تانيث يې يا به مده تانيث وي لکه الف مقصوره شو، که تاى تانيث وه دا حذف کولي شي وجوبًا په حين د الحاق د يا نسبتي کې مثال لکه: فاطمة کې به فاطمي وائي، او طلحة کې به طلحي وائي، او که الف مقصوره وو دا به خالي نه وي يا به واقع شوي وي دريم ځاى کې، او يا به واقع شوي وي څلورم ځاى کې او يا به واقع شوي وي پنځم ځاى کې که دريم ځاى کې واقع شوي وو هغه واو سره بدلولي شي لکه فتى او عصا به فتوي او عصوي به وائي.

| فقلبُها واواً وحذفها حسن | ٨٥٧- وإن تكن تربعُ ذا ثانٍ سكن |
|---|---|

**ترکیب**: **تكن** ضمير مستتر هي راجع الى مدة الثانية المقصورة اسم د تكن **تربع** ضمير مستتر راجع الى اسم تكن خبر د تكن نه **ذا** مفعول به **ثاني** موصوف **سكن** جمله صفت **فقبلها** مبتداء **واوا** مفعول به ثاني **حذفها** مبتداء، خبر محذوف اي جائز **حسن** خبر.

**ترجمه**: کچيري وو د دغه الف تانيثي د اسم چې هغه ګرځوي دغه اسم لره خاوند د څلور حرف په داسې حال کې چې دا ثاني د ده ساکن وو، مثال لکه حبلى شو پس بدلول د دغه الف واو سره جائز دي او حذف کول د دغه الف په حين د الحاق د يا نسبتي کې حسن دي نو په حبلى کې حبلوي ويل جائز او حبلي ويل اولى او حسن دي، او من هذا القبيل مولوي منسوب بسوئ مولى بمعنى رباني يعنى خدائ والاان الالف للتكثير لاللتانيث لکه قبعثرى فافهم.

| | |
|---|---|
| ٨٥٨- لشبهها الملحق والأصليِّ ما | لها وللأصليِّ قلب يُعتمى |

**ترکیب:** **لشبهها** خبر مقدم، **شبهها** موصوف **الملحق** صفت و **الاصلي** عطف على الملحق **قلب** قلب موصوف مبتداء مؤخر **يعتمى** جمله صفت

**ترجمه:** او ثابت دي لپاره شبه د دي الف تانيثي چې هغه ملحق د دي دي چې دا الف زائد راغلي دي په څلورم ځای کې لپاره د الحاق يا الف اصلي په څلورم ځای کې راغلي دي لکه الف د ملهَى او اعلَى شو، نو دوی لپاره ثابت دي هغه حکم چې ثابت دي الف مقصوره لره. ۱: حذفها. ۲: و قلبها واوًا او ثابت دي الف اصلي لره قلب داسې قلب چې هغه مختاره کولي شي.

**تشريح:** يعنى دا الف چې راغلي دي څلورم ځای کې دا الف به خالي نه وي يا به الف التانيث وي يا به الف د الحاق وي يا به الف اصلي وي كه الفُ التانيث وو په هغې کې حذف اولى او قلب بالواو جائز دي، او كه الف د الحاق يا اصلي وو يا تكثير د بنا لپاره وو په هغې کې حذف جائز او قلب بالواو اولى دي، نو ارطَى او ملهَى او مولى کې ارطئ او ملهي او مولي ويل جائز او ارطوي او ملهوي او مولوي ويل اولى دي، او په دي حبلى او ارطى کې قلب بالواو سره زيادت د الف هم جائز دي مخکې د واو نه چې حبلاوي ارطاوي اوائي دا دي ندي ذكر كړي الف څلورم ځای کې راشي د هغې حذف او قلب دواړه روا شو په حين د الحاق د يا نسبتي کې اوس الف پنځم ځاي کې راشي د هغې به څه حالت وي دا وائي:

| | |
|---|---|
| ٨٥٩- والألِف الجائز أربعا أزل | كذاك يا المنقوص خامساً عُزِل |

**ترکیب:** **والالفَ** مفعول به مقدم موصوف **الجائزَ** صفت **اربعًا** مفعول به د الجائز **كذاك** متعلق بعزل **يا** مبتداء **خامسًا** حال از ضمير عزل جمله خبر.

**ترجمه:** او لري كوه ته الف لره چې هغه اوړيدلي وي د څلور حروفو نه مثال لكه مصطفى شو په دي کې مصطفي اووايه، نه مُصطفوي، او بعضي صرفيانو قلب د دي الف په واو سره جائز كړي دي هغوى مصطفوي وائي، او دغسې لري كولي شي "ي" د اسم منقوص په حال كون د دغه "ي" کې چې هغه واقع شوي وي خامس مثال كله: مستعلي او مرتجي شو په دي کې مستعلي او مرتجي به وائي په حذف د "ي" سره.

| | |
|---|---|
| ٨٦٠- والحذف في اليا رابعاً أحقُّ من | قلبٍ وحتم قلبُ ثالثٍ يَعِنّ |

**ترکیب:** **الحذف** مبتداء **في اليا** متعلق بالحذف **اربعًا** حال من الياء **احق** خبر **وحتم** خبر مقدم **قلب** مبتداء مؤخر **ثالث** موصوف **يُعن** جمله صفت.

**ترجمه:** او حذف په يا کې چې څلورم ځای کې واقع شوي دي دا حذف كول د يا ډير لائق دي د

بدل کولو نه واو سره مثال لکه قاضي شو په دي کې قاضِي ويل غوره دي د قاضوِي ويلو نه، او واجب دي په تا باندې بدلول دريم حرف واو سره داسې ثالث چې هغه وړاندې شوی دی اسم ته په دريم ځای کې.

| | |
|---|---|
| ۸۶۱- وأول ذا القلب انفتاحاً وفعِل | وفعل عينهما افتح وفِعِل |

**ترکيب:** **ذا** مفعول اول **القلب** مضاف اليه **انفتاحا** مفعول ثاني **فعِل** مبتداء **عينهما** مفعول به مقدم **افتح** خبر **فِعِل** عطف على الضمير المجرور المضاف اليه.

**ترجمه:** او واقع کړه وروسته بې فصله دغه حرف لره چې هغه خاوند د قلب دي چې په هغې کې د قلب دستخط شوی دی د فتحې نه وروسته مثال لکه: شجي کې به شجوي وائي، او اسم وي فَعِل په وزن باندې او فُعِل په وزن باندې فتحه ورکوه ته عين کلمي د دي دواړو لره په وخت د الحاق د يا نسبتي کې او داسې فتحه ورکوه عين کلمي د هغه اسم لره چې هغه په وزن د فِعِل باندې راځي.

**تشريح:** يعنی هر هغه اسم چې ما قبل د هغې مکسور وي او د هغې نه مخکې حرف واحد وي بيا هغه عام دي چې فَعِل په وزن باندې وي لکه: نَمِر شو يا فِعِل په وزن باندې وي لکه اِبِل شو، يا فعِل په وزن باندې وي لکه دُئِل شو په وخت د الحاق د يا نسبتي کې عين کلمه به مفتوح کولی شي لهذا نَمِر او اِبِل کې نَمَري او اِبَلي او دُئَلي به وائي په فتحې د عين کلمې سره.

| | |
|---|---|
| ۸۶۲- وقيل في المرميِّ مرمويُّ | واختير في استعمالهم مرميُّ |

**ترکيب:** **مرموي** نائب فاعل **مرمي** نائب فاعل.

**ترجمه:** او ويلی شوی دی په هغه اسم کې چې د هغې په اخير کې يا مشدده وي د درې حروفو نه لکه مرمي کې مرموي وائي په حذف د يا اولی او په قلب د ثاني واو سره سره د فتحې د عين کلمې نه او مختاره کړي شوې ده په استعمال د کلام د عربو کې مرمي په مرمي کې په شان د کرسي او شافعي باندې کما مر.

| | |
|---|---|
| ۸۶۳- ونحو حيٍّ فتحُ ثانِيه يجب | واردده واواً إن يكن عنه قلِب |

**ترکيب:** **نحو** مبتداء اول **فتح** مبتداء ثاني **يجب** جمله خبر د مبتداء ثاني بيا جمله خبر مبتداء اول **ه** مفعول اول **واوا** مفعول ثاني **عنه** متعلق بقلب **قلب** جمله خبر د يكن.

**ترجمه:** او په مثل د حي کې يعنی په هغه اسم کې يعنی په هغه اسم چې د هغې په اخير کې ي مشدده راغلې وي سره د يو حرف نه فتحه د دويم حرف په تا باندې لازم دي، او رد کوه دغه دريم حرف لره واو ته که چيرې وو دا دويم حرف او عين کلمه د دي واو نه اړولی شوي نو په دي حي کې به حَيَوي وائي په ابقاء د "ي" د عين کلمه سره په خپل حال باندې ځکه دا بدل د واو نه

ندی راغلي ځکه دا ماخوذ دی حییتُ نه او په طي کې به طوَوي وائي په ابدال د "ي" عین کلمه واو سره ځکه دا بدل د واو نه راغلي دي اصل کې طوي ځکه دا ماخوذ دي طویت نه.

| | |
|---|---|
| ٨٦٤- وعلم التثنية احذِف للنسب | ومثلُ ذا في جمع تصحيحٍ وجب |

**ترکیب:** **علم** مفعول به مقدم **للنسب** متعلق باحذف **مثل** مبتداء **في جمع** متعلق بوجب **وجب** جمله خبر.

**ترجمه:** او حذف کړه ته علامه د تثنیه لره د وجې د الحاق د "ي نسبتي" نه او په مثل د دي تثنیه باندې واجب دي حذف د علاماتو په جمع سالم کې چې هغه مذکر وي او که مؤنث وي، یعنی الحاق د یا نسبتي په تثنیه او جمع پورې چې کوي د هغه تثنیه او جمع نه مفرد جوړوه په حذف د علاماتو سره بیا دا یا نسبتي متصل کوه او فرق به معلومولي شي په واسطي د قرائنو سره.

| | |
|---|---|
| ٨٦٥- وثالث من نحو طيّبٍ حُذِف | وشذَّ طائيٌ مقولاً بالألف |

**ترکیب:** **و ثالث** اي حرف ثالث مبتداء بحذف الموصوف **من** متعلق بحذف **حذف** جمله خبر **طائي** فاعل **مقولاً** حال از طائي **بالالف** متعلق بمقولاً.

**ترجمه:** او دریم حرف د مثل د طیب نه حذف کولي شي چې هغه "ي مدغم فیه" ده نو په سَید کې به سَیدِي وائي، او طیب کې به طیْبِي وائي، او شاذ دي طائي لوستل په حال کون د دې طائي کې چې دا لوستلی شوی دی په الف سره ځکه د قاعدي تقاضا دا ده چې طَیئي ووایه او دوی دا یا ساکنه الف سره بدلوي لزومًا طائي وائي خلاف القیاس.

| | |
|---|---|
| ٨٦٦- وفعليٌّ في فعيلة التزم | وفعليّ في فعيلةٍ حُتِم |

**ترکیب:** **فعلي** مبتداء **فعلية** متعلق با التزم **التزم** جمله خبر **فُعلي** مبتداء **فعيلة** متعلق بحتم **حُتم** جمله خبر.

**ترجمه:** اسم فَعليّ په وزن باندې په حذف د "ي د فعیلة" او په فتحي د عین سره لازم کړي شوی دی په اسم بر وزن فعیلة کې صحیح العین مضاعف غیر مضاعف کې مثال لکه: حنیفة کې به حنفي وائي بر وزن فَعَلي په حذف د تا او یا د حنیفة سره او ربیعة کې به ربعي وائي، دارنګه اسم بر وزن فُعَليّ لازم کړي شوي دي په اسم بر وزن فُعیلة صحیح العین غیر مضاعف کې په حذف د یا او تا اسم بر وزن فعیلة سره مثال لکه: جُهینة کې جُهَیني وائي او أُمیة کې به أُمَوي وائي لپاره د فرق په ما بین د مذکر او د مؤنث کې او ردیني او نویري په رُدَینة او نُویرة کې خلاف القیاس راغلي دي.

**تشریح:** او که دا فعیلة یا فعَیلة په وزن باندې اسم معتل وو یا مضاعف وو هغه به په خپل حال باندې باقي پاتې کولي شي نو طویلة او جلیلة کې طویلي او جلیلي به وائي او په أُمَیمَة او حُمَیمَة کې به أُمَیمي او حُمَیمي وائي وروسته به راشي، او که اسم فعیل یا فعَیل په وزن باندې

راغلي وو دا په خپل حال باندې باقي پاتې کولي شي نو کريم کې به کريمي وائي او کليب کې به کليبي وائي ثقفيّ په ثقيف کې او هُذَلي په هذيل کې خلاف القياس راغلي دي.

| ٨٦٧- وألحقوا مُعَلَّ لامٍ عريا | من المثالين بما التا أوليا |
|---|---|

**ترکيب:** **معل** مفعول به موصوف **عريا** جمله صفت متعلق محذوف اي عرى من التاء **المثالين** حال از فاعل عرى **بما** متعلق بالحقوا **التا** مفعول ثاني مقدم **اوليا** جمله صله.

**ترجمه:** او ملحق کړې دی عربو په حذف کولو د يا او فتحه ورکولو د عين کلمه کې معتل اللام لره داسې معتل چې هغه وزګار دی د تا نه په حال کون د دي معتل اللام کې چې د دغه دوه مثالونه دي يعنی معتل اللام په وزن د فعيلة او فُعَيلة باندې دي اوس دا چا سره ئي پيوست کړی دی د هغه فَعِيلة او فُعَيلة سره چې تا وروسته بي فصله هغې ته واقع شوي وي مثال لکه: عدي کې عَدوی وائي او قصَي کې به قُصوي وائي، او که دا فعيل يا فعيل صحيح اللام وو هغه به په خپل حال باندې باقي پاتې کولي شي مثال لکه: کريم کې به کريمي وائئ او کليب کې به کليبي وائي او عقيل کې به عقيلي وائي کما مر.

| ٨٦٨- وتمَّموا ما كان كالطويله | وهكذا ما كان كالجليله |
|---|---|

**ترکيب** : **ما** موصوله مفعول به **الطويلة** خبر د کان و **هکذا** خبر مقدم **ما** موصوله مبتداء مؤخر **کالخليفة** خبر د کان، جمله صله.

**ترجمه:** او تمام کړی دی عربو هغه اسم بر وزن فعيلة چې په شان د طويل باندې دي يعنی اجوف نه وي ځکه که اتمام ونکړي يا حذف کړي طَولِيّ به شي واو متحرك ما قبلش مفتوح دي اوس دا اعلال کوي او که نه، او که اعلال کوي بنا د کلمې خرابيږي او که اعلال نه کوي قاعده وجوبي باندې عمل رانغی او دا ندي جائز، او داسې تمام کړي دي هغه اسم بر وزن فعيلة په شان د جليلة باندې دي يعنی د مضاعف نه وي نو جليلة کې به جليلي وائي ځکه که دا تمام نکړي بلکه دا يا د فعيلة ته حذف کړي جَلَلي به شي، اوس يا به ته ادغام کوي يا به ئي نکوي که ادغام کوي بيا وزن خرابيږي او که ادغام نکوي بيا عمل رانغي په قاعده وجوبي باندې دا جائز ندي.

| ٨٦٩- وهمز ذي مدٍّ ينال في النسب | ما كان في تثنيةٍ له انتسب |
|---|---|

**ترکيب:** **همز** مبتداء **ينال** خبر **ما** موصوله مفعول ثاني د ينالُ **کان** صله، ضمير مستتر اسم د کان **تثنية** دا دواړه جار مجرور متعلق دي انتسب پورې **انتسب** جمله خبر د کان.

**ترجمه:** او همزه د هغه اسم چې هغه خاوند د مد ده دا به مومي په وخت د الحاق د يا نسبتي کې هغه حکم چې وو په حالت د تثنيه کې ديته منسوب شوي.

**تشريح:** په دې شان سره که دا همزه زائده لپاره د الحاق وه يا بدل د حرف اصلي نه راغلې وه په دې کې جواز د وجهينو دي. ۱ : علبائي و کسائي. ۲ : علباوي کساوي، او که دا الف زائد وو لپاره د الحاق تانيث بيا واو سره بدلولي شي په وخت د الحاق د يا نسبتي کې مثال لکه: حمراء کې به حمراوي وائي او که دا همزه اصلي وه بيا به په خپل حال باندې باقي پاتې کولې شي مثال لکه: قراء کې به قرائي وائي.

| | |
|---|---|
| ۸۷۰- وانسُب لصدر جملةٍ وصدر | ما رُكِّب مزجاً ولثانٍ تمّما |

**ترکيب:** **او صدر** معطوف على صدر السابق **ما** موصوله **مزجًا** مفعول مطلق بحذف المضاف اي ترکيب مزج، عطف على صدرها **تمما** جمله صفت ثان لپاره.

**ترجمه:** او يا د نسبت پيوست کړه صدر د جملې ته چې جمله علم ګرځيدلي وي او ته هغې ته يو شي منسوب کوي مثال لکه: تابطَ شراً کې تابطي به وائي په حذف د جز ثاني سره مثال لکه: بعلبك کې به بعلي وائي په حذف د جز ثاني سره، او الحاق د يا نسبتي کړه جزء ثاني سره هسې جز ثاني چې دا جز ثاني تمام کړي دي.

| | |
|---|---|
| ۸۷۱- إضافةٌ مبدوءةٌ بابنٍ أو اب | أو ماله التعريف بالثاني وَجَب |

**ترکيب:** **اضافة** موصوف مفعول به مقدم **مبدوءة** حال، صفت **ما** موصوله معطوف على اب **له** متعلق بوجب **التعريف** مبتداء **بالثاني** متعلق تعريف پورې **وجب** جمله خبر.

**ترجمه:** معنى د اضافت لره په داسې حال کې چې دا شروع شوي وي په ابن او اب سره، يا شروع شوي وي په هغه اسم سره چې دي لپاره تعريف د جز ثاني نه واجب شوي وي مثال لکه: ابن الزبير کې به زبيري وائي په حذف د جز اول سره، او ابو بکر کې به بکري وائي په حذف د مضاف سره او په غلام زيد کې به زيدي وائي بحذف المضاف.

| | |
|---|---|
| ۸۷۲- فيما سوى هذا انسُبن للأوّل | ما لم يُخف لبس کعبدِ الأشهل |

**ترکيب:** **في** متعلق بالبسن **ما** موصوله **سوا** صله **ما** مصدريه ظرفيه **لبس** نائب فاعل **کعبد الاشهل** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه:** او خامخا يا د نسبت پيوست کوه جز اول د مرکب اضافي پورې په هغه مرکب اضافي کې چې هغه سوا او علاوه دي د دې درېواړو نه په وخت د عدم خوف د التباس کې مثال د دې لکه: عبد الاشهل شو په دې کې به اشهلي وائي، او عبد الحق کې به حقاني وائي خکه که جز اول پورې متصل شي عبدي به شي بيا دا پته نه لګي چې کوم عبد ته منسوب دي، او که التباس نه راتلو بيا جزء ثاني به حذف کړي جز اول پورې به يا نسبتي متصل کړي مثال لکه:

امرؤ القيس کې به إمرئي وائي، او قيام الدين کې به قيامي وائي لکه مدرسه قياميه قيام الدين حاجي ته منسوب ده، او په نظام الدين کې به نظامي وائي لکه قيام الدين نظامي خپل پلار نظام الدين ته منسوب دي بحذف المضاف اليه، بل مثال د دي لکه فوائد ضيائيه شو د جامي صاحب شرح ده د کافيه دپاسه په شرح جامي سره مشهوره ده او اصلي نوم د هغې فوائد ضيائيه دي هغې خپله شرحه خپل زوی ضياء الدين ته منسوب کړې ده په حذف د جز ثاني او اتصال د يا نسبتي جز اول سره.

| | |
|---|---|
| ٨٧٣- واجبر بردِّ اللام ما منه حُذِف | جوازاً ان لم يكُ ردُّ ألف |

**ترکيب:** **برد** متعلق باجبر **ما** موصوله مفعول به **منه** متعلق بحذف **حذف** جمله صله **جواز** صفت د موصوف محذوف اي جبراً ذا جواز.

**ترجمه:** او جبيره وکړه يعنى اصلاح وکړه ته جوازاً په اعادي د لام کلمي سره د هغه اسم چې حذف کړي شوي وي د دي اسم نه، کچيري نه وو رد د دي حرف محذوف معلوم کړي شوي.

| | |
|---|---|
| ٨٧٤- في جمعي التصحيح أو في التثنيه | وحقُّ مجبورٍ بهذی توفيه |

**ترکيب:** **حق** مبتداء **بهذا** متعلق بمجبور **فيه** خبر.

**ترجمه:** په هغه دوه جمعو د سالم کې چې يو جمع مذکر سالم ده او يو جمع مؤنث سالم ده، يا په تثنيه کې، او حق د هغه اسم چې هغه جبيره کړي شوي وي په دغه اعادي د لام کلمه محذوفه سره په تثنيه او جمع سالم کې هغه پوره کول د هغه دي په وخت د الحاق د "ي" نسبتي کې په اعادي د حرف محذوف سره وجوبًا.

**تشريح:** اسم دی محذوف اللام په هغې پورې الحاق د "ي" نسبتي چې کوي دا اسم به خالي نه وي، يا به دا لام کلمه محذوف په تثنيه او جمع کې معاد کولي شي يا نه که معاد کولي شي بيا اعاده د هغې واجب ده په حين د الحاق د "ي" نسبتي کې مثال لکه: أب او اخ او عم او شج کې به ابوي اخوي عموي او شجوي وائي، ځکه دا حروف محذوف په تثنيه او جمع کې نه معاد کيږي ابوان اخوان عموان او شجيان ويلي کيږي، او که دا په تثنيه او جمع کې نه معاد کې ده بيا اعاده د هغې جائز ده په وخت د الحاق د "ي" نسبتي کې مثال لکه: يد او دم او غد کې يَدوی او دَمَوي او غَدوی وائي په اعادي د "ي" محذوفه سره، او که يدي او دمي او غدي وائي بې د اعادي د واو محذوف نه دواړه جائز دي لکن اعاده اولى او افصح ده د عدم اعادي نه.

| | |
|---|---|
| ٨٧٥- وبأخٍ أختاً وبابنٍ بنتاً | ألحِق ويُونسُ أبى حذف التا |

**ترکيب:** **باخ** متعلق بالحق **اختا** مفعول به مقدم **بابن** عطف على معمولي عامل واحد **يونس** مبتداء

ابن جمله خبر حذف التا مفعول به.

**ترجمه:** او پیوست کړه ته په وخت د الحاق د یا نسبتي کې اخ سره اخت او ابن سره بنت او یونس بن حبیب استاذ د سیبویه انکار کړی دی د حذف کولو د ت د اخت او بنت نه په وخت د الحاق د یا نسبتي کې.

**تشریح:** په دې اخت او بنت پورې چې الحاق د یا نسبتي کوي په دې کې دوه مذهبه دي ۱: مذهب د خلیل او د سیبویه دي ۲: مذهب د یونس دي، خلیل او سیبویه وائي دا "ت" حذف کولې شي او لام کلمه معاد کولې شي په حین د یا نسبتي کې اخوي او بنوي به وائي، او یونس نحوي وائي حذف د تا جائز نه دي بلکه دا یا نسبتي به ملحق کوي په دې پورې اختي او بنتي به وائي بې د اعادې د محذوف نه لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د مذکر د مؤنث سره په صورت د حذف د "ت" کې.

| ثانیه ذولینٍ کلا ولائي | ۸۷٦- وضاعفِ الثاني من ثنائي |
|---|---|

**ترکیب:** **الثاني** مفعول به **من** حال از مفعول به **ثنائي** موصوف **ثانیه** مبتداء **ذولین** خبر بیا جمله صفت **کلا** خبر مبتداء محذوف.

**ترجمه:** دوچند کړه ته دویم حرف لره د هغه اسم دوه حرفیز نه، چې دویم د هغې خاوند د حرف علت وو مثال د دې لکه: لاشو دا یو سړي لپاره علم وګرځیده اوس دیته چې نسبت کوي یو بل الف ورسره زیاتوي بیا ستا خوښه ده چې دا دویم الف واو سره بدل کړې نو لاوِي اووایه، او که همزې سره ئې بدل کړې لائي وایه.

**تشریح:** یو اسم دې ثنائي وضعًا چې د هغې په اخیر پورې چې ته الحاق د "ي" نسبتي کوې دا دویم حرف د دې اسم ثنائي به خالي نوي یا به حرف علت وي یا به صحیح وي که حرف علت وو بیا به خالي نوي یا به الف وي، یا به "ي" وي یا به واو وي، که الف وو مثال لکه: لاشو د هغې تضعیف واجب دي بیا هغه دویم الف همزه سره بدلوه الحاق د یا نسبتي کوه لائي اووایه، یا واو سره بدلوه الحاق د یا نسبتي کوه لاوِي اووایه، او که واو سره وو مثال لکه: لو شو د هغې تضعیف او ادغام واجب دي نو په دې لو کې لَوِي اووایه، اوو که حرف علت یا وو مثال لکه کې شو د هغې فتحه او تضعیف بیا ابدال د یا مزیده واو سره واجب دي نو په دې کې به لیوي وائي په حین د الحاق د یا نسبتي کې، او په دې لااو لو او کې الحاق د یا نسبتي هله جائز دي چې دا علم وګرځوو، و الا فلا یجوز الحاق یاء النسبة، او دا ثاني حرف صحیح وو بیا په هغې کې تضعیف او عدم تضعیف دواړه جائز دي مثال لکه: کم شو دا چا لپاره علم وګرځوي په وخت د

الحاق د يا نسبتي کې کمي او کمي بالتخفيف و التشديد دواړه جائز دي.

| | |
|---|---|
| ۸۷۷- وإن يكن كشِيَةٍ ما الفا عدم | فجبرُهُ وفتحُ عينيه التزم |

**ترکیب: كشية** خبر د يكن ما موصوله، اسم د يكن **الفا** مفعول به مقدم **عدم** جمله صله **فجبرُه** مبتداء **التزم** ۱ : ضمير مستتر هو راجع جبره او فتح عينه ته په تاويل د مذكور سره. ۲ : يا دا خبر واقع شوي دي جبرهُ لپاره او فتح عينه لپاره خبر محذوف دي التزم.

**ترجمه:** کچیري وو هغه اسم دوه حرفيز چې ورکه کړي ده دغه اسم فا کلمه لره، هغه په شان د شية باندې دي په حذفيت د فا کلمه او په عوض راوړلو د تا کې سره د حرف علت لام كلمه نه يعنى فا کلمه حذف شوې ده او تا د هغې په عوض کې په اخير کې راوړي شوي ده او لام کلمه حرف علت دي، پس جبيره ګرځول او پوره کول د هغه نقصان په اعادي د واو محذوفه سره او فتحه د عين د ده لازم کړي شوي ده په وخت د الحاق د يا نسبتي کې.

**تشريح:** اسم دي محذوف الفاء د هغې په اخير پورې الحاق د يا نسبتي چې کوي دا اسم به خالي نوي يا به صحيح اللام وي يا به معتل اللام وي که صحيح اللام وو بيا اعاده د محذوف ته شي کولي په حين د الحاق د "ي" نسبتي کې نو عدة او صفة کې به عدِي او صفي وائي، او که معتل اللام وو بيا اعاده د محذوف واجب ده سره د فتحي د عين کلمي نه نو شية کې به وِشَوِي وائي.

| | |
|---|---|
| ۸۷۸- والواحد اذکر ناسباً للجمع | إن لم يشابه واحداً بالوضع |

**ترکیب: الواحد** مفعول به مقدم **ناسيًا** حال از فاعل **للجمع** متعلق بناسيًا **واحدًا** مفعول به **بالوضع** متعلق بيشابه.

**ترجمه:** او ذکر کړه ته واحد لره په وخت د الحاق د يا نسبتي کې په داسې حال کې چې ته هيرونکې يې جمع لره، په دي شرط سره کچيري نه وه دا جمع مشابه واحد سره وضعًا دا جمع به ورانه کړي مفرد به ترې نه جوړ کړي بيا به الحاق د "ي" نسبتي وکړي مثال لکه: فرائض کې فَرَضِي وائي، او عراقين کې به عراقي وائي، او رجال کې به رجلي وائي، او که دا جمع مشابه وه مفرد سره وضعًا د دي صورتونه دري دي. ۱ : هغه دي چې مفرد ورله شته دي لکه انصاري شو. ۲ : يا مفرد ورله نشته دي لکه عباريد شو. ۳ : يا مفرد ورله شته دي لکن دا خلاف القياس راغلي دي لکه محاسن شو دا جمع د حسن ده خلاف القياس، يا اسم جمع وو لکه قوم شو د هغې په اخير پورې دا "ي" نسبتي متصليږي دا نه رد كيږي مفرد خپل ته.

| | |
|---|---|
| ۸۷۹- ومع فاعلٍ وفعّالٍ فعِل | في نسبٍ أغنى عن اليا فقبِل |

**ترکیب: مع** حال از ضمير مستتر في اغنى **فعل** مبتداء **نسب** متعلق باغنى **فقبل** ضمير مستتر

نائب فاعل.

**ترجمه**: فَعِل او فعّال سره د فاعل نه په نسبت کې دا بې پرواهي راوړي د الحاق د "ي" نسبتي نه ځکه دا صيغه په خپله دلالت کوي په نسبت باندې او دغسې دلالت په نسبت باندې قبول کړي دي عربو مثال د اسم بر وزن فاعل نسبت لپاره لکه: لابن او تامر شو په معنى د ذو لبن او ذو تمر سره، او فعال په وزن باندې اسم نسبت لپاره راځي غالبًا په حرفت کې مثال لکه: عواج شو بمعنى صانع العاج او بائع العاج، او بزاز بمعنى بائع الثوب او عطار او حداد شو او مثال د اسم بر وزن فَعِل نسبت لپاره لکه: رجل لبس او رجل طَعِم شو اي ذي طعام و لباس، و كما في قول سيبويه:

لستُ بليلِي و لكني نهر    لا أُدلج الليلَ و لكن ابتكر

اي ولكني نهاري اي عامل بالنهار دلته نهر په معنى د نهاري سره دي الحاق د يا نسبتي ته ضرورت نشته دي لكن دغه اوزان په نسبت کې سماعي دي موقوف دي په سمع د عربو پورې، و لا يُقاس عليه غيره.

| | |
|---|---|
| ۸۸۰- وغير ما أسلفته مقرّراً | على الذي يُنقلُ منه اقتصرا |

**ترکیب**: غير مبتداء ما موصوله اسلفته صله مقررا حال از مفعول به على متعلق باقتصر يُنقل صله منه متعلق بينقل اقتصرا جمله خبر.

**ترجمه**: او غير د هغه قواعدو نه چې مخکې بيان کړي دي ما په حال کون ځما کې چې زه هغه پوره بيانوونکى يم، يا پوره بيان ګړي دي ما مخکې په نسبت کې هغه بنا کړي شوي دي په هغه شي باندې چې هغه نقل کولي شي د عربو نه و لا يقاس عليه غيره، مثال د نسبت چې خلاف القياس راغلي دي لکه بِصري او دُهري او مروزي شو بزيادة الزاء منسوب بسوى البصره، و الدهر و المروَ او د قياس تقاضا دا ده چې بَصري او دَهري او مَروي اووائي، دارنګه طائي په طي کې او رازي په رَي کې او بدوى په بادية کې او عَبقَسي او عَبدري په عبد القيس او عبد الدار کې او عبشمي په عبد الشمس کې او هُذلي په هُذيل کې او سقفي په سقيف کې او رُديني په رُدَينة کې، دا ټول شاذ دي خلاف القياس راغلي دي او سماعي دي او موقوف دي په سمع د عربو پورې و لا يُقاس عليه غيره. دارنګه بل مثال د دي لکه ثُلاثي رُباعي او خُماسي شو چې دا منسوب دي ثلاثة او اربعة او خمسة ته خلاف القياس يقتضي ان تقولَ ثلاثي و خمسي و اربعي، دي سره يو اعتراض هم دفع شو.

**سوال** ثلاثي او رباعي او خماسي دا به خالي نه وائي يا به منسوب وائي ثلاثة اربعة خمسة ته، يا

به منسوب وائي ثلاث رباع خماس ته كه ثلاثة او اربعة او خمسة ته منسوب وائي دا نسبت نه دي صحيح ځكه هغه راځي ثلاثي اربعي خمسي، بيا دا نسبت خو صحيح دي لكن بيا دا صادق نشو په خپل افرادو باندې د دينه ټول افراد خارج شو مثال لكه: زيد شو ديته ثلاثي نشي ويلي ځكه ثلاثي منسوب دي ثلاثُ ته او ثلاثُ دري دري ته وائي، او په زيد كې دري دري نشته دي، دارنګه جعفر ته رباعي نه شي ويلي، ځكه رباعي منسوب دي رباع ته او رباع څلور ته وائي، اوس په جعفر كې څلور څلور كوم دي چې ته ورته رباعي وائي، دارنګه سفرجل ته خماسي نشي ويلي ځكه خماسي منسوب دي خُماس ته او خُماس پنځه پنځه ته وائي او خماسي هغه كلمي ته وائي چې په هغې كې پنځه پنځه حرفه وي ځكه دا منسوب دي خُماس ته، اوس سفرجل كې پنځه پنځه حرف چيرته دي چې ته ورته خماسي وائي؟

**جواب** ثلاثي منسوب دى ثلاثة ته او رباعي منسوب دى اربعة ته او خماسي منسوب دي خمسة ته، او دغسې راغلي دي خلاف القياس او د قاعدي تقاضا دا ده ثلاثي او اربعي او خمسي ويلي شي.

## الوقف

وقف په لغت كې حبس او بندولو ته وائي او په اصطلاح كې: قطعُ النطقِ عند آخر الكلمة ته وائي.

| | |
|---|---|
| ۸۸۱- تَنْوِيناً أَثْرَ فَتْحٍ اجْعَلْ أَلِفَا | وَقْفَاً وَتِلْوَ غَيْرِ فَتْحٍ احْذِفَا |

**تركيب:** **تنوينًا** مفعول اول **اثر** ظرف متعلق باجعل **الفا** مفعول ثاني. ۱ : مفعول له. ۲ : منصوب بنزع الخافض ۳ حال بمعنى الواقف **فتح** مفعول به مقدم لاحذف **احذفا** الالف بدل من النون التاكيد للوقف.

**ترجمه:** تنوين داسې تنوين چې واقع شوى وي وروسته د فتحي نه وګرځوه ته دغه تنوين لره الف په حالت د وقف كې او هغه تنوين چې واقع كيږي وروستو د غير فتحي نه هغه خامخا حذف كړه.

**تشريح.** ۱ : نو جاءني زيد او مررت بزيدٍ كې جاءني زيدْ و مررت بزيدْ ووايه په حالت د وقف كې او رايتُ زيداً كې رايتُ زيدا ووايه په حالت د وقف كې په ابدال د تنوين بالالف سره. ۲ : او بعضې عربو نه لكه ربيعه قبيله شوه هغوى وقف كوي په حذف د حركت سره رايتُ زيدْ وائي په شان د مرفوع او مجرور منون. ۳ : او ځني خلك وقف كوي په ابدال د تنوين هغه حرف علت سره چې هغه موافق دي حركت د حرف اخير سره جاءني زيد كې جاءني زيدو وائي او رايتُ زيدا كې رايت زيداً وائي او مررتُ بزيد كې مررتُ بزيدي وائي.

| | |
|---|---|
| ۸۸۲- وَاحْذِفِ لِوَقْفٍ فِي سِوَى اضْطِرَارِ | صِلَةَ غَيْرِ الْفَتْحِ فِي الإِضْمَارِ |

**تركيب:** **لوقف في سوى** دا دواړه متعلق دي احذف پورې **صلة** مفعول به **في الاضمار** متعلق بصلة.

**ترجمه:** او حذف كړه د وجې د وقف نه ماسوا د ضرورت شعري كې هغه حرف علت ساكنه چې

هغه متصل شوي وي هغه حرکت سره چې غير د فتحې نه وي په ضمير کې.

**تشريح:** او که فتحې سره متصل شوي وي بيا په حالت د وقف کې وقف کولې شي په الف سره نو رايته او مررت به کې چې وقف کوي رايتهٗ او مررت بهٗ اووايه په حذف د يا او واو سره او رايتُها کې وقف کوه په دغه الف سره، او ضرورت شعري د وجې نه وقف کولې شي په حرکت باندې کما في قول الشاعر: کأن لونَ ارضه سماؤُه او که په نثر کې راغلي وي سماؤه به وائي په حذف د حرکت سره.

| | |
|---|---|
| ۸۸۳- واشبهتْ إذًا منوَّنًا نُصِبْ | فالفًا في الوقفِ نُونُها قُلِبْ |

**ترکيب:** اذن فاعل **منونًا** موصوف مفعول به **نصب** جمله صفت **فالفًا** مفعول ثاني مقدم **في الوقف** متعلق بقلب **نونها** مبتداء **قلب** ضمير مستتر هو راجع الى نونها هغه نائب فاعل مفعول اول، جمله خبر.

**ترجمه:** او مشابه دي نون د اذنٗ د چا سره مشابه دي د تنوين د هغه اسم منون سره چې هغه منصوب کړی شوي دي، پس نون د اذن بدلولي شي الف سره په حالت د وقف کې مثلاً اذن دي وقف چې کوي اذا به وائې که دا په نون سره ليکلي وو لکه دلته کې چې ليکلي دي بيا په حالت د وقف کې دا نون به په الف سره بدل کړې إذا به وائي او که په الف سره ليکلی وو لکه قرآن کې چې ليکلي دي بيا به په حالت د وقف کې دا تنوين حذف کوي وقف به کوي په الف باندې اذا به وائې

| | |
|---|---|
| ۸۸٤- وَحَذفُ يَا المَنقُوص ذِي التنوِينِ -مَا | لَمْ يُنصَبَ- أوْلَى مِنْ ثُبُوتٍ فَاعْلَمَا |

**ترکيب:** **حذف** مبتداء **يا** موصوف **ذي** صفت **ما** مصدريه ظرفيت **ينصب** نائب فاعل ضمير مستتر **اولى** خبر **ثبوت** متعلق باولى **فاعلما** الالف بدل من نون التاکيد للوقف.

**ترجمه:** او حذف د "ي" د اسم منقوص چې هغه خاوند د تنوين وي لکه قاضٍ شو په وخت د عدم منصوب والي د ده کې يعنی مرفوع يا مجرور وي دا حذف اولى او غوره دي د ثابت کولو دي "ي" نه خامخا ته پوهه شه په دې خبره باندې.

**تشريح:** نو جاءني قاضٍ او مررت بقاضٍ کې وقف وکړه په حذف د يا سره او رايت قاضيًا کې چې دا يا منصوب منون دي وَقف کوه بالالف رايت قاضيا اووايه. ۲: اولى من ثبوت نه معلومه شوه چې وقف په ابقاء د "ي" سره هم جائز دي کما في قوله تعالى: ﴿ولکل قوم هادي﴾ ﴿ومالهم من دونه من والي﴾ على قراءةٍ لکن دا مرجوح دي، دا خو حکم د منقوص منون شو اوس حکم د منقوص غير منون څه دي هغه اوس بيانوي په دې نظم کې.

| | |
|---|---|
| ۸۸٥- وَغَيْرُ ذِي التَّنوِينِ بِالعَكسِ، وَفِي | نَحْو مُرِ لُزُومَ رَدّ اليَا اقتُفِي |

**ترکيب:** **غيرُ** مبتداء **بالعکس** خبر **وفي** متعلق باقتفی **لزوم** مضاف مبتداء **اقتفي** جمله خبر.

**ترجمه:** او هغه اسم منقوص چې نه وي خاوند د تنوين دا بالعكس دي خاوند د تنوين نه مثال لكه: جاء القاضي و مررت بالقاضي و رايتُ القاضيَ. ۱ : په حالت رفعي او جري كې وقف كولي شي په بقا د يا سره. ۲ : او وقف په حذف د يا سره هم جائز دي كما في قوله تعالى : ﴿هو الكبير المتعال لينذر يوم التلاق﴾ على قراءةٍ لكن دا مرجوح دي راجح هغه اول دي، او په حالت د نصب كې وقف به كوې په سكون سره مثال لكه: رايتُ القاضي كې رايتُ القاضي وايه، او لازم والي د بيرته راګرځول د "ي" د هغې تابعداري كړي شوي ده په مثل د مُرِ اسم فاعل كې مراد په دي سره هر هغه اسم دي چې د هغې عين كلمه يا فا كلمه حذف شوي وي او د هغې په اخير كې "ي" راغلي وي لكه مُرِ او يَفِي شو دا چا لپاره علم وګرځوي يَفِ به شي بيا وقف چې كوي وقف به كوي په اعادي د "ي" محذوفه سره لپاره د دي چې لازم نه شي كثرت د حذف.

| | |
|---|---|
| ۸۸٦- وَغَيْرَهَا التَّأْنِيْثِ مِنْ مُحَرَكِ | سَكِّنْهُ أَوْ قِفْ رَائِمَ التَّحَرُّكِ |
| ۸۸۷- أو أشْمِمِ الضَّمَّةَ، أوْ قِفْ مُضْعِفَا | مَا لَيْسَ هَمْزاً أَوْ عَلِيْلاً إِنْ قَفَا |

**تركيب:** وغير مفعول به على شريطة التفسير، **ها:** مضاف، **التانيث** مضاف اليه **من محرك** متعلق بسكن **دائم التحرك** حال از فاعل قف **اشمم** معطوف على قف **الضمه** مفعول به.

**ترجمه:** او هغه اسم چې بې د تاى تانيث سره دي د متحرك نه هغه لره په حالت د وقف كې خالص ساكن كړه يا وقف وكړه په حال كون ستا كې چې ته قصد كوونكې يې زور حركت لره يا اشمام كوه د ضمه.

**تركيب:** **مضيفا** حال از ضمير قف **ما** موصوله مفعول به لقف **همزا** خبر د ليس **قفا** ضمير راجع الى ما ليس همزاته **متحركا** مفعول به.

**ترجمه:** يا وقف وكړه په حال كون ستا كې چې ته تضعيف كوونكي يې په هغه اسم كې چې د هغه اسم په اخير كې همزه نوي او د هغه په اخير كې حرف علت نوي كچيري وقف دي كولو د دي ليس همزاً او عليلاً په حال كون د ده كې چې متحرك وي ما قبل د ده نه.

**تشريح:** يو اسم دى د هغې حرف اخير متحرك دى په هغې كې چې ته وقف كوي دا حرف اخير به خالي نه وي يا به تاى تانيث وي يا به غير وي كه تاى تانيث وو وقف په هغې كې كولي شي په سكون سره دا وروسته راشي او كه تاى تانيث نه وه بيا په دې متحرك كې وقف كولي شي په پنځه طريقو سره. ۱ : په تسكين سره دا كثير شائع دي په استعمال د كلام د عربو كې مثال لكه: جاءني عمرُ كې جاءني عمرْ وايه. ۲ : وقف كولي شي په روم سره چې اشاره كول دي حركت ته په صوت خفي سره. ۳ : وقف كولي شي په اشمام سره فقط په ضمه كې نه په فتحه او كسره كې

ځکه دلته مرا د اشمام نه اشمام وقفي دی نه اشمام صرفي، اشمام وقفي عبارت دي انضمام د شفتينو نه بعد الاسکان او په مينځ کې نرې سورې پرېږدي د هغې نه ساه ورځي ليدونکی سړي ته دا پته لګي چې په انضمام د شفتينو سره دي حرکت مضمومه اراده کړې دی نه اعمی ته او انضمام د شفتينو نه راځي مګر په ضمه کې راځي ځکه دا وقف بالاشمام مختص دي په ضمه پورې په فتحه او په کسره کې نه راځي. ٤ : وقف کولي شي په تضعيف او په تشديد سره او دا وقف بالتشديد مشروط دي په شروط ثلاثه ؤ سره. ١ : همزه به نه وي لکه خطا شو. ٢ : حرف علت به نه وي لکه فتی شو. ٣ : ما قبل به ساکن نه وي بلکه متحرك به وي مثال د منفي لکه حمل شو، اوس دا دري شرطونه په يوه کلمه کې موجود شي په هغې کې وقف کولي شي په تضعيف د حرف اخير د متحرك سره مثال لکه: قل هو الله احد الله اکبر، جعفر او خالد شو.

٥ : وقف کولي شيْ په نقل د حرکت سره دا په نظم کې بيانوي.

| | |
|---|---|
| ٨٨٨- مُحَرَّكًا، وَحَرَكَاتٍ انقُلاَ | لِسَاكِنٍ تَحْرِيكُهُ لَنْ يُحْظَلاَ |

**ترکيب**: **حرکات** مفعول به مقدم **انقلا** الالف بدل من نون التاکيد للوقف **لساکن** متعلق بانقل **تحريکه** مبتداء **يحظلا** جمله خبر بيا جمله صفت د ساکن.

**ترجمه**: يا نقل کړه ته په حالت د وقف کې حرکات د موقوف عليه نه چاته نقل کړه هغه حرف ساکن ته چې د هغه تحريك والي بالکل ممتنع نه دي.

**تشريح**: يعنی وقف په نقل د حرکت سره مشروط دی په شرطينو سره. ١ : د دې ما قبل به ساکن وي. ٢ : قابل د حرکت به يي مثال لکه: هذا الضربُ شو په دې کې چې وقف کوي په نقل د حرکت سره هذا الضربْ ووايه، او که ما قبل ساکن نوو بلکه متحرك وو لکه: جعرف شو يا ساکن خو دي لکن قابل د حرکت نه دي لکه: الف شو په باب او انسان کې په دې کې وقف په نقل د حرکت سره جائز ندي.

| | |
|---|---|
| ٨٨٩- وَنَقْلُ فَتْحٍ مِنْ سِوَى الْمَهْمُوزِ لاَ | يَرَاهُ بَصْرِيٌّ، وَكُوْفٍ نَقَلاَ |

**ترکيب**: و **نقل** مبتداء **من** متعلق بنقل **لا** جمله خبر **يراه** مفعول به **بصری** فاعل **کوف** بحذف الياء النسبة للضرورة **نقلا** جمله خبر.

**ترجمه**: او نقل د فتحې د هغه کلمې نه د کومې کلمې نه چې سوا دی د مهموز کلمې نه، وېني دې لره بصريان او کوفيان. لګي دغه فتحه غير د همزه نه هم ما قبل ته نقل کړي.

**تشريح**: وقف په نقل د حرکت سره جائز دي د کوفيانو په نزد باندې مطلقًا برابره خبره ده چې دا حرکت ضمه وي او که فتحه وي او که کسره بيا حرف اخير د دې همزه وي او که بل څه وي او د

بصريانو په نزد باندې وقف په نقل د حرکت سره جائز دي ماسوا د فتحي نه چې دا په مهموز اللام کې نوي راغلي مثال لکه: رايتُ الضربَ کې وقف په نقل د حرکت سره رايت الضرب جائز نه دی ځکه په منون کې لازميږي حذف د الف د تنوين او دا غير منون محمول دي په منون باندې او که دا فتحه مهموز اللام کې راغلي وو بيا وقف په نقل د حرکت سره جائز دي د وجې د ثقل د همزي نه نو رايتُ الخبأَ کې رايتُ الخبأ جائز دي او غوره مذهب د کوفيانو دي ځکه دا دوی د عربو نه نقل کړی دی.

| | |
|---|---|
| ۸۹۰- وَالنقْلُ إنْ يُعْدَمْ نَظِيْرٌ مُمْتَنِعْ | وَذَاكَ فِي الْمَهْمُوزِ لَيْسَ يَمْتَنِعْ |

**ترکيب: النقل** مبتداء **ان يعدم** جمله معترضه **نظير** نائب فاعل **ممتنع** خبر **ذاک** مبتداء **المهموز** متعلق بيمتنع **يمتنع** جمله خبر د ليس، بيا جمله خبر د مبتداء.

**ترجمه:** او وقف په نقل د حرکت سره ممتنع دي که ورکېدلو نظير د دي کلمه په نقل سره او دا وقف په نقل د حرکت سره ما قبل حرف صحيح ساکن ته په مهموز کې نه دي ممتنع.

**تشريح:** يعنی په وقف د نقل د حرکت سره دا کلمه بي نظيره کېدله او داسې وزن باندې جوړيده چې په هغه وزن باندې اسم نه دي راغلي په استعمال د کلام د عربو کې بيا وقف په نقل د حرکت سره جائز ندي که دا حرف اخير همزه نه وه او که همزه وه بيا جائز دي لهذا هذا العلمُ کې هذا العلمْ ويل جائز ندي وقف په نقل د حرکت سره ځکه دا کلمه فعُل په وزن باندې جوړيږي او فعُل په وزن باندې اسم نه دي راغلي په استعمال د کلام د عربو کې کې او هذا الردءُ کې هذا الردءْ جائز دي وقف په نقل د حرکت سره اګر که دا کلمه بي نظيره کيږي د وجې د ثقل د همزي نه، دارنګه ﴿شٰهِدِيْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ﴾ کې بالکفر ويل جائز ندي وقف په نقل د حرکت سره ځکه دا کلمه فُعِل وزن باندې جوړيږي او اسم فعِل په وزن باندې چيرته نه دي راغلي په استعمال د کلام د عربو کې.

| | |
|---|---|
| ۸۹۱- فِي الوَقْفِ تَا تَأْنِيْثِ الاسْمِ هَا جُعِلْ | إنْ لَمْ يَكُنْ بِسَاكِنٍ صَحَّ وُصِلْ |

**ترکيب : في الوقف** متعلق بجعل **تا** مبتداء **ها** مفعول ثاني مقدم **جُعل** جمله خبر **بساکن** متعلق بوصل، موصوف **صح** جمله صفت **وُصِل** جمله خبر د يکن.

**ترجمه:** تای تانيث اسم ګرځولی شوي ده ها په حالت د وقف کې په دي شرط سره کچيري نه وه دا تای تانيث حرف ساکن صحيح سره پيوست کړی شوي.

| | |
|---|---|
| ۸۹۲- وَقَلَّ ذَا فِي جَمْعِ تصحيح وَمَا | ضَاهَى وَغَيْرُ ذَيْنِ بِالعكْسِ انْتَمَى |

**ترکيب: ذا** فاعل في جمع متعلق **بقل ما** موصوله **ضاهی** صله **غير** مبتداء **بالعکس** متعلق بانتمی

التعي جمله خبر.

ترجمه: او کم دي بدلول د "ت" "ها" سره په حالت د وقف کې په جمع مؤنث سالم کې او په هغه جمع کې چې هغه مشابه وي د جمع صحيح حقيقي سره لکه اولات شو دا جمع د ذاتُ دي دينه اسم جمع وائي او غير د دي دواړو نه هغې ته د عکس نسبت شوی دی.

تشريح: يو لفظ دی په هغې کې تای تانيث راغلی دی ته چې په هغې کې وقف کوي څنګه به کوې؟ دا ما فيه تاء التانيث به خالي نه وي يا به فعل وي يا به اسم وي يا به حرف وي، که فعل او حرف وو په هغې کې وقف کولي شي په تای ساکنه سره هند قامتْ، او رُبتْ او ثُمتْ به وائي په قامت او ربتَ او ثمتَ کې او که دا ما فيه تاء التانيث اسم وو بيا به خالي نه وي يا به ما قبل د تای تانيث حرف صحيح ساکن به وي يا به داسې نه وي که ما قبل حرف صحيح ساکن وو بيا وقف بالتاء کولي شي په حذف د حرکت سره مثال لکه: اخت او بنت شو د دينه علاوه نور ځايونو کې وقف بالهاء کولي شي دا په حالت د وقف کې ها سره بدليږي مثال لکه: قد قامتِ الصلاةُ کې چې ته وقف کوي قد قامت الصلاهْ به وائي، دارنګه رحمة او عابدة کې به رحمه او عابده به وائي، او جمع مؤنث سالم او ملحقات د جمع مؤنث سالم کې جواز د وجهينو دي. ۱: وقف بالتاء هم جائز دي چې: جاء المسلمات اوائي. ۲ : وقف بالها هم جائز دي چې جاء المسلمات اوائي، لکن وقف بالتا راجح او کثير دي د وقف بالها نه په جمع مؤنث سالم کې او دا وقف بالهاء قليل دي او مرجوح دي، نو مجموعه صورتونه درې شو. ۱ : درې ځايونو کې وقف بالتاء متعين دی. ۲ : جمع مؤنث سالم او د هغې ملحقاتو کې جواز د وجهين دي.

۳ : باقي نور ټول ځايونو کې وقف بالهاء متعين دي.

| | |
|---|---|
| ۸۹۳- وَقِفْ بِهَا السَّكْتِ عَلَى الْفِعْلِ المُعَلّ | بِحَذْفِ آخِرٍ كَأَعْطِ مَنْ سَأَلْ |

ترکيب: بها متعلق بقف على الفعل متعلق بقف الفعل موصوف المُعل صفت بحذف متعلق بمعل کاعط خبر د مبتداء محذوف من موصوله سال صله موصول سره د صلي نه مفعول اول د اعط او مفعول ثاني حذف شوي دي مالاً.

ترجمه: او وقف کوه ته په دي ها د سکتي سره هغه فعل باندې چې هغه کې اعلال کړي شوي وي په حذف د حرف اخير سره مثال لکه: اعط شو په دي کې اعطِه وايه په حالت د وقف کې: ترجمه: ورکوه ته هغه سړي ته چې هغه تا نه سوال کوي، څه شي چې هغه تانه غواړي مفعول ثاني د اعط حذف شوي دي لپاره د تعميم.

| ۸۹٤- وَلَيْسَ حَتْمَاً فِي سِوَى مَا كَعِ أَوْ | كَيَعِ مَجْزُوْمَاً فَرَاعِ مَا رَعَوْا |
|---|---|

**ترکیب:** **ليس** ضمير مستتر راجع ها د سكتي ته اسم د ليسَ **حتما** خبر د ليس **سوى** متعلق بحتما **ما** موصوله **ماكع** صله **مجزوما** حال از يع ماموصوله مفعول به **رعوا** صله عائد محذوف اي الذي رعوه.

**ترجمه:** نه دي دا پيوست كول د ها د سكتي په حالت د وقف كې لازم ماسوا د هغه كلمي نه چې هغه په شان د "عِ" باندې باقي دى على حرف واحد لكه: قِ شو، يا په شان د يَعِ وي په حال كون د دې يع كې چې دا مجزوم كړى شوى دى په حذف د يا سره باقي على حرفين دي چې احدهما زائد او بل اصلي دي په دې كې چې ته وقف كوې عِه او قِه او لم يَعِه او لم يَقِه وايه، او لحاظ ساته په حالت د وقف كې د هغه احكامو يا د هغه قواعدو چې د هغې لحاظ ساتلى دى عربو، لكن در حقيقت كې لكه څنګه چې الحاق د ها د سكته په حالت د وقف كې په غير كې لازم نه دي، دارنګه په دې مثل د عِ او په مثل يع كې هم لازم نه دي بدليل قوله تعالى **ولم اكومن تقِ تول** قراء د ابي د وقف بالهاء نه ذكر كړي دي.

| ۸۹۵- وَمَا فِي الاسْتِفْهَامِ إِنْ جُرَّتْ حُذِفْ | أَلِفُهَا وَأَوْلِهَا الهَا إِنْ تَقِفْ |
|---|---|

**ترکیب:** **ما** مبتداء، موصوف **الاستفهام** صفت **ان جُرت** خبر **الفُها** نائب فاعل **لها** مفعول اول **الها** مفعول ثاني **تقف** جزا د دې شرط محذوف دل عليه الكلام السابق.

**ترجمه:** او ما په استفهام كې مستعمل شي كه چيرې دى مجرور وګرځولي شو په واسطې د حرف جر سره حذف كولي شي الف د ده، الاذا وليَها ذا نحو لماذا جئت لان الفها قد صارت حشواً، و اما قول حسان على ما قام يشتمني لئيم، كخنزير تمرغ في رماده ضرورت شعريه لا يقاس عليه، او واقع كوه ته وروسته د دينه ها د سكتي كچيري تا وقف كولو نحو قوله تعالى **عم يتساءلون** اصل كې عن ما يتساءلون وو بيا كله چې دا عن حرف جر په دې ما استفهاميه باندې داخل شو دا الف حذف شو عن م يتساءلون پاتې شو، بيا په قاعدې د يرملون سره دا نون ميم سره بدل كړو ميم په ميم كې مدغم شو عمَ يتساءلون جوړ شو، اوس په دې كې چې ته وقف كول غواړې عمه اووايه، وقوله تعالى: ﴿فِيمَ أَنْتَ مِنْ ذِكْرَاهَا﴾ اصل كې فيما انتَ وو كله چې دا في حرف جر داخل شو الف حذف شو فيمَ انتَ پاتې شو، بل مثال د دې لكه: حتامَ تسكتُ، الى م تميلُ.

**قاعده** د حرف جر په اخير كې الف وو په صورت د يا كې يُكتب بعد دخولها على ما الاستفهامية الفًا نو په دې الى او حتى كې به الامَ او حتا مَ وليكي.

| | |
|---|---|
| ٨٩٦- وَلَيْسَ حَتْمًا فِي سِوَى مَا انْخَفَضَا | بِاسْمٍ كَقَوْلِكَ "اقْتِضَاءَ مَ اقْتَضَى |

**تركيب**: **ليس** اي ايلاء ما الاستفهامية الهاء في الوقف **في سوى** متعلق بحتمًا **ما** موصوله **انخفضا** صله **باسم** متعلق بانخفض **لك** خبر د مبتداء محذوف **اقتضاء** مفعول مطلق مقدم وجوبًا، **مضاف م** مضاف اليه.

**ترجمه**: او نه دى دا الحاق د ها د سكتي لازم په حالت وقف كې ماسوا د هغه ما استفهاميه نه چې هغه مجرور كړي شوي دي په واسطې د اسم سره او كه ته وائي ماته مثال وښايه چې ما استفهاميه دي مجرور كړى شوى دى په اسم سره او الحاق د ها د سكته په حالت د وقف كې لازم دي دا وائي مثال لكه دا مقوله ستا شوه: اقتضاءَ مَ اقتضَى، **ترجمه**: غوښتل د څه شي غوښتلي دي، اوس په دي باندې چې ته وقف كوي اقتضاءَ مَه اقتضَى به وائي په الحاق د ها د سكتي سره وجوبًا او كه دا مجرور وو په حرف جر سره بيا الحاق د ها د سكتي لازم نه ده په حالت د وقف كې بلكه جائز قدري دي.

| | |
|---|---|
| ٨٩٧- ووصلَ ذِي الهاءِ أجز بكُلِّ مَا | حرك تحريك بناء لَزِمَا |

**تركيب**: **وصل** مفعول به مقدم **الهاء** بدل، عطف بيان، نعت ذي لپاره **ما** موصوله **حرك** صله **تحريك** مفعول مطلق نوعي **بناء** موصوف **لزمًا** جمله صفت.

**ترجمه**: او پيوست كول د دغه "ها" د سكتي په حالت د وقف كې روا كړه ته په هر هغه اسم كې چې هغه متحرك كړي شوي دي په حركت بنائي سره داسې حركت بنائي چې هغه دي اسم سره لازم كړي شوي دي.

**تشريح**: يو لفظ دي مبني على الحركة تا اراده وكړه چې زه وقف كوم په هغې باندې څنګه به وقف كوي دا لفظ به خالي نوي يا به حرف وي يا به اسم وي، كه حرف وو بيا الحاق د "ها" د سكتي جائز دي په حالت د وقف كې مثال د دي لكه: رب كې ربه اووايه او لعل كې لعله وايه او اذهبن كې اذهبنه اووايه، او كه اسم وو بيا به خالي نه وي يا به بنا د ده سره لازم وي يا به عارضي وي، او كه بنا ورسره لازم وو بيا هم دغه حكم دي چې ستا خوښه ده وقف بالسكون كوې او كه وقف بالهاء كوي مثال لكه: كيفَ كې كيفْ وائي، او كه كيفَهْ وائي دواړه ستا لپاره روا دي، او كه دا بنا عارضي وه لكه: قبلُ او بعدُ او اسم د لا لنفي الجنس شو بيا وقف په الحاق د" ها" د سكته سره جائز نه دي.

| | |
|---|---|
| ٨٩٨- وَوَصلُهَا بِغَيْرِ تَحْرِيكِ بِنَا | أُدِيمَ شَذَّ فِي المُدَامِ اسْتُحْسِنَا |

**تركيب**: **وصلها** مبتداء **بغير** متعلق بوصلها **تحريك** مضاف اليه مضاف **بنا** مضاف اليه **أديم** جمله

صفت د تحریك بناء **شذ** خبر **في العد** متعلق باستحسن **استحسنا** معطوف على شذّ بعاطف مقدر.

**ترجمه**: او الحاق د "ها" د سکته په حالت د وقف کې په هغه حرف متحرکه سره چې هغه متحرك وو بغیر د حرکت بنائي دائمي نه شاذ دي لکه: من عل کې من علهْ ووائي، او من بعدُ کې من بعدهْ ووائي دا شاذ دي، او الحاق د "ها" د سکته په هغه حرکت بنائي کې چې حرکت د هغې د ائمي دي مستحسن کړي شوي دي مثال لکه: هو کې هوهْ ووایه او هيَ کې هيَهْ ووایه، کما في قوله تعالى: ﴿وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا هِيَهۡ﴾ اصل کې ما هيَ دي او د دې یا نه چې وروسته کومه ها راغلې ده دا "ها" سکته ده وقف د وجې نه راغلې ده.

| ۸۹۹- وَرُبَّمَا أُعۡطِيَ لَفۡظُ الۡوَصۡلِ مَا | لِلۡوَقۡفِ نَثۡراً وَفَشَا مُنۡتَظِماً |
|---|---|

**ترکیب**: **ربما** حرف تقلیل او ما کافه ځکه دا په فعل باندې داخل شوي دي **لفظ** نائب فاعل - موصوله مفعول ثاني **للوقف** صله **نثرًا** منصوب بنزع الخافض، یا حال بحذف المضاف **فشا** ضمیر مستتر راجع الى اعطاء الوصل ما للوقف **منتظمًا** حال از فاعل فشا.

**ترجمه**: او لږ لږ ورکولې شي لفظ د وصل ته هغه حکم چې هغه ورکړې شوي دي لفظ د وقف ته په نثر کې، او دا ورکول د احکام لفظ د وصل ته احکام د لفظ د وقف دا کثیر شائع دي په داسې حال کې چې ته نظم جوړوونکی یې یعنی په نظم کې، مثال د نثر قوله تعالى: ﴿لَمۡ يَتَسَنَّهۡ وَٱنظُرۡ﴾ اتصال د "ها" د سکتې راغلی دی په حالت د وصل کې، مثال د نظم کقول الشاعر لقد خشیتُ ان اری جدبًا. مثل الحریق وافق القصبًا اوس دلته "ب" د جدب او د قصب مشدد کړي دي په حالت د وصل کې ځکه د دینه وروسته الف د اطلاق راغلي دي وقف په هغې باندې کړي دي، او که وقف بالتشدید دي کړي په اخیر کې به الف نه وو راغلي او دا تشدید حکم د وقف دي دلته راغلي دي په وصل کې.

## الاماله

په علم صرف کې بحث کوي د هغې نه تصرف او تغیر د بل د هغه تصرفاتو او تغیراتو نه چې مصدر صیغه ده د باب افعال نه مائله کول او کږول د یو شي ته اماله دی اماله په لغت کې: وائي لکه عرب وائي امِلتُ الناقةَ عن الطريقِ الى طريقٍ آخر، او په اصطلاح کې دوه قسمه ده.

۱: اماله مرکبه ده چې اماله د الف ده طرف د یا ته په دي شان سره چې نیم الف اوائي او نیم "ي" ووائي سره د امالي د فتحي د ما قبل نه طرف د کسري ته په دي شان سره چې نیمه فتحه ووائي او نیمه کسره.

۲: اماله بسیطه: ده چې هغه اماله د فتحي د ما قبل د تای تانیث او ما قبل د را دي طرف د کسري ته په دي شان سره نیمه فتحه اوائي او نیمه کسره اوائي مثال لکه فتحه د طلحَةُ او د کبرُ شو.

۳: او غرض د امالي نه دوه خبري دي. ۱: تناسب الاصوات او تقارب د اصواتو دي خکه تلفظ په یا او کسره باندې مستغل او منحدر دي او تلفظ په فتحه او الف باندې مستغل متصعد دي او مونږ چې په دي کې اماله وکړه بیا دا فتحه او الف د نمط د کسري او د یا نه وګرځیده په انحدار او په تسغل کې تناسب د اصواتو او تقارب د اصواتو راغي. ۲: مقصد تنبیه او آګاهش دي په اصالت د شي باندې. ٤: او دا اماله لغت د بني تمیم دی او حجازیان اماله نه کوي الأقليلا. ٥: او حکم د اماله جواز دی عند وجود الشرائط والاسباب او اسباب د امالې شپږ دي اوس دی اسباب د امالې بیانوي اول سبب دا دی:

| | |
|---|---|
| ۹۰۰- الأَلِفَ المُبْدَلَ مِنْ يَا فِي طَرَفْ | أَمِلْ كَذَا الْوَاقِعُ مِنْهُ اليَا خَلَفْ |

ترکیب: الالفَ مفعول به مقدم، موصوف المبدل صفت من متعلق بالمبدل یا موصوف طرف صفت كذا خبر مقدم الواقع مبتداء مؤخر منه متعلق بالواقع اليا فاعل د واقع خلف حال من الياء.

ترجمه: مائله کړه ته الف طرف د یا ته داسې الف چې هغه بدل راوړي شوي وي د "ي" نه هسې "ي" چې هغه واقع شوې ده په طرف کې لکه الف د فتٰی او هدٰی شو، او داسې مائله کړه هغه الف لره طرف د "ي" ته چې واقع کیږي د دي الف نه یا خلیفه په یو وخت د اوقاتو کې لکه ملهٰی او د حبلٰی شو، دا الف بدل د "ي" نه دي راغلي او دا "ي" کیږي په تثنیه جوړولو کې.

سوال: او که ته وائي نقض راغی په قفا او عصا باندې خکه تا اوویل واقع کیږي د دي الف نه "ي" خلیفه په یو وخت د اوقاتو کې او د دي دواړو په اخیر کې الف دي او په یو وقت کې د دي مخه دي یا ته په وخت د تصغیر جوړولو کې یا اضافت او شي یا ضمیر د متکلم ته د الف د عصا او قضا یا کیږي عند هذیل و اما عند الجمهور فلا او په دي کې اماله نده جائز؟

جوابه دی جواب کوي:

| | |
|---|---|
| ۹۰۱- دُونَ مَزِيدٍ أَوْ شُذُوذٍ، وَلِمَا | تَلِيهِ هَا التَّأْنِيثِ مَا الْهَا عَدِمَا |

**ترکیب:** **دون** متعلق بخلف **لما** خبر مقدم، **ما:** موصوله **تليه** جمله صله **ها** فاعل **ما** موصوله مبتداء مؤخر **الها** مفعول به مقدم **عدما** جمله صله.

**ترجمه:** بې د زيادت والي نه او بې د شذوذ نه، پس په عصا کې اماله جائز نده ځکه دا الف بدل د "ي" نه ندي راغلي او رجع د دي "ي" ته خو کيږي لکن په سبب د زيادت د يا د تصغير سره کيږي، دارنګه قفا کې اماله جائز نه ده ځکه دا الف بدل د "ي" نه ندي راغلي رجع د دي يا ته کيږي په وخت د اضافت د دي کې يا ضمير متکلم ته على لغة هذيل قفي به وائي لكن دا شاذ دی، او مونږ وايو په دي الف کې اماله جائز ده: ۱ هله چې بدل د يا نه راغلي وي لکه هدی ۲: يا رجع د دې کيږي يا ته بې د واسطي د زيادت او بې د شذوذ نه لکه مرمیٰ او ملهیٰ شو، دا يا کيږي په تثنيه جوړولو کې بې د واسطي د زيادت د "ي" او بي د شذوذ نه، او لپاره د هغه الف چې واقع کيږي وروسته د دې الف نه بې فصله تاء تانيث ثابت ده حکم د هغه الف چې هغې نه وروسته ها معدوم ده يعنى په دې الف کې سبب د اماله موجود وي اماله کولي شي بيا برابره خبره ده چې مجرد عن التاء وي لکه موسى شو، او که متلبس بالتاء وي لکه: فتاة او مرماة شو ځکه دا تا په حکم د انفصال کې ده دا مانع د امالي نه شي ګرځيدلي.

| | |
|---|---|
| ۹۰۲- وَهَكَذَا بَدَلُ عَيْنِ الْفِعْلِ إِنْ | يَؤُلْ إِلَى فِلْتُ كَمَاضِي خَفْ |

**ترکیب:** **هکذا** خبر مقدم **ابدل** مبتداء مؤخر **فلتُ** متعلق بيؤل **كماضي** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه:** دارنګه اماله وکړه ته د الف چې هغه بدل راوړی شوي وي د عين کلمي د فعل نه په دي شرط سره که راجع کېدو دغه فعل په وخت د اسناد د ده کې ضمير مرفوع متکلم يا ضمير مرفوع مخاطب ته فِلتُ وزن ماضي کې بيا برابره خبره ده چې عين کلمه د دي واو وي لکه ماضي د خَف امر حاضر شو چې هغه خِفْتُ راځي بر وزن فِلتُ يا عين کلمه يا وي لکه ماضي د دِن امر حاضر شو چې هغه دِنتُ راځي بر وزن فِلتُ، او که دا فعل په حين اسناد د ده کې ضمير مرفوع متکلم يا مخاطب ته وزن د فُلتُ ته نه راجع کېدلو لکه: قُلتُ او صُلتُ شو بيا اماله جائز نده.

| | |
|---|---|
| ۹۰۳- كَذَاكَ تَالِي الْيَاءِ وَالْفَصْلُ اغْتُفِرْ | بِحَرْفٍ أَوْ مَعْ هَا كَجَيْبَهَا أَدِرْ |

**ترکیب:** **كذاك** خبر مقدم **تالي** مبتداء مؤخر **الفصل** مبتداء **اغتفر** خبر **بحرف** متعلق بالفعل **او مع** معطوف على محذوف اي بحرف وحده **كجيبها** مفعول به مقدم.

**ترجمه:** دارنګه اماله کوه ته په هغه الف کې چې هغه واقع وي وروسته د "ي" نه بي فصله لکه

سيال او بيان کې شو، او فصل په ما بين د يا او د الف کې په حرف سره فقط لکه: شيبان شو يا فصل واحد سره سره د "ها" نه وي معاف کړي شوي دي مثال د دي لکه: أَدِرْ حيبَهَا شو، ترجمه ؛ پريکړه ته گريوان د ده، په دې کې اماله جائز ده ځکه دا ها د وجې د خفا نه کالعدم ده او که احدهما د دي حرفينو نه ها نه وه بيا اماله ممتنع ده د وجې د بعد د الف د يا نه مثال لکه: بيننا شو.

| تَالِيَ كَسْرٍ أَوْ سُكُوْنٍ قَدْ وَلِي | ۹۰۴- كَذَاكَ مَا يَلِيْهِ كَسْرٌ أَوْ يَلِي |
|---|---|

**ترکيب:** **كذاك** خبر مقدم **ما** موصوله، مبتداء مؤخر **يليه** صله **كسر** فاعل **تالي** مفعول به **او سكون** معطوف على كسر **سكون** موصوف **ولى** جمله صفت **كسراً** مفعول به.

**ترجمه:** دغسې اماله کوه په هغه الف کې چې واقع کيږي وروسته د دي الف نه بې فصله کسره لکه عالِم شو، يا واقع وو دا الف وروسته د هغه حرف نه چې هغه حرف واقع وو وروسته د کسري نه مثال لکه کتاب شو، او يا واقع وو دا الف وروسته د هغه حرف نه چې هغه حرف واقع دي وروسته د سکون نه او په تحقيق سره واقع شوي وو دا سکون وروسته د کسري نه مثال لکه: ان يضربهَا کې شو.

**سوال** او که ته وائي دغه ځای کې خو فصل راغلي دي؟ **جواب** دا وائي:

| فَدِرْهَمَاكَ مَنْ يُمِلْهُ لَمْ يُصَدْ | ۹۰۵- كَسْرًا وَفَصْلُ الْهَا كَلاَ فَصْلٍ يُعَدْ |
|---|---|

**ترکيب:** **فصل** مبتداء **كلا** متعلق بيعد **يُعد** خبر، **فدرها** مبتداء اول **من** مبتداء ثاني **يمله** شرط **لم يصد** جزا، **يصد:** شرط او جزا مجموعه خبر د مبتداء ثاني، بيا جمله خبر د مبتداء اول.

**ترجمه:** فصل او جدائي راوستل د "ها" د دي کسرې او د الف په مينځ کې دا په شان د لافصل باندې شميرلي شي او دا ها خلکو فصل نه دي شميرلي پس درهماك لفظ په دي کې چې څوك اماله کوي هغه نشي منع کولي بلکه په دي کې اماله کول جائز دي ځکه دا ها د وجې د خفا نه په منزله د کالعدم ده فصل راغلي دي په حرف واحد سره.

| مِنْ كَسْرٍ أَوْ يَا وَكَذَا تَكُفُّ رَا | ۹۰۶- وَحَرْفُ الاِسْتِعْلاَ يَكُفُّ مُظْهَرَا |
|---|---|

**ترکيب:** **حرف** مبتداء **يكف** خبر **مظهرا** مفعول به، **من** بيان د مظهرا دا هغې پورې متعلق دي يا متعلق دي يکف پورې **كذا** متعلق دي تکف پورې رافاعل.

**ترجمه:** او حرف استعلاء منع کوي مظهر لره د امالي نه اوس هغه مظهر کوم دي؟ چې هغه کسره او يا دي دا مظهر ولي دي ځکه دا ښکاره کړي شوي د ليلونه دي په امالي باندې، او داسې منع کوي لا غير مکسوره امالي لره چې متصل الف سره راشي مخکې د طرف نه نحو:

كرام يا وروسته د طرف نه نحو: حمار.

| ٩٠٧- إنْ كَانَ مَا يَكُفُّ بَعْدُ مُتَّصِلْ | أوْ بَعْدَ حَرْفٍ أوْ بِحَرْفَيْنِ فُصِلْ |
|---|---|

**تركيب:** ما موصوله اسم كان **يكف** صله **بعد** حال از اسم **متصل** خبر د كان **بحرفين** متعلق بفُصل.

**ترجمه:** په دې شرط سره كچيرې وو هغه حرف چې منع كوي د امالې نه وروسته د الف متصل بلا فصل مثال لكه: ناصح شو او يا راغلي وي وروسته د يو حرف نه مثال لكه: واثق شو، يا جدا كړې شوي دغه الف د حرف مستعلي نه په دوه حرفونو سره مثال لكه: مواثيق شو.

| ٩٠٨- كَذَا إذَا قُدِّمَ مَا لَمْ يَنْكَسِرْ | أوْ يَسْكُنْ اثْرَ الْكَسْرِ كالمِطْوَاعِ مِرْ |
|---|---|

**تركيب:** **كذا** متعلق بيسالُ مقدر **ما** مصدريه ظرفيه **ينكسر** ضمير راجع مانع ته **يسكن** عطف بينكسر **اثرا** متعلق بيسكن **المطواع** مفعول به مقدم مِرامر من مار يمير ميرةً بمعنى الطعام.

**ترجمه:** او دغسې منع كوي د امالې نه په هغه وخت كې چې راشي دا حرف استعلاء مخكې د الف نه او په وخت د عدم مكسوروالي د حرف استعلاء كې يا په وخت د عدم اسكان د حروف استعلاء كې وروسته د كسرې نه مثال لكه: مطواع شو په مِر مطواعًا كې: يعنې ډوډۍ وركړه هغه سړي له چې هغه ستا ډير اطاعت كوي.

**تشريح:** حروف استعلاء مجموعه اووه دي خص ضغط قظ او دا حروف يا په حرفينو سره دا مانع د اماله دي كه سبب د اماله كسره وه يا "ي" وه مثال لكه: ناعق او مناشِط شو ځكه لازميږي په دې كې اصعاد پس د انحطاط نه دا موجب د ثقل دي د دې داسې مثال دي لكه سړي د غره ويخ نه د غره سر ته خيژي ديته پيچومي وائي دا سړي ستړي كوي او مقصود زمونږ تخفيف دې په امالې سره. ٢: دارنګه دا حروف استعلاء واقع شي مخكې د الف نه مانع د اماله دي په دې شرط سره چې دا مكسور نه وي او ساكن نه وي وروسته د كسرې نه مثال لكه: صالح او ظالم شو ځكه په دې كې انحطاط دي د استعلاء نه دا هم موجب د ثقل دي د دې داسې مثال دي چې سړي د غره سر نه ښكته بيخ ته راكوزيږي ديته زوړي وائي دا هم سړي ستړى كوي او پښې ړيږي.

**لطيفه:** د خر نه چا تپوس وكړو چې زوړى ښه دي او كه پيچومى ښه دي؟ هغه په جواب كې ووېل د دواړو دې كور وران شي ځكه دا دواړه ناكاره دي نه زوړي ښه دى او نه پيچومى ښه دى.

٣: او كه دا حرف مستعلي واقع شوي وو مخكې د الف نه مكسور وو مثال لكه: طِلاب شو يا ساكن ساكن بعد المكسور وو مثال لكه: مِطواع او اصلاح شو دا مانع د اماله نه دي په دې كې اماله كولي شي. ٤: او كه دا حرف مستعلي واقع شوي وو وروسته د الف نه او فاصل دري حروف راغلي وو مثال لكه: ضربها بسوطٍ شو دا هم مانع د اماله نه دي په دې كې اماله كول جائز دي.

| | |
|---|---|
| ٩٠٩- وكَفُّ مُسْتَعْلٍ وَرَا يَنْكَفُّ | بِكَسْرِ رَا كَغَارِماً لَا أَجْفُو |

**تركيب:** كفُّ مبتداء ولا معطوف على مستعلٍ ينكف خبر بكسر متعلق بينكف كغارخبر د مبتداء محذوف مامفعول به مقدم.

**ترجمه:** او منع كول د حرف مستعلي او منع كول د "را" غير غير مكسوره امالي لره دغه منع د دې دواړو منع كيږي په كسري د "را" سره مثال لكه: غارمًا شو په لااجفو غارمًا كې، ترجمه: زه ظلم نه كوم په قرضداري خپل باندې، دا مثال د "را" مكسوره دي چې واقع شوي ده وروسته د الف نه او مخكې د الف نه حرف مستعلي راغلي دي چې هغه غين دي، بل مثال د دي قوله تعالى: ﴿وَ عَلَىٰٓ اَبۡصَارِهِمۡ غِشَاوَةٌ﴾ شو په دي كې اماله جائز ده، او مثال د " را" مكسوره چې واقع شوي ده وروسته د الف نه او مخكې د الف نه "را" غير مكسوره راغلي ده لكه: دارُ القرار شو، دا "را" مكسوره مانع د مالي ده په دي كې به ته اماله كوي اوس دا مانع د مانع د امالي ولي دي؟ ځكه دا را مكرر ده په مخرج كې نو دا په منزله د دوه حرفو شو اوَ دا كسره په دي كې په منزله د دوو كسرو شوه نو دا يو كسره په مقابل د مانع وي او دا بله كسره سبب د امالي شوه.

| | |
|---|---|
| ٩١٠- وَلاَ تُمِلْ لِسَبَبٍ لَمْ يَتَّصِل | وَالكَفُّ قَدْ يُوْجِبُهُ مَا يَنْفَصِلْ |

**تركيب:** لسبب موصوف يتصل جمله صفت الكف مبتداء ماموصوله فاعل د يوجب ينفصل جمله صله.

**ترجمه:** او اماله مه كوه ته په الف كې د سبب د امالي د وجې نه داسې سبب چې هغه متصل نه وي هغه الف د امالي سره مثال لكه: لزيد مال شو په دي الف د مال كې اماله نه شي كولي د وجې د يا د زيد نه ځكه دا ځانله مستقل كلمه ده، او مانع د اماله كله كله واجبوي دغه منع لره هغه مانع د اماله چې هغه جدا وي د دي الف د امالي نه سره د جداوالي نه هغه دا منع ثابتوي مثال لكه: أتى قاسم كې ته اماله نه شي كولي په الف د اتى كې د وجې د وجود د مانع نه چې هغه قاف د قاسم دي واقع شوي دي وروسته د الف نه اګر كه دا ځانله جدا كلمه ده منع كوي امالي لره.

| | |
|---|---|
| ٩١١- وَقَدْ أمَالُوا لِتَنَاسُبٍ بِلاَ | دَاعٍ سِوَاهُ كَعِمَادَا وَتَلاَ |

**تركيب:** لتناسب دواړه متعلق دي امالوا پورې داع موصوف سواه صفت كعمادًا اي كقولك عمادا تلا معطوف على عماداً.

**ترجمه:** په تحقيق سره اماله كړې ده د وجې د تناسب نه د هغه الف سره چې هغه مخكې راغلي دي او په هغې كې اماله شوي ده د وجې د وجود د سبب د امالي نه او په دي دويم الف كې اماله بې د بلونكې د امالي نه سوا د تناسب نه ما تقدم الف ممال سره، مثال لكه الف ثاني د عماداً

شو په رايتُ عماداً كې اصل كې رايتُ عماداً وو وقف د وجې نه تنوين په الف سره بدل كړو رايتُ عمادا جوړ شو، اوس په دي اولني الف كې اماله كولي شي د وجې د وجود د سبب د امالي نه چې هغه كسره د عين د عمادا ده او په دويم الف اماله كولي شي محض لپاره د مناسبت د الف مماله سابقه سره د دينه علاوه بل سبب د امالي نه دي موجود.

بل مثال د دي لكه الف د تلا شو په دي قول د الله تعالى كې: ﴿وَالْقَمَرِ إِذَا تَلٰهَا﴾ په دي الف د تلا كې اماله كولي شي اګر كه سبب د امالي ندي موجود په دي كې ځكه دا الف بدل د واو نه راغلي دي محض لپاره د مناسبت د الف مماله سابقه سره چې هغه الف د اذا دي او په هغې كې اماله شوې ده د وجې د كسري د ما قبل نه چې هغه كسره د همزي ده، بل مثال د دي لكه الف د و الضحى شو په دي كې اماله كولي شي اګر كه سبب د امالي نه دي موجود ځكه دا الف بدل د واو نه راغلي دي لپاره د تناسب د امالي د قلى او سجى او په هغې كې اماله شوي ده ځكه دا الف بدل د يا نه راغلي دي او دا سبب د امالي دي.

| | |
|---|---|
| ۹۱۲- "وَلاَ تُمِلْ مَا لَمْ يَنَلْ تَمَكُّنَا | دُوْنَ سَمَاعٍ غَيْرَ "هَا" وَغَيْرَ "نَا" |

**تركيب: ما** موصوله، مفعول به **تمكنا** مفعول به **دون** متعلق بينل **غير** مستثنى **ها** مراد اللفظ مضاف اليه **نا** مراد اللفظ مضاف اليه.

**ترجمه:** او اماله مه كوه په هغه اسم كې چې هغه اسم نه دي موندلي تمكن لره بي د سمع د عربو نه غير د "ها" ضمير مؤنث غائب نه او غير د "نا" ضمير مرفوع متكلم مع الغير نه په دي قول د عربو كې چې مر بها او مر بنا دي، او دا دواړه اګر اسم غير متمكن دي په دي كې اماله كوه قياساً او د دينه سوا په نور اسماء غير متمكنه ؤ كې اماله قياساً نه شي كولي ځكه دا اماله خاصه د اسماء متمكنه ؤ دي.

| | |
|---|---|
| ۹۱۳- وَالْفَتْحَ قَبْلَ كَسْرِ رَاءٍ فِي طَرَفْ | أَمِلْ، كَ"للأَيْسرِ مِلْ تُكْفَ الْكُلَفْ |

**تركيب: الفتحَ** مفعول به مقدم **قبل** متعلق بامل **راءِ** موصوف **طرف** صفت **كللأيسر** اي كقولك، متعلق بمِل **تُكف** مجزوم لانه وقع جواب الامر **الكلف** مفعول ثاني.

**ترجمه:** او اماله كوه ته خالص فتحي لره طرف د كسري ته په دي شان سره چې نيمه فتحه اوائي او نيمه كسره اوائي، چې دا واقع شوي وي مخكې د كسري د "را" نه هسي را چې واقع شوي ده په طرف كې مثال لكه: للايسرِ شو، په مِل للايسرِ تكف الكلف كې، **ترجمه:** ميلان كوه ته طرف د اسانوالي ته، او كه ته مالك شوي طرف د ايسر ته پوره والي به وكړي شي تاته د هغه تكليفونو.

| ٩١٤- كَذَا الَّذِي تَلِيْهِ "هَا" التَّأْنِيثِ فِي | وَقْفٍ إِذَا مَا كَانَ غَيْرَ أَلِفٍ |
| --- | --- |

**ترکیب:** كذا خبر مقدم الذي مبتداء مؤخر تليه صله، ه مفعول به ها فاعل في وقف متعلق بتليه كان ضمير مستتر هو راجع الى الذي تليه اسم كان غيرَخبر د كان.

**ترجمه:** او دغسې اماله جائز ده په هغه فتحه منفرده کې چې واقع کیږي وروسته د دي فتحي منفرده نه متصل بلا فصله تاى تانيثي هغه تاى تانيثي چې ګرځي په حالت د وقف کې ها، په هغه وخت کې چې وو ما قبل د تاى تانيثي نه غير د الف نه بل هر قسم حرف چې وي په دي کې اماله جائز ده مثال لکه: رحمة او قصعة او دحرجة او ضاربة و غيره شو، او که د دي تاى تانيث نه مخکې الف راغلي وو بيا اماله نشي کولي لکه: فتاة او حصاة کې شو، اذا ما كانَ غير الف: سره ئي احتراز وکړو د فتاة او حصاة نه ځکه په دي کې اماله ه ده جائز، كما قال المكوي، لكن غوره خبر دا ده چې اماله کولی شي ځکه دي ناظم مخکې ويلي دي: لما تليه ها التانيث ما الها عدما يعنى مجرد عن التا او متلبس بالتاء دواړه په يو حکم کې دي په جواز د اماله کې.

**سوال:** بيا دي ناظم غير الف ولې ويلى دى؟ **جواب:** دا خبره ده کړې ده لپاره ايضاح د مراد چې دا خبره ښکاره کړي ده چې اماله په فتحه کې قبل تاء التانيث جائز ده او د دي تاى تانيث نه مخکې الف به نه وي ځکه هغه قابل د فتحي نه دي اوس که الف راشي بيا اماله مرکبه جوړيږي نه اماله بسيطه او دلته مراد د امالي نه اماله بسيطه ده چې يواځې فتحه کې اماله وکړي او دا راځي صرف په دوه ځايونو کې. ۱ : فتحه راشي مخکې د را مکسوره نه چې هغه واقع شوي ده په طرف کې مثال لکه: مِنَ الكبَرِ، او للايسَر شو. ۲ : فتحه راشي مخکې د تاى تانيث نه مثال لکه: رحمة او ضاربة شو، جواب د طرف د مکوي نه دا دي: چې هغه ويلي دي په فتاة کې اماله نه ده جائز مراد د اماله منفيه نه اماله مفرده ده نه اماله مطلقًا يعنى تاى تانيث نه مخکې الف راشي اماله مفرده نه ده جائز بلکه اماله مرکبه به کوي.

## التصريف

دا بحث د تصریف دي، او تصريف په لغت کې تغيير ته وائي، او په اصطلاح کې: تحويلُ الاصلِ الواحدِ الى امثلةٍ مختلفةٍ ته وائي، اوس دا اصل واحد عام دي مصدر تغير وکړي ماضي جوړه کړي مضارع جوړه کړي اسم فاعل جوړ کړي، يا مفرد وران کړي تثنيه جوړه کړي او جمع جوړه کړي، يا اسم مکبر نه مصغر جوړ کړي دیته تصریف وائي، او کله تغير په کلمه کې کولې شي لحصول اللفظ بالقلبِ لکه: قال کې، يا بالابدال لکه: أقتت کې، يا بالحذف لکه: قل کې، يا بالادغام لکه: مد کې، نو علم صرف د دوی په اصطلاح کې: علم باصول يعرف بها احوال الابنية الكلم من الزيادة و الاصالة و الصحة و الاعلال و الابدال و غير ذلك.

**سوال:** صاحب د زنجاني د تصریف تعریف کړي دي: تحويل الاصل الواحد الخ. او ته وائي علم باصول يعرف بها الخ، مونږ ته دعلم صرف تعريف معلوم نه شو چې دا دي او که هغه دي؟

**جواب:** د دوی په مینځ کې تناقض نشته دي ځکه هغه تعريف لفظ د تصریف دي او دا تعريف د علم صرف دي نو تصريف لپاره دري معناګاني شوي. ۱: معنی لغوي تغير. ۲: معنی اصطلاحي تحويل الاصل الواحد الخ. ۳: معنی علمي: علم باصول يُعرف بها الخ.

| | |
|---|---|
| ٩١٥- حَرْفٌ وَشِبْهُهُ مِنَ الصَّرْفِ بَرِي | وَمَا سِوَاهُمَا بِتَصْرِيفٍ حَرِي . |

**ترکيب:** حرف مبتداء **من الصرف** متعلق بيری **بری** خبر **ما** موصوله مبتداء **سواهما** صله **بتصريف** متعلق بحري

**ترجمه:** حرف او هغه چې مشابه دي حرف سره هغه متضمن دي معنی د حرف لره يا مشابه دي حرف سره په عدم تغير د اخير کې چې هغه اسماء مبنيه او افعال جامده دي دا بري او خالي دي د تغير او تصرفاتو نه، او هغه الفاظ چې ماسوا د دي حرف او شبه حرف نه دي چې هغه اسم متمکن او فعل متصرف دي دا په تغير سره مناسب دي يعنی په دي دوو کې تغيرات راځي.

| | |
|---|---|
| ٩١٦- وَلَيْسَ أَدْنَى مِنْ ثُلَاثِي يُرَى | قَابِلَ تَصْرِيفٍ سِوَى مَا غُيِّرَا |

**ترکيب:** ادنی اسم ليس **من ثلاثي** متعلق بادنی **يری** خبر **قابل** مفعول ثاني **سوی** استثناء **ما** موصوله **غيرا** جمله صله.

**ترجمه:** او نه ده هغه کلمه چې کمه د ثلاثي نه ليدلي کيږي قابل د تغير سوا د هغه کلمي نه چې په هغي کې تغير کړي وي.

**تشريح:** يعنی کومه کلمه چې بنا د هغي په حرف واحد باندي يا حرفينو باندي راغلي وي په هغي کې تغير او تصرفات جائز نه دي ما سوا د هغه کلمي نه چې بنا د هغي اصل کې په دريو حرفونو باندي ده لکن تغير راغلي دي په هغي کې حرف واحد سره بنا د هغي په حرف واحد

باندې پاتې شوي ده مثال لکه: ق شو په هغې کې تغير او تصرف راځي.

| | |
|---|---|
| ۹۱۷- وَمُنْتَهى اسْمٍ خَمْسٌ اِنْ تَجَرَّدَا | وَاِنْ يُزَدْ فِيْهِ فَمَا سَبْعاً عَدَا |

**ترکیب:** **منتهی** مبتداء **خمس** خبر **فیه** متعلق بیزد **فما** فا جزاء، **ما**: نافیه **سبعًا** مفعول به مقدم **عدا** اي زاد.

**ترجمه:** او منتهی اسم مجرد به پنځه حروف وي، او خاتمه د اسم په پنځه حروفو باندې کیږي په دې شرط سره کچیري وو دا اسم مجرد، او کچیري زیات کړي شوي وو په دې کې نه دې اوړیدلی اسم په اعتبار د حروف زوائد سره د اوه حروفو نه.

**تشریح:** ادنی بنا د اسم دري حرفونه دي او انتهاء او اخیر بنا د اسم اوه حرفونه دي د هغې نه هغه خوا تجاوز نه کوي لکه صاحب د فصول اکبري ویلي دي: و لایتجاوز سبعًا، لهذا داسې اسم په دنیا کې ندی موجود چې هغه به اته حرفونو نه جوړ شوی وي، او داسې اسم هم په دنیا کې نشته چې هغه به دوه حرفونو نه جوړ شوي وي، نو اسم ثلاثي راځي او رباعي راځي او خماسي راځي مثال لکه: زید، جعفر، سفرجل شو، او اسم ثنائي نه راځي او اُحادي نه راځي او سُداسي نه راځي، او ثلاثي مزید کې څلورو پورې حروف زائد راتلي شي او رباعي کې دریو پورې او خماسي کې دوو پورې، و لایتجاوزُ سبعًا.

| | |
|---|---|
| ۹۱۸- وَغَيْرَ آخِرِ الثُّلَاثِي افْتَحْ وَضُمْ | وَاكْسِرْ وَزِدْ تَسْكِيْنَ ثَانِيهِ تَعُمْ |

**ترکیب:** **غیرَ** مفعول به مقدم **تسکینَ** مفعول به **تعُم** مجزوم لانه وقع جواب الامر.

**ترجمه:** او هغه حرف لره چې هغه غیر دی اخیر د حرف ثلاثي نه چې هغه فا کلمه ده یا عین کلمه ده هغه د واو لره فتحه ورکوه یا ضمه ورکوه یا کسره ورکوه او زیاتوه ورسره ساکن کول د دویم حرف د دي ثلاثي چې هغه عین کلمه ده که دا کار وکړي عام به کړي ته اوزان د اسم ثلاثي مجرد لره.

**تشریح:** اوزان د اسم ثلاثي مجرد لس دي او عقل تقاضا د دولسو کوي ځکه دا فا کلمه به خالي نه وي یا به مفتوح وي یا به مضموم وي یا به مسکور وي دا فا کلمه ساکن نه راځي ځکه بیا ابتدا بالساکن راځي او دا محال دي، اوس دا فا کلمه چې مفتوح وي عین کلمه د دي به خالي نه وي یا به مفتوح وي نحو فَرَس یا به مضموم وي نحو: عَضُد، یا به مکسور وي نحو: کَتِف، یا به ساکن وي نح، فَلْس، او که دا فا کلمه مضموم وي عین کلمه به خالي نوي یا به مضموم وي نحو: عنُق یا به مفتوح وي نحو: صرَد، یا به ساکن وي نحو: قفْل، او عین مکسور نه راځي یعنی اسم فُعِل په وزن باندې نه راځي په استعمال د کلام د عربو کې، او که فا کلمه مکسور وه عین کلمه به خالي نوي یا به مفتوح وي نحو: عنَب، یا به مکسور وي نحو: اِبِل، یا به ساکن وي نحو: حِبْر، او عین کلمه مضموم نه راځي یعنی فِعُل په وزن باندې نه راځي په استعمال د

کلام د عربو کې ځکه په دي کې لازميږي خروج د کسري تحقيقي نه ضمه تحقيقي ته دا موجب د ثقل دي دوه لري شو، لس پاتې شو.

| | |
|---|---|
| ۹۱۹- وفعل أهمل، والعكس يَقِلُّ | لِقَصْدِهِمْ تَخْصِيص فِعْلٍ بِفُعِل |

**ترکيب:** **فِعُل** مبتداء **أهمل** خبر **والعكسُ** مبتداء **يقل** خبر **لقصدهم** متعلق بيقل **تخصيصَ** مفعول به **بفُعِل** متعلق بتخصيص.

**ترجمه:** فُعِل وزن په هغه دولس اوزانو کې دا هسي پاتې شوي دي په دي وزن باندې نه اسم راغلي دي او نه فعل راغلي دي او عکس د دي چې هغه فِعُل دي دا خو شته دي لکن کم دي نحو: دُئِل د وجې د قصد کولو د عربو نه تخصيص د دي فُعِل وزن فعل پورې مثال لکه ضُرِب، نُصِر، شو.

| | |
|---|---|
| ۹۲۰- وَافْتَحْ وَضُمَّ وَاكْسِرِ الثَّانِيَ مِنْ | فِعْلٍ ثُلاَثِيَ، وَزِدْ نَحْوَ ضُمِنْ |

**ترکيب:** **الثاني** مفعول به على سبيل التنازع **فعل** حال از مفعول به **نحوَ** مفعول به **ضُمِن** مضاف اليه.

**ترجمه:** فتحه ورکړه ته ثاني حرف لره او ضمه ورکوه ثاني حرف لره او کسره ورکړه ثاني حرف لره د فعل ثاني مجرد نه او زياتوه ته د دغه درې وارو سره مثل د ضُمِنَ هم.

| | |
|---|---|
| ۹۲۱- وَمُنْتَهَاهُ أَرْبَعٌ إِنْ جُرِّدَا | وَإِنْ يُزَدْ فِيهِ فَمَا سِتًّا عَدَا |

**ترکيب:** منتهاه مبتداء **اربع** خبر **فيه** متعلق بيزد **ستا** مفعول مقدم.

**ترجمه:** او انتهاء د بنا د فعل راځي په څلور حرفونو باندې او ابتدا به کيږي د دريو نه کچيري مجرد وو فعل او کچيري زيات کړي شي په دغه فعل کې نه به اواز دا زيات د دي حروف شپږ حرفونو نه.

**تشريح:** فعل په دوه قسمه دى. ۱: ثلاثي. ۲: رباعي، او فعل خماسي نه راځي ځکه ناظم صاحب ويل و منتهاه اربع ان جردا. يعنى د څلور حروف اصلي نه زيات حروف اصلي په فعل کې نه راځي، او په اسم کې پنځو پورې راځي. ۱: السندُ عليه التتبع و الاستقراءُ.

۲: فعل ثقيل وي په اعتبار د معنى سره ځکه مرکب دي د امور ثلاثه ؤ نه چې حدث دي او نسبت دي او زمانه ده اوس دا خماسي هم راشي لازميږي ثقل در ثقل.

۳: فعل ثلاثي او رباعي راځي خماسي نه راځي لپاره انحطاط د فرع د اصل خپل نه ځکه فعل فرع د اسم دي په افاده د فائده تامه کې، او اسم اصل دي ځکه محتاج اليه دي اوس دا فعل هم خماسي راشي بيا مساوات لازميږي په ما بين د اصل او د فرع کې او دا باطل دي.

بيا هر د دي دواړو نه په دوه قسمه دي. ۱: مجرد. ۲: مزيد، او اوزان د ماضي د ثلاثي څلور دي درې د ماضي معلوم. ۱: فَعَل. ۲: فَعِل. ۳: فَعُل نحو: ضَرَب عَلِم کرُم او يو وزن د ماضي مجهول چې هغه فُعِل دي، او د رباعي مجرد وزن يو دي فَعْلَلَ نحو دحرجَ، او ثلاثي مزيد په اعتبار د

زيادت د حروفو سره درې قسمه دي: ۱ : هغه دي چې يو حرف زائد راغلي دی هغه درې بابونه دي. ۱ : باب افعال. ۲ : باب تفعيل. ۳ : باب مفاعله.
دويم قسم هغه دي چې دوه حرفه زائد راغلي دي هغه پنځه بابونه دي. ۱ : باب تفاعل. ۲ : باب تفعل. ۳ : باب افعلال. ٤ : باب انفعال. ٥ : باب افتعال.
دريم قسم هغه دي چې حروف زائد درې راغلي دي هغه څلور بابونه دي. ۱ : باب استفعال. ۲ : باب افعيلال. ۳ : باب افعيعال. ٤ : باب افعوال.
او رباعي مزيد دوه قسمه دي. ۱ : هغه دي چې په هغې کې يو حرف زائد راغلي دي. ۱ : باب تفعلل. ۲ : هغه دي چې په هغې کې دوه حرف زائد راغلي وي هغه دوه بابونه دي. ۱ : باب افعنلال. ۲ : باب افعلال، درې حرف زائد نه زيات نه راځي په فعل ثلاثي کې، او په فعل رباعي کې دوو نه زيات نه راځي لکه دي خبري ته اشاره کړي ده و ان يُزد فيه فما ستًا عدا سرّه لهذا ابتدا د فعل کېږي د دريو نه او انتهاء د فعل راځي په شپږو باندې داسې فعل په خارج کې وجود نه لري چې هغه به د اوه حرفونو نه جوړ شوي وي.
**سوال:** يستخرج فعل دي اوه حرفونو نه جوړ شوي دي ته څنګه وائي: و ان يزد فيه فما ستًا عدا؟
**جواب:** دا سين ځانله مستقل کلمه ده او صيغه د فعل مضارع ځانله صيغه ده دي سين لره په بنا د فعل مضارع کې دخل نشته دي بلکه دا مضارع جوړ شوي دي دَ شپږ حروف نه او ستا اعتراض به هله وارديدلو چې دي سين لره دخل وي په بنا د فعل مضارع کې.

| | |
|---|---|
| ۹۲۲- لِاِسْمٍ مُجَرَّدٍ رُبَاعٍ فَعْلَلُ | وَفِعْلِلٌ وَفِعْلَلٌ وفُعْلُلُ |

**ترکيب:** **لاسم** خبر مقدم **اسم** موصوف **مجرد** صفت اول **رباع** اي رباعي بحذف ياء النسبة صفت ثاني **فعلل** مبتداء مؤخر **فِعْلل** دا ټول عطف دي فعلل باندې.
**ترجمه** :لپاره د اسم رباعي مجرد وزن راځي فَعْلَل الخ، اوس دا بيانوي اوزان د اسم رباعي مجرد او اوزان د اسم رباعي مجرد شپږ دي. ۱ : اسم رباعي مجرد راځي فَعْلَل په وزن باندې لکه: جَعفر شو. ۲ : دا راځي فِعْلِل په وزن باندې مثال لکه: زبن شو. ۳ : دا راځي په فِعْلَل وزن باندې مثال لکه: درهم شو. ٤ : دا راځي په فُعْلُل وزن باندې لکه بُرثُن شو.

| | |
|---|---|
| ۹۲۳- وَمَعْ فِعَلَّ فُعْلَلٌ، وَاِنْ عَلا | فَمَعْ فَعَلَّلٍ حَوَى فَعْلَلِلاً |

**ترکيب:** **مع** حال از ما قبل **فمع** حال از فعلّل آتي **حوی** جزا بتقدير قد **فعللا** مفعول به.
**ترجمه:** ٥: دا راځي فِعَلّ په وزن باندې چې اصل کې فِعْلَل وو مثال لکه: قِمَطر او هِزَبر شو چې اسد ته وائي. ٦: دا راځي فُعْلَل په وزن باندې مثال لکه جَحْدَب او جُنْدَب شو، او که چيرې

اوچت شوی وو دا اسم مجر د څلور حروف نه یعنی خماسي ته رسیدلي وو اوزان د خماسي مجرد څلور دي: دا به مستعمليږي. ۱ : په فَعْلَلِل وزن باندې لکه جحمرش شو. ۲ : سره د فَعَلّلِ وزن باندې لکه سفرجل شو.

| | |
|---|---|
| ۹۲۴- كَذَا فُعَلِّلٌ وَفِعْلَلٌّ، وَمَا | غَايَرَ لِلزَّيْدِ أوِ النَّقْصِ انْتَمَى |

**ترکیب: كذا** خبر مقدم **فعلل** مبتداء مؤخر **ما** موصوله **للزيد** متعلق بانتمى **انتمى** جمله خبر.

**ترجمه:** او دغسې راځي اسم خماسي مجرد په. ۳ : دري وزن د فُعَلِّل باندې مثال لکه: قُذَعْبِل شو. ٤ : او په وزن د فِعْلَلّ باندې راځي مثال لکه: قِرْطَعْب شو، او هغه اوزان چې مغاير راشي د هغه اوزانو نه چې کوم مونږ مخکې ذکر کړه هغه به منسوب کولي شي زياتي او کمي ته مثال د زياتي لکه: استخراج شو، او مثال دَ کمي لکه: يد دم او عُلَبط شو او عُلَبِط او هُدَبِد شو، اصل کې يدو او دمو وو بر وزن فَعَل پشان د فَرَس، او علبط او هدبد اصل عَلابِط او هدابِد وو دا اسم رباعي مزيد دي پس اعتراض وارد نه شو په عدم صحت د حصر د اوزان د رباعي مجرد باندې، او اوزان د اسم ثلاثي مزيد او د رباعي مزيد او خماسي مزيد بيان ئې ونکړو ځکه هغه غير محصور دي.

| | |
|---|---|
| ۹۲۵- وَالْحَرْفُ إنْ يَلْزَم فَأَصْلٌ وَالَّذِي | لاَ يَلْزَمُ الزَّائِدُ، مِثْلُ تَا احْتُذِي |

**ترکیب: الحرف** مبتداء **ان يلزم** شرط **فاصل** خبر د مبتداء محذوف اي فهو اصل، جمله جزا بيا جمله شرطيه خبر **لذي** مبتداء الزائد خبر **مثل** خبر د مبتداء محذوف **تا** مضاف اليه مضاف **احتذى** مضاف اليه.

**ترجمه:** او حرف کچيرته لازم وو د دي کلمي سره هر وخت کې هغه اصلي دي، او هغه حرف چې لازم ندي کلمې سره په دې شان سره کله وي او کله نوي هغه به زائد وي مثال لکه: "ت" د احتذى شوه دا زائد ده ځکه دا لازم نه ده د دي کلمي سره دا "ت" حذف کيږي په حذا يحذُو حذواً کې، مثال د حرف اصلي لکه حا او ذال شو، دا اصلي دي ځکه دا لازم دي د دي کلمي سره په مجرد کې هم راځي او په مزيد کې هم راځي.

**تشريح:** حرف په دوه قسمه دي. ۱ : حرف اصلي. ۲ : حرف زائد، حرف اصلي ديته وائي: يلزم الكلمة او زائد ديته وائي لا يلزم الكلمةَ بلكه کله وي او کله به وي او صاحب د فصول اكبري تعريف د حرف اصلي داسې کړي دي: كه در جميع متصرفات كلمه يافته شود، او د زائد تعريف ئې داسې کړي دي: كه در جميع متصرفات كلمه يافته نشود، د هغې او د دي تعريف مطلب يو دي صرف تعبيري فرق دي، او علامه د حرف اصلي دا ده چې مقابل د فا او عين او لام کې راځي او د زائد علامه دا ده چې مقابل د فا او د عين او د لام کې نه راځي.

| | |
|---|---|
| ٩٢٦- بِضِمنِ فِعْلٍ قَابِلِ الأُصُوْلَ فِيْ | وَزْنٍ وَزَائِدٌ بِلَفظِهِ اكْتُفِيْ |

**ترکیب: بضمن** متعلق بقابل **الاصول** مفعول به **في وزن** متعلق بقابل **زائد** مبتداء **بلفظه** متعلق باكتفى نائب فاعل مقدم او د دي تقديم جائز دي ځکه دا په صورت د فضله کې دي لا يلزمُ الالتباس بتقديمه **اكتفي** جمله خبر.

**ترجمه:** مقابل کړه حروف اصليه ؤ په وزن جوړولو کې هغه حروفو سره چې هغه سره متضمن کيږي لفظ د فعل لره، او دَ حرف زائد پوره والي کړي شوي دي دهغه په خپل لفظ سره يعنى د حرف زائد نه تعبير کولی شي په خپل لفظ سره.

| | |
|---|---|
| ٩٢٧- وَضَاعِفِ اللاَّمَ إذَا أَصْلٌ بَقِي | كَرَاءِ جَعْفَرٍ وَقَافِ فُسْتُق |

**ترکیب: اصل** فاعل فعلٍ محذوف يفسر بعده **كراء** خبر د مبتداء محذوف **فُستُق** اسم شجر.

**ترجمه:** او مکرر کړه ته لام کلمي لره په وزن جوړولو کې په هغه وخت کې چې يو حرف اصلي په دي کلمه کې وروسته د درې حروفو نه باقي پاتې شوی دی هغه به څنګه وي لکه را د جعفر شوه او قاف د فُستُق شو دي لپاره به په وزن کې لام کلمه مکرر کړي جعفر بر وزن فَعْلَل دي او فستق بر وزن فُعْلُل دي په شان د برڅن په تکرار د لام کلمي سره.

**تشریح:** يعنى اسم ثلاثي کې د حروف اصليو نه به تعبير کوي فا او عين او لام سره ځکه حروف اصلي په ثلاثي کې درې دي، او اسم رباعي کې د حروف اصليو نه به تعبير کوي په فا او عين او دوه لامونو سره ځکه حروف اصلي په رباعي کې څلور دي، او اسم خماسي کې د حروف اصليو نه به تعبير کوي په فا او عين او دري لامونو سره ځکه حروف اصلي په خماسي کې پنځه دي فا او عين او دري لامونه.

| | |
|---|---|
| ٩٢٨- وَإنْ يَكُ الزَّائِدُ ضِعْفَ أَصْلِ | فَاجْعَلْ لَهُ فِي الْوَزْنِ مَا لِلأَصْلِ |

**ترکیب: ان يك** شرط **فاجعله** جزا **له** مفعول ثاني **ما** موصوله مفعول اول **للاصل** صله.

**ترجمه:** کچيري و زائد حرف د کلمي څه وو مکرر د حرف اصلي لپاره د الحاق مثال لکه: جَلْبَبَ شو يا لپاره د زيادت د معنى لکه باب تفعيل او باب تفعل شو، پس وګرځوه ته د دي لپاره په وزن جوړولو کې هغه حرف چې هغه ګرځول شوي دي لپاره د حرف اصلي.

**تشریح:** يعنى کوم حرف چې مقابل د فا او عين او لام کلمه کې راغلي وو هغه اصلي دي د هغې نه به تعبير کولي شي په فا او عين او لام کلمي سره، او کوم حرف چې فا او عين او لام کلمه په ځاى نه وو راغلي هغه زائد دي د هغې نه به تعبير کولي شي بلفظه او بنفسه يعنى بعينه هغه حرف زائد سره په وزن کې ماسوا دد ي ځايونو نه. ١ : حرف زائد مکرر راغلي وي لپاره د زيادت د

معنى لكه حرف زائد د باب تفعيل او باب تفعل شو مثال لكه: كرّم او تكرّمَ. ۲ : تا مبدله غير مدغمه د باب افتعال مثال لكه اصطلح شو. ۳ : او حرف زائد مكرر راغلي وي لپاره د الحاق مثال لكه: جلبب شو په دي دري ځايونو كې د حرف زائد نه تعبير بعينه هغه حرف زائد سره نه شي كولي په وزن كې بلكه كوم حرف چې بدل د تا د باب افعال نه راغلي دي د هغې نه به تعبير كولي شي تا د باب افتعال سره په وزن جوړولو كې، په اصطلح كې به افتعل وائي، او كوم حرف چې زائد راغلي دي الحاق لپاره يا د زيادت د معنى لپاره د هغې نه به تعبير كولي شي بما تقدمه سره نحو: كرّم و تكرّم بروزن فعّل و تفعّل و جلبب بر وزن فَعلل دا دري صورتونه مستثنى دي د هغه قاعدي كليه نه، نور هر ځاى كې د حرف زائد نه تعبير كولي شي په وزن جوړولو كې بلفظه او بعينه هغه حرف سره چې په موزون كې مذكور دي مثال لكه: د ضارب وزن څه دې فاعل او د مضروب وزن څه دي مفعول او د مستخرج وزن څه دي مستفعِلٌ د حروف اصليو نه تعبير اوشو په فا او عين او لام سره، او د زائد نه تعبير اوشو بعينه هغه حرف زائد سره.

| | |
|---|---|
| ۹۲۹- وَاحْكُمْ بِتَأْصِيلِ حُرُوفِ سِمْسِمِ | وَنَحْوِهِ وَالْخُلْفُ فِي كَلَمْلِمِ |

**تركيب: بتاصيل** متعلق باحكم **سمسم** شرشمو دانه **نحوه** معطوف على سمسم **الخلف** مبتداء **كلملم** الكاف بمعنى مثل لدخول في الجارة عليه.

**ترجمه:** او حكم كوه ته په اصالت د ټولو حروفو د سمسم او حروف د هغه كلمي چې هغه په مثل د دي باندې دي مراد په دي سره هر هغه اسم دي چې د هغې فا كلمه او عين كلمه مكرر وي او دا حرف مكرر چې ته غورځوي دا قابل د سقوط نه دي، او خلاف ثابت دي په هغه كلمه كې چې هغه د لملم په شانتي ده لكه: لَمْلَم او كفكفٌ شو، دي لپاره اصل په ثلاثي مجرد كې موجود وي او كه په دي كې يو حرف ته غورځوي ته غورځولي شي په دي كې خلاف دي. ۱ : څوك وائي دا ټول حروف اصلي دي ځكه دا ځانله مستقله كلمه ده په شان د زَلْزَل باندې مضاعف رباعي دي او امر صيغې دي د لَمْلم او كفكف نه دا ندي ماخود د كفّ او د لمّ نه. ۲ : څوك وائي دا يو حرف زائد دي ځكه دا ماخوذ دي د لمّ او د كفّ نه. ۳ : څوك وائي دا دويم لام په لملم كې او دويم كاف په كفكف كې بدل راغلي دي يو د متضاعفين نه ځكه دا اصل كې لَمَّم او كفّف وو.

| | |
|---|---|
| ۹۳۰- فَأَلِفٌ أَكْثَرَ مِنْ أَصْلَيْنِ | صَاحَبَ زَائِدٌ بِغَيْرِ مَيْنِ |

**تركيب: فالف** مبتداء موصوف **اكثر** مفعول به مقدم **صاحبَ** جمله صفت **زائد** خبر **بغير** متعلق بزائد.

**ترجمه:** الف داسې الف چې دا ملګري شوي دي اكثر د دوه حروف اصليو نه دري حروف اصليو سره يا څلور حروف اصليه ؤ سره دا الف زائد دي بي د دروغ نه بلكه قطعًا او يقيني زائد دي

مثال لکه: الف د ضارب او مضارب شو.

**تشریح:** اکثر من اصلین په دې سره یې احتراز وکړو د هغه الف نه چې هغه ملګري شوي دي یو حرف اصلي سره مثال لکه: الف د ما و لا شو، دارنګه احتراز ئې وکړو د هغه الف نه چې هغه ملګری شوی دی دوه حرف اصلي سره مثال لکه: الف د قال او الف د باع او الف د الی شو دا زائد نه دی بلکه دا اصلي دي دا به یا اصلي وي لکه الف د "الی" شو په معنی د نعمة سره جمع د دي آلاء راځي، کما في قوله تعالی: ﴿فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ﴾ یا به بدل د حرف اصلي نه راغلي وي لکه الف د قال او باع شو.

**بغیر مَین:** دا کومه خبره چې ما وکړه دا یقیني خبره ده په دې کې احتمال د دروغو نشته دي ته چیرته شکي نشي په دي خبره کې، مَین مصدر صیغه ده په شان د بیع باندې اجوف یائي دي د مانَ یمین مینًا نه په معنی د دروغ ویلو سره، او امر حاضر معلوم د دینه راځي مِن په شان د بِع.

پس زده کړه دا خبره چې من درې قسمه دي: ۱: حرفي نحو: سرتُ من البصرة الی الکوفة. ۲: اسمي دي کما في قولك من حرف جر من: مبتداء، حرف جر: خبر، دلته من مبتداء واقع شوي ده او دا حرفُ جرِ مضاف الیه خبر دی.

**سوال:** دا من خو حرف دي او حرف مبتداء نه واقع کیږي دیته مبتداء څنګه وائې؟

**جواب:** دا من په دي مقام کې مراد اللفظ علم ګرځیدلي دي لپاره د هغه من حرف جر چې هغه په ترتیب کې واقع کیږي دا من اسمي دي څکه مبتداء واقع شوي دي. ۳: قسم من فعلي دي چې هغه دا دی صیغه د واحد مذکر امر حاضر معلوم د مانَ یمینُ مینًا نه.

| کَمَا هُمَا فِي يُؤْيُؤٍ وَ وَعْوَعَا | ۹۳۱- وَاليَا كَذَا وَالْوَاوُ إنْ لَمْ يَقَعَا |
|---|---|

**ترکیب:** **الیا** مبتداء **کذا** خبر **الواو** مبتداء **ان لم** خبر محذوف اي کذا **کما** حال از فاعل، یا مفعول مطلق واقع شوي دي په اعتبار د موصوف محذوف سره بحذف المضاف اي وقوعًا کوقوعها.

**ترجمه:** او یا هم دغسې د دې الف په شان زائد ده، دارنګه واو په دي شرط سره دا ملګري شوي وو اکثر د دوه حروف اصلیو نه کچیري واو او "ي" نه وو واقع شوي سره د دري حروف اصلیو نه چې په هغې کې دوه حرفه مکرر راغلي وي، اوس هغه به څنګه وي لکه واو او "ي" راغلي دي په یؤیؤ او وعوع کې دا اصلي دي مثال د اول لکه جوهر او یعمل شو چې دا واو او یا دواړه زائد دي، دري حروف اصلیو سره راغلي دي، او مثال د ثاني لکه: یؤیؤ او وعوعَ شو په دي کې دا واو او "ي" اصلي دي فَعْلَل او فَعْلَل په وزن باندې دي، یؤیؤ ښکاري مرغۍ ته وائي لکه باز، باخه، شاهین، و غیره شو او جمع د دي یَآیِئُ راځي په شان د مساجد باندې او وعوعه اواز کولو ته وائي.

| | |
|---|---|
| ٩٣٢- وَهكَذَا هَمزٌ وَمِيمٌ سَبَقَا | ثَلَاثَةً تَأْصِيلُهَا تَحَقَّقَا |

**ترکيب:** **هكذا** خبر مقدم **همز** موصوف **سبقا** جمله صفت **ثلاثة** مفعول به موصوف **تاصيلها** مبتداء **تحققا** جمله خبر، مبتداء سره د خبر نه بيا جمله صفت واقع شوي ده.

**ترجمه:** او دغسې زائد به راځي همزه او ميم هسې همزه او ميم چې دا مخکې دي درې حروفو نه داسې درې حروف چې اصالة د دغه درې حروف ثابت شوي وو په دليل سره مثال لکه همزه د اکرم او ميم د مکرم شو. **ثلاثة:** سره ئي احتراز وکړو د هغه ميم او همزې نه چې هغه مخکې راغلي ده د دوه حروفو نه هغه به اصلي وي مثال لکه: همزه د ابل او ميم د مهد شو.

| | |
|---|---|
| ٩٣٣- كَذَاكَ هَمزٌ آخِرٌ بَعْدَ أَلِفْ | أَكْثَرَ مِنْ حَرْفَيْنِ لَفْظُهَا رَدِفْ |

**ترکيب:** **كذاك** خبر مقدم **همز** مبتداء مؤخر آخر صفت اول **بعد الف** صفت ثاني **اكثر** مفعول به مقدم **لفظها** مبتداء **ردف** جمله خبر بيا جمله صفت واقع شوي دي همز لپاره.

**ترجمه:** او داسې زائد به وي همزه داسې همزه چې اخير سر د دي کلمه کې راغلي دي وروسته د الف نه، او دا لفظ د الف واقع شوي وي اکثر د دوه حروف اصليو نه وروسته مثال لکه: همزه د حَمراء او د عُشَراء او د قاصعاءُ شوه چې دا همزه وروسته راغلې ده د الف نه په اخير سر کې او دا الف وروسته د درې حروف اصليو نه راغلي دي او دا همزه زائد ده او که الف وروسته د دوه حروف اصليو نه راشي بيا دا زائد ندی بلکه دا اصلي دي مثال لکه همزه د کساء او همزه د رداء او همزه د دعاء شوه.

| | |
|---|---|
| ٩٣٤- وَالنُّون فِي الآخِرِ كالهَمْزِ وفِي | نحْوِ غَضَنْفَرٍ أصَالَةً كُفِي |

**ترکيب:** **والنون** مبتداء **في الآخر** حال از ضمير خبر **الهمز** خبر **في نحو** متعلق بکفی **اصالة** مفعول ثاني مقدم **كفى** ضمير مستتر هو نائب فاعل.

**ترجمه:** او نون په شان د همزې زائدي دی په حال کون د دي نون کې چې دا په اخير سر د کلمې کې راشي يعنی لکه څنګه چې همزه وروسته د الف نه راشي سره د درې حروف اصليو نه زائد دي مثال لکه: حمراء شو، دارنګه دا نون وروسته د الف نه راشي سره ددرې حروف اصليو نه زائد دي مثال لکه: نو د ندمان و عثمان او عمران شو، او که نون وروسته د الف نه راشي پس د دوه حروف اصليو نه بيا دا نون اصلي دي مثال لکه بيان شو، او منع کړي شوي دي دا نون د اصالة نه په مثل غضنفر کې مراد په دي سره هر هغه اسم دي چې نون ساکنه راغلي وي په مينځ د څلور حروفو کې مثال لکه: قرنفل او غضنفر شو دا نون د دي زائد دي.

| | |
|---|---|
| ٩٣٥- وَالتَّاءُ فِي التَّأْنِيثِ والمُضَارَعَة | ونَحْوِ الاسْتِفْعَالِ المُطَاوَعَة |

**ترکيب:** **التاء** مبتداء محذوف الخبر اي زائدة او تزاد **التا** متعلق خبر محذوف باندې **ونحو** معطوف على التانيث.

**ترجمه:** او "ت" زائد ده په حالت د تانيث کې چې دا فارقه راشي په ما بين د مذکر او مؤنث کې او اداسې زائد راځي چې مضارع کې نحو: تضرب او داسې زائد راځي په باب استفعال کې نحو: استخرجَ، او داسې زائد راځي په هغه بابونو کې چې هغه مطاوعت لپاره راځي مثال لکه: باب تفعل او باب تفعلل او باب افتعال او باب تفاعل شو د دي ټولو اول سر کې دا تا زائده راغلي ده.

| | |
|---|---|
| ٩٣٦- وَالهَاءُ وَقْفاً كَلِمَهْ وَلَمْ تَرَهْ | وَاللاَّمُ فِي الإشَارَةِ المُشْتَهِرَهْ |

**ترکيب:** **الهاء** مبتداء محذوف الخبر اي زائدة **وقفا** منصوب بنزع الخافض، حال بمعنى الواقف **كلمه** خبر د مبتداء محذوف **واللام** موصوف مبتداء محذوف الخبر اي زائدة **في الاشاره** متعلق خبر محذوف پورې موصوف **المشتهر** صفت.

**ترجمه:** او ها په زائده وي په حالت د وقف کې لکه لمه شو چې لام دَ حرف جر داخل شي په "ما" استفهاميه باندې الف د "ما" حذف کيږي الامَ ويلي کيږي او لمَ ويلي کيږي، اوس په لِمَ چې وقف کوي نو وقف به کوي په الحاق د ها د سکته سره لِمَه به وائي او الامَه به وائي او دا ها د سکته زائد ده، دارنګه ها زائده په حالت د وقف کې په مضارع مجزوم کې مثال لکه: لم تره شو، او لام زائد راځي په اسم اشاره کې داسې لام چې مشهور دي زيادت د دي په اسماء شاراتو کې، يا داسې اسم اشاره چې دا اسم اشاره مشهوره وي په اتيان د لام زائده سره په دي کې مثال لکه: ذلك شو دا اسم اشاره ده او وروسې لام زائد راغلي دي بعد لپاره، ديته لام البعدوائي، او وروسې بيا کاف حرف خطاب راغلی دی لپاره د دي چې دلالت وکړي په حالت د مخاطب باندې، او دا لام زائده په اسم اشاره کې هله راځي چې د دي اول سر کې ها حرف تنبيه راغلي نه وي او که "ها" حرف تنبيه راغلي وه بيا دا لام زائده وروسته اسم اشاره سره نه راځي.

| | |
|---|---|
| ٩٣٧- وَامْنَعْ زِيَادَةً بِلاَ قَيْدٍ ثَبَتْ | اِنْ لَمْ تَبَيَّنْ حُجَّةٌ كَحَظِلَتْ |

**ترکيب:** **زيادةً** مفعول به **بلا** متعلق بزيادة **قيد** موصوف **ثبت** جمله صفت **تبين** اصله تتبين **حجة** فاعل **كحظلة** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه:** او منع کوه ته زياتوالي د حرفونو بې د هغه شرطونو نه چې مخکې بيان شوی دی، کچيرې نه وو ښکاره شوی دليل په زيادت باندې مثال د وجود د حجت په زيادت د حرف باندې لکه: حظلت شو په حَظِلَتِ الابل کې اي اکلتِ الابلُ الحنظل کبکر وني اوس په دي حنظل کې دا نون زائد دي دليل په دي باندې دا حظلتْ دي په دي کې دا نون نشته دي معلومه شوه

چې دا نون په حنظل کې زائد دي.

**تشريح:** په يوه کلمه کې يو حرف د حروف زوائدو نه راشي چې هغه حروف د سألتمونيهَا دي او دا خالي وو د هغه شرطونو د زيادت نه چې هغه مخکې مونږ بيان کړل دغه حرف ته به ته زائد نه وائي بلا دليله بلکه حکم په زيادت باندې په دليل سره به کوي او دلائل د زيادت دوه دي. ۱: اشتقاق مثال لکه: حنظل کې دا نون زائد دي ځکه حظلت کې ندي راغلي، او حرف اصلي ديته وائي چې هغه لازم وي د کلمي سره، دارنګه شمأل کې دا همزه زائد ده دليل په دي باندې شملتِ الريحُ شمولاً دي، اذا ذهبت من جانب الشمال، او ملکوت کې تا زائد ده ځکه په ملك کې تا نشته دي، او امهات کې دا ها زائده ده ځکه ام کې "ها" نشته دی.

۲: دليل د زيادت عدم النظير دي چې دي حرف ته مونږ اصلي وايو دا کلمه عديم النظير ګرځي مثال لکه: نون د نرجس او تا د تَنْضُب زائد دي ځکه که مونږ ديته اصلي اوايو دا به شي فَعْلَل او فَعْلُل په وزن باندې او په دي وزن باندې رباعي چيرته نه دي راغلي په استعمال د کلام د عربو کې.

او حروف زيادت مجموعه نهه دي: او دا نهه حروف زيادت علماؤ جمع کړي دي مختلف طريقو سره. ۱: چا جمع کړي دي هم يتساءلون سره کما في قول الشاعر هويتُ السمانا فشيبنني. و قد کنتُ قدماً هويت السمانا. ۲: او چا جمع کړي دي سالتمونيها سره. ۳: او چا جمع کړي دي اليومَ تنساه سره. ٤: او چا جمع کړي دي هم يتساءلون سره.

**لطيفه:** شاګرد يو ځل تپوس وکړو د استاذ نه د حروف الزيادة، استاذ په جواب کې وويل سالتمونيها، شاګرد د دې لفظ نه د دې هغه ظاهري معنی واخيسته، استاذ ته ئي وويل: لَم اسأل، ما خو ستا نه ددې حروف الزيادة تپوس مخکې نه وو کړي بلکه دا اول ځل دی چې ما ستا نه تپوس وکړو، استاذ بيا شاګرد ته وويل: اليومَ تنساه، شاګرد وويل زه ئي نه هيروم، استاذ بيا شاګرد ته وويل: قد اجبتُك مرتين و لکنك لم تفطن، يو ځله سالتمونيهاسره مې جواب درکړو يعنی حروف د زيادت هغه دي کوم حروف چې سألتمونيها کې راغلي دي، بيا دويم ځل اليوم تنساهُ سره جواب درکړو يعنی حروف الزيادة مجموعه هغه ده کوم چې په دې اليومَ تنساه کې راغلي دي، او ته زما په دې جواب باندې پوهه نه شوې ځکه دا اليومَ تنساه او سالتمونيها دوه معنی لري. ۱: مفهوم اولي اي مفهوم لغوي. ۲: مفهوم ثانوي، يعنی معنی مراده شاګرد دينه هغه معنی اولي اخستي ده چې هغې ته منطوق وائي او د استاذ بله معنی مراد ده ځکه شاګرد د استاذ په جواب باندې نه دي پوهه شوي.

## فصل زيادةُ همز الوصل

يوه كلمه ده هغې ته چې مونږ وکتل خدای پاك په سكون باندې پيدا كړې وه مثال لكه: استثبتوا شو په دغه وخت كې تا باندې لازم دي چې همزه وصله زياتي كړي په اول سر د هغه كلمه كې او ځان به رسوي تلفظ كولو ته په هغه حرف ساكن باندې ځكه كه دا همزه د زياته نه كړو بيا ابتدا بالساكن راځي او ابتدا بالساكن محال ده په استعمال د كلام د عربو كې، اما پښتو كې او انګريزي كې ابتدا بالساكن كولى شي لكه: سكول، پښه، و غيره شو.

| | |
|---|---|
| ۹۳۸- لِلوَصلِ هَمزٌ سَابِقٌ لاَ يَثبُت | إلاَّ إذَا ابتُدِي بِهِ كَاستَثْبَتُوا |

**تركيب:** **للوصل** خبر مقدم **همز** مبتداء مؤخر موصوف **سابق** صفت اول **يثبت** صفت ثاني **به** نائب فاعل **كاستثبتوا** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه:** لپاره دَ رسولو د ځان ابتدا كولو ته په حرف ساكن باندې همزه ده نو دا به سابق وي يعنى اول سر كې به راځي، او دا به نه ثابت كيږي بلكه حذف كيږي به مګر په هغه وخت كې به ثابتيږي چې په هغه وخت كې ابتدا كولي شي په ده سره مثال د همزه وصليه چې راغلي وي د كلمي اول سر كې د وجې د ابتدا بالساكن نه لكه: همزه د استثبتوا شوه او دا په درج كې غورزيدلي ده.

**سوال:** ابتدا بالساكن لپاره دا همزه ولي خاص شوه نور حروف څه كم وو هغه به ئي زياتي كړي وي؟ **جواب** دا همزه ئې زياته كړه ابتدا بالساكن لپاره ځكه دا حرف قوي دي او ابتدا په قوي باندې اولى ده، حكم د دې دا دى تثبتُ في الابتداء و تسقطُ في الدرج في التلفظ لافي الخط الااربعة مواضع، چې هلته تلفظ او كتابت دواړو كې غورځيږي. ۱: بسم الله الرحمن الرحيم. ۲: همزه د استفهام چې په همزه وصليه د باب افتعال باندې داخل شي نحو قوله تعالى: ﴿أَصْطَفَى الْبَنَاتِ﴾ ﴿أَفْتَرَى عَلَى اللهِ﴾ ﴿أَطَّلَعَ الْغَيْبَ﴾ ﴿قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللهِ عَهْدًا﴾. ۳: لام جاره داخل شي په همزه وصليه باندې نحو للرجل، للدار. ٤: ابن واقع شي په مينځ د علمينو متناسلينو كې.

**سوال:** همزه وصليه ته همزه وصليه ولي وائي؟ **جواب** ځكه دا په مينځ كې غورزيږي اتصال د ما قبل راولي د ما بعد سره. ۲: يا همزه وصليه ځكه ورته وائي چې متكلم ابتداء او تلفظ په حرف ساكن باندې نه شي كولي، په واسطه د دي همزي سره وصول كوي تلفظ كولو ته په حرف ساكن باندې. ۳: يا همزه وصليه ځكه ورته وائي چې دا همزه پخپله متصل كيږي حرف ساكن پورې يعنى وصول د دي راځي حرف ساكن ته. ٤: يا همزه وصليه ځكه ورته وائي د وجې د تعذر د ابتداء بالساكن نه متكلم خپل مقصد ته نه شو رسيدلي همزه چې ئې زياته كړه دا متكلم خپل مقصد ته ورسيده په واسطي د دي همزي سره. بله همزه ده د دي مقابل كې هغه ته

همزه قطعيه وائي د هغې حکم دا دي: تثبتُ في الابتداء و الدرج، لکه همزه د باب افعال او همزه د اسم تفضيل شوه دا هميشه ثابت وي برابره خبره ده چې په ابتدا د کلام کې راغلي وي لکه: اکرمْ زيداً شو، يا په مينځ د کلام کې راغلي وي لکه: و اکرم شو، نو و اکرِمْ به وائي و اکرِمْ به نه وائي په اسقاط د همزي سره په درج کې په خلاف د همزي د اضرِب نه، په هغې کې به وَ اضْربْ وائي په اسقاط د همزي سره په درج کې ځکه داهمزه وصليه ده.

**سوال:** د همزه وصليه وجه د تسميه څو مخکې بيان شوه اوس همزه قطعيه ته همزه قطعيه ولې وائي؟ **جواب** ديته همزه وصليه ځکه وائي چې هميشه ثابت وي قطع راولي د ما بعد کلمي د مخکې کلمي سره يو ځاى کيدلو ته ئې نه پريږدي.

| | |
|---|---|
| ۹۳۹- وَهْوَ لِفِعْلٍ مَاضٍ احْتَوَى عَلَى | أكْثَرَ مِنْ أرْبَعَةٍ، نحو انجَلَى |

**ترکيب:** **هو**مبتداء **لفعل**خبر موصوف **ماض**صفت **احتوى**صفت ثاني **نحو**خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**:او دا همزه وصليه واضع وضع کړي ده لپاره د فعل ماضي او فعل مضارع کې به نه راځي هسې فعل ماضي چې دا مشتمل وي په حروفو باندې داسې حروف چې هغه زيات دي د څلورو حروفو نه مثال د دي لکه همزه د انجلی، بل مثال د دي لکه همزه د استخرَج او احمر او احمارَ او اجلوذَ او د اقشعَر او اعشوشبَ او د احرنجم شوه، او که دا همزه دوه حروفو سره اول سر د ماضي کې راغلي وه دا به همزه وصليه نه وي بلکه همزه اصلي به وي مثال لکه: امر شو، او که دا همزه دري حروفو سره راغلي وه او اول سر د ماضي کې هغه به همزه قطعيه وي مثال لکه: اکرم شو ځکه ناظم اکثر من اربعة قيد ولګولو.

| | |
|---|---|
| ۹۴۰- وَالأمْرِ وَالْمَصْدَرِ مِنْهُ، وَكَذَا | أمْرُ الثُّلاَثِي كَاخْشَ وَامْضِ وَانْفُذَا |

**ترکيب:** **الامر**معطوف على فعل مذکور في السابق **منه**حال من المصدر **كذا**خبر مقدم **امر الثلاثي** مبتداء **اخشَ**خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**:او بل دا راځي په امر د ددغه انجلی کې لکه: انجلِ شو او مصدر د دغه انجلی کې لکه انجلاء شو، اوْ دغسې دا همزه وصليه راځي په امر د ثلاثي مجردو کې مثال لکه: همزه اِخشَ شوه په معتل الفي کې او همزه د امضِ شوه په ناقص يائي کې او همزه د انفذ شوه په صحيح کې.

| | |
|---|---|
| ۹۴۱- وَفِي اسْمٍ اسْتٍ ابْنٍ ابْنِمٍ سُمِعْ | وَاثْنَيْنِ وَامْرِئٍ وَتَأْنِيث تَبِعْ |

**ترکيب:** **في اسم**متعلق بسمع **تانيث**موصوف **تبع**جمله صفت.

**ترجمه**:بل دا همزه وصليه راځي په لفظ د اسم کې ځکه دا صل کې سِمْو وو عند البصريين هغه لام کلمه حذف کړي شوه او سين ساکن کړي شو ابتداء بالساکن راغله د هغې د وجې نه همزه

وصليه اول راوړه، يا اسم اصل کې وِسم وو عند الکوفيين "واو" حذف شو خلاف القياس ابتدا بالساکن راغله همزه ئي راوړه اسم ترې نه جوړ شو. او بله راځي په لفظ د استِ کې، او په دي کې دري لغتونه دي. ۱ : است. ۲ : ست. ۳ : سه دريواړو معنی يوه ده ځکه دا اصل کې سَتَه وو دا ها حذف کړي شوه او سين ساکن کړي شو ابتدا بالساکن د وجې نه دا همزه راغله اِستْ جوړ شو.
او بله همزه وصليه راځي په ابن کې دا ابنم يو لغت دي په ابن کې په زيادت د ميم سره او دا ميم د دي نون تابع دي په اعراب کې ځکه اخيري حرف د کلمي نون دي په هغې کې چې کوم اعراب راځي هغه به په دي کې راځي، او ابن اصل کې "بنو" وو واو حذف شو خلاف القياس او فا کلمه ساکنه کړه همزه اول کې راغله ابن جوړ شو.
او بله همزه وصليه راځي په اثنين او امرء کې ځکه دا اصل کې ثني او مرء وو بيا اثنين او امرء جوړ شو همزه راغله ابتداء بالساکن د وجې نه او دا همزه وصليه مسموع ده په دي مثالونو کې د عربو نه و لايُقاس عليه غيره، دارنګه همزه وصليه راځي په مؤنث د دي دريواړو اسمونو کې چې هغه ابنة او اثنتين او امراة دي هسي مؤنث چې دا تابع د خپل مذکر دي په دي شان سره په مذکر کې همزه وصليه راتله نو په دي کې هم همزه وصليه راځي.

| | |
|---|---|
| ۹۴۲- وأيمُنٍ وهمز أل کذا، ويبدل | مدا في الاستفهام أو يسهل |

**ترکيب:** **وايمنُ** معطوف على اسم مذکر في البيت السابق رفع د دي حکاية دي دا ملازم الرفع دي ځکه دا هميشه مبتداء مستعمليږي **همز ال** مبتداء **کذا** خبر **يبدّل** ضمير مستتر هو نائب فاعل **مدّا** مفعول **الاستفهام** متعلق بيبدل **يسهل** عطف على يبدل.
**ترجمه:** او بل سمع شوي ده د همزه وصليه په ايمن لفظ کې چې دا مستعمل شي په قسم کې.
۱ : **خليل وائي:** دا ايمُن د يُمن نه دي برکت وائي او دا مستعمليږي په قسم کې. ۲: او څوک وائي دا د يمين نه دي او يمين قسم ته وائي بهر حال قسم لپاره مستعمل کيږي کله کله ايمُن جمع د يمين راځي مقابل د يَسار بيا همزه د دي قطعي ده ځکه دا قسم قيد ولګولو.
او همزه د ال تعريفي دا هم وصليه ده او دا همزه د ايمن او دا همزه د ال تعريفي دا به بدل کولي شي په الف سره په وخت د دخول د همزه د استفهام کې په ده باندې او يا به بين بين کولي شي په دي کې او حذف نه شي کولي مع ان القياس حذفها لالتقاء الساکنين بعد الابدال بالالف لپاره د دي چې لازم نه شي التباس د انشاء د خبر سره مثال د دي لکه: الحسنُ عندك آلحسنُ عندك به وائي، او په ايمُن الله يمينك کې به آيمُن يمينك آيمُن الله يمينك به وائي، اصل کې أألحسنُ عندك او ايمُن اللهِ يمينُك وو بيا اجتماع د همزتينو راغله دا موجب د ثقل دي لهذا

موبز دا دویم همزه الف سره بدل کړه لپاره د حصول د تخفیف بیا التقاء د ساکنینو راغلي علی غیر حده او دا جائز ندي لکن دلته جائز وګرځوه د وجې د ضرورت نه چې هغه التباس د انشاء دي د خبر سره، او التقاء د ساکنینو علی غیر حده د وجې نه اول مده هله حذف کولي شي چې هغه مصون وي د التباس نه که مصون عن الالتباس نه وو بیا هغې حذف جائز ندي لکه: اضربان کې شو. ۲: یا په دي کې بین بین کولی شي چې دا همزه ته ادا کړي پ، ما بین د مخرج د همزه او مخرج د الف کي په دي شان سره چې نیمه همزه اوائي او نیم الف اوائي مثال د تسهیل او بین بین لکه دا قول د شاعر شو آ ألحق ان دارُ الرباب تباعدَت. او انبتَ حبل انّ قلبك طائر ان شرطیه فاعل لفعل محذوف یفسره بعده. ۲: ان مخفف من المثقل دا اسم دي د ضمیر شان مقدر دي. اوس دلته شاعر په دي دویمه همزه کې بین بین کړي دي او حذف ونکړو لپاره د دي چې لازم نه شي التباس بین الخبر و الانشاء دارنګه محقق ندي کړي ځکه دا په مینځ کې نه پاتې کیږي د دینه علاوه نور ځایونو کې همزه همزه قطعي دي.

## الابدال

دا ما سیاتي تر یو حده پورې بحث د حروف ابدال دي ابدال په لغت کې مطلق یو حرف بل حرف سره بدلولو ته وائي، او په اصطلاح کې: جعلُ الحرف مکان حرف آخر مطلقًا ته وائي مکان سره ئي احتراز وکړو د عوض نه ځکه عوض عام دي د بدل نه ځکه هغه کله په غیر مکان د معوض عنه کې راځي مثال لکه: تا رعدة شو او بدل په مکان د مبدل منه کې راځي او په غیر د مکان د مبدل منه کې نه راځي او مطلقًا سره ئي احتراز وکړو د قلب او اعلال نه ځکه قلب او اعلال مختص دي په حرف علت پورې حرف علت نه علاوه په نور کې نه راځي او ابدال عام دي په حرف علت کې هم راځي او په غیر حرف علت کې هم راځي.

| | |
|---|---|
| ۹۴۳- أَحْرُفُ الإِبْدَالِ "هَدَأْتَ مُوْطِيَا | فَأَبْدِلِ الْهَمْزَةَ مِنْ وَاوٍ وَيَا |

ترکیب: احرف مبتداء هدات مراد اللفظ خبر مفعول به من واو متعلق بابدل.

ترجمه: هغه حرفونه چې بدل راوړي شي په ځای د نورو حروفو هغه حرف د هداتُ وطیًا دي یعنې آرام شومه زه او آرام وکړو ما په حال کون ځما کې چې زه ګرځیدونکې یم فلانی پیمال کولو لپاره او زه پیمال کوونکی وم فلاني لره، وګرځوه ته همزه لره بدل د واو او د یا نه، اصل کې به واو او "ي" وي دا همزه به بدل راغلي وي د هغې نه اوس دا همزه بدل د واو او د "ي" نه کوم ځای کې به راوړم دا وائي:

| | |
|---|---|
| ٩٤٤- آخِرًا اثْرَ أَلِفٍ زِيدَ، وَفِي | فاعِلِ مَا أُعِلَّ عَيْنًا ذَا اقْتُفِي |

**ترکیب:** اثردا دواړه په اعتبار د متعلق سره صفت واقع شوي دي او و يا لپاره الف موصوف زيد جمله صفت في فاعل متعلق باقتفى ما موصوله اعل جمله صله عينا تميز ذا مبتداء اقتفى جمله خبر.

**ترجمه:** هسي واو او "ي" چې واقع شوي وي په اخير د کلمه کې وروسته د الف زائده نه او دا همزه بدل راوړل د واو او د "ي" نه تابعداري کړې شوي ده په هغه اسم فاعل کې چې دا واو او يا واقع شوي وي عين کلمه د هغه فاعل کې او ماضي د دي کې اعلال شوي دي.

**تشريح:** همزه بدل راخي د واو او د "ي" نه په استعمال د کلام د عربو کې اووه ځايونو کې ناظم پنځه ځايونه ذکر کړي دي. ۱: همزه بدل راخي د واو او د "ي" نه چې دا واقع شوي وو د الف زائده نه وروسته په طرف کې حقيقةً يا حکمًا مثال د حقيقةً لکه دعاء او بناء شو، اصل کې دعاو او بناي وو ځکه دا د دعا يدعو او د بنَى يبني نه دي واو او "ي" واقع شو په طرف کې حقيقةً پس د الف زائده نه دا واو او يا همزي سره بدل کړه دعاء او بناء جوړ شو مثال د واو او يا چې واقع شوی دی په طرف کې پس د الف زائده نه حکمًا لکه بناءة او کې شو چې دا تا په بناءة او کې عارضي ده، ځکه دا راوړی شوې ده صرف فرق لپاره په ما بين د مذکر او مؤنث کې دا په حکم د انفصال کې دي. اوس که دا واو او "ي" واقع شوي وو وروسته د الف اصلي نه په طرف کې پس د الف زائده نه په طرف کې بيا همزې سره نه بدليږي مثال لکه: راية او آية کې واو شو، راية اصل کې رَوَيَة وو او آية اصل أَيَيَة وو دا واو او "ي" الف سره بدل شوي ده خلاف القياس ځکه په لفيف کې قاعده دا ده چې لام کلمه به اعلال کوي نه عين کلمه او واو اصل وَوَو وو دا عين کلمه واو الف سره بدل کړه نه لام کلمه د وجې د کراهت د اجتماع د دوه حرف علت متحرکينو نه په اول کې.

**سوال:** ياء اصل کې يَيَي وو يا متحرك ماقبلش مفتوح يا الف سره بدل کړه ياي جوړ شو بيا دا يا همزې سره بدل شوې ده ياء جوړ شوي دي با وجود د دينه "ي" واقع شوي ده الف اصلي نه وروسته؟

**جواب:** دا شاذ دی او شاذ سره قاعده نه ورانيږي، او که دا واو او "ي" الف زائده نه وروسته واقع شوی وو په مينځ کې نه په طرف کې بيا همزي سره نه بدليږي مثال لکه: تعاون او تباين او شقاوة او عداوة او هداية او عناية شو، په دي کې دا واو او "ي" په طرف کې نه دي واقع شوي نه حقيقةً او نه حکمًا، حقيقةً خو ظاهر دي چې نه دي واقع شوي، اوس حکمًا ولي نه دي واقع شوي په طرف کې ځکه دا "ت" عارضي نه ده ځکه دا نده راغلي فرق لپاره په ما بين د مذکر او د مؤنث کې بلکه بنا د دې کلمي شوي ده راسًا په دي "ت" باندې، او تا عارضي هغې ته

وائي چې هغه په کلمه کې کله وي او کله نه وي او دا د دې کلمې سره لازم ده نه جدا کیږي.
دارنګه همزه بدل راځي د الف نه هم چې دا الف واقع شي د الف زائده نه وروسته په طرف کې لکه همزه د حمراء شوه دا بدل د الف نه راغلي ده ځکه حمراء اصل کې حمری وو په شان د سکری باندې بیا د دې الف مقصوره نه مخکې بل الف مونږ زیات کړو لپاره د مد د صوت بیا التقاء د ساکنینو راغله بین الالفین علی غیر حده دا دویم الف مو بدل کړو همزې سره حمراء جوړ شو، او حذف ئې نه کړو ځکه بیا زمونږ مقصد فوت کېده چې هغه مد د صوت دي.
۲: دا همزه بدل راځي د واو او د "ي" نه چې دا واقع شي پس د الف د اسم فاعل نه او ماضي د دې کې اعلال شوي وي مثال لکه: قائل او بائع شو اصل کې قاوِل او بايِع وو واو او يا واقع شو پس د الف د علامې د اسم فاعل نه او ماضي د دې کې اعلال شوي وو دا واو او "ي" همزې سره بدل کړه قائل او بائع شو، او که ماضي د دې کې اعلال نه وو شوي بیا په اسم فاعل کې دا واو او "ي" همزې سره نه بدلیږي مثال لکه: معاون او مبایع شو د دې وجې نه ځوك چې عوِر کې اعلال کوي عار وائي هغوی اسم فاعل کې عائر وائي او ځوك چې اعلال نه کوي په عور کې هغوی په اسم فاعل کې عاور وائي.

| | |
|---|---|
| ٩٤٥- وَالْمَدُّ زِيدَ ثَالِثاً فِي الوَاحِدِ | هَمْزًا يُرَى فِي مِثْلِ كَالْقَلَائِدِ |

**ترکیب: المد** مبتداء **زید** حال از ضمیر یری **ثالثا** حال از ضمیر یری **في الواحد** متعلق بزید، حال مترادفه یا از ضمیر زید حال متداخله **همزا** مفعول ثاني مقدم ان کانت علمية يا حال ان کنت بصرية **القلائد** الکاف زائدة جار مجرور متعلق بيری جمله خبر د مبتداء.
**ترجمه:** او مد لیدلی کیږي همزه په یعنی همزه سره بدلیږي په حال کون د دې مد کې چې هغه زائد راغلی وي په دریم ځای کې په مفرد کې اوس دا مده هر څنګه چې وي واو مده وي او که یا مده او که الف مده وي دا همزې سره بدلیږي په مثل د هغه جمع صیغه د منتهی الجموع کې چې هغه په وزن د فعائل باندې وي یعنی صیغه د منتهی الجموع قسم اول کې بیا عام دي چې مفاعل په وزن باندې وي او که فواعل په وزن باندې وي او که افاعل په وزن باندې وي او که فعائل په وزن باندې وي.
**تشریح:** همزه بدل راځي د واو او د "ي" او د الف زائده نه چې دا واقع شي پس د الف د صیغه د منتهی الجموع قسم اول نه مثال د الف مده زایده لکه: قلائد او رسائل شو جمع د قلادة او رسالة ده دلته دا همزه بدل راغلې ده د الف مده نه او مثال د دواو مده زائده لکه: عجائز شو دا جمع د عجوزة ده اصل کې عجاوز وو دا واو بدل شو همزې سره عجائز شو مثال د "ي" مده زائده لکه

صحائف شو جمع د صحيفة ده اصل کې صحايف وو "ي" همزې سره بدل شوه صحائف شو. او که دا غير مده وو واقع شي الف د صيغه د منتهى الجموع قسم اول نه وروسته بيا همزې سره نه بدليږي مثال لکه: قساور شو چې دا جمع د قسورة ده او قسورة زمري ته وائي، بل مثال لکه جداول شو دا جمع د جدول ده، او که مده غير زائده وو واقع شي پس د الف د صيغه د منتهى الجموع قسم اول نه دا همزې سره نه بدليږي تر څو پورې د دې الف د صيغه د منتهى الجموع نه مخکې بل حرف علت راغلي نه وي ځکه په دې کې تقدم د حرف علت شرط دي مثال لکه: معايش او مقاويل او مفاوز شو چې دا جمع د معيشة او مقال او مفازة دي او په دې ټولو کې دا مده اصلي ده او عين کلمه په ځاى راغلي ده، او مصائب جمع د مصيبة ده دلته دا مده اصلي همزې سره بدل شوي ده دا شاذ ده فلا اعتبارَ لها ځکه شاذ سره قاعده نه ورانيږي.

| | |
|---|---|
| ٩٤٦- كَذَاكَ ثَانِي لَيِّنَيْنِ اكْتَنَفَا | مَدّ مَفَاعِلِ كَجَمْعِ نَيِّفَا |

ترکيب: **كذاك** خبر مقدم **ثاني** مبتداء مؤخر **لينين** مضاف اليه موصوف **اكتنفا** جمله صفت **مدّ** مفعول به **كجمع** خبر د مبتداء محذوف **نيفا** مفعول به د جمع.

ترجمه: او دغسې بدل به راوړي شي همزه دويم د دوه حرف علتونو نه داسې دوه حرف علته چې ګيره او احاطه کړي شوي وي په هغه الف د صيغه د منتهى الجموع قسم اول باندې په صحيح الآخر کې مثال د دې لکه جمع د نَيف شوه چې جمع د دې نيائفُ راځي بقلب الياء همزةً، دارنګه اوائل او بوائع او قوائل شو او طَواويس کې دا واو همزې سره ئې نه دی بل کړي ځکه دا صيغه د منتهى الجموع قسم ثاني ده او دا قاعده په صيغه د منتهى الجموع قسم اول کې ده، اوس چې دوه حرف علته ګيره واچوي الف د صيغه د منتهى الجموع قسم اول لره په معتل اللام کې د هغې حکم څه دي؟

| | |
|---|---|
| ٩٤٧- وَافْتَحْ وَرُدَّ الْهَمْزَ يَا فِيمَا أُعِلْ | لاَمًا، وَفِي مِثْلِ هِرَاوَةٍ جُعِلْ |

ترکيب: **الهمز** مفعول به اول لرد **يا** مفعول به ثاني **فيما** متعلق برد **أعل** جمله صله **لامًا** تميز **هراوة** متلق بجعل.

ترجمه: فتحه ورکوه ته چا لره هغه همزې مبدله لره او رد کوه ته دغه همزه مبدله لره يا "ت" په هغه کلمه کې چې لام کلمه د هغې حرف علت وي يعنى همزه واقع شي په ما بين د الف د صيغه د منتهى الجموع او يا کې او په مفرد کې لام کلمه روغ پاتې شوي نه وو مثال لکه: قضايا او زوايا شو، قضايا جمع د قضية ده اصل کې قضايو واو واقع شو په طرف کې او مخکې مکسور وو واو ئې بدل کړو "ي" سره قضايِي جوړ شو بيا "ي" اولى همزې سره بدل کړه بنا په قاعده د

صحائف باندې قضائِيُ جوړ شي بيا کسره د همزې فتحي سره بدل کړو قضائَيُ جوړ شو بيا يا متحرك ما قبل مفتوح يا الف سره بدل کړه بنا په قاعدې د باع باندې قضاء جوړ شو بيا همزه واقع شوه بين الالفين دا موجب د ثقل ده همزه مفتوحه مونږ بدل کړه يا مفتوحه سره قضايا جوړ شو.

او زوايا جمع د زاوية ده اصل کې زَوَاوِيُ وو بيا دا واو بدل کړه همزې سره بنا په قاعده د نيائف باندې زوائِيُ جوړ شو بيا دا کسره د همزه فتحي سره بدل کړه زوائَيُ جوړ شو بيا يا متحرك ما قبل مفتوح يا الف سره بدل کړه زواءا جوړ شو همزه واقع شوه بين الالفين دا همزه مفتوحه يا سره بدل کړه زوايا جوړ شو.

او په مثل د هراوة کې کرځولې شوي دي دا همزه واو، مراد په هراوة سره هر هغه اسم دي چې لام کلمه واو وي او په مفرد کې روغ پاتې شوي وي بيا په جمع کې دا همزه مفتوحه يا سره نشي بدلولې بلکه دا به واو سره بدل کړي لپاره د دې چې دا جمع مشاكل شي د مفرد خپل سره مثال د دې لکه: هراوایٰ او اداوی شو، هراوای جمع د هراوة ده اصل هرائو وو دا همزه ئې بدل د الف د هراوة مفرد نه راغلې ده بيا واو واقع شو په طرف کې او مخکې کسره وه واو سره ئې بدل کړه هرائِيُ جوړ شو، بيا کسره د همزې فتحي سره بدل کړه هرئَيُ شو بيا "ي" متحرك ما قبلش مفتوح يا الف سره بدل کړه هراءا جوړ شو بيا دا همزه مفتوحه واو سره بدل کړه نه "ي" سره لپاره د دې چې دا جمع مشاكل شي د مفرد خپل سره چې هراوة ده ځکه هلته لام کلمه واو دي اعلال نه دي شوي نو هراءی نه هراوی جوړ شو.

| في بَدْءِ غَيْرِ شِبْهِ ووُفِي الأَشُدْ | ۹۴۸- وهَمْزاً أَوَّلَ الْوَاوَيْنِ رُدْ |
|---|---|

**ترکيب:** همزًا مفعول ثاني مقدم لرد اول مفعول اول في بدء متعلق برد شبه مضاف وفي مراد اللفظ مضاف اليه.

**ترجمه:** او رد کوه ته اول د دوه واونو نه همزې ته چې واقع شوي وي په ابتدا د داسې صيغه کې چې هغه نه وي مشابه و وفی الاسد سره:

**ترجمه** : پوره کړي شو عمر د کلك ځوان يا وفا وکړي شوه کلك ځوان سره.

**تشريح:** يعنی هر هغه کلمه چې د هغې اول سر کې دوه واوونه راشي دا اول واو وجوبًا همزې سره بدلولی شي په دې شرط سره چې دا دويم واو بدل د الف د باب د مفاعلة نه راغلي نوي بيا برابره خبره ده چې دواړه واوونه متحرك وي او که اول متحرك او ثاني ساكن وي مثال د اول لکه: اواصلُ جمع د واصلة أُوَل جمع د اولى أُوَيعد تصغير د واعد شو، دا اصل کې وواصلُ او وُوَل او وُوَيعدُ وو بيا دوه واو نه متحرك د کلمې اول سر کې يو ځای راغله دا اول واو همزې

سره بدل کړه وجوبًا اواصلُ او أُوَل او أُويعد شو، او مثال د ثاني لکه: اولی شو مؤنث د اول،
اصل کې وولی وو دوه واوونه اول متحرك ثاني ساكن د کلمي اول سر کې راغلل او دا دويم واو
بدل د الف د مفاعلي نه نه دي راغلي دا اول واو وجوبًا مونږ همزي سره بدل کړو وولی نه اولی
جوړ شو، دا مثال هله جوړيږي چې ۱ : اول مشتق شي د وَوَلَ نه دا داسې فعل دي چې خارج
کې وجود نه لري نو اول اصل کې اَوْوَلُ وو بيا واو په واو کې مدغم شو اَوَل جوړ شو، او اولی
مؤنث د ده اصل کې وولی وو او أُوَل جمع اصل کې وُوَل وو دا اول واو بدل کړي شو همزي سره
وجوبًا په دي قاعده باندې وُولی نه أُولی جوړ شو، او وُوَل نه أُوَل جوړ شو.
۲ : يا دا اوَل مشتق دي د وَآل يَئل نه په معنی د لجأ او التجأ سره بيا دا اول اصل کې اَوْءَلُ وو او
أُولی اصل کې وُولَی وو او أُوَل اصل وَآل وو بيا دا همزه واو سره بدل کړه په اَوْءَل کې،او واو په واو
کې مدغم شو خلاف القياس يقتضي نقل حركة الهمزة و حذفها كما في نحو: جيل خکه خلاف
القياس کارونه کله کله کيږي په اسم تفضيل کې كما في نحو: شر و خير دارنګه په دې کې هم
خلاف القياس کار شوی دی، او په دې وُولَی کې دا دويم همزه واو سره بدل کړه د وجې د ضمي د
ما قبل نه وولی جوړ شو بيا په دې قاعده باندې دا اول واو همزي سره بدل کړه اولی جوړ شو، او
وآل کې دا همزه واو سره بدل کړه په قاعده د جُوَن باندې بيا دا اول واو همزي سره بدل کړه بنا په
دې قاعدې باندې أُوَل جوړ شو. ۳ : او که دا اول مشتق شي د آل يئول اولاً نه په معنی د رجع سره
بيا دا اَوَل اصل آاَوَل وو او اولی او د دې جمع أُوَل دواړه په خپل اصالت باندې باقي پاتې دي په
دي کې قلب نه دي راغلي بيا مثال نه جوړيږي، او که دوه واوونه د کلمي په اول سر کې دواړه يو
ځای راشي او دا دويم واو بدل د الف د مفاعلي نه راغلي وو بيا دا اول واو همزي سره بدلولي
شي جوازاً نه وجوبًا مثال لکه: وُوْرِيَ او وُوْفِيَ شو په دي کې أُوْرِيَ او أُوْفِيَ جائز دي.

| | |
|---|---|
| ۹٤۹- وَمَدًّا ابْدِلْ ثَانِيَ الْهَمْزَيْنِ مِنْ | كِلْمَةٍ إِنْ يَسْكُنْ كَآثِرْ وَائْتَمِنْ |

**ترکيب:** مدمفعول ثاني مقدم **الهمزين** مفعول اول **من** حال از همزين **يسكن** ضمير مستتر راجع الی الثاني الهمزين **كاثر** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه:** او بدل وګرځوه ته همزه دويم د دوه همزه ګانو نه په داسې حرف علت ساکنه سره چې هغه موافق دي د حرکت مخکې سره په حال کون د دي دوه همزه ګانو کې چې دا دواړه د يوي کلمي نه وي په دې شرط سره چې ساکن وي دا دويم همزه مثال د دي لکه: آثرَ او اوتمنَ ايثاراً شو اصل کې أأثرَ أؤتمن ائثاراً وو بيا دا دويم همزه بدل کړي شوه وجوبًا د هغه حرف علت سره چې هغه موافق دي حرکت د ما قبل سره،. ۱ : او که دوه همزي نه وو بلکه يو همزه وو هلته ابدال

جائز دي نه واجب. ٢ : او كه دا همزتين په كلمتين كې راغلي وو هلته ابدال واجب نه دي.
٣ : او كه ثاني ساكن نه وو بلكه متحرك وو د هغې حكم دا دي.

| | |
|---|---|
| ٩٥٠- إنْ يُفْتَحِ اثْرَ ضَمَّ أوْ فَتْحٍ قُلِبْ | وَاوَاً، وَيَاءً إثْرَ كَسْرٍ يَنْقَلِبْ |

**تركيب:** **ان يفتح** شرط **اثر** متعلق بيفتح **قلب** جزا **واوًا** مفعول ثاني **ياءً** مفعول به مقدم **كسر** متعلق **بينقلب**.

**ترجمه:** كچيري دا همزه مفتوح وو وروسته د ضمي او د فتحي نه په دي دواړو صورتونو كې دا همزه دويم بدلولى شي واو سره وجوبًا مثال د دي لكه: اوادمُ او أُويدمُ شو، اصل كې أآدمُ أ آيدم وو دا مثال هله جوړيږي چې آدم افعلُ صفتي شي، اصل كې أآدُمُ وو بر وزن افعل جمع د دي آدم او تصغير د دي أ آيدم راځي او كه آدم افعل صفتي نه شي بلكه فاعلَ په وزن باندې شي بيا مثال نه جوړيږي ځكه بيا دا اوادم كې دا واو بدل د الف نه راغلى دى نه د همزې نه، او بدلولى شي همزې سره كه دا مفتوح وروسته د كسري نه راشي مثال د دي لكه: اِيَم شو اصل كې اِأْمَم وو بيا د ميم اول نه حركت نقل كړه مخكې همزي ته وركړى شوه او ميم په ميم كې ادغام كړه اِأَم جوړ شو، اوس دا قاعده متوجه شوه چې همزه مفتوح او مخكې مكسور دي دا همزه يا سره بدل كړه اَيَم اوائي دا جائز دي.

| | |
|---|---|
| ٩٥١- ذُو الكَسْرِ مُطْلَقَاً كَذَا، وَمَا يُضَمْ | وَاوَاً أَصِرْ، مَا لَمْ يَكُنْ لَفْظَاً أَتَمْ |

**تركيب:** **ذو** مبتداء **مطلقًا** حال از ضمير مستتر در خبر **كذا** خبر **ما** موصوله مفعول اول **يضم** صله **واوًا** مفعول ثاني **ما** مصدريه ظرفيه **لفظًا** موصوف **اتم** جمله صفت.

**ترجمه:** همزه دويم چې هغه خاوند د كسري وي په حال كون د دي كې چې دا مطلق واخلي چې هغه مخكې همزه مفتوح وي او كه مضموم وي او كه مكسور وي دا همزه ثاني "ي" سره بدليږي، او واړوه ته دې همزې لره چې هغه مضمومه ده واو ته ما قبل هر څنګه چې وي په وخت د عدم د كيدو د دې كې لفظ داسې لفظ چې دغه لفظ په دې همزي سره تمام كړي دي.

**تشريح:** اجتماع د همزتينو راشي په كلمه واحده كې. ١ : ثاني مكسور او ما قبل مفتوح يا مضموم يا مسكور وو دا دويم همزه يا سره بدلولي شي مثال د اول لكه: ائمة شو او مثال د دويم لكه: أُين شو، واحد متكلم مضارع از باب افعال اصل أأنِنَ وو اجتماع د حرفينو متجانسينو راغله دواړه متحرك وو اول نه حركت نقل كړه ما قبل له وركړه اول په دويم كې ادغام كړه أُاِن جوړ شو، اوس دا قاعده متوجه شوه دا دويم همزه "ي" سره بدل كړه أُين ووايه، مثال د ثالث لكه: اِيِم شو اصل كې اِأْمِمُ وو بر وزن اثمد. ٢ : او اجتماع د همزتينو راشي په يوه كلمه كې ثاني مضموم ما قبل مفتوح يا مكسور يا مضموم وو دا دويم همزه واو سره بدلولي شي مثال د اول لكه: أَوُب شو

جمع د آب نبات ته وائي، اَوَب اصل اَاْبُبُ وو بر وزن اَفعُلُ بيا حركت د عين كلمي نقل كړه ما قبل همزي له وركړه عين كلمه په لام كلمه كي مدغمه كړه أأُب ترينه جوړ شو، بيا دا همزه مضمومه واو سره بدل كړه اَوُب جوړ شو مثال د ثاني لكه: اِوُم شو بر وزن اِصبع از اَم، مثال د دريم لكه أُوُم شو بر وزن أُبلُم من أمَ، لكن دا قاعده هله ده چې دا دويمه همزه لام كلمه په ځاى نه وي واقع شوي او كه دا په طرف كې واقع شوې وه بيا دا يا گرځي مطلقًا برابره خبره ده چې ما قبل همزه مفتوح وي او كه مضموم وي او كه مكسور وي او كه ساكنه وي.

| ٩٥٢- فَذَاكَ يَاءً مُطْلَقاً جَا وَأَؤُمْ | وَنَحْوُهُ وَجْهَيْنِ فِي ثَانِيهِ أُمْ |
|---|---|

**تركيب: فذاك** مبتداء **ياء** خبر دي جاء لپاره ځكه دا په معنى د انقلب سره فعل دي د افعال ناقصو نه **مطلقًا** حا از ضمير جاء **جا** خبر **وأوم** مراد اللفظ مبتداء **وجهين** مفعول به مقدم **ثانيه** متعلق بام **ام** ضمير مستتر انت هغه فاعل جمله خبر.

**ترجمه**: دغه همزه راغلي وي بدل، يا ته په حال كون د دي همزي كې چې دا مطلق واخلي په دې شان سره چې د دينه مخكې متحرك فتحه وي او كه ما قبل د دينه ضمه وي او كسره وي او كه دا ما قبل د دينه ساكنه وي مثال د اول لكه قرء نه ته جوړ كړې بر وزن جَعفَر قَرَءَءٌ به شي دا دويم همزه بدلوه يا سره قرءي به شي بيا يا متحرك ما قبل مفتوح يا الف سره بدل كړه الف د وجې د التقاء د ساكنينو نه حذف شو قرءً پاتې شي شو قراءى جوړ شو، مثال د ثاني لكه: قرء نه ته جوړ كړي بُرثُن وزن باندې قُرءُءٌ به شي دا دويمه همزه ئي يا سره بدله كړه قُرءُي جوړ شو بيا دا ضمه د ما قبل كسري سره بدل كړه از براى مناسبت يا بيا اعلال د قاضٍ وكړه قرءٍ پاتې شو، مثال د ثالث لكه: جاءِ شو اصل كې جايِئ وو الخ يا د قرء نه زِبرِج په وزن باندې جوړ كړه قِرءِءٌ به شي دا دويم همزه "ي" سره بدله كړه قرءي ترينه جوړ شو، بيا اعلال د قاض وكړه قِرءٍ پاتې شو، مثال د رابع د قرء نه قمطر وزن باندې جوړ كړه قِرَءْءٌ به شي، دا دويمه همزه واقع شوه په طرف كې پس د همزې ساكنه نه دا يا سره بدله كړه قِرَاي جوړ شو جار مجرى د صحيح، او لفظ د أؤمُ او د ده په شان نورې كلمې چيرته داسې راغلي وو په استعمال د كلام دعربو كې چې دوه همزي راغلي وي اول همزه د متكلم وي دوه وجې په دې دويم همزه د اؤم كې ته قصد كوه بيا برابره خبره ده چې دا دويم همزه مضموم وي لكه: أؤم واحد متكلم فعل مضارع معلوم شوه د أمَ يَأمُ نه، يا دا دويمه همزه مكسور وي لكه اَاِنُ واحد متكلم فعل مضارع معلوم شوه د اَنَ يَاِنُ نه اوس په دې كې ستا لپاره دوه وجې روا دي. ١ : التحقيق چې په خپل حال باندې باقي پاتې كړي او جوخت ووائي. ٢ : يا واو سره بدل كړه دا همزه مضمومه أوُم ووايه او يا يې يا سره بدل كړه همزه

مكسوره آين وو ايه.

| | |
|---|---|
| ٩٥٣- وَيَاءَ اقْلِبْ أَلفاً كَسرًا تَلاَ | أوْ يَاءَ تَصْغِيرٍ، بَوَاوٍ ذَا افْعَلاَ |

**ترکیب: ياء** مفعول ثاني مقدم **الفا** مفعول اول موصوف **كسرًا** مفعول به مقدم **تلا** جمله صفت **اوياء** عطف على كسراً **ذا** مفعول به مقدم **افعلا** الالف بدل من نون التاكيد للوقف.

**ترجمه:** او واړوه ته الف لره يا ته داسې الف چې دا واقع شوى دي وروسته د كسرې نه يا وروسته د يا د تصغير نه مثال د اول لكه: مصابيح او دنانير شو چې دا جمع د مصباح او ديشار دي په دې مصابيح كې دا يا بدل د الف د مصباح نه راغلي ده د وجې د كسري د ما قبل نه، او دنانير كې دا يا بدل د الف دينار نه راغلي ده د وجې د كسر د ما قبل نه، او مثال د ثاني لكه غُزَيِّل شو په تصغير د غزال، او خامخا وكړه دا كار د واو سره هم.

| | |
|---|---|
| ٩٥٤- فِي آخِرٍ، أوْ قَبْلَ تَا التَّأْنِيثِ، أوْ | زِيَادَتَي فَعْلاَنَ، ذا أيضًا رأوا |

**ترکیب: في آخر** په اعتبار د متعلق سره صفت د واو واقع شوي دي **اوذيا** معطوف على تا **ذا** مفعول به مقدم.

**ترجمه:** داسې واو چې واقع شوي وي اخير سر د كلمه كې وروسته د كسري نه، يا واقع شوي وي وروسته د "ي" علام د تصغير نه، يا واقع شوي وي مخكې د تاى تانيث نه وروسته د كسرې نه يا واقع شوى وي مخكې د دوه حرفينو زائدتينو د فعلان نه او وروسته د كسرې نه.

**تشريح:** واو په اتلسو ځايونو كې "ي" سره بدليږي، ناظم صرف اته ځايونه ذكر كړي دي په يو لړې كې. ١ : واو چې واقع شي لام كلمه كې وروسته د كسري نه "ي" سره بدليږي مثال لكه: دُعِيَ او رَضِيَ شو چې دا اصل كې دُعِوَ او رَضِوَ وو ځكه دا ماخوذ دي د دعوة او د رضوان نه. ٢ : دا واو واقع شوى وي وروسته د ياء د تصغير نه مثال لكه: جُرَيّ شو چې دا تصغير د جِرْو دي اصل كې جُرَيْو وو واو او "ي" جمع شو اول ساكن وو واو ئې بدل كړه "ي" سره او "ي" په "ي" كې مدغم كړه جُرَيّ شو. ٣ : دا واقع شوي وي مخكې د تاى تانيث او وروسته د كسري نه مثال لكه: راضِيَة او داعِيَة شو. ٤ : واو واقع شي مخكې د الف او نون مزيدتان د فَعِلان نه "ي" سره بدليږي مثال لكه: غَزِيان شو اصل كې غَزِوَان وو ځكه دا ماخوذ دى د غَزْو نه، دا بدل د واو يا سره دارنګه نقل كړى دى عربو.

| | |
|---|---|
| ٩٥٥- فِي مَصْدَرِ الْمُعْتَلِ عَيْنًا، وَالْفِعَلْ | مِنْهُ صَحِيحٌ غَالِبًا، نَحْوُ الحِوَلْ |

**ترکیب: في مصدر** متعلق بروو**ا عينًا** تميز **الفعل** مبتداء **منه** حال از ضمير خبر **صحيح** خبر **غالبًا** حال از ضمير خبر **نحو** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه:** په مصدر د هغه فعل کې چې اعلال کړې شوي وي عين کلمه د فعل، او واو راشي عين کلمه د اسم بر وزن فِعَل کې د دې مصدر نه هغه روغ پاتې کولی شي غالبًا په استعمال د کلام د عربو کې مثال د دې لکه: حِوَل شو دا مصدر د حال دی په دې کې اعلال نه دی شوی.

**تشريح:** واو واقع شي عين کلمه د مصدر کې وروسته د کسرې نه او مخکې د الف نه او د دې په ماضي کې اعلال شوی وي دا واو "ي" سره بدليږي مثال لکه: قيام شو چې مصدر د قام دې او صيام شو چې مصدر د صام دې اصل کې قِوَام او صِوَام وو. ۱: او که دا واو مصدر کې نه وو واقع شوي بيا اعلال نه کيږي مثال لکه: سِواك شو. ۲: يا مصدر کې واقع شوي دي لکن وروسته د کسرې نه ندي راغلی بيا هم اعلال نه کيږي مثال لکه: دَوام او بَوار شو. ۳: مصدر کې واقع شوي دي وروسته د کسري نه لکن د دې ماضي کې اعلال نه دي شوي بيا اعلال نه کيږي مثال لکه: قِوام شو مصدر د قاوم واخلي او لِواذ او جِوار شو چې مصدر د لاوَذَ او جاوَزَ واخلي په دې کې دا واو يا سره نه دې بدل شوي ځکه د دې په ماضي کې اعلال نه دې شوي. ٤: واو واقع شوي دي مصدر کې وروسته د کسري نه او ماضي کې هم اعلال شوي دي لکن مخکې د الف نه ندي واقع شوي په هغې کې غالبًا اعلال نه شي کولي بلکه دا واو روغ پاتې کولي شي مثال لکه: حِوَل کې اعلال نه دې شوي او کله کله دا واو يا سره بدله ولی شي خلاف القياس کما في قوله تعالى: ﴿جَعَلَ اللّٰهُ لَکُمْ قِیَمًا﴾ في قراءة اصل کې قِوَمًا وو او په يو قراءة کې قَوَمًا راغلي دي، ځوك وائي دا اصل کې قِيامًا وو بيا دا الف حذف شوي دي تخفيفًا قيمًا پاتې شوي دي.

| فَاحْکُمْ بِذَا الإِعْلاَلِ فِيهِ حَيْثُ عَنْ | ٩٥٦- وَجَمْعُ ذِي عَيْنٍ أُعِلَّ أَوْ سَکَنْ |
|---|---|

**ترکيب:** جمع مبتداء عين موصوف اعل جمله صفت فا زائده احکم خبر الاعلال بدل، يا عطف بيان نعت فيه، حيث دا دواړه متعلق دي احکم پورې عَن جمله مضاف اليه.

**ترجمه:** او جمع د هغه اسم مفرد چې هغه خاوند د عين کلمه وي اعلال پکې کړې شوي وي يا هغه خاوند دَ عين کلمې ساکنې وي حکم کوه ته په دې کې په دغه اعلال سره چيرته چې دا جمع ښکاره شي، عن دري قسمه دي. ۱: حرفي. ۲: اسمي په معنى د جانب سره: نحو من عن يميني اي من جانب يميني. ۳: فعلی هغه عنّ راځي بالتشديد دلته تخفيف شوي دي د وجې د ضرورت شعري نه.

**سوال** فعلی خو عنّ راځي بيا ته څنګه وائي چې عَن دري قسمه دي؟

**جواب** اعجام لره اعتبار نشته دي.

**تشريح:** دا واو "ي" سره بدليږي واقع شي عين کلمه د جمع کې پس د کسري نه او د دې په مفرد کې اعلال شوي وي مثال لکه: ديار رياح حِيَل قِيَم شو چې دا جمع د دار او ريح او حيلة او قيمة

دي، اصل کې دِوَار او رِوَاح او حِوَل او قِوَم وو، واو واقع شو عين کلمه د جمع کې وروسته د کسرې نه واو "ي" سره بدل کړه او د دي په مفرد کې اعلال شوي دي چې دار اصل کې دَوَر وو واو متحرك ما قبل مفتوح واو الف سره بدل شو دار جوړ شو، او ريح او حيلة او قيمة اصل رِوْح او حِوْلَة او قِوْمَة وو واو ساکن مظهر ما قبل مکسور واو ئي يا سره بدل کړه رِيح او حِيلَة او قِيمَة جوړ شو. ۷ : واو بدليږي "ي" سره چې دا واقع شي عين کلمه د جمع کې پس د کسرې نه او مخکې د الف نه او دا واو د دي په مفرد کې ساکن وو مثال لکه: ثياب او رياض او سياط شو چې دا جمع د ثوب او روضة او سوط دي، اصل کې رِوَاض او ثِوَاب او سِوَاط وو واو واقع شو په جمع کې پس د کسرې نه او مخکې د الف نه او دا واو په مفرد کې ساکن وو واو "ي" سره بدل کړه ثياب او رياض او سياط شو. او که دا واو واقع شوی وو په عين کلمه د جمع کې پس د کسرې او مخکې د الف نه لکن مفرد د دې کې اعلال نه وو شوي او نه ساکن وو بيا اعلال نه کيږي مثال لکه: طِوال شو چې جمع طويل ده او طويل کې اعلال نه دي شوي لعدم موجب الاعلال او دا واو ساکن هم نه دي اما جِياد جمع جَوادٍ شاذ.

او که دا واو واقع شوي وو په جمع کې پس د کسرې نه او په مفرد د دي کې هم ساکن وو لکن مخکې د الف نه نه وو واقع شوي بيا اعلال نه کيږي لکه دا به روغ متې پاتې کولی شي.

| | |
|---|---|
| ۹۵۷- وَصَحَّحُوا فِعَلَةً وَفِي فِعَلْ | وَجْهَانِ وَالإِعْلاَلُ أَوْلَى كَالْحِيَلْ |

ترکيب: فِعَلَةً مفعول به فِعَل خبر مقدم وجهان مبتداء مؤخر والاعلال مبتداء اولی خبر کالحيل خبر د مبتداء محذوف.

ترجمه: او روغ پريښودلی دي عربو هغه واو چې راغلي وي جمع بر وزن فِعَلَة کې اګر که دا واو اعلال شوي وي په مفرد کې يا ساکن وي په مفرد کې مثال لکه: عِوَدَة شو چې جمع د عُوْد ده، او عود زوړ اوښ ته وائي، بل مثال لکه: کِوَزَة جمع د کوز ده اما ثِيَرَة جمع ثَوْرٍ و تِيَرَة جمع تارةٍ شاذ دي.

او په هغه جمع کې چې هغه په وزن د فِعَل باندې وي دوه وجې روا دي: ۱ : تصحيح ۲: اعلال، لکن اعلال اولی دي د تصحيح نه مثال لکه: حِيَل شو جمع د حيلة ده اصل کې حِوَل وو واو يا سره بدل شوي دي، او که حِوَل بدون الاعلال اوائي دا هم جائز دي، بل مثال د دي لکه: قِيَم شو جمع د قيمة او قايِم شو اصل کې قِوَم او دِوَم وو جمع د دِيمة. مثال د تصحيح لکه حِوَج شو جمع د حاجة دي دِوَل شو جمع د دولة ده، دي ځای نه معلومه شوه چې دا واو په جمع کې وجوبًا يا سره هله بدلولي شي چې دا واقع شوي وي قبل الالف او په مفرد کې اعلال شوي وو يا ساکن وو او که دا واو مخکې د الف نه نه وو واقع شوي دا جمع به خالي نه وي. ۱ : يا به بر وزن فِعَلَة وي

يا فَعِل وزن باندې وي، كه فَعِلَة په وزن باندې وي بيا تصحيح واجب ده او كه فَعِل په وزن باندې وي په هغې كې جواز د وجهينو دي تصحيح هم جائز ده او اعلال هم جائز دي، لكن اعلال اولى دي د تصحيح نه.

| ٩٥٨- وَالْوَاوُ لَامًا بَعْدَ فَتْحٍ يَا انقَلَبْ ... | كَالْمُعْطَيَانِ يُرْضَيَانِ، وَوَجَبْ |
|---|---|

**تركيب:** **الواو** مبتداء **لاما** حال من الواو، او من ضمير انقلب **بعد** متعلق بانقلب **يا** مفعول به مقدم **انقلب** خبر **المعطيان** خبر د مبتداء محذوف **يرضيان** خبر جمله مقوله د قول محذوف اي كقولك المعطيان الخ **وجب** د دي تعلق وروستني بيت سره دي.

**ترجمه:** ۸: واو ګرځي يا په حال كون د دي واو كې چې لام كلمه وي او واقع شوي وي وروسته د فتحي نه مثال د دي لكه دا قول ستا شو: معطيان يرضيان اصل كې معطَوان او يرضَوان وو ځكه دا ماخوذ دي د رضوان او د عطا يعط عطاءً نه واو واقع شو لام كلمي په ځاى پس د فتحي نه بدل كړي شو يا سره معطيان او يرضيان شو، ځكه دا مبني للمفعول محمول دي په مبني للفاعل باندې هلته خو دا واو يا سره بدل شوي دي د وجې د كسري ما قبل نه او دلته يا سره بدل كړي شو حملاً. ۹: دارنګه واو "ي" سره بدليږي چې دا واو واقع شي جمع بر وزن فعول كې مثال لكه: دُلِي او دُعِي شو په خلاف د مفرد نه په هغې كې اعلال نه كيږي بلكه ادغام به كوي لكه: سُهو او عُلُو شو اما عُتِي شاذ دي. ۱۰: واو ساكن مظهر ما قبل مكسور وي واو "ي" سره بدليږي نحو ميزان و ميعاد ۱۱: واو راشي لام كلمه د فُعلى صفتي "ي" سره بدليږي نحو: عليا، دنيا. ۱۲: واو راشي لام كلمه مصدر بر وزن فِعَالة كې "ي" سره بدليږي نحو: شكايَة كان في الاصل شكَاوَة. ۱۳: واو راشي عين كلمه مصدر بر وزن فعلولة كې "ي" سره بدليږي نحو: كينُونَة كان في الاصل: كونونة. ۱٤: واو واقع شي لام كلمي په ځاى وروسته د واو مضمومه او مخكې د تاى تانيث نه نحو: قَوِيَة كان في الاصل قَوُوَة ضمه د واو اولى كسري سره بدل كړه قَوِوَة شو بيا دا دويم واو يا سره بدل كړه په قاعدي د دُعِيَ باندې قَوِيَة ترينه جوړ شو. ۱۵: واو واقع شي وروسته د واو مضمومه او مخكې د الف او نون مزيدتان د فَعلان نه يا سره بدليږي نحو: قَوِيَان كان في الاصل قَوُوَان بر وزن فَعُلان ضمه د واو اولى كسري سره بدل كړه بيا دا دويم واو يا سره بدل كړه په قاعدي د غزِيَان باندې قَوِيان شو ۱٦: واو واقع شي وروسته د دوه واوونو نه هغه يا سره بدليږي نحو: مَقْوِي كان في الاصل مَقْوُوْو بر وزن مفعول من قَوِيَ يقوَى ۱۷: واو واقع شي په اخير د اسم متمكن كې لازم وروسته د ضمي نه نو په "ي" سره بدليږي نحو: قَلَنْس و أدلِ كان في الاصل قلنسُو و ادلُو جمع د قلنسُوَة و دَلْوِ ده، واو بدل كړه يا سره بيا

ضمه د ما قبل بدل کړه کسري سره از برای مناسبت یا بیا اعلال د قاضٍ وکړه قلنسٍ او ادلٍ پاتې شو، دا واو یا سره ولې بدلوي؟ لانهُ لا يوجد في آخر الاسم المتمكن واو لازم ما قبلها مضموم. ۱۸: واو او یا جمع شي په یوه کلمه کې دا کلمه عام ده حقيقةً وي او که حکمًا وي او اول د دوی نه ساکن وي واو یا سره بدلولې شي بیا یا په یا کې مدغمه کیږي مثال د کلمې حقیقةً نحو: سیّد و مرمي او مثال د کلمې حکمي نحو: مسلمِيّ څکه مضاف او مضاف الیه د وجې د شدت اتصال نه په لفظ کې دا ګرځیدلي دي په منزله د کلمه واحده، او که دا په کلمتینو کې راغلي وو بیا دا واو یا سره نه بدلیږي نحو: جاء القاضي و الواحدُ.

| | |
|---|---|
| ۹۵۹- إبْدَالُ وَاوٍ بَعْدَ ضَمّ مِنْ أَلِفْ | وَيَا كموقنٍ بِذَا لها اعْتُرِفْ |

**ترکیب:** **ابدال** فاعل وجب **بعد** متعلق بابدال **یا** مبتداء موصوف **کموقنٍ** په اعتبار د متعلق محذوف سره صفت واقع شوي دي اي و یا کائنة کما موقن **بذا** دا دواړه متعل دي اعترف پورې جمله خبر.

**ترجمه:** واجب دي بدل راوړل د واو د الف نه چې دغه الف واقع شوي وي وروسته د ضمې نه مثال لکه: ضورب او بویع شو او که دا الف پس د کسرې نه واقع شوي وو بیا یا سره بدل کولې شي نحو: استبق، او که پس د فتحې نه واقع شوي وو په خپل حال باندې باقي پاتې کولې شي، او یا هسې یا چې کائنه وي په شان د یا د موقن یعنی یا ساکن ما قبل مضموم وي اقرار کوه ته دغه یا لپاره په دغه ابدال سره یعنی بدلول د یا واو سره واجب دي.

**تشریح:** الف بدل کیږي واو سره دري ځایونو کې، او ناظم صاحب صرف یو ځای ذکر کړي دي. ۱ : الف ساکن او ما قبل مضموم وي هغه الف واو سره بدلیږي نحو: بویع واو د بویع بدل راغلي دي الف د بایع نه د وجې د ضمې د ما قبل نه. ۲ : الف واقع شي مخکې د الف د صیغه د منتهی الجموع نه هغه واو سره بدلیږي نحو: قواریرُ، نواصرُ دا واو بدل راغلي دي الف د قارورة او د ناصرة نه. ۳ : الف واقع شي مخکې د یا د تصغیر نه واو سره بدلیږي نحو: نُوَیصر.

او یا شپږ ځایونو کې واو سره بدلیږي وجوبًا او صرف په یو ځای کې جواز د وجهینو دي. ۱ : یا ساکن مظهر احتراز عن زین ما قبل مضموم وي په مفرد کې دغه یا واو سره بدلیږي مثال لکه: موقن او یوقن شو اصل کې مُیقن او یُیقِنُ وو یا ساکن مظهر ما قبل مضموم وو په مفرد کې یا واو سره بدله کړه مُوقن او یُوقنُ ترینه جوړ شو.

| | |
|---|---|
| ۹٦۰- يُكْسَرُ الْمَضْمُومُ فِي جَمْعٍ كَمَا | يُقَالُ "هِيمٌ" عِنْدَ جَمْعِ "أَهْيَمَا |

**ترکیب:** **المضموم** نائب فاعل **في جمع** متعلق بیکسر **کما** ما مصدریه **هیم** نائب فاعل **اهیما** مضاف

اليه مجرور بالفتحه لانه غير منصرف للوصفية و وزن الفعل.
**ترجمه:** مکسور کولي شي هغه حرف چې هغه مضموم دي مخکې د يا ساکني نه په جمع کې لکه ويلي شي هِيم په ځای د هُيْم باندې په نزد د جمع د أهْيَم کې صفت مشبه کې، دارنګه بِيْض شو چې دا جمع د ابيض او د بَيضاء دي اصل بِيْض وو يا ساکن ما قبل مضموم وو په جمع کې نه په مفرد کې دا ما قبل ضمه کسري سره بدل کړه. ۱: از برای مناسبت یا. ۲: از برای محافظت يا چې دا يا واو سره بدل نه شي د وجې د ضمي د ما قبل نه او دا يا واو سره بدل نکړه د وجې د ثقل د جمع نه لپاره د حصول د تخفيف ځکه کسره حفيف ده د ضمي نه او يا خفيف ده د واو نه.

| | |
|---|---|
| ٩٦١- وَ وَاواً اثْرَ الضمِّ رُدَّ اليَا مَتَى | أُلْفِيَ لاَمَ فِعْلٍ أوْ مِنْ قَبْلِ تَا |

**ترکیب:** **ان** مفعول ثاني مقدم **اثر** متعلق برد **اليا** مفعول اول **فعلٍ** مفعول ثاني **من قبل** معطوف على لام.
**ترجمه:** او رد کړه ته يا لره واو ته چې دا يا واقع شوي وي وروسته د ضمي نه په کوم وخت کې چې بياموندي شي دا يا لام کلمه د فعل مثال لکه: نحو شو چې اصل نَهُيَ وو، او بل مثال دي لکه: قَضُوَ شو چې اصل کې قَضُيَ وو دا دواړه صيغي د فعل تعجب دي په معنی د ما انهاهُ او ما اقضاه سره، يا دا يا واقع شوي وه مخکې د تای تانيث نه او وروسته د ضمي نه.

| | |
|---|---|
| ٩٦٢- كَتَاءِ بانٍ مِنْ رَمَى كَمَقْدُرَهْ | كَذَا إذا كَسَبُعَانَ صَيَّرَهْ |

**ترکیب:** **كتا** خبر مبتداء محذوف اي مثاله **من رمى** دا دواړه متعلق دي بانَ پورې **كسُبعان** مفعول ثاني لصيّرَ.
**ترجمه:** مثال دهغه يا چې لام کلمه په ځای واقع شوي ده قبل التاء و بعد الضمه لکه تا د هغه لفظ شوه چې هغه جوړيدونکې ده د رمى ناقص يائي نه مقدرة په وزن باندې هغه به راځي مرمُيَة، او دغسې وګرځوه ته دغه يا لره چې کوم وخت کې جوړ کړي ته د دي رمَى نه په شان د سُبعان باندې رُميان دغه يا واو سره بدل کړه د وجې د ضمي د ما قبل نه رمُوان به وائي دارنګه مَرْمُيَة کې به مرمُوَة وائي.

| | |
|---|---|
| ٩٦٣- وَإنْ تَكُنْ عَيْنًا لِفُعْلَى وَصْفًا | فَذَاكَ بِالوَجْهَيْنِ عَنْهُمْ يُلْفى |

**ترکیب:** **وان** شرط **عينا** موصوف **لفعلى** صفت **وصفا** حال از فعلى **فذاك** مبتداء **بالوجهين** متعلق بيُلفى **يُلفى** جمله خبر.
**ترجمه:** کچيري وه دغه يا ساکنه په عين کلمه د فعلي صفتي کې دغه يا ليدلي کيږي په دوه وجو سره چې منقول دي د عربو نه.
**تشریح.** ۲: دا يا واو سره بدليږي واقع شوي وو لام کلمه په ځای پس د ضمي نه مثال لکه: رَمُوَ

الرجُل شو په معنی د ما ارماهُ سره اصل کې رَمُيَ الرجل وو. ٢ : دا یا واو سره بدلیږي په هغه اسم کې چې هغه راغلي وي مَععُلَة په وزن باندې مثال لکه: مَرمُوَة شو اصل مَرمُيَة وو یا واو سره بدله کړه د وجې د ضمي د ما قبل نه. ٤ : یا ساکنه واقع شي عین کلمه د اسم بر وزن فُعلی کې او هغه فعلی صفتي وو په هغې کې دوه وجې منقول دي د عربو نه. ١ : قلب الضمه کسرةً چې دا یا ساکنه په خپل حال باندې باقي پاتې شي. ٢ : ضمه په خپل حال باندې پاتې کړي او دا یا واو سره بدل کړي مثال لکه: ضوقَی او کوسَی شو په دې کې ستا لپاره جائز دي ضیقَی او کېسَی اوایه چې دا دواړه مؤنث د اضیقُ او اکیسُ اسم تفضیل دي، اصل کې کیسٰی او ضُیقٰی وو بر وزن فعلی. ٥ : او که دا "ي" ساکنه راغلي وي عین کلمه د فعلی اسمي کې بیا هلته دا یا واو سره بدلول لازم دي مثال لکه: طوبٰی شو چې دا نوم دي د جنة اصل طُیبٰی وو "ي" واو سره بدل شوه د وجې د ضمي د ما قبل نه. ٦ : او دا "ي" راشي لام کلمه د فعلی اسمي کې واو سره بدلیږي مثال لکه: تَقوٰی شو دا په دي فصل کې بیانوي.

## فصل

دا فصل دي په بیان د یو خاص نوع د ابدال کې

| | |
|---|---|
| ٩٦٤- مِنْ لاَمِ فَعْلَى اسْمًا أَتَى الْوَاوُ بَدَلْ | يَاء كَتَقْوَى غَالِبًا جَا ذَا الْبَدَلْ |

**ترکیب:** من لام متعلق ببدل اسمًا حال از فعلی الواو فاعل بدل حار از فاعل کتقوی خبر د مبتداء محذوف غالبًا حال از ذا ذا فاعل البدل بدل، عطف بیان، نعت، از ذا فاعل.

**ترجمه:** او راغلي دي واو بدل د یا د لام کلمي د فعلی اسمي نه مثال د دي لکه: تقوی شو او راغلي دي دغه بدل د واو د یا نه په دي فَعلَی اسمي کې غالبًا په استعمال د کلام د عربو کې.

**تشریح:** اسم جامد وو فَعلَی په وزن باندې په فتحي د فا او سکون د عین او په اخیر کې الف مقصوره سره د دي لام کلمي په ځای باندې یا راشي. ١ : دا غالبًا واو سره بدلیږي مثال لکه: تقوی او فتوَی او سروَی او بقوَی شو چې دا اصل کې تقیَی بل کانَ اصله وقوا او فتیَی او سریَی او بقیَی وو دا یا واو سره بدل شوه نو تقوی او فتوی او سروی او بقوی جوړ شو. ٢ : او کله کله دا یا په خپل حال باندې باقي پاتې کیږي مثال لکه: ریا شو دا اصل کې رویا وو بر وزن فعلی او اسمي دي ځکه دا نوم دي رائحه لپاره دا یا واو سره نه ده بدل شوي بلکه دا اول واو بدل شوي دي یا سره او یا په یا کې مدغم شوي ده رَیّا ترینه جوړ شوي دي او د قاعدي تقاضا دا وه چې رَوَی ئي ویلي وي او دا رَیا فعلی اسمي راغلي دي په دي قول د امرؤ القیس کې

| | |
|---|---|
| اذا قامتا تضوعَ المسك منهما | كنسيم الصبا جاءت بريا القرنفل |

يعني بوی د لونګو سره.

او بل رَیا فعلی صفتي دي صیغه واحده مؤنث صفت مشبه او مذکر د هغې رَیان راځي بیا مثال نه جوړیږي د فَعلی اسمي لپاره چې په هغې کې دا یا لام کلمه روغه پاتې شوي ده، او که دا فعلی صفتي وو بیا دا یا واو سره نه بدلیږي دا یا په خپل حال باندې باقي پاتې وي لعدم موجب الاعلال مثال لکه: رَیا شو چې مؤنث د ریان واخلي اصل کې رَویَا وو بیا واو یا سره بدل شو او یا په یا کې مدغم شوي ده په قاعدي د مرمي باندې ریا جوړ شوي دي او دا یا واو بدله نه کړه ځکه دا فعلی صفتي دي او دا یا واو سره په فعلی اسمي کې بدلیږي.

بل مثال د دي لکه صَدْیا او خَزْیا شو چې دا مؤنث د صدیان او د خزیان دي صدیان تګي سړي ته وائي او خزیان شرمیدلي ته وائي لکه: تابطَ شراً ویلي دي و الموتُ خزیانُ ینظر.

**سوال** ته وائي په دي کې اعلال وونه شو لعدم موجب الاعلال او موجب د اعلال خو په فعلی اسمي کې هم نشته دي هلته ولي اعلال کوي؟ **جواب** په فعلی اسمي کې اګر که قاعده د اعلال نه ده موجود بیا هم مونږ یا واو سره بدلوو فرقًا بین فعلی اسمي و بینَ فعلی صفتي.

**سوال** فرق خو په عکس سره هم راځي بالعکس ولي نه کوي؟

**جواب** بالعکس ئي ونکړه ځکه فعلی اسمي خفیف دي او فعلَی صفتي ثقیل دي او یا حرف علت خفیف دي او واو حرف علت ثقیل دي خفیف سره ثقیل مناسب دي او ثقیل سره خفیف مناسب دي ځکه مونږ فعلی اسمي کې یا واو سره بدل کړه او فعلی صفتي کې په خپل حال باندې باقي پاتې کړه فرقًا بین فعلَی اسمي و فعلَی صفتي او که مونږ فرق په عکس سره کړي وي لازم کیده ثقل در ثقل او دا باطل دي.

| ٩٦٥- بِالْعَكْسِ جَاءَ لاَمُ فُعْلَى وَصْفًا | وَكَوْنُ قُصْوَى نَادِرًا لاَ يَخْفَى |
| --- | --- |

**ترکیب: بالعکس** په اعتبار د متعلق سره حال از لام فعلی **لامُ** فاعل **وصفًا** حال از فُعلی **کون** مبتداء **نادر** خبر د کون **یخفی** جمله خبر د مبتداء.

**ترجمه**: راغلي ده لام کلمه د فعلی صفتي په عکس د فعلی اسمي باندې او که ته وائي نقض راغي په قصوی باندې چې دا فعلي صفتي دي واو نه دي بدل شوي یا سره؟ دا وائي کېدل د قُصوی په فعلی صفتي په بقا د واو سره نادر دي او د دي نادر والي او کموالي څه پټ ندي خلکو ته بلکه ټولو ته معلوم دي چې دا نادر دي.

**تشریح**: واو راشي لام کلمه د فُعلی اسمي کې په هغې کې اعلال نه کیږي هغه په خپل حال باندې باقي پاتي کیږي لعدم موجب الاعلال مثال لکه: حُزوَی شو چې دا د یو ځای نوم دي او واو راشي

لام کلمه د فعلی صفتي کې. ۱ : دا واو يا سره بدليږي غالبًا په استعمال د كلام د عربو کې مثال لکه دنيا او عليا شو، دا اصل کې دنوَی او علوَی وو ځکه دا ماخوذ دي د دنا يدنو او د علا يعلو ناقص واوي نه بيا دا واو "ي" سره بدل شو دنيا او عُليا جوړ شو. ۲ : او كله كله دا واو د فعلی صفتي په خپل حال باندې باقي پاتې کيږي مثال لكه: قُصوی شو في قوله تعالى : ﴿وَهُمْ بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوٰى﴾ بل مثال د دي لكه: حُلوَی شو ضد المر چې دا مؤنث د احلى دي او احلى ضد د امر دي په دي کې دا واو يا ره نه دي بدل شوي دا شاذ دي.. ۱ : احلى اسم تفضيل شي يعنى ډير خوږ مؤنث د دي راځي حُلوی. ۲ : او كه صفت مشبه شي يعنى خوږ بيا مؤنث د دي راځي حَلواء بر وزن فعلاء مثل حمراء كما في الحديث كان رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يحب الحلواء.

**سوال** ته وائي واواو فا او لام کلمه د فُعلی اسمي کې په خپل حال باندې باقي پاتې کيږي لعدم موجب الاعلال او موجب د اعلال لکه ځنګه چې دلته ندي موجود دارنګه په فُعلی صفتي کې هم ندي موجود هلته ولي دا واو يا سره بدلوي؟ **جواب** هلته اګر که قاعده د اعلال نده لکن دا واو يا سره بدلوو فرقًا بين فعلی صفتي و بين فُعلی اسمي.

**سوال** فرق په عكس سره ولي نه کوي؟ **جواب** بالعکس ئي ونکړه ځکه فُعلی صفتي ثقيل دي د فُعلی اسمي نه هغه تقاضا د تخفيف کوي اوتخفيف ورله مونږ ورکړو په ابدال د واو يا سره ځکه خفيفه ده د واو نه.

**سوال** يا چې راشي په لام كلمه د فعلی اسمي او صفتي کې د هغې حكم مونږ ته معلوم شو اوس واو راشي په لام كلمه د فعلی اسمي او صفتي کې دهغې حكم څه دي، دارنګه واو راشي لام کلمه د فُعلی اسمي او صفتي کې د هغې حكم څه دي؟

**جواب** واو چې راشي لام كلمه د فَعلی اسمي او فَعلی صفتي کې په هغه دواړو کې اعلال نه کيږي مثال لكه: دَعوٰى اسم او نَشوَی صفت شو، دارنګه يا واقع شي لام كلمه د فُعلی اسمي او فُعلی صفتي کې اعلال نه کيږي مثال لكه: فُتيا اسم او وُليا شو چې دا د اولى دي هر كله چې په دي کې اعلال نه کېږه بلكه په خپل حال باندې باقي پاتې کېدل دي د هغې بيان ونکړو ځکه دا هغه مواضع بيانوي چې په هغې کې ابدال کيږي.

## فصل

دا بل فصل دی په دې کې دا بیانوي نور مواضع د حروف ابدال.

| | |
|---|---|
| ٩٦٦- إنْ يَسْكُنِ السَّابِقُ مِنْ وَاوٍ وَيَا | وَاتَّصَلاَ وَمِنْ عُرُوضٍ عَرِيَا |

**ترکیب: ان یسکن** شرط **السابق** فاعل **من واو** متعلق بیسکن **و اتصلا** معطوف علی الشرط **من عروض** متعلق بعری **عریا** دا هم عطف دي په شرط باندې جزا وروستې بیت کې ذکر ده.

**ترجمه:** کچیري ساکن وو مخکني حرف د واو او د یا نه او دا دواړه متصل وو یو د بل سره په یو کلمه کې او عارضي والي نه خالي وو.

| | |
|---|---|
| ٩٦٧- فَيَاءَ الْوَاوَ اقْلِبَنَّ مُدْغِمَا | وَشَذَّ مُعْطًى غَيْرَ مَا قَدْ رُسِمَا |

**ترکیب: فیاء** جزائیه مفعول ثانی مقدم **الواو** مفعول اول مقدم **مدغمًا** حال از فاعل **معطی** فاعل **غیر** مفعول ثاني د معطی **ما** موصوله **رُسما** جمله صله.

**ترجمه** : خامخا بدلوه ته واو یا سره په حال کون ستا کې چې ته ادغام کوونکی یې، اوس کچیرې دا درې شرطونه موجود نه وو په یوه کلمه کې دغه اعلال په هغې کې وشي هغه به شاذ وي ځکه دا وائي و شذ او شاذ به وي هغه اسم چې ورکړې وي دې اسم ته حکم داسې حکم چې هغه غیر دی د هغه حکم نه چې هغه په تحقیق سره لیکلي شوی دی.

**تشریح:** یو او یا چې دواړه یو ځای راشي. ١ : په یوه کلمه کې او یوه کلمه عام ده حقیقةً وي او که حکمًا وي. ٢ : اول ساکن وو په سکون اصلي سره نه په سکون عارضي سره دا اول ساکن عام دي چې واو وي او که یا وي. ٣ : او دا اول حرف بدل نه وو راغلي د غیر نه بیا دا واو یا سره بدلولي شي او یا په یا کې مدغم کولی شي لپاره د حصول د تخفیف ځکه اجتماع د واو او یا په داسې کیفیت سره دا موجب د ثقل دي مثال د دې لکه: سید او میت شو ټول شرطونه په دې کې موجود دی اصل کې سیود او میوت وو واو بدل شو یا سره او یا په یا کې مدغمه شوه سَید او مَیت ترینه جوړ شو دا مثال د کلمې واحدې دي حقیقةً او مثال د کلمه واحده حکمًا لکه مسلمِي شو، اصل کې مسلموي وو، واو بدل شو یا سره او یا په یا کې مدغمه کړه او ما قبل ضمه کسرې سره بدل کړه مسلمِي ترینه جوړ شو دلته واو او یا یو ځای راغلي دي کلمتینو کې نه په کلمه واحده کې لکن دا په حکم د کلمه واحده کې دي ځکه مضاف الیه چې یا ضمیر د متکلم دی د وجې د شدت اتصال نه په منزله د کلمه واحده گرځیدلی دي.

**سوال:** دا واو یا سره ولې بدلوي؟

**جواب:** مقصود زمونږ په دې کې تخفیف دي او تخفیف حاصلیږي چې دا واو په "ي" سره بدل

کړو او "ي" په "ي" کې مدغمه کړو په کلمه کې ځکه واو ثقیل دي د "ي" نه.

**فوائد د قیوداتو:** که دا واو او یا په کلمه واحده کې نه وو راغلي حقیقةً بلکه کلمتینو کې راغلي وو حقیقةً بیا اعلال نه کیږي مثال لکه: جاء ابو یحیی، یمشي وحید، یُعطي واقد عمراً درهمًا شو.
۲: او واو او یا دواړه یو ځای په کلمه واحده کې خو راغلي دي لکن اول د دوی نه ساکن نه وو بیا هم اعلال نه کیږي مثال لکه: طویل شو. ۳: یا اول ساکن خو دي لکن دا سکون سکون اصلي نه دي بلکه سکون عارضي دي بیا هم اعلال نه کیږي مثال لکه: قُوْيَ شو اصل کې قُوِيَ وو بیا دا واو ساکن کړي دي په انداخت د حرکت سره چې دا یو لغت دي په ماضي مجهول د اجوف کې قُوْيَ پاتې شو په شان د قُوْلَ دا سکون د واو عارضي شو ځکه په دې کې اعلال ندی کړی. ۴: دا سکون خو عارضي نه دي بلکه دا سکون اصلي دي لکن د اول حرف بدل د بل حرف نه راغلي دي بیا هم اعلال نه کیږي مثال د دي لکه روْیَة او روْیا او دیوان او بُویع شو چې په دي رویع او رویا کې دا واو بدل د همزي نه راغلي دي اصل کې رؤیَة او رؤیا وو ځکه دا مصدر د رأی دي بیا همزه ساکن ما قبل مضموم همزه واو سره بدل کړه جوازاً رویة او رویا شو، اوس دا واو یا سره نه شي بدلولی په قاعده د سید باندې ځکه دا واو عارضي دي بدل راغلي دي د غیر نه دارنګه دیوان اصل کې دِوّان وو ځکه جمع د دي دَواوین راځي واو ساکن مظهر ما قبل مکسور واو یا سره بدل کړه دیوان ترینه جوړ شو، اوس دا واو یا سره نه شي بدلولی په قاعده د شید باندې ځکه دا ما قبل عارضي دي، دارنګه بویع اصل کې بایع وو حرف اول را ضمه دادند ما قبل آخر را کسره دادند بعده الف ساکن ما قبل مضموم بنا بر آن الف را بواو بدل کردند تا بایع ګشت بویع شد، اوس دا واو یا سره نه بدلیږي ځکه دا واو عارضي دي بدل د الف نه راغلي دي.

**اوس فائده مرتبه په دې قاعده باندې** ۱: دا شروط مذکوره په یوه کلمه کې موجود نه وي اعلال وشي هغه به شاذ وي نحو قوله تعالی: ﴿اِنْ كُنْتُمْ لِلرُّءْيَا تَعْبُرُوْنَ﴾ بالتشدید علی قراءة. ۲: یا دا ټول شرطونه موجود وي په یوه کلمه کې اعلال نه وو شوي هغه هم شاذ دي مثال لکه: یوم ایوم، حیوةٌ، ضیون، عویّة و غیره شو. ۳: یا دا ټول شرطونه موجود وي لکن یا واو سره بدل شوي وي او واو په واو کې مدغمه شوي وي هغه هم شاذ دي مثال لکه: عوة شو چې دا اصل کې عَوْیَة وو په معنی د آواز سره د قاعدي تقاضا دا ده چې دا واو یا سره بدلوه او یا په یا کې مدغموه عیّة وایه لکن دا خلاف القیاس عویة راغلي دي بدون الاعلال، دارنګه خلاف القیاس عوّة راغلي دي په ابدال د یا واو سره بیا ادغام د واو په واو کې یعنی دا لفظ د عویة دوه طریقو سره مستعمل دي په استعمال د کلام د عربو کې او دواړه طریقې شاذ دی او خلاف القیاس دي.

| | |
|---|---|
| ٩٦٨- مِنْ يَاءٍ أَوْ وَاوٍ بِتَحْرِيْكٍ أُصِلْ ... | أَلِفاً ابْدِلْ بَعْدَ فَتْحٍ مُتَّصِلْ |

**تركيب: من ياء** متعلق بابدل **واو** موصوف **بتحريك** صفت موصوف **أصل** جمله صفت **الفا** مفعول به مقدم **بعد** متعلق بابدل **فتح** موصوف **متصل** صفت.

**ترجمه:** بدل گرځوه ته الف لره د يا نه يا د واو نه داسې واو او يا چې متحرك كړې شوې وي په حركت اصلي سره او واقع شو وروسته د فتحي نه داسې فتحه چې هغه متصل وي واو او يا سره.

| | |
|---|---|
| ٩٦٩- إنْ حُرِّكَ التَّالِي، وَإنْ سُكِّنَ كَفْ | إعْلاَلَ غَيْرِ اللاَّمِ، وَهْيَ لاَ يُكَفْ |

**تركيب: ان حرك** شرط **التالي** نائب فاعل، جزا محذوف دل عليه الكلام السابق **سكن** ضمير مستتر راجع الى التالي نائب فاعل **كف** جزا **اعلال** مفعول به د كف **هي** مبتداء **اعلالها** نائب فاعل **اعلالها** جمله خبر.

**ترجمه:** په دې شرط چې متحرك وو هغه حرف چې واقع كيږي وروسته د واو او د يا نه متصل بلا فصل، كچيرې ساكن وو هغه حرف چې واقع شوي دي وروسته د واو او د يا متحركه نه متصل بلا فصل په دغه وخت كې منع كوه ته اعلال د دغه واو او د يا هغه په غير د لام كلمه كې دي.

| | |
|---|---|
| ٩٧٠- إعْلاَلُهَا بِسَاكِنٍ غَيْرِ أَلِفْ | أوْ يَاءِ التَّشْدِيْدُ فِيْهَا قَدْ أُلِفْ |

**تركيب: بساكن** متعلق بيكف، موصوف **غير** صفت **او ياء** معطوف على الالف، موصوف **فيها** متعلق بالف **ألف** جمله خبر.

**ترجمه:** او دا واو او يا چې دي دا نه شي منع كولې د اعلال كولو نه د وجې د وقوع د حرف ساكن نه وروسته د واو او يا نه غير د الف او د يا نه داسې يا چې تشديد په تحقيق سره معلوم كړې شوي دي په هغه يا كې چې هغه نسبتي دي.

**تشريح:** واو او يا متحرك په حركت اصلي سره واقع شي پس د فتحي نه په عين كلمه كې يا لام كلمه كې يا زائد دا الف سره بدلولې شي مثال لكه: قالَ او باعَ باب او ناب دعا او رمَى عصًا او رحًى او قلسًى شو. او كه دا واو او يا واقع شوي وو فا كلمه كې بيا اعلال نه كيږي مثال لكه: توسَّد او يتمَن شو دارنګه دا واو او يا متحرك وي په حركت عارضي سره بيا اعلال نه كيږي مثال لكه: جَيَل او حَوَب او تَوَم لَوِ اسْتَطَعْنَا شو په دې كې واو او يا متحرك ما قبل مفتوح دي او دا واو او يا الف سره ندي بدل شوي ځكه په دې واو او يا كې چې كوم حركت راغلي دي دا حركت عارضي دي نه حركت اصلي ځكه: جَيَل او حَوَب او تَوَم اصل كې جَيْئَل او حَوْءب او توأم وو بيا حركت د همزې نقل كړه ما قبل له وركړه او همزه حذف كړې شوه په قاعده يَسَلُ باندې جَيَل او حَوَب او تَوَم جوړ شو او لَوِ اسْتَطَعْنَا اصل كې لَوْ اِسْتَعْنَا وو بيا كله چې دا لو متصل

شو استطعنا سره همزه وصليه په درج کې وغورځیده بیا التقاء د ساکنینو راغي په ما بین د واو او سین کې علی غیر حده او اول مده نه وو چې حذف کړي وي لهذا مونږ واو له حرکت ورکړه کسره لان الساکنَ اذا حرك حُرك بالکسرِ لو استطعنَا ترینه جوړ شو.

بیا دا جیئل علم جنس دي ګورو کفن لپاره دا غیر منصرف دي لوجه د علمیت او د تانیث معنوي نه لهذا په دي کې به کسره او تنوین نه وائي، اوس واو او یا چې متحرك وي په حرکت کې اصلي سره پس د فتحي نه واقع شي عین کلمه کې یا لام کلمه کې یا زائد الف سره بدل کیږي دا مشروط دي په شروط خمسه وو سره.. ۱: که دا واو او یا واقع شوي وو په عین کلمه کې په هغې کې شرط دا دي چې مخکې د حرف علت ساکنه نه نه وي راغلي او که مخکې د حرف علت ساکنه نه راغلي وو بیا اعلال نه کیږي مثال لکه: بیان، طویل، غیور شو، او که دا واو او یا په لام کلمه کې واقع شوي وو بیا شرط دا دی چې مخکې د الف او یا مشدده نه به نه وي راغلي او که د دینه مخکې راغلي وو بیا اعلال نه کیږي مثال لکه: رَمَیا او دَعَوا او یُدعیان او عَصَوان او فتیَان او علِوي او فتَوِي شو، هر چې دي په الف کې لپاره د دي چې لازم نه شي په ما بین د تثنیه او مفرد کې پس د حذف د الف نه د وجې د التقاء د ساکنینو نه په رَمَیَا او دعَوا کې او یُدعیان کې التباس د مفرد سره په حالت د نصبي کې او حالت رفعي او جزمي محمول دي په حالت نصبي باندې او په عصَوان او فتیان کې التباس راځي په صورت د اضافت کې پس د حذف د الف نه د وجې د التقاء د ساکنینو نه ته چې دا مضاف کړي دا نون د تثنیه غوزیږي بیا دا پته نه لګي چې دا مفرد مضاف شوي دي او که تثنیه مضاف شوي ده، او هر چې دي په مشدد کې لپاره د دي چې لازم نه شي تسلسل ځکه الف راشي په دریم ځای کې او ته اتصال کوي د یا نسبتي دغه الف واو کیږي مثال لکه عصا کې به عصوي وائي، او که دا واو او یا واقع شي لام کلمه کې مخکې د بل حرف ساکن نه بیا اعلال کیږي مثال لکه: رمَوا او غزَوا او یخشَون او رمَت شو، واو او یا متحرك ما قبل مفتوح وو او ما بعد واو او تا ساکنه وه دا مانع د اعلال نه دي واو او یا الف سره بدل کړي شو او الف د وجې د التقاء د ساکنینو نه حذف شو رموا او غزَوا او یخشَون او رَمَت پاتې شو.

| | |
|---|---|
| ۹۷۱- وصح عینِ فَعَلٍ وفَعِلا | ذا أفْعَلٍ كأغْيَدٍ وأحوَلا |

**ترکیب:** عین فاعل ذا حال از فَعِل مکسور العین کاغید خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه:** او روغ به پاتې وي عین کلمه د هغه مصدر چې په وزن د فَعَل باندې وي او دارنګه عین کلمه د فعل ماضي چې هغه په وزن د فَعِل باندې وي په حال کون دي فَعِل چې دا خاوند د

صفت مشبه دي افعل په وزن باندې مثال د دي لکه: اغيد او احول شو.

**تشريح.** ۲ : دويم شرط دا دي دا واو او يا متحركه به عين كلمه د هغه ماضي مكسور العين كې به نه وي راغلي چې صفت مشبه د هغې نه افعل په وزن باندې راځي او كه داسې وو بيا اعلال نه كيږي مثال لكه: عَوِرَ او هَيِفَ او غَيِدَ او صَيِدَ شو او حَوِلَ شو په دي كې اعلال ندي شوي ځكه صفت مشبه د دي راځي اعور، اهيف اهيف: ضامر البطن اغيد مائل العنق اصدي، احور افعل په وزن باندې، او د دوی په مصدر كې هم اعلال نه كيږي چې هغه هَيَف او عَوَر او غَيَد او صَيَد او حَوَر دي حملاً على الفعل.

۳ : شرط دا دي: چې دا واو او يا به عين كلمه د باب افتعال بمعنى التفاعل كې به نه وي.

| | |
|---|---|
| ۹۷۲- وإنْ يَبِنْ تفاعُلٌ من افتعَلْ | والعينُ واوٌ سلمَتْ ولم تُعَلّ |

**تركيب:** و ان شرط **تفاعل** فاعل **من** متعلق بيبن **العينُ** مبتداء **واو** خبر **سلمت** جزا **لم تعل** حال از فاعل سلمت.

**ترجمه:** كچيرې ښكاره كېدله معنى د باب تفاعل د باب افتعال نه او حال دا دي چې عين كلمه د دي واو يا "ي" وه نو په دغه وخت كې عين كلمه د دي سالم پاتې كيږي او اعلال نشي كولي مثال لكه: اشتَوروا ، اجتَوروا شو په دي كې اعلال نه دي شوي ځكه دا محمول دي په تفاعل باندې لاتحاد المعنى ځكه دا په معنى د تشاوَرَ او تجاوَرَ سره دي، او تشاور او تجاور كې اعلال ندي شوي لعدم موجب الاعلال او په اجتور او اشتور كې اعلال ندي كړي حملاً على تجاور و تشاور. ٤ : شرط دا دي: لام كلمه به د دي اعلال شوي نوي او كه لام كلمه اعلال شوي وو بيا عين كلمه كې اعلال نه كيږي لپاره د دي چې لازم نشي توالي د اعلالين.

| | |
|---|---|
| ۹۷۳- وَإنْ لِحَرْفَيْنِ ذَا الإعْلالُ استَحَقْ | صُحِّحَ أَوَّلٌ وَعَكْسٌ قَدْ يَحِقْ |

**تركيب:** و ان **لحرفين** متعلق باستحق ذا نائب فاعل الفعل محذوف يفسر بعده **استحق** جمله مفسره **اول** نائب فاعل **عكس** مبتداء على تقدير الاضافة الى محذوف **يحق** جمله خبر.

**ترجمه:** كه چيرې ثابت وو لپاره دوه حرفونو دغه اعلال روغ به پريخودي شي اول حرف علت او ثاني كې به اعلال كوي لانه محل تغير لپاره د دي چې لازم نه شي توالي د اعلالينو په كلمه واحده كې او دا باطل دي مثال لكه: طوَى شو، او عكس د دي هم كله كله ثابتيږي او موجوديږي په استعمال د كلام د عربو كې مثال لكه: غايَة او طايَة او راية او آيَة شو چې اصل كې غَيَيَة، او طَيبة او رَوَيَة او أَيَيَة وو عين كلمه الف سره بدل شوي دي د وجې د فتحي د ما قبل نه خلاف القياس ځكه د قياس تقاضا دا وه چې دا لام كلمه الف سره شوي ځكه دا محل د

تغير دی دارنګه د عکس مثال لکه: واو او یاء شو چې اصل کې وَوَو او یَیَي وو.

| | |
|---|---|
| ٩٧٤- وَعَيْنُ مَا آخِرَهُ قَدْ زِيْدَ مَا | يَخُصُّ الاسْمَ وَاجِبٌ أَنْ يَسْلَمَا |

**ترکيب**: و**عين** مبتداء مضاف **ما** موصوله آخره متعلق بزيد **زيد** صله **ما** موصوله نائب فاعل **يخص** جمله صله **واجب** خبر **ان يُسلما** فاعل اي واجب سلامته.

**ترجمه**: او عين کلمه د هغه اسم چې په اخير د دي اسم کې په تحقيق سره زياتي کړي شوي د هغه حرف او هغه علامه چې هغه مختص ده په اسم پورې چې هغه الف مقصوره او الف او نون مزيدتين دي واجب دي عين کلمه د دې روغ پاتې کول.

**تشريح**: ۵: يعنى پنځم شرط دا دی چې دا واو او يا په هغه اسم کې نوي راغلي چې هغه اسم فَعَلان او فَعَلى په وزن باندې راځي مثال لکه: موَتان، حيَوان، جولَان هيمان، حيَدی، صورَی شو، ځکه اسم په دي وزن باندې راشي د هغې په معنى کې حرکت پروت دي دا عين کلمه د دې داسې متحرك پاتې کړو لپاره د دې چې حرکت د عين کلمې دلالت وکړي په حرکت معنوي باندې، هر چې مَوَتان دي دا محمول دي په حيَوان باندې حملاً للنقيض على النقيض او دا ران او ماهان شاذ دي، اصل کې دَوَران او موَهان وو، واو واقع شوي دي اسم بر وزن فَعَلان کې الف سره بدل شوي دي خلاف القياس ځکه په دي کې واو الف سره نه بدليږي.

| | |
|---|---|
| ٩٧٥- وَقَبْلَ بَا اقْلِبْ مِيْمًا النُّوْنَ إِذَا | كَانَ مُسَكَّنًا، كَمَنْ بَتَّ انْبِذَا |

**ترکيب**: و **قبل** متعلق باقلب **بما** مفعول ثاني **النونَ** مفعول اول **مسكنًا** خبر **كمن** خبر د مبتداء محذوف **انبذا** الالف بدل من نون التوكيد.

**ترجمه**: واړوه ته نون ميم ته يعنى دا نون بدلوه ميم سره داسې نون چې هغه واقع شوي وي مخکې د با نه، کله چې وي دا نون ساکن برابره خبره ده چې دا ميم او نون په يوه کلمه کې وي او که په کلمتينو کې وي مثال لکه: دا قول ستا شو: من بث انبذَن يعنې هغه سړي چې خوروي راز ستا ګوزار کړه ته دغه سړي لره خامخا ته ئې څه په تندر لګوې په دې باندې چې راز فاش کوي خپل ځان ترې لري ساته، اوس دا من بث دا مثال د کلمتينو دي چې نون ساکنه په يوه کلمه کې راغلي دي او با په بله کلمه کې راغلي ده او انبذَن دا مثال د کلمي واحدې دی، بل مثال د کلمه واحده لکه: عمبر شو او بل مثال د کلمتينو لکه من بعدهم شو.

| | |
|---|---|
| ٩٧٦- لِسَاكِنٍ صَحَّ انْقُلِ الْتَّحْرِيكَ مِنْ | ذِي لِيْنٍ آتٍ عَيْنَ فِعل كَأَبِنْ |

**ترکيب**: **لساكن** متعلق بانقل موصوف **صح** جمله صفت **التحريك** مفعول به **من** متعلق بانقل **لين** موصوف **آت** صفت **عين** حال از ضمير مستتر فاعل است **كابن** خبر د مبتداء محذوف.

**ترجمه**: نقل کوه ته حرکت لره حرف صحيح ساکن ته د حرف علت نه چې هغه راغلي وي عين کلمه د فعل کې مثال لکه: اَبِن شو صيغه واحد مذکر امر حاضر معلوم اصل کې اَبْيِنْ وو بر وزن اکرِم يا متحرك واقع شوه عين کلمه د فعل کې او ما قبل حرف صحيح ساکن وو حرکت د يا نقل کړه ما قبل حرف صحيح ساکن له ورکړه او يا حذف شوه د وجې د التقاء د ساکنينو نه نون سره اَبِنْ ياتي شو، بل مثال د دي لکه: يقوم او يبينُ شو او که دا واو او يا مفتوح او مخکې حرف صحيح ساکن وو فتحه به د واو او د يا نه نقل کوي ما قبل له به ورکوي بيا دا واو او يا الف سره بدل کيږي مثال لکه: اقام او استقام شو، او که مخکې حرف علت ساکن وو بيا حرکت ما قبل له نه شي ورکولی مثال لکه قاومَ او بايَع شو.

| ٩٧٧- مَا لَمْ يَكُنْ فِعْلَ تَعَجُّبٍ وَلاَ | كَأَبْيَضَّ أَوْ أَهْوَى بِلاَمٍ عُلِّلاَ |
|---|---|

**ترکيب**: **ما لم يکن** مصدريه ظرفيه **فعل** خبر يکن **و لا** زائده **کابيض** معطوف على **فعل تعجب اهوى** موصوف **بلامٍ** متعلق بعلل **عُللا** جمله صفت.

**ترجمه**: په دې شرط سره چې دغه واو او يا متحرك ما قبل حرف صحيح ساکن چې راغلي دي صيغه د فعل تعجب نه وي مثال لکه: ما اقولَه و اقولْ بهِ شو، او نه مضاعف په وزن د فعل باندې لکه: ابيض شو او نه په شان د اهوَى وي داسې اهوَى چې اعلال کړي شوي دي لام کلمه د هغه کې، او په فعل تعجب کې اعلال ځکه نه کيږي. ۱ : چې دا محمول دي په اسم تفضيل باندې لانها من وادٍ واحدٍ، او اسم تفضيل کې اعلال نه دي شوي تا که متلبس نه شود صيغه واحد مذکر اسم تفضيل بصيغه واحد متکلم از باب يخاف نحو اخاف. ۲ : ځکه دا ګرځيدلي دي په منزله د ضرب مثل او په امثال کې تغير او تصرف جائز نه دي، او هر چې دي ابيض لپاره د دې چې لازم نه شي التباس دَ واحد مذکر اسم فاعل سره بعد الاعلال ځکه حرکت د يا نُقل کړو ما قبل حرف صحيح ساکن له ورکړو همزه به حذف شي بيا دا پته نه لګي چې دا اسم فاعل صيغه ده او که ماضي صيغه ده، هر چې دي احوَى کې لپاره د دې چې لازم نه شي توالي د اعلالينو په کلمه واحده کې دا باطل دي.

| ٩٧٨- وَمِثْلُ فِعْلٍ فِي ذَا الإِعْلاَلِ اسْمُ | ضَاهَى مُضَارِعاً وَفِيْهِ وَسْمُ |
|---|---|

**ترکيب**: **و مثل** مبتداء **في ذا** متعلق بمثل لما فيه معنى المماثلة **اسم** خبر موصوف **ضاها** جمله صفت **مضارعًا** مفعول به **فيه** خبر مقدم **وسمُ** مبتداء مؤخر جمله حال.

**ترجمه**: او په مثل د هغه فعل باندې په دغه اعلال کې چې هغه نقل د حرکت دي د حرف علت نه مخکې حرف صحيح ساکن ته اسم دي داسې اسم چې هغه مشابه دي فعل مضارع سره په عدد

د حروفو او حرکاتو او سکناتو کې.

**سوال** بیا خو دا بعینه فعل مضارع شو فرق څه شو په ما بین د ده او د فعل مضارع کې؟

**جواب** دا وائي په دي کې به وي علامه د اسمیت چې هغه میم زائده دي په اول کې. یعنی اعلال دا حق د افعال دي ځکه فعل کې ثقل دي په اعتبار د معنی سره دا تقاضا کوي د تخفیف لکن په اسماء کې چې کیږي په هغه اسماؤ کې به کیږي چې هغه مشابه دي فعل مضارع سره په تعداد د حروفو او حرکاتو او سکناتو کې او په وقوع کې صفت لپاره د نکري چې هغه اسم فاعل او اسم مفعول دي.

| | |
|---|---|
| ۹۷۹- وَمِفْعَلٌ صُحِّحَ كَالْمِفْعَالِ | وَأَلِفُ الإِفْعَالِ وَاسْتِفْعَالِ |

**ترکیب**: **مفعل** مبتداء **صُحح** جمله خبر **المفعال** حال از نائب فاعل **والفَ** مفعول به مقدم وروسته ازل لپاره.

**ترجمه**: اسم آله په وزن د مفعل باندي لکه مِقوَل شو روغ رمتې پاتې کړی شوی دی په داسې حال کې چې دا په شان د اسم آله بر وزن مِفعال باندې دی.

**سوال**: اسم آله مفعل په وزن باندې دا هم دغسې دي چې مشابه دي فعل سره په تعداد د حروفو او حرکاتو او سکناتو کې او په اول سر کې داسې علامه ده چې هغه مختص دي په اسم پورې په دې کې ولې اعلال نه کیږي؟ **جواب**: ۱: دا محمول دي په مفعال باندې لاتحاد المعنی او په مفعال کې اعلال نه کیږي ځکه اعلال به هله کیدو چې دی هم وزن شوی وي د فعل مضارع سره چیرته فعل مضارع په دې وزن باندې نه دی راغلی په استعمال د کلام د عربو کې. ۲: او صاحب د مراح ویلي دي چې دا واو په ما بین د حرفینو ساکنینو کې به نه وي واقع شوي حقیقةً یا تقدیراً، حقیقةً لکه مقوال او مخیاط کې شو، او تقدیراً لکه مقول او مخیط کې شو ځکه دا مقول او مخیط مخفف دي او مختصر دي د مخیاط او د مقوال نه لکه چې هدبد او علبط مخفف دي او مختصر دي د هدابد او علابط نه. ۳: په دې مفعل کې اعلال نه کیږي ځکه دا مشابه دي مفعال سره لفظًا او معنًی هر چې دي لفظًا ځکه دا مفعل بعینه مفعال دي او په هغې کې دا الف د فتحه اشباعي نه پیدا شوی دی، هر چې دي معنًی دواړه راځي اسم آله او صیغه د مبالغه.

| | |
|---|---|
| ۹۸۰- أَزِلْ لِذَا الإِعْلاَلِ وَالتَّا الْزَمْ عِوَضْ | وَحَذْفُهَا بِالنَّقْلِ رُبَّمَا عَرَضْ |

**ترکیب**: **ازل** متعلق بازل **التا** مفعول به مقدم **عوض** حال از التاء **حذفها** مبتداء **بالنقل** متعلق بعرض **عرض** جمله خبر.

**ترجمه**: لرې کړه ته الف د باب افعال لره او الف د باب استفعال لره د وجې د دغه اعلال نه، او تا لازم کړه په ځان باندې په عوض راوړلو کې د الف محذوفه نه په اخیر کې او حذف د دې

"ت" كله كله وړاندې كيږي په نقل سره د عربو نه.

**تشريح:** دا واو او يا راشي عين كلمه د مصدر د باب افعال يا د باب استفعال كې په دې كې به اعلال كولى شي حملاً على الماضي په نقل د حركت سره او بيا به دا واو او يا الف سره بدليږي د وجې د فتحې د ما قبل نه او الف د باب افعال او الف د باب استفعال به غورځيږي د وجې د التقاء د ساكنينو نه په ما بين د الفينو كې بيا د هې په عوض كې به تا په اخير كې راوړي ځكه دا قاعده ده كوم حرف چې مصدر نه حذف شي بې د التقاء د تنوين نه ساكن سره د هغې په عوض كې به تا په اخير كې راوړي. ۱: كله دا تا په عوض كې راځي د فا كلمې نه مثال لكه: عدة شو. ۲: او كله دا تا عوض راځي د عين كلمې نه مثال لكه: اقامة او استقامة شو. ۳: او كله راځي عوض د لام كلمې نه مثال لكه: لغة شو، اصل لُغَو وو واو متحرك ما قبل مفتوح واو الف سره بدل كړه او الف د وجې د التقاء د تنوين نه حذف شو د هغې په عوض كې دا تا راغلي ده خلاف القياس ځكه مونږ مخكې ويلي وو چې دا تا په عوض كې راځي د هغه حرف نه چې هغه حذف شوي وي بې د التقاء د تنوين نه او دلته دا الف حذف شوي دي التقاء د تنوين د وجې نه، او دا تا د دې مصدر سره لازم ده بې د تا نه دا مصدر نه مستعمليږي لكن كله كله حذف كيږي دا تا د دې مصدر نه په صورت د اضافت كې او دا حذف موقوف دي په سمع د عربو پورې مثال نحو قوله تعالى واقامَ الصلاةِ او مزيد تحقيق د دې تير شوي دي په باب د مصدر كې هلته ئې وګوره.

بيا دې ناظم و الفُ الافعال و الاستفعال ازِل اويله دې ذهاب كړي دي مذهب د سيبويه ته دا مذهب د سيبويه دي او اخفش وائي التقاء د ساكنينو د وجې نه دا اول الف حذف كيږي نه دويم ځكه دا علامه ده والعلامةُ لاتحذفُ نو بنا په مذهب د سيبويه باندې اقامة او استقامة اِفعَلَة او اسْتفعَلَة په وزن باندې دی، او د اخفش په مذهب باندې اِفَالَة او اِستِفَالَة په وزن باندې دی، اَما اَستحوذَ استحواذاً، و اَغيَلَتُ اغيالاً و غيره شاذ دی.

| | |
|---|---|
| ۹۸۱- وَمَا لِإِفْعَالٍ -مِنَ الْحَذْفِ، وَمِنْ | نَقْلٍ- فَمَفْعُولٌ بِهِ أَيْضاً قَمِنْ |

**تركيب:** ما موصوله مبتداء اول لافعال صله ومن معطوف على من الحذف فمفعول مبتداء ثاني به متعلق بقمن قمن جمله خبر د مبتداء ثاني بيا جمله خبر د مبتداء اول.

**ترجمه:** او هغه اعلال چې ثابت وو لپاره د باب افعال د حذف او د نقل نه اسم مفعول هم په دغه نقل او حذف سره لائق دي.

| | |
|---|---|
| ۹۸۲- نَحْوُ مَبِيعٍ وَمَصُوْنٍ، وَنَدَرْ | تَصْحِيحُ ذِي الْوَاوِ، وفِي ذي اليا اشْتَهَرْ |

**تركيب:** نحو خبر د مبتداء محذوف تصحيح فاعل في ذي متعلق باشتهر.

**ترجمه:** مثال لکه مثل د مبيع او مصون شو چې مبيع اصل کې مبيوع وو په دي کې دوه مذهبه دي.
۱: مذهب د سيبويه دي. ۲: مذهب د اخفش دي، سيبويه وائي ضمه بر يا ثقيل بود نقل کرده بما قبل دادند بعده التقاء ساکنين شد ميان يا و واو على غير حده چون التقاء ساکنين على غير حده در کلام عرب جائز نبود بنا بر آن واو را حذف کردند نه يا لانها زائدة و الزائدة احق بالحذف تا مبيوع گشت مَبُيع شد بعده ضمه ما قبل از يا را بکسره بدل کردند از براى مناسبت يا و يا که لازم نيايد خروج از ضمه تحقيقي بسوى کسره تقديرى تا مَبُيع گشت مَبِيع شد بر وزن مَفْعِل.
اخفش وائي: ضمه بر يا ثقيل بود نقل کردند بما قبل دا دند بعده ضمه ما قبل از يا را بکسره بدل کردند از براى مناسبت يا بعده التقاء ساکنين شد الخ بنا بر آن يا را حذف کردند نه واو لأنّها علامة و العلامة لا تحذف تا مبيوع گشت مبِوُع شد بعده واو ساکن مظهر ما قبلش مکسور بنا بر آن واو را بيا بدل کردند تا مبوع گشت مَبِيع شد بر وزن مَفَيع. ۳: ضمه بر يا ثقيل بود نقل کرده بما قبل دادند بعده التقاء ساکنين شد الخ بنا بر آن يا را حذف کردند نه واو لانها علامة و العلامة لاتحذف تا مبيوع گشت مبوع شد بعده ضمه ما قبل از واو را بکسره بدل کردند تا که ملتبس نشود اجوف ياى باجوف واوى بعده واو ساکن مظهر ما قبلش مکسور بنا بر آن واو را بيا بدل کردند تا مبوع گشت مبيع شد. ٤: و يا که مبيع که در اصل مبيوع بود نقل کرده از مبيوع به مَبْيِوُع آورده بعده واو ساکن مظهر ما قبلش مکسور بنا بر آن واو را بيا بدل کردند تا مبيوع گشت مبيِيْع شد بعده کسره بر يا ثقيل بود نقل کرده بما قبل دادند بعده التقاء ساکنين ميان هر دو يا على غير حده الخ بنا بر آن بعض ياى اولى را حذف کند نه ثانى لانها علامة و العلامة لا تحذف، و بعض ياى ثاني را حذف کند نه اولى لانها زائدة و الزائدة احق بالحذف تا مبيع گشت مبيع شد بر وزن مفيل عند الاخفش و بر وزن مَفعل عند سيبويه.
او مصول اصل کې مصوون وو ضمه په واو کې ثقيله وه او ما قبل حرف صحيح ساکن وو حرکت د واو نقل کړو ما قبل حرف صحيح ساکن له ئي ورکړه بيا التقاء د ساکنينو راغله په ما بين د واوينو کې على غير حده او دا جائز نه دى، سيبويه وائي: التقاء د ساکنينو على غير حده د وجې نه دا دويم واو حذف کړي شوى دى لانها زائدة و الزائدة احق بالحذف مصون پاتې شو بر وزن مَفُعْل، اخفش وائي: التقاء د ساکنينو على غير حده د وجې نه دا اول واو حذف کړي شو نه ثاني لانها علامة و العلامة لاتحذف مصون پاتې شو بر وزن مفول بحذف العين.
او ابن مالك په نزد باندې غوره مذهب د سيبويه مذهب دى ځکه ده و ما لافعالِ الخ اويل او د سيبويه مذهب غوره ځکه دى اخفش د دليل نه جواب کوي حذف د علامه هله جائز نه دى چې

په هغې کلمه کې بله علامه نه وي موجود او دلته بله علامه موجود ده چې هغه میم دي او دلائل د سيبويه دا دي. ۱: حذف د اصلي حرف سره د بقا د حرف زائد نه بده خبره ده.
۲: په ابدال د واو باليا، په اجوف يائي کې اخفش لپاره څه دليل نشته دي.
۳: هغه واو چې يا سره بدل کړو علامه د اسم مفعول باقي پاتې نه شوه.
او تصحيح د هغه اسم مفعول چې هغه خاوند د واو دي يعنی اسم مفعول د اجوف واويو نه بې د اعلال نه کم راغلی دی په استعمال د کلام د عربو کې مثال لکه: مصوون او مقدود شو او تصحيح په هغه اسم مفعول کې چې هغه خاوند د يا دې يعنی اسم مفعول د اجوف يائي کې تصحيح د يا ډير مشهور دي مثال لکه: مديون او مخيوط شو، او لغت د بني تميم په دی باندې راغلي دي.

| | |
|---|---|
| ۹۸۳- وَصَحِّحِ المَفْعُولَ مِنْ نَحْوِ عَدَا | وَأَعْلِلِ انْ لَمْ تَتَحَرَّ الأَجْوَدَا |

**ترکيب: من نحوحال من المفعول الاجودامفعول به.**

**ترجمه**: روغ پريږده اسم مفعول لره په حال کون د دي اسم مفعول کې چې دا کائن دي د مثل د عدا نه يعنی اسم مفعول د ناقص واوي لره که غوره فکر کوي، او اعلال کوه اسم مفعول د ناقص واوي لره کچيري ته قصد د کره خبري کوي.

**تشريح**: اسم مفعول چې ناقص راشي دا اسم مفعول به خالي نه وي يا به يائي وي يا به واوي وي، که يائي وو بيا هلته اعلال واجب دي مثال لکه: مرمي شو کما مر، او که ناقص واوي وو بيا به خالي نه وي يا به د باب د نصر ينصر نه وي او يا به د باب د علم يعلم نه وي، که باب د نصر ينصر نه وو هغه روغ پاتې کوه صرف ادغام د واو په واو کې کوه مثال لکه: معدو وايه د عدا يعدو نه او مدعو وايه د دعا يدعو نه او اعلال په دي کې شاذ دي مثلاً معدو کې ته معدِي ووائي چې اخيري واو يا سره بدل کړي بيا اول واو واړوي يا ته او يا په يا کې ادغام کړي او ما قبل ضمه په کسرې سره بدل کړي لکه راغلي دي په دي قول د شاعر کې:

| | |
|---|---|
| لقد علمَتْ عرسي مليكةُ انني | انا الليثُ معديًا عليه و عاديا |

او که اسم مفعول ناقص واوي د باب د علم يعلم نه وو په هغې کې اعلال غوره دي او تصحيح شاذ ده مثال لکه: مرضِي به وائي په رضي يرضی کې لکه راغلي دي په دي قول د الله تعالی کې ارجعي الى ربّک راضية مرضية او مرضو ويل شاذ دي.
او که اسم مفعول د لفيف مقرون نه وو بيا هلته اعلال واجب دي مطلقًا برابره خبره ده که هغه واوي وي او که يائي وي مثال لکه: مقوي به وائي په قوي يقوی کې او مطوِي به وائي په طوَي يطوِي کې.

| | |
|---|---|
| ۹۸٤- كَذَاكَ ذَا وَجْهَيْنِ جَا الْفُعُولُ مِنْ | ذِي الْوَاوِ لَامَ جَمْعٍ اوْ فَرْدٍ يَعِنْ |

**ترکیب:** **کذاک** متعلق بجاء **ذا الوجهين** حال از فاعل **الفعول** فاعل **من ذي** په اعتبار د متعلق محذوف سره حال واقع شوي دي د فعول نه **لام جمع** حال از واو **فرد** موصوف **يعن** جمله صفت.

**ترجمه:** او دغسې راغلی دی خاوند د ذو وجهين هغه اسم چې په وزن د فعول باندې دي په حال کون د دې فعول کې چې دا خاوند د واو وي او په حال کون د دي واو کې چې دا به لام کلمه د جمع يا لام کلمه د مفرد ښکاره شوي وي.

**تشریح:** ناقص واوي راشي فعول په وزن باندې دا فعول به خالي نوي يا به صيغه د جمع وي يا به صيغه د مفرد وي په دې دواړو کې جواز د وجهينو دي. ۱ : واو روغ پريږده صرف دا اول واو مدغم کړه په دې دومي واو کې د وجې د اجتماع د حرفينو متجانسينو نه. ۲ : واو يا ته واړوه او يا په يا کې مدغم کړه او ضمه ما قبل کسرې سره بدل کړه لکن په دې مفرد کې تصحيح اولٰی ده د تعليل نه مثال لکه: عتا عُتوٌ، سما سمواً، نما نمُواً، اوائي دا اولی دي او عَيا عتا عُتيًا او سما سُميا او نما نُميًا ويلو نه دا جائز خلاف الاولی دي او په جمع کې تعليل اولی دي د تصحيح نه مثال لکه: دُلِي او عُصِي او دُعِي ووائي دا اولي دي د دُلو او عُصُو او دُعُو ويلو نه دا جائز خلاف الاولی دي، ظاهر کې د دي د عبارت نه مساوات معلوميږي لکن دي دا فرق بيان کړي دي خپل بل کتاب کې چې د هغې نوم الکافيه الشافية دي هغه د دي مفصل کتاب دي او د الفيه د هغې نه مختصر دي په هغې کې داسې ويلي دي:

و رجع الاعلال في الجمع و في مفرد التصحيح اولى ما قُفي

| | |
|---|---|
| وَنَحْوُ نُيَّامٍ شُذُوْذُهُ نُمِي | ۹۸۵- وَشَاعَ نَحْوُ نُيَّم فِي نُوَّمٍ |

**ترکیب:** **نحو** فاعل **في نُوم** متعلق بشاع **نحو** مبتداء اول **شذوذه** مبتداء ثاني **نمي** جمله خبر.

**ترجمه:** او شائع کثير دی مثل د نيم په اعلال سره په نُوم کې او مثل د نَيام ته شذوذ د دې نسبت کړی شوی دی.

**تشریح:** د اجوف واوي جمع فُعل په وزن باندې راشي په هغې کې هم جواز د وجهينو دي:

۱ : تصحيح مثال لکه: د نائم په جمع کې نُوم اوائي او د صائم په جمع کې نَوَم اوائي ۲: دارنگه جائز دی په دې کې تعليل نُيم او صُيم اوائي لکن په دې کې تصحيح اکثر دي د تعليل نه او که دا جمع راغلي وي فُعال په وزن باندې په هغې کې تصحيح واجب ده او اعلال راځي خلاف القياس لهذا نائم او صائم جمع فُعال په وزن باندې چې کوم صُوام او نُوام اوايه او نُيام او صُيام شاذ دي.

## فصل

په دې فصل کې بیانوي بله نوع د اعلال.

| ۹۸۶- ذُو اللِّیْنِ فَاتَا فِي افْتِعَالٍ أُبْدِلَا | وَشَذَّ فِي ذِي الهَمْزِ نَحْوُ ائْتَكَلَا |
|---|---|

**ترکیب:** ذو اللین مبتداء فا حال از ضمیر ابدل تا مفعول ثاني لابدل افتعال متعلق بابدل ابدلا خبر رابط محذوف دي ضمیر منصوب مفعول اول نحوفاعل.

**ترجمه:** خامخا بدلوه ته فا کلمې لره چې دا خاوند د حرف علت وي په تا سره او دا واقع شوی وي په باب افتعال کې، او شاذ دي ابدال د فا کلمه تا سره په باب افتعال کې چې هغه خاوند د هزې دي مثال د دي لکه مثل د ایتکل شو چې اتخذ او اتزر دي.

**تشریح:** دا قاعده دي فا کلمه د باب افتعال کې واو او "ي" راشي هغه "ي" چې بدل د همزې نه نوي راغلي هلته وجوبًا دا واو او یا تا سره بدلولي شي او تا په تا کې مدغم کولي شي، مثال د واو لکه: اِتَّقَدَ یَتَّقِدُ اتقاداً شو، او مثال د یا لکه اِتَّسَرَ یَتَّسِرُ اتساراً شو، او که دا یا بدل د همزې نه راغلي وه یا دا فا کلمه د باب افتعال په خپله دا همزه وه بیا هغه تا سره نه شي بدلولی او که چیرته بدل شوي وي هغه به شاذ وي مثال لکه: اتخذ او اتزر شو چې دا اصل کې اِاتَخَذَ او اِاتَزَرَ وو ځکه دا ماخوذ دي د اخذ او د ازار نه ځکه دا قاعده ده چې ماده جامده مزید ته وخیژوي هغې نه فعل جوړیږي لکه عضد اسم افتعال ته وخیژوي اِعتضد فعل جوړیږي دارنګه ازار اسم جامد دي کله چې باب افتعال ته وخیژ وي اِاتزَر فعل جوړ شو بیا همزه یا سره بدل شوه بیا یا تا سره بدل کړه او تا په تا کې مدغم کړه اِتَّخَذَ او اِتَّزَرَ شو، و في حدیث عائشة رضي الله عنها وکان یأمرني ان أتّزر بالتشدید، د دي وجې نه نحویانو ویلي دي اصلي روایت او ائْتَزِرَ دي نه أتّزر.

**سوال:** اوس دا واو او یا چې فا کلمه د باب افتعال کې راشي دا وجوبًا تا سره ولې بدلیږي؟

**جواب:** لپاره د حصول د تخفیف او سهولت په تلفظ کې ځکه تلفظ په حرف علت باندې سره د تانه دا ډیر ګران او متعسر دي د وجې د قرب مخرج نه په ما بین د دوی کې سره د منافات نه په صفت کې چې حرف علت د حروف مجهورو نه دي او تا د حروف مهموسو نه ده او په ما بین د همس او جهر کې منافات دي. ۲ : او که مونږ دا حرف علت تا سره بدل نه کړو په باب افتعال کې بیا دا حرکت د حرف اول د باب افتعال لوبې کوي فا کلمه د باب افتعال سره که دا حرف اول مفتوح وو الف کیږي او که مضموم وو واو کیږي او که مکسور وو یا کیږي. ایتقد یا تقد موتقد هر کله چې دوی د دینه ویریدل دا واو او یا په تا سره بدله کړه او تا په تا کې مدغمه کړه اتقد یتقد اتقاداً متقد جوړ شو حرکت په ټولو کې یو شانتې شو، اوس تلفظ په دې باندې اسان

دی. ۱ : دا افصح لغت دی. ۲ : ځنې دا واو او يا په خپل حال باندې پاتې کوي ايتقد ياتقد ايتقاداً موتقد وائي. ۳ : او څوک ئې مهموز کوي يعنی دا حرف علت بدلوي همزې سره ائتقد ياتقد ائتقاداً فهو مؤتقد دا لغت غريبه دي.

| ۹۸۷- طَاتَا افْتِعَالٍ رُدَّ إِثْرَ مُطْبَق | فِي ادَّانَ وَازْدَدْ وادَّكِرْ دَالًا بَقِي |
|---|---|

**ترکيب:** فا مفعول ثاني، تا: مفعول اول اثر متعلق برد في ادان متعلق ببقي دالا خبر مقدم بقي فعل دي د افعل ناقصو غير مشهورو نه.

**ترجمه:** او رد کوه ته تا د باب افتعال طا ته دا تا د باب افتعال واقع شوي وي وروسته د حروف مطبقو نه په ادان کې او په ازددُ کې اصل از قَدْ دي امر حاضر د باب افتعال نه او په ادکر کې دال گرځيدلی دي دا تا د باب افتعال.

**تشريح:** فا کلمه د باب افتعال راشي يو حرف د حروف مستعليه مطبقو نه چې حروف د صططظض دی دا تا د باب افتعال وجوبًا طا سره بدلولي شي بيا فا کلمه که طا وه فالادغام لا غير لاجتماع الحرفين المتجانسين في کلمةٍ واحدة نحو: اطّلب، او که فا کلمه ظا راغلي وه په هغې کې درې وجې جائز دی. ۱ : فك ادغام نحو: اظطَلم. ۲ : الادغام بقلب الظاء طاءً نحو: اِطّلم. ۳ : بالعکس نحو: اِظلم، او که فا کلمه صاد راغلي وو يا ضاد په هغې کې دوه وجې جائز دي. ۱ : فك ادغام نحو: اصطبر، اضطرب. ۲ : ادغام بقلب الطاء صاداً او ضاداً نحو: اصّبر، اضّرب او بالعکس جائز نه دی ځکه په دي ضاد کې يو زياتي صفت دي استطالت او صاد کې يو زياتي صفت دي چې هغه صفيريت دي ځکه دا حروف صفيريو نه دي اوس که مونږ د دي ادغام وکړو د دې هغه زياتي صفت ختميږي، او که فا کلمه د باب افتعال دال راغلي وو يا ذال راغلي وو يا زا راغلي وه "ت" د باب افتعال دال سره بدلولي شي وجوبًا بيا که فا کلمه دال وه ادغام واجب دي نحو: ادّانَ، او که فا کلمه ذال وو په هغې کې درې وجې جائز دي: ۱ فك ادغام نحو: اذدکر. ۲ : الادغام بقلب الدال ذالاً نحو اذّکر. ۳ : بالعکس اِدّکر کما في قوله تعالى **وادّکرَ بعدامةٍ** او که فا کلمه زا وه بيا په هغې کې دوه وجې روا دي: ۱ : فك ادغام نح، ازدان، ازدَد. ۲ : ادغام بقلب الدال زاءً نحو: ازّان او بالعکس جائز نه دي ځکه دا زا د حروف صفيريو نه ده او حروف صفيريو کې دا قانون دي چې دا په غير کې نه مدغم کيږي.

**سوال:** فا کلمه د باب افتعال کې يو حرف د حروف مطبقو نه راشي دا تا د باب افتعال طا سره ولې بدلوي؟ **جواب:** لپاره د دې چې لازم نه شي تعسر في النطق ځکه تا د حروف شديدو نه ده او صاد او ضاد او ظا د حروف رخويو نه دي ما بين کې ئې منافات دي، دارنګه تا د حروف

مهموسو نه ده او صاد او ضاد او ظا او طا د حروف مجهورو نه دي، او تا د حروف مستفلو نه ده او دا حروف مستعليه دي بيا طا سره بدل کړه نه نورو سره د وجې د قرب د مخرج نه.

**سوال:** فا کلمه د باب افتعال دال يا ذال يا زا راشي دال سره ولي بدليږي؟

**جواب:** تا د حروف شديدو نه ده او ذال او زا د حروف رخويو نه دي، دارنګه تا حروف مهموسو نه ده او دا درې واړه د حروف مجهورو نه دي ما بين کې منافات دي او که مونږ دا دال بدل نه کړو بيا تعسر في النطق لازميږي بيا دا تا دال سره بدل کړه د وجې د قرب مخرج نه.

| | |
|---|---|
| ۹۸۸- فَا أَمْرٍ أَوْ مُضَارِعٍ مِنْ كَوَعَدْ | احْذِفْ وَفِي كَعِدَةٍ ذَاكَ اطَّرَدْ |

**ترکيب:** **فا** مفعول به مقدم لاحذف **من کوعد** حال من امر **في کعدة** متعلق باطرد **ذاک** مبتداء **اطرد** جمله خبر.

**ترجمه:** حذف کړه ته فا کلمه د امر او د مضارع لره په حال د دي کې چې دا کائن دي د مثل د وعد نه او داسې حذف کړه ته فا کلمې لره په مثل د عدة کې او دا حذوف فا کلمه په مثل د عدة کې ډير دی په استعمال د کلام د عربو کې.

**تشريح:** يعنی امر او مضارع راشي مثال واوي نه چې هغه قياس دي باب ضَرَبَ يَضْرِبُ باندې دا واو فا کلمه حذف کيږي مثال لکه: يَعِدُ او عِدْ شو هر چې دي په يعد کې د وجې د وقوع د واو نه په ما بين د فتحه او کسره لازمي کې، او هر چې دي په امر کې اګر که دا قاعده نده موجود بلکه قاعده د ميزان موجود ده لکن دا واو حذف کولي شي محض لپاره د موافقت د اصل خپل سره چې مضارع ده دا مسئله هله ده چې دا امر جوړ شي د مضارع نه قبل الاعلال او که دا امر جوړ شي د مضارع نه بعد الاعلال بيا سره اعتراض نه واردیږي.

دارنګه مصدر راشي فعل په وزن باندې د مثال واويو نه او مضارع د ده کې اعلال شوي وي دا فا کلمه واو حذف کولي شي لپاره د موافقت د اصل خپل سره چې مضارع ده او د هغې په عوض کې تا په اخير کې راوړي شي لپاره د دي چې لازم نه شي نقصان د قدر صالح د کلمې نه مثال لکه عِدَة او ثِقة شو اصل وِعْد او وِثق وو واو واقع شو فا کلمه مصدر بر وزن فعل کې او د دې مضارع کې اعلال شوي وو دا وو حذف کړي شو د دي په عوض کې تا په اخير کې راوړي عِدة او ثِقة جوړ شو، او که په مضارع کې اعلال نه وو شوي بيا د دي په مصدر کې هم نه کيږي نحو: وِجل يا مضارع کې خو اعلال شوي دي لکن دا مصدر په وزن د فعل باندې نه دي مثال لکه: وعد او ميعاد او وصال شو بيا اعلال نه کيږي.

| مُضَارِعٍ وَبِنْيَتَيْ مُتَّصِفِ | ۹۸۹- وَحَذْفُ هَمْزِ أَفْعَلَ اسْتَمَرَّ فِي |
|---|---|

**ترکیب**: و **احذف** مبتداء، **استمر** جمله خبر **في مضارع** متعلق باستمر و **بنيتي** معطوف على مضارع، مضاف **متصف** مضاف اليه.

**ترجمه**: او حذف د همزي د باب افعال هميشه هميشه دي په مضارع دهغه کې او په دوه بناګانو د صفت د دي باب افعال کې چې يو اسم فاعل دي او بل اسم مفعول دي.

**تشریح**: همزه د باب افعال حذف کيږي په مضارع کې لپاره د دي چې لازم نه شي اجتماع د همزتينو په واحد متکلم کې چې هغه أكرم دي او په يكرم او تُكرم او نكرم کې حذف شوي دي طرداً للباب دارنګه دا همزه حذف کيږي په اسم فاعل او اسم مفعول کې هم لپاره د موافقت د مضارع خپل او په ماضي او مصدر او امر حاضر معلوم کې نه حذف کيږي ځکه دا صرف دا درې ځايونه ذکر کړل.

| وَقِرْنَ فِي اقْرِرْنَ، وَقَرْنَ نُقِلا | ۹۹۰- ظَلْتُ وَظِلْتُ فِي ظَلِلْتُ اسْتُعْمِلا |
|---|---|

**ترکیب**: **ظلت** مراد اللفظ مبتداء **في ظللت** متعلق باستعمل **استعملا** جمله خبر **قِرن** مراد اللفظ مبتداء **اقررن** متعلق ينقل **قرن** معطوف على قرن **نقلا** جمله خبر.

**ترجمه**: ظَلتُ په فتحي د ظا سره او ظِلت په کسري د ظا سره دا دواړه مستعمل کړي شوي دي په ظلِلتُ کې، او قِرن په کسري د قاف سره او قَرن په فتحي د قاف سره دا دواړه نقل کړی شوي دي د عربو نه په اقررن کې.

**تشریح**: مضاعف ثلاثي ماضي مكسور العين چې اسناد وشي تا ضمير د مخاطب ته يا نون ضمير ته په هغې کې دري وجې ستا لپاره روا دي. ۱: اتمام بدون الحذف و الادغام لوجود مانع الادغام و هو سكون الثاني مثال لکه: ظللتُ شو. ۲: تخفيف بالحذف په نقل د حرکت سره ما قبل ته مثال لکه: ظلتُ شو. ۳: تخفيف بالحذف بي د نقل د حرکت نه مثال لکه: ظَلتُ شو هكذا قيل في مَسْتُ. او مضاعف ثلاثي مضارع مكسور العين چې اسناد وشي نون ضمير د جمع مؤنث ته مثال لکه: يقرِرْن شو په دي کې دوه وجې روا دي: اتما. ۲: حذف بنقل الحركة، او بي دنقل د حرکت نه حذف جائز نه دي ځکه بيا لازميږي التقاء د ساكنينو على غيرحده، دارنګه جائز دي په امر د دي کې هم وجهين. ۱: فك ادغام أقرِرن اوايه. ۲: حذف بنقل الحركة او بيا همزه وصليه حذف کوه از جهت استغناء قِرْن اوايه په کسري د قاف سره، او حذف بي د نقل د حرکت نه په دي کې جائز نه دي لکه: ظلتُ کې چې جائز وو لپاره د دي چې لازم نه شي التقاء د ساكنينو على غير حده. ۳: او په دي کې قَرْنَ هم منقول دي په فتحي د قاف سره په قراءة د عاصم او د نافع کې او

د دوی نه علاوه نورو تولو و قِرْنَ ويلي دي بكسر القاف په نقل د حركت سره.

**سوال** اوس قرن چې چا ويلي دي دا فتحه د كوم خاى نه راغله؟ **جواب** دا د باب د علم يعلم نه دي اي قَرَ يَقَر بفتح القاف في المضارع اصل كې قَرِرَ يَقْرَرُ وو، او چا چې كسره ويلي ده د هغوى په نزد باندې دا باب د ضرب يضرب نه دي. ۲ : څوك وائي: و قِرْنَ بكسر القاف دا ماخوذ دي د وِقار نه يعنى باب وقر يقر قياس باب د ضرب يضرب باندې په شان د عِدْنَ معنى د دي دا ده په عزت او وقار سره دننه خپلو كورونو كې كېنئ؛ بلا ضرورته بهر ګرځيدل دا د ښځو لپاره بي عزتي ده، او قَرْنَ بفتح القاف دا ماخوذ دي. ۱ : د قرار نه من باب علم يعلم. ۲ : يا د اجواف واوي من قار يقار نه په شان د خاف يخاف، اجتماع د حرفينو متجانسينو راشي كله تخفيف كولي شي په حذف سره دا مخكې بيان شو او كلمه كې تخفيف كولي شي په ادغام سره هغه اوس بيانوي.

## الادغام

۱ : ادغام په تخفيف د دال سره. ۲ : ادغام دي په تشديد د دال سره لكن ادغام په تخفيف د دال سره دا لغت د كوفيانو دي از باب افعال ا ادغام په تشديد د دال سره دا الغت د بصريانو دي از باب افتعال اصل كې ادتغام وو لكن عبارت د كوفيانو غوره كړي دي ځكه د دوی په لغت كې تخفيف دي، او د بصريانو په لغت كې ګرانوالي دي، ادغام په لغت كې: ادخال اللجام في فم الفرس، و ادخال الثوب في الوعاء ته وائي لكه عرب وائي: ادغمتُ اللجام في فم الفرس، و ادغمتُ الثوبَ في الوعاء، او په اصطلاح كې. ۱ : اسكان الاول و ادخاله في الثاني ته وائي. ۲ : جار الله الزمخشري ويلي دي: ادغام الباثُ حرفٍ واحدٍ في مخرجه مثلُ الباث الحرفين في مخرجهما، يعنى يو حرف باندې په تلفظ كولو كې دومره وخت تير كړي چې څومره ساعت په حرفينو باندې تيريږي.

| | |
|---|---|
| ۹۹۱- أَوَّلَ مِثْلَيْنِ مُحَرَّكَيْنِ فِي | كِلْمَةٍ ادْغِمْ لاَ كَمِثْلِ صُفَفِ |

**تركيب:** اول مفعول به مقدم **مثلين** صفت د موصوف محذوف اي حرفين، موصوف **محركين** صفت اول **في كلمة** صفت ثاني **ادغم** الامر للوجوب **لا كمثل** ۱: معطوف عليه محذوف دي اي في اوزا مخصوصة لا كمثل الخ. ۲ : يا دا لا عاطفه نه ده بلكه دا لا نهي ده او مدخول د دي فعل حذف شوي دي او دا كاف زائد دي او دا مثل مفعول به دي هغې پداره اي لاتدغم مثل.

**ترجمه** :ادغام كوه ته وجوبًا اول د دوه حرفينو نه په ثاني كې داسې حرفين چې مماثلين او متجانسين دي داسې مماثلين چې دواړه متحرك دي او داسې مماثلين چې په كلمه واحده كې راغلي دي چې نه دي وي دا كلمه واحده په مثل د صُفَف كلمه باندې لكه دُرِر شو.

| ۹۹۲- وَذُلَلٍ وَكِلَلٍ وَلَبَبٍ | وَلاَ كَجُسَسٍ وَلاَ كَاخْصُصَ ابی |
| --- | --- |

**ترکیب:** وذلل دا ټول عطف دي په صفف باندې لازائده.

**ترجمه:** او نه په هغه کلمه کې چې هغه اسم دي فُعُل په وزن باندې دي لکه ذلل شو، هغه کلمه کې چې هغه اسم دي فِعَل په وزن باندې لکه: کلل شو، او نه په هغه اسم کې چې هغه فَعَل په وزن باندې دي لکه لبب شو، او اول د متجانسينو نه مخکې بل متجانس مدغم فيه نه وي په مثل د جسَس باندې ځکه بيا لازميږي التقاء د ساکنينو او داسې ادغام نه کيږي په هغه کلمه کې چې په هغې کې حرکت د ثاني د متجانسينو عارضي وي مثال لکه: اخصُص ابِی شو، اصل کې اخصُص أبِي وو همزه متحرکه ما قبل حرف صحيح ساکن وو حرکت د همزې نقل کړه مخکې دې صاد له ئي ورکړه او همزه ئي حذف کړه تخفيفًا په شان د قد افلحَ اخصُص ابِي جوړ شو حرکت د صاد ثاني عارضي دي دا په حکم د سکون کې دي په دي کې ادغام واجب ندي بلکه جائز دی، او نه دي وي دغه ثاني د متجانسينو نه په شان د هيلل باندې ځکه په دې کې دا ثاني حرف لپاره د الحاق د دحرج زياتي شوي دي او کوم حرف چې زياتي شوي وي الحاق لپاره په هغې کې ادغام جائز نه دي مثال لکه قردد، مَهْدَدَ ځکه بيا الحاق ورانيږي، که لفظ جامع د دې شرطونو وو بيا ادغام په هغې کې واجب دي مثال لکه: فرّ او مدّ شو او که ته وائي نقض راغی په ألِلَ باندې دا وائي:

| ۹۹۳- وَلاَ كَهَيْلَلَ وَشَذَّ فِي أَلِلْ | وَنَحْوِهِ فَكٌّ بِنَقْلٍ فَقُبِلْ |
| --- | --- |

**ترکیب:** بنقل په اعتبار د متعلق محذوف سره صفت.

**ترجمه:** شاذ دی روغ پريښودل بې د ادغام نه په ( أَلِلَ السقاءُ او الاسنانُ بدبوی شو مشک د ابو يا غا بنو نه ) يا په مثل د الل کې لکه: دبب الانسانُ شو چې د دې په تندی ويښته راوختل، خببتِ الارضُ، او الحمدُ لله العلي الاجلل، وغيره شو يعنی هر هغه کلمه چې هغه جامع د شرطونو دي، او په هغې کې ادغام شوي نه وي شاذ دي، په خلاف د الحمد لله العلي الاجلل دا شاذ مردود دي منافي دي د فصاحت سره ځکه دا منقول د عربو نه نه دي، او قبول کړي شوي دي ځکه دا منقول دي د عربو نه.

**تشریح:** اجتماع د حرفينو متجانسينو په يوه کلمه کې راشي په هغې کې کله تخفيف کولي شي په ادغام سره او ادغام په درې قسمه دي. ۱ : واجب الادغام. ۲ : جائز الادغام. ۳ : ممتنع الادغام، او واجب الادغام بيا دوه قسمه دي. ۱ : ادغام صغير. ۲ : ادغام کبير، کچيرې اجتماع د حرفينو متجانسينو راغلې وي اول ساکن ثاني متحرك وو او اول په دويم کې ادغام کړي هغې ته ادغام

صغير وائي مثال لکه: مَد شو، او که اجتماع د حرفینو متجانسینو راغلي وه اودواړه متحرك وو اول نه حرکت وغورځوي په دویم کې ادغام وکړي هغې ته ادغام کبیر وائي مثال لکه: مَدَّ شو، اوس هغې ته صغیر او دیته کبیر ولي وائي؟ ځکه په هغې کې صرف یو کار شوي دي چې ادراج دي او په دې کې دوه کارونه شوي دي اسکان، ادراج.

بیا دا اجتماع د حرفینو متجانسینو به خالي نه وي. ۱: یا به دواړه متحرك وي. ۲: یا به اول ساکن ثاني متحرك وي. ۳: یا به بالعکس وي، که بالعکس وو بیا ادغام ممتنع دي مثال لکه: امدد شو، او که اول ساکن ثاني متحرك وو بیا ادغام واجب دي برابره خبره ده چې کلمه واحده کې راغلي وي او که کلمتینو کې راغلي وي مثال د کلمي واحدي لکه: مَد او سبَّ شو، او مثال د کلمتینو لکه، قل له، استغفر ربك، عني، علي، سکتُ، سکنا، بیا کچیرې دا ثاني د مثلین ضمیر وو ادغام واجب دي لفظًا و خطًا یعنی خط چې لیکي یو حرف به لیکي مشدد مثال لکه: سکتَ او سکنا شو، او که ثاني ضیمر نه وو بیا ادغام واجب دي لفظًا لاخطًا یعنی لیکې به دوه حرفونه او تلفظ به په یو باندې کوي مثال لکه: قل له، انك لم تفعل الشر.

او که دواړه متحرك وو بیا به خالي نه وي یا به کلمتین کې راغلي وي یا به کلمه واحده کې راغلي وي که کلمتینو کې راغلي وو بیا ادغام جائز دي ستا خوښه ده چې کوي ئې او که نه ئې کوي مثال لکه: جعل لکم الارض فراشًا او مناسککم شو، او که کلمه واحده کې کې راغلي وو بیا ادغام واجب دي لکن دا مشروط دي په شروط عشره سره. ۱: شرط دا دي چې دا حرفین متجانسین به د کلمي اول سر کې نه وي راغلي او که راغلي وو بیا ادغام ممتنع دي مثال لکه: ددنَ، تتنزل، اواصل شو. ۲: دا اسم به فُعَل وزن باندې نه وي راغلي که راغلي وو بیا ادغام ممتنع دي ځکه بیا لازمیږي التباس د مفرد سره یا د بل شي سره مثال لکه: صُفَف او دُوَر او جُدَد شو صُفَف جمع د صفة ده او صفة د اوړي کور ته وائي، یعنی سوري ئې جوړ کړي وي د هغې لاندې کېني د گرمی. د وجې نه او در جمع د درة ده ملغلري ته وائي او جدد جمع د جُدة ده طریقه او علامي ته ویلي شي. ۳: دا اسم به فُعُل په وزن باندې نه وي راغلي که فعل وزن باندې راغلي وو بیا ادغام ممتنع دي مثال لکه: ذُلُل او سُرُر او جُدُد شو، ذُلُل جمع د ذلول ده او سرر جمع د سریر ده او جدد جمع د جدید ده. ٤: دا اسم به نه وي راغلي فِعَل په وزن باندې او که فعل په وزن باندې راغلي وو بیا ادغام ممتنع دي مثال لکه: لِمَم او کِلَل او حِلَل شو، لمم جمع د لِمة ده هغه ویښتو ته ویلي شي چې هغه مجاور وي د نرمو د غوږونو سره، او که نرمو د غوږونو سره بلکل برابر وو هغې ته جمه وائي، او وفره هغه ویختو ته وائي چې ښټ ته رسیدلي

وې دا درې واړه مسنون طريقي دي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ويختو په باره کې لمه، وفره، جُمه درې واړه راغلي دي، او كلل جمع د كلة ده نرئ پردي ته وائي، او حِلل جمع د حِلة ده او حِلة محلى ته وائي او يو حُله ده په ضمي د حا سره د هغې جمع حُلل راځي بضم الحاء هغه په معنى د جوړه جامي سره دي، او حُلِي، دي بر وزن دُلِي هغه جمع د حَلي ده په معنى د زيوراتو سر، او يو حُلي دي بضم الحاء و كسرها و بفتح اللام هغه جمع د حِلية ده په معنى د صورت او صفت سره يعنى هغه علامات چې كائن دي په بدن د حيوان پورې په سترګو باندې ليدلي كيږي هغې ته حُلي وائي.
۵: دا اسم به نه وي راغلي فَعَل په وزن باندې او كه فَعَل په وزن باندې راغلي وو بيا ادغام ممتنع دي مثال لكه: لَبَب او طَلَل او خَبَب او ضَبَب شو، لبب سيني ته وائي، او طلل علامه او اثر د كور ته وائي جمع د دي راځي اطلال او طلول، او خبب منډه وهلوته وائي، او ضبب الارض اذا كثر فيها الضبُ يعنى سمسري. ۶: شرط دا دي اول د متجانسينو سره حرف ساكن به نوي متصل شوي كه حرف ساكن متصل شوي وو بيا ادغام ممتنع دي لپاره ددي چې لازم نه شي التقاء د ساكنينو على غير حده مثال لكه: جُبَبَ او جُسَس شو دا جمع مذكر مسكر اسم فاعل صيغه ده جمع د جاس ده بر وزن ماد. ۱: په معنى د جاسوسئ. ۲: يا په معنى د لمس سره دي. ۷: شرط دا دي حركت د ثاني د متجانسينو عارضي به نه وي او كه عارضي وو بيا ادغام واجب نه دي مثال لكه: اخصُص ابِي، لن يُحييَ، رايتُ محييًا شو. ۸: شرط دا دي چې دا يو حرف د متجانسينو به زائد لپاره د الحاق نه وي او كه زائد لپاره د الحاق وو بيا هلته ادغام ممتنع دي مثال لكه: قردَد شو. ۹: شرط دا دي چې اجتماع د متجانسينو به صيغه د فعل تعجب كې نه وي راغلي كه فعل تعجب كې راغلي وي ادغام ممتنع دي مثال لكه: اعزِز بالعلم، احبِب بالعلم شو، دا به دا وروسته بيانوي. ۱۰- شرط دا دي چې عين كلمه او لام كلمه د دې به يا نه وي داسې يا چې تحريك د هغې لازم دي مثال لكه: حَيِي شو دا اوس بيانوي.
اجتماع د حرفينو متجانسينو راشي په كلمه واحده كې دواړه متحرك وي او جامع د دې شروط وي ادغام واجب دي لكن اول به ساكن كړي په ثاني كې به ئې مدغم كړي خكه متحرك په متحرك كې نه مدغم كيږي، اوس دا اول حرف چې ته ساكن كوي د هغې طريقي دوه دي. ۱: ساكن كوې به په نقل د حركت سره په دوه ځايونو كې. ۱: مخكې حرف صحيح ساكن وي مثال لكه: اقشعر شو. ۲: مخكې حرف علت ساكن غير مده وي مثال لكه: يَوَد شو. ۲: ساكن كولي شي په حذف د حركت سره په دوه ځايونو كې. ۱: مخكې متحرك وي نحو: مَد. ۲: مخكې مده وي نحو: دابة.

| كَذَاكَ نَحْوُ تَتَجَلَّى وَاسْتَتَرْ | ٩٩٤- وَحَيِيَ افْكُكْ وَادَّغِمْ دُوْنَ حَذَرْ |
|---|---|

**تركيب:** **حيي** مراد اللفظ مفعول به مقدم **دون** حال از از فكك و ادغام و ادغام چې معلومېږي د فعل نه **حذر** مصدر مضاف اليه **كذاك** خبر مقدم **تتجلى** مبتداء مؤخر.

**ترجمه:** ترك د ادغام وكړه په حيي كې يا ادغام كوه حيّ وو ايه بې د خوف او خطره، يا په حال كون د دي فك او ادغام كې دا نه دي ممنوع لكن تفكيك غوره دي د ادغام نه ځكه دا افكك مخكې كړې دي په و ادغم باندې، او داسې مضارع معلوم د باب تفاعل او باب تفعل كې چې دوه تاګانې جمع شي ترك د ادغام كوه او ادغام كوه بې د ويرې د چا نه كه ديته ګوري چې اجتماع لازمه نه ده ادغام وكړه او كه ديته ګوري چې اجتماع د حرفينو متجانسينو راغلي ده ادغام وكړه كله چې ادغام وكړې بيا همزه وصليه مكسوره اول كې راوړه لپاره د دې چې ابتداء بالساكن را نشي مثال لكه: تَتَجلى كې چې ادغام كوې اِتَجَلى اوايه خلافًا للجمهور هغوی وائي په دې كې ادغام جائز نه دي بلكه تخفيف بالحذف كولې شي وروسته به راشي ځكه زيادت د همزه وصليه په اول سر د مضارع كې چيرته نه دي راغلي په استعمال د كلام د عربو كې، دارنګه جائز دي ستا لپاره ادغام او عدم ادغام دواړه په استتر كې چې دوه تاګانې جمع شوي وي په باب افتعال كې ادغام چې كوې سَتر يُستر سِتاراً به وائي په حذف د همزې د استفهام سره د وجې د استغناء نه.

| فِيهِ عَلَى تَا كَتَبَيَّنُ الْعِبَرْ | ٩٩٥- وَمَا بِتَاءَيْنِ ابْتُدِي قَدْ يُقْتَصَرْ |
|---|---|

**تركيب:** **ما** موصوله مبتداء **بتائين** متعلق بابتدى **ابتدى** صله **قد يقتصر** جمله خبر **فيه** نائب فاعل **على تا** متعلق باقتصر **كتتبين** خبر د مبتداء محذوف **العبر** فاعل.

**ترجمه:** هغه صيغه د معلوم چې دوه تاګانو سره شروع شوي وي كله كله اقتصار كولې شي په دې كې په يو تا باندې مثال د دې لكه: تبين العبرُ شو: ترجمه :ښكاره به شي عبرتونه، دا اصل كې تَتَبينُ العبر وو دا يوه تا حذف شوي ده قياسًا لپاره د حصول د تخفيف د وجې د اجتماع د متجانسينو نه ځكه اجتماع د حرفينو متجانسينو چې راشي په هغې كې تخفيف د وجې د درې طريقو سره. ١ : تخفيف بالادغام. ٢ : بالابدال. ٣ : بالحذف، بيا دا تخفيف بالحذف دوه قسمه دي. ١ : قياسي. ٢ : سماعي، قياسي لكه دا شو، او سماعي لكه: ظَلت او حسْتُ او أَحسْتُ شو، بل مثال د دې قياسي نحو قوله تعالى: ﴿تَنَزَّلُ الْمَلَٰٓئِكَةُ﴾ ﴿فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ﴾ ﴿نَارًا تَلَظَّىٰ﴾ اصل تتنزل الملائكة، وانت له تتصدى، ونارًا تتلظى وو يو تا حذف شوې ده او يوه پاتې ده.

اوس كومه يوه تا به نه حذف كوې په دې كې خلاف دي. ١ : بصريان وائي دا دويم تا به حذف

کوي نه اول ځکه اول تا علامه د مضارع ده او و العلامة لاتُحذف. ۲ : او کوفیان وائي اول به حذف کوي نه ثاني، ځکه دا دویمه تا مفید د معنی ده لکه مطاوعت و غیره شو، او حذف د دي مخل دي معنی لره، بل دا اول تا علامه د مضارع ده او دا دویم تا علامه د باب ده او رعایت د باب اهم دي د رعایت د مضارع نه او دا حذف د یو د دوه تاګانو جائز دي په مضارع معلوم کې او په مضارع مجهول کې د دي حذف جائز نه دي ځکه بیا لازمیږي التباس د مجهول د معلوم سره که اول تا حذف کړي او که دویم تا حذف کړي بیا لازمیږي التبا د مجهول د باب تفعل مجهول د باب تفعیل سره او لازمیږي التباس د مجهول د باب تفاعل مجهول باب مفاعله سره.

| | |
|---|---|
| ۹۹۶- وَفُكَّ حَيْثُ مُدْغَمٌ فِيْهِ سَكَنْ | لِكَوْنِهِ بِمُضْمَرِ الرَّفْعِ اقْتَرَنْ |

**ترکیب**: **وفك** انت ضمیر مستتر فاعل **حیث** مضاف **مدغم** مبتداء **سکن** خبر جمله مضاف الیه **لکونه** متعلق بفك **بمضمر** متعلق باقترن **اقترن** جمله خبر د کون.

**ترجمه**: ترك د ادغام وکړه ته په هغه ځای کې چې مدغم فیه ساکن شوي وي د وجې د کیدو د دغه ثاني د متجانسینو نه ضمیر د فاعل سره پیوست شوي او که ته وائي ماته مثال وښایه چې مدغم فیه ساکن شوي وي د وجې د اتصال د ضمیر مرفوع فاعل نه دا وائي:

| | |
|---|---|
| ۹۹۷- نَحْوُ: حَلَلْتُ مَا حَلَلْتُه، وَفِي | جَزْمٍ وَشِبْهِ الْجَزْمِ تَخْيِيرٌ قُفِي |

**ترکیب**: **نحو** خبر د مبتداء محذوف **وفي** خبر مقدم **تخییر** مبتداء مؤخر موصوف **قفي** جمله صفت.

**ترجمه**: مثال د دي لکه دا قول د عربو شو حَلَلتُ ما حللنه، یعنې ما پرانسته هغه شي چې پرانستی دي هغې لره ښځو، اوس دلته ثاني د متجانسینو ساکن شوي دي د وجې د اتصال د ضمیر مرفوع فاعل نه چې هغه تُ دي په حَلَلْتُ کې او نون دي په حللنَ کې ادغام په دي کې ممتنع دي ځکه شرط ادغام لپاره تحریك د ثاني د متجانسینو دي او دلته دا ثاني ساکن دي، او په جزم کې او په شبه د جزم کې چې هغه وقف دي اختیار موندلي شوي دي.

**تشریح**: یعنې په مضارع باندې جازم داخل شي یا صیغه د امر دي حرف اخیر د دي ساکن شوي دي وقف د وجې نه چې هغه پنځه صیغي دي. ۱ : واحد مذکر غائب. ۲ : واحده مؤنث غائبه. ۳ : واحد مذکر مخاطب. ٤ : واحد متکلم. ٥: متکلم مع الغیر، مثال لکه: لم یمدد لم تمدد لم امدد لم نمدد، او د امر حاضر صرف په یوه صیغه کې چې واحد مذکر امر حاضر معلوم دي مثال لکه: امدد شو په دي کې جواز د وجهینو دي. ۱ : تفکیك هم جائز دي. ۲ : ادغام هم جائز دي، که دیته ګوري ثاني د متجانسینو نه ساکن دي ادغام مه کوه او که دیته ګوري دا سکون عارضي دي په حکم د حرکت کې دي بیا ادغام کوه، که دا مضارع مضموم العین وه په دي کې

دري وجې روا دي. ۱ : ضمه از برای متابعت عین کلمه. ۲ : فتحه از جهت تخفیف. ۳ : کسره لانه الاصل لان الساکن اذا حرك حرك بالکسرِ، نو لم يمدَ لم يمدُ لم يمدِ دري واړه جائز دي، او که مضارع مکسور العين وه يا مفتوح العين وه بيا فقط فتحه او کسره جائز دي ضمه نده جائز ځکه ضمه هلته جائز شوي وه لپاره د تابعدارئ د عين کلمي، او دلته عين کلمه مضموم نده مثال لکه: لم يعضَ لم يعضِ به وائي. دارنګه حکم دي په امر حاضر مُد مُدَ مُدِ امدُدْ، عضَ، عضِ، اعضَض به وائي، او دا تفکيك لغت د حجازينو دي هغوی په دي کې ادغام نه کوي او ادغام لغت د بني تميم دي او قرآن پاك نازل شوي دي موالق د لغت د حجازينو غالبًا نحو قوله تعالى: ومن يحلِل عليه غضبي وقوله تعالى: من يرتدد منکم عن دينه ولا تمنن تستکثر واشدد على قلوبهم يکاد زيتها يُضيُ ولو لم تمسسه نار او په لغت د بني تميم باندې راغلي دي دا قول د الله تعالى: ومن يشاق الله ورسوله.

| ۹۹۸- وَفَكُّ أَفْعِلْ فِي التَّعَجُّبِ الْتُزِم | وَالْتُزِمَ الإدْغَامُ أَيْضاً فِي هَلُمّ |
| --- | --- |

**ترکیب: فك** مبتداء **في التعجب** حال از افعل **التُزم** خبر **الادغام** نائب فاعل **علم** متعلق بالتزم.

**ترجمه**: ترك د ادغام د افعل چې په تعجب کې مستعمل شي لازم کړي شوي دي نحو: اعزز بالرجل، احبب بالعلم، او لازم کوه په ځان باندې ادغام لره په هلم کې.

**تشريح**: اجتماع د حرفينو متجانسينو راشي په امر حاضر کې په هغې کې جواز د وجهينو وو. ۱: ادغام ۲: فك ادغام، مګر دوه ځايونو کې جواز د وجهينو نه دي. ۱ : امر حاضر د باب افعال نه په تعجب کې مستعمل شي ادغام ممتنع دي مثال لکه: احبب بزيد شو. ۲ : هلم کې ادغام لازم دي دا اصل کې هَلمُمْ وو حرکت د ميم اول ته نقل کړو ما قبل لام له ئي ورکړو بيا التقاء د ساکنينو راغله بين الميمين التقاء د ساکنينو د وجې نه دا دويم حرف له حرکت ورکړو هلم شو.

۱ : او هلم اسم فعل دي په معنى د اقبل سره د حجازينو په نزد باندې په دي کې ګردان نه کيږي په دې شان سره واحد او تثنيه او جمع او مذکر او مؤنث ټولو لپاره دغه يوه صيغه راځي کما في قوله تعالى: ﴿هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ﴾ اى هاتوا و احضُروا شهداءكم. ۲ : د بني تميم په نزد بادي دا د امر صيغه ده د دي وجې نه هغوی په دي کې ګردان کوي: هلم، هلما، هلموا، هلمي، هلما، هلمنَ، او ناظم دلته مذهب د بني تميم باندې تلل کړي دي.

**خلاصه د ما سبق**: ادغام په دري قسمه دي. ۱ : ادغام جائز. ۲ : ادغام ممتنع. ۳ : ادغام واجب. پنځه ځايونو کې ادغام جائز دي. ۱ : په حيي کې. ۲ : اته صيغو د باب تفاعل او باب تفعل او باب تفعلل کې. ۳ : په هغه ځای کې چې ثاني ساکن وو په سکون عارضي سره مثال لکه: امدُد لم

يمدُد شو. ٤ : په هغه ځای کې چې اول د ماضي کې دوه تاګاني راغلي وي مثال لکه: تتبابعَ او تتبعَ شو په دي کې ادغام جائز دي سره د زيادت د همزي وصليه نه لپاره دفع د ابتداء بالساکن نو اِتّابع او اِتبع به وائي. ٥ : اجتماع د حرفينو متجانسينو راغلي دي په کلمتينو کې او دواړه متحرك دي هلته ادغام جائز دي نحو جعل لکم الارض.

او لسو ځايونو کې ادغام ممتنع دي. ١ : په دَدَن کې. ٢ : اسم بر وزن فُعل کې نحو صُفف. ٣ : اسم بر وزن فُعُل کې نحو ذُلل. ٤ : اسم بر وزن فِعَل کې نحو: کلل. ٥ : اسم بر وزن فَعَل کې لَبَب ٦: په هغه ځای کې چې مدغم نه مخکې ساکن راغلي وي نحو: جَبب. ٧ : ثاني متحرك وي په حرکت عارضي سره نحو: لن يُحيِيَ، رايتُ محيياً ٨ : يو د متماثلينو نه زائد لپاره د الحاق نه وي نحو: قردد ملحق بجعفر ٩ : ثاني به ساکن نه وي د وجې د اتصال د ضمير مرفوع متصل نه نحو: مددن ١٠: اجتماع د متماثلين فعل تعجب کې به نه وي راغلي نحو اعزز بزيد، د دي لسو ځايونو نه علاوه نورو ځايونو کې ادغام واجب دي.

| | |
|---|---|
| ٩٩٩- وما بجمعهِ عُنِيتُ قد کمل | نظماً على جُلِّ المهمّات اشتمل |

**ترکيب: ما** موصوله مبتداء **بجمعه** متعلق بعنيت **عُنيت** صله **قد کمل** خبر **نظمًا** حال از ها في جمعه بتاويل المنظوم، موصوف **على جل** متعلق باشتمل **اشتمل** جمله صفت.

**ترجمه:** او هغه کتاب چې په تصنيف د هغې سره په تکليف کې اچولی شوی وم زه په تحقيق سره کمال ته ورسيدم د خدای په فضل سره، په حال کون د هغه کتاب کې چې منظوم دی هسې منظوم چې دا مشتمل دی غټو غټو مقاصدو باندې ترغيب ورکوي طالبانو ته.

| | |
|---|---|
| ١٠٠٠- أَحْصَى مِنَ الْكَافِيَةِ الْخُلاَصَهْ | كَمَا اقْتَضَى غِنًى بِلاَ خَصَاصَهْ |

**ترکيب : احصى** فعل بمعنى جمع و حصر ضمير مستتر هو فاعل **من الکافية** متعلق باحصى **الخلاصة** مفعول به **کما** ما موصوله **اقتضى** جمله صله **غنى** مفعول به موصوف **بلا خصاصه** په اعتبار د متعلق سره صفت يا متعلق اقتضى پوري.

**ترجمه:** را اخستی دی دغه منظوم کتاب د کافيه نه هغه خلاصه خبرې او نچوړ مسائل د علم نحوې لره، په شان د هغه مسائلو د علم نحو چې هغه غواړي غنی کول او مالدار کول د طالب لره بې د فقيرۍ نه، د دې يو بل مفصل کتاب دی د هغې نوم دی الکافية الشافية په هغې کې دې ټول مسائل د علم نحو او د علم صرف ذکر کړي دي اختلافي او غير اختلافي تفصيلاً او دا الفيه د هغې نه مختصر ده لکن دا داسې مختصر کتاب دی چې سړي دا ووائي هم کفايت کوي هغې لپاره ځکه دا وائي: احصى من الکافية الخلاصة ١ په دې احصَى کې ضمير مستتر

دي راجع دي نظم ته هغه فاعل، الخلاصة مفعول به، من الكافية: جار مجرور متعلق احصٰی پورې جمله صفت ثاني واقع شوي ده نظمًا لپاره منصوب محلاً ده او مجاز عقلي دي ځکه اسناد د احصاء شوی دی غیر ما له ته چې دا نظم دي. ۲ : یا په دي احصی کې ضمیر مستتر دي هو راجع دي مصنف ته هغه فاعل دا جمله صله واقع شوي ده هغه ما موصوله لپاره او رابط محذوف دي اي الذي احصی فیه من الکافیة الخلاصة قد کمل. ۳ : یا دا جمله مستانفه نحویه ده یعنی ځانله مستقله جمله ده.

| | |
|---|---|
| ۱۰۰۱- فَأَحْمَدُ اللّٰهَ مُصَلِّياً عَلَى | مُحَمَّدٍ خَيْرِ نَبِيٍّ أُرْسِلاً |

**ترکیب:** فاحمد فا فصیحیه الله مفعول به مصلیًا حال از فاعل محمدٍ مبدل منه خیر بدل نبي موصوف ارسلا جمله صفت.

**ترجمه:** هر کله چې زما مراد او مقصد سر ته ورسیدو پس زه ثنا وایم الله پاك لره یواځي ثنا د الله تعالی نه بلکه دعاء رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره هم کومه په داسې حال کې چې دعا غوښتونکي یم په محمد ﷺ باندې چې هغه غوره د ټولو انبیاء علیهم السلام دي او لیږلی شوی دی دې امت ته.

دې ناظم صاحب مراعات النظیر وکړو چې لحاظ داري د مثل اول په اخیر کې وکړه چې ابتدا د کتاب په حمد او صلاة سره کړې وه اختتام یې هم په حمد او صلاة سره وکړو ځکه د فصحاؤ او بلغاؤ دا کار وي چې په اول او اخیر کې خبرې یو شانتي کوي.

| | |
|---|---|
| ۱۰۰۲- وَآلِهِ الْغُرِّ الْكِرَامِ الْبَرَرَةْ | وَصَحْبِهِ الْمُنْتَخَبِيْنَ الْخِيَرَةْ |

وآله الغر الكرام البررة ✿ وصحبه المنتخبين الخيرة

**ترکیب:** وآله عطف علی محمد، موصوف الغر صفت اول الکرام صفت ثاني البررة صفت ثالث و صحبه عطف علی آله، موصوف المنتخبین صفت اول الخیرة صفت ثاني.

**ترجمه:** او داسې درود وایم په آل د نبي باندې چې هغه اهل بیت دي داسې آل چې هغه واضح او مشهور خلك دي څه پټ نه دي خلکو نه او داسې آل چې هغه شریفان او عزتمند خلك دي او داسې آل چې هغهٔ نیکان دي د جهت د اخلاقو نه او د جهت د نیت نه، او دارنګه دعا وایم په ملګرو د هغې باندې چې هغوی هغه لیدلي دي او بیا وریاندې ایمان راوړي دي او بیا په ایمان باندې وفات شوي دي داسې ملګري چې هغه غوره کړي شوي دي او بهتري ورکړي ده هغوی له.

**تشریح:** غر: صیغه جمع تکسیر مذکر صفت مشبه ده جمع د اغر ده او اغر وائي بیاض وجه الفرس ته علی قدر الدرهم لکن دا صفت د انسان واقع شي د هغې نه شهرت او وضاحت او

ظهور مراد وي، او کرام هم جمع د تکسير مذکر صفت مشبه دي جمع د کريم ده، او برره: جمع تکسير مذکر اسم فاعل صيغه ده په شان د طلَبه جمع د بار ده خاوند د احسان ته وائي، او بررهٔ کې اجتماع د حرفينو متجانسينو راغلي ده په کلمه واحده کې او دواړه متحرك دي ادغام نه دي شوي د وجې د وجود د مانع د اعلال نه چې دا اسم دي په وزن د فَعَل باندې په شان د لبَب او اسم چې فَعَل وزن باندې راشي په هغې کې ادغام نه کيږي کما مر، ځکه که بررهٔ کې ادغام وشي برَه به جوړ شي لازميږي التباس په ما بين د جمع او مفرد کې دا پته نه لګي چې دا د جمع صيغه ده او که د مفرد. او خيره: ۱ : اسم مصدر دي په معنى د خيار سره او خيار په معنى د اختيار سره دي اي المختارين د دي نظير لکه: طِيَرَه اسم مصدر دي په معنى د تطير سره.

۲ : څوك وائي دا مصدر صيغه ده صفت واقع شوي دي صحبه جمع لپاره ځکه مصدر صفت د مفرد او د تثنيه او د جمع او مذکر او مؤنث لپاره واقع کيږي.

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وعلى أله و اصحابه اجمعين

انا الاحقر عصمت الله النورستاني